د متلونو په لار



فرهاد علی وسیم یوسفزے

د متلونو په لار

لیک او تحقیق:
فرهاد علي وسیم یوسفزے
(روغ لپونے)

Pukhto.Net
پښتو

د کتاب ټول حقونه د لیکوال په نامه محفوظ دي

د کتاب نوم	_____	د متلونو په لار
لیکوال	_____	فرهاد علي وسیم یوسفزے
وړومبے چاپ	_____	۲۰۱۱ء
دوہم ځل چاپ	_____	اپرپل ۲۰۱٤ء
کمپوزر	_____	آدم خان
تعداد	_____	۵۰۰
بیعه	_____	۵۰۰ روپے

د مہلاوہدو درک:

- یونیورسټي بک اېجنسي پېښور ښار
- پښتو اکېډېمي بک شاپ پېښور یونیورسټي
- دي ویژن بک بي آر سي مارکیټ مردان
- حارث بکسېلرز بي آر سي مارکیټ مردان
- ارشد بکسېلرز مېن بازار صوابی

سر لیک:

پېژندګلو : پروفېسر عنوان الدین کاکاخېل

د متل زمانه : ښاغلے رحمت شاه سائل

د متلونو په لار: ښاغلے شمس الرحمٰن سلیم

هیله واله : فرهاد علي وسیم روغ لېونے

تړون

د خپلې خوږې مور او دروند خوږ پښتون پلار په نامه چا چې ماته پښتو ښودلې وه او زما ژوند یې د پښتو په نامه روان کړے وؤ.

فرهاد علي وسیم یوسفزے (روغ لېونے)

Pukhto.Net
پښتو

ډالۍ

د اماراتو پښتو ادبي ټولنې (دبي مرکز)
او
د ادبي دوستانو مرکه مردان ته په پښتنه مينه ډالۍ

فرهاد علي وسيم يوسفزے (روغ لېونے)

Pukhto.Net
پښتو

فهرست

شمېره	سر لیک	مخ
.1	خپلې خبرې	۱
.2	پېژندګلو	۳
.3	د متل زمانه ... زمونږ د زمانې په آئینه کښې	۱۱
.4	د متلونو په لار	۱۷
.5	هیله واله	۱۹
.6	اتفاق کښې برکت وي	۲۷
.7	په دې کښې به یې خېر وي	۲۸
.8	تادي کار د شېطان وي	۳۰
.9	څنګه نیت هسې مراد	۳۱
.10	حیا نیم ایمان دے	۳۲
.11	خپل عمل د لارې مل	۳۲
.12	ښه چې دې ذباد کړه نو دې برباد کړه	۳٤
.13	د تقدیر لیک په تدبیر نۀ بدلیږي	۳۵
.14	د ژبې زخم د ټوپې د زخم نه زیات ژور وي	۳۷
.15	د صبر مېوه خوږه وي	۳۹
.16	ښځه د تن جامه ده	٤۱
.17	ګُمان د ایمان زیان دے	٤۲
.18	نیت صفا منزل اسان	٤۳
.19	هله به سبا کړم چې زۀ ستا روزي پیدا کړم	٤٤
.20	اوبۀ په ډانګ نۀ بیلیږي	٤٦

Pukhto.Net

21.	اوبهٔ په کمزوري ځاے ماتيږي	٤٦
22.	اوبهٔ يې بليږي	٤٨
23.	ابۍ پکښې پرېوتې واخله	٤٩
24.	ابۍ ته د مرګ کليمه مهٔ وايه بيا خفه کيږي	٥٠
25.	ابۍ که زوروره وه نو د بابا د زوره وه	٥٠
26.	ابۍ مړه تبه يې پرې	٥٢
27.	ابۍ مړي مړي نه ټسوي مېدان ګرموي	٥٢
28.	اخترخهٔ پټ مېړهٔ نهٔ دے	٥٣
29.	اخون له خو دې پۍ وي ، که د خرې وي که د سپۍ وي	٥٤
30.	ارمان ارمان کابله چې هر ځاے دې غُل خانه ده	٥٦
31.	ارمان به وکړې وخت به تېر وي	٥٧
32.	ارمان پس له زواله ئې	٥٨
33.	ازمائيلي مهٔ ازمايه	٥٩
34.	اَس د خرو په ډله خر شي	٦٠
35.	اَسونو نعلونه وهل نو چيندخانو ورته هم پښې پورته کړې	٦١
36.	اَوښ د لکۍ نه نهٔ ټينګيږي	٦٢
37.	اصل له خطا نشته او کم اصل نه وفا	٦٣
38.	اصيل اصيل وي او کم اصل کم اصل	٦٤
39.	اصيل له اشاره او کم اصل له ډانګ	٦٥
40.	اصيله کول ګران دي او ساتنه يې اسان ، کم اصله کول اسان وي او ساتنه يې ګران	٦٦
41.	اغېرلے به په خپله دونمباله خلاصيږي	٦٧
42.	الله پاک پرده پوخ وهٔ ، چې مېلمه راغے لاوې پوخ وهٔ	٦٩

.43	الحمدو هم هغه ده خو خُله د میاں عمر نهٔ ده	۷۰
.44	الوتې مرغۍ بیا په لاس نهٔ راځي	۷۱
.45	انکار جانے لوهار جانے	۷۲
.46	انګور تراوهٔ دي	۷۲
.47	ونې ته ګوره نو د سپوري لاندې کښېنه ، او سړي ته ګوره نو سوال تړې کوه	۷٤
.48	اور له راغله نو د کور مېرمن شوه	۷۵
.49	اول وخوره د ځان غوښې نو بیا وخوره د ښکار غوښې	۷٦
.50	اولاد هم غم او نهٔ اولاد هم غم	۷۷
.51	اول ځان او بیا جهان	۷۸
.52	ایلو هیله کوله نو چکړې یې خوراک شوې	۷۹
.53	باران په تیراه وشهٔ او خرهٔ یې د خالصې یورهٔ باران په قلاش وشهٔ او خرهٔ یې د رامورې یورهٔ	۸۱
.54	باران پسې پتے کرځوي	۸۳
.55	بټ په پوسکو نهٔ تودیږي	۸۳
.56	بخت چې بېدار شي ، سړے هوښیار شي	۸٤
.57	بد مهٔ وایه په بد پلار ، ګڼې بد به شي ستا ښهٔ پلار	۸۵
.58	بدې ورځې له بد تربور پکار راځي	۸٦
.59	بربنډ د لارې جار ووځي خو اوږے نهٔ جار ووځي	۸۷
.60	بلا وه برکت یې نهٔ وهٔ	۸۸
.61	بنګ به لرګے نهٔ شي او ختک به سړے نهٔ شي	۸۹
.62	بنیادم بې وزرو مارغهٔ دے	۹۰
.63	بیا یې ډمامو ته لاسکي واچول	۹۱

.64	بې زما نه به يې شل نۀ کړې / بې زما نه دې شل نۀ کړه	۹۲
.65	بيزه د مرګه پټېده د قصاب کره يې شپه شوه	۹۳
.66	بې ګودره مۀ ورګډېږه	۹٤
.67	پاؤ کښې مې ووهلو	۹٦
.68	پټ غل باچا وي	۹٦
.69	پخپله مې مُلا کړې ځان ته مې بلا کړې	۹۷
.70	پردي راوړي نۀ خپليږي	۹۹
.71	پردے غم په سر مۀ اخله	۱۰۰
.72	پردے کټ د نيمې شپې وي	۱۰۱
.73	پرون جولا شوې او نن نچې ډکوې	۱۰۲
.74	پرون مسلمان شوې او نن ګيلې کوې	۱۰۳
.75	پړ مې که نو مړ مې که	۱۰٤
.76	پښتو د سړي پختې ماتوې	۱۰٤
.77	پښتون په ډېران ارت بائېلي	۱۰٦
.78	پښتون چې پښتو پرېږدي نو زمکه پرې ډکه شه	۱۰٦
.79	پنځه واړه په خُله مۀ منډه	۱۰۷
.80	په بار کښې کوږ لرګے ئې	۱۰۸
.81	په بوسو کښې اوبۀ مۀ بوځه	۱۰۹
.82	په پوخ لوښي رنګ نۀ خېژي	۱۱۰
.83	په پوزه مچ نۀ پرېږدي	۱۱۱
.84	په تا به يې هم ډمامې وهلې وي	۱۱۲
.85	په ټپوس سړے هندوستان ته هم رسي	۱۱۳
.86	په تلي کښې يې مۀ زرغونوه	۱۱٤

.87	په جنګ کښې اسونه نۀ تیارېږي	۱۱۵
.88	په جنګ کښې مړي کیږي	۱۱٦
.89	په چتي پسې باز مۀ پرېږده	۱۱۷
.90	په خُله پوست په زړۀ روست	۱۱۸
.91	په خُله خوږ په زړۀ کوږ	۱۱۹
.92	په دوۀ بېړو پښې مۀ ږده	۱۱۹
.93	په دې شوملو کُچ نۀ راځي	۱۲۰
.94	په دې کښې به څوک څۀ اووائي	۱۲۱
.95	په دې کښې څۀ شک دے	۱۲۲
.96	په دې کښې دې هم پلار خبرې کوي	۱۲۳
.97	په ډېرو لېونې خوشحالیږي	۱۲٤
.98	په رڅړو کښې آستوتا نۀ سهي	۱۲۵
.99	په ړندو کښې د یو سترګې والا باچا وي	۱۲۷
.100	په زوړ رباب بیا تارونه ټړې	۱۲۸
.101	په ستړې مۀ شي د چا څۀ شي ،بس تشه خُله پرې کړه شي	۱۲۹
.102	په شرح کښې څۀ شرم دے	۱۳۰
.103	په شملګۍ دې شوم غلطه،په کور دې راغلم نۀ دې خر وۀ نۀ یې کته	۱۳۱
.104	په کمزورو زوروره د خانانو چم ته راشه	۱۳۳
.105	په ګنو قصابانو کښې غوا مردارېږي	۱۳٤
.106	په مړ سپي زړونه بدوئ	۱۳۵
.107	په مړه خټه مرګ هم ښۀ دے	۱۳٦

.108	په مېنه غز نهٔ لرې	۱۳۷
.109	په هوا کښې محلونه جوړول	۱۳۸
.110	په یو تیکي کښې دوه ټوپۍ نهٔ ځائیږي	۱۳۹
.111	په یو کتاب څوک نهٔ مُلا کیږي	۱٤۰
.112	په یو هندو بت خپله نهٔ ورانیږي	۱٤۱
.113	په یوه کښې مې هم نهٔ پرېږدې	۱٤۳
.114	پیاز دې وي خو په ناز دې وي	۱٤٤
.115	پېریانو ته غزنے څهٔ دے	۱٤٥
.116	پېسه په غر کښې لار وباسي	۱٤٦
.117	پېسه د لاس خیرے دے	۱٤۷
.118	پیشو تر هغه شېخه چې په غوښه نهٔ ده پښه	۱٤۸
.119	پیشو ته وازدې سپارې	۱٤۹
.120	پیشو خلق په اوله شپه وژني	۱٥۰
.121	پیشو د خدائے لپاره منږک (مږه) نهٔ نیسي	۱٥۱
.122	تا د بل سترګې نهٔ دي لیدلي ، تا سرې سترګې نهٔ دي لیدلي	۱٥۳
.123	تا راته څهٔ د پیش نه پشم خان جوړ کړے دے ؟	۱٥٤
.124	تا راته څهٔ د ځانه چمني خان جوړ کړے دے ؟	۱٥٤
.125	تا سره نېکي کول په شکو کښې ..... کول دي	۱٥٥
.126	تا کومې مغُلې کوندې کړې ؟	۱٥٦
.127	تربور چې د تربوره کم وي نو غوږ یې د پرېکولو دے	۱٥۷
.128	ترور نیمه مور	۱٥۸
.129	تږي شپیلي نهٔ غواړي	۱٥۹

.130	ترے کوهي پسې ځي کوهے تږي پسې نۀ	١٦٠
.131	تماشګير د نخښې مېنځ وولي	١٦١
.132	ټوت ته يې اوخېژوۀ	١٦٢
.133	ټورې دې لالا وهي نورې دې عبدالله وهي	١٦٣
.134	توکل نر دے او اندېښنه ښځه ده	١٦٤
.135	ټوکلي لاړې خُلې ته بېرته نۀ راځي	١٦٥
.136	تۀ په کومو کندو سر يې	١٦٦
.137	تۀ خو د لستونې مار يې	١٦٦
.138	تۀ خو د هر دېګ څمڅې يې	١٦٧
.139	تۀ څوک يې! خامخا	١٦٨
.140	تۀ د کوم بن لرګے ئې / تۀ د کوم باغ مولې ئې	١٦٩
.141	تۀ ښاريانو سره اګې جنګوې تۀ هاتهيانو سره ټانټې جوې	١٦٩
.142	تۀ کوز شه ټټو ما له راکه تۀ کوز شه ټټو ماره چې زۀ سور شم ستا دپاره	١٧١
.143	تۀ هم ظالم ئې ، خو دوه غوايان نشته	١٧٢
.144	تېرو ته يې پام نۀ شي	١٧٣
.145	جنګ کور کوې او بېرې په صحرا نه خورې	١٧٥
.146	چرته هندوان او چرته ټوتان	١٧٦
.147	چرګ خو يو مارغۀ دے چې چا اونيوؤ د هغۀ دے	١٧٧
.148	چې اختر تېر شي نو نکريزې په دېوال اوتپه	١٧٨
.149	چې اوربشه پوره شي نو څۀ بهانه شي	١٧٩
.150	چې اوښان ساتې نو دروازې دنګې ساته	١٨٠

.151	چې اوګه نۀ خوري نو بوئي تړې نۀ ځي	۱۸۱
.152	چې پښتون دله شي نو خپله کته هم نۀ وړي	۱۸۲
.153	چې پوره يې نۀ وي ، که سر يې د کانې لاندې کړې نو هم نۀ مري	۱۸٤
.154	چې په آخور دې لوئے شي نو غاښ يې مۀ ګوره	۱۸۵
.155	چې په طمع د سوَرو شي هغه پاتې په مېرو شي	۱۸٦
.156	چې په خوي ثاني وي د هغو ياري وي	۱۸۸
.157	چې په شۀ مې نۀ راځي نو نوم يې نۀ راځي	۱۸۸
.158	چې په شوملو مئين يې نو ځان له غوا واخله	۱۸۹
.159	چې په ګړه مري نو زهرو ته يې حاجت نشته	۱۹۰
.160	چې پېدا دې نۀ وي د موره ، ورته اونۀ وائې وروره	۱۹۱
.161	چې تنګ شي نو اخر په جنګ شي	۱۹۲
.162	چې جنګ سور شي مېړے تود شي	۱۹۳
.163	چې چا چو کړي دي هغوي به يې پاځوي	۱۹٤
.164	چې چرته شۀ وي هلته شپه وي	۱۹٦
.165	چې چرته ډب وي هلته ادب وي	۱۹٦
.166	چې چرته شاړه ده ، نو د ميان مُلا په غاړه ده	۱۹۷
.167	چې چرته غم وي ، د متشم وي	۱۹۹
.168	چې چرته نۀ کار نو هلته څۀ کار چې چرته نۀ ګړيږي نو هلته مۀ ګروه	۲۰۰
.169	چې ځان خفه کړې نو بل به خوشحاله کړې	۲۰۱
.170	چې ځې ځې نو ابازو له به راځې	۲۰۲
.171	چې څوک بل ته کنده کني نو خپله پکښې پرېوځي	۲۰٤

.172	چې څنګه يې دغسې يُو	۲۰۵
.173	چې څنګ يې ما ئې داسې جا ئې	۲۰۶
.174	چې څومره خرګے وي دومره يې بارګے وي	۲۰۷
.175	چې څهٔ بوس ووړ هغه وسو	۲۰۸
.176	چې څهٔ تيار وي هغه د يار وي	۲۰۹
.177	چې څهٔ تېر شي هغه هېر شي / شپه تېره ، خبره هېره	۲۱۱
.178	چې څهٔ کړې هغه به رېبې	۲۱۲
.179	چې خدائے يې چاته پېښه کړي ، نو ځان دې ورته مېښه کړي	۲۱۳
.180	چې خدائے يې نهٔ کړي نو پير بابا به يې څهٔ کړي	۲۱۴
.181	چې خوار شي نو هوښيار شي	۲۱۶
.182	چې د ابې زړهٔ وي نو په پټې کښې هم تپې کوي	۲۱۷
.183	چې د چا په لاس کښې کار دے هغه سرکار دے	۲۱۸
.184	چې د چا زور وي د هغهٔ کور وي	۲۱۹
.185	چې د چا کره دانې وي ، د هغو غټې ستانې وي	۲۲۰
.186	چې د چتو ښکار له ځې ، تش به راځې	۲۲۱
.187	چې د ځانه مست نهٔ وي نو په بنګو نهٔ مستيږي	۲۲۲
.188	چې د سړي په سړي کار شي ، جور د ځوي نه ورته پلار شي	۲۲۳
.189	چې د سلو نه درباندې شي ، نو غوږي شکرې خوره	۲۲۴
.190	چې د شپېتو شي نو د ويشتو شي	۲۲۶
.191	چې د کومې بلا نه نهٔ خلاصېږې ، نو ډېر ډېر ورته خانده	۲۲۷
.192	چې د ګيدړ نېټه پوره شي نو کلي ته يې مخه شي	۲۲۸

193.	چې دوه کسه په پرځولو ورشي ، نو یو ورکښې راغورځیږي	۲۲۹
194.	چې دوه لوښي یو ځاے شي نو ټنګ تړې خپړي	۲۳۰
195.	چې ډېر شي نو ګندېر شي	۲۳۱
196.	چې ربښتیا راځي نو دروغو کلي وران کړي وي	۲۳۲
197.	چې زوړ شي کله به جوړ شي	۲۳۵
198.	چې سبا شي غم پیدا شي	۲۳۶
199.	چې سر حیات وي ټوپۍ ډېرې	۲۳۷
200.	چې شپه یې تر مېنځ وي نو د هغې بلا نه مۀ وېرېږه	۲۳۸
201.	چې عیاش شي نو بدمعاش شي	۲۳۹
202.	چې غریب خداے کړې نو دله چا کړې	۲۴۰
203.	چې غل نۀ اوړي نو مل دې واوړي	۲۴۱
204.	چې غوا خفه کوې نو سخی ورله وهه	۲۴۳
205.	چې کلي دوه شي د چُغلخورو بنۀ شي	۲۴۴
206.	چې کړېږي نو اخر وریږي	۲۴۵
207.	چې کورکوړې خورې نو خُله به دې توریږي	۲۴۷
208.	چې لاس مات شي نو غاړې له راځي	۲۴۸
209.	چې مال لري اقبال لري	۲۴۹
210.	چې مرګ راشي نو سړے تبې ته غاړه کېږدي	۲۵۰
211.	چې مور مېره شي نو پلار پلندر شي	۲۵۱
212.	چې نرے وي ، ازمرے وي چې غټ وي نو لټ وي	۲۵۲
213.	چې نن سپک شي سبا ورک شي	۲۵۳
214.	چې نۀ پوهېږې نو ګران اخله	۲۵۵
215.	چې نۀ ځې نو وابه دې خلم چې نۀ خورې نو څۀ دې کړم	۲۵۶

216.	چې نۀ دې رسي لاس ، بيا مۀ کوه بکواس	۲۵۷
217.	چې نۀ سيخ سوزي او نۀ کباب	۲۵۷
218.	چې نۀ مرې نۀ مرې نو اخر به ومرې	۲۵۸
219.	چې نۀ مني د يار ، مدام کړۍ خوار و زار	۲۵۹
220.	چې وار د غلا شي نو سپې اوده شي	۲٦۰
221.	چې ورانه ده نو د خانه ده	۲٦۱
222.	چې وريږي پرې باران نو مزې کوي خواران	۲٦۲
223.	چې واورې نو ووايه چې ووينې نو مۀ وايه	۲٦٤
224.	چې وير شي نو په سر توره ښۀ دے	۲٦٥
225.	چې يارانه په شلتالو شوه ، نو زما نه پاتې واخله	۲٦٦
226.	چې يې وخورې نو غُل به شي ، چې يې ورکړې نو ګُل شي	۲٦۷
227.	ځان به ورک کړم خو تا به ورکه نۀ کړم	۲٦۹
228.	ځان ته ترخز مۀ وهه	۲۷۰
229.	ځانله ورانه بلې نۀ شې جوړولے ، او بل له بنګلې ابادوې	۲۷۰
230.	ځوانان چا بدرنګ کړي دي	۲۷۱
231.	ځه سپين باز ګرځه	۲۷۲
232.	څۀ اوبۀ خړې او څۀ مهيان ړاندۀ	۲۷٤
233.	څۀ په هغه پسرلي ، چې نۀ دې غوا څري نۀ سخي	۲۷٥
234.	څۀ د غر پناه او څۀ د ور پناه	۲۷٦
235.	څۀ ژرنده ورانه او څۀ دانې لوندې	۲۷۷
236.	څۀ سخي سخي کوې	۲۷۸
237.	څۀ مړي په پړي کښې يا کوې	۲۷۹
238.	خارو د کونترې تلل کول نو خپل تړې هېر شول	۲۸۱

239.	خبرې ډېرې او سر يې دا	۲۸۲
240.	خپله ژبه هم قلعه ده هم بلا ده	۲۸۳
241.	خپله ګناه د ولي مېنځ ، د بل ګناه د کلي مېنځ	۲۸٤
242.	خپله لاسه ګله لاسه	۲۸٥
243.	خپله لَور خور کېمېزنه وي	۲۸٦
244.	خدايه! په خپل مقام يې کړې	۲۸۷
245.	خدائے چې ورکوي نو په انغري کښې يې هم ورکوي	۲۸۸
246.	خدائے دې لوے کړه خو لوئي درمۀ کړه	۲۹۱
247.	خدائے يې کوي خو شولې اوبۀ غواړي	۲۹۱
248.	خراړې د يو ډزا سره لاړې	۲۹۳
249.	خر پلار که او مطلب پرې بار که	۲۹٤
250.	خر په کته نۀ درنيږي	۲۹٥
251.	خر په وهلو نۀ اس کيږي	۲۹٦
252.	خر د خيت / خيد په خوراک څۀ پوهيږي	۲۹۷
253.	خر غېرت کړے وۀ نو ترک وهلے وۀ	۲۹۸
254.	خرې ته ګوره او په صحرا شپې ته ګوره	۲۹۸
255.	خرِ سپے د ګيدړ ورور وي	۲۹۹
256.	خس کم جهان پاک	۳۰۰
257.	خس يې مۀ ګنه په سترګو کښې به دې خار شي	۳۰۱
258.	خلق په موګي يو ځل ټکره خوري	۳۰۲
259.	خلق لېونې پورې خاندي او لېونے کلي پورې	۳۰۳
260.	خُله يې خوري او سترګې شرميږي	۳۰٤
261.	خوار کور د دېواله پېژندے شي	۳۰٥

262.	خوراک له غوائے يې او کار له سخے ئې	۳۰۶
263.	خوراک هله کوه چې نعمت شي ، اوبهٔ هله څښه چې شربت شي	۳۰۷
264.	خوښه د مېرمنې که سربې خوري که رېمنې	۳۰۹
265.	خورِه ژبه د خزانې کُنجي ده	۳۱۰
266.	دا اوږدهٔ غنم دي	۳۱۱
267.	دا ټټو دي په سپوري اوتړه	۳۱۲
268.	دا چا نهٔ ده شل کړې	۳۱۳
269.	د اختر مياشت شوې — يا — د اينځر ګُل شوې	۳۱٤
270.	دا خو خر ببړې ته خښڑول دي يا سندا په سپر خښڑول دي	۳۱٦
271.	دا خو سندا ته رباب وهل دي	۳۱۷
272.	د اودو هغه کتې راوړي	۳۱۹
273.	دا دې لکه شپارس	۳۲۰
274.	د اوړو نه پرې بوښه زيات شو	۳۲۱
275.	دا زهٔ درته ځناور ښکارم څهٔ ؟	۳۲۲
276.	دا سوے کال په تېر شي ، خو ستا سوے پتون به مې هېر نهٔ شي	۳۲۳
277.	داسې ونه نشته چې باد نهٔ وې وهلې ، رپولې او يا خوزولې	۳۲٤
278.	د اوښانو غلا په ټيټه ملا نهٔ کيږي	۳۲۵
279.	د اوښ په شا سپو وخورو	۳۲٦
280.	د اوښ په غلبيل څهٔ	۳۲۷
281.	د اوښ غړغړے عادت وي	۳۲۸

282.	د اغېرلي په يو ډرکي هم ګزاره کيږي	۳۲۹
283.	د اکبر باچا لټان دي	۳۳۰
284.	دا ګز او دا مېدان	۳۳۱
285.	د املوکو په تول کښې راغلے يې	۳۳۲
286.	دانکلي نهٔ دانکلي	۳۳۳
287.	د بارانه پټېدو د پرنالې لاندې مو شپه شوه	۳۳٤
288.	د باز د جالې نه د باز بچي الوځي	۳۳٥
289.	د برېتو نه يې وينې څاڅي	۳۳٦
290.	د بل په کار کښې کار مهٔ لره	۳۳۷
291.	د بل په کور سل مېلمانهٔ څهٔ دي	۳۳۸
292.	د بل په لاس مار وژل هم ښهٔ نهٔ وي	۳۳۹
293.	د بنګړو بار دے	۳٤۰
294.	د بوسو سخے يې ترېنه جور کړهٔ	۳٤۱
295.	د بونېر کم عقل دي په يوه پوهيږي	۳٤۲
296.	د بېرې په سر کونه نهٔ يې او ځان ته هوښيار وائې	۳٤۳
297.	د پردي باټه خپله برجو ښهٔ ده	۳٤٤
298.	د پردي خېراته سپي شړې	۳٤٥
299.	د پردي کلي په سبا څوک څهٔ پوهيږي	۳٤۷
300.	د پښتو ملک دے — يا — د پښتو سوال دے	۳٤۸
301.	د پښتو کانې په اوبو نهٔ ورستيږي	۳٤۹
302.	د پولې پرق ته ناست يُو	۳٥۱
303.	د پېسې کور د بلا د کوره بېرته وي	۳٥۲
304.	د پېښې نه تېښته نهٔ شي	۳٥۲

305.	د تش جام نه به څهٔ توې شي	۳۵۳
306.	د ټوقې نه بوقه جوړه شوه	۳۵٤
307.	د جومات ختې دي	۳۵٤
308.	د شپونکي او د جولا يارانه نهٔ شي	۳۵٦
309.	د چتي پل مهٔ وهه	۳۵۷
310.	د خان د خُلې نوکران يُو	۳۵۸
311.	د خپل څادر سره ښپې غزوؤل پکار دي	۳٦۰
312.	د خدائے اوړې به خدائے مړوي	۳٦۱
313.	د خر په ځائے کولال داغې	۳٦۲
314.	د خر شا ته مهٔ تېرپړه او د سپي مخې ته	۳٦۳
315.	د خر مينه څهٔ وي ، لته	۳٦٤
316.	د خوارو خواره برخه وي	۳٦۵
317.	د خوارې پيشو لا بدې نوکارې وي	۳٦٦
318.	د خوښکو نسوار دي په وروستو زور کوي	۳٦٦
319.	د درنو سره به دروند يې او د سپکو سره سپک	۳٦۸
320.	د دروغو عمر لږ وي	۳٦۹
321.	د دواړو دې رنګ ورک شي	۳۷۰
322.	د دېوال سېورے يې سحر يو خوا او ماښام بل خوا	۳۷۱
323.	د دې وړې نه شړې نهٔ جوړيږي	۳۷۲
324.	د ډم د ذاته يې هر چا ته خاندې	۳۷۳
325.	د ډيوې د کونې لاندې تيارهٔ وي	۳۷٤
326.	د روغو او د لېونو کلي نهٔ کيږي	۳۷۵
327.	درې خمبيره يې د وخت لګي	۳۷٦

328.	د زرو قدر په زرګر وي	۳۷۷
329.	د زورورو منت د زورورو د زوره زيات وي	۳۷۸
330.	د سبا مړي به سبا ښخوو	۳۷۹
331.	د سپي لکۍ يې	۳۸۰
332.	د سترو ځاے شهباز ګړه ده	۳۸۰
333.	د سحر په بانګ کښې نوې ټپه	۳۸۲
334.	د څربو غوښو ښوروا هم خوږه وي	۳۸۲
335.	د سر دپاسه سر وي	۳۸۳
336.	د سلو بللو ځاے وي او د يو نابللي نۀ وي	۳۸۵
337.	د سپره څو پخيږي — يا — دنيا څو ډانګه ده	۳۸٦
338.	د سپره پرې پارسنګ دروند شۀ	۳۸۷
339.	د شادو زخم ترېنه جوړ شۀ	۳۸۸
340.	د شوم او سخي يوه برخه وي	۳۸۹
341.	د ښوروا نه مرور او غوښه مې په خُله	۳۹۰
342.	د عمر روژه وه په غُلو ماته شوه	۳۹۱
343.	د غريب په لاس کښې هسې ټُوک لوئے ښکاري	۳۹۲
344.	د غل په ږيره کښې خس وي	۳۹۳
345.	د کال خواري يې اوبو يوړه	۳۹٤
346.	د کانګړې په ټس کښې لاړې بټګرامه	۳۹۵
347.	د کلي اوځه خو د نرخه مۀ اوځه	۳۹٦
348.	د کلي خوار په هندوستان هم خوار وي	۳۹۷
349.	د کم عقلو د ياري نه هوښياره دشمن ښۀ وي	۳۹۹
350.	د کوره په صحرا خوشحاله يې	٤۰۰

351.	د کوندې ځویه څهٔ خو بویه	٤٠١
352.	د کوهي خټه په کوهي لګي	٤٠٢
353.	د ګور شپه په کور نهٔ شي	٤٠٣
354.	د ګیدړ تر هغې باچائي ده ، تر څو نمر نهٔ دے راختلے	٤٠٤
355.	د لټ غوائي خاوند اخر قصاب وي	٤٠٥
356.	د لمدو به څهٔ لمده شي	٤٠٧
357.	د لمدو خټو لړې اوبهٔ بهانه شي	٤٠٨
358.	د لوند خوړ خپرات دے	٤٠٩
359.	د لېوهٔ د خُلې نه سُور هډوکے هم بس دے	٤١٠
360.	د مانځه په بهانه تَرې خورې	٤١١
361.	د مرغابو بچو ته لامبو ښائې	٤١٢
362.	د مرغابو نر يې نهٔ اکې اچوې او نهٔ بانګونه وائې	٤١٣
363.	د مرګ مچ يې هر ځاے حاضر يې	٤١٤
364.	د مرور دوه برخې وي	٤١٥
365.	د مړو واک د ژوندو وي	٤١٦
366.	د مُلانو ګاډے تړېنه مهٔ جوړوه	٤١٧
367.	د مور غېږه د ماشوم وړومبے مدرسه وي	٤١٧
368.	د میړي کور د غمه خالي نهٔ وي	٤١٩
369.	د نر زوي ژړا په ځانګو کښې پېژندے شي	٤٢٠
370.	د نن کار په سبا مهٔ پرېږده	٤٢١
371.	د نوې نه زړه ښهٔ ده	٤٢٢
372.	دنيا څو ډانګه ده	٤٢٣
373.	دوه به سره روغ وے که درېمګړے يې تر مېنځ نهٔ وے	٤٢٥

Pukhto.Net

374.	دوه ګيدړانو ازمړے وژلے دے	٤٢٥
375.	د ورخه تېرې اوبۀ نۀ جار ووځي د ورخه تېرې اوبۀ واپس نۀ راګرځي	٤٢٦
376.	دوست هغه دے چې په سخته کښې پکار شي	٤٢٧
377.	دومره په لږو اوبو کښې مۀ ډوبېږه	٤٢٨
378.	دومره ښۀ کوه چې څومره بد اوږے شي	٤٢٩
379.	د وېش نه يې په تالان خوشحاله يې	٤٣٠
380.	د هاتهي په غوږ کښې پروت يې	٤٣١
381.	د هاتيانو په جنګ کښې چيندخان مري	٤٣٢
382.	د هاتيانو سره ټانټې مۀ ژووه	٤٣٣
383.	د هر چا سره پنج خو د يار اشنا سره نه پنج	٤٣٥
384.	د هرې ونې مۀ خوره د يوې به دې ګنډېر شي	٤٣٦
385.	د هندوانو تنور يې سېوا ککورے درکښې نۀ راځي	٤٣٧
386.	د هندوانو مال بامبړان خوري	٤٣٨
387.	دې ته به د چا پلار ټينګ شي	٤٤٠
388.	د يو لاسه ټپ / پرق نۀ خېژي	٤٤١
389.	ډم مل نۀ دے او وسله شل نۀ دے	٤٤٣
390.	ډمې ته چا وئېل يار دې مړ شۀ نو وئېل د کومې کوڅې	٤٤٤
391.	وروري په رو رو کيږي	٤٤٦
392.	وروري خوري به کوو خو حساب کتاب تر مېنځه	٤٤٧
393.	ربښتيا وئېل د پير مذهب کنځل دي	٤٤٨
394.	ربښتيا وئېل د مخ سپېرې دي	٤٤٩
395.	ربښتيا يا زورور وائي او يا لېونې	٤٥٠

.396	روغ د کوره یو ځي او لېوني د کوره واړه	٤٥١
.397	روغ رنځور پکښې کوه — یا — روغ رنځور پېژنه	٤٥٣
.398	روغ صورت اختر وي	٤٥٤
.399	ړوند په ډیوه څۀ کوي	٤٥٦
.400	ړوند په خپل کور ښۀ پوهیږي	٤٥٦
.401	ړوند په زړۀ بینا وي	٤٥٧
.402	ړوند د خدایه څۀ غواړي دوه سترګې	٤٥٨
.403	وړومبے د اخر پُل وي	٤٥٩
.404	زاړۀ خو مور او پلار ښۀ وي	٤٦١
.405	زرګر د موره هم غلا کړې ده	٤٦٢
.406	زړۀ د ښودلو نۀ دے حال د وئېلو نۀ دے	٤٦٢
.407	زما د کوره ووځه نو بېخ دې ووځه	٤٦٣
.408	زما نه یې شروع کړه د ټولو دوه دوه رسي	٤٦٤
.409	زمکه سرۀ زر دي	٤٦٥
.410	زمکه هم امانت کښې خیانت نۀ کوي	٤٦٦
.411	زمونږه دومره قسمت چرته دے	٤٦٧
.412	زور د پرېوتو دے	٤٦٩
.413	زوړ امام او زړې تراویح	٤٧٠
.414	زۀ په طمع او تۀ بې غمه	٤٧١
.415	زۀ څۀ وایم او رباب مې څۀ وائي	٤٧٢
.416	زۀ درنه پوزه پرېکووم او تۀ رانه نتکۍ غواړې	٤٧٣
.417	زۀ لاړم خو دې پېنډې ته غوږي واچوئ	٤٧٤
.418	زۀ مو کوم کوم وژاړم	٤٧٥

419.	ژرنده که دې د پلار ده خو په وار ده	٤٧٧
420.	ساعت کښې سپر او درنګ له ماسه	٤٧٩
421.	ستا ایمان ماته معلوم دے	٤٨٠
422.	ستا پرے زما غاړه	٤٨٠
423.	ستا په چنه څهٔ باد لګي	٤٨١
424.	ستا په سر کښې ښکر دي څهٔ ؟	٤٨٢
425.	ستا د خپره مې توبه ده خو دا سپي دې رانه کوږې کړه	٤٨٣
426.	ستا د وهلو قسمت راغلے دے	٤٨٤
427.	ستا غوږ دے که زما هسې زوږ دے	٤٨٥
428.	ستا موکے په مټه کښې دے	٤٨٦
429.	سترګې دې سرې دي	٤٨٧
430.	سخے کتے د موګي په زور ټوپونه وهي	٤٨٨
431.	سړے مړ شي او نوم يې پاتې شي	٤٨٩
432.	سړے يې په تندي کښې پورې کوي په تالي کښې نه — يا سړے تندي ته ګوري ، تالي ته نهٔ	٤٩٠
433.	سل پاپړ د يو لوَړ	٤٩٢
434.	سل په لالي پورې دا يو پرې د بنګړو	٤٩٣
435.	سل خفګانه يو خوا او يوه حيا بل خوا	٤٩٤
436.	سل دې ومره يو دې مهٔ مره	٤٩٥
437.	سنډا د مېښې يار وي	٤٩٦
438.	سودم ته شين دے	٤٩٧
439.	شپيلي او ستوان دواړه نهٔ کيږي	٥٠٠
440.	شرم څهٔ سخے کتے نهٔ دے چې درپسې باڼ وکړي	٥٠١

.441	شري ننکۍ يې لا په سر پراتهٔ دي	٥٠٢
.442	شل ګرځوئ خو خرڅ خپل ګرځوئ	٥٠٣
.443	شل وسله نهٔ ده او سانډو رشته نهٔ ده	٥٠٤
.444	شولې په ارابونو نهٔ کيږي	٥٠٥
.445	شېخ فريده خُله چپه بهتري ده	٥٠٧
.446	شېار په خوږه خُله خوږے شي نهٔ چې په لنډۍ تُوره	٥٠٩
.447	شځه په کالو نهٔ درنيږي او نر په وسله	٥١٠
.448	شځه د وسواس په ورځ پيدا ده	٥١٢
.449	شهٔ به دې سلطان کړي او بد به دې اريان	٥١٣
.450	شهٔ پوهيږم خو نهٔ پوهيږم	٥١٤
.451	شهٔ دوست په بد ځاے کښې پکار راځي	٥١٥
.452	شهٔ دې پېژنم خو پنځه روپۍ نشته	٥١٦
.453	شهٔ مهٔ کوه بد نشته	٥١٧
.454	شهٔ هم په ځان دي او بد هم په ځان	٥١٨
.455	صبر تريخ او مېوه يې خوږه ده	٥٢٠
.456	صبر لوے هنر دے	٥٢١
.457	عالَم په څهٔ دے او مير عالم په څهٔ دے	٥٢٣
.458	عظمته مړي داسې وي	٥٢٤
.459	عقل په ټکرو زده کيږي / عقل په ټکرو ځاے له راځي / عقل د کم عقلو نه زده کيږي	٥٢٥
.460	عقل د عزت يار دے چې عقل نهٔ وي سړے خوار دے	٥٢٦
.461	غابن چې رنځور شي نو د انبور شي	٥٢٨
.462	غر په غر نهٔ ورځي خو انسان په انسان ورځي	٥٢٩

463.	غرضي په خټه اور لګوي	٥٣١
464.	غلبېل کوزې ته وئېل چې تا کښې دوه سوري دي	٥٣٢
465.	غل په غل پوهيږي او مل په مل	٥٣٣
466.	غل تر کوره مهٔ زغلوه	٥٣٤
467.	غل ته وائي غلا کوه مالک ته وائي ښېدار شه	٥٣٥
468.	غل سل کوره وران کړي خو خپل يو ودان نهٔ کړي	٥٣٦
469.	غم او ښادي ورور او خور دي	٥٣٧
470.	غوښه دې په غوښه او ښوروا دې پکښې نفع	٥٣٨
471.	غوښه که وسوزي نو د پيتې نه ښهٔ وي	٥٤٠
472.	غوړ منګے يې	٥٤١
473.	غوړي توې شو خو په تالي کښې توې شو	٥٤٢
474.	غوړ نهٔ ګوري او سپي پسې منډې وهي	٥٤٣
475.	قرضدارے چا نهٔ دے وژلے	٥٤٥
476.	قحطي مُلخ يې هر څهٔ راکاږي	٥٤٦
477.	کارغهٔ ګند خوري او مښوکه څنډي	٥٤٨
478.	کال پسې کال دے	٥٤٩
479.	کال له به ښهٔ شو	٥٤٩
480.	کانے مدام د يتيم / غريب سر له راځي	٥٥٠
481.	کُړ شه د چا د مخه	٥٥٠
482.	کږه خُله په سُوک سميږي	٥٥١
483.	کله د بابا وار او کله د ابې وار	٥٥٢
484.	کله کله سړے د شېطان هم واوري	٥٥٣
485.	کلي په زور نهٔ کيږي	٥٥٤

486.	کور دې د میردین جومات شه	٥٥٥
487.	که په وطن خان وي په پرد پس اریان وي	٥٥٦
488.	که پیر خس دے مُرید له بس دے	٥٥٧
489.	که چارۀ د سرو شوه خو په خټه د منډلو نۀ ده	٥٥٨
490.	که چرګ باري شي نو څۀ به یوسي	٥٥٩
491.	که چرګ بانګ ونۀ وائي نو سبا به نۀ شي	٥٦٠
492.	که چرګه دې کاسیره نۀ وے ، نو بل کره به یې اګیۍ نۀ اچولې	٥٦١
493.	که د خوَر کاني پاستۀ وے نو ګیدړانو به نۀ وې پرېښي	٥٦٢
494.	که د غوبه نه خوشې شي ، خو د مالکه خوشې نۀ ده	٥٦٣
495.	که دې راوړله پیسه بیا به وخورې پتاسه / امرسه	٥٦٤
496.	که رښتیا وایم نو موږې تۀ مې هم وهې	٥٦٥
497.	که زړوکي مو زارۀ دي خو هډوکي مو درانۀ دي	٥٦٦
498.	که سل رګه یې نور وي ، خو یو پکښې د مور وي	٥٦٧
499.	که شا کوو نو شا مو سوزي او که مخ کوو نو مخ	٥٦٨
500.	که شپه تیارۀ ده خو منې په شمار دي	٥٦٩
501.	که غر لوے دے خو په سر یې لار شته	٥٧٠
502.	که غل یار دے خو خپل خر تړلے ښۀ دے	٥٧١
503.	که ګډې مو نۀ دي څرولې نو خرش خو مو اوربدلے دے	٥٧٢
504.	که ګور ګران دے خو د مړي ناکام دے	٥٧٣
505.	که نور سپي غاپي نو غاپي دې د کولالانو سپیه تۀ څله غاپې	٥٧٤
506.	که نوې مو نۀ کولې ، نو زړې به مو چا یادولې	٥٧٥

507.	ګټه په تاوان کيږي	٥٧٧
508.	ګټه په ګټه ماتيږي	٥٧٨
509.	ګټه چې په ځاے پرته وي نو درنه وي	٥٧٨
510.	ګجر له بوره ښۀ ده	٥٨٠
511.	ګران بې قيمته نه وي او ارزان بې عِلته نۀ وي	٥٨١
512.	ګډه بيزه خو خلق په سوک مړئي /مړه کوي	٥٨١
513.	ګډه بيزه خو خلق په زوره لوشي	٥٨٣
514.	ګړه ګړه کوه خُله به دې خوړيږي	٥٨٣
515.	ګُل په بوټي کښې ښۀ ښکاري	٥٨٤
516.	ګُل د کدو ګُل دے چې يو ترې شوکووم لاندې ترې بل دے	٥٨٥
517.	ګُل شې خو عمر دې د ګُل مۀ شه	٥٨٦
518.	ګنجې ته چا وئېل چې ستا وادۀ دے هغې وئېل يقين مې نۀ شي	٥٨٧
519.	ګيدړ د خپل سېوري نه هم وېريږي	٥٨٨
520.	ګيله د خپلو نه کيږي	٥٨٩
521.	لاس د بري کار دے	٥٩٠
522.	لاس دې ازاد او تُوره دې تېره	٥٩١
523.	لاس لاس پېژني	٥٩٢
524.	لږ خوره نو تل خوره ډېر خوره نو ګنډېر خوره	٥٩٢
525.	لعل په ايرو کښې نۀ پټيږي	٥٩٤
526.	لکه د موټو غلا کښې چې ګېر شي	٥٩٥
527.	لکه د بغ په تياره جاله کښېنې	٥٩٦

528.	لکه د چرګ ښې له هم ټخه ټخه او بدې له هم	٥٩٧
529.	لکه د خارو خُوږ ځاے وهې	٥٩٧
530.	لکه د مُلا بهادر په اودس کښې ګرځو	٥٩٩
531.	لکه فقیر ته چې میلو اوبخښې	٦٠٠
532.	لکه ګډو کښې چې خر وي	٦٠١
533.	لمدو لمدو اور درغے د اوچو له کبله	٦٠٢
534.	لنډے حلال نه او خانک په سر نیولے	٦٠٣
535.	لنډے د چکړو عادت دے	٦٠٤
536.	لوبه په غُلطۍ تودیږي	٦٠٥
537.	لور په لَوټه نۀ ټپریږي	٦٠٦
538.	لَوړې تاته وایم اینګورې تۀ یې واوره	٦٠٧
539.	ما باغ ولیدۀ ما د باغ مالیار ولیدۀ	٦٠٩
540.	ما په اسمان غوښتې او خداے په زمکه راکړې	٦١٠
541.	مات لوښے د اوازه پېژندے شي	٦١١
542.	مار چا په اوبو څښلو نۀ دے لیدلے	٦١٢
543.	مار خورلے د پړي نه هم وېریږي	٦١٣
544.	مار د مار په چغار ښۀ پوهیږي	٦١٤
545.	ما لالا ته سسته کړه او لالا ماته ، برستن غلو یوړه	٦١٥
546.	ماما چې ترخ ګروي ، نو د خورئي طمع پیدا شي	٦١٦
547.	ماموته بیا دې موته	٦١٧
548.	ما مۀ شمېره در ګډ یمه	٦١٨
549.	مرګ حق دے خو کفن کښې شک دے	٦١٩
550.	مړي په ژړا نۀ ژوندي کیږي ، نۀ درنیږي	٦٢٠

551.	مُلا بل ته مسئلې کړي په خپله پرې حملې کړي	٦٢١
552.	مُلا د جوماتونه نۀ راوځي او بلا جومات ته نۀ ځي	٦٢٢
553.	مُلا مړ مال يې تالا	٦٢٤
554.	ملک کارغانو وران کړۀ او بدنامه خرابې شوې	٦٢٥
555.	ملکانان چې ګڼ شي نو کلي ورانيږي	٦٢٧
556.	منډه د سپي ده ، او سويه د ښکاري	٦٢٩
557.	مور پلار چې زاړۀ شي ، نو د شکرې نه خوارۀ شي	٦٢٩
558.	مور د مېرې مۀ کوه	٦٣٠
559.	مور يې رنګ ګوري او خور يې څنګ	٦٣١
560.	مور د اوبو په حال څۀ خبر دے	٦٣٢
561.	مونږ د خپل سنډا سوته پېژنو	٦٣٣
562.	مونږ يې پورې کولو له اريان يُو او تۀ پکښې ماتوې	٦٣٤
563.	مۀ دومره خوږه چې څوک دې تېر کړي ، او مۀ دومره ترخه چې دې تُو کړي	٦٣٥
564.	مۀ کړه هغه کار ، چې نۀ دې مور کړے وي ، نۀ پلار	٦٣٦
565.	مۀ کوه په چا اوبه شي په تا	٦٣٧
566.	مياشت د اوله پېژندے شي	٦٣٨
567.	ميروس په وس پر دے	٦٣٩
568.	ميږي ته چې خداے په قهر شي نو وزرې ورکړي	٦٤٠
569.	مېلمه د کوربه غوائے وي	٦٤١
570.	مېنځه ګړي چې ګڼ شي نو جنګ تودېږي	٦٤٢
571.	نادېده چې په ديده شي ، رښا ورځ پرې توره شپه شي	٦٤٤
572.	نمر په ګوته نۀ پټېږي	٦٤٦

573.	نن دے که سبا دے دا مال د زرغون شاه دے	٦٤٦
574.	نهٔ پوهه نو نهٔ ګرم ، ښهٔ پوهه نو ښهٔ ګرم	٦٤٧
575.	نهٔ د دین شوې او نهٔ د سادین	٦٤٨
576.	نهٔ دې په راتلو پوهه شوم او نهٔ دې په تلو	٦٤٩
577.	نهٔ سبق وایم او نهٔ په سړک ځم	٦٥٠
578.	نهٔ سل علاجه او نهٔ یو پرهېز	٦٥١
579.	نیکي به دې باچا کړي ، او بدي به دې رسوا	٦٥٢
580.	نیم مُلا سړے کُفر ته رسوي	٦٥٣
581.	وارهٔ ژاړي او نائي ورله سر خرَوي	٦٥٥
582.	وازدې د هر چا خوښې وي ، خو د پیشو ورپسې کسي لوېږي	٦٥٦
583.	ورک تهٔ شې او ورکه دې ډبلې شه	٦٥٧
584.	وړه خُله او غټه خبره	٦٥٨
585.	وړې خټه به مړه شي خو وړې سترګې نهٔ مړېږي	٦٥٩
586.	وهم دې کوم ځاے او ډبار دې کوم ځاے	٦٦٠
587.	هر چا ته خپل وطن کشمیر وي	٦٦٢
588.	هر چا ته د خپل چاټوري شوملې خوږې وي	٦٦٣
589.	هر څهٔ بدلیږي خو عادت نهٔ بدلیږي	٦٦٤
590.	هر څهٔ چې زیات شي نو په زیان شي	٦٦٦
591.	هر څهٔ دې سل په سل دي	٦٦٧
592.	هر سُور ږیرے شاه ګل نهٔ وي	٦٦٧
593.	هر سړے پوزه توره کړي وائي لوهار یم	٦٦٩
594.	هر سړے تر خپل مطلبه پورې یار دے	٦٧٠

595.	هر شے چې په مېنځومانه وي نو په مزه وي	٦٧١
596.	هر شے چې غبرګه /برغوې نو لنډېږي ،او خبره چې برغوې نو اوږدېږي	٦٧٢
597.	هسې په شپېلي کښې دې واړوله	٦٧٢
598.	هسې د باد په ټټو سور يې	٦٧٣
599.	هسې د بونېر هندو يې	٦٧٤
600.	هسې د سيند کاڼي دي	٦٧٥
601.	هسې د کيکر ازغے يې	٦٧٦
602.	هسې د مرچو په ستې ناست يې	٦٧٧
603.	هسې شاخېلي چاړۀ يې	٦٧٨
604.	هسې شنه ګټه يې	٦٨٠
605.	هغه به لا څۀ وي ، چې له تا نه پېدا وي	٦٨١
606.	هغه مچۍ د سوات دي ، چې غُل يې شات دي	٦٨١
607.	هله به خبر شې چې تارو جبې له ورشې	٦٨٢
608.	هله به زارېږم چې د کاره وزګارېږم	٦٨٤
609.	هم بوره هم بدنامه	٦٨٥
610.	هم لَور د کوره هم زوم د کوره	٦٨٦
611.	هندو د يار د پاره غوښه خوړلې ده	٦٨٦
612.	هندو ستړے خداے ناراضه	٦٨٨
613.	هنر زده کړه او د کندو په سر يې کېږده	٦٨٩
614.	ياد به دې زۀ کړم مور به دې خداے کړي	٦٩٠
615.	يا خوار نۀ وے او يا هوښيار نۀ وے	٦٩١
616.	يا مور راوړے يا ترور راوړے	٦٩٢

617.	يتيم د ژړا عادت وي	٦٩٣
618.	يو خوا ډانګ دے او بل خوا پړانګ دے	٦٩٤
619.	يو د لوړې مري او بل يې سر ته پراتې ګوري	٦٩٦
620.	يو کار د بل کار دمه وي	٦٩٧
621.	يو کال خو خلق د مور مړۀ سره هم تېروي	٦٩٨
622.	يو لاس دې خدائے د بل محتاجه نۀ کړي	٦٩٩
623.	يو لرګے به اور اونۀ کړي ، او دوه ښځې به کور اونۀ کړي	٧٠٠
624.	يوه ها وه هغه هم سخا وه	٧٠١
625.	د متلونو اصلاح — زاړۀ متلونه	٧٠٣
626.	نوي متلونه	٧٠٦
627.	اولسي ادب کښې ټپه او متل	٧٠٨

Pukhto.Net
پښتو

خپلې خبرې

ګرانو خوږو درنو او مينه والو پښتنو! دا کتاب په اول ځل په کال ۲۰۱۰ء کښې چاپ شوے وؤ. زما د کم علمۍ او کمې تجربې له کبله په هغه کتاب کښې ډېرې غلطۍ او کوتاهۍ وې. په کتابت کښې هم او په املاء کښې هم. خو بيا هم د قدر وړو پښتنو زما دا کتاب ډېر خوښ کړے او قدرولے وؤ. په کال کښې دننه د کتاب ټولې کاپۍ د بازار نه ختمې شوې. بيا ما په کال ۲۰۱۳ء کښې دوباره د چاپ کولو هلې ځلې شروع کړې. او دا دوهم ځل چاپ کول راته د وړومبي ځل نه هم زيات مشکله شول. ځکه د پوره کتاب دوباره کتابت کول او بيا د پوهانو نه د هغې کره کتنه کول او تصحيح کول ځۀ اسان کار نۀ وؤ. خو د الله پاک په فضل سره هغه ټولې مرحلې سر ته شوې او اوس دا کتاب ستاسو په لاسو کښې دے.

په دې چاپ کښې ځۀ لږ ډېر زياتے شوے دے. چې يو باب د اولسي ادب او د ټپې په حقله دے. د ځۀ متلونو اصلاح او ځۀ پکښې نوي متلونه شامل کړے شوي دي.

ما د خپل وس او بسه سره خپله هيله والا کړې ده چې دوباره ورکښې هغه غلطۍ اونۀ شي. کتابت او چاپ يې هم په ښۀ طريقه او ښۀ کاغذ وشي. په دې کښې مونږ خومره کاميابي موندلې ده. دا ستاسو رائے ته پرېږدو. انسان د غلطۍ نه پاک نۀ دے. کېدے شي چې بيا هم پکښې ځۀ نه ځۀ غلطۍ پاتې شوې وي. د هغه غلطو او کوتاهو په کوته کولو به زۀ ستاسو بې کجه مننه لرم.

په اخره کښې يو ځل بيا د خپل ډېر خوږ او مخلص ملګري ښاغلي نورالامين احساس صېب يوه نرۍ مننه ادا کوم چې ما سره يې ډېر په مينه او خلوص مرسته کړې ده. ګران ملګري ښاغلي ا ـ دم خان بې حده مننه چې د دې کتاب کتابت يې ډېره په مينه او شوق سره سر ته کړے دے. خپلو ډېرو ګرانو ملګرو نور رحمه ، ن سحر او ښاغلي لعل بادشاه خيالي يو جهان مننه چې زما په يو خواست يې خپل قيمتي وخت مونږ ته وسپارو او د دې کتاب کره کتنه او تصحيح يې وکړه.

د ډېرو ګرانو پوهانو او د ادب د استاذانو نه بخښنې سره. په دې باب کښې ما لږ شان جرات کړے دے چې د خپلې زړو متلونو په الفاظو کښې مې بدلون کړے دے. چې د وخت د تقاضو سره سمون اوخوري. ځۀ متلونه مې نوي جوړ کړي دي ، چې هغه هم د نن وخت د حالاتو څرګندونه کوي. يا به دا اووايم چې د نن زمانې ضرورت او حاجت وو.

په دې کښې زۀ ځومره کامياب شوے يم دا زۀ ستاسو رايے او فېصلې ته پرېږدم ، او خواست لرم چې د خپلو تجزيو او خيالاتو نه ما خبر اوساتئ.

په پښتنه مينه

فرهاد يوسفزے

پېژندګلو

په پښتو کښې چې څۀ ته مونږ متل وايو. په عربۍ ، فارسۍ کښې ورته "مثل" وايي. په انګرېزۍ کښې په (پرو-ورب Proverb) او په اروډ کښې په ضرب المثل بللے شي. دا د هر ادب مخصوص تورے /توکے وي. د هرې ژبې يو لازمي جز وي. چې ژبه وي نو متل به ورکښې خامخا وي. دا د يوې خاصې ژبې او ادب دپاره مخصوصه نۀ دے. چې کومه ژبه په لغت او ذخيره الفاظو مړه پټه وي. او په خوره وره علاقه کښې وئېلے کېږي. نو دومره به يې د متلونو پنګه درنه وي. رنګه رنګي او تنوع به پکښې زيات وي.

د متل په حقله رنګ رنګ خبرې شوي دي. او ګڼ تعريفونه يې ذکر شوي دي. ولې زۀ د پروفېسر داور خان داؤد صېب د متل په حقله وېنا په دې سلسله کښې جامع او قاطع ګڼم. هغه په خپله يوه مقاله کښې ليکي چې! متل هغه وېنا ، خبرې ، فقرې يا جملې ته وئېلے شي چې مختصره ، جامع ، ساده او اسانه وي. چې د فصاحت او بلاغت نمونه وي. چې بې ساختګي ، برجستګي او بې تکلفي لري. چې د تصنع او بناوټ نه پاکه وي. ترتيب کښې يې موزونيت وي چې معنی يې لوړه او مفهوم يې اوچت وي. د ژبې او ادب پوهان په دې حقله يوه خلۀ دي. چې متل د عقل ، فکر پوهې ، بصيرت او شعور په اډانه ولاړ وي.

د متل غټ خصوصيت به دا وي چې خبره به لنډه وي. مګر جامع به وي. د پوهې دپاره به پکښې بې اندازې اثر انګېزي وي. ځکه پرې واعظان خپل وعظ مؤثره کوي. شاعران يې د شعر د خوند رنګ سېوا کولو دپاره پکاروي. او مقررين پرې په خپلو تقريرونو کښې جوش ، جذبه او ولوله رابرڅېره کوي. او خلق د عمل دپاره راپاروي. مجلس اراء خلق پرې خپلو مجلسونو کښې تودخه پېدا کوي. اديبان يې په برکت په خپلو ليکونو تحريرونو کښې زور ، تنوع ، زړۀ راښکون او د مطالعې ذوق و شوق راپورته کوي. وکيلان يې په خپلو بحثونو کښې د دليل او ثبوت په توګه وړاندې کوي. استاذان يې په خپلو درسونو کښې د طالبعلمانو د اخذ ، زده کړې ، ابلاغ او ګرانه خبره په اسانه پوهولو دپاره په استعمال کښې راولي. نورو خلقو ته د خپلې خبرې ، فکر انګېزه خيالاتو تودو جذباتو ترمو احساساتو ، په پورته ډول رسولو ، پوهولو او په مزغو کښې د کښېنولو دپاره په هر دور او هره ژبه کښې د متل نه غټ کار اخستے شوے دے. او متل دا کار په ښۀ شان سر ته رسولے دے. ځکه په عربۍ ژبه کښې داسې وئېلې شي چې! "المثل کلام ، الملح فی الطعام". يعنې متل په وېنا کښې داسې مزه کوي لکه په خوراک کښې چې مالګه وي. په متل کښې چې څۀ وئېلے شوې وي. دا د يو قام تاريخي ، سماجي ، معاشي ، او د معاشرتي ژوند د يو اړخ هنداره ګڼلے شي. دا د زمانې او د وخت د ګردشونو نه د تېر شوي عمل او تجربو يو نچوړ وي.

وئېلے شي چې که تۀ د يو قام ، ملت ، د يو وطن د استوګنو د تهذيب او د ژوند ژواک د معيار اندازه لګول غواړې نو د دغه قام د ترېفک نظام ته ځير شه. دا به دداسې کج دپاره يوه ښۀ پېمانه وي. دغه شان که يو کس د يو ژبې ، ادب د لوړتيا لرغونيتوب او د تاريخي عواملو اندازه لګول غواړي نو ددغې ژبې او ادب متلونه دې اوڅېړوي. نۀ صرف د ژبې او ادب لوړتيا او معيار به ورمعلوم شي بلکې د دغه قام د کلتوري ، فرهنګي ، تاريخي ، مذهبي او معاشرتي سرلوړتيا به هم په اسانه اوسنجولے شي.

په پښتو ادب کښې د متل ، محاورې ، ټپې او شعر يو ځانګړې خوندور ترون دے. د ليک په وخت يو شاعر اديب او ليکونکي دا ټول ادبي توکي په خپلو کښې په رنګ رنګ طريقو په پېلو سره په خپل ليک کښې بې پناه زړۀ راښکون او اثر پېدا کوي او دغه شان ښکلي ښکلي تخليقات تخليق کوي. کله متل شعر شي او کله شعر متل. کله متل د ټپې شکل واخلي او کله ټپه په متل مشهوره شي. دغه حال د محاورې او د متل د تعلق هم دے. دغه شان ادب ترقي کوي. ژبه وده مومي او شاهکارې فنپارې د لوستونکي د ذوق و شوق او ادبي تندې ماتولو او سړولو دپاره زېږولے شي.

په پښتو ادب کښې لکه د ټپې د متلونو تخليقکار هم نۀ دي معلوم. دا د ټولو پښتنو مشترکه ميراث ګڼلے شي. هېڅوک دا وي نۀ کوي او نۀ کولے شي چې دا متل يا دا ټپه ما ويېلې ده او يا زما ده. ټپه چې زنان وال رجحان لري. او په متل کښې د نارينا ؤ رجحانات برېښي. د زرګونو کالو راسې دا سلسله روانه ده. زرګونو متلونه او ټپې د ويونکو په خلۀ دي خو د تخليق دعوی ګير نۀ لري. د وخت تعين يې نۀ کېږي. البته هغه ټپې او متلونه چې د څه واقعې ذکر پکښې شوے وي يا څه تاريخي پېښې ته پکښې اشاره شوې وي. نو د هغې نه د وخت او زمانې تعين کېدے شي. لکه دا متل چې ، يوې بوډۍ ته چا اووې چې د خدائے او د رسول ♈ په خاطر زمونږ دا سوال اومنو. د بوډۍ د خلې نه بې ساخته وختل چې بچے! زمونږ په زمانه کښې خو نۀ خدائے وؤ نۀ رسول ♈. بس يو سالار وؤ او يو

منصور. د دې نه ملومېږي چې دا خبره غالبا ، د هغه وخت ده کله چې د ګدون په علاقه د سالار او منصور حکمراني وه. او بله دا ټپه چې:

چرتـــــــــــه چتـــــــــــرال چرتـــــــــــه انګرېـــــــــــز
بـــــــې ننګـــــــي زور شـــــــوه انګرېـــــــزان چتـــــــرال تـــــــه ځينـــــــه

کله چې انګرېزانو چترال اونيوو نو دا ټپه د هغه وخت غمازي کوي. دا شان بې شمېره تاريخي ټپې او متلونه شته دے چې د واقعاتو او د وخت يقين ترېنه کېدے شي.

متل که يو طرف ته په وېنا کښې خواږهٔ پيدا کوي. نو بل خوا د ملغلرې په څېر د هر اړخ نه برېښنا کوي. او هر څوک ترېنه د خپل مزاج ، ذوق او استعداد په قدر خوند او مزې خوندي کوي. متل په لږو الفاظو کښې د عقل نه ډکه خبره وي. متل د تجربې د چاڼ نه وتے مغز او جوهي وي. د سرو زرو په اوبو د ليکلو جوګه خبره وي. ډېرو ته د تيرې لارې د ليت کار ورکوي. ځکه خو چې کله د متل حواله راځي نو خامخا ترېنه مخکښې وئېلے شي چې هغه د مشرانو خبره "د کلي اوځه خو د نرخه مهٔ اوځه" يا هغه د هوښيارانو خبره "د سترو ځائے شهباز ګړه ده" يا بزرګانو وئېلې دي چې "د ګور شپه په کور نهٔ شي" يا کتابونو کښې هسې خو نهٔ دي راغلي! "چې پوزه يې څاڅي بلا ترې پاڅي" يا هوښيارانو څهٔ پرېښې نهٔ دي! "چې په اخور دې لوئے شي نو غاښ يې مهٔ کوره" ، يا رحمان بابا څهٔ ښهٔ وئېلي دي چې!

"د لمـــــــــدو ختـــــــــو بهانـــــــــه لـــــــــږې اوبـــــــــهٔ وي
ازمـــــــــوې رابانـــــــــدې هـــــــــومره زور پـــــــــه څـــــــــهٔ"

يا په ځوانۍ پسې خو خوشحال بابا هم ارمان کړےدے وايي! چې

تور م ، صلي وے خو چې ځواني وے

دا او د دې قسم نور ډېر مثالونه په دې خبرو دلالت کوي چې د متل وئېلو په موقع د خلقو په ذهن کښې دا خبره پرته وي چې متل يوداسې وړه خو په تول پوره خبره ده چې د هوښيارانو او عقلمندو مشرانو نه روايت شوې وي.

پخوا چې کله حجره په خپل اصلي شکل کښې موجوده وه. دا د پښتنو د تهذيبي او معاشرتي روزنې ، پالنې او د زده کړې يوه مؤثره اداره وه. د حجرې په اهميت هر پښتون وګړےښهٔ پوهه دے. دلته د تکرار نهٔ موقع شته او نهٔ ضرورت. ولې د متل په حواله به دومره ووايم چې په پښتنه معاشره کښې د نارينا‌ؤ او زنانؤ تر مېنځه ډېر بېلګوت وي. پښتانهٔ وګړي د زنانؤ د عزت ډېر خيال ساتي. د قدر او احترام وړه مخلوق يې ګڼي. ځکه د زنانؤ په وړاندې په ازادۍ او بې باکۍ سره خبره هم نهٔ کوي. د پښتنو د ناستې پاستې ځائے حجره صرف د نارينا‌ؤ دپاره مخصوصه وي. اکثر متلونه هم په دغه حجره کښې د بحثونو ، خبرو اترو او جرګو مرکو په دوران کښې زېږېدلي دي. په حجره کښې نارينه ځانته بېل ناست وي. ځکه يې په خبرو اترو کښې ډېره ازادي ، بې ساختګي او رواني وي. دغه حال يې د متلونو ، محاورو هم وي. په دې عمل کښې ځنې داسې متلونو هم رواج بيا اوموندو چې د نوي تهذيب په رنګ رنګ شوؤ زلمو ته اوس په وئېلو ځان بد ښکاري. حالانکې حالانو ، واقعاتو او تاريخي پس منظر اوس هغه متلونه د پښتو ژبې او ادب حصه ګرځولې ده. په داسې متلونو ، محاورو ، ټپو ، کنځلو او ښېرو به ځانته تار تاريز بحث چرته بلې موقعې ته پرېږدو. البته چې څه شوي دي اوس په هغې نهٔ خو طبيعت خټه کول پکار دي. نهٔ پرې تندے ګونجې کول او نهٔ پوزه تروه کول پکار دي. د پښتو د متلونو په حقله د ډېرو مجموعو ذکر کيږي چې څهٔ پکښې چاپ شوي دي. او څهٔ لا ناچاپه پرتې دي. په داسې ناچاپه مجموعو کښې يو د فرهاد علي وسيم يوسفزي "د متلونو په لارنوم ِ مجموعه هم ده.

فرهاد علي يوسفزے په کال ۱۹۶۱ء د فروري په مياشت کښې د صوابۍ ضلعې د دوبيانو کلي د يو دروندو زميدار وسيم داد کره زېږېدلے دے. د دوبيانو د ګورنمنټ هائي سکول نه د لسم جماعت پاس کولو نه پس په (پاک بحريه) کښې د سپاهي (سېلر) په عهده بهرتي شو. په کال ۱۹۹۸ء کښې د فلېټ چيف (صوبيدار) په عهده باندې ريټائرډ شو. او نن سبا د متحده عرب اماراتو په بحريه کښې (مدرب) د استاذ په توګه کار کوي.

هغه نهٔ پېشه ور ليکونکے دے او نهٔ دا دعوی ، کوي چې ګڼي د ادب ژوره مطاله لري. البته په زړهٔ کښې يې د پښتو ژبې ، ادب او کلتور د مينې شمع روښانه ده. هغه وايي چې د صوابۍ علاقې په کلو کښې اوس هم په حجرو کښې د ناستې پاستې څهٔ لږ ډېر رواج پاتې دے. وايي چې کله زهٔ هلک ووم نو په حجره کښې به مې د همزولو سره ناسته پاسته کوله. کله کله به په داسې مجلسونو کښې سپين ږيري

مشران هم شامل وؤ. په خبرو اترو کښې به يې د ټپو ، محارو او خوږو خوږو متلونو استعمال کولو. ما له به يې ډېره مزه او خوند راکولو او د نااشنا نااشنا متلونو په اودرېدو به ورته ډېر خوشحالېدم.

فرهاد علي وسيم يوسفزے وايي چې زۀ کله ريټائرډ شوم. او بيا دې زوړ ماحول ته راغلم نو د حجرې د مجلسونو مينه مې بيا تازه شوه. يو دوست محمد عالم د (شېوې کلي) به په هره خبره کښې د متل استعمال کولو. تر دې چې هغۀ ته به مونږ د متلونو بابا وئېلو. د هغۀ سره په ناسته پاسته کښې مې دې طرفته خيال لاړو چې دا متلونه راجمع او محفوظ کړے شي. حمزه صېب (الله پاک دې جنتونه نصيب کړي). به وئېل چې: "دا شوق په زلمو چې د پښتو راغلے دے" فرهاد علي يوسفزے غوندې د پښتو غم خواره زلمي دې فکر اوخوړو چې زمونږ د ژبې ، ادب ، تهذيب ، رواياتو او قدرونو دا نخښې نښانې ورځ په ورځ زړيږي ، دوړيږي او ورانيږي. اوکه دا حال وي نو هسې نه چې پښتانۀ ژوندي پاتې شي. خو د ژبې ، ادب ، کلتور او فرهنګي دا نخښې نښانې د زمانې د ګردشونو (د نوي اردر) د چپاوونو او يلغار د لاسه ورکې ، تباه او بربادې شي. او زمونږ د نوي راتلونکي نسلونو د فخر ، وياړ او د قامي ناموس د حوالې دپاره هم څۀ پاتې نۀ شي.

د خوش بختۍ علامه ده چې د زلمو دې خوا پام شوے دے. که خدائے کړے خېر وي نو د نورو زلمو د ليکونو سره سره به يوه ورځ د فرهاد علي يوسفزي د متلونو کتاب هم د چاپ نه تېر شي. او د ليک لوست مئينان به پرې د خوږې مطالعې تنده سړه کړي. دا کتاب څۀ دپاسه د شپږو سوو متلونو مجموعه ده. د دې کتاب ځان ګړے خصوصيت دا دے چې دا صرف د متلونو مجموعه نۀ ده. بلکې د هر متل په شا چې کومه قيصه يا واقعه تېره شوې ده يعنې په کوم پس منظر کښې چې دا متل وئېلے شوے دے. هغه 'شاليد' يې هم بيان کړے دے. فرهاد علي وسيم يوسفزے ځان اديب او شاعر نۀ بولي. ولې د شعر څۀ نمونې يې زما د نظره تېرې شوې دي. د ليک ژبه يې د صوابۍ او يوسفزو د لهجې خواږۀ لري. د ځنې متلونو شاليد يې په پخو رواياتو اډانه نۀ لري. ولې حقه خبره دا ده چې پښتانۀ په کوم ټاټوبي کښې مېشتۀ دي. دا ډېره خوره وره علاقه ده. هر رنګ جغرافيائي او موسمي حالات لري. دنګ لوړ غرونه ، خوارۀ وارۀ مېدانونه ، ګل ورينې درې او وادي ، ګڼ ګور ځنګلونه ، سيندونه ، ابشارونه. غرض د قدرت او فطرت ټولې نظارې او ننداري د پښتنو په زمکه موجود دي. دې حقيقت پښتون کلتور ، پښتو ژبې او ادب ته يو عجيبه خوند رنګ او زړۀ راښکون ورکړے دے. د کړو وړو فرق ، د دود دستور فرق او د لهجو فرق يې جوت دے. دغه وجه ده چې د يو متل په حقله په يوه علاقه کښې يو شاليد يا پس منظر بيانيږي. او په بله علاقه کښې هم د هغه متل شاليد بل شان. زلمے فرهاد علي د يوسفزو د سيمې سره تعلق لري. ځکه هغه د متل هغه واقعه بيانوي. کومه چې په يوسفزو کښې مشهوره وي. تاسو ته به د فرهاد علي يوسفزي په ليک کښې ادبي ژورتيا هم ښکاره نۀ شي. هغه شوقيه ليکونکے دے. د پښتو متل دے چې: مېلمه د کوربه تندي ته ګوري تالي ته نه.

مونږ به هم د دې زلمي د پښتو ادب ، ژبې او کلتور سره بې پناه مينې او د خلوص نه ډکې جذبې ته ګورو او د دۀ دا ووړمېے کوشش به په دې دعاګانو سره پر سترګو اوقدروو چې الله تعالـ ، ی دې د دې زلمي فرهاد علي وسيم يوسفزي د پښتو ژبې ، ادب او کلتور سره دا لېونۍ جذبه تل تانده ساتي او په قلم دې برکت شي.

پروفېسر مياں عنوان الدين کاکاخېل

د متل زمانې زمونږ د زمانې په ا ـ ئينه کښې

کله چې سترګې د کلونو غونچه وويني او په زړه او ذهن د باغونو او ګلستانونو زړکونه رنګونه خوارۀ شي. هم دغسې متل د ژوند د تجربو د معنو نه يوه ډکه پکه داسې مجموعه ده چې زړۀ او ذهن يې واوري نو د فکر او تخليق جينې تاندې کړي. او خيالونو ته نوې او نالېدلې لارې په ګوته کړي. متل د ژوند د کالبوت روح دے. چې دغه روح قرار شي نو متل بې قراري وروبخښي. او چې بې قراره شي نو قرار ورکوي. چې روغ وي ، بيمار يې کړي. او چې بيمار شي نو پخپله يې طبيب او پخپله يې دارو شي. متل د انسان د ژوند نه معنـ ، ى اخستې ده ، او متل انسان او د انسان ژوند ژواک ته معنـ ، ى ور بخښلې ده.

متل د انسان د ژوند ژواک د قيمې د بيان يو داسې جادوګر دے چې انسان ته په وړه خبره کښې د ژوند ژواک ټولې قيمې بيان کړي. لکه وايي چې: "د پښو په ليکه مۀ شه بره باندې دا ده" په يو لفظ 'دا ده' کښې ځومره جادو دے. او ځومره اوږدې فاصلې رالنډوي. په دغه "دا ده" کښې داسې فنکاري نغښتې ده. چې مونږ د فاصلې د لوټې والې سوچ ته نۀ پرېږدي او هم دغه وي چې بره باندې مو د ذهن په پرده تصوير شي. او دغې تصوير ته د رسېدو دپاره چې دغه ټکې مونږ ته کومه جذبه رابخښي. هم دغه د وصال مقاصدو ته د رسېدو جذبه زمونږ په خيال کښې ټوان او پښو کښې زور اچوي. او زمونږ د ژوند د قيمې کاروان په مخکښې بيائي.

متلونه د هغه پېو په مثال وي چې زمونږ د ژوند ماشوم او نادان وجود ته ټول په ټوله خوراکونه ورکوي. هغه خوراکونه کوم چې زمونږ د پلرونو او نيکونو د زړکونو کالو د تجربو نچوړ او ېخوند دپاره يې مونږه کله د مـ ـستو ، کله د شـ ـملو ، کله د غوړو ، کله د کـ ـجو او کله د پخکې په حيثيت خورو. د ژوند او خوند ضرورتونه مونږ ته دغه عملي تجربې راکړي دي. او دغو عملي تجربو راته د بيان او د نظم په شکل کښې متلونه رابخښلي دي. لکه: "چې د ابې زړۀ وي نو په ساکو کښې هم ټپې کوي" ، يا "چې اختيار يې د مور وي نو لاون يې سپور وي" ، "ژرنده که دې د پلار ده ، خو په وار ده" خـ ، لې کنجرې شوې غوږ خوراکونه غواړي". او يا دا مشهوره ټپه چې:

ارمان ارمان د دادا کوره

د ډکه شکوره به جاپېره تاوېدمه

متلونه زمونږ د ژوند ژواک ورکې شوې خزانې دي. خلق وايي چې ځلمۍ په کاواکه خـ ـلۀ موندے شېخو زمونږ خـ ـلې په واک کښې دي. ځکه چې ملاؤس په نورو ژبو کښې تعليم حاصلـ ـ وو. او د نورو د ژوند د بره او ټيټه تاريخونو وايو. لا خپلو خزانو نيولو ته نۀ يو وزګار. دا او دغسې نور په سوونو زړکونو قېد خيالونه چې د متل په حقله زما په ذهن او زړۀ کښې خوبولي خوبولي پراتۀ وۀ. فرهاد علي وسيم تري د خپل کتاب په ذريعه دغه يو څو خيالونه ازاد کړۀ. او دغو ازادو خيالونو تاسو سره خپلې جذبې شريکې کړي.

فرهاد علي وسيم يوسفزے روغ لېونے ما نۀ وۀ ليدلے او نۀ مې تر دغه وخته پېژندو. ځۀ ته چې پښتانۀ پېژندګلو وايي د هغې مقاصدو په رښا کښې يې اوس هم نۀ پېژنم. خو چې زۀ پښتون يم او هغه هم پښتون دے. وطن مو پښتون دے او ژبه مو پښتو ده نو دا پېژندګلو ځۀ کمه کوزه پېژندګلو نۀ ده. فرهاد علي وسيم يوسفزي متلونه راټول کړي دي. يو ترتيب يې ورکړے دے. او د متلونو منظر او پس منظر بيانولو هڅه يې هم زمونږ د زياتې اسانۍ دپاره کړې ده.

ملګرے فرهاد علي وسيم يوسفزے په خپلو خبرو کښې وايي چې متلونه تر اوسه جا نۀ دي راټول کړي ، يا يې پرې کار نۀ دے کړے. نو خبره به داسې نۀ وي. ماته پوره ياد نۀ دي خو ځۀ موده مخکښې چا په دې حقله ډېر متلونه راټول کړي وو. خدائے خبر چې به يې کتاب کړي وي او که نه ، د دې نه مخکښې ما خپله په سوونو متلونه راټول کړي وو. خو نه مې دغسې ترتيب ورکړے وۀ او نۀ مې تري کتاب روان کړے وۀ. البته هغه کاپي زما نه په يوه مقدمه کښې ضائع شوه. او بيا مې دې طرف ته توجه ورنۀ کړے شوه. هن يو کتاب د ملغلرو امپل په نوم د کوښې ولي محمد ولي چاپ کړے وۀ. دا کتاب ۱۹۰ مخونه لري. د چاپ کال يې ١٩٨٦ء دے. او ما ته يې په اتم ستمبر ١٩٨٦ء راتحفه کړے وۀ. پته يې ولي محمد ولي پښتو اکېډيمي توغې روډ کوښه ،ترون يې د حمزه بابا په نوم کړے وۀ. ولي محمد ولي هم په سپين روبو نرو ښځو پسې تلے او کرښدلے وۀ. او د متلونو قيمې او پس منظرونه يې راټول کړي وو. "متل د پوهانو په نظر کښې" يې د ډپرولورو بېن الاقوامي او ملکي ليکوالو هغه نظرونه يې راټول کړي وو کومو چې وخت په وخت د متل په حقله لرلي دي. ښۀ به وه که هغه نظر ما هم په دې ليک کښې ځايولے شوے. ولي دا د ګران ولي محمد د کتاب سنګار او برخه ده. نو ما پرې زړۀ اونۀ کړے شو.

ابوالخېر خلند پرې سربزه لېکلې ده چې د لیکونکي پېژندلګو تړې ډېره ښه کیږي. یوه خبره چې د کولو ده او هغه دا چې د ګران ولي محمد ولي متلونه زیات تر د افغانستان او کوئټې دخواوشا اطرافونه راټول کړے شوې دي. او د فرهاد علي وسیم یوسفزي متلونه د لوړې پښتونخوا اکثرو خورو ورو علاقو سره تعلق لري. که د ولي محمد ولي کاوشونه د ستائنې وړ دي. نو د فرهاد علي وسیم یوسفزي کاوشونه هم د ډېرې ستائنې وړ دي. چې دۀ هم ډېره خواري کړې ده. او زمونږ د شفاهي ادب دغه مونږ ته سینه په سینه رارسېدلې برخه چې اوس قریب قریب د ورکېدو د وېرې په حالت کښې وه. هغۀ لکه چې نیت کړے دے. چې دا ورکېدو نه بچ کړي. خو دا خبره یاد ساتل غواړي چې دا به په یوکتاب کښې راخائے نۀ کړے شي. دا به څو کتابونه غواړي. خدائے دې وکړي چې دا ملګرے دا سلسله جاري وساتي او ورپسې اونخلې نو شاید چې دا به په پښتو ډېر لوئے احسان وکړي. دا کار د کار شے هم دے او نوے کار هم دے. دغسې یو نوے کار ګران حضرت زبېر زبېر هم کړے دے. هغه د "اولسي رنګزار" په نوم اوس یو کتاب چاپ کړے دے. چې ورکښې د هرې علاقې د ماشومانو هغه لوبې راغوندې کړې دي کومو چې زمونږ د ماشومانو دپاره د سکول او کالجونو درجه لرله. په دغه کتاب کښې د اشر غوښلو سره سره د متلونو او مثالونو څۀ قیمې هم موجود دي.

د دې کتاب "د متلونو په لار" په حقله زما د فرهاد علي وسیم یوسفزي د متلونو راټولول ، هغې ته په یو ښکلې طریقه سره ترتیب ورکول. او بیا د هغې قیمې بیانولو انداز ډېر خوښ شو. زما یقین دے چې دا کتاب "د متلونو په لار" به زمونږ نور لیکونکي دغسې یوې بلې موضوع ته را وپاروي او کوم کارونه چې زمونږ د پښتو اکېډیمي یا د پښتو بورډ ذمه داري جوړېده هغه به هم دا او دغسې نور زلمي لیکونکي په یو یو سر سر ته رسوي. انشاء اللّٰه تعالیٰ.

د متل په حقله چې د کومو خبرو ضرورت وؤ. د متل وضاحت چې جرتله څۀ حاجت او ضرورت وؤ. هغه دې ملګري فرهاد علي وسیم یوسفزي په قدم قدم کښې بیان کړے دے. د متل چې څۀ معنې جوړېږي د هغې وضاحت هم دې ملګري کړے دے. نور زما د ډېر څۀ وئیلو کنجائش پکښې نۀ دے پاتې. بس دومره یقین مې پیدا شوے دے چې دا کتاب به ښکلے هم وي او یو قدر قیمت به هم ولري. او دا به زمونږه دغه پټې خزانې یواځې راپیدا نۀ کړي بلکې زمونږ ډېرو طالبعلمانو ته به هم دا کتاب د سوونو او زرګونو کالو یوه پنکه په لاس ورکړي. بلکې دا داسې پنکه ده چې دا به زمونږ د طالبعلمانو تخلیقي چینې راوکښي او لا به یې راتاندې کړي. او د دې نه به یې خبر کړي چې پښتو څومره توانا او غنې ژبه ده.

د دې کار قدر و قیمت به چې د ملګري فرهاد علي وسیم یوسفزي په زړۀ او ذهن کښې هر څومره موجود وي. ولې دا کار د هغې نه هم ډېر زیات او بسیار دے. خدائے دې وکړي چې فرهاد علي سترے نۀ شي. او دې کار ته اونخلې چې د پښتنو د کور کور او کوټې کوټې نه دا ګلونه او رنګونه راټول کړي. او به څو غونجو کښې یې مونږ ته وسپاري. څکه چې دا خزانې وړې او لرې نۀ دي. دا په زرګونو کالو راسې خور وور ژوند لري. او که وکړے شي نو اوس خو نوي تعلیم یافته خلق دي. ژوند په نوي ډګر او په خبرو اترو کښې یې اردو او انګرېزي راننوتې دے. زمونږ مشرانو به په خبرو خبرو کښې متل کوو. دا به متل هم وؤ ، شعر هم او ټپه به هم کېدے شوه. دا یو داسې جامع او کوټلے فن دے چې خبره شروع کوي هم او خبره ختموي هم. ډېر متلونه داسې وي چې خبره شروع کوي لکه وایي چې: "د کلي اوخه د نرخه مۀ اوخه" اوقلم" ا - ئین دے مخ پکښې لیدے شي" او ډېر متلونه داسې وي چې هغه خبره ختموي. لکه وایي چې! "خبرې ډېرې او سر یې دا".

زۀ ملګري فرهاد علي یوسفزي ته داد او شاباسے ورکووم او د زړۀ د تل نه ورته دعا کووم. چې د دۀ په قلم ، جذبه او مینه دې تل برکت وي. چې مونږ د نورو ډېرو نالیدلو او ورکو لرو سره اشنا کوي. که په دې قام کښې دغه شان زلمي راپیدا شو نو دا ژبه او د دې ژبې ادب نۀ شي ورکېدے. دا ژبه لکه چې ژوندے او غنې ژبه ده. هم دغسې لېونې به زیږوي. ځان او مونږ به ژوندي ساتي.

ډېر په مینه

رحمت شاه سائل

د متلونو په لار

په داسې وخت کښې چې د پښتو لیک لوست په کمېدو دے. بلکې که ژۀ دا ووایم چې بېخي په ختمېدو دے. نو بې ځایه به نۀ وي. د دوبیانو کلي د یو زلمي شاعر او لیکونکي فرهاد علي وسیم روغ لېونې دا کار د ستائنې وړ دے. چې په ننني سائنسي او د کمپیوټرو په دنیا کښې بې قلم راخسټ د پښتو په لمن کښې نوي نوي نقشونه سازوي. او د پښتو په ادب کښې د زیاتې او اضافې کوششونه کوي.

متلونه د هرې ژبې د یو عظیم سرمائې حېثیت لري. ځکه چې ژبه هغه باراوره وي. چې په هغې کښې متلونه او محاورې موجود وي. دا متلونه او محاورې ژبه ژوندۍ ساتي. او تر څو چې دا ځیزونه موجود وي. نو ژبه هم ژوندۍ وي. او چې ژبه ژوندۍ وي نو هغه قام هم ژوندے وي او ژوندے بللے شي. او دغسې قام په ژبه او ژبه په قام تل تر تله پائې.

د فرهاد علي روغ لېونې متلونه چې ما وکتل نو د هغۀ دا کوشش اګرچې نوے نۀ دے. د دې نه مخکښې هم پرې کار شوے دے. خو نااشنا ضرور دے. ځکه چې دېر کم لیکونکي دي چې دې طرف ته بې پام لرنه کړې ده. او ژۀ امید لرم چې دا زلمے به د خپلو صلاحیټونو په برکت په دې توګه کامیاب او کامران شي. خو خواري به ورله پکار وي. او ناامیده ګیږي به نه. تر څو چې د پښتو د متلونو تعلق دے نو دا متلونه په ټولـه پښتونخوا کښې معروف او مشهور دي. هر څوک تر ېنه واقف دي او هر څوک بې په خپله موقع استعمالوي. خو دېر کم خلق به داسې وي چې د دې متلونو د قیصې او پس منظر نه به واقف وي. دې زلمي دا کوشش کړے دے چې د متلونو پس منظر بې هم بیان کړے دے. چې خلق د دې په شا د واقعاتو او حالاتو نه هم خبر شي. دلته به زما مشوره وي چې د لیک په وخت د روانې او بامحاورې پښتو لیکلو کوشش او هڅه کوي. چې د ژبې د بلاغت او فصاحت روزنه هم وکړے شي. فقط

شمس الرحمان سلیم
(اسسټنټ ډسټرکټ افیسر ، دوبیان ، صوابی)

هيله واله

مثل ، مثال يا مثل ء د عربۍ ژبې لفظ دے. لفظ په قرا ـ ن شريف کښې څو څو ځايه او څو څو وارې فرمائيلے شوے دے. چرته مثل ء او چرته د جمعې دپاره امثال ليکلے شوے دے. مثل په اصل کښې داسې قسم خبرې ته وايي چې هغه د بلې خبرې په شان وي ، يا د هغې خبرې په رنګ ، معنې او مطلب څرګندوي ، يا يو کار ، قيصه او واقعه د بل کار يا د بلې واقعې سره تړي. په ځنې ځايونو کښې د مثل بيانولو يا وړاندې کولو دپاره د ضرب لفظ استعماليږي. لفظ هم د عربۍ ژبې او د قرا ـ ن شريف نه اخستے شوے دے. په قرا ـ ن شريف کښې د مثل لفظ په ډېرو ا ـ يتونو کښې بيان شوے دے. لکه ضرب الله مثلا ء فمثله صفوان ، و مثل الذين ينفقون (البقره). داسې نورو ډېرو ا ـ يتونو کښې دا لفظ بيان شوے دے. او هم داسې دا لفظ د عربۍ نه نورو ژبو نقل کړے ، خپل کړے او اخستے دے. په اردو ، فارسۍ او پښتو ژبو کښې دا لفظ هم په دې معنو او مطلب سره استعماليږي. لکه ضرب المثال ، مثلا ء ، مثال کے طور ، د مثال په توګه ، او دا قسم نور ډېر.

په پښتو ژبه کښې لفظ مثال هم د دې مطلب دپاره استعماليږي. خو جمع يې لکه د عربۍ د قاعدې لاندې امثال نهٔ راځي. بلکې په پښتو کښې مثالونه وئيلے او ليکلے شي. د دې سره سره د پښتو ژبې يو بل تورے "متل" زمونږ په امروزه ژوند کښې ډېر استعماليږي. متل هم د مثال معنې او مطلب ورکوي يا څرګندوي. معلوميږي داسې چې متل هم د مثل نه جوړ شوے او اخستے شوے دے. په زړه عربۍ ژبه کښې لفظ (ث) په (ت) وئيلے شي. نن هم د عربو په ډېرو علاقائي ژبو کښې (ث) په (ت) وئيلے شي. لکه د عربۍ يو نوم ابن هېثم دے. خو په وېنا کښې ابن هېتم وئيلے شي ، يا بل د عربۍ لفظ چې په ليک کښې الاثېن دے. خو په وېنا کښې الاتېن وئيلے شي ، چې معنـ ، ی يې دوه (۲) ده. داسې الثلاثه هم په (ث) ليکلے شي. خو په وېنا کښې التلاته وئيلے شي چې معنـ ، ی يې درې (۳) ده. دې د عربي لفظونو ته چې پام کړو. نو د دې نه دا معلوميږي چې پخوانۍ (تېره) زمانه کښې د لفظ مثل نه په پښتو ژبه کښې متل لفظ جوړ شو. چې معنـ ، ی او مطلب يې هوبهو د لفظ مثل سره تړون خوري. خو د دې جمع د امثال په ځائے متلونه جوړ شول. متلونه د دنيا په ډېرو لويو او زړو ژبو کښې ليدے او کتے شي. د ژبو په تاريخ د لټون او کننه (لساني رېسرچ) پوهه مشران وايي. کومه ژبه چې څومره زړه وي دومره ډېر متلونه لري. او چې کومه ژبه کښې څومره متلونه زيات وي نو دومره هغه ژبه ژوره او مهذبه ګڼلے او منلے شي. او پوهان وايي چې متل د هر قام د کلتور ، ادب او د ژبې ډېره لويه بلکې ناوياته ورثه او خزانه وي.

مثل يا متلونه څهٔ دي؟ دا زمونږ د مشرانو ، هوښيارانو او پوهانو هغه وېنا ده کومه چې د ډېرو تجربو ، ازمېښتونو او عمرونو تېرولو نه پس حاصله شوې ده. په هغه مشرانو باندې چې کوم تاؤدهٔ ساړهٔ او خواږهٔ تراخهٔ تېر شوي دي. نو هغو خپلې تجربې د متلونو او قولونو په وړو وړو جملو يا لفظونو کښې وړاندې کړې دي. دا وړې وړې جملې ، فقرې ، يا يو شعر ، يا يوه ټپه داسې په تول پوره او کوټلې د حقيقت ، نصيحت او د سبق خبره او وېنا وليکه چې کـ ـوزه کښې سمندر بند کړے شي. او مونږ له پکار دي چې د دغه سمندر (د هوښيارانو د تجربو) نه څهٔ فائده او ګټه تر لاسه کړو. او د غلطو لارو ، بدو ، شخړو ، ناوړو او کرکو (زيان او تاوان) نه ځان په ډډه وساتو. د مشرانو پوهانو د خـ ـلې هغه قولونه چې د پوهې او حکمت نه ډکې بې بها خزانې دي ، چې ورته متل وئيلے شي. او دا متلونه ټول په خپل ځائے د کاڼي کرښې دي. دا متلونه اکثر په داسې ساده او عامه ژبه کښې وئيلے شوې دي چې اورېدونکے يې ډېر زر په معنـ ، ی او مطلب پوهه شي. خوند ، مزه ، سبق او نصيحت ترې نه واخلي. په خبرو اترو کښې د موقعې او د خبرې په مناسبت سره د متلونو استعمال هم يو ډېر لوئے فن دے. د پښتنو په حجرو ، محفلونو او جرګو مرکو کښې چې کوم خلق په خپله وېنا کښې متلونه وړاندې کوي. نو د هغهٔ خبره ډېره په توجو او د زړهٔ په غوږو سره اورېدے شي. اورېدونکي ترېنه خوند خوندي کوي. سبق او د ژوند رڼاګانې ترېنه تر ګوتو کوي. ځکه چې دا د حکمت او پوهې نه ډکې خزانې دي.

د پښتو ژبې پوهان وايي: چې متلونه په دوه قسمه دي. يو هغه چې ساده او بې واقعه يعنې غېر واقعاتي وي. او بل هغه چې د هغې په شا (پس منظر) کښې څهٔ قيصه يا واقعه وي اود هغې واقعه نه متل مشهور شوے وي. مشرانو دا خبره څرګنده کړې ده چې عام او ساده متلونه د واقعاتي متلونو په نيز زيات دي. د ساده متل لفظونه ، معنې او مطلب ډېر ساده وي. چې اورېدونکي يې ډېر زر په معنې او

مطلب پوهه شي. لکه! "اصيل له اشاره او کم اصل له ډانګ" ، "چې لاس مات شي نو غاړې له ځي" يا "چې نهٔ پوهيږي نو ګران اخله" او داسې نور ډېر.

واقعاتي متلونه هم بيا په دوه قسمه دي. يو هغه چې د اورېدو سره يې قيصه او مطلب معلوم شي. او اورېدونکي يې بغېر د څهٔ مشکله راز ته ورسي لکه! "ډمې ته چا وئېل چې يار دې مړ شو ، نو وئېل يې د کومې کوڅې ،" يا "ګنجۍ ته چا وئېل چې وادهٔ دې دے ، وئېل يقين مې نهٔ شي". او داسې نور ډېر.

د واقعاتي متلونو دوېم قسم هغه دے. چې تر څو اورېدونکي د پوره قيصې يا واقعې نه خبر نهٔ وي. نو تر هغې ترې نهٔ مطلب اخستے شي. او نهٔ خوند لکه! "چرته هندوان او چرته توتان" يا "د سترو ځائے شهباز کړه ده". او داسې نور ډېر.

په دې کښې څهٔ داسې هم نوشته چې هغه د قرا ـ ن شريف د ا ـ يتونو او د حديث مبارکو د معنو سره تړون خوري او هم د دې ا ـ يتونو يا حديثونو په مفهوم باندې دا متلونه مشهور شوي لکه د قرا ـ ن شريف د ا ـ يات ترجمه ده! "چې تاسو خپلې نېکۍ په احسان اېښودلو باندې مهٔ خرابوئ يا ضائع کوئ. (البقره). په دې لړ کښې متل مشهور دے. وايي چې: "ښهٔ چې دې زباد کړهٔ نو دې برباد کړهٔ" ، يا د څهٔ حديثو مبارکو ترجمه او مفهوم دے وايي چې: "حيا نيم ايمان دے" "شرم د ايمان جامه ده" او "ګمان د ايمان زيان دے".

داسې د پښتو ژبې ډېرو شاعرانو هم څهٔ شعرونه جوړ کړې او وئېلي دي چې هغه هم نن زمونږ په امروزه ژوند کښې د متل په توګه استعماليږي. په دې لړ کښې زمونږ د مشر او خوږ دروند صوفي شاعر عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر مشهور او خوندناکه دي. دا د سبق ، حکمت او مطلب نه ډک شعرونه په اورېدونکو باندې ډېر ژور اثر غورځوي. لکه وايي چې:

کوهے مهٔ کته د بل سړي په لار کښې
چرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
هر سړے تر خپل مطلبه پورې يار دے
ما د خدائے دپاره يار ليدلے نهٔ دے
يو زنده چې د مرده په قبر تېر شي
دومره بس دے نصيحت په دې دنيا

او داسې نور ډېر.

بل خوا په متلونو کښې داسې نور ډېر متلونه دي. چې هغه شعرونه خو نهٔ دي. خو لکه د شعر په قافيې او رديف ښهٔ توله او برابر وي. لکه وايي چې: مهٔ کوه په چا اوبه شي په تا ، خپل عمل د لارې مل ، زهٔ په طمع تهٔ بې غمه ، او داسې نور ډېر.

د دې نه علاوه د پښتو ژبې په دې خزانه کښې بې شمېره داسې متلونه هم دي چې د هغې وېنا يا جملې فحش او لغړې وي. يعنې هغه جملې يا الفاظ د اخلاقو د دائرې نه پرېوتې دي. چې څوک يې په هر محفل کښې نهٔ شي استعمالولے. د مشرانو او پوهانو وېنا ده چې دا قسمه متلونه د روغو او صفا متلونو په نيز زيات دي. دا فحش او لغړ متلونه هم په دوه قسمه دي. يو قسم هغه دے چې د هغې وېنا يعنې الفاظ فحش وي خو مطلب ترېنه روغ اخستے شي يا د متل قيصه فحش او لغړه وي خو مطلب يې روغ وي. لکه وايي چې: شپه تېره خبره هېره ، پردے تکد نيمې شپې وي يا د چا په خ ـ وږ ګوته متيازې نهٔ کول او د فحش متلونو بل قسم هغه دے چې د هغې الفاظ ، معنې او مطلب هر څهٔ فحش ، لغړ او عريانه وي.

ځنې متلونه داسې دي چې هغه په يو خاص غړي ، نامې ، خاص ځائے يا خاص شي پسې جوړ شوے وي. هغه انسانان دي ځناور دي او يا مرغان دي. لکه چې وايي: هسې سخي ارسلان خان يې ، څهٔ د ځانه دې راته چمني خان جوړ کړے دے ، که چرګ بانګ اونهٔ وئ نو سبا به نشي ، خړ سپے د ګيدړ ورور وي. يا: د باز د جالې نه د باز بچے الوځي. او داسې نور ډېر.

د متل نه علاوه نورې ډېرې مثالي قيصې او لطيفې هم جوړې شوې دي. چې خلق يې د متل په توګه استعمالوي. دا قيصې په جدا جدا علاقو کښې په جدا جدا رنګ او خوند کښې مشهورې دي. دا متلونه ، مثالونه ، قيصې او لطيفې چې څومره دي. په ټولو کښې يوه خبره مشترکه ده او هغه دا چې دا ټول متلونه زمونږ د غريبو خلقو د کلي وال ژوند او بيا په خصوصي توګه د زميدارو خلقو د ژوند عکاسي کوي. په دې متلونو کښې زمونږ د زميدارو خلقو د ژوند ډېره برخه ده. د هغوي د امروزه ژوند کولو طور طريقې ، يعنې دود دستور ، ناسته پاسته او د يو بل سره تعلق مونږ ته په دې متلونو کښې څرګنده شوے او وړاندې شوے دے.

اخره کښې زۀ دا خبره په کوته کول غواړم چې متلونه هم زمونږ د پښتو ژبې او د ادب يوه لويه برخه ، خزانه او ورثه ده. زمونږ د اولسيندرو ، جارښتو ، ټپو ، نيمکو او پخوانو قيصو په شان متل هم زمونږ د ادب يو اهم جـ ، ز د ېلکې زمونږ د ژوند يوه ا ـ ئينه او هنداره ده. افسوس چې لکه څنګه زمونږ پخوانۍ اولسي سندرې او ټپې زمونږ نه هېرې شوې. هم دا رنګ زمونږ د متلونو دېره برخه زمونږ د مشرانو سره قبرونو ته لاړه کوزه شوه. که څۀ لږ دېر متلونه چا ته ياد وي نو هغه صرف د اورېدو په لار سينه په سينه يو بل ته پاتې دي. کنې په دې لړ کښې چا په لېک کښې څۀ ذخيره نۀ جمع کړې ده او نۀ يې پرېښودې ده. دېره د افسوس خبره ده چې د پښتو ژبې لوئے لوئے شاعران ، ليکوال ، د علم او حکمت ماهره استاذان او هوښياران لږل تېر شول. خو د پښتو او پښتنو دې ورځې ته چا خاص نظر او پام لرنه اونۀ کړه. چې په دې لاره يې څۀ د لټون او څېړنې کار کړے وے. دا دېر کران بلکې زړۀ چاوډے کار دے. د هر متل قيصه معلومول او د هغې مطلب ته رسېدل او بيا څرګندول دېر محنت او کراؤ غواړي. زما هڅه او کوشش وؤ چې د هر متل قيصه يا واقعه معلومه کړم. خو دېر په افسوس سره زۀ خپله دا پره او کمزوري منم چې دېر متلونه پکښې بغېر د واقعې معلومېدو او مطلب څېړنې نه پاتې شول. زما دا وعده او اراده ده چې د کتاب په دوېم چاپ کښې به که خبر وي هغه ټول پاتې متلونه راجمع کولشاء الله تعالا ، ى.

د کرانو ، خورو او د قدر وړو مشرانو پښتنو د زړۀ د کومې نه شکريه او مننه ، په خصوصي توګه د حکمت او علم پوهاند مشر استاذ ، ښاغلي پروفېسر ميا عنون الدين کاکاخېل صېب ، د قدر وړ او د قام په مينه مست لوئے استاذ شاعر رحمت شاه سائل صېب او د خپل کلي د خورِ مشر ورور عالم او استاذ شمس الرحمان سليم صېب دېره مننه او شکريه ادا کوم. چې هغوي د دې کتاب څېړنه وکړه او ما له يې خپلې مينه ناکې او د قدر وړې مشورې راکړې ، او پېرزوکاني راوبخښلې. زما په دې کار يې ما له زما حوصلې نورې سېوا کړې. بيا په خصوصي توګه د خپل مشر کران او خور دوست محمد عالم عالم د شېوې کلي د زړۀ د تله شکريه ادا کوم او مننه يې لرم چې هغۀ ما سره په دې لټون او راټولنه کښې دېر محنت او کوشش کړے دے او وخت په وخت يې قيمتي صلاکاني او مشورې راکړې او شاملې کړې دي. بيا خپلو کرانو لوستونکو پوهانو او مشرانو ته خواست دے چې ما په خپلو غلطو او کوتاهو باندې خبرداره کړي. څکه چې بنيادم عاجز دے. او د غلطو نه پاک نۀ دے. په دې کتاب کښې به زما نه دېرې غلطۍ او کوتاهۍ شوې وي. او لکه څنګه چې زما مشرانو دا خبره په کوته کړې ده چې زما ليک په يو ساده او عامه ژبه کښې دے. څکه چې زۀ لا د ادب د ليک لوست په "ا" ، "ب" نۀ پوهېږم. بلکې اوس په دې لاره الف ، ب زده کوم. څکه زۀ د خپلو قدرمندو نه د خپل محنت ، کراؤ ، خواري او زړۀ چاوډون له کبله د معافۍ او بخښنې خواست کووم. او اميد لرم چې د دې کوشش ، هڅه او هيله واله به د راتلونکي نسل د سبق ، نصيحت او د زده کړې دپاره څۀ لږه دېره ذخيره پاتې شي شاء الله تعالا ، ى.

يادګېرنه:

د څنې متلونو سره د دليل په توګه جرته شعرونه او جرته ټپې هم وراندې شوې دي. د شعر سره د شاعرانو نامې هم ليکلې شوې دي. او بغېر نامو شعرونه او ټپې زما خپلې دي.

فرهادعلي وسيم يوسفزے (روغ لېونے)
(کلے دوبيان ، ضلع صوابی)

هغه متلونه چې د قرا ـ ن شريف د ايأتونو او د حديث شريف د مفهوم نه اخيستے شوي او جوړ شوي دي

اتفاق کښې برکت وي

په قرا ـ ن شريف کښې الله تعالا ، ى فرمائيلي دي. و عتصمو بحبل الله جميعا و لا تفرقوا (ـ ن). ترجمه: فرمائي چې دالله پاک رسى يعنې قرا (ـ ن او دين اسلام) په اتفاق سره اونيسئ او فرقې مۀ جوړوئ ، يا په خپلو کښې تفريق او نفاق مۀ راولئ. د يو بل ايات شريف ترجمه ده. فرمائي چې: مسلمانانو خپلو کښې نرم خويه ، په يو بل مئين او خ ، وکمن وي او دښمن او کافرانو ته کلک لکه د يو دېوال او يو موتي وي. د يو حديث شريف مفهوم دے. فرمائي چې: د مسلمانانو مثال داسې دے لکه د يو وجود او يو بدن کښې يو ج ، ز هم په تکليف کښې وي نو ټول بدن په تکليف کښې او بې ارامه وي. د يو بل حديث شريف مفهوم دے چې د مسلمانانو مثال د يو کور يا يوې کوټې دے چې جړې د دې کوټې نه يوه کـ ـ ته يا خښته پرېوځي يا وباسلے شي نو ټول کور ته ترښه زيان رسي. دا پاک ايأتونه او حديثونه هم د دې دپاره فرمائيلي شوي دي چې مسلمانان په اتفاق او اتحاد کښې اوسي. او يا خاص چې دښمن ته يو موتے شي. نو د اتفاق په برکت به فتح او کنه الله پاک ورکوي.

په دې لړ کښې د تاريخ اوراقو کښې هم دېرې قيصې بيان شوي دي. د هغه قيصو نه هم دا خبره څرګنده شوې ده چې کښې اتفاق کښې برکت وي. په دې حقله يوه مشهوره قيصه چې زمونږ د مدرسو (سکولونو) په کتابونو کښې هم بيان شوې ده. او هر چا ته ښۀ يادە او معلومه ده. يعنې د بودا سړي هغه قيصه ، چې يې د مرګ په وخت خپلو ځامنو ته نصيحت کولو. نو د اتفاق د برکت په حقله يې ورته د ځجو يا د دکو ماتولو مثال وراندې کړے وۀ. او په دې حقله يعنې د اتفاق د برکت دپاره هم دغه مثال داسې پوره او کوټلے دے چې دپاسه پرې بل نۀ لښکېدا چې د قرا ـ ن دا ـ ياتونو تفسير او د حديثو مفهوم زمونږه مشرانو هم د دې مطلب دپاره په دې فقرو جمله او يا متل کښې د نصيحت په توګه وراندې کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترښه دا دے چې هر کار او خبره چې په اتفاق سره وي. که هغه دنياوي کار وي او که ديني ، نو الله پاک ورکښې برکت اچوي. ځکه خو وايي چې! "اتفاق کښې برکت وي".

په دې کښې به يې خبر وي

قيصه:

الله پاک په قرا ـ ن شريف کښې فرمائيلي دي. چې د سبا علم جاته نشته. چې سبا به څۀ کيږي. علم الله تعالا ، ى سره دے. بې شکه چې الله تعالا ، ى عليم و خبير دے. تقدير حق دے او په دې زمونږه پوخ ايمان دے. چې په تقدير کښې څۀ ليک دي. هم هغه هر چا ته ورسيږي. زمونږ د بې عقله انسانانو په ورکوتې شان عقل فکر کښې دا خبره نۀ راځي چې الله تعالا ، ى زمونږه په حق کښې څۀ فيصله کړې ده. هغه زمونږ د سود (فائدې) ده ، يا که د زيان ده. اکثر ښيادم داسې څۀ کارونه د فائدې ګڼلي دي چې د هغې نه ورته زيان رسيدلے دے. او چرته په ظاهره د زيان کارونه ورله الله پاک د سود او د کټې سبب ګرځولي دي.

که چرته يو ښيادم ته داسې څۀ حادثه ورپيښه شي. چې هغۀ ته ترښه په ظاهره زيان او نقصان رسي. خو زمونږ د کم عقلو عقل په دې نۀ رسي چې کيدے شي دا فيصله زمونږ د فائدې دپاره شوې وي. په دې حقله خو دېرې قيصې مشهورې دي لکه د م ، لا او د زميدار هغه قيصه.

وائي چې يوه ورځ د يو زميدار غوائے مر شوې ، لا صبب ورته د دم دلاسې په توګه داسې وئيل چې خانه! صبر کوه. په دې کښې به يې خبر وي. څۀ ورځې پس د زميدار غوا مره شوه. م ، لا صبب هغه نصيحت وۀ. چې صبر کوه ، په دې کښې به يې خبر وي. څۀ ورځې پس بيا د هغه ګړي خر مر شو. دې ځل دې زميدار په زړۀ کښې دا پخه صلاح وکړه چې م ، لا صبب نن هم د صبر او خبر خبرې وکړې نو پښې وربانديې ماتوم زميدار په انتظار وۀ خوم ، لا صبب رانغلو دا زميدار د مابنامې د م ، لا کور ته ورغلو نو هلته خبر شو چې م ، لا صبب راپرېوتے دے. او پښه يې ماته شوې ده. زميدار چې دا واور پدل نو يقين او ايمان يې ښۀ پوخ شو. چې بې شکه هر کار زمونږ دپاره د خبر وي په دې کښې د م ، لا صبب خبر وۀ. چې يوه پښه يې ماته شوه. کټې ما خو ورله دوارە پښې ماتولې داسې په قرا ـ ن شريف کښې د

موسـ ی ﷺ او د خضر ﷺ هغه قيصه چې په ظاهره خضر ﷺ د زيان رسولو کارونه کول خو وروستو يې بيا فائدې ښکاره شولې. دا قيصه زمونږ د سبق او نصيحت دپاره بس ده. دلته عرض دے چې دا متل هوښياران په داسې حالاتو کښې وړاندې کوي چرته چې چاته داسې څۀ حادثه ورپېښه شي. چې بنيادم ته ترېنه تکليف ، دړد ، کړاؤ ، غم او خفګان ورسي. نو هوښياران ورله طبع تسلي کوي او د صبر تلقين ورکوي. چې خېر دے دا تکليف او کړاؤ به ستا د خېر سبب وګرځي. د دې مطلب دپاره ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خفه کېږه مه ، صبر کوه! "په دې کښې به يې خېر وي"

د رب کارونـــــــــــــــــه ټـــــــــــــــول د خېـــــــــــــــر وي
بنـــــــده لـــــــه ښـــــــائي چـــــــې پـــــــرې شـــــــکر وباســـــــينه

تادي کار د شېطان وي

دا متل هم د حديث شريف نه اخذ کړے شوے دے. د يو حديث شريف مفهوم دے چې تادي کول د شېطان کار دے. او د يو بل حديث مفهوم دے. چې تاسو د خېر او د نېکۍ په کارونو کښې تادي کوئ. د دې نه دا سوال پېدا کېږي. چې څۀ وجه ده چې يو خوا د تادۍ کولو حکم دے او بل خوا يې تادي کول د شېطان سره تړلې ده. په ښۀ کارونو کښې د تادۍ کولو مطلب دا دے چې که چرې د مانځۀ وخت وي نو بيا په مونځ ادا کولو کښې تادي کوه. هسې نه چې د مانځۀ وخت درنه تېر شي. اکثر داسې کېږي چې بنيادم سستي وکړي او په ټال متول کښې ترېنه د مانځۀ وخت تېر شي. دداسې کار دپاره د تادۍ کولو حکم دے. او د تادۍ نۀ کولو په داسې وخت او کار کښې حکم دے. لکه بيا به مثال د مانځۀ واخلو. چې مانځۀ ته په تيارۍ او په وخت ادا کولو کښې تادي پکار ده. خو په مونځ کولو کښې تادي مۀ کوه. يعنې مونځ ښۀ په طبع او تسلۍ سره ادا کړه. دا نه چې ګڼې څلور رکعته مونځ د پنځو شپږو منټو په ځائے په يو دوه منټه کښې ادا کړې. داسې تادي کولو ته د شېطان کار وئېلے شوے دے. داسې نور ډېر حديثونه دي لکه د مړي په باره کښې چې په جنازه تادي کول پکار دي. ور خور پېغله شي نو په نکاح تادي کول پکار دي. د داسې تادۍ کولو مطلب دا دے چې ګڼې هر کار په خپل وخت کول پکار دے. د تادۍ نۀ کولو مطلب دا دے چې ګڼې هر کار کښې که هغه ديني وي او يا که دنياوي. داسې تادي مۀ کوئ چې هغه کار د کولو يا روغولو په ځائے وران شي. او دا خبره د تجربې نه څرګنده شوې ده چې کوم کار بې سوچه ، بې فکره او په تادۍ سره شروع شي نو هغه اکثر وران او خراب شي. د داسې وخت او موقعې دپاره دا متل مشهور شوے دے. نو ځکه مشران وايي چې: "تادي کار د شېطان دے"

هـــــــر کـــــــار پـــــــه صـــــــبر خونـــــــد مـــــــزه کـــــــا
تلـــــــوار کـــــــونکے د شـــــــېطان مرســـــــته کوينـــــــه

څنګه نيت هسې مراد

يو مشهور حديث شريف دے. مفهوم يې دا دے چې د عمل دارومدار په نيت باندې دے. يعنې که يو سړے ښۀ کارکوي خو نيت يې د نوم ناموس دپاره وي نو په داسې عمل به هغۀ ته اجر او ثواب نۀ مېلاوېږي. د هر قسمه عمل دپاره دنېت صفا ساتل لازمي دي. ګڼې چې څنګه نيت وي نو د هغې عمل نتيجه او انجام به هم هغسې مېلاوېږي ، يا که څوک د چا دپاره نيت بد ساتي اود چا دپاره بدي يا بده ورځ ، کړاؤ او خواري خوښه وي. نو کېدے شي چې دغه غړي ته د خپل بد نيت له کبله څۀ بدي ، مصيبت ، کړاؤ او خواري ورپېښه شي. داسې د نيت نتيجه او مراد هغۀ ته په خپله ورسي. او چې کوم بنيادم نورو خلقو ته خپل نيت روغ او صفا ساتي. نو الله پاک د صفا نيت له کبله د هغۀ ښۀ مرادونه سر ته کړي. يعنې هم په دې دنيا ورله اجر ورکړي او هم د اخرت ثوابونه ورله وليکلے شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او د نصيحت په توګه يې خلقوته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "څنګه نيت هسې مراد".

هـــــــر څـــــــوک پـــــــه خپـــــــل نيـــــــت کښـــــــې کړيـــــــږي
څنګـــــــه چـــــــې نيـــــــت وي داســـــــې رســـــــي مرادونـــــــه

حيا نيم ايمان دے

دا متل مشرانو د يو حديث شريف نه اخذ کړے دے. د يو حديث شريف ترجمه ده چې: صفائي نيم ايمان دے. داسې په ډېرو حديثونو کښې د حيا او شرم ډېاره هم راغلي يا فرمائيلے شوي دي. او مطلب يې دا دے چې کښې جا چې خپل شرم او پرده وساتله يعنې يې حيائي د ډېرو ګناهونو جړه ده. د جا د سترکو نه چې حيا او شرم ختم شي نو هغوي ډېر زر په نورو ډېرو ګناهونو کښې راګېر شي او د هغه ګناهونو له کبله د ايمان ختمېدو يا کمزوري کېدو خطره وي. په دې وجه يې حيا نيم ايمان ګرځولې ده.

دا متل په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک د يې حيائي کارونه کوي ، يا چرته سپکه ، لغړه او بې شرمه وېنا کوي. چې ترېنه يې حيائي خوربړي ، يا ورته مرسته مېلاوېږي. نو په داسې وخت هغه غړي ته خلق دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې شرم وکړه. حيا ښۀ شے دے. خو چې جا کښې وي. ځکه چې: "حيا نيم ايمان دے"

په حيا نيم ايمان تازه شي
داسې په زيان شي چې ځوک شک پکښې کوينه

خپل عمل د لاړې مل دے

الله تعالیٰ د کلام پاک په ډېرو ا ۔ يتونو کښې فرمائيلي دي چې بنيادم ځۀ هم عمل کوي نو د هغۀ عمل نامه به د قيامت په ورځ هغۀ ته ورمخکښې کړے شي. يعنې په دنيا کښې د هر بنيادم هر عمل که هغه ښۀ وي او که بد ليکلے شي. او په ورځ د قيامت به هغه عمل نامه بنيادم ته په حواله شي. او د هغې عمل نامې به حواله به بنيادم سره حساب کتاب کيږيکه بنيادم ښۀ عمل کړے وي نو ښۀ صۀ لـه يعنې اجر او ثواب به ورته مېلاؤ شي. او که بد عمل وي نو د هغې عمل مطابق به ورته سزا مېلاوېږي. داسې به بنيادم سره د هغۀ خپل عمل ملګرے ۔ ن شريف د ا ۔ يتونو په تفسير کښې ډېر حديثونه هم راغلي دي. چې د هغې معنې او مطلب هم دا دے چې انسان ځۀ عمل کوي نو هغه عمل به د هغۀ پکار راځي. او د هغۀ به ملګرے وي. نۀ مور ، پلار ، ښځه او بچي ، نۀ يار ، دوست او نۀ خپل خپلوان به د جا پکار راځي. او نه به يې ملګرتيا کوي. که ملګرے وي نو يو خپل عمل به يې وي که هغه ښۀ عمل وي نو د بنيادم انجام به هم ښۀ وي او که بد وي نو انجام به يې هم بد وي.

د اخرت د دې انجام نه علاوه په دنيا کښې هم دا عمل د بنيادم سره ملګرے وي که ځوک ښۀ عمل کوي نود هغۀ دا دنيا هم ښۀ او ښائسته وي او چې ځوک بد عمله وي نو هغۀ ته به په دې دنيا هم د بدو سزا مېلاوېږي. اکثر د بد بنيادم ژوند د خپلې بد عملۍ له کبله په بد انجام سر ته ورسي. د دې ايتونو او حديثو معنو ، مفهوم او مطلب هوښيارانو په دې متل کښې راجمع او څرګنده کړو. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "خپل عمل د لاړې مل دے".

په دې لړ کښې د پښتو يو بل متل هم مشرانو مشهور کړے دے. چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. او هغه داسې وئيلے شي چې "چې ځۀ کړے هغه به رېږے". د دې مطلب په حق کښې يومشهور حديث دے وايي چې: "دا دنيا د اخرت پټے دے". په دې کښې چې دې ځۀ وکړل نو په اخرت کښې به هغه رېږيعنې که دلته دې ښۀ عمل وکړو نو په اخرت کښې به ښۀ صۀ لـه او بدله مومې او که بد عمل وي نو سزا او عذاب به مېلاوېږي. د دې مطلب دا شو چې ځوک ښۀ کوي نو ښۀ به مومې. او چې بد کوي نو بد به مومې. هم په دې دنيا او هم په اخرت کښې. دا دواړه متلونه هم دا مطلب څرګندوي. ځکه يې هوښياران د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې خيال کوئ! "خپل عمل د لاړې مل دے" يا "چې ځۀ کړے هغه به رېږے".

دا د هوښيار سړي وېنا ده
هغه به رېږے چې دې ځۀ کړل فصلونه

ښه چې دې ذباد کړه نو دې برباد کړه

د قرا ۔ ن شريف ا ۔ يات دے يا ايهاالذين امنو اتبطلو صدقتکم. (البقره — ٢٦٧).

ترجمه: اے ایمان والو تاسو خپلې نېکۍ او خپراتونه په احسان خپړولو/اېښودلو او په ضرر رسولو باندې مۀ خرابوئ. د دې مطلب دا دے چې که چرته تاسو د جا سره نیکي کوئ نو خاص د الله تعال ۔ ی د رضا دپاره یې کوئ. چې د هغې اجر او ثواب مېلاؤ شي. دا نه چې کټې هغه سړي یا هغې ډلې ته خپلې نېکۍ وراندې وراندې کوئ. او احسانونه وربانديې خپړوئ ، یا ورته د نېکۍ په بدل کښې ځۀ ازار او ضرر ورسوئ. په داسې وېنا او عمل سره هغه نېکي د الله پاک په در کښې نامنظوره شي. او بیا د هغې اجر او ثواب نۀ مېلاوېږي. په دې لړ کښې نور هم دېر ا ۔ یتونه او حدیثونه فرمائیلے شوي دي. وایي چې که چرې ځوک د احسان خپړولو دپاره یا د نوم ناموس دپاره ځۀ د نېکۍ کار کوي نو هغه الله پاک ته قبول او منظور نۀ وي د دې مطلب دا شو چې کټې که تاسو د جا سره څه نېکۍ وکړئ نو هېرې یې کړئ. بیا بیا یې مۀ وریادوئ ا ۔ یات او د حدیثو مبارکو په تفسیر کښې دېر ځۀ لیکلې او په مثال کښې وراندې کولے شي. خو دا مثل داسې دے لکه چې کوزه کښې سمندر بند کړے شي. په دې یو ساده او عامه جمله کښې ټولو خلقو ته نصیحت دے چې هغوي د داسې کار او خبرو نه منع شي. په کومو چې د انسان خپلې نېکۍ ختمې او بربادې شي. دا مثل دومره ښائسته او ساده دے چې هر ځوے یې په اوربدو سره معنې او مطلب ته ورسي. هم د دې مطلب دپاره یې مشران د نصیحت په توګه استعمالوي او داسې وایي چې پام کوه خانه! "ښۀ چې دې ذباد کړه نو دې برباد کړه" هم د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې داسې وئیلے شي چې "نیکی کر دریا میں ڈال"

چې ښۀ دې ذباد کړه نو برباد شو
په بدله کښې چې ورنۀ کړې خپراتونه

د تقدیر لیک په تدبیر نۀ بدلیږي

ځنې خلق داسې وایي چې قسمت کنه کړے خر دے. خو په حقیقت کښې داسې نۀ ده بلکې زمونږه دین او شریعت مونږ ته دا سبق راکوي بلکې زمونږ په دې ایمان دے. چې تقدیر لیکلے شوے دے. یعنې د عقیدې یو جز دا دے چې مونږه د تقدیر لیک د الله پاک له غارې نه لیکلے شوې اومنو او وکړئ چې الله پاک په قرا ۔ ن پاک کښې په (سورة الرعد- ایات — ۹) او (سورة الحج — یات — ۵) کښې د بنیادم د زېرېدو ذکر کړے دے. بیا په (سورة المنون- یات ۱۲ نه تر ۱٦ پورې او په سورة الحج- یات — ۷) کښې د بنیادم د زېرېدو او د تقدیر ذکر شوے دے. دې ا ۔ یاتونو په تفسیر کښې عالمانو دېر احادیث هم بیان کړي دي. د دې ایاتونو او حدیثونو په تفسیر او مفهومو کښې فرمائي. چې کله یو ماشوم د مور په خېټه کښې د ځلورو میاشتو شي. نو الله پاک یوې فرښتې ته حکم ورکړي چې هغې ماشوم ته د هغۀ روح ورسوي. یعنې روح پکښې واچوي. په دې وخت هغه فرښته د الله پاک نه سوال کوي چې یا رب ذوالجلال د دۀ عمر به څومره وي. د دۀ رزق به ځۀ او څومره وي. نېک او که بد به وي ، مرګ به یې څنګه او چرته وي. حدیث کښې فرمائیلے شوې دي. چې الله پاک ورله ځواب ورکوي او فرمائي چې کتاب کښې اوګوره هر ځۀ پکښې لیک دي.

په صحیح مسلم کښې بل یو حدیث دے. د ابن عباس ❻ نه روایت دے. وایي چې الله پاک د دې دنیا د پېدائش نه پنځوس زره کاله (۵۰۰۰۰) مخکښې یا وراندې قلم پېدا کړو. او قلم ته حکم وشو چې ولیکه. قلم عرض وکړو چې یا رب ذوالجلال ځۀ ولیکم. نو الله پاک حکم ورکړو چې هر هغه ځۀ ولیکه کوم چې زما په علم کښې دي. او داسې د هغه وخت نه تر قیامته پورې چې څومره حالات او واقعات دي. هغه ولیکلے شول. او هغه لیک په کتاب (لوح محفوظ) کښې محفوظه کړے شو. (سورة الحج- یات- ۷۰) معنې ده. چې هر خېز د الله پاک په علم کښې دے. او په کتاب کښې لیکلے شوې (محفوظه) دي.

عرض دا دے چې په دې حقله نور دېر ایاتونه او حدیثونه دي او مطلب ترېنه دا دے چې تقدیر لیکلے شوے دے. او بیا خاص کر خلور خېزه یعنې عمر ، رزق ، نېک او بد او د مرګ ټېټه او خائے. د دې نه پس هم که ځوک وایي چې قسمت کنه کړے خر دے نو دا هسې خبره ده بلکې زیاتے دے. هم دا مطلب هوښیارانو په دې مثل کښې څرګنده کړے او خلقو ته وراندې کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې په تقدیر چې څه لیک دي نو که یو بنیادم دېر هم خپل چالونه او تدبیرونه جوړ کړي یا وچلوي خو د تقدیر لیک نۀ ورانیږي. دا ضرور ده چې په ځۀ حدیثونو کښې داسې راغلي دي چې د ځۀ بلا ، تکلیف او مصیبتونو نه په دعا سره بچ کېدے شي. یعنې که یو بنیادم په څه مصیبت ، تکلیف او غم خفګان کښې ګېر وي او هغه بنیادم په اخلاص سره الله پاک ته رجوع وکړي اود خپلو غلطو او ګناهونو نه توبه کار شي او معافي وغواړي نو کله چې الله پاک د هغۀ دعا قبوله کړي نو د هغۀ غم ، خفګان ، تکلیف او مصیبت هر ځۀ

ختم کړي او يا د راتلونکي مصيبت او بلا نه يې بچ کړي. په خصوصي توګه د مور او پلار دعاګانې د اولاد په حق کښې ډېر زيات اثر لري. نن سبا هم دا متل په داسې موقعو او حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې په څه کار کښې ناکامه شي ، يا په څۀ کړامه کښې ګېر شي او سره د خپلو تدبيرونو هم هغه حالات بدل نۀ شي يا يې بدل نۀ کړے شي. نو اخر دې متل ته يې مخه شي او بيا داسې وايي چې يار دا به په تقدير ليک وه. او رښتيا ده چې: "د تقدير ليک په تدبير نۀ بدليږي".

د قسمت برخه په صبر په واره شي
خانه څله د قسمته مخکښې زغلې

د ژبې زخم د تورې د زخم نه زيات ژور وي

دا يو عام او ساده متل دے. معنې او مطلب يې د الفاظونه څرګنده دي. متل هم د قرآن شريف د هغه اياتونو او د څۀ حديثونو د مفهوم نه اخذ شوے دے. په کومو کښې چې مسلمانانو ته حکم ورکړے شوے دے. چې د خپلو ورونو مسلمانانو قدر او عزت کوئ. د ژبې او د لاسونو نه چا ته ضرر او زيان مۀ رسوئ. د الله پاک حکم دے چې اے مسلمانانو! تاسو سړي په سړو پسې او ښځې په ښځو پورې خنداګانې ، ټوقې او مسخرې مۀ کوئ. کېدے شي چې هغوي ستاسو نه ښۀ نېک او غوره وي. يو بل له پېغورونه مۀ ورکوئ او مۀ يو بل په بدو نامو يادوئ يا رابلئ. (الحجرات — ٤٩).

بل حکم دے چې اے مومنانو! يو بل باندې ګمانونه مۀ ځغلوئ يا مۀ کوئ. په يو بل پسې لټون مۀ کوئ. او د يو بل غيبت مۀ کوئ. د يو حديث شريف مفهوم دے. فرمائي چې هغه سړے به جنت ته نۀ ځي د چا د لاس او ژبې نه چې د هغۀ ګاونډي محفوظه نۀ وي. دوېم مفهوم دے چې څوک په دنيا کښې د چا پرده وساتي نو الله پاک به په ورځ د قيامت د هغۀ پردې وساتي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې تاسو په خپلو کښې يو بل ته پېغورونه ، خنداګانې ، ټوقې مسخرې ، بد ګمانونه ، بدلې او خرابې نامې او غيبتونه مۀ کوئ. او د يو بل پردې وساتئ. ځکه چې د دې قسمه خبرو او مسخرو نه زړۀ ته تکليف او خفګان رسي. او دا ضرر ، پېغورونه او تکليفونه د شېطان په مرسته او لمسون سره په زړۀ داغ ، او بيا د داغ نه ژور زخم جوړ شي. په بنيادم په بدن د چاړۀ او تورې زخم ولګي نو هغه پرهر به جوړ شي خو د چا د پېغور ، مسخرې او د شرارت نه په زړۀ لګېدلے زخم نۀ جوړيږي. او نۀ صفا کيږي. بلکې د وخت تېرېدو سره لا ژور وي چې د تورې د زخم نه زيات ژور شي. او تر هغې سوے او دړد کوي تر څو چې يې د هغه پېغور بدل نۀ وي اخستے. زمونږ د پښتنو په معاشره چاپېرچل کښې ډېرې دښمنۍ د چا د پېغور ، طنز او مسخرو له کبله جوړې شوې دي. او ډېر کورونه ورکښې تباه و برباد شوي دي. هم د داسې حالاتو او د داسې دښمنو له کبله مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے.

نن سبا چرته چې څوک داسې چا ته څۀ د پېغور ، شرارت او د چغلۍ خبرې کوي يا په ډک مجلس کښې څوک د چا د کور پرده ماته کړي يا داسې د چا څۀ کمزورۍ او غلطۍ د طنز او مسخرو په توګه څرګندوي يا بيانوي نو دا داسې شوه چې په هغه غړي يې داسې ګزار وکړو چې د هغې زخم د تورې د زخم نه ژور وي. داسې موقع ځکه خلق وايي چې د تورې ګزار به يې راباندې کړے وے. خو دا خبره به يې نۀ کوله. او دا مطلب مشران په دې جمله يا فقره کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ژبې زخم د تورې د زخم نه ژور وي".

د هوښيارانو د خلې ګف دے
ژور زخمونه شي د ژبې ګوذارونه

د صبر مېوه خوږه وي

بنيادم فطرتاً (پېدائشي) حرص کونکے ، تلوار ګندے او بې صبره دے. په دې بنيادي او ازلي کمزورو باندې د قابو موندلو دپاره الله پاک حضرت انسان ته بيا بيا د صبر کولو تلقين او حکم ورکړے دے. په ډېر ايتونو کښې يې په تاکيد سره فرمائيلي دي. چې الله پاک صابره خلق خوښوي. او د صابره خلقو ملاتړ او ملګرے دے.

صبر څۀ شے دے؟ لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوے دے چې دا انساني فطرت دے چې حرص کوي ، حرص د انسان د زړۀ هغه کېفيت دے چې هغه په خپل حال باندې مطمئين نۀ وي. بلکې د ښۀ نه ښۀ او د غورې نه غورې څيز ، يا د حالاتو طلب ،

خواهش ، تمنا ، ارمان او ارزوګاني لري او کوي. دا ارزوګاني يا ارمانونه په اصل کښې د نفس خواهشات وي. او چې دا خواهشات لږ نور زيات شي نو حرص او حسد تر ښه جوړ شي. د حرص او حسد په وجه انسان بې صبره شي. په تادی او بې صبرۍ سره داسې کوششونه شروع کړي چې په هغې کښې د جائز او ناجائز ، حلالو او حرامو او د نېکۍ او بدۍ تميز ورک شي. کله چې انسان په ناجائزو سر شي نو د هغۀ دنيا او اخرت دواړه په خطره کښې شي. ځکه الله پاک انسان ته بار بار د صبر کولو حکم ورکړے دے. کوم انسان چې دا ټول خواهشات ، ارمانونه او ارزوګاني په خپل زړۀ دننه ختمې يا سړې او مړې کړي. په خپلو حالاتو باندې مطمئين او د الله پاک شکر ګزار شي. نو د بنيادم دې حالت او کېفيت ته صبر وئيلے شي.

بل کېفيت دا دے چې چرته انسان ته داسې څۀ حادثه ورپېښه شي. چې بنيادم ته نقصان او زيان ورسي او د هغې حادثې له کبله انسان دېر خفه ، غصه ، دردمند او زړۀ چودے شي. خو بيا هم هغه په خپل کېفيت قابو ومومي يا ولږپه خ ، لۀ يا په زړۀ دننه يې د څۀ قسمه کيله شکوه رانۀ شي. او په هغه حالاتو يې زړۀ مطمئين او د الله پاک شکر ګزاره وي. نو داسې کېفيت او حالت ته صبر وئيلے شي ، يا چرته داسې حالات جوړ شي چې يو بنيادم ته د جا د لاسه څۀ نقصان او زيان ورسي. او هغه غږے سره د طاقته خپل بدل وانخلي ، بلکې خپل غم ، خفګان او غصه قابو کړي. څۀ کيله شکوه نۀ کوي اونۀ لري. د الله پاک د رضا دپاره هغه کس معاف کړي او زړۀ يې د الله پاک په رضا مطمئين او شکر ګزار وي. نو داسې کېفيت او حالت ته صبر وئيلے شي. په داسې حالاتو کښې چې کوم انسان څان د حرص ، ب ، غض او حسد نه وساته. په زيان يې زړۀ مطمئين او د الله پاک په رضا يې خپله رضا وساتله. د بدل اخستو په خائے يې د معاف کولو غوره عمل اختيار کړو. نو الله پاک سره د داسې صبر کوونکو دپاره دېر لوئے اجر او ثواب دے. په اخرت به داسې انسان کاميابه وي او په دنيا کښې به ورته هم د هغې نه زياته اوجته او غوره بدله او مېوه ورکړے شي. ځکه خو هوښياران خلقو ته د صبر تلقين کوي. او د نصيحت په توګه ورته دا مثل وړاندې کوي او داسې وايي چې صبر کوه " د صبر مېوه خوږه وي "

لکـــــــه کبـــــــين حـــــــي څنګـــــــه يـــــــاد شـــــــي
داســـــــي خـــــــوږي مېـــــــوې د صـــــــبر دي مئينـــــــه

ښځه د تن جامه ده

دا مثل د قرا ـ ن شريف د هغه ا ـ يات مطلب او مفهوم څرګندوي په کوم کښې چې الله پاک فرمائيلي دي چې: ښځه ستاسو جامه ده او تاسو د ښځو. (سورة البقره ـ ١٨٦). يعني د الله پاک دا کلام مشرانو د نصيحت دپاره د مثل په توګه مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې د يو تېر دوه غړي يعني ښځه او خاوند داسې د يو بل سره جوړښت ، تړون او تعلق لري چې د دواړو پټ برينډ يو وي. يعني د يو بل په مجبورو کمزورو جذباتو ، احساساتو ، تعلقاتو او رازونو ښۀ خبر وي. داسې د کور شرم پرده او حيا د دواړو يو وي. خو ښځه د خاوند امانت کړه وي. يعني ښځه د خاوند د بچو او د کور د حيا ، عزت او مال دولت امانت کړه او حفاظت کولو والا وي.

په مثل کښې مشرانو يواځې ښځه ذات ستائيلې ده. او دا ځکه چې د زمانو د ازمېښتونو نه پس دا خبره په ګوته شوې ده. چې ښځه ذات فطرتي په راز پټ ساتلو کښې دېره کمزورې ده. بلکې زيات تر مېرمني په دې تکل او تلوسو کښې وي چې د بل د کمزورو او رازونو نه ځان خبر کړي او زر تر زره يې په دېوال بلې ته ورسوي. يعني خبره خورول ، خبره کوتې ته خبړول او کنکوسې خورول د مېرمنو دېره د خوښې او زړۀ پورې مشغولا ده. ځکه مشرانو ښځه ذات په ګوته کړې ده. او مطلب تر ښه دا دے چې کتې که د بده مرغه د جا په کور کښې دا رنګې ښځه وي چې د خپل کور او د خاوند د رازونو امينه نۀ وي يعني د خپل کور رازونه هم نۀ شي زغملے او هضمولے. نو اکثر د چم ګاونډ په ټيوس پوښتنې ، په غم بښادی کښې او يا د تنور د غاړې په مجلسونو کښې د کور پرده او رازونه رابرښېره کړي. نو دا داسې شوه چې د هغه کور او د مالک جامې اووتلې. او چې د جا په نصيب نېک بخته او بختوره ښځه رسېدلې وي نو د هغه کور شرم حيا او رازونه هر څۀ په پرده کښې وي. او هغه کور په دې دنيا د جنت يوه نمونه وي. مطلب دا چې ګتې که ښځه ښۀ وي نو په تن جامه پرته وي. او که ښځه امانت کړه نۀ وي نو په هر خائے او هر جا ته به يې جامې وتلې وي. هم دا مطلب مشران په دې مثل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ښځه د تن جامه ده".

گ ، مان د ايمان زيان دے

دا متل هم د يو حديث شريف ترجمه ده. په دې لړ کښې نورو ډېرو حديثونو کښې هم فرمائيلې شوې دي. د دې حديثونو مطلب دا دے چې هېڅ بې هېڅه په دين اسلام باندې او په اسلامي قوانينو او عقيدې باندې شک او گمان کول حرام دي. داسې په خپل مسلمان ورور باندې گمان کول د ايمان د ختمېدو نخښه ده. يعنې بنيادم پرې کفر ته رسي. او دا د ايمان زيان دے. دا قوانين د الله تعالا ی د طرفه رالېږلے شوي دي. او د بنيادم د ورکوتې شان عقل فکر نه ډېره لرې او بېرته خبره ده. چې هغه د دې قوانينو سود زيان معلوم کړي. د ايمان په عقيده کښې وړومبے سبق دا دے چې "لاريب فيه". ايمان نوم د داسې عمل دے چې انسان د زړۀ د اخلاصه داسې کار او داسې خبره اومني چې هغه د انسان د فکر او عقل نه بالاوي. لکه مونږ الله پاک نۀ دے ليدلے خو زمونږه دا ايمان دے چې الله پاک بې شکه بې شعبې وحده لاشريک دے. پېغمبران حق دي ، کتابونه حق دي ، ورځ د قيامت او د اخرت حساب کتاب ، سزا او جزا دا ټول حق دي. او په دې کښې معمولي شان شک کول يا گمان ساتل د ايمان د ختمېدو وجه جوړېدے شي. الله پاک دې هر مومن مسلمان له پوخ يقين او خوږ ايمان نصيب کړي. مين. بل طرف ته په مسلمان ورور باندې د ځۀ خبرې شک يا گمان کول هم حرام دي. د الله پاک حکم دے او په حديثو مبارکو کښې هم فرمائيلے شوي دي چې په چا باندې هېڅ بې هېڅه شکونه او گمانونه مۀ کوئ. د يو بل د بدو په لټون کښې مۀ گرځئ. چغلي او غيبت مۀ کوئ. يو بل په بدو نومونو مۀ يادوئ. او دا ټول گناهونه او گمراهي د شک کولو او د گمان ساتلو نه راولاړېږي يا راپېدا کيږي. او چې په چا کښې دا خبرې وي نو د هغۀ ايمان په زيان کښې وي. ځکه مشرانو د الله پاک د حکمونو ، د حديثو مبارکو معنې او مطلب په دې يو خو ساده ټکو (الفاظو) کښې راجمع کړي او مشهور کړي دي. او خلقو ته يې د نصيحت په توگه وراندې کوي. او داسې وايي چې: "گمان د ايمان زيان دے".

چې د زړې شک پکښې نشته
ايمان په زيان شي چې گمان څوک زغلوينه

نيت صفا منزل اسان

د يو حديث شريف مفهوم دے. فرمائي چې د عمل ليدنه ، کتنه ، پلټنه (دار و مدار) او نتيجه د نيت سره تړلې ده. يعنې چې څنگه د چا نيت وي نو هم هغسې انجام ، نتيجه ، جزا او سزا به ورته مېلاويږي يا رسيږي. او داسې معلوميږي چې دا قول هم هوښيارانو د دې حديث شريف نه اخذ ، يا جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترې نه دا دے چې په هر حال ، يعنې هر کار ، هر عمل او هره خبره کښې نيت صفا ساتل پکار دي. ځکه چې نتيجه او انجام به د نيت په مناسبت مېلاويږي. چې په صفا نيت هر کار شروع شي نو د اخلاص اوصفا نيت له کبله هغه بنيادم سره د الله پاک مرسته او مدد شامل وي. او که منزل ډېر هم گران وي. خو د الله پاک په نصرت او مدد هغه اسان شي. او بنيادم خپل مراد ، مطلب ، منزل او مرام ته ورسي. هم د دې مطلب دپاره يې مشران د نصيحت په توگه خلقو ته وراندې کوي. او داسې وايي چې ښۀ په اخلاص سره په الله پاک توکل کوه ځکه چې: "نيت صفا منزل اسان".

واړه خبرې د قسمت دي
خو صفا نيت سره منزل ته رسوينه

هله به سبا کړم چې ستا روزي پېدا کړم

دا متل هم د قرا ـ ن شريف د کنو ايياتونو د معنونه اخذ کړے شوے دے. قرا ـ ن شريف کښې څو څو واړې الله پاک فرمائيلي دي چې روزي رسان صرف او صرف الله پاک دے. دا زمونږ د ايمان يو پوخ او بنيادي جز دے. چې رب زمونږه الله پاک دے ، د لفظ رب په معنو کښې ډېرو عالمانو دا تفسير ليکلے دے چې رب هغه ذات ته وئيلے شي چې هغه خالق وي. او د خپل مخلوق پرورش کولو والا هم وي. په پرورش کښې هر هغه ځۀ شامل دي چې کوم د بنيادم ضرورتونه دي. لکه ، هوا ، اوبۀ او خوراک سخاک. دا ظاهري ضرورتونه دي خو د دې سره سره د انسان ذهني پرورش يعنې عقل فکر ، شعور ، علم ، حکمت ، تعليم و تربيت دا ټول هغه ځيزونه يا ضرورتونه دي

چې د انسان په رزق کښې شامل دي. يعنې رب چې د کائناتو خالق دے. انسان ته يې يا يې فرمائي چې: لکه نورو مخلوقاتو ته چې څنګه رزق مېلاويږي داسې د انسان رزق هم د الله پاک په دست قدرت کښې په دې ا ـ ن شريف کښې په دې ا ـ ياتونو کښې د رب او د رازق ذکر شوے دے. او يا په خصوصي توګه څۀ ښۀ فرمائيلي شوي دي چې الله پاک خبر الرازقين دے. يعنې د ټولو نه غوره ، ښۀ ، د خېر او د رحمت رازق دے.دې متل کښې هم د دې ا ـ ياتونو د تفسير نجوړ راجمع شوے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې الله پاک انسان ته فرمائي چې د رزق په لړ کښې هېڅ فکر او غم مۀ کوه. د سبا ورځ به هله راځي يا هله به سبا کيږي چې په هغې کښې ستا د رزق بندوبست شوے وي. په دې زمونږه پوخ يقين او پخه عقيده ده چې زمونږه رب او رازق صرف او صرف الله پاک دے. (لاشريکه لک). د دې مطلب څرګندولو دپاره هوښيارانو د پښتو ژبې دا الفاظ غوره کړل او مونږ ته يې د متل په توګه وراندې کړل. او نن هم چې مشران يا واعظان خلقو ته د رزق په حقله څۀ نصيحت کوي نو دا متل ورسره ضرور وراندې کوي. او داسې وايي چې: "هله به سبا کرم چې ستا روزي پېدا کرم". او لېونے وايي چې:

بې شکه الله روزي رسان دے
د رزق غم کښې د سبا مۀ کره فکرونه

"الف"

اوبۀ په ډانګ نۀ بيليږي

دا د پښتو محاوره ده چې کله کله د متل په توګه هم استعمالږي يعنې ، ې يې د الفاظو نه ظاهره ده چې اوبۀ په ډانګ (لرګي) نۀ بيليږي. نو مطلب يې هم دا دے چې اوبۀ په ډانګ نۀ بيليږي. که په اوبو څوک هر څومره د لرګي کوذارونه وکړي خو اوبۀ د يو چې سره بيا خپل ځائے له واپس راشي. دوېم مطلب دا دے چې مشرانو د ويني رشتې (خپلولی) هم لکه د اوبو يادي کړي دي. يعني د ويني شريکي خپلولی هم لکه د اوبو په شان نۀ بيليږي. هر څومره که زړونه بد شي. خو اخر ځۀ وخت پس بيا خپله خپلولي او وروري خوري لکه د اوبو رابوځائے شي. مشرانو دا متل د دې مطلب دپاره مشهور کړے دے. وايي چې که هر څومره څوک زور ولګوي خو د ويني رشتې (خپلوی) لکه د اوبو د يو بل نه نۀ شي بيلولے. او که څوک جرته داسې د دوۀ وړونو تر مينځه لمسون ، ځمازي او جفلخوري کوي نو په داسې وخت هغه ځماز او جفلخور غړي ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه په قلاره کښېنه! "اوبۀ په ډانګ نۀ بيليږي".

اوبۀ په کمزوري ځائے ماتيږي

د اوبو دا طاقت او خاصيت دے چې دا بهيږي او چې جرته ورته لاړه او مخه مېلاويږي نوپه هغه مخه رواني وي. که سمندر دے ، سيندونه دي ، څوړونه ، نهرونه او يا لختې دي. خو اوبۀ پکښې مدام په خپل رفتار او مدوجزر سره رواني دواني وي. که چرې دې روانو اوبو ته بند اوترلے شي نو دا اوبۀ به تر ځۀ وخته پورې بندې شي. لکه څنګه چې د اوبو دا خاصيت دے چې بهيږي نو ځکه خانله لاړه کودره کوري ، يا جوړه وي چې پرې رواني شي. د اوبو د بهېدلو هغه خصوصيطاقت چې کله د پ ، لې او يا بند سره ټکرې خوري او خانله لاړه کوري او جوړوېنو اخر چې د پ ، لې يا بند کمزوري حصې يا کمزوري ځائے مات کړي. او وربانديې اوبۀ ورماتې شي. او خانله د بهېدلو دپاره لاړه جوړه کړي. او که چرې بند يا ورځ مضبوط وي نو اوبۀ په خپله لاړه او مخه ر واني وي. خو بې ځايه او بې ورخه نۀ ورماتيږي. د اوبو دا طاقت او د بند کمزوري حصې مشرانو په دې متل کښې د دې مطلب دپاره وړاندې کړې دي چې که چرې اوبۀ ډېرې هم طاقت وري وي خو چې بندونه ورته مضبوط او کلک اوترلے شي نو بيا اوبۀ په قابو کښې وي. او که چرې بند يا ورځ کمزورے وي نو لازمي ده. چې اوبۀ به په کمزوري بند يا ورځ ورماتې شي. ځکه چې دا د اوبو خاصيت دے چې په کمزوري ځائے ورماتيږي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالږي چرته چې څوک زورور غړے د چا کمزوري غړي سره وهل ټکول وکړي ، يا ورله بې عزتي وکړي. بد رد ، سپورې ستغې او کنځل ورته کوي. نو دا داسې شوه لکه چې اوبۀ په کمزوري ځائے ورماتې شوې. په داسې موقعو کښې اکثر خلق دا متل وړاندې کوي او وايي چې دا ځکه وشو چې! "اوبه مدام په کمزوري ځائے ماتيږي".

اوبۀ يې بليږي

اوبۀ بلېدل په اصل کښې د پښتو ژبې محاوره ده. خو په ځنې وخت او موقعو کښې يې مشران د متل په توګه هم استعمالوي. پخوا په زمانه کښې ، کله چې برېښنا (برقي رو بجلي) او کښ معلوم او په استعمال کښې نۀ وۀ. نو خلقو به د شپې د رنا دپاره ډيوې بلولې. په هغه ډيوه کښې به د خاورو يا شړشمو تېل بلېدل. اوس هم هغه ډيوې په ځنو کورونو کښې او اکثر په مزارونو (قبرونو) کښې ليدے او کټ شي. اوبۀ بلېدل په حقيقت کښې ډېره مشکله بلکې د نۀ منلو (ناممکنه) خبره ده. اوبۀ خپله د اور مر کولو تاثير لري او خلق يې هم د اور مر کولو دپاره استعمالوي. دلته د متل نه مطلب دا دے چې کټې داسې د نۀ کېدو ځۀ کار ، يا د نۀ منلو څه خبره وشي ، يا سر ته شي ، چې هغه لکه د اوبو بلېدلو رنګې عجيبه ، ګرانه او يا د نۀ منلو وي. يعني په دنيا کښې ډېر خوش قسمته خلق داسې هم شته چې الله پاک د

هغوي ډېر داسې کارونه سر ته کړي کوم چې په ظاهره لکه د اوبو بلېدلو په رنګ ناممکنه ښکاري. نو په داسې موقع مشران دا متل د دې مطلب دپاره وړاندې کوي. يعنې چرته چې د چا څۀ ډېر مشکله او ناممکنه کار يا مطلب سر ته شي ، يا ورله الله پاک بغېر د څۀ محنت او کړاؤ ښۀ ډېره فائده يا مال دولت ورکړي. نو د داسې خلقو په حقله لېونے داسې وايي چې خان کاکا! دا ډېرانے څومره خوش بخته دے. نن سبا يې هسې اوبۀ بلېږي.

بخـــــت چـــــې بېـــــدار ســـــــرے هوښـــــيار شـــــي
اوبـــــۀ يـــــې بليـــــږي نـــــور يـــــې څـــــۀ پـــــرواه ســـــاتينه

ابۍ پکښې پرېوتې واخله

قيصه:

د دې متل قيصه داسې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې دوه سادګان وروڼه وؤ د هغوي بوډۍ مور مړه شوه. د خاورو اړولو نه پس کلمې م ـلا صېب په قبر مسئلې کولې په خصوصي توګه يې د قبر او د اخرت د سختو ذکر کولو ، د پ ـل صراط په حقله يې وئېل چې دا ډېره سخته لار ده پ ـل ډېر نرم ، تېرۀ او نرے پ ـل دے په دې پ ـل تېرېدل ډېر ګران ، ډېر مشکله او سخت وخت دے. د پ ـل نه لاندې دوزخ دے. او چې څوک پ ـل نه پرېوځي. نو نېغ به دوزخ ته پرېوځي. م ـلا صېب د دې بيان په اورېدو سره د هغه يو ورور د خ ـلې نه دا خبره وخته. چې دا دومره ګرانه لار ده نو ابۍ پکښې پرېوتې واخله. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې په څۀ کار ، څۀ خبره ، څۀ ازمېښت ، څۀ مقابله او يا په څۀ امتحان کښې پاتې راتلل ، راغورځېدل او راپرېوتل.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې چا ته څۀ داسې حالات جوړ شي. چې د هغې نه د وتلو څۀ امکان او بـ ـن بـ ـنا نۀ وي مثلا ، چرته څوک په څۀ امتحان ، يا په څۀ مقابله کښې برخه واخلي او هغۀ ته دا پته ولګي چې هغه پکښې پاس کېدے نه شي. بلکې د (پرېوتو) فېل کېدو خطره يې زياته وي نو په داسې وخت هغه خپل حالت په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار دا ځل پکښې "ابۍ پرېوتې واخله".

ابۍ ته د مرګ کليمه مۀ وايه بيا خفه کيږي

د يو حديث شريف مطلب او مفهوم څۀ دا رنګې دے. فرمائي چې بنيادم بوډا شي نو د هغۀ دوه حرصه سېوا شي. يو د عمر او بل د مال دولت. يعنې چې څومره بنيادم بوډا کيږي نو دومره غواړي چې عمر يې نور زيات او سېوا شي. او داسې د مال دولت طمع او حرص يې هم زيات شي. او غواړي چې ډېر مال دولت جمع کړي. په متل کښې د کليمې نه مطلب دے خبرې اترې. يعنې د مرګ په حقله څۀ بحث او خبرې اترې کول. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې د بوډاګانو (ابۍ) په وړاندې د مرګ خبرې اترې مۀ کوه. بيا پرې بوډاګان خفه او غصه کيږي. يعنې هغوي دا ګڼي چې ګڼې مونږ ته اورونې کوي. او داسې چې په چا بنده کښې هم څۀ غلطي او کمزوري وي او څوک د هغۀ په مخکښې هغه کمزورۍ او غلا غلطۍ بيانوي. يعنې که څوک ورته نصيحت کوي او هغه رښتيا خبرې ورته وړاندې کوي نو هغه غړي له پرې هم غصه ورځي. په داسې خبرو او نصيحت بد ګڼي. او خفه يا غصه کيږي. نو په داسې وخت مشران ورته دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې هلکه "ابۍ ته د مرګ کليمه مۀ وايه بيا غصه کيږي".

ابۍ که زوروره وه نو د بابا د زوره وه

وئېلے شي چې ښځه او خاوند دواړه په وړومبو کلونو کښې يو بل سره ډېر نزدې او په مينه محبت کښې وي. بيا چې کله ماشومان وشي او ټبرداري جوړه شي. نو بيا د ماشومانو په خصمانه ، سمبالښت او تعليم و تربيت کښې داسې بوخت شي چې خپل ځان ترېنه هېر شي. خپله په تکليفونو او هلو ځلو عمر تېروي. خو د ماشومانو غم او فکر په مخه اخستې وي. بيا کله چې دا ماشومان لوئے شي او د خپلو خپلو

کورونو مالکان شي نو بودا بودې. بيا زاړۀ يادونه راتازه کړي. او يو ځل بيا يو بل ته خوارۀ او په مينه کښې شي. دا عمر او وخت هم داسې وي چې د کور واک اختيار هم د دوي په لاس وي. يعنې بودې. د جاټوري او د انفري واکمنه وي. او بودا د کلي د غم ښادۍ او د اتې بټ مشري کوي. او دې دوران کښې که زوئے يا اينکور د ابې سره ايله هم په کټراوه کړېږي. نو بابا بيا کوتک ته لاس کړے وي. او وړومبے دپکه بې دا وي چې کورے ټول به د کوره وباسم. او په داسې موقعو کښې چې بابا يو زور کوي. نو ابې دوه دونه زور کوي. يعنې که بابا يوه دپکه کوي نو ابې ورسره دوه درې نورې هم ملګرې کړي. او ابې دا زور زېردستي ، خاني او نواپي د بابا په مرسته او د بابا له کبله کوي او چلوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې جرته ځوک زورور او يا مالداره غړے د جا غريب او کمزورې غړي ملګرتيا او مرسته کوي. او چې هغه کمزورے غړے بيا خپله زورورتيا چلوي. نو د هغه زورور ملاتړ او مرستيال له کبله وي ، يا که ځوک د پلار نيکۀ په جائېداد خاني او نواپي کوي او کله چې د داسې غړو نه هغه مرسته ملګرتيا ختمه شي يا هغه مال دولت او جائېداد ختم شي نود هغوي خاني نواپي او زورورتيا هم ختمه شي. په داسې وخت او موقع لېونے دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه!
"ابې که زوروره وه ، نو د بابا د زوره وه".

ابې مړه تبه يې پرې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو ساده کل مور ناروغه په ميادي تبه پرته وه او ډېره ورنځېده. چې نېټه يې پوره شوه نو هم په هغه تبه کښې په حق ورسېده. يوه ورځ دې غړي سره يو دوست په ډېره موده پس مېلاؤ شو. هغۀ تر ښه د ابې پوښنه کوله چې وايه اشنا ابې په ځۀ حال کښې ده. هغه ساده کل ورته وئېل چې د ابې تبه پرې شوه. هغه دوست يې وئېل چې شکر دے. خو دا راته ووايه چې تبه يې په ځۀ ښۀ شوه. هغۀ ورته وئېل چې ابې مړه تبه يې پرې. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. جرته چې ځوک د چا نه د ځۀ کار او خبرې په حقله ځۀ ټپوس پوښتنه کوي. او هغه غړے ورله په لنډو ځواب ور کول غواړي ، يا خبره ختمول غواړي. نو دا متل ورته وړاندې کوي ، يا ځۀ مصيبت تکليف او غم خفګان چې د سره واوړي يا تېر شي. نو په داسې موقع هم داسې وئېلے شي چې "ابې مړه تبه يې پرې".

ابې مړي مړي نه ټسوي مېدان ګرموي

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به په مړي باندې مېرمنو دېر ويړ ، ژړا او انګولا کوله. په ويړ ژړا او ساندو به يې مړي درنول. دا ويړ ژړا او ساندې به په خصوصي توګه بودې. کانو مېرمنو په دېر سوز او سو ر سره ژړلې او وئېلې.د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې داسې په يو کلي کښې يوه بودې وه. چې د هر چا غم کښې به حاضره وه. او په ويړ ، ژړا او ساندو به يې غم او مېدان ګرمولو. دې به داسې د افسوس سره او په سوز کښې ساندې او غاړې وئېلې چې ټول خلق به يې د ځان سره په ژړا او سلګو اړولي وو. په کلي ځۀ چې په علاقه کښې دا بودې مشهوره وه. جرته چې به غم وشۀ نو بودې به رسېدلې وه. د مړي سر ته به اوچته ناسته وه او مېدان به يې ګرم کړے وۀ. يوه ورځ د بودې د زوي نه جا پوښتنه وکړه. چې هلکه دا ستا ابې ولې دومره زهيره او غم زپلې ده. چې مړي ته کټ نۀ شي. چې مړي وينې نو سم د لاسه يې په ځان راباندې کړي وي. په ويړ ژړا او ساندو سر وي. د بودې زوي ورله ځواب ورکړو. چې خانه پرېږده دا خبرې ، ابې مړي مړي نۀ ټسوي هغه خو مېدان ګرموي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب تر ښه دا دے چې ګنې د چا په غم خفګان او زيان يې ځۀ کار او پرواه نشته بس مېدان ګرموي ، يا خپل شوق پوره کوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک د چا په غم خفګان نهٔ وي. نهٔ د چا په سود زیان وي. بس خپله ډنګوي. او بل ته هم پېلات او لمسون ورکوي. مېدان ښائسته کوي او ګرموي. نو په داسې وخت مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ابی مړي مړي نهٔ ټسوي مېدان ګرموي".

اخترڅهٔ پټ مېړهٔ نهٔ دے

اختر د خوشحالو ، نندارو ، مزو او د خوندونو نمانځلو او خوندي کولو یوه ورځ او موقع ده. اختر زمونږ د اسلامي او اولسي کلتور یوه کالیزه او دستوره ده. یعنې دا ورځ زمونږ د ژوند ژواک د خوشحالو نه ډکه دستوره او اسلامي فریضه ده. ځکه یې خلق راتلو ته ډېر زیات لېواله وي. او راتلهٔ یې هم ډېر په ډنګه ډونګه او خوشحالو سره وي. یعنې څنګه چې یې خلق په انتظار وي نو راتلهٔ یې هم هر لوئے ماشوم ته ښهٔ معلوم وي. او تیارے ورله کوي. یعنې د اختر ورځ او میاشت هر چا ته معلومه وي دا نه چې ګنې اختر پټ په پټه راشي او تېر شي. د دې نه دا معلومه شوه چې ګنې اختر پټ نهٔ شي پاتې کېدے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې څهٔ کار یا څهٔ خبره چې لکه د اختر غټ یا غټه وي. نو هغه پټه نهٔ شي پاتې کېدے. اکثر په داسې موقعو کښې استعمالیږي چرته چې څوک څهٔ غټ کار وکړي او بیا یې په راز کښې د ساتلو هڅه کوي یا څوک ګیله مانه کوي چې ګنې تا خبر نهٔ کړم. نو پټه خو ولګېده ، یا څوک د څهٔ کار او یا د څهٔ خبرې په حقله ګماني وي چې ګنې دا به څنګه کیږي او زهٔ به ترې خبر شم که نه. نو په داسې موقعو کښې دا متل وړاندې کیږي او داسې وئیلے شي چې غم مهٔ کوه یا فکر مهٔ کوه پټه به ولګي: "اختر څهٔ پټ مېړهٔ نهٔ دے".

اخون له خو دې پۍ وي ، که د خرې وي که د سپۍ وي

قیصه:

د پښتونخوا په سیمه کښې میاګان ، م ، لیان او اخونزادګان مدام د راکړې سره ستاییلے شوي دي. یعنې دوي په ورکړه نهٔ پوهیږي. بس راکړه یې زده وي. په دې حقله ډېرې قیصې او لطیفې هم مشهورې دي. او مطلب ترېنه دا دے. چې دوي له به ورکړه کوي. خو څهٔ به ترېنه غواړي نه. پخوا په زمانه کښې به د دوي مشران په کلو ګرځېدل خېرات زکواة او قلنګونه به یې راغونډول. او د هغه وخت خلقو خاص زمیدارو غړو به دوي له ډېر قدر عزت ورکولو. او په فصل کښې به یې ورله جدا برخې ورکولې. چا به په سېدانو بلل ، او چا به پیران ګڼل او منل. هم په دې پیرۍ مریدۍ به دوي دنیا راغونډوله. که مرید به هر څومره خوار وؤو پیر او اخون صېب له به یې پۍ ماستهٔ او ک ، ج ضرور راپېدا کول. وایي چې داسې یوه ورځ یو اخون صېب په یو کلي ورپېښ شو. د کلي خلقو ورله ښهٔ په درناوي راشه درشه وکړل. مشران وایي چې د داسې خلقو چرته ښهٔ وي نو هلته شپه وي. دې اخون صېب هم په کلي کښې پخه ډډه واچوله. کله د یو کور مېلمه او کله د بل کره شپه. داسې یو ورځ اخون صېب د یو خوار مرید مېلمه شو اخون صېب چې کله په ډوډۍ کښې ک ، ج ماستهٔ ونهٔ لیدل. نو ډوډۍ یې په طبع یعنې په خوند او مزې اونهٔ خوړله. مرید غریب پرې ډېر وس وکړو. خو اخون شپې ته پاتې نهٔ شو. او د یو بل مرید په ډېره ورغلو. په سبا یو ګاونډي د دې غریب مرید نه پوښتنه وکړه چې هلکه خېر خو وؤ اخون صېب درنه ولې بېګاه خفه لاړو. هغهٔ ورته وئېل چې پته نهٔ لګي ، خو ماته هم داسې ښکاري چې پیر صېب خفه شوے دے. هغې ګاونډي ترېنه تپوس وکړو چې څهٔ دې ورله پاخهٔ کړي وو. هغهٔ ورته وئېل چې کاکا! څهٔ چې تیار وو هغه یې په وړاندې وؤ. خو پۍ ماستهٔ نهٔ وو. ګاونډي ورته وئېل چې ساده سړیه د هر ځائے نه چې وو خو پۍ به دې ورله راوړي وو. دا خلق په پیؤ مئین دي. دوي له که د هر څهٔ وي ، خو چې پۍ وي. هغه مرید ترېنه تپوس وکړو چې کاکا! که د خرې وي نو هم خېر دے. هغه ګاونډي ورته په خندا شو. او په ټوقو کښې وئېل چې! "اخون له خو دې پۍ وي که د خرې وي که د سپۍ وي". او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې د غرضي مطلب او غرض پوره شي. که په حلالو وي او که په حرامو. یعنې د مطلب او غرض سره یې کار وي. حرام او حلال نهٔ ټسوي. نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالیږي. چرته چې داسې څوک غړے په حلالو حرامو نهٔ وي. او خپل مطلب سر ته کوي. په هر څهٔ خېټه وراچوي. هر څهٔ ځان ته راکاږي. نو د داسې غړي په حقله مشران وایي چې دے په حلالو حرامو څهٔ کوي: "اخون له خو دې پۍ وي که د خرې وي که د سپۍ وي".

ارمان ارمان کابله چې هر ځائے دې غ ، ل خانه ده

قيصه:

په متل کښې څوک ګ ـ ل خانه يادوي څوک غ ـ ل خانه زما خپل خيال دا دے چې د مطلب سره غ ـ ل خانه زياته تړون خوري. په شا يې چې کومه قيصه يا واقعه بيان شوې ده. نو د هغې نه هم دا معلومېږي چې اصل متل هم دا دے. داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د کابل نه يو ساده غړے زمونږ سيمې ته راغلے وؤ. يعنې پېښور ښار ته راغلے وؤ. ټوله ورځ يې په ښار کښې ښۀ سېلونه ، ګرځېدۀ او خوراکونه وکړل. د بده شامته په مازيګر کښې ورته حاجت ورغلو. او دا حاجت ډېره بده بلا ده. د مازيګر وخت وؤ ، د ښار هره کوڅه او بازار د خلقو نه برچک ډک وو. دې غريب حاجت له ځائے ځائيکے لټول شروع کړۀ. په کوڅو کښې يې کندې او ګوټونه لټول. خو چې په کومه کوڅه به ورمخامخ شو نو هلته به ګڼه ګوڼه وه. غريب ډېر ستړے شو. او زور هم ورپسې وؤ اخر چې تنګ شو او په سترګو يې داسې تيارۀ راغله چې هېڅ شے ورته نۀ ښکارېدو. نو د يو دېوال خوا ته د نالۍ دپاسه کښېناستو. دپاسه ورباندې د خلقو يوه ډله راغله او هغوي ډېر لعنت ، ملامت او زورنه ورکړه. نو وايي چې په دوخت يې ډېر په افسوس سره دا خبره د خ ـ لې لاړه چې: "ارمان ارمان کابله چې هر ځائے دې غ ـ ل خانه ده". او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې خپل کور کلے او خپل وطن خپل وي. هر چا ته خپل ځائے ځائيکے معلوم وي. او په اسانه او ازاد مټ خپل کارونه ، يا کړامه سر ته کولے شي. نن سبا هم چې داسې څوک خپل کور کلي ، يا خپلې علاقې پسې ارمان کوي ، يا يې يادوي نو داسې وايي چې: "ارمان ارمان کابله چې هر ځائے دې غ ـ ل خانه ده".

ارمـــــان خـــــو هـــــر څـــــوک د وطـــــن کـــــړي
د کابـــــل خلـــــق وطـــــن ډېـــــر ډېـــــر يادوينـــــه

ارمان به وکړې وخت به تېر وي

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعماليږي معنـ ـ ی يې د الفاظو نه څرګنده ده. او مطلب ترېنه دا دے چې هر کار په خپل وخت کول پکار دي. ځنې کارونه داسې وي. چې هغه بل وخت ته نۀ شي سپارلے يا نۀ شي پرېښودلے. او چې هغه وخت تېر شي او کار نيمګړے پاتې شي يا يې د لاسو نه اوځي. نو بيا بنيادم ورپسې افسوس او ارمان کوي. د وخت د قدروقيمت په حقله هوښيارانو ډېر څۀ وئېلي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې وخت ډېر قيمتي شے دے. او وخت د چا انتظار نۀ کوي. او چا چې وخت پېژندلے دے او د وخت قدر يې کړے دے نو هغوي منزل او مرام ته په اسانه رسېدلي دي. او ژوند يې کامياب او کامران تېر شوے دے. او څوک چې د وخت په قدر نۀ پوهېږي او د وخت نه وروستو پاتې شي نو هغوي بيا وروستو ډېر د ارمانه لاسونه مروړلي دي. خو افسوس چې تو کړې لاړې ، د ورخه تېرې اوبۀ ، د خ ـ لې نه وتلې خبره ، د ليندې نه وتلے غشے او تېر وخت په بېرته بيا نۀ راګرځي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے. په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري چې: "ارمان به ډېر وکړې هلکه ، بيا به نۀ وينې ادکه". او په دې حقله د پښتو يوه څۀ ښکلې ټپه مشهوره ده. وايي چې:

ارمـــــان بـــــه وکـــــړې وخـــــت بـــــه تېـــــر وي
بيـــــا بـــــه جهـــــان راپســـــې ګـــــورې نـــــۀ بـــــه يمـــــه

ارمان پس له زواله ئي

دا د هوښيارانو يو عام قول دے. چې د متل په توګه هم استعماليږي. مطلب يې دا دے چې ګڼې ارمان هله چا له ورشي چې هغه خپل زوال ته ورسېږي. د زوال نه دلته معنـ ـ ی ده چې پړ راتلل ، پاتې کېدل ، ناکامه کېدل او يا د څۀ کار کمزورے کېدل او يا ختمېدل. يعنې مطلب دا شو چې د چا نه څۀ کار وران او خراب شي نو بيا ورله افسوس او ارمان ورځي ، يا څوک په څۀ امتحان او مقابله کښې ، په څۀ کار يا خبره کښې پړ او پاتې راشي يا ملامته شي نو بيا افسوس او ارمان کوي. داسې په بام ولاړ يا بام ته په تک کښې خلق کبر او غرور کوي. لاندې نۀ ګوري او نۀ صحيح او غلط ته پام کوي. خو چې کله يې زوال شي نو بيا ورله افسوس او ارمان ورځي. او په خپلو کړو ستومانه او ملامته وي. هوښياران وايي چې د وروستو افسوس او ارمان کولو نه غوره دا ده چې هر کار او خبرې ته سوچ ، فکر او پام پکار دے. چې په سوچ فکر او پام سره څۀ کار او خبره وشي نو بيا وروستو پکښې نۀ سړے ملامته وي او نۀ ارمان او افسوس کوي. هم د دې مطلب دپاره

مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د سبق او نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ارمان پس له زواله ئې".

ازمائيلي مۀ ازمايه

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړي ته پلار نصيحت کړے وؤ. چې بچيه! مۀ جرتہ په ښځه ذات باندې اعتبار کوه او مۀ په کوتوال (پوليس والا) باندې. دې خبره کښې ډيره موده تېره شوې وه. يوه ورځ دې سړي ته هغه نصيحت ور په ياد شو. د دې سړي د يو کوتوال (سپاهي) سره دوستي وه. دۀ په زړۀ کښې فېصله وکړه چې د پلار په نصيحت ازمېښت وکړي چې دا خبره رښتيا ده او کنه. يو ورځ يې په پټي کښې خپل يو ګډ حلال کړو. د ګډ سر يې يو خائے کښې ښخ کړو. څۀ وينه يې په لاسو او څۀ په جامو ولګوله. او د شپې ناوخته کور ته راغے. ښځې يې چې وينه ولېده نو د سړي نه يې په هېبت او حېرانتيا سره پوښتنه وکړه. چې دا ولې او څۀ حل شوے دے. سړي ورته وئېل چې ښځې چې شېخ ، لۀ لاس کېده. څوک در نه خبر نۀ شي. سړے مې وژلے دے او په فلاني خائے کښې مې ښخ کړے دے. پام کوه چې څوک خبر نۀ شي. هغه شېخ خو تېره شوه خو ښځه يې پرسېدلې وه. سحر وختي يې په دېوال کاوندې ته قيصه تېره کړه. داسې د يوې نه بلې ته يا د بلې نه بلې ته خبره روانه وه. او اخر چې د هغه سپاهي غوږو له هم خبر ورسېدو. هغه سپاهي په زړۀ کښې وئېل چې د دوستۍ نه څۀ فائده راشه قاضي خبر کړه. نو څۀ انعام او ترقي به مېلاؤ شي. قاضي خبر شو او د سړي د نيولو حکم يې ورکړو. سړے بندي شو او هم هغه سپاهي دوست قاضي ته وړاندې کړو. سړي قاضي ته ټوله قيصه تېره کړه. هغه خائے چې اوکسيټ شو نو هلته د ګډ سر مېلاؤ شو. قاضي چې د قيصې په مطلب پوهشو نو سړے يې ا ـ زاد کړو او دا نصيحت يې ورته وکړو چې خبردار يا دپاره داسې مۀ کوه. "ازمائيلي مۀ ازمايه". او داسې د قاضي دا جمله يا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل د داسې غږو په حقله استعمالېږي چرتہ چې څوک چاته ښۀ معلوم وي. او په هغوي باندې دوباره د ازمائيلو وخت راشي. نو دا متل ورته وړاندې کوي او داسې وايي چې: دا ماته معلوم خلق دي يار. "ازمائيلي مۀ ازمايه".

هغه نه به بل کم عقل نۀ وي
په ازمائيلو چې بار کړي ازمېښتونه

ا ـس د خرو په ډله خر شي

اس اس وي او خر خر. نۀ اس خر کېدے شي او نۀ خر اس جوړېدے شي. خو هوښيارانو په دې متل کښې دې خبرې ته اشاره کړې ده چې کنې مجلس او محفل تاثير لري. او بنيادم چې په کوم مجلس کښې ناسته پاسته کوي نو هم هغه شان اثر وربانديږي. يعنې که د ښو ، نېکو کارو ، بااخلاقو او عالمانو سره دې ناسته پاسته وي. نو اخلاق او کردار به دې ښۀ جوړېږي. او که د بد ، لوفر ، لفنګو او بدمعاشانو سره په ډله شوې. نو هم هغه شان عمل او عادتونه به خپل کړې ، يا د هغوي په لار به روان شي. يعنې د هغوي په رنګ کښې به رنګ شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے او مطلب ترې ښه دا دے چې که ا ـس د خرو سره ملګرے شي نو څۀ ورځې پس به ا ـس هم لکه د خرو خوي خصلت کوي. يعنې د خرو په رنګ به رنګ شوے وي. او د خرو غوندې عادتونه به ورکښې راغلي وي. يعنې مطلب دا شو چې محفل ، ملګرتيا او ياري دوستي اثر لري. او په يو بل اثر کوي. په دې لړ کښې يو بل متل هم مشهور دے. وايي چې: "د درنو سره به دروند يې او د سپکو سره سپک". او هم د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې يو متل داسې وئېلے شي چې: "خربوزه خربوزے کو ديکھ کر رنگ پکڑتا ہے".

ا ـ سونو نعلونه وهل نو چيندخانو ورته هم پښې پورته کړې

دا يو ساده متل دے او مطلب يې دا دے چې ګنې چيندخانو د اسونو سره سيالي کولهالانکې د ا ـ س او د چيندخ تر مېنځه د زمکې او د اسمان فرق دے. هم داسې چرته چې يو غړے څۀ کار کوي. او بل څوک هم د هغۀ سره سيالي کوي هم هغه شان کار شروع کړي يا يې د کولو تکل کوي يا څوک غړے د خپل حېثيت نه زيات او اوچت کار کوي يا د کولو هڅه کوي ، يا څوک داسې په څۀ کار او خبرو کښې د بل چا نقل شروع کړي. يعنې په جامه پېزار يا په کار روزګار او ناسته پاسته کښې د بل د سيالۍ نه بدلون راولي. او د هغۀ سره ځان برابروي. يعنې مطلب دا شو چې يو کمزورے غړے د چا زورور سره ، يا څوک وړې عهدې او کمې درجې والا غړے چا غټې عهدې والا سره او يا څوک غريب د چا مالدار سره څۀ مقابله او سيالي کوي يا ځان برابروي. نو په داسې موقع او داسې غړو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هن! دۀ ته ګوره او د دۀ دې کار ته ګوره! "ـ سونو نعلونه وهل نو چيندخانو هم ورته پښې پورته کړې".

ا ـ وښ د لکۍ نه نۀ ټينګيږي

دا يو ساده او عام متل دے معنـ ـ ی يې څرګنده او ښۀ معلومه ده. مطلب يې دا دے چې ګنې اوښ څومره غټ پټ او پهلوان ځناور دے. او که هغه څوک د لکۍ نه ټينګول او قابو کول غواړي نو په دې طريقه نۀ قابو کيږي او نۀ ټينګيږي. لکه نورو څاروو ته چې په پوزه کښې پېزوان اچولے شي. هم داسې د اوښ په پوزه کښې د لرګي يو وړه شانې ټوټه اچولے شي. هغې پورې نرے مزے تړلے وي. چې ورته م ـ هار وئېلے شي بيا په مه ـ ار پورې جلب تړلے شوے وي او دا م ـ هار او جلب د اوښ د ټينګولو يا قابو کولو ترکيب او ذريعه ده. که اوښ ډېر هم مست او پهلوان وي خو چې م ـ هار يې د ساربان په لاسو کښې وي نو بيا هغه په قابو کښې وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې که اوښ ټينګول غواړي نو د م ـ هار نه يې نيسه. نه چې د لکۍ نه. دوېم مطلب ترېنه دا هم اخذ کيږي. چې ګنې د نورو څاروو په نيز د اوښ لکۍ وړه يعنې لنډه وي. او اوښ په قد کاټ کښې هم دنګ وي. او يو عام وګړے په ولاړه د اوښ لکۍ ته رسېدلے هم نۀ شي. او که ورسي نو هم يې مضبوطه ټينګولے نۀ شي. نو داسې که څوک هڅه کوي چې اوښ د لکۍ نه راټينګ کړي نو دا د نۀ منلو او نۀ کېدو خبره ده.

درېم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے چې کله يو څاروے د حلالې دپاره يا د دارو درملو ورکولو دپاره راوپرځولے شي نو د هغه څاروي لکۍ د وروستۍ پښې د لاندې نه ـ په ترخ کښې) راتاؤ کړے شي او يو غړے يې کلکه اونيسي. او د دې لکۍ په زور هم څاروے په قابو کښې شي ، يا راټينګ کړے شي او دا معلومه ده چې د اوښ لکۍ لنډه وي. نو هغه په ترخ کښې نۀ راتاوېږي او نۀ نيولے شي. نو په دغه وخت هم اوښ د لکۍ نه ټينګول ګران بلکې د نۀ کولو کار دے. نن سبا په داسې حالانو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې لکه د اوښ شانې غټ کار کوي خو تابيا ورله مضبوطه نۀ ګوري. او نۀ جوړوي ، يا څوک داسې څۀ غټ شي ته معمولي شان اړم ورکوي. او په هغې يې ودرول يا ټينګول غواړي ، يا څوک زورور غړي په معمولي چال ، داؤ يا مکر فرېب او په چل هنر قابو کول غواړي. نو مشران ورته په داسې وخت دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "اوښ د لکۍ نه نۀ ټينګيږي".

دې بعضـــــــې خلقـــــــو تـــــــه حېـــــــران شـــــــم
اوښ د لکـــــــۍ نـــــــه ټينګـــــــوي ژړا راځينـــــــه

اصل له خطا نشته او کم اصل نه وفا

دا يو عام متل دے. او په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. هسې خو هر بنيادم له خطا شته. يعنې خطا د هر چا نه کېدے شي خو بيا هم په دې متل کښې هوښيارانو د ذات او نسب څۀ خوبي او څۀ عـ ـلتونه بيان کړي دي او مطلب يې دا دے چې ګنې ښۀ او اصل ذات والا غړي څۀ غلط کار يعنې ناوړے ، لغړ ، فحش ، د بې شرمۍ ، بې حيائۍ او د بې غېرتۍ کارونه نۀ کوي. يعنې د داسې

قسمه کارونو نه ځان بچ او په ډډه ساتي. چې په کولو يې خپله نامه ، ټبر او خاندان بدنامه شي. بل خوا کم اصل خلق اکثر د خپل سود ، ګټې او فائدې سره کار او غرض ساتي. په شرم ، حيا او په لعنت ملامت يې څۀ کار نۀ وي. د خپل مطلب او غرض پورې به ستا وي او چې غرض پوره شي نو بيا بې وفا وي. د داسې خلقو حالات او خوي بوي مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړي او په ګوته کړي دي. نن هم د داسې غړو په حقله استعمالېږي. چرته چې څوک بې وفا وخېژي يا څوک داسې څۀ غلط کار يا غلطه خبره وکړي چې خلق ورته ګوته نيسي. نو د لعنت ، ملامت او پېغورونو ورکولو سره سره ورته خلق د طنز په توګه دا متل هم وړاندې کوي او داسې وايي چې: "اصل له خطا نشته او کم اصل له وفا".

يـــــــاري د اصـــــــل ســـــــره خونـــــــد کـــــــه
کـــــه وفـــــا نـــــۀ وي نـــــو خطـــــا نـــــۀ کـــــړي مئينـــــه

اصيل اصيل وي او کم اصل کم اصل

دا د هوښيارانو يو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. مطلب او معنې يې د الفاظو نه څرګندېږي. په متل کښې د ذات پات ستائېنه شوې ده. او مطلب يې دا دے چې ګڼې اوچت او ښۀ ذات والا بنيادم اصيل وي. او کم ذات والا کم اصل په دې حقله نور هم ډېر متلونه مشهور دي. او د ټولو نه مطلب دا اخذ شوے دے چې ګڼې اصل ذات (اوچت ذات) ښۀ کردار او ښۀ اخلاقو والا وي. او کم ذات بد کرداره ، بې ادبه ، بد اخلاقه او بد تميزه وي. دوېم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے. چې ګڼې د بنيادم ذات که هر څۀ وي خو ښۀ اخلاقو والا يعنې اشراف او ښۀ خوي بوي والا غړي اصيل وي. او بد اخلاقه ، بد عمله او بدمعاش غړے کم اصل وي. ځکه داسې غړو ته کله کله د زورنې او کنځلو په توګه داسې وئيلے شي چې د کم اصل ذاته ياد کم اصل ځويه. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې يو خو بنيادم په ذات اشرافه وي او بل په خپلو اخلاقو او علم هم اشرافه او اصيل جوړېدے شي. او نن هم اکثر په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې څۀ غلط يا بد کار وکړي. چې د هغه ذات خاندان او يا نسب ته ګوته نيولے شي. نو په داسې وخت او د داسې غړو په حقله هوښياران داسې وايي چې پرېږده ياره! د داسې خلقو نه به نور د څۀ طمع کوې! "اصيل اصيل وي او کم اصل کم اصل".

اصيل له اشاره او کم اصل له ډانګ

دا يو عام او ساده متل دے. اصيل او کم اصل په دوه معنو کښې استعمالېږي. د پښتنو په سيمه کښې اصل د اوچت نسل يعنې د افغان قام دپاره او کم اصل په بعضو علاقو کښې د کسب ګرو خلقو دپاره استعمالېږي. دوېمه معنې يې دا ده چې کوم ښۀ اخلاقو ، اشرافه او روغ خلق وي. نو هغوي په اصل باندې بللے او منلې شي او چې کوم بدمعاش ، شېطان خويه او شرير خلق وي. نو هغوي په کم اصلو باندې يادېږي. که يو غړے چرته څه شرارت ، مسخره ، جنګ جګړه يا څۀ وران کار کوي. او د بل چا په يو ځل دوه منع کولو يا په يوه خبره (اشاره) هغه وران کار يا هغه خبره پرېږدي نو وايه چې دا اصيل دے. او که چرې هغه غړے د بيا بيا منع کولو نه پس هم نۀ صبرېږي. او هغه خپل شرارت يا مسخره جاري وساتي ، يا په ورانو او په بدو لارو سر وي نو پوهه شه چې دا کم اصل دے. او دے په اشاره يعنې په خبره يا وېنا باندې نۀ منع کيږي. بلکې په زور يعنې په ډانګ به منع شي. د داسې وخت ، حالاتو او د داسې خلقو دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے او داسې وايي چې: "اصيل له اشاره او کم اصل له ډانګ".

يـــــــو اشـــــــاره ورلـــــــه کـــــــافي شـــــــي
اصـــــيل د چـــــا چـــــې مـــــور او پـــــلار تېـــــر شـــــوې وينـــــه

اصيله کول ګران دي او ساتنه يې اسان ،
کم اصله کول اسان وي او ساتنه يې ګران

دا متل د مشرانو هوښيارانو د عمرونو او د زمانو د تجربو ، جذباتو او احساساتو يو نچوړ دے. اصيل او کم اصل دوه معنې لري. يو ترېنه نسل او نسب مطلب دے. يعنې چې د چا نسب او ذات ښهٔ او اوچت ذات وي. نو هغه په اصيل او اصل ګڼلے او منلے شي. او ځنې داسې ذات يا قبيلې دي (دلته د نامو اخستلو حاجت نشته) چې زمونږ په معاشره کښې په کم اصل او کم نسب يا کم ذات يادېږي ، ګڼلے او منلے شي. د ذات پات دا فرق ، تفاوت او لاندې باندې ګو چې په اسلامي تعليماتو او شرعي احکاماتو کښې جائز نهٔ دي. خو بيا هم په هره معاشره کښې د ذات پات دا تقسيم ليدے او کتے شي. يعنې مطلب دا شو چې د بنيادم په ذات او نسب کښې اصيل او کم اصل وي. او په دې لړ کښې د مشرانو نور هم ډېر قولونه او متلونه مشهور دي.

دوېم مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې څوک په خوي خصلت ، اخلاقو او عادتونو اشراف وي. نو هغه په اصيل ګڼلے ، منلے او بللے شي. او د چا چې خوي خصلت بد وي. اخلاق او عادتونه يې فحش او لغړ وي. بې ادبه ، بد تميزه ، بې شرمه او بې حيا وي. نو هغه غړي په کم اصلو يادېږي ، منلے او بللے شي. په دې متل کښې مشرانو دا دواړه مطلبونه څرګند کړي دي. او د اصل کم اصل اشاره يې ښځې ذات ته ورکړې ده. يعنې په متل کښې اصيله او کم اصله ښځه ذات مراد دے.

ددې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې اصيله ښځه وادهٔ کول او د کور مېرمنه جوړول ګران دي. يعنې يو خوا اصيله ښځه مېلاوېدل ګران دي. نو بل خوا د ذات پات د لاندې باندې له کبله يو بل له ورکړه راکړه هم ګران وي. او چې کله د چا داسې اصيلې ښځې سره وادهٔ وشي نو بيا هغه ښځه خپل ځان ، مال ، دولت ، حيا عزت ، ننګ ناموس او خپل واک اختيار هر څهٔ د خاوند په نامه کړي. په هر حال کښې د خاوند د حيا عزت خيال ساتي او په اسانه ګزاره کوي. لوږه تنده او پټه بربنډه هر څهٔ يې د خاوند سره يو وي. او د خاوند په رضا يې رضا وي.

بل خوا داسې څوک کم اصله که هغه په ذات وي او که په کردار. نو د هغې سره وادهٔ کول ډېر اسان وي. يعنې داسې ښځې ډېرې په اسانه مېلاوېږي. خو بيا وروستو په کور کښې د هغې ګزران ډېر ګران وي. څوک چې د بدو عادت وي او په بدو لارو چارو سر وي نو هغوي بيا نهٔ د خپل ذات په عزت وي او نهٔ د بل. نه ګزاره کوي او نهٔ خپلې ګڼې وټې ته خيال فکر کوي. او نهٔ يې د خاوند په غريبۍ څهٔ کار وي. خپله عياشي او بدمعاشي غواړي او چلوي. نو بيا په داسې حالاتو کښې ګزاره کول ډېره ګرانه شي. يعنې ساتنه يې ګرانه شي. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړے او مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې: "اصيله کول ګران وي خو ساتنه يې اسان ، او کم اصله کول اسان وي خو ساتنه يې ګران".

اغېړلے به په خپله دونمباله خلاصيږي

دا يو عام متل دے خو په امروزه ژوند کښې زيات نهٔ استعماليږي. د اغېړلي نه دوه معنې اخذ شوي دي دوه معنې يې پرسېدلې ده. يعنې د چا بنيادم يا د ځناور چې باد بند شي او خېټه يې اوپرسيږي. نو هغه بنيادم يا هغه څاروي ته اغېړلے وئيلے شي. زمونږ په خوراکونو کښې ډېر داسې بادي څېزونه دي چې په خوراک يې بنيادم پرسيږي او ترېنه تکليف او مرضونه راولاړيږي دوېمه معنې يې دا ده چې ګڼې څوک غړے د غرور او تکبر نه پرسېدلے وي ، اېغ نېغ ګرځي. نو داسې بنيادم هم په اغېړلي بللے شي دونمبالې نه معنې ده وروستو يا اخري سر. په يو متل کښې دونمباله داسې استعمالې شوې ده. وايي چې: د لښکر په دونمباله ځه او په سر يې راځه. په دې متل کښې هم د دونمبالې نه مطلب د بنيادم د شا طرف يا د شا حصه ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې داسې څوک پرسېدلے (اغېړلے) بنيادم يا څاروے وي. او په دغه حالت کښې تنګ او په مصيبت کښې وي. نو که په داسې وخت د هغهٔ د خېټې نه څهٔ لږه ډېره هوا خارجه شي نو د مريض پرې څهٔ نه څهٔ ګزاره وشي. په دې لړ کښې يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري ، وايي چې: "د اغېړلي په يو ډرکي هم ګزاره کيږي". دا متل نن سبا په داسې وخت يا حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک په څهٔ کار ، يا په څهٔ شخړه کښې ګېر وي. او هغه کار يا هغه خبره د بل مدد لږ او خپل همت او محنت زيات غواړي. نو خلق هغه غړي ته

داسې وايي چې ګڼې په خپل کوشش ، محنت او همت به تر ېنه خلاصېږي. دا مطلب ورته په دې متل کښې ځرګندوي او داسې وايي چې: "اغېرلے به په خپله دونمباله خلاصېږي".

د اغېرلـــــــ

دا متل نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې ځوک (يو فنکار ، هنرمند يا استاذ غږے) ځۀ کار وکړي. او هغه کار يا هغه خبره مشهوره شي. او د هر چا خوښ يا خوښه وي. او هر ځوک يې کول غواړي. خو کولے يې نۀ شي ، يا هو به هو هغه شان ښکلے او مزېدار نۀ کيږي ، يا ترېنه هغه شان کټه او فائېده حاصله نۀ کړے شي. نو په داسې وخت او داسې غږو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانالحمدو هم هغه ده خو خ ، له د ميان عمر نۀ ده".

الوتې مرغۍ بيا په لاس نۀ راځي

دا يو ساده او عام متل دے. او مطلب يې دا دے چې کټې مرغۍ يو وار د لاسو نه (پنجرې نه) ازاده شي نو بيا هغه واپس په لاسو نۀ راځي. او چې کوم شے يو وار لاړو او دوباره د راتلو نۀ وي. نو نۀ يې انتظار پکار دے او نۀ ورپسې افسوس ، ارمان او خفګان. ځکه چې الوتې يا تلې شي پسې افسوس کول بې وقوفتيا او کم عقلتيا ده. داسې که د چا د لاسه ځۀ خطا کار وشي ، يا ترېنه ځۀ شے ورک شي ، يا د ځۀ په انتظار وي ، يا د ځۀ کار موقعه او وخت ترېنه تېر شي. او په دغه کارونو يا هغه وخت پسې بيا دېر خفه ، غمژن او زهير وي. افسوس او ارمانونه کوي. نو مشران ورته د طبعي تسلي او د نصيحت دپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي. چې يار زړۀ دې صبر کړه. په تللي شي پسې خلق افسوس او ارمانونه نۀ کوي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې ځرګندوي او وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار نور زړۀ ورپسې مۀ خوره! "الوتې مرغۍ بيا په لاس نۀ راځي".

انګار جانے لوهار جانے

دا يو عام متل دے. چې په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. مطلب ترېنه دا دے چې کټې لوهار پوهه شه او انګار پوهه شه. د لوهار او د انګار د يو بل سره دېر نزدې تعلق او ترون دے. د لوهار دېر کارونه بغېر له انګاره نۀ سر ته کيږي. که انګار نۀ وے نو لوهار به نيمګړے وے. مشرانو په متل کښې هم د دواړو دا ترون يعني د لوهار دپاره انګار ضرورت او حاجت په دې متل کښې ځرګنده کړے دے. او مطلب يې دا دے چې کټې که انګار نشته نو دا د لوهار حاجت دے. لوهار پوهه شه او کار يې پوهه شه. که ځپل حاجت او ضرورت پوره کول غواړې نو ځانله به غم کوې. نن سبا هم په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک داسې د چا مدد او مرسته کول نۀ غواړيعني چې بېخي انګاري شي نو سک ، ټ ځواب په دې متل کښې ورکوي او داسې وايي چې څه مره! "انګار جانے او لوهار جانے".

انګور تراوۀ دي

قيصه:

انګور تراوۀ هم وي او خوارۀ هم. خو په متل کښې د تراوۀ ذکر شوے دے. دا متل دېر مشهور دے او خلقو ته يې قيصې هم معلومه ده او مطلب هم. هغه قيصې داسې بيانيږي. وايي چې په يو ځنګل کښې يوه لومړه دېره وړې تږې د خوراک په تلاش او تکل کښې سرګردانه ګرځېدله. ناڅاپې يې د انګورو يو غونجه په نظر شوه. دا غونجه د وني نه لږه شان رازوړنده وه خو دومره اوچته وه چې لومړه ورته رسېدے نۀ شوهانګورو په لېدو د لومړې په خ ، له کښې اوبۀ راغلې. لوړې وهلې لومړې د انګورو د خوراک تدبيرونه او سوچونه شروع کړل چې په ځۀ طريقه انګورو ته ځان ورسوي. چې ځۀ ترکيب ترېنه جوړ نۀ شو نو د لاندې نه يې ورپسې توپونه شروع کړل. لومړه په توپونو وهلو ستړې شوه. خو انګورو ته اونۀ رسېده. چې په توپونو يې ښۀ زاړه شنه شوه نو ستړې ستومانه په يو طرف روانه شوه. او د ځان سره يې وئېل چې پرېږده دا انګور تراوۀ دي. هم د دې قيصې نه مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کله چا له ځۀ شے په لاسو ورنۀ شي نو هغه بيا په هغه شي او يا هغه کار کښې عېبونه او ځ.لتونه راوباسي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک غږے د ځۀ کار تکل کوي يا د ځۀ شي طمع لري او هغه ورته مېلاؤ نۀ شي او د هغه کار کولو يا د هغه شي د حاصلولو ټول ترکيبونه او ترتيبونه بې عېبه لاړ شي. يعني په ځپل مطلب کښې ناکامه شي نو بيا د ناکامه زړۀ صبروي او د هغه کار ياد هغه ځيز عېبونه او ځ.لتونه بيانوي. او په دې ځپله ملامته پټوي. خو نور خلق ورته په داسې وخت دا

متل د طنز په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې اهو يار! "انګور تراوۀ دي". هم په دې الفاظو کښې او د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې داسې وئېلے شي چې! "انګور کهٹے ہیں"

چـــــــې يـــــــې د وس او بـــــــس نـــــــه اوځـــــــي
جـــــــوړ د خـــــــوږو نـــــــه شـــــــي تراخـــــــۀ تراخـــــــۀ څيزونـــــــه

ونې ته ګوره نو د سېوري لاندې کښېنه ،
او سړي ته ګوره نو سوال ترې کوه

دا يو عام متل د معنـ ی او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. د ضرورت او د حاجت په وخت کښې خو د يوې جاړې سېور ے هم بنيادم له ډېر لوئے غنيمت وي. خو مشران وايي چې اول ونې ته اوګوره نو بيا يې د سېوري لاندې کښېنه. يعنې مطلب دا چې اول ونې ته پام وکړه چې هغه روغه او د سېوري قابله ده او کنه. د سمې او روغې نه مطلب دا دے چې ځنې ونې داسې وي چې هغه د مېوې نيولو په وخت د راحت په ځائے زحمت هم جوړېدے شي. لکه د توت ونه چې د مېوې په وخت يې لاندې ناسته نۀ وي پکار. داسې د بېرې د ونې نه يو خاص قسم بـ ـ ر رادوړيږي. چې انسان ته ترېنه مرض ، تکليف او ضرر رسېدے شي ، يا نورې داسې ډېرې ونې وي چې ورکښې چينجي ، مېږي او نور ګند بلا (پيشتۍ) ګرځي او هغه هم بنيادم ته د تکليف ، زيان او د مرض سبب جوړېدے شي.

بل خوا مشرانو دا اشاره د بنيادم دپاره هم ورکړې ده. مطلب دا چې لکه څنګه د سېوري دپاره ونه کنل او غوره کول پکار دي نو هم داسې د څۀ شي د سوال دپاره مخکښې سړي ته اوګوره او جاج يې واخله چې هغه سړے د دې قابل دے. چې د هغۀ نه څۀ شے اوغوښتے شي. مطلب دا چې اول د هغۀ مالي حېثيت او حالت ته اوګوره ، يعنې هغه د دې قابل دے چې د چا سره امداد کولے شي. او بيا يې اخلاق او سلوک ته پام وکړه. چې هغه د چا سره ښۀ ، مدد ، مرسته او احسان کوي يا کول غواړي او کنه. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے ، مشهور کړے او وړاندې کړے دے.

دا متل نن سبا د داسې خلقو دپاره استعماليږي چرته چې څوک داسې د چا نه څۀ سوال وکړي او هغه د شومتيا له کبله انکار وکړي ، يا څوک داسې شوم او کنجوس سړے چې په کلي محلت کښې مشهور وي نو که د هغۀ نه څوک د څۀ شي طمع لري يا ترېنه سوال کوي نو مشران په داسې موقع هغه غړي ته دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې هلکه! "ونه ګوره نو د سېوري لاندې يې کښېنه او سړي ته ګوره نوسوال ترې کوه".

اور له راغله نو د کور مېرمن شوه

قيصه:

پخوا په زمانه کښې غريبي ډېره وه. هر چا به د اور لګيت (د تيلو ډبۍ) هم نۀ شوه ساتلې. اکثر خلقو به د يو بل د کورونو نه اور يعنې انګار (سکروټې) وړلې او خپل کار به يې پرې سر ته کولواسې وايي چې هغه زمانه کښې په يو کلي کښې يوه ک ـ نډه غريبه ښځه وه‌هغې يوه پېغله لـ ـ ور وه. هغه جينۍ يوه ورځ د کلي د ملک (خان) کره اور غوښتو له لاړه. د ملک يو ځوان زوئے وؤ. هغۀ چې دا جينۍ وليده نو خوښه يې شوه. هغه ځوان مور پلار په دې خبره رضا کړلې د کونډې لـ ـ ور سره وادۀ وکړي. او هم داسې وشو هغه جينۍ د ملک د کور مېرمن جوړه شوه. هغه وخت کښې يوې بوډۍ ښځې چې د دې ټولې قيصې نه خبر وه دا خبره وکړه ، چې اور له راغله نو د کور مېرمن شوه. او داسې دا خبره وروستو بيا په متل مشهوره شوه.

نن سبا هم تېرچې داسې حالات جوړ شي چې څوک د بل په نوکرۍ کښې داسې حال ته ورسي چې هغه نوکر د هغه د ـ کان يا د هغه کاروبار مالک جوړ شي. نو په داسې وخت دا متل وړاندې کيږي. خو نن سبا يې اکثر او زيات تر بوډۍ ګانې مېرمنې په خصوصي توګه خواښيانې د اينګوريانو په حقله استعمالوي. يعنې چرته چې د خواښې او اينګور جګړه جوړه شي نو خواښې اينګور ته د پېغورونو سره سره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هن دې ته ګوره! "اور له راغله نو د کور مېرمن شوه".

بهانـــــــه يـــــــي اور مطلـــــــب تـــــــري کـــــــور شـــــــي
لکـــــــه مـــــــاموت غونـــــــدي مونـــــــدے پـــــــه قسـمت شـــــــينه

اول وخوره د ځان غوښې نو بيا وخوره

د ښکار غوښې

قيصه:

ښکار کول ، که هغه د مرغانو دے ، د مېږانو دے ، او که يا د نورو ځناورو دے. خو ډېر ګران ، د محنت او د کړاو کار دے. دا ډېر محنت او صبر غواړي. داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې يو ناراسته غړے وؤ. هغه يوه ورځ څو کسه ښکاريان ولېدل. چې ښې ډېرې مرغۍ يې ښکار کړې وې. دې غړي هم په زړۀ کښې دا صله او فېصله وکړه چې سبا به ځنګل ته د ښکار دپاره ځم. په بله ورځ يې د ښکار اوزار او سامان واخستل او ځنګل ته لاړو. څۀ شېبه د ښکار په تکل کښې وګرځېدو. خو څۀ ښکار يې بيا نۀ موندو. څۀ خو دا سړے ناراسته وؤ. او څۀ په کرځېدو سترے شو. نو اخر د يوې ونې لاندې دمې ته پرېوتو او اوډۀ شو. کله چې راويښ شو نو مايښام وؤ. هم داسې تش تور لاس کلي ته واپس راروان وؤ. په لاره يو بودا غړے مخې له ورغے. هغۀ تر ښه پوښتنه وکړه چې ځوانه د کومې غاړې؟ دې ناراسته غړي ورته ټوله قيصه تېره کړه. هغه بودا ورته ووئېل چې ځوانه! "اول وخوره د ځان غوښې نو بيا وخوره د ښکار غوښې". مطلب يې دا وؤ چې اول ښۀ محنت خواري وکړه. يعنې اول د ځانه ځولې وباسه نو هله به درته بيا ښکار ښلاوېږي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک ناراسته غړے محنت نۀ کوي. ځان سختي له نۀ ورکوي خو ژوند ښۀ ، غوره او د ارام غواړي ، يا څوک محنت نۀ کوي. ځان خواري ، مزدورۍ او کړاؤ ته نۀ نيسي خو بيا هم په کاروبار کښې کښه او فائده زياته غواړي. يعنې په تشه ناسته خانې او نوابي غواړي. نو داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "اول وخوره د ځان غوښې نو بيا وخوره د ښکار غوښې".

اول د ځانـــــــه خـــــــولې تـــــــوئې کـــــــره
بيـــــــا بـــــــه د ښـــــــکار پـــــــه غوښـــــــو ښـــــــۀ وخـــــــي شـــــــخوندونه

اولاد هم غم او نۀ اولاد هم غم

دا يو ساده متل دے. او مطلب يې د معنې تر لاندې څرګنده دے. ورکړه خو د الله پاک ده او د قسمت برخه ده. چا له په دلو دلو او چا له يوه دانه هم نه. يعنې مطلب دا چې د چا اولاد نۀ وي نو هغه کورنۍ په غم او خفګان کښې ژوند کوي. داسې خلق په اولاد پسې افسوس او ارمان کوي. او اکثر داسې وايي چې يو وارث مو وے نو هم به ښۀ وه. بل خوا داسې خلق وي چې د هغوي ځامن وي خو لونې ورله الله پاک نۀ وي ورکړي. نو هغوي د لونې په ارمان وي او چې د چا لونې وي او څوئے يې نۀ وي نو هغوي هم په غم او خفګان کښې کېږ وي. داسې که د چا ځامن او لونې دواړه وي خو نېک پامه او نېک عمله نۀ وي نو هغوي ته هم اولاد له کبله روزانه غم جوړ وي. داسې چې څوک د اولاد د لاسه اوښرمېږي او د سترګو د لګېدو ځائے يې پاتې نۀ شي. نو دا د ټولو نه لوئے غم وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې اولاد نۀ وي. نو دا خو دے لوئے غم او خفګان. خو چې د چا اولاد وي نو هغوي هم اکثر د اولاد د لاسه په غم ، مصيبت او خفګانونو کښې راګېر وي. هم دا حالات مشرانو په دې متل کښې ستاېيلے او څرګنده کړے دے. نن سبا چې څوک داسې د اولاد نه ډېر زړۀ جاؤدي او ريچې ريچې وؤ. د هغو په خ ، لۀ اکثر دا متل وي. او داسې وايي چې! "اولاد هم غم او نۀ اولاد هم غم".

څـــــــوک پـــــــه اولاد پســـــــې ژړا کـــــــه
څـــــــوک پـــــــه لـــــــوئے غـــــــم کښـــــــې د اولاد د لاسـه شـــــــينه

اول ځان او بيا جهان

دا د مشرانو يو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې هوښيارانو د بنيادم يو فطرتي او قدرتي عمل ته اشاره ورکړې ده. يعنې په هر بنيادم کښې دا يو قدرتي او فطرتي سوچ او فکر وي چې هغه اول د ځان غم کوي. او بيا د بل چا (جهان) په حقله سوچ او فکر کوي. په دې لړ کښې د شادو هغه قيصه هم مشهوره ده. وايي چې په ځنګل کښې اور ولګېدو. نو شادو خپل بچي د پښو د لاندې کړي وو. په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے. چې مطلب يې د دې متل سره ټرون خوري. لکه وايي! "چې په علاقه دې راشي نو د کلي خبر غواړه. او چې په کلي دې راشي. نو د کور خبر غواړه. او چې په کور دې راشي نو د ځان خبر غواړه". د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې بنيادم خو فطرتي غرضي او مطلبي دے. خو څوک کم وي او څوک زيات. او څوک چې داسې ډېر زيات مطلبي او خودغرضه وي نو هغه ته اول ځان وي او بيا جهان. يعنې اول د ځان غم ، سوچ او فکر کوي او بيا وروستو د جهان. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او نن سبا يې په داسې حالاتو کښې استعمالوي ، چرته چې څوک غرضي غرے داسې څه کار يا ځۀ عمل وکړي. چې نور ملکري او دوستان په ډاګه پرېږدي. او هغه ملکري يا څوک نور خلق ورته پېغور ورکوي ، يا تر ېنه ګيله شکوه کوي. نو هغه غرضي غرے ورته په خواب کښې دا متل وراندې کوي. او داسې وايي چې پرېږده يار! "اول ځان او بيا جهان".

اول خـــــــور ځـــــــان شـــــــي بيـــــــا جهـــــــان شـــــــي
عظمـــــــت خوشـــــــحاله د مالـــــــدارو پـــــــه غـــــــم شـــــــينه

ايلو هيله کوله نو چکرې يې خوراک شوې

مرغابۍ په دوه قسمه وي. يو قسم وي چې په کورونو کښې ساتلے شي. او دوېم قسم صحرائي او يا ځنګلي مرغابۍ وي. چې ايلۍ ورته هم وئيلے شي. او په متل کښې د ايلو نه دوارې قسمه مرغابۍ مطلب دے. د هيلې کولو نه مطلب دے ، غوښتنه کول ، ارمان کول ، طمع کول ، اسره کول ، وسواس او تلوسه کول ، اندېښنې کول ، په ځۀ شي کښې زړۀ وهل او توکل نۀ کول. يعنې د هيلې کولو نه دا ټولې معنې اخستے شي. خو په متل کښې تر ېنه اندېښنه لرل ، زړۀ وهل او توکل نۀ کول مطلب دے. لکه د مثال په توګه داسې وئيلے شي چې هلکه هيله مۀ کوه ، وردانکه. د دې مطلب دا شو چې کټې زړۀ پکښې مۀ وهه. بس توکل کوه او وردانکه. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ايلو طمع لرله چې کټې د دې نه به راته ښۀ برخه مېلاؤ شي ، يا په زړۀ يې اندېښنې او وسوسې وې او توکل يې نۀ کولو. نو ځکه ورته چکرې مېلاؤ شوې. او اوس يې د عمر خوراکه شوه. او دا مطلب هوښياران بنيادم ته اشاره ورکوي. چې هيله کول نۀ دي پکار. بس په الله پاک توکل پکار دے. او چې څوک هيله کوي يعنې په څه کار کښې زړۀ وهي نو هغوي ته هم لکه د مرغابو غوندې اخره کښې چکرې پاتې شي. او هم د دې مطلب دپاره يې هوښياران عامو خلقو ته د نصيحت په توګه وراندې کوي او داسې وايي چې: "ايلو هيله کوله نو چکرې يې خوراک شوې".

"ب"

—

باران په تيراه وشو او خرۀ يې د خالصې يوړۀ
باران په قلاش وشو او خرۀ يې د راموړے يوړۀ

قيصه:

تيراه د پښتونخوا د سيمې يوه ډېره ښکلې غرئيزه علاقه ده. دا علاقه په انتظامي نېز په خېبر اېجنسۍ کښې شامله ده. د دې نمر ختيز اړخ ته د پېښور علاقه دقبلې اړخ ته د کـ ـ رمې اېجنسي ده. سوېل طرف ته کوهاټ او قطب ته يې د افغانستان سره پوله لګېدلې ده. په دې علاقه کښې وايي چې اتلس قبيلې اورکزئي او اتۀ قبيلې د افريدو مېشتۀ دي. ـ رمې غاړې ته پاس په غرونو کښې اورکزئي او لاندې کوهاټ او پېښور اړخ ته افريدي قامونه اباد دي. په کومه علاقه چې افريدي اباد دي. دغه علاقه د مېدان په نامه مشهوره ده. هسې خو ټوله علاقه غرئيزه ده خو د افغانستان سره په پوله يې د دنګو او لوړو غرونو سلسلې دي. دا غرونه د سپين غر په نامه مشهور دي. په دې غرونو باندې د ژمي په موسم کښې واورې وريږي او د کال دولس مياشتې دا غرونه په واورو کښې پټ وي. کله چې دا واورې ويلې کيږي نو په کوځه د مېدان علاقې ته اوبۀ رابهيږي. د دې سره سره د باران او د چينو اوبۀ هم د مېدان علاقې ته رابهيږي. دا خورې ورې اوبۀ د وړو وړو نالو نه يو غټ خوړ يا درياب جوړ شي. او په باړه راتېرېږي. او بيا د باړې نه د پېښور په لور رابهيږي. ځکه دا خوړ د باړې په نوم مشهور دے. يعنې يو خو د باړې په نوم مشهور کلے دے او بل د دې خوړ يا درياب نوم هم باړه دے. هم د دې خوړ په نامه يوه اولسي سندره مشهوره ده. وايي چې: "په دې باړه کښې اوبۀ ګډې وډې ځينه. شنوارې لونګينه". دا خوړ د تيراه د غرونو نه راوتلے دے او د مېدان نه باړې ته ، بيا د باړې نه د پېښور علاقې ته رارسېدلے دے. د پېښور ښار نه سوېل طرف ته مخ په نمر خاتۀ تېر شوے دے. بيا د لوئے سړک (جي تي روډ) د لاندې قطب اړخ ته اوړېدلے دے. دا علاقه د خالصې په نامه مشهوره ده. نن سبا دلته د څاروو لويه او غټه مېله (منډۍ) لګي. بيا دا خوړ د ارباب باندې په څنګ کښې دريائے کابل ته ورپرېوتے يا يو ځائے شوے دے. د متل نه مطلب دا دے چې ګڼې چرته تيراه او چرته خالصه ، ډېره لويه فاصله ده خو قيصه داسې بيانيږي. وايي چې پخوا په زمانه کښې په تيراه بارانونه وشول او په باړه خوړ کښې سېلاب راغلے وؤ. د خالصې په علاقه کښې د خوړ په غاړه چرته يو څو خرۀ څرېدل. د باړې سېلاب چې کله خالصې ته راورسېدو نو دا خرۀ يې هم د ځانه سره په مخه کړل. په هغه وخت خلقو ته دا څۀ عجيبه خبره ښکاره شوه. چې ګوره باران په تيراه وشو او خرۀ يې د خالصې يوړلو.د هغه وخت د چا د خـ ـ لې دا خبره نن په متل مشهوره ده. او مطلب يې دا دے چې ګڼې کار يو وشو او انجام يې بل وختو ، يا د يو کار يا خبرې اثر په بل کار يا بلې خبرې داسې پرېوځي چې زيان او تاوان ترېنه ورسي. نو په داسې وخت خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "باران په تيراه وشو او خرۀ يې د خالصې يوړۀ" او د دير ، سوات او ملاکنډ په علاقه دا متل داسې مشهور دے ، چې: "باران په قلاش وشو او خرۀ يې د راموړې يوړۀ".

باران پسې پټے ګرځوي

باران پسې پټے ګرځول د پښتو ژبې محاوره ده. چې کله کله د متل په توګه هم استعماليږي. او مطلب يې دا دے چې د هر ځائے نه خپل غرض پوره کول يا خپل غرض ، سود او ګټې پسې تلل او ګر ځېدل. يعنې مطلب دا چې داسې خود غرضه خلق چې چرته خپله ګټه او فائده ويني نو هلته ځان رسوي او خپل مطلب او غرض تر لاسه کوي. دا محاوره يا متل مشرانو هم د دې مطلب دپاره جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې يې استعمالوي چرته چې څوک غرضي غړے خپل مطلب او غرض په مخه کړے وي. د سود او ګټې دپاره خپل کار روزګا راو خپل سامان هر هغه ځائے ته وړي يا رسوي کوم ځائې چې خپله ګټه ويني ، يا څوک د بودې کولو په تکل کښې ځان هر ځائے ته رسوي. نو په داسې وخت او موقعه د هغه غړي په حقله دا متل وړاندې کولے شي او داسې وايي چې دے خو خپل غرض لېونے کړے دے! "باران پسې پټے ګرځوي"

بټ په پوسکو نۀ تودېږي

چې په کوم ځائے يا شي کښې د جوارو يا د چنو دانې وريتيږي يا وريتولے شي نو هغه ځائے يا هغه کارخانې ته بټ وئېلے شي. بټ که چرې ښۀ تود يا گرم نۀ وي نو دانې خرابې ، متکورې او بې کاره شي. يعنې بيا د خوراک او د چيچلو جوگه نۀ وي. د بټ تودولو دپاره د ښۀ ډېر او تېز اور ضرورت وي. او د اور دپاره د خشاک ، که خشاک نۀ وي نو تش په پوکو وهلو او بادو ورکولو بټونه نۀ تودېږي.

لکه چې څنگه د بټ دپاره د اور ضرورت وي ، او د اور دپاره د سامان (خشاک) ضرورت وي. داسې د هر کار کولو دپاره د خپل سامان او اوزار ضرورت وي. که چرې يو سړے په څۀ کار کولو کښې د هغه کار برابر سامان يا اوزار نۀ لري او نۀ ورله برابرول غواړي بلکې شومتيا کوي يا په دې طمع وي چې په دې لږ سامان يا په مات گ . ډ اوزار به هغه کار پوره کړي نو په داسې حالاتو کښې او د داسې غړي دپاره مشران دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې خانه! "بټ په پوسکو نۀ تودېږي".

دا د هوښـــــــــــــــــيار ســــــــــــــــــړي وېنـــــــــــــــــا ده
پـــــــه بـــــــادو نـــــــۀ شـــــــي گرمېـــــــدے د بـــــــټ چاڼونـــــــه

بخت چې بېدار شي ، سړے هوښيار شي

دا يو عام متل دے. مطلب يې دا دے چې کله د بنيادم بخت يعنې نصيب او قسمت راويښ شي نو هغۀ له الله پاک عقل فکر او شعور ورکړي. او د کم عقله نه هوښيار شي. يعنې د بې وقوفتيا او کم عقلتيا کارونه پرېږدي. او چې د چا بخت کوټه شي نو که هغه ډېر هم هوښياره غړے وي. هر کار له ترتيب او ترکيب جوړوي. خو هر ترکيب او چال ورته اپوټه کيږي. او هم هغه خپل چالونه او ترکيبونه ورته د زيان او تاوان سبب جوړيږي. د داسې حالاتو د څرکندونې دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې گټې بخت او يا نصيب يو کوټے حقيقت دے. او چې بخت بېدار شي نو بنيادم له پوهه او عقل هم راشي. نن سبا يې خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې څوک داسې کم عقله وکړے وي چې په څۀ کار روزگار نۀ پوهيږي ، يا يې علم او هنر هم زده نۀ وي. خو بيا هم ورله الله پاک په رزق کښې برکت واچوي. کار روزگار يې ښۀ روان وي يا داسې د عقل فکر او هنر په څۀ امتحان او ازمېښت کښې کامياب و کامران شي. نو د داسې غړي په حقله اکثر خلق داسې وايي چې ډېر بختي يا ډېر خوشبخته بنيادم دے ، يا دومره بختور دے چې اوبۀ يې بليږي ، يا دومره بختور دے چې اپوټه يې غورځوي ، نو هم سم پرېوځي. نو دا خبرې يا دا مطلب ورته په دې متل کښې هم وړاندې کوي. څکه خو لېونے وايي چې بابو! دا ټولې د بخت خبرې دي. "بخت چې بېدار شي نو سړے هوښيار شي".

بخـــــــت چـــــــې بېـــــــدار ســـــــړے هوښـــــــيار شـــــــي
پـــــــه روغـــــــه لار يـــــــې شـــــــي د ژونـــــــد واړه چالونـــــــه

بد مۀ وايه په بد پلار ، گنې بد به شي ستا ښۀ پلار

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي يعنې ، ی او مطلب ترېنه دا دے چې گنې د چا بد پلار په بدو مۀ يادوه. نو ستا ښۀ پلار به هم څوک په بدو نۀ يادوي. يعنې که يو سړے هر څومره بدمعاش ، بداخلاقه ، بدتميزه ، بې شرمه ، بې غېرته ، ډاکو ، غلاگر او يا جوارگر وي. خو تۀ هغه په دغه بدو مۀ يادوه ، يا ورپسې بد رد مۀ وايه ، يا ورته کنځل وېنا مۀ کوه. گنې نو هغه غړے يا د هغۀ وارثان او خپل خپلوان به ستا نېک نامه ، ايماندار او پرهېز گاره (ښۀ) پلار هم په هغه بدو سره يادوي. يعنې که تۀ چا ته کنځل وېنا کوې نو لازمي ده چې هغه به هم ستا مور پلار په هغه کنځلو او بدو ردو ستايي. که د خپل مور پلار حيا عزت غواړې نو د بل چا د بې حيا او بې عزته مور پلار بې عزتي هم مۀ کوه. گنې نو ستا هغه عزت داره ، ديندار او خواږۀ درانۀ مور پلار به ورسره هم بې عزته شي. د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او هم د دې مطلب دپاره يې اکثر کشرانو ته د نصيحت په توگه وړاندې کوي. او داسې وايي چې خانه! "بد مۀ وايه په بد پلار گنې بد به شي ستا ښۀ پلار".

بدې ورځې له بد تربور پکار راځي

الله پاک دې هر بنيادم د بدو او بدې ورځې نه وساتي. نۀ بد وکړے ښۀ وې او نۀ بده ورځ. خو مشرانو په متل کښې ځکه ستايلي دي چې که چرته د چا بد غړي سره ځۀ بدي راشي. يعنې داسې ځوک شريف غړے که د چا بدمعاش د لاسه تنګ راشي. نو په داسې حالاتو او موقع کښې بد تربور پکار راځي. يعنې که د هغه شريف غړي په ټبر او خاندان کښې هم ځوک بدمعاش غړے وي نو بيا هغه د هغه بل بدمعاش مخ نيوے کولے شي ، يا ورته لاړه نيولے شي او د هغه د بدمعاشۍ ځواب په بدو ورکولے شي. يعنې د بدو او بدمعاش لاړه چې په بدو او بدمعاشۍ سره بنده کړے شي. نو دا داسې شوه چې بد تربور په بده ورځ پکار راغے ، يا چې کوم ټبر او خاندان کښې داسې ځوک بد يعنې زورور او تريخ غړے وي نو په هغه ټبر يا کور باندې نور بد او بدمعاشان خلق هم نۀ بلوسه کوي او نۀ کولے شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک داسې د چا د بدو نه د بل بد او بدمعاش غړي له کبله په امان شي ، يا په دښمنۍ کښې ورسره بد تربور مرسته او ملګرتيا وکړي نو په داسې وخت او موقع کښې لېونے دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "بدې ورځې له بد تربور پکار راځي".

بربنډ د لارې جار ووځي خو وړے نۀ جار ووځي

خپله د بنيادم يوه لويه کمزورۍ ده. هوښياران وايي چې دا به په خاورو مړيږي يا ډکيږي په بل ځۀ نه. مطلب يې دا دے چې بنيادم مړ شي نو هيله به د خپلې (ډکښو) د غم نه اوزګار شي. خپله چې تشه وي يعنې چې انسان اوړے وي نو دېر په بد حال وي. د وړې يا د لوړې نه دلته دوه معنې او مطلب اخستے شي. يو دا چې هسې خپله تشه وي. يعنې خپله خوراک غواړي. دوهم مطلب دا چې ځوک د مال دولت په نېز خوار او غريب وي. لوړه دېر خراب او سپېرۀ شے دے. لوړه انسان د انسانيت نه هم لاندې کودار کړي. ځکه خو الله پاک په لوړه کښې حرام حلال کړي دي. د لوړې د لاسه انسان خپل ، پردے ، ښۀ او بد ، جائز ، ناجائز ، حلال/حرام او شرم حيا هر ځۀ هېر کړي. بلکې د دې خبرو تميز د سره ختم شي. چرته بنيادم په خپر غوښتلو مجبوره شي. چرته غلا غولطي او ډاکې شروع کړي او چرته په نورو ګناهونو کښې راکېر شي. د لوړې له کبله په بنيادم يو وخت داسې هم راشي چې د هغۀ د سترګو او د زړۀ نه هغه شے بالکل ختم شي چې کوم ته حيا او شرم وئيلے شي. د يو حديث شريف مفهوم دے چې حيا نيم ايمان دے. او چې په چا کښې شرم حيا نۀ وي نو د هغۀ بيا نۀ په ايمان او نۀ په ځان ځۀ کار وي. نۀ ورته خپل عزت خوږ وي او نۀ بې د بل په عزت او حيا ځۀ کار وي. د داسې موقعو لپاره هوښيارانو وئيلي دي چې که چرې يو بنيادم بربنډ وي خو د هغۀ په سترګو کښې دومره شرم او حيا وي چې هغه د بې حيايۍ او د ګناه د کارونو نه ډډه کوي يعنې جار ووځي. خو که چرې وړے وي يا وړے سترګې وي. نو د هغۀ د لوړې نه نظر نۀ لګي. او هغۀ ته شرم حيا ، ښۀ ، بد ، جائز ، ناجائز او حلال حرام هېڅ نۀ ښکاري. نو ځکه هغه د بې حيايۍ نه نۀ جار ووځي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. او داسې وايي چې! "بربنډ د لارې جار ووځي خو وړے نۀ جار ووځي".

دا اوړې خپله ـــ

دا اوړې خپله ـــ

بلا وه برکت يې نۀ وو

د بلا يوه معنه ، ی خو دا ده چې کښې داسې يو ناليدلے بد شکله او قهرژنه شے. چې په ليدو يې بنيادم وېريږي. اکثر په دې بلا باندې مېندې ماشومان وېروي او ګلاروي. کله ورته وايي چې بلا راغله او کله وايي چې هغه دے باؤ راغې‌وپمه معنه ، ی يې ځۀ مصيبت ، تکليف ، کړاؤ ، افت ، حادثه او غم خفګان دے. يعنې داسې چې ځوک په ځۀ غم او خفګان واوړي يا ورته ځۀ مصيبت او افت ورمخ شي.

نو داسې هم وايي چې په بلا واوړېدو. يعني مصيبتونه ، غمونه او افتونه هم د بلا په نامه يادېږي. او د متل نه مطلب هم دا غمونه او مصيبتونه دي. او مطلب ترېنه دا دے چې کټې داسې په جا څه حادثه راشي يا ورته څۀ مصيبت شخړه او کړمه ورمخ شي او په خبر تېره شي. يعني څۀ زيان او تاوان ورته ونۀ رسي ، يا د ډېر تاوان او مرګ ژوبلې نه بچ شي.نو په داسې وخت هغه غم زېلے خپل حالت او کېفيت په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي چې خبر شوا "بلاوه برکت بې نۀ وو".

بنګ به لرګے نۀ شي او ختک به سړے نۀ شي

د ختکو د قبيلې د قدرمنو نه ډېر په معذرت او بخښنې سره. خو دا هم د هوښيارانو قول دے او د هوښيارانو قولونه د هغوي د زمانو او عمرونو د تجربو نچوړ او نتيجه وي. نو ځکه د کانې کرښې کښلے او منلے شي. داسې ښکاري چې دا د ختکو د خپل نېکۀ يعني د خوشحال خان بابا قول وي. ځکه چې هغه هم د خپلې قبيلې نه ډېر زړۀ جاؤدے او زړۀ سترے وؤ. د بابا په خپل ليک کښې هم په دې لړ کښې څۀ نه څۀ ګيلې مانې يا شکوې ليدے او کټ شي. لکه څنګه چې دا خبره معلومه ده چې د بنګو يو وړوکے شان بوټے وي. يعني په قد يو ګز دوه لوئيږي او که ډېر هم غټ شي نو د لاس د غټې کوټې هومره ډکے او ټنډر وي. يعني د بنګو بوټے دومره نۀ غټيږي چې لرګے ترېنه جوړ شي. او د سړي جوړېدو نه مطلب دا دے چې کټې شوک د اولسي ژوند ژواک په لاره پوهيږي. يعني په ادابو ، اخلاقو ، اصولو ، قانون ، عزيزولي ، خپلولي ، وروروالي او په غم ښادي (پښتو) پوهيږي. نو داسې وکړي ته سړے ، يا ښۀ سړے وئيلے شي. او چې شوک د پښتو په لاره نۀ پوهيږي نو هغه په "نۀ سړي" ياد وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې نۀ د بنګو بوټے لرګے جوړېدے شي او نۀ به د ختکو قبيلې والا وکړے سړے جوړ شي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې شوک داسې د نامردۍ څۀ کارونه وکړي. د ننګ غيرت ، وفا ، وعدې او د نېټې په وخت وروستو شي يا اوتښتي ، يا په عزيزولي ، وروروالي او غم ښادي کښې د پښتو لاره پرېږدي. نو د داسې وکړي په حقله خلق داسې وايي چې دا خو هډو سړے نۀ دے ، يا د دۀ نه به سړے جوړ نۀ شي. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي چې! "بنګ به لرګے نۀ شي او ختک به سړے نۀ شي".

کله چې بنګ د کار لرګے شي
جوړ به سړے شي که ختک په نسل وينه

بنيادم بې وزرو مارغۀ دے

دا يو عام او ساده متل دے. نن سبا په خبرو اترو کښې زيات استعماليږي. د متل په حقله يوه قيصه هم مشهوره ده. خو د قيصې نه بغېر يې هم مطلب ښۀ معلوم او څرګند دے. نن سبا چې څنګه ژوند اسان شوے دے. يعني د بنيادم د ارام او اسائښيا دپاره په قسم قسم څېزونه جوړ شوي دي. او په دې کښې په خصوصي توګه لرۍ موټرې او هوايي جهازونه چې بنيادم وربانديې د وړځو مزلې په کښتو کښې کوي. يعني د دنيا د يو سر نه بل سره پورې تلل يا رسېدل نن ځۀ ګران کار يا ګرانه خبره نۀ ده. دا دنيا (زمکه) خو لا څۀ چې اوس خلاګاني او سپوږمۍ هم د بنيادم د قدم لاندې دي. يعني نن بنيادم بې وزرو الوځي او چې چرته يې زړۀ غواړي نو هلته رسېدے او تلے شي. د پخوانۍ زمانې هغه وړدې د زمانو سفرې نن سبا بنيادم ته داسې رالنډې شوې دي. لکه چې په هوا والوځي. او خپل منزل ته ورسي. ځکه نن سبا خلق د دې متل په مطلب ډېر ښۀ او په اسانه پوهيږي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او په داسې موقع کښې استعماليږي. چرته چې شوک داسې په وړځ کښې د ملکونو نه کېرچاپېره وکړځي او راشي. نو داسې وايي چې! "بنيادم بې وزرو مارغۀ دے".

د زمانې رفتار ته کوره بغېر وزرو انسانان کړي مزلونه

بيا يې ډاموته لاسکي واچول

پخوا په زمانه کښې چې د اواز کولو او رسولو مشينونه (لاؤډسپيکرې) نۀ وې جوړې شوې نو په کلي کښې به د خبرې خورولو (څۀ اعلان کولو) دپاره ډمامه وهلے يا غږولے شوه.کلي ډم به ډمامه د کوټې سر ته اوخېژوله او د لرګي په جغ ، ندو (لاسکو) به يې ډمامه ښۀ اوغږوله يا ووهله. چې ډمامه به خلقو واورېده نو پوهه به شول چې څۀ اعلان کېدو والا دے. او د ډم اواز ته به يې غوږونه تکۍ کړل. داسې به ډم هغه خبره يا اعلان وکړو او خلق به ترېنه خبر شول. دې عمل ته به يې نغاره وئېله. او د دې نغارې نه د پښتو څۀ محاورې هم جوړې او مشهورې شوې دي. لکه وايي چې! خبره نغاره کول. خبره کوټې ته خېژول او خبره خورول. ډمامه غږول. او هغه هم په لرګو يا د چخچو نه جوړ شوي (لاسکو) باندې په زوره زوره وهل او غږول. چې اواز يې تر لرې لرې پورې خور شي. او زيات خلق ترېنه خبر شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې خبره کوټې ته خېژول شو. او د ډمامې سره نغاره کول شو. چې تر لرې لرې خوره شي او خلق ترېنه ښۀ زيات خبر شي. يعنې په څۀ کا ريا خبره باندې دنيا خبرول.. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګند کړے دے. او په داسې حالانو کښې يې استعمالوي چرته چې څوک داسې د چا څۀ خبره خوروي ، يا د څۀ کار چرچه کوي. يعنې په حجره جومات کښې د خلقو خبره ښکاره کوي نو دا داسې شوه لکه چې خبره يې نغاره کړه يا خبره يې کوټې ته اوخېژوله. په داسې او د داسې غړي په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې! "بيا يې ډمامو ته لاسکي واچول".

بې زما نه به يې شل نۀ کړې
يا
بې زما نه دې شل نۀ کړه

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې يو غريب سړے د مزدورۍ دپاره بل وطن ته لاړو. هلته يې څۀ کال دوه خواري مزدوري وکړه او څۀ پېسې ټکې يې جمع کړې نو بيا خپل وطن ته راستون شو. په راتلو يې د کور خلق ډېر خوشحاله شول. ښځې او بچو يې ډېرې خوشحالۍ کولې چې ګنې سړي به ډېر مال دولت جمع کړے او راوړے وي. کله چې هغه سړے ښۀ په ساه صورت شو نو ټولې جمع شوې پېسې ټکې يې د ښځې په وړاندې راوسپړدلې. دواړو چې پېسې شمېر کړې نو دا ټولې نولس نيمې روپۍ جوړې شوې. دغه وخت دا سړے ډېر زيات خفه او زهيره شو. د خفګان او افسوس سره يې وئېل چې ګوره! که دا مې شل کړے وے نو څنګه به ښۀ وه. ښځې په هغه وخت د لوپټې د پلو نه اتانيځ راپرانستۀ او خاوند له يې ورکړو چې دا واخله چې شل شي. او په خندا يې ورته وئېل چې بې زما نه دې شل نۀ کړه. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. مطلب ترېنه دا دے چې ګنې بغېر زما د مدد يا زما د مرستې نه دې پوره نۀ کړه ، يا بې زما نه به يې پوره نۀ کړې.

نن سبا هم دا متل په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې يو غړے څۀ کار کوي. او هغه کار بغېر د بل ملګري د مدد يا مرستې نۀ شي پوره کولے يا نۀ پوره کېږي. او دا کار کولو والا غړے د بل چا د مدد اخستو نه انکاري وي نو هغه يار دوست يا ملګرے ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې! "بې زما نه به يې شل نۀ کړې" يا "بې زما نه دې شل نۀ کړه". او که چرې هغه کا روالا غړے د خپل يار دوست او ورور بهائي نه د مدد خواست کوي نوهغه ورته هم د متل په توګه داسې وايي چې: "راواچوه چې شل شي".

نـــــۀ ده شـــــل شـــــوې نـــــۀ بـــــه شـــــل شـــــي
د دنيـــــاګۍ فـــــاني بـــــازار پـــــاتې بـــــه شـــــينه

بيزه د مرګه پټېده د قصاب کره يې شپه شوه

بيزه مرګ او قصاب درې واړه د يو بل سره لازم او ملزوم يعنې تړلي دي. مرګ حق دے او هر ساه والا شے د مرګ نه وېره کوي. خو داسې مرګ چې چا ته معلوم او بالکل مخامخ وي يعنې که هغه بنيادم دے او که بل څۀ شے خو چې د مرګ پته ورته ولګي نو هغه وېره

بيا نوره هم سپوا شي. او هوښيارانو د مرګ دا وېره او شخړه په دې متل کښې خرګنده کړې ده. يعنې يو خوا د مرګ وېره ده او بل خوا د قصاب په شکل کښې شخړه مخامخ ولاړه ده. حلاله يا زبح کول د قصاب د امروزه ژوند کار او روزګار دے. ځکه د قصاب زړۀ ډېر سخت وي. يعنې د حلالي په وخت د قصاب په زړۀ کښې رحم نۀ وي. او د خپل روزګار له کبله قصاب يو سخت زړۀ والا يا ظالم او بې رحمه بنيادم ګڼلے او منلے شوے دے. ځکه خو جا ظالم ته داسې وئيلے شي چې هلکه هسې قصاب بې. يعنې ډېر ظالم بې. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې ېيزه د مرګ نه وېرېږي او چې کله قصاب ته ورمخامخ شي نو بيا به په هغې څۀ تېرېږي ، يا به يې څۀ حال وي. يعنې چې د څۀ شي نه وېرېده نو هم هغه بې په قسمت شو ، يا هم هغه حادثه ، کرامه او شخړه ورته پېښه شوه. يعنې چې د څۀ وېرې نه بې تېښته کوله. نو هم هغه ورته پېښه شوه. په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. او هغه داسې وئيلے چې "د بارانه پتېدو د پرنالې لاندې مو شپه شوه". دا متل نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک غړے د څۀ کار ، څۀ خبرې او يا د څۀ مصيبته تېښته کوي ، يا د څۀ کشالې او شخړې نه ډډه کوي. خو بيا هم په هغه غم او مصيبت واوړي. نو په داسې وخت د هغه غړي په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ېيزه د مرګه پتېده د قصاب کره بې شپه شوه".

څـــــــوک چـــــــې د مرګـــــــه تېښـــــــته کانـــــــدي
قســـــــمت يـــــــې نـــــــغ د قصـــــــابانو کـــــــره وړينـــــــه

بې ګودره مۀ ورګډېږه

دا يو عامه محاوره ده چې مشران يې کله کله د متل په توګه هم استعمالوي. په پښتو ژبه کښې د ګودر دوه معنې اخذ شوي دي. يو هغه ګودر دے چې شاعرانو په خپله شاعرۍ کښې ډېر زيات ستايلے دے. پخوا په زمانه کښې به ګودر د کلي په خوا کښې د خور هغه ځائے ته وئيلے شو د کوم ځائے نه چې به جينګو په منګو کښې د کور د استعمال دپاره اوبۀ راډکولې يا راوړلې. دغه ګودر کښې به د کلي جينګو او مېرمنو د کور جامې جوړې هم وينځلې او اوچولې. دا ګودر هر شاعر په خپل خپل طرز او انداز کښې ستايلے دے.

دوېمه معنه ، ې يې دا ده چې جرته په اراب (غراب) ، نهر ، خور او درياب باندې د پورې وتلو لاره جوړه وي. نو هغه ځائے ته هم ګودر وئيلے شي. په خصوصي توګه داسې ځائے چې هلته د اوبو پائيو او چر معلوم وي. او خلق پرې په ارام او اسانتيا سره تک راتک کوي. نو هغه ځائے په ګودر مشهور وي. يعنې مطلب دا چې کوم ځائے لاره ښۀ معلومه او پېژندلے شوې وي. نو په هغه ځائے (ګودر) خلق ښۀ په ډاډه زړۀ ورګډېږي يا تک راتک کوي. او چې د څۀ ځائے معلومات نۀ وي. يعنې د اوبو پائيو او چر معلوم نۀ وي نو که هلته څوک ورګډ شي نو زيان به مومي. هم دا مطلب په دې متل کښې مشرانو ستايلے او مشهور کړے دے. او د ژوند ژواک سره يې تړلے دے. يعنې د ژوند په هر ه لاره اول ښۀ سوچ فکر او معلومات پکار وي نو بيا هله په څۀ کار روزګار يا په څۀ خبره کښې ورګډېدل پکار دي. يعنې اول د هغه کار يا د هغې خبرې د لاړې ګودر نه ځان ښۀ خبر کړه. نو بيا هله يې شروع کړه او چې څوک بې معلوماتو او ناخبره څۀ کار ته لاس اچوي نو هوښياران وايي چې لکه بې ګودره اوبو ته وردانګي. او څوک چې بې ګودره ورګډېږي. نو زيان به مومي. هم دا مطلب هوښياران په دې متل کښې د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه پام کوه! "بې ګودره مۀ ورګډېږه".

چـــــــې بـــــــې ګـــــــودره ورګـــــــډ نـــــــۀ شـــــــي
د ژونـــــــد دريـــــــاب کښـــــــې يـــــــاره ډېـــــــر دي ســـــــبلابونه

"پ"

—

پاؤ کښې مې ووهلو

پاؤ کښې وهل ، يوه عامه محاوره ده ، چې د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې ، ی او مطلب يې دا دي. چې ګڼې څوک په ډېر لږ څۀ غولول او دهوکه کول. يعنې چرته چې څوک بل بنيادم په لږ شي وغولوي ، يا يې دهوکه کړي. او په ټکۍ ټورۍ ترېنه څۀ شے تر لاسو کړي. نو مشران د داسې حالانو څرګندونه په دې محاوره يا متل کښې کوي. نن سبا هم په داسې حالانو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک چا له دهوکه ورکړي او په ټکۍ ټورۍ ترېنه څۀ شے په کم قيمت يا وېريا تر لاسو کړي. نو په دغه وخت داسې وئېلے شي چې هسې! "پاؤ کښې مې ووهلو".

کـــــه څـــــوک پـــــه پـــــاؤ کښـــــې وهـــــل غـــــواړې
د چـــــا ښـــــاري نـــــه لاس نيـــــوۀ وکـــــړه مئينـــــه

پټ غل باچا وي

غل او باچا خپل جدا جدا مقام لري. يعنې په معاشره کښې د غل ډېر پرېوتے ، لاندې او سپک مقام دے. خلق ورته په سپک نظر ګوري. او چرته چې په غلا کښې ګېر شي نو بيا يې خپله د وهلو غل نۀ معلومېږي. خلق پرې ښې خپلې وسې وکړي او لکه د بوسو د سخي يې ښۀ ګوشمال کړي. او بل خوا باچا دے چې د قدر او عزت وړ مقام لري. هر څوک د هغۀ د حکم تابع وي خو د هغۀ نه د تپوس کولو والا څوک نۀ وي. که تور کوي او که سپين. هر څۀ د هغۀ په واک اختيار کښې وي او د هغۀ په مرضۍ او حکم چلېږي. هېڅ څۀ وېره او غم ورسره نۀ وي. يعنې بې غمه او بې پرواه وي. بل خوا غل چې کله غلا کوي. نو ډېره په وېره وېره يې کوي. ځکه وئېلے شي چې د غل په کونه کښې هر وخت ګيدړ ناست وي. يعنې دا وېره ورسره وي چې هسې نه چرته ګېر شم او غلا مې پيازه شي. او چې کله د غلا د ځائے (موقعې) نه ووځي او ګېر نۀ شي. يعنې چې د غلا پته اونۀ لګي او غل معلوم نۀ شي نو بيا هغه غل هم لکه باچا بې فکره او بې پرواه شي. يعنې په زړۀ کښې يې بيا څۀ وېره او خوف نۀ وي. چې غل معلوم شي خو هغۀ ته به سزا ورکړے شي. خو چې معلوم نۀ وي نو چا له به سزا ورکوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې پټ غل د سزا نه بچ دے. بې فکره او بې پرواه دے او هېڅ خوف او وېره ورسره نشته. يعنې چې څوک د هر تور (الزام) نه صفا ، بې پرواه او بې غمه شي نو هغه لکه باچا وي او داسې پټ غل هم د هر څۀ نه بې غمه لکه باچا دے. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے. نن سبا په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څۀ غلا وشي او غل معلوم نۀ وي. نو هغه غم زپلي يعنې د کور غړي داسې وايي چې يار په چا دعوه وکړم ، يا په چا ګوته کېږدم. الله زده چې چا به کړې وي. "پټ غل باچا وي".

پخپله مې م ٭لا کړې ځان ته مې بلا کړې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو زميدار غړي ډېر ځامن وو او واړۀ ماشومان وو. دوي به په کور کښې هر وخت شور او غل غوبل جوړ کړے وؤ. خپلو کښې به کله ګرېوان شلېدلے او کله د يو بل سر مات کړې. زميدار چې به کله د پټي نه راتلو. نو اکثر به د دوي په شر او غوېمنډ واوړېدو. هغه غريب د دوي د شرارت او شېطانت نه ډېر زيات تنګ راغلے وو. وه ورځ دې کلي ته د بل کلي مدرسې نه د چندې غونډولو لپاره څو کسه م ٭ ليان راغلي وو. م ٭ لا صېب په جومات کښې د خېر زکواة د مسئلو او ترغيب سره دوي ته د بچو د سبق ، لمسه او ترغيب هم ورکولو. دې زميدار غړي هم کور کښې صلاح وکړه چې د سبق دپاره بچي مولوي صېب ته په حواله کړي. په سبا دې زميدار غړي خپله مدعا م ٭ لا صېب ته بيان کړه. مولوي صېب چې ماشومان وليدل نو زميدار ته يې وئېل چې دوي خو ډېر واړۀ دي. خو دا يو د سبق وئېلو جوګه دے. دے به مدرسې کښې داخل کړم. کارونه د قدرت دي.

چې کوم ماشوم زيات ورانکارے وؤ هم هغه م ، لا صېب د ځان سره بوتلو. هغه ماشوم خو ځۀ ورځې د کور پسې خفه وو. خو بيا يې د خپل طبيعت د طالبانو سره ډله جوړه شوه. هغه زمانه کښې به دا طالبان (جنې) هم ډېر مست وو. ځکه د جنو انډوخر به هم ډېر ياد وؤ. خبر دا ماشوم هم د هغه جنو سره جنې شو. او څه لږه موده پس ښۀ په مست جنې مشهور شو. ځۀ ميا شت نيمه پس به کور ته راتلو. او چې کله به کور ته راغے نو د مخکښې نه به يې زيات غوبل او انډوخر جور کړے وؤ. داسې يوه ورځ دے کور ته راغلے وؤ او د جم کاونډ ماشومان يې هم ټول راغونډ کړي او لوئے انډوخر يې جور کړے وؤ. پلار چې ورباندې دپاسه راغے نو دېر په افسوس سره يې ورته وئېل چې هلکه! ما خو کنډه چې تۀ به م ، لا شې. او سم سړے به در نه جور شي خو زۀ ځۀ خبر ووم چې تۀ به د هغې نه هم زيات شېطان جور شې. که زۀ خبر وے نو مدرسې ته به مې نۀ لېږلې. دا خو ما ځان سره په خپله وکړه خپله مې م ، لا کړې او ځان ته مې بلا کړې. او وايي چې د هغه وخت د زمېدار د خ ، لې ختلې دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب يې دا دے چې کنې دا هر ځۀ ما د ځان سره د خپله لاسه وکړل.

نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي. جرته چې ځوک داسې جا ته د ځۀ کا رروزګار چل هنر وښايي ، يا ورته د فرېب او دهوکې داوونه او چالونه وښايي ، يا د خپله لاسه جا له واک اختيار ورکړي. او بيا هغه وکړے په هغه خپله ښودنه کړېږي ، يا ورته ځۀ زيان ، تاوان او تکليف ورسي او بيا په هغه خپل کار يا په هغه خپلو کړو ستومانه شي. نو هغه بنده بيا خپل قسمت داسې ژاړي. او وايي چې زۀ ځۀ خبر ووم چې خپله مې م ، لا کړې خان ته مې بلا کړې".

پردي راوړي نۀ خپليږي

قيصه:

داسې وايي! چې پخوا په زمانه کښې د يو سړي اولاد نۀ وؤ. د ډېرو دارو دورملو او علاجونو نه پس ښځې او خاوند صلاح وکړه چې د جا ماشوم راولي او وساتي. نو د دوي مينه به وربانډې ماتيږي. دوي د يو خپلوان نه ماشوم راوستو او هغه يې لکه د خپل زوي ډېر په مينه محبت او په نازونو ساتلو. د هغه ماشوم هره خبره او هر خواهش به دوي پوره کولو. داسې وخت تېرېدو تر دې چې هغه ماشوم زلمے شو او دوي دواړه بوډاکان. د سړي مال دولت ټول د زلمي په لاس ووَ. ځنکه چې هغه په ناز لوئے شوے وؤ هم هغسې يې ټول مال دولت په عېش ماش او مزو چرچو ختم کړو. کله چې د سړي ټول مال حال ختم شو نو هغه زلمے هم د کوره لاړو او دوي دواړه يې په تېر عمر بواځي خبر ته کښېنول. يوه ورځ جا د هغه سړي نه پوښتنه وکړه چې هغه زوئے دې نۀ ښکاري. هغه سړي ورته ډېر په افسوس سره ټوله قيصه تېره کړه او په اخر کښې يې داسې وئېل چې هائے افسوس! پردي راوړي نۀ خپليږي. او داسې د هغه وخت نه د بودا د افسوس دا خبره په متل مشهوره شوه.

نن سبا هم چې جرته داسې حالات جور شي يا ځوک په مينه محبت کښې يا په ياري دوستي کښې په جا ډېر مال دولت خرچه کړي او اخره کښې هغه مينه محبت يا ياري دوستي ختمه شي. نو هغه غړے بيا نورو خلقو ته دا متل وراندې کوي او وايي چې يار ربښتيا ده چې! "پردي راوړي نۀ خپليږي". او دا متل جا شاعر ځنکه ښۀ په ټپه کښې ستايېلے دے. وايي چې:

پـــــــ

خفګان کوي يا فکر او انديښنې څرګندوي ، يا د بل چا دپاره خپل ځان په محنت ، مصيبت او تکليف کښې اچوي ، يا د بل دپاره خپل ځان کروي. نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې! "پردے غم په سر مۀ اخله" ، يا "پردې غمونه پريږده کور ته راشه".

تـــــۀ خـــــو پـــــردو غمونـــــو خـــــلاص کـــــړې
زۀ دې پـــــه طمـــــع طمـــــع شـــــې ســـــبا کوومـــــه

پردے کټ د نيمې شپې وي

د دې متل نه دوه مطلبه اخذ شوي دي. يو مطلب يې لغر او فحش دے. خو سم او روغ مطلب يې دا دے چې پردے شے اخر د واپس کولو وي. يعنې که چرې څوک د چا نه ځۀ شے يا پيسې قرض واخلي يا ترېنه اوزار او سامان د ځۀ کار دپاره وغواړي نو اخر سر يې د واپس کولو وي. د ځۀ وخت يا د ورځې نيمې نه پس هغه شے اخر خپل مالک ته واپس کولے شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے او په داسې موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک د چا نه ځۀ شے وغواړي. او بيا په واپس کولو يې خفه ، ناراضه او ګيله مند وي. نوهوښيارانو ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه خفګان مۀ کوه! "پردے کټ د نيمې شپې وي".

شـــــــپه دې کـــــــره تيـــــــر خبـــــــره هيـــــــره
پـــــه پـــــردې کـــــټ نـــــۀ شـــــي د تـــــولې شـــــپې خوبونـــــه

پرون جولا شوې او نن نچې ډکوې

پخوا په زمانه کښې به جولاګانو به کورونو کښې په کډو باندې توکې (کپړې) جوړولې. د مالوجو نه به اول په سرخه باندې تارونه جوړولے شو. او بيا به د هغې تارونو نه کپړې جوړولے شوې. په سرخه به چې تار جوړېدو نو هغه به يې لکه د نن زمانې د کونټ پشان په يوه غونډه مونډه نلکے باندې تاوهلو. هغه نلکے ته به يې نچه وئېله. هغه نچې نن سبا هم د کپړو په ميلونو (کارخانو) کښې ليدے او کټے شي. په نچه باندې تار خېژول او تاوول دېر د پوهې او استاذی کار وي. يعنې دا هم د هنر کار دے. او هنرمندان خلق يې کولے شي. يعنې که څوک غړے د جولا سره ورځ نيمه تېره کړي يا په دغه کار کښې دوه درې ورځې تېرې کړي او بيا ځان په هنرمند حسابوي ، يا نچې ډکوي نو يا به ترېنه تارونه شليږي او يا به سرخې او کډې (مشينان) ماتوي او خرابوي. مشرانو په دې متل کښې د جولا او د نچې دا مثال وړاندې کړے دے او اشاره يې هر هغه بنيادم ته ورکړي ده چې په ځۀ کار يا هنر کښې دوه درې ورځې تېرې کړي او بيا ځان په هنرمند ، ماهره او استاذ حسابوي. د دې معنو تر لاندې دمتل نه مطلب دا شو چې ګنې په ورځ نيمه کښې يا په مياشت نيمه کښې څوک د ځۀ کار ماهره ، هنرمند او استاذ نۀ شي جوړېدے. او که څوک ځان په هنرمند حسابوي او ځۀ کار ته لاس اچوي نو هغه کار يا د کار اوزار به ترېنه خرابيږي او مات کړي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې ځۀ کار شروع کړي او ورځ نيمه پس خلقو ته ځان استاذ وړاندې کوي. يعنې دا باور ورکوي چې ګنې زۀ د دې کار هنرمند او استاذ يم. نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "پرون جولا شوې او نن نچې ډکوې".

پرون مسلمان شوې او نن ګيلې کوې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو غريب هندو غړے مسلمان شو. ځۀ مياشت نيمه پس هغه غړي يو بل مسلمان ته د ګيلې په توګه وئېل. چې زۀ مسلمان شوم ما وئېل چې زما حالات به لږ ښۀ شي. الله پاک به زما هم

دا خواره ورځ ښهٔ کړي. خو زما حالات د مخکښې نه لا خراب او بتر شول. هغه زوړ مسلمان چې خپله هم ډېر غريب وؤ. ورله ځواب ورکړو چې يار مونږ ته پام وکړه. مونږ خو د پلار په نيکهٔ مسلمانان يو. او حال مو ستا د وړاندې دے. تهٔ خو پرون مسلمان شوې او نن ګيلې کوې. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب يې دا دے چې ګنې په څه کار يا ځائے کښې دې دوه ورځې لا شوې نهٔ دي او بيا ځانله غټه او غوره برخه يا اوچته عهده او مرتبه غواړې. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې په څهٔ کاروبار کښې يا په څهٔ تنظيم کښې حصه واخلي ، يا د چا سره ياري دوستي او ملګرتيا شروع کړي. او په دوېمه ورځ ترېنه ګيلې شروع کړي. چې ګنې ماته ښهٔ يا زياته ګڼه مېلاؤ نهٔ شوه ، يا راته مقام او مرتبه مېلاؤ نهٔ شوه. نو هغه غړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "پرون مسلمان شوې او نن ګيلې کوې".

پړ مې که نو مړ مې که

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي پر معنی ده ماتې ورکول او خوړل ، ملامته کېدل ، کچه کېدل ، پاتې راتلل او بېلات موندل. يعنې چې څوک په څهٔ کار او خبره کښې ماتې اوخوري ، يا په څهٔ وعده او نېټه کښې پاتې راشي ، يا په څهٔ مقابله کښې بېلات ومومي ، يا پرې څهٔ جرم ثابت شي. نو داسې غړي ته پړ وئېلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې که زهٔ پړ شوم يا تا پړ کړم نو بيا ستا پړے زما غاړه. يعنې بيا ستا خوښه ، مرضي او اختيار دے. چې څهٔ سزا راکوې نو زهٔ تيار يم. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې موقعو کښې يې استعمالوي چرته چې داسې د دوؤ غړو تر مېنځه څهٔ شخړه او لانجه ګونجه وي او دواړه ځان په حقه حسابوي نو اکثر يو بل ته داسې وايي چې په جا دې زړهٔ مني نو فېصلې ته به کښېنو او که دې پړ کړم نو بيا ستا اختيار دے چې څهٔ سزا وي نو زهٔ تيار يم. هم دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي چې خانه! هسې د ځانه مهٔ يه لګيا. څهٔ دليل او ثبوت راوړه يا دوه کسو ته به کښېنو! "پړ مې که نو مړ مې که".

پښتو د سړي پختۍ ماتوي

پښتو زمونږه مورنۍ ژبه ده. چې مونږه پرې خپل احساسات ، جذبات ، خيالات او حالات يو بل ته رسوؤ ، شريکوو ، ځان پوهوو او بل خبروو. خو دا پښتو تورے (لفظ) يو بل ډېر ژور مطلب هم لري يعنې زمونږ د ژوند ژواک کولو قانون ، اصول او نظام (کلتور يا دود دستور) ته هم پښتو وئېلے شي ، يا په پښتو يادولے او منلے شي يعنې پښتانهٔ غړي چې د کومو اصولو (ضابطه اخلاق) تر لاندې ژوند کوي هغې قانون ته ، هغې اصولو ته او هغه دستور ته پښتو وئېلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې زمونږ د ژوند هر اړخ د پښتو (دود دستور) تر لاندې تېريږي. او دا دود دستور يا پښتو کله کله بنيادم ته ډېره ګرانه او ډېره سخته پرېوځي. يعنې په ځنې موقعو کښې بنيادم ته ډېر زيات زيان او تاوان رسي. خو هغه مجبوروي چې هغه دستور يا هغه پښتو پوره کړي. يعنې د زيان او د تاوان په وخت يا داسې د بل څهٔ مصيبت ، کړاؤ تکليف ، غم خفګان ، شخړې او کړامې په وخت هغه خپلې پختۍ ماتې کړي خو د اصولو (پښتو) نه څټ نهٔ شي ايستلے. يعنې په داسې موقع که د څهٔ کار او خبرې نه وروستو کيږي نو پښتو يې ماتيږي او چې ور لاندې ووځي نو پختۍ يې ماتيږي. او پښتون په داسې موقع پختۍ ماتوي خو پښتو سر ته کوي. ځکه چې اخر د پښتو ملک دے يا د پښتو سوال دے ، دا خلق به څهٔ وايي. هم دا حالات او واقعات مشرانو په دې متل کښې ستايېلي او مشهور کړي دي. او مطلب ترې نه دا دے چې ګنې پښتو کولو والا غړے اکثر په زيان او تاوان کښې ژوند کوي. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې حالاتو سره مخ شي چې په څهٔ موقع کښې که وروستو کيږي نو پښتو يې کچه کيږي/ماتيږي او که ګام اخلي نو زيان مومي يا تاواني کيږي. نو په داسې وخت او موقع خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "پښتو د سړي پختۍ ماتوي".

پښتو کول څهٔ اسان نهٔ دي
ماتې پختی په پښتنې مينه کښې شينه

پښتون په ډېران ارټ بيلي

دا متل هم لکه د وړاندې تېر شوي متل غوندې د پښتو د ا ، صولو څرګندونه کوي. مطلب دا دے چې ګنې پښتون چې پښتو سر ته کوي نو بيا خپل سود زيان ته نهٔ ګوري. که يو کار يا خبره کښې ورته هرڅومره زيان ، تاوان ، کړاؤ او تکليف رسي نو خېر دے خو چې پښتو يې کچه نهٔ شي يا پاتې رانشي. هم دا حالات مشرانو په دې متل کښې ستايېلي او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې په يو معمولي شي يا لږې شان ګټې (ډېران) پسې زيات مال دولت او جائېداد (ارټ) خرچه کوي او بائيلي. يعنې ډېران يو معمولي او لږ قيمت والا ځائے او شے دے او ارټ قيمتي جائېداد او دوتر دے او چرته چې داسې څهٔ موقع راشي چې هلته د پښتو سوال وي نو بيا پښتون د يو معمولي څيز په بدله کښې غټ زيان او تاوان ته غاړه نيسي. يعنې (ارټ) ته نهٔ ګوري خپله پښتو سر ته کوي. نو د داسې غړو په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "پښتون په ډېران ارټ بيلي".

پښتو کول څهٔ اسان نهٔ دي
پښتون په پټ کښې سخے کټے ارټ بيلينه

پښتون چې پښتو پرېږدي نو زمکه پرې ډکه شه

پښتون او پښتو د يو بل سره داسې کلک تړلې دي. چې د يو بل نه بغېر نيمګړې وي. يعنې که پښتون وي او پښتو ورکښې نهٔ وي نو هغه غړے خلق په پښتون نهٔ حسابوي. يعنې چې پښتون وي نو هغه به ارو مرو د دود دستور او کلتور (پښتو) تر لاندې ژوند کوي. او چې څوک پښتو پرېږدي نو هغه بيا په (نهٔ سړي ، دله او بې غېرته) باندې يادېږي. او څوک يې په ښځو شمېري. ځکه هوښياران وايي چې پښتون دله دوس او بې غېرته شي نو د داسې ژوند نه ورله مرګ ښهٔ دے. چې فنا شي او زمکه پرې ډکه شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. يعنې مطلب دا چې څوک پښتو پرېږدي نو هغهٔ له د شرم نه مړهٔ کېدل پکار دي. نن سبا هم په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک د ننګ غېرت په ځائے کښې پاتې راشي ، يا څوک داسې بې غېرته ، بې شرم او بې حيا شي چې په شرم حيا يې څهٔ پرواه نهٔ وي. يعنې د بې شرمۍ ژوند کوي. نو مشران وايي چې د داسې ژوند نه خو مرګ غوره دے. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "پښتون چې پښتو پرېږدي نو زمکه پرې ډکه شه".

پښتو حيا ده پښتو ژوند دے
چې څوک يې پرېږدي د چينجو خوراک دې شينه

پنځه واړه په خ ، له مهٔ منډه

دا يوه عامه محاوره ده چې د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې ، ی او مطلب يې دا دے چې ګنې هر شے ځان ته راښکل. هر شے په خ ، له منډل ، يا په هر څه خېټه اچول يعنې داسې چې څوک په څهٔ شي باندې ټول په ټوله قبضه وکړي. بل چا ته پکښې برخه نهٔ ورکوي يا هر څهٔ د ځان دپاره خوښوي. د بل په حصه يې هم نظر وي او قبضه کول غواړي. نو دا داسې شوه لکه چې په پنځو واړو ګوتو يا په سپکونو خوراک کوي. يعنې هر څهٔ ځان ته راکاږي.نو په داسې وخت او داسې غړو ته مشر ان دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې: دومره بې صبره مهٔ جوړېږه. خلق څهٔ خوري او څهٔ پرېږدي"پنځه واړه په خ ، له مهٔ منډه".

په بار کښې کوږ لرګے يې

بار په خر ، ټټو ، سندا يا په غوټي باندې اچولے هغه وزن ته وئيلے شي چې نيم وزن د ځاروي يوې غاړې او نيم بلې غاړې ته وي. په بار کښې د هر قسمه ځيزونه يا سامان اچولے او ترلے شي. د لرګو بار د نورو ځيزونو يا سامان په نېز دېر په اسانه ترلے او ښکته پورته کولے شي. خو که په دې لرګو کښې يو هم کوږ لرګے وي نو هغه بيا د بنيادم او هم د ځناور دپاره مصيبت جوړ شي. د هغه کوږ لرګي له کبله بار نۀ کلک ترلے شي او نۀ په روغه او اسانۍ سره خپل منزل ته رسولے شي. او بنيادم ته تنکسيا او مشکلات نور هم زيات کړي ، بلکې بنيادم څۀ چې ځاروے ورسره هم په تکليف او مصيبت کښې کېر وي. ځکه مشرانو د کوږ لرګي دا ورانے ، تنکول ، مشکلات او تکليف د ځنې انسانانو د اخلاقو او کردار سره په مثال ورکړے دے.

د ځنې خلقو دا عادت وي چې په محفل کښې د څۀ خبرو يا فېصلو مخالفت شروع کړي. داسې خبرې او اشارې کوي يا په ځه چل هـ ، نر خپله مدعا او مطلب پوره کوينې په څۀ چل هـ ، نر ، دروغ وينا او فريب سره د خلقو سم کار او روغه خبره ورانه وي او د محفل خلقو ته مشکلات جوړوي ، يا د يو غړي د لاسه ټول محفل په مصيبت او غم کښې کېر شي. نو دا داسې شوه لکه چې د يو کوږ لرګي له کبله ټول بار وران شي. او بنيادم په مشکلاتو او کرامو کښې کېرشي. ځکه لېونے په داسې وخت د داسې غړو په حقله دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "په بار کښې کوږ لرګے دے".

ځـــــوک چـــــې پـــــه بـــــا رکښـــــې کـــــوږ لـــــرګے شـــــي
لکـــــه ازغـــــے چـــــې د کيکـــــر کـــــوږ شـــــوے وينـــــه

په بوسو کښې اوبۀ مۀ بوځه

دا د پښتو ژبې يوه محاوره ده چې په ځنې وخت او ځنې ځايونو کښې د متل په توګه هم استعمالېږي. د تجربې نه دا خبره څرګنده ده چې کوم ځائے بوس زيات پراتۀ وي او په هغه ځائے اوبۀ ورشي نو اوبۀ د بوسو لاندې نه داسې تېريږي چې پورته يعنې دپاسه بوس په ځائے اوچ پراتۀ وي او چا ته پته نۀ لګي چې کنې د بوسو لاندې اوبۀ شته ، تېري شوې دي او يا تېريږي. د اوبو اود بوسو دا حالت يا د بوسو دا تاثير چې بوس د وزن نه سېک وي نو دا د اوبو په سر اوچ ښکاري. او اوبۀ لاندې پټې وي يا پټې تېرې شي چې په سترګو نۀ شي ليدلے او پټې پاتې شي. مشرانو په دې متل کښې هم د اوبو دا پټ والے ستاېيلے او مشهور کر ے دے او مطلب ترېنه دا دے چې کنې څۀ کار او يا څۀ خبره پته او په راز کښې ساتل ، يا په صحيح حالاتو څوک نه خبرول. يعنې په اکو بکو ، انکره دنګره او انکاه بنکاه وټبلو يا کولو باندې صفا او رښتيا خبره پټول او په راز کښې ساتل.

د ځنې خلقو دا عادت وي چې هغوي نور خلق په مغالطه کښې ساتي. يعنې د صحيح خبرې يا د صحيح حالاتو نه بل سړے نۀ خبروي. يعنې رښتيا حال او رښتيا خبره نۀ چا ته وايي او نۀ ښکاره کوي. د يو خوا بل خوا نه خبرې کډې ودې کړي او اصلي خبره پته وساتي. مشرانو داسې موقع او حالت د بوسو او د اوبو سره ترلې دي. يعنې دا داسې شوه لکه چې د بوسو نه يې لاندې اوبۀ تېرې کړي. هم د داسې وخت او داسې خلقو په حقله مشرانو دا متل مشهور کړے او وړاندې کړے دے. نن سبا چرته چې څوک داسې څۀ کار يا عمل کوي نو هغه وکړي ته نور خلق داسې وايي چې: "په بوسو کښې اوبۀ مۀ بيايه" ، يا "په بوسو کښې اوبۀ مۀ بوځه".

پـــــه داســـــې يـــــار بـــــاور اونـــــۀ کـــــړې
څـــــوک چـــــې اوبـــــۀ د بوســـــو لانـــــدې تېروينـــــه

په پوخ لوښي رنګ نۀ خېژي

پخوانې څۀ ساده خلق وو. ساده يې ژبه وه او ساده يې متلونه وو. په دې متل کښې لوښے ستاېيلے شوے دے. د لوښي نه هغه د تېکرو لوښي مطلب دي کوم چې به کولالانو د خټو نه جوړول يا سازول او د جوړولو په وخت چې به کولال څۀ رنګ غوښتل نو هغه شان شکل او رنګ جوسه به يې ورکوله. بيا به يې په غرمو اوجول. دوه درې ورځې چې به نمر ووهل. نو بيا به يې په پجه کښې پخول. چې کله به پاخۀ شول نو دا به سرۀ تېکري وو او بيا به د هغه لوښي شکل او يا رنګ روغن نۀ شو بدلېدلے. يعنې چې يو ځل به لوښے پوخ يعنې سـ ور تېکرے شو نو هغه په بيا هم په هغه شکل او هغه رنګ کښې وو. هم دا عمل مشرانو په دې متل کښې ستاېيلے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې څۀ شے په يو شکل ، رنګ جوسه او يا په يو خوي خصلت يعنې عادتونو کښې پوخ شي نو هغه له

بيا بل رنګ ورکول يا رنګ بدلول ډېره ګرانه خبره او کار وي او دا اشاره مشرانو په خصوصي توګه د بنيادمو په حقله ورکړې ده او مطلب يې دا دے چې ګڼې چرته چې يو غړے په څه عمل او عادت کښې پوخ شي نو په هغه بيا نۀ د چا نصيحت اثر کوي او نۀ يې د چا په وېنا او زورنه شا ګرېږي. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې څوک بدعمله وګړے وي چې نۀ په نصيحت وي او نۀ د چا په پوهولو او وېنا يې غوږ ګرېږي. نو د داسې بنده په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او وايي چې دۀ ته نصيحت کول هسې ځان ستړے کول دي يا سنډا ته رباب وهل دي. په دۀ دا خبرې او نصيحتونه هېڅ اثر نۀ کوي ځکه چې: "په پوخ لوښي رنګ نۀ خېژي".

په پوزه مچ نۀ پرېږدي

مچان هم د الله پاک يومخلوق دے. دوي بعضې وخت د انسان د فائدې دپاره وي او ځنې وخت انسان ته زحمت جوړ شي. اکثر د ګرمۍ په موسم دوي په شمېر (تعداد) کښې ډېر زيات ګڼ شي. په هر څيز باندې بڼېږي او لوغړېږي. د بنيادم په بدن باندې هم کله يو ځائے او کله بل ځائے کښېني او پاڅي. څومره چې يې د ځانه شړې نو دومره دوي له خوند ورکوي او بيا د يو اندام نه بل ته او د بل نه بل ته دانګي رادانګي. او د اودۀ بنيادم خو اکثر د پوزې سر له ځان رسوي. د مچانو شړلو او پاڅولو په عمل بنيادم اخر ستړے شي او مچان خپلې مرضۍ ته پرېږدي. خو ځنې خلق د دوي د وژلو کوشش او هڅه کوي او ډېر پکښې مړۀ هم کړي. ځنې خلق د مچانو په دې بڼېدو او لوغړېدو باندې اکثر په غصه کښې وي او خاص کر که مچ يې چرته د بده شامته په پوزه کښېناستو نو بيا خو يې ارو مرو وژني او خپله غصه پرې وباسي.

ځنې خلق دومره قهرژن وي چې په معمولي خبرو باندې په غصه کښې راځي او لکه د مچ غوندې وړه خبره هم نۀ شي زغملے. دومره غصه ناک او قهرژن وي چې ډېره په وړه او معمولي خبره هم غصه کيږي او قهرېږي. نو په داسې وخت ، موقع او داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه د دۀ خو دومره غصه ده چې: "په پوزه مچ نۀ پرېږدي".

په تا به يې هم ډمامې وهلې وي

۱۱۲ دا يو بشري فطرت دے چې په کوم کور کښې ماشوم پېدا شي نو په هغه کور کښې خوشحالۍ نمانځلې شي. او چې ماشوم بيا وړومبے او نارينه وي نو دا خوشحالۍ نورې هم زياتې وي. ظاهره ده چې کوم ځائے خوشحالۍ وي نو هلته ټنګ ټکور وي. ډمامه هم د ټنګ ټکور يو اوزار دے. چې د ډولکي (ډولکي) ا - واز پېدا کوي. پخوا زمانه کښې چې به د چا کره ماشوم پېدا شو نو د هغه کورنۍ نېکې (ډمې) به په هغه کور کښې ډمامه وغږوله يا ووهله. داسې به د ماشوم د زېږېدو او د خوشحالو نمانځلو نغاره (اعلان) وشو. بل خوا ډمامه به د څۀ عام اعلان دپاره هم غږولے شوه چې ورته به يې نغاره وئېله. د خوشحالۍ په موقع يعنې د وادۀ کوېژدن او د ماشوم سنت يا سرکلي او د اومې په وخت به د چم ګاونډ ښځې د ښادۍ په کور کښې راجمع شوې او د ډمامو په ټنګ ټکور سره به يې سندرې وئېلې. او خپلې خوشحالۍ ، مزې او خوندونه به يې خوندي کول. داسې د ماشوم په زېږېدنه هم ډېر خلق ډمامې وهي ، يا (ډول ، سرنا) راولي او خپلې خوشحالۍ پرې نمانځي او خوندونه خوندي کوي. دا متل اکثر د طنز او پېغور په توګه استعماليږي. يعنې چرته چې څوک بنده په اخلاقو او بدني کمزورۍ باندې دومره کمزورے وي چې هغه په نۀ سرو شمېر شي ، يا په ځنو خلقو کښې د زنانۀ غوندې عادتونه وي. يعنې د هغۀ خبرې او کړۀ وړۀ لکه د جينکو وي يا څوک داسې د بزدلۍ څۀ کار وکړي لکه په څۀ موقع باندې د مېدانه اوتښتي يا د خپلې وعدې نه اوتښتي نو په داسې وخت او هغه خلقو ته داسې وئېلے شي چې څه مړه تۀ هم ځان ته سړے وائې! "په تا به يې هم ډمامې وهلې وي". او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې: "په تا به يې هم حلوا خوړلې وي" . يا "په تا به يې هم سر ترلے وي".

په تپوس سړے هندوستان ته هم رسي

قيصه:

پخوا په زمانه کښې کله چې پاکستان او هندوستان يو وطن وو. نو دا ټوله علاقه د هندوستان په نامه مشهوره وه. هغه زمانه کښې به د پښتونخوا د سيمې نه ډېر خلق د خوارۍ مزدورۍ دپاره بمبۍ او کلکتې ته تلل. وايي چې داسې په هغه وخت کښې يو ساده

پښتون وګړے د مزدورۍ دپاره بمبۍ (ممبۍ) ته لاړو. هغه زمانه کښې پېدل مزلې وې. دا سړے هم په تپوس تپوس بمبۍ ته ورسېدو. هلته يې څۀ کال نيم محنت مزدوري وکړه او بېرته بيا خپل وطن ته راستون شو. هغه زمانه کښې به چرته د کلي نه پو کس نيم مسافر وو. او کله چې به مسافر وطن ته راغے نو خپل څۀ چې د کلي ټول خلق به ورته هم ډېر خوشحاله وو. ځکه چې د کلي ساده خلقو به د هغۀ نه د بل وطن خبرې او قيصۍ ډېرې په شوق اورېدلې. او خوندونه به يې ترېنه خوندي کول. کله چې دا سړے کلي ته راغے نو د دۀ نه به هم په حجره کښې خلق راچاپېره وؤ او دۀ به ورته څۀ دروغ او څۀ رښتيا خپلې قيصې قطارې بيانولې. داسې يو ورځ په حجره کښې ګپ ګرم وؤ چې يو زلمي ترېنه پوښتنه وکړه چې کاکا تا ته لاره معلومه وه. تۀ څنګه هندوستان ته ورسېدې. هغې کاکا ځواب ورکړو چې خانه! لاره خو راته نۀ وه معلومه خو په تپوس تپوس ورسېدم. هغه هلک ډېر په حېرانتيا سره وئېل. چې ښه په تپوس سړے هندوستان ته هم رسېدے شي. نو هغه کاکا ورته وئېل چې ګلابه! ولې نه. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې که چا ته څۀ ځائے ځائيکے نۀ وي معلوم. نو هم پرواه نشته په تپوس سړے خپل منزل ته رسېدے شي. نن سبا هم په داسې حالانو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې نامعلومه ځائے ته د تلو تکل کوي او څوک ترېنه پوښتنه کوي چې ګنې تا ته دا ځائے معلوم دے يا لاره درته معلومه ده ، يا څوک داسې په وړومبي ځل چرته نااشنا ځائے ته ورشي او هلته ترېنه څوک پوښتنه کوي چې ګنې په خېر راورسېدې. لاره ګودر درته معلوم وؤ او کنه. نو په داسې وخت هغه سړے په ځواب کښې دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې غم مۀ کوه يار! "په تپوس سړے هندوستان ته هم رسي".

په تلي کښې يې مۀ زرغونود

په تلي کښې زرغونول يوه عامه محاوره ده چې کله کله د متل په توګه هم استعماليږي يعنې او مطلب يې دا دي چې ګنې په کار روزګار او يا په څۀ خبره کښې منډه ، تادي ، تلوار او بېړه مۀ کوه. يعنې چې څۀ کا رته لاس اچوې نو هغه ښۀ په صبر او سوچ فکر سره کوه يا که د چا نه د څۀ کار طمع لرې يا يې د څۀ کار دپاره لېږې يا ورته څۀ کار په حواله کوې نو تلوار پرې مۀ جوړوه. بلکې په صبر ، ساه صورت او حوصلې سره پوهول پکار دي. چې خپله هم په خبره او کار ښۀ پوهه شي. او بل هم پرې پوهه کړي. نن سبا هم په داسې حالانو کښې استعماليږي. چرته چې څوک داسې په څۀ کار يا خبره کښې تلوار کوي. يعنې په منډه او بېړه کار کول غواړي يا د چا نه په تادۍ او منډه کښې کار ايستل يا کول غواړي. نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار لږ ساړۀ خوره دومره! "په تلي کښې يې مۀ زرغونوه".

په جنګ کښې اسونه نۀ تياريږي / څربېږي

دا يو عام او ساده متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. مطلب يې دا دے چې د جنګ دپاره د مخکښې نه تيارے پکار دے. عېن د جنګ په موقع د تورې تېرولو او د اس تيارولو وخت نۀ مېلاويږي. پخوا په زمانه کښې به جنګ په تورو ، نېزو او غشو ليندو کولے شو. فوځيان به په اسونو سوارۀ نېغ په نېغه يو بل ته مخامخ شول او په يو بل به يې حملې کولې. د جنګ دپاره به دا اسونه ښۀ تيار او سنمبال ساتلے شول. يعنې ښۀ تکړه ، چاک چوبند او تربيت به يې هم ښۀ شوې وؤ. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو. چې ګنې د جنګ تيارے د جنګ نه مخکښې پکار دے. د جنګ ټول سامان او د ضرورت هر شے د جنګ دپاره هر وخت تيار ساتل پکار دي دا نۀ چې ګنې جنګ شروع او سـ ـور شي. او بيا د تياري دپاره خلق منډې ترړې جوړې کړي. او چې څوک د جنګ په وخت کښې اسونه تياروي يا توره تېروي يا د جنګ نور سامان راټولوي يا ګوري او يا اخلي. نو داسې فوځ يا داسې خلق نه جنګ کولے شي او نۀ ګټلے. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې د څۀ کار لپاره د مخکښې نه ټول تيارے پکار دے.

نن سبا په داسې موقعو او حالانو کښې استعماليږي چرته چې څوک څۀ کار کوي يا کول غواړي او د هغه کار دپاره يې پوره تيارے نۀ وي کړے. يعنې د هغه کار مطابق اوزار او سامان ورسره تيار نۀ وي يا څوک د څۀ کار کولو تکل کوي خو تش لاس وي نو داسې

خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! اول خپل ځان ښهٔ تيار کړه نو بيا په کار لاس پورته کوه ، ځکه چې: "په جنګ کښې اسونه نهٔ تيارېږي".

په جنګ کښې مړي کيږي

جنګ کار او عمل داسې دے چې په دې کښې خامخا مړي کيږي. يعنې کله چې دوه فوځونه ، دوه ډلې او يا دوه کسه په جنګ شي نو خامخا به ورکښې څوک نه څوک مري. او که څوک دا غواړي يا دا ګڼي چې ګڼې جنګ دې هم کوي او مرګ ژوبله دې پکښې نهٔ وي نو دا نهٔ شي کېدے ځکه چې جنګ وي نومرګ ژوبله به پکښې خامخا وي. د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه هر هغه کار دے چې په هغې کښې د سود سره زيان هم وي يا د ګڼې سره د تاوان رسېدو خطره هم وي ، يا بنده ته هغه کار د خوارۍ ، محنت ، تکليف او کړاؤ سبب جوړ شي. نن سبا هم د دې مطلب دپاره استعماليږي. چرته چې څوک داسې څهٔ کار وکړي چې په هغې کښې ورته زيان ورسي يا ورته زيات تکليف او کړاؤ مېلاؤ شي او بيا چا ته ګيلې مانې کوي يا خپل تاوان او خوار قسمت ژاړي. نو هوښياران ورته داسې وايي چې خانه! تا دا رنګې کارونه کول نو دې سره خو به دا زيان يا دا تکليف او کړاؤ مېلاوېدل. يعنې چې داسې څهٔ د خطرې (رېسک) والا کارونه کوي. نو هغې سره خو به دا رنګ غمونه او کړاؤنه وي ، يا زيان او تاوان هم وي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي چې خانه! "په جنګ کښې مړي کيږي". او په اردو ژبه کښې د دې په حقله داسې وئېلے شي چې!

"ایسا تو ہوتا ہے پھر اس طرح کے کاموں میں"

په چتي پسې باز مهٔ پرېږده

دا يو ساده متل دے او څنګه چې ظاهره ده چې باز ډېر نايابه او قيمتي مارغهٔ دے. دا ډېر په خوارۍ او محنت سره نيولے ، ساتلے او د ښکار کولو دپاره تيارولے شي. دا هم معلومه خبره ده چې چتے په ټولو مرغو کښې ورکوټې او کمزورې مرغۍ ده. يو خوا د چتي او د باز څهٔ مقابله نشته. يعنې چتے کمزورے او باز زورور مارغهٔ دے. او بل خوا د سود زيان هم ډېر تفاوت دے. که چتے ښکار هم شي نو څهٔ خاص فائده يې نشته. خو که چرې باز چرته زخمي شو يا ورته څهٔ حادثه پېښه شوه نو دا ډېر لوئے زيان او تاوان دے. د کمزورۍ او زورور ، د ګڼې او تاوان دا تفاوت چې د چتي او باز تر مېنځه دے. مشرانو د متل په توګه مشهور کړو او مطلب ترېنه دا دے چې د لږې فائدې دپاره ځانله زيات زيان او تاوان مهٔ ورکوه ، يا د لږې فائدې دپاره ځان په خطره کښې مهٔ اچوه.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک زورور غړے د چا کمزوري غړي سره مقابله کوي يا کول غواړي يا څوک داسې کار کوي يا کول غواړي چې د فائدې په ځائے پکښې زيان او نقصان زيات وي. نو په داسې وخت داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او وايي چې پرېږده يار! "په چتي باز مهٔ پرېږده".

د هغه نه زيات کم عقل نهٔ وي
د چتو ښکار کښې چې خپل باز بېلي مئينه

په خ ، له پوست په زړهٔ روست

دا د هوښيارانو قول دے چې د متل په توګه هم استعماليږي پوست نه معنی او مطلب دا دي چې ګڼې څوک چې خ ، له ښې خوږې او پستې خبرې کوي. يعنې چا ته سره پوستغه نهٔ وايي نهٔ چا ته کنځل وېنا کوي نهٔ څهٔ فحش او لغړه خبره يې په خ ، له راځي بلکې په ښهٔ اخلاقو او جي جان سره د خلقو سره راشه درشه او تعلق ساتي نو د داسې بنده په حقله وئېلے شي چې په خ ، له ډېر پوست

دے. او داسې بنده په زړۀ هم ډېر روست ويسې خو د روست معنی ده چې څۀ شے دومره نرم ، نرے او کمزورے وي چې ډېر زر او په اسانه وشلېږي. په متل کښې د روست نه مطلب دا اخذ شوے دے چې په زړۀ نرم او نرے وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شوې څوک بنيادم په خ ، له پوست وي نو هغه په زړۀ هم ډېر نرم وي. يعنې ډېر رحمدله او ترس کولو والا بنيادم وي. چې څوک په خ ، له سخت وي نو د هغۀ زړۀ هم لکه د کاڼي سخت وي. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې بنده وي چې د خ ، لې نه يې ګلونه دوړېږي. يعنې چې ښې خوږې او پستې د نصيحت خبرې او وېنا کوي يا څوک داسې په زړۀ نرے او کمزورے بنيادم چې بل څوک په څه غم ، تکليف ، مصيبت او کړاؤ کښې نۀ شي ليدلے ، يا د څۀ حادثې په وخت زړۀ نۀ شي ټينګولے يا برداشت نۀ شي کولے. نو د داسې بنده په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې نه "خ ، له پوست په زړۀ روست".

په خ ، له خوږ په زړۀ کوږ

په تېر شوي متل کښې د پوست تعريف وؤ. او په دې متل کښې د خوږ ستائنه شوې ده. خو ورسره د کوږ ذکر راغلے دے. نو د خوږ معنی يې هم بدله کړېده. يعنې هغه خوږې پستې او ښې خبرې ترېنه مطلب نۀ دے. بلکې دلته ترېنه مطلبي او غرضي بنده مراد دے. چې د مطلب په وخت د خپل غرض دپاره ډېره خوږه او پسته خ ، له چلوي خو په زړۀ کوږ يعنې درغله او بدنيته وي. يعنې داسې بنيادم چې په زړۀ او نيت صفا نۀ وي. صرف د غرض او مطلب دپاره خلقو سره خوږ شي. او چې خپل مطلب ترېنه ترلاسو کړي يا خپل غرض پوره کړي نو بيا يې زړۀ کوږ وي. يعنې اشنا سترګې يې نااشنا کړې وي. هم د داسې خلقو په حقله مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے او مطلب ترېنه دا دے چې د مطلب او غرض په وخت جا سره کوم بنده خوږ شي يعنې د يارۍ دوستۍ چلونه او دعوې شروع کړي يا چاپلوسي ، خوشامند ګري او چمچه ګيري شروع کړي. نو پوهه شه چې دے به په زړۀ درغله (کوږ) وي. او د داسې بدنيته ، درغله او کوږ بنده په حقله مشران وايي چې نه "خ ، له خوږ په زړۀ کوږ".

درغلـــــــــــي زور شـــــــــــوه اخـــــــــــر وخـــــــــــت دے
چـــــې پـــــه خ ، لـــــه خـــــوږ وي هغـــــه کـــــوږ پـــــه زړۀ کښـــــې وينـــــه

په دوؤ بېړو پښې مۀ ږده

بېړۍ يا کيشتۍ چې په اوبو کښې ولاړه وي نو د اوبو د حرکت (مدوجزر) له امله کيشتۍ يو خوا بل خوا ځانګي راځانګي. بل د بنيادم په حرکت سره هم وړه کيشتۍ خوزي راخوزي. که چرې بنيادم يوه پښه په يوه کيشتۍ کښې ږدي او بله په بله کښې نو په دې حرکت سره دواړه کيشتۍ د خپل ځائے نه حرکت کوي او دا حرکت د بنيادم د قدم له امله د يو بل نه اپوټه (مخالفه) غاړو ته شروع شي. کله چې يو قدم په يوه او بل قدم په بله کيشتۍ کښې وي او حرکت شروع شي نو د دې خبرې زيات امکان وي چې هغه بنيادم به نۀ په يوه کيشتۍ کښې پاتې شي او نۀ به په بله کښې. بلکې انجام يې اوبو ته پرېوتۀ او ډوبېدۀ شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې په يو وخت په يوه بېړۍ کښې سورېدل پکار دي او عام مطلب ترېنه دا دے چې په يو وخت يو کار ته لاس اچول پکار دي.

هم داسې که چرې يو بنده په يو وخت څۀ ګڼې منصوبې شروع کړي. يعنې په يو وخت څۀ ګڼو کارونو ته لاس واچوي چې ټولو ته يو شان نۀ توجه ورکولے شي او نۀ ورسېدے شي نو لازمي ده. چې هغه کارونه به وران ، خراب او بې سلوکه وي. اخر چې هغه کاروبار په يې غرق شي نو ځکه په داسې وخت او د داسې خلقو په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "په دوؤ بېړو پښې مۀ ږده".

څـــــــوک چـــــــې پـــــــه دوؤ بېـــــــړو ســـــــورېږي
اخـــــــر انجـــــــام يـــــــې ډوبېـــــــدۀ پـــــــه اوبـــــــو شـــــــينه

په دې شوملو کې چ نۀ راځي

دا يو عام متل دے. شودۀ (پچې) کله وشاربلے شي نو د هغې نه څۀ حصه کې چ جوړ شي او د څۀ نه شوملې. پې يا شوملې چې څومره زياتې شاربلے شي نو دومره زيات کې چ ترېنه اوځي. دا متل د دې مطلب دپاره مشهور شوے دے. چرته چې يو بنده يا ډله چا ته د څۀ کار يا د څۀ خبرې دپاره ترغيب او لمسه ورکوي خو هغه بنده سره د بيا بيا وېنا او د لمسون هغې کار يا خبرې کولو ته تيار نۀ وي. نو دا داسې شوه چې شوملې بيا بيا شاربلے شي خو په هغې کې چ نۀ راځي. په داسې وخت او حالاتو کښې د هغه بنده په حقله دا متل وړاندې کيږي او داسې وئيلے شي چې پرېږده سړيه ، يا پرېږده يارله "دې شوملو کې چ نۀ راځي".

په دې کښې به څوک څۀ ووايي

دا د هوښيارانو قول دے چې کله کله د متل په توګه هم استعماليږي. وړومبے مطلب يې دا دے چې په څۀ خبره ، يا کار کښې د چا تائيد کول يعنې په څۀ خبره يا کار کښې د چا ملګرتيا کول مثلاً چې څوک څۀ ښۀ ، ښکلې او صفا خبره وکړي. چې څۀ جول او غلطي ورکښې نۀ وي ، يا څوک داسې څۀ کار وکړي. چې هغه ښۀ ښکلے ، روغ رمټ ، سم دم او سل په سل وي. يعنې څۀ جول ، خرابتيا ، کمزوري او غلطي ورکښې نۀ وي. نو د داسې خبرې او د کار په تائيد کښې داسې وئيلے شي چې دا هر څۀ ښۀ ټيک ټاک دي. دې کښې د خبرې کولو څۀ شان ، ځائے ، حاجت او ضرورت نشته. نو دا مطلب په دې جمله يا متل کښې داسې څرګندوي او وايي چې: "په دې کښې به څوک څۀ اووائي".

دوېم لمط ترېنه دا اخذ شوے دے چې چرته څوک داسې څۀ غټ کار وکړي چې خلق ورته کوته په خ ـ له شي او د هغه کار يا د هغې خبرې د روغولو ، سمولو او صفا کولو څۀ بندبـ نا نۀ کيږي ، يا څوک داسې څۀ شے وران کړي چې د رغېدو اسره او اميد يې ختم شي ، يا څوک داسې وران کار او بد اخلاقه بنده چې څۀ ضد ونيسي او د چا منت زاري او نصيحت نۀ مني او نۀ ورباندې اثر کوي نو په داسې حالاتو او موقعو کښې خلق داسې وايي. چې اوس خو خبره داسې حد له رسېدلې ده يا اوس خو يې داسې سر خوړلے دے چې د وېنا يا د خبرو کولو پکښې څۀ ضرورت پاتې نۀ دے ، يا د لاس پښو وهلو ضرورت او حاجت پاتې نۀ شو. نو دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې خانه! "په دې کښې به څوک څۀ ووايي".

په دې کښې څۀ شک دے

دا هم د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعماليږي. د ډېرو خلقو دا يو عادت جوړ وي چې په هره خبره کښې دا فقره استعمالوي. او د دې مطلب هم د چا د خبرې تائيد کول دي. يعنې د چا خبرې سره سل په سل اتفاق لرل او اتحاد کول. يعنې د چا په خبره او کار باندې خپله رائے ورکول چې هو! دا کار يا دا خبره هم داسې شوې ده يا لکه چې څنګه بيانيږي هم داسې ده. خو اکثر يې خلق هم د داسې کار او خبرې دپاره استعمالوي چې واقعي په هغې کښې څۀ شک شـ ـبه نۀ وي. لکه څوک وايي چې ما په ښار کښې ازمرے وليدو نو دا د شک والا خبره ده. يعنې ښا رکښې ازمرے کېدے هم شي او نۀ هم شي. او که څوک وايي چې ما په ځنګل يا په غر کښې ازمرے ليدلے وؤ نو په دې يقين کول پکار دي. ځکه چې ازمري وي هم په غرونو او ځنګلو کښې. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د څۀ داسې خبرې او کار تائيد کول چې هغه کوټلې ، رښتيا ، صفا او يقيني وي. نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د خپلې خبرې تائيد د چا نه غواړي. يعنې تپوس ترې کوي چې هلکه په دې حقله ستا څۀ خيال دے. نو هغه دوست يا هغه بنيادم که ورسره سل په سل اتفاق لري او د هغې خبرې تائيد کوي نو داسې وايي چې هو! "په دې کښې څۀ شک نشته".

چـــــــــې د ذرې شـــــــــک پکښـــــــــې نشـــــــــته
داســـــې پـــــه شـــــرح کښـــــې بيـــــا څـــــوک کـــــوي شـــــرمونه

په دې کښې دې هم پلار خبرې کوي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يوه جينۍ وادۀ شوه. د خاوند په کور يې نوے ځائے او نوي خلق وو. هر څۀ ورته عجيبه عجيبه لګېدل او ښکارېدل. کله چې دا جينۍ د پلار کره په اومه راغله. نو خپل کور ورته ډېر ښکلے او ښائسته ښکاره شو. کله به يې يو څيز راخستو او صفتونه به يې کول او کله بل شے. داسې يې د خپل کور او مور صفتونه کول او د خاوند د کور والو يې عېبونه او عـلتونه بيانول. وئېل يې مورې هلته خو هر څۀ ګنده په ګنده پراتۀ وي. او ستا د لاس ډوډۍ خو مې بيا ډېره ياده شوې ده. هلته خو داسې بې خونده او بدرنګه خوراک وي چې بس په ليدو مې زړۀ موړ شي. مور يې په دې صفتونو په زړۀ دننه ډېره خوشحاله شوخو يو سوړ اسوېلے يې د خـ ـ لې لاړووئېل چې لـ ـ ورې! په دې کښې دې هم پلار خبرې کوي. او داسې د هغه وخت نه دا جمله د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې د ځنې خلقو دا پوخ عادت وي چې په هر څۀ کښې عـلتونه او عېبونه لټوي او خبرې يعنې زورنه او وېناګانې کوي او د خلقو ښۀ کار هم په بدو حسابوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې د چا داسې غړي سره ګزران شي چې د هغۀ ښۀ قدر عزت او خيال خاطر ساتلے شي. خو بيا هم نۀ د هاغه خدمت منښته وي او نۀ د هغه کار کوونکي څۀ مننه او شکريه. بلکې د هغۀ په هر کار يا خبره کښې غلطۍ لټوي يا رااوباسي. او په هغې ورته زورنه او خبرې کوي. نو په داسې وخت هغه کار کوونکے بنده د خپل زړۀ حالت او د هغه سړي جهالت او ناشکري په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "په دې کښې دې هم پلار خبرې کوي".

په ډېرو لېوني خوشحالېږي

دا د مشرانو ډېر زيات مشهور قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. هسې خو لېوني نۀ په ګرمۍ وي او نۀ په يخنۍ ، نۀ په غم خفګان پوهېږي او نۀ په ښادۍ خوشحالۍ. خو دا خبره هم سل په سل رښتيا ده چې څۀ شے زيات ووينې يا ورته څۀ زيات مېلاؤ شي نو بيا هغوي هم د خوشحالۍ څرګندونه کوي. يعنې که په نور څۀ نۀ پوهېږي خو په ډېرو پوهېږي. او چې څۀ شے ډېر ووينې نو د خپلو جذباتو او احساساتو څرګندونه په خوشحالو او خنداګانو کښې برڅېره کوي. دا لېوني په خپل سود زيان او ښۀ بد نۀ پوهېږي. چې دا زيات والے يا ډېر والے د هغۀ دپاره ښۀ دي او که بد يا ورته فائده رسوي او که زيان. بس د هغه وخت خوشحالي وي چې په ډېرو خوشحاله شي او د انجام نه يې ناخبره وي. خو روغ ، پوهه او هوښياره خلق د هر څۀ په شمېر (تعداد) حدونو او استعمال پوهه وي. او د انجام نه يې هم ښۀ خبر وي. چې څۀ ډېر شي نو ګنډېر شي يا چې څۀ زيات شي نو برباد شي. ځکه هغوي د مېنځ و مانه لاره خوښوي. او هر شے په مېنځ و مانه کښې ساتي. د دې قولونو د معنو نه دا خبره معلومه او مطلب څرګند شو چې هر شے که هغه څۀ کار وي ، څۀ خبره وي ، خوراک څښاک وي يا زمونږ د ژوند ژواک دود دستور ،ناسته پاسته يعنې د ژوند په هر اړخ زياتے نۀ دے پکار. بلکې د مېنځ و مانه په لاره تګ او وسېدل پکار دي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې موقعو کښې يې استعمالوي. چرته چې څوک د څۀ ډېر کار کولو تکل کوي يا په ډېرو پسې غم خفګان او افسوس ارمان کوي يا بې صبري کوي او د څۀ شي زيات طلب او غوښتنه کوي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار! "په ډېرو لېوني خوشحالېږي".

په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے. وائي چې د لېونو دوه برخې وي. يعنې لېوني په ډېرو خوشحالېږي نو ځکه لږ يا يو څيز نۀ اخلي. ځکه ورله هوښياران خلق يو څيز دوه ټکړې کړي نو بيا يې ښۀ په خندا خوشحالۍ اخلي. ځکه چې ځنې علافو کښې دا متل هم مشهور دے. وائي چې! د لېونو دوه برخې وي.

په رځړو کښې ا ـ ستوټا نۀ سهي

په ضلع صوابۍ کښې اسماعيله نوم کلے د لوئے سړک (صوابي مردان روډ) دپاسه د مردان نه نمر ختيز (مشرق) غاړې ته څۀ غالبا ـ دولس ميله لرې اباد دے. دا کلے د صوابۍ ضلعې وړومېے کلے ، حدودو او پوله ده. يعنې د صوابۍ او مردان ضلعې پوله ده. د اسماعيله کلي نه قطب (شمال) طرف ته کړه مار غر دے. د دې غر نه مخ په سويل/نيلو (جنوب) ته اسماعيله کلے ، دوبيان کلے ، بيا د دوبيانو نه سويل/نيلو ته تر (خټکو پولې) لوئے نهره (جګانات) پورې او بيا مخ په نمر خاتۀ تر ګوهاټي پـ ـ ل پورې دې ټولې علافې ته د رځړو علاقه وئېلے شي يعنې رځړو د علاقې يو سر نمر خاتۀ ته د ګوهاټي پـ ـ ل دے. قبلې طرف ته يې اسماعيله (سمېله) کلے دے. قطب (شمال) طرف يې د کړه مار غر چې مخ په نمر خاتۀ تر بونېره پورې رسېدلے دے. او سوېل/نيلو طرف ته يې د لوئے نهر نه پورې د خټکو سره پوله

لګېدلې ده. د دې علاقوئے او درانۀ کلي اسماعيله ، ادينه ، کالو خان ، دوبيان ، يار حسېن ، ډاګۍ ، ترکۍ ، ت ، رلاندۍ ، نوے کلے (کرنل شېر خان) ، چارباغ ، شېوه ، شېخ جانه او نارنجي کلي دي. نور هم پکښې زاړۀ خو واړۀ کلي ا ـ باد دي. د شېوې کلي سره خوا ته اسوټا ورکوټے شان کلے هم ا ـ باد دے. دا متل هم د اسوټا کلي په حقله وئېلے او مشهور شوے دے.

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې د رځرو د علاقې مشرانو د علاقې د بهبود يعنې د خېر ښېګړې او خوشحالۍ سوکالۍ دپاره يوه جر ګه اوبلله. ټولو کلو ته يې خواست کړے وؤ چې د کلي مشران په جرګه کښې شموليت وکړي چې د علاقې د خېر ښېګړې په حقله صلاح مشورې وکړے شي. په ټاکلې ورځ او وخت د جرګې ټول مشران راجمع شول. خو د اسوټا کلي نه هېڅوک رانغلل. څۀ شېبه خو ورته د جرګې مشرانو انتظار وکړو خو اخر چې صبر يې تمام شو نو يو مشر پکښې دا خبره وکړه چې پرېږده سړو! خپل کار شورع کړئ. په رځرو کښې اسوټا نۀ سهي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه او مطلب يې دا دے چې ګنې بغېر د اسوټا نه رځر څۀ نيمګړے نيمه خوا نۀ دي. بلکې په خپل ځائے ، په خپل کور ښۀ پوره او ګزران يا ګزاره يې کيږي. او مشران يې د هر هغه شي يا بنيادم سره په مثال تړي يا ورکوي په کوم چې د چا هېڅ نيمګړے او پوره نۀ وي. يعنې بغېر د هغه شي يا بنيادم نه يې هم ښۀ ګزاره کيږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې په يارۍ دوستۍ او عزيزولۍ کښې د څۀ خفګان ، يا شخړې له کبله چا سره غم ښادي پرېږدي ، يا چرته په دوستانو کښې يو دوست په څۀ وجه د دوستانو ډله ، تعلق ، غم ، ښادي او عزيزولي پرېږدي. يعنې ناراضه او خفه شي. او هغه خپل خپلوان ، عزيزان او دوستان يې هم هغه خفه او ناراضه بنده يا هغه کورنۍ رضا کول او پ ،خلا کول نۀ غواړي. نو په داسې موقع او حالاتو کښې دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار! خپل خرۀ به څرئ او خپل به څروو ، چې لاړل نو ځي دې په مخه يې ښېله "رځرو کښې ا ـ سوټا نۀ سهي".

په ړندو کښې د يو سترګې والا باچا وي

که د بنيادم په وجود بدن باندې پام وکړے شي نو په دې کښې يو ج ،ز يا اندام هم بې کاره او بې مطلبه نشته. هر يو اندام په خپل ځائے ډېر زيات قيمتي او بې کچه ضروري دے. که يو معمولي شان اندام هم خپل کار پرېږدي نو ټول بدن او بنيادم پرې کنډم شي. خو بيا يې هم د ژوند ګاډے په ګزاره روان وي. او څۀ اندامونه داسې دي که چرې هغه کار پرېږدي نو بنيادم بيا بالکل د بل محتاجه شي. په دې قيمتي او ناوياته اندامونو کښې يو اندام د سترګو هم دے. وايي چې د زرو قدر په زرګر وي. يعنې سترګې څومره قيمتي ، او بې بها نعمت او غنيمت دے. د دې قدر او اندازه د ړوند نه تپوس وکړه. يعنې د بنيادم دپاره سترګې ډېر اهم او بې کچه ضرورت او حاجت دے. چې سترګې نۀ وي نو بنيادم د بل لاس ته محتاجه وي او د بل چا محتاجي او م ،تازي د خپل ژوند نه بېزاري جوړه شي. ځکه چې د ړوند هر حرکت او مرضي د بل په لاس او مرضۍ شي. هم په دې متل کښې هوښيارانو ړوند دا بې وسي ، بې کسي ، م ،تازي او محتاجي ستاييلې او څرګنده کړې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې په داسې بې وسه او محتاجه غړو کښې که د چا يوه سترګه روغه وي نو هغه د بل محتاجه نۀ وي بلکې خپل حرکت يا خواري او محنت پخپله کولے شي. نو دا داسې شوه چې هغه په بې وسه او محتاجه (ړندو) غړو کښې لکه د باچا وي.

يعنې مطلب دا چې په ټپو ړوند وي نو د هغۀ په نېز د يو سترګې والا ړوند باچا وي او دا اشاره مشرانو د هر هغه چا دپاره ورکړې ده څوک چې په څه کار يا خبره کښې خپل څۀ نه څۀ حرکت او محنت کولے شي ، يا په خپلې مرضۍ او واک اختيار سره خپلې فېصلې کولے شي. په نېز د هغه خلقو څوک چې بالکل بل چا ته محتاجه وي يا د بل لاس ته ناست وي. نو په داسې وخت مشران وايي چې د پوره غلامۍ نه يا د پوره محتاجۍ م ،تازۍ نه دا لږ حرکت او محنت والا ، يا لږ شان واک اختيار او خپلې مرضۍ والا بنده لکه چې باچا دے. هم دا مطلب په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "په ړندو کښې د يو سترګې والا باچا وي". په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې وئېلے شي چې: "ندهوں میں کانا سردار ہوتا ہے" ايا "ندهوں میں کانا راجا ہوتا ہے".

په زوړ رباب بيا تارونه تړې

هوښيارانو د رباب او د رباب حالات په دې متل کښې ستايېلي دي. او مطلب يې دا دے چې ګڼې رباب خپل عادت يعنې رباب وهل يا ټنګول او غږول پرېږدي. او رباب يو ګوټ ته وغورځوي. خو څۀ موده پس يې بيا شوق راپيدا شي او په هغه زور رباب بيا تارونه اوترې. او وهل يا غږول يې شروع کړي. او دا مطلب هوښيارانو د داسې حالاتو سره تړلے دے. چې کله کله داسې يو بنيادم د څۀ کار نه توبه کار شي او هغه کار پرېږدي خو داسې هم شوي دي چې هغه بنده بيا په جوش او شوق کښې راشي او هم هغه زور عادت سر دوباره شروع کړي. نو دا داسې شوه چې رباب بيا په زور رباب تارونه اوتړل. يعنې مطلب تړېنه دا دے چې يو بنده څۀ کار پرېږدي يا د چا سره لېن دېن ، دعا سلام ، راشه درشه او ياري دوستي ختمه کړي او بيا څۀ موده پس د خپل شوق او زړۀ په خوښه يا د څۀ مجبورۍ له کبله بيا هغه زور کار شروع کړي ، يا هغه لېن دېن ، خپلولي او ياري دوستي دوباره تازه کړي. په خصوصي توګه چې څوک زړې ياري دوستي دوباره تازه کوي نو هغه غږو ته داسې وئيلے شي چې: "په زور رباب بيا تارونه تړې".

په سترې مۀ شي د چا څۀ شي ،
بس تشه خ ، له پرې کړه شي

د يو حديث شريف مفهوم دے چې سلام عام کړئ. يعنې هر چا سره دعا سلام جوړ کړئ او سائټ. ځکه چې سلام مينه او محبت پيدا کوي او زياتوي. پښتانۀ غږي چې د يو بل سره مبلاؤ شي نو د يو بل د حال حال پوښتنه او دعاګاني په پښتو ژبه کښې کوي يا د يو بل سره شريکوي. لکه راتلونکي مېلمه ته کوربه وايي چې: په خېر راغلې نو په ځواب کښې ورته مېلمه داسې وايي چې: خدائے دې اوبخښه. داسې سترے مۀ شي هم د راشه درشه په دعاګانو کښې د دعا يوه فقره ده. کله چې دوه کسه په خصوصي توګه زميدار خلق چې يو ځائے شي نو اکثر په يو بل مخکښې کيږي. او داسې وايي چې پخپر هلکه! سترے مۀ شي. نو هغه بل ورته په ځواب کښې داسې وايي چې ، پخپر اوسې ، خوار مۀ شې. مطلب دا چې د پښتو ژبې دا دعا سلام د يو بل سره د مينې محبت ، خلوص ، دعاګانو او د پېرزوګانو شريکولو او وربخښلو يوه طريقه او ذريعه وه او ده. ددې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. چې د هر چا سره دعا سلام کول پکار دي. يعنې په سلام او سترې مۀ شي وئيلو نه د چا کور ورانيږي. او نۀ پرې څوک سترے کيږي. د خ ، لې وپنا ده او لږه شان خ ، له پرې کړه شي. خ ، له پرې اوخوزي. او هم د هغه حديث شريف په مطلب کښې يې مشران د نصيحت په توګه وراندې کوي. چې دعا سلام د هر چا سره سائټ او کوئ. ځکه چې په دې مينه محبت او په زړونو کښې خلوص پيدا کيږي او سپوا کيږي. نو داسې وايي چې: "په سترې مۀ شي د چا څۀ شي ، بس تشه خ ، له پرې کړه شي".

په شرح کښې څۀ شرم دے

کله چې د وادۀ نکاح تړلے ، وئيلے يا ليکلے شي نو د وادۀ زلمے او ناوې (جينې) په دغه وخت ډېر شرميږي. يعنې د مشرانو او ګڼې ګوڼې په مخکښې د نکاح قبلولو اعلان نۀ شي کولے ، يا هان/او نۀ شي کولے. بخوانو غږو کښې خو په دې حقله بيا ډېر سخت شرم او حيا وه. هغوي به د مشرانو په مخکښې د داسې خبرو نه ډېر احتياط کولو. هغوي په شرم حيا او د مشرانو په ادب ، عزت او مخ ملاظه کښې د نن زمانې د زلمونه ډېر مخکښې ، بۀ او غوره وونن سبا زلمے کهول خو ډېر ا ـ زاد خيالـه دے. دوي د دې خبرو ډېر کم کوز خيال خاطر او لحاظ ساتي. او دا هم د مغربي يلغار (الیکټرانک میډیا) اثر دے. بلکې د کله نه چې د حجرې مدرسه ختمه شوې ده نو زلمو نۀ اداب زده کړل نۀ اخلاق او نۀ پښتو.

قيصه:

وايي چې داسې بخوا په زمانه کښې د يو هلک وادۀ وشو. د نکاح په وخت هغه زلمے زيات تلوار کندے وۀ. د مولانا صېب د وپنا سره سم تړلې هغه هلک هم د نکاح د قبلولو اعلان وکړو. د محفل خلق ټول حېرانه پاتې شول او خاص بيا د زلمې دوستان ډېر په غصه کښې وو. زلمې ته يې وئيل چې يار! دومره بې شرمه شوې چې داسې زر دې بۀ وکړل. خلق خو تر نيمې شپې پورې انتظار کوي. هغه زلمې ورته وئيل چې ورونو! دا يو اسلامي ، قانوني او شرعي کار دے. نو بيا په شرح کښې څۀ شرم دے. او داسې دا خبره د هغه وخت نه په متل مشهوره شوه.

دا متل نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې يو بنده داسې څۀ قانوني او شرعي کار وکړي. خو که د پښتو په نېز ورکښې څۀ لږه ډېره بې شرمي ښکاري نو هغه بنده ته يار دوست يا نور خلق لعنت ملامت ورکوي چې ګنې تۀ دومره بې شرمه شوې چې دا کار يا دا خبره دې داسې وکړه. نو هغه بنده ورته خپله صفائۍ کښې دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "په شرح کښې څۀ شرم دے".

چـــــــــــې د ذرې شـــــــــــک پکښـــــــــــې نشـــــــــــته
داســـــــې پـــــــه شـــــــرح کښـــــــې بيـــــــا څـــــــوک کـــــــوي شـــــــرمونه

په شملګۍ دې شوم غلطه
په کور دې راغلم نۀ دې خر وؤ نۀ يې کته

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د سمې (مېداني) علاقې يو سړے د سوات علاقې ته د څۀ کار دپاره ورغلے وؤ. چرته په يو کلي کښې ورباندې شپه راغله. د کلي خلقو ورله ډېر قدر عزت ، خاطر مدارت او ښۀ مېلمستيا وکړه. د هغوي د خلوص او مينې محبت له کبله دې مېلمه هلته دوه درې ورځې تېرې کړې او بيا خپل وطن ته راستون شو. بيا به چې کله هم دا غړے سوات ته ورتلو نو په هغه کلي کښې به يې څو ورځې تېرولې. دې بنده په هغه کلي او علاقه کښې دا خبره مشهوره کړې وه چې ګنې دے د خپل کلي ملک دے. خپل کړۀ وړۀ او جامه پېزار يې داسې جوړ کړي وو چې هغه خلقو ورباندې هم د ملک باور او يقين کولو. دا ملک صېب چې به کله ورغے نو د وړاندې نه به يې زيات قدر عزت وؤ. او داسې په هغه علاقه يعنې د سوات خلقو ته دے په ملک مشهور شو. وايي چې په دغه کلي کښې يوه ځوانه کنډه ښځه وه. ملک صېب په چل هنر د هغې سره وادۀ وکړو. او هغه ښځه يې د ځانه سره خپل کلي ته راوسته. دلته په کلي ، نۀ دے خان وؤ او نۀ ملک. يو ګزاره حال وګړے وؤ. يوه بوډۍ مور او يو دا وګړے وؤ. مور خو يې د اينګور په ليدو ډېره خوشحاله شوه. خو اينګور چې کله کور ته وکتل نو تندے ګونجې او پوزه چونې شوه. مياشت خو د اوله معلومېږي خو بيا هم دې ښځې دوه درې ورځې صبر وکړو. او چې د دې کو راو کلي په سبا بېګاه پوهه شوه. نو ډېره غمژنه او په خپلو کړو ستومانه وه. يوه ورځ ډېره زهيره په سوچونو او فکرونو کښې ډوبه ناسته وه چې دا سړے کور ته راغے د ښځې نه يې پوښتنه وکړه چې خېر خو دے ولې داسې زهيره يې. هغې ښځې ورته مخ راوړو. او د ډېر افسوس او ارمانه سره يې وئېل چې: "په شملګۍ دې شوم غلطه ، په کور دې راغلم نۀ دې خر شته نۀ يې کته". يعنې مطلب دا چې تا خو به لکه د ملکانانو هر وخت شمله جګه جوړه کړې وه. چې زۀ ملک يم. او دلته دا حال دے چې تا کره خو يو خر قدرې څۀ چې د خر کته هم نشته. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا جمله د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا هم په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک داسې غريب مسکين بنده په محفل کښې وچتې خبرې کوي يا لاپې او ډوزې وولي او چې د هغۀ د حېثيت چا ته پته وي يا ورته ور وستو پته ولګي نو ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "په شملګۍ دې شوم غلطه ، په کور دې راغلم نۀ دې خر وؤ نۀ يې کته".

پـــــــــــه پـــــــــــردي کـــــــــــور ســـــــــــړے ملـــــــــــک وي
خپلـــــــــــه بيـــــــــــا ورک وي کـــــــــــه يـــــــــــې ډېـــــــــــر کـــــــــــړې تپوســـــــــــونه

په کمزورو زورورد د خانانو چم ته راشه

زمونږ د پښتونخوا په سيمه کښې د پخوا راسې خانۍ راروانې دي. په هر کلي کښې د خانانو کورنۍ مېشتۀ دي چې په خانخېل قام يادولے او بللے شي. خانان د کلي مالکان وو ځکه چې تخمينا ً په سلو کښې اتيا برخې جائېداد به د خانانو وو. او باقي شل برخې به د ټول کلي په شريکه وو. د کلي غريب وګړي به د خانانو زميدار ، دهقانان او مزدوران وو. او يا به د خان ټوپک مار وو. نن هم داسې کلي شته دے چې د چا خان په نامه جوړ ، ياد او پېژندے شي. ځکه چې هغه کلے ټول په ټوله د خانانو جائېداد وي. او د کلي غريب خلق د خان کهنډريان او نوکران وي. د دښمنو لکبله او ځنې خانانو به هسې د خانۍ د رعـ ـب داب ساتلو دپاره ټوپک مار (سېکورټي ګارډ) او

بدمعاشان ساتلوي به د خان د خ ـ لي نوکران او د حکم غلامان وو. د خان په حکم به تړل او پرانستل وو. داسې به د خان په خلقو رعب داب ، خاني او زورورتيا چلېدله. او د دې نوکرانو او غلامانو به د ژوند ګاډے چلېدلو. د خان يا د خانانو دا زورورتيا او رعب داب هوښيارانو په دې متل کښې ستاييلے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که څوک ظالم غړے په چا کمزوري او غريب باندې زور ظلم او زياتے کوي. نو هغهٔ ته اشاره ده چې د خپل سيال سره يا د خپل جوړ سره مقابله شه. نو پته به دې ولګي چې تهٔ څومره اوبو کښې يې. يعني خان چې خپله زورور دے يا هغه هم ځان ته څهٔ وئي. نو هغهٔ ته ورمخامخ شه نو هله به دې زور معلوم شي ، يا هله به ستا پته ولګي يا هله به دې ايمان معلوم شي.

متلونه په خپل ځائے د کاڼي کرښې دي ځکه چې دا د هوښيارانو د عمرونو د تجربو نچوړ وي. دا متل نن هم د هغه زړو معنو او مطلب سره تړون خوري ، يا هغه مطلب ترېنه اخستے شي. خو زما په خيال اوس په زړو ټکو (لفظونو) سره وئېل او يادول صحيح نهٔ دي. ځکه چې نن سبا نهٔ هغه خانان شته او نهٔ هغه خانۍ پاتې دي. زمانه ډېره بدله شوې ده. د تعليم او علم له برکته د خانانو د راج او د نوکرۍ ، غلامۍ هغه دوران ختم شوے دے. نهٔ هغه ټوپک مار شته او نهٔ هغه رعب او دبدبه. نن هر سړے په خپل ځائے خان دے.

په ګڼو قصابانو کښې غوا مرداريږي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو سړي غوا ناجوړه وه. هغهٔ د قصاب سره د غوا سودا جوړوله. مالک دا هڅه کوله چې په څهٔ چل وزن ناروغه غوا په قصاب ګرانه ورتين کړي. او قصاب په دې تکل کښې وؤ چې څنګه به دا بنده په پاؤ کښې ووهي. د دوي خبرې اترې جاري وې چې د پاسه ورباندې يو بل قصاب هم د سودا دپاره د هغه سړي کور ته راغے. دواړه قصابان يو شول او خپلو کښې يې صلاح مشوره کوله چې سودا په څو خلاصه کړي. دې دوران کښې د غوا حالت خراب شو. غوا مرګ ته نزدې وه مالک قصابانو ته وئېل چې غوا حلاله کړئ. دواړو قصابانو غوا يو بل ته سپارله. يو وئېل چې تهٔ يې حلاله کړه او بل وئېل چې لالاستا حق دے. تهٔ يې حلاله کړه. د قصابانو په دې تکرار کښې د غوا نه ساه وخته او مرداره شوه. د غوا مالک چې ډېر خفه او غصه وؤ. نو د ډېر قهر ، غصې ، خفګانه او د افسوسه سره يې دا خبره د خ ـ لې وخته. چې هائے قسمته! په ګڼو قصابانو کښې مې هم غوا مرداره شوه. او داسې دا خبره بيا مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې په څهٔ کار کښې د ضرورت او حاجت نه زيات خلق يعني په ګڼ شمېر ګډون وکړي او د هغه ګڼو کسانو په شرکت سره هغه کار وران او خراب شي يا سر ته نهٔ شي. نو په داسې موقع مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "په ګڼو قصابانو کښې غوا مرداره شوه".

د قصـــــــابانو څـــــــهٔ ګنـــــــاه شـــــــوه
داســـــــې حـــــــالات موليـــــــانو ډېـــــــر ژړلـــــــي دينـــــــه

په مړ سپي زړونه بدوئ

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو زميدار سړي ډېر ښهٔ او بد سپے ساتلے وؤ. دا سپے د څوکۍ هم ښهٔ وؤ او ښکار به يې هم کولو. د دې زميدار په ورشو کښې دېره وه. هغه سپے به هم هلته د پټو او د مال ډنګرو څوکۍ کوله. يوه ورځ يو بل زميدار وګړے دغې سپي والا پسې ورغلو ، ورته يې وئېل چې زما په پټي ګيدړان عادت شوي دي. ګڼي او جوار يې راله تباه کړل. هغه سپے دې يو څو ورځو له راکړه. چې د وږو دا موسم تېر شي نو بيا به يې واپس کړم. هغه سپي والا سړي ورته وئېل چې وروره هغه سپے خو مړ شوے دے. دې غوښتونکي ورته وئېل چې هسې بهانې مهٔ جوړوه. د يو څو ورځو سوال دے. بيا به يې واپس کړم ، منت زاري او ګيلې مانې يې ورته شروع کړې. هغه د سپي مالک چې تنګ راغے نو ورته يې وئېل چې خانه سپے خو مړ دے او که مړ نهٔ وے نو هم مې نهٔ درکولو. په دې خبرو اترو کښې د دوي تکرار او شور زيات شو. دې دوران کښې ورباندې يو بل زميدار راغے. هغهٔ ترېنه پوښتنه وکړه چې هلکو څهٔ چل دے. ولې يو بل ته د مرګه تېر يئ. دې سپي والا ورته ټوله قيصه تېره کړه. چې سپے مړ دے او دے زما په خبرو باور نهٔ کوي.او هغې بل ورته خپله ژړا فرياد وکړو. چې سپے څهٔ دومره خبره نهٔ ده خو د دهٔ په دې نيت باندې خفه او غصه يم. هغه درېمګړے چې د حاله خبر شو نو ورته يې وئېل چې کم عقلو خرو! په موقع هېڅ هم نشته ، تر مېنځه مو يو سپے دے او هغه هم مړ دے.

په مړ سپي زړونه مۀ بدوئ. څۀ خپل کار کوئ او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې دومره په نه څۀ خبره ، يا دومره په لږه خبره جنګ جګړه کول.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي. جرته چې څوک کم عقل خلق په نه څۀ خبره يا په ډېر لږ شي زړونه بدوي او يو بل ته بېهې راکاږي ، يا د جا په لمسون او دروغو وېنا سره د جا تر مېنځه خبره وړانيږي نو مشران او صلح کولو والا ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې په قلاره شئ يا په قلاره کښېنئ ، هسې! "په مړ سپي زړونه مۀ بدوئ".

څـــــوک چـــــې پـــــه مـــــړ ســـــپي دښـــــمني کـــــه
داســـــې بـــــه وي لکـــــه چـــــې خـــــدائے وهلـــــي وينـــــه

په مړه خپته مرګ هم ښۀ دے

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. ی يې دا ده چې ګڼې په خپته مور وي او مرګ راشي نو هم خېر دے. خو د لوړې نه مړۀ کېدل يا په لوړه کښې مړۀ کېدل ښۀ نۀ دي. او مطلب ترېنه دا دے چې اوړے او مور د غريبې او مالدارۍ دپاره هم استعماليږي. يعنې د جا غريب غړي په حقله داسې هم وئيلے شي چې دا فلانے خو نن سبا ډېر وړے دے يا د لوړې مړي يا په لوړو سر دے يا وړې تړے دے. يعنې مطلب دا شو چې ګڼې زيات غريب او مسکين دے. داسې د مور نه هم مالداره مراد دي. يعنې د جا په حقله داسې هم وئيلے شي چې مارۀ دي يا د مور تېر نه دے يا نن سبا ښۀ مارۀ دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې څوک (مور) مالدار وي. نو که هغه ښۀ ناروغه هم شي نو هم ورته علاجونه او دارو درمل مېلاويږي. يعنې په علاج کښې ورته څۀ کراؤ او تکليف نۀ وي. او چې مر شي نو بيا هم خلق وايي چې عظمته! مړي داسې وي. او بل خوا وړے غريب بنده اول د غريبۍ د لاسه په تکليف او غمونو سر وي او چې ناروغه شي نو بيا ورسره د علاج او دارو درملو څۀ پېسه ټکه او اسره نۀ وي. نو څکه يې مرضونه ښۀ ورنځوي او وکړوي. يعنې د غريبو خلقو مرګ هم په لوئے تکليف او کراؤ وي.

دوېم مطلب ترېنه زيات خوراکي (پېټو) ، خودغرضه او بد حرصه خلق دي. يعنې داسې چې څوک زيات خوراک کولو والا وي ، يا څوک زيات بد حرصه وي يا څوک غرضي چې په هر څه خپته وراجوي ، يا هر څۀ خپتې ته وراجوي. نو د داسې غړو دا مدعا او منشا وي چې خپته ډکه کړي نو که بيا مرګ راشي نو هم خېر دے. يعنې هغوي صرف د خوراک دپاره ژوندي وي. او که څوک مشر او هوښيار بنده ورته نصيحت کوي چې يار لږ خوره نو تل خوره او دا ډېر به دې کندېر شي. نو هغه (پېټو) بنده ورته په خواب کښې داسې وايي چې پرېږده يار! پاتې دنيا ده. "په مړه خپته مرګ هم ښۀ وي".

په مېنه غز نۀ لري

دا يو عام متل دے خو په امروزه ژوند کښې ډېر نۀ استعماليږي. مېنې نه معنه ، ی پوله بټے ، جائېداد او دوتر دے. يعنې د زمکو وڼ ته مېنه هم وئيلے شي. او غز يوه ونه ده. دا ونه پخوا په زمانه کښې ډېره زياته وه او نن سبا ډېره کمه کوزه ده. يعنې خال خال جرته لېدے او کټ شي. د غز ونه يا لرګے د کار او قيمتي شے نۀ دے. يعنې نۀ يې لرګے د څۀ خاص کار دپاره استعماليږي نۀ مېوه لري او نۀ يې څۀ خاص سېورے وي. بس د خشاک يعنې د سوزولو دپاره پکار راځي. د دې نه دا معلومه شوه چې غز يو بې کاره او بې قيمته يا کم قيمته ونه ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ستا په زمکه يا پوله پټې (مېنه) خو يو بې کاره يا ناپکاره (غز) شاني لرګے هم نشته. يعنې تۀ خو دومره غريب يې چې تا سره خو هېڅ نشته. ستا د زمکو فصلونه څۀ ، چې په پوله دې د غز غوندې کم تر او وړيا يوه ونه هم نشته او هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې استعماليږي جرته چې څوک داسې خپل مال دولت د نورو خلقو نه پټ ساتي. او ځان غريب حسابوي يا خلقو ته ځان غريب څرګندوي نو خپل حالت او کېفيت په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي چې يار! زۀ خو د خدائے کبير فقير يم. "زۀ خو په مېنه غز هم نۀ لرم" ، يا چې څوک داسې په ربشتيا ډېر غريب مسکين وي نو د هغۀ په حقله داسې وئيلے شي چې: "په مېنه غز هم نۀ لري".

په هوا کښې محلونه جوړول

دا د پښتو ژبې يوه محاوره ده چې د لږ شان بدلون سره د متل په توګه هم استعمالېږي. يعنې ، ی يې د الفاظو نه څرګنده ده. خو مطلب يې جدا دے. په هوا کښې محل جوړول څۀ په ريښتيا سره جوړول نۀ دي. بلکې دا د خيالي دنيا يو تصور دے. کله کله بنيادم په داسې سوچونو او فکرونو کښې ډوب شي. چې هغه په هوا يعنې په خيالي دنيا کښې کرښې خانله بنکلي ا ۔ بادوي کله کاروبار او روزګار جوړوي او کله کله د دې دنيا نه بېرته لرې چرته د بلې دنيا سېل کوي. او کله پکښې د جنت نظارې او نندارې هم کوي. مطلب او غرض دا دے چې کله په انسان داسې چپه او دوره راشي هغه په خيالونو کښې خپله جدا دنيا ا ۔ باده کړي. او چې کله د هغې خيالي دنيا نه حقيقي ته راواپس شي او بيا هم د هغې دنيا خبرې کوي چې زۀ به دا اوکړم يا دا مې کړي دي يا داسې کول غواړم او دا به جوړ کړم. لکه د شېخ چلي چې خپله دنيا ابادوي او ورانوي. نو د داسې خلقو هغه سوچ فکر ، حالات او خيالات مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړې او مشهور کړي دي. او وايي چې دا داسې شوه لکه چې په هوا کښې محل ابادوي.

نن سبا دا متل هم د داسې خلقو په حقله استعمالېږي چرته چې څوک داسې لکه د شېخ چلي خپله خيالي دنيا ابادوي او ورانوي. او چې حقيقت ته يې وېلې نو بيا سودم ته شين وي. په داسې وخت او داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه دا څۀ "په هوا کښې محلونه جوړوي".

په نامه يې اباد د شېخ چلي شي
څوک چې هوا کښې محلونه جوړوينه

په يو تيکي کښې دوه ټ ، وړې نۀ ځائيږي

تيکے د چاقو ، چارۀ او د ټ ، وړې هغه کسورې (کبس) ته وئيلے شي چې دا څيزونه پکښې پراتۀ وي. يعنې چې چارۀ او ټ ، وره په استعمال کښې نۀ وي. نو په تيکي کښې پراتۀ وي. تيکے د چارۀ او د ټ ، وړې په حساب يعنې په کچ مېچ سره برابر جوړېږي. يعنې يوه ټ ، وره چې څومره اوږده او پلنه وي نو هومره يې تيکے وي. نۀ اوږد او پلن او نۀ لنډ او تنګ. د دې نه دا خبره معلومه شوه چې کله تيکے په داسې کچ مېچ جوړ وي چې ورکښې صرف يوه ټ ، وره ځائيږي يا راتلے شي. يعنې په يو تيکي کښې يوه ټ ، وره ځائيږي دوه نۀ شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کله په يو وخت دوه يو شان کارونه نۀ کيږي يا په يو وخت په يو ځائے کښې دوه مشران (باچايان) نۀ شي جوړېدے. او هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې په يو ځائے کښې يعنې د کور ، د يوې ډلې (تنظيم) يا د څۀ اداري مشران دوه شي ، يا کن شي نو د هغه کور ، اداري او ډلې نظام او انتظام دواړه کډ وډ او تباه برباد شي. يعنې نۀ د يو ملک دوه باچايان جوړېدے شي او نۀ په يو کلي کښې دوه ملکانان. او چې څوک هم د فطرت د دې فلسفې نه خلاف کار کوي. نو هوښياران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې دا څۀ د کم عقلو کار کوے "يو تيکي کښې دوه ټ ، وړې نۀ ځائيږي". او په دې حقله جمشيد د توپې څۀ ښۀ وئيلي دي چې:

نۀ په يو تيکي کښې دوه ټ ، وړې ځائيږي
نۀ به جوړ شي په يو ملک کښې باچايان دوه

په يو کتاب څوک نۀ م ، لا کيږي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده چې يو ماشوم په جومات کښې د م ، لا سره دينې سبق وئيلو. د دې ماشوم په وړاندې به کله کله چا د م ، لا صبب نه د څۀ مسئلې پوښتنه کوله. م ، لا صبب به يو کتاب راواخستو او د هغې نه به يې د هغوي د مسئلو ځواب ورکولو. داسې دې ملا څو ځله وليدل چې م ، لا صبب به د هرې مسئلې ځواب د هغه يو کتاب نه ورکولو. اخر دې ماشوم هم دا سوچ وکړو چې زۀ هم دغه يو کتاب ووايم يا خلاص کړم نو م ، لا به شم. په بله ورځ چې ماشوم جومات تولګو م ، لا صبب ته

يې وئېل چې استاذ جي زۀ نور سبق نۀ وايم. ماته هم د دغې کتاب نه سبق شروع کړه. نورې سپارې او کتابونه پرېږده. ملا ترېنه پوښتنه وکړه چې بچے خېر خو دے څۀ چل درباندې شوے دے. هغه ماشوم ورته ډېره په سادګۍ سره وئېل چې استاذ جي تا خو هم دغه يو کتاب وئېلے دے. چې څوک راځي نو تۀ ورله د دغې کتاب نه ځواب ورکوئې به هم دغه کښې سبق ووايم چې م ملا شم. ملا صېب د ماشوم په سادګۍ م سکے شو او ورته يې وئېل چې بچيه! يو کتاب وئېلو څوک نۀ م ملا کيږي. اول به په قلاره دا واړه کتابونه خلاص کړې نو بيا به هله دې کتاب کښې سبق وائې او چې دا ټول کتابونه دې نۀ وي وئېلي نو م ملا نۀ شې جوړېدلے. او وايي چې داسې د هغه وخت نه د م ملا صېب دا قول په متل مشهور او مطلب ترېنه دا دے چې ګټې په لږ سبق ، لږ هنر او په لږه زده کړه نۀ څوک م ملا ، نۀ استاذ او نۀ هنرمند جوړېدے شي. نن سبا هم په داسې موقع استعماليږي چرته چې څوک غړے دوه جماته پاس کړي او د ځانه يې بيا لقمان حکيم يا افلاطون جوړ کړے وي نو هوښياران ورته داسې وايي چې هلکه دوه جماته دې څۀ وئېلي دي چې د ځانه دې راته لوئے م ملا جوړ کړے دے په "يو کتاب څوک نۀ م ملا کيږي".

په يو هندو بټ خېله نۀ ورانيږي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يو قيصۍ مشهوره ده. وايي چې کله پاکستان او هندوستان بيل بيل ملکونه جوړ شول نو د هندوستان د علاقې نه مسلمانانو پاکستا ته هجرت کولو او د پاکستان نه هندوانو هندوسان ته. داسې د پښتونخوا نه هم ډېرو هندوانو هجرت کړے وؤ. د بونېر او سوات په علاقه هندوان زيات مېشتۀ وو. د دلته نه هم ډېرو هندوانو هجرت کړے وؤ او څۀ لږ ډېر پاتې وو. چې هغوي هندوستان ته تلل نۀ غوښتل. او هم دلته پاتې شول. داسې په بټ خېله کښې هم يو هندو پاتې وؤ. چې هغۀ هجرت نۀ کولو. د بټ خېلې څۀ زلمي راجمع وو او دا هندو يې مجبوروو چې دا کلے او علاقه پرېږدي. په دې خبره چې کله مشران خبر شول نو هغو د هندو نه تپوس وکړو چې ستا څۀ مرضي ده؟ هندوستان ته تلل غواړې او که دلته وسېدل. هغه هندو ځواب ورکړو چې دا زما د پلار نيکۀ وطن دے او زۀ هم دلته استوګنه غواړم. هغه مشرانو ورله اجازت ورکړو چې هم دلته په خپل کور ودانه اوسه. په دې فېصله هغه زلمي رضا او خوشحال نۀ وو. زلمو مشرانو ته وئېل چې دا هندو دے. دے به شرارت او شېطانت کوي او دا زمونږ کلے به وران کړي. په مشرانو کښې يو مشر هغه زلمو ته د نصيحت او پوهې په توګه وئېل. چې ځوانانو خېر دے وي به ، دا يو تن دے او په يو هندو بټ خېله نۀ ورانيږي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې ګټې يو کس په ډېرو غړو يا په ډله بر کېدے يا وړ کېدے نۀ شي ، يا په يو غړي نۀ پوره او نۀ نيمګړے. يعنې که په ډېرو کښې يو تن يا يو او لږ شے مېلاؤ شي نو هم پرې څۀ نه. او که ترېنه جدا شي نو هم پرې څۀ فرق نۀ پرېوځي.

نن سبا په داسې حالانو کښې استعماليږي چرته چې داسې يو بنده چې هغه نۀ د چا د ښې وي او نۀ د چا د بدې. نو که هغه د چا سره په څۀ کار کښې ملګرتيا او مرسته کوي يا شريک وي او که نۀ وي. نو هم د هغې ډلې يا د هغه بنده ورباندې څۀ پوره نيمګړے نۀ وي. نو په داسې وخت د هغه بنده په حقله دا متل وړاندې کولے شي او داسې وايي چې: "په يو هندو بټ خېله نۀ ورانيږي".

په يوه کښې مې هم نۀ پرېږدې

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے بل وطن ته مزدورۍ له تلے وؤ. څۀ موده پس چې واپس راتلو نو د ځان سره يې د کور او د کور والو دپاره څه سامان راخستے وؤ. هغه سامان سړي په سر باندې پنډ کړے کلي ته راروان وؤ. په لاره ورته د کلي يوه بوډۍ مخې له ورغله. د دعا سلام نه پس ورته بوډۍ وئېل چې خانه دومره شوم شوې. ځان دې په وزن مړ کړو ، دا سامان به دې په خر ټټو په کرايه را وړے وؤ څۀ موده پس بيا هغه سړے واپس کلي ته په چ تهۍ راروان وؤ. دا ځل ورسره سامان ډېر وؤ نو په کرايه يې ټټو والا ته په حواله کړو. کله چې سره د سامانه دا سړے کلي ته ورنزدې شو نو بيا ورله هم هغه بوډۍ په مخه ورغله. د سلام دعا نه پس ورته بوډۍ وئېل چې اے خانه! دومره نيازبين شوې. چې دا سامان هم تا په سر نۀ شو راوړلے. هغه وخت ورته هغه سړي ډېر په افسوس سره داسې وئېل چې تروري! په يوه کښې مې هم نۀ پرېږدي. تېر کال مې په سر راوړلو نو تا راله د شومتيا پېغور راکړے وؤ او سخ کال راله د نيازبينتوب. او داسې

د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب يې هم دا دے چې کمې د ځنې خلقو دا پوخ عادت وي چې سړے په يوه کښې هم نۀ پرېږدي.

نن سبا هم داسې حالات په هر لوري ليدے او کټے شي. دا خلق نۀ سړے مور ليدے شي او نۀ اوړے. که ښۀ کړې نو هم د خلقو خبرې دي او که بد کړې نو هم. که ښۀ واغوندې نو وايي چې مست شو او که کڑاره کوې نو وايي چې شوم دے. په داسې وخت او حالاتو کښې مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "دا خلق څوک په يوه کښې هم نۀ پرېږدي".

پياز دې وي خو په ناز دې وي

هغه د دروغژن خبره چې نن سبا خو پياز هم سړۀ زر شوي دي. يعنې دومره کران دي چې غريب خلق نن سبا د پياز و سره ډوډۍ خوراک هم نۀ شي کولے. پخوا په زمانه کښې پياز يو معمولي او ارزان شے وۀ که نور به هيڅ نۀ وۀ نو غريبو خلقو به د پياز او شوملو سره د خټې اور مړ کړو. اکثر به زميندارو خلقو په پټو کښې کړل. او په جم کاونډ کښې به يې وېريا وېشل. او داسې به د غريبو کڑان د زميندار د چاټوري په شوملو او د پټې په پياز روان وۀ. د پياز و دا معمولي قدروقيمت ، ارزاني او د هر چا کره شته والے هوښيارانو په دې متل کښې ستاييلے دے او مطلب يې دا دے چې کمې جرته چې څوک د چا مېلمه شي نو که د غوړو زېرو توان او طاقت نۀ وي نو خبر دے تش پياز او ډوډۍ دې وي خو چې په قدر او عزت وي. يعنې په صفا نيت او رون تندي وي. او که د کور به نيت خراب او تندے چوڼے وي نو که د مېلمه مخکښې غوړي شکري پراتۀ وي خو هم يې نوري د مرۍ نه لاندې نۀ تېريږي. او چې کومه تېره شي نو هغه داسې وي لکه زهر. ځکه چې خلق تندي ته کوري تالي ته نه. او چې په روغ صفا نيت د چرګانو په ځائے معمولي خوراک لکه پياز هم وړاندې کړے شي نو مېلمه هم په طبع او مزې سره ډوډۍ وخوري. او کور به هم خوشحاله شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. نن سبا هم چې مشران جا ته نصيحت کوي نو داسې وايي چې هلکه دا خبته لاندې ده د باندې نه. دې کښې که دې هر ځۀ وروا جول نو پټه يې نۀ لکې. خلق خوراک پسې نۀ خي. بلکې خپل قدر ، عزت ، صفا نيت او رون تندي ته کوري. خبر دے! "پياز دې وي خو په ناز دې وي".

پېريانو ته غزنے ځۀ دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه دوستان وو. هغه يو دوست يې دا دعوى ، کوله چې د هغۀ د پېريانو سره دوستانه ده. يوه ورځ دواړو په ورښو کښې مال ډنګر ځرول. چې هغه يو دوست دې پېرياني ته وټبل چې هلکه نن زۀ ستا دا پېريان کورم چې دروغ دي که رښتيا. هغه پېرياني ورته وټبل چې خدمت وايه که پوره نۀ شو نو بيا ستا پرے او زما غاړه.هغه ازمېښت کولو والا ورته وټبل چې ځۀ داسې نااشنا شے راباندې اوخوروه چې ما په ژوند کښې نۀ ليدلے وي او نۀ خورلے. هغه پېرياني ورته ځواب ورکړو چې دېره ښۀ ده بس انتظار کوه. څه لږه شېبه يې سترګې پټې کړې وي او داسې ښکارېده لکه چې د چا سره په چپه خ ، له خبرې کوي. ځۀ شېبه پس د دواړو مخکښې په دسترخوان رنګ رنګ او قسم قسم خوراکه پرته وه. دواړو ورته ځۀ شېبه حېران په بکو بکو کتل. او بيا يې چې خوراک شروع کړو نو هغه ټول ځېزونه په رښتيا داسې وو چې دوي دواړو جرته په ژوند کښې هم نۀ ليدلي وو او نۀ خورلي. خېردواړو په خوراک کښې هم ښۀ انصاف وکړو. د ډوډۍ نه پس ورته هغه ازمېښت کولو والا وټبل چې اشنا خبره خو ستا رښتيا شوه. خو دا راته ووايه چې دا ځېزونه راغلي د کومه وو. هغه پېرياني ځواب ورکړو چې دوستان وايي چې دا مو د غزني د باچا د محل نه راوړلي وو. هغه دوست يې لا زيات حېرانه شو او په حېرانتيا سره يې وټبل چې خانه نور دې هر ځۀ منم خو دا د غزني خبره مې د مرۍ نه نۀ تېريږي. جرته دا د هشتنغر ورشوکاني او جرته غزنے. دا خو پوره د مباشت مزل دے. نو هغه دوست ورله ځواب ورکړو چې يار! پېريانو ته غزنے ځۀ دے. يعنې هغوي د سترګې په رپ کښې کابل او غزني ته رسي. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه او مطلب يې دا دے چې کمې لکه د پېريانو پشان دېر زر او په منډه ځۀ کار ختمول يا پوره کول.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي جرته چې داسې ځوک دېر چاک چوبند او چوست بنده وي. چې هر کار په ترړه سر ته رسوي ، يا چې ځۀ کار پسې اونښلي نو هله يې پرېږدي چې پوره يې کړي. نو د داسې وګړو په حقله خلق داسې وايي چې دوي خو د

کار د ومره بد دي يا داسې په منډه کار ختموي لکه چې د پېريانو بچي دي ، يا لکه چې د پېرانو د ذاته دي. او دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې هسې پېريان دي او: "پېريانو ته غزنے څۀ دے".

پېسه په غر کښې لار وباسي

غالبا ـ دا متل د هغه زمانې څېړنه کوي کله چې په غرونو کښې لارې او سړکونه جوړول شروع شوې وو. هغه دوران کښې دا يو عجيبه ، ګرانه بلکې د نۀ منلو خبره ښکارېده ، يا ګڼلے شوه ، چې ګڼې په غر کښې هم لاره يعنې سړک ايستلے يا جوړولے شي. د هغه زمانې هوښياران او مشران که نن وے او دا نے سائنسي دور او د دنيا پرمختګ يې ليدلے وے نو بيا کېدے شوه چې نن دا متل په دې طرز وئېلے شوے چې: "پېسه په خلاکښې ، يا پېسه په سمندر کښې لار وباسي". خېر په دې متل کښې د پېسې او د غر ذکر شوے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که غر لوړ دنګ ، مضبوط او طاقتور دے. نو په پېسه کښې هم دومره زور او طاقت دے. چې غټ او مضبوط غر هم رېزه رېزه کړي ، سر ورله خور کړي لارې ګودرې او سړنګونه ورکښې جوړ کړي. د پېسې او د غر دا مقابله يا د طاقت او قوت دا تفاوت مشرانو په دې متل کښې ستايېلي دي. او مطلب ترې نه دا دے چې ګڼې پېسه ډېر طاقت او زرو لري. يعنې په پېسه باندې د ګران نه ګران کار کولے او ايستلے شي او په داسې موقعه استعمالېږي چرته چې چا ته څۀ داسې ګران کار پېښ شي چې په ظاهره هغه د نۀ کېدو (ناممکنه) وي ، يا د نۀ منلو ښکاري. نو هغه غړي ته هوښياران داسې وايي چې هلکه که پېسه درسره وي نو بيا ورک شه غمونه ، ځکه چې: "پېسه په غر کښې لار وباسي" او نن سبا اکثر چې د چا څۀ کار د سرکار په محکمو او ادارو کښې بانډه شي نو داسې خلقو ته هغه محکمې والا خپله لاره سموي او داسې وايي چې خانه! تۀ هم لږ جېب اوګروه ، يا جېب له لږه هوا ورکړه ځکه چې: "پېسه په غر کښې لار وباسي". او په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې وئېلے شي چې:

"پيسه پهينک تماشه ديکهه"۔

پېسه د لاس خيرے دے

مال دولت يعنې پېسه ټکه د لاس خيرے دے. مطلب دا چې خيرے په لاسو نۀ ټينګېږي. ساعت کښې لاس خيرن وي او چې يې ووينځې يا يې د يو بل سره اومږې نو خيرے ختم شي او لاړ شي. يعنې خيرے هغه شے دے چې په ورځ کښې څو ځله په لاسو راځي او ځي. مشرانو د خيري دا حال يا حالت د پېسې ټکې سره په مثال ورکړے او تړلے دے. او مطلب يې دا دے چې ګڼې مال دولت هم لکه د خيري پشان دے. کله بنيادم د پېسو سره لوبې کوي او کله يې جېب بالکل تش تور او خالي لاس شي. يعنې پېسه بې اعتباره شے دے ، کله دومره راشي چې سړے باچا شي او کله داسې خالي لاس لکه فقير. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستايېلے او مشهور کړے دے.

نن سبا يې مشران اکثر د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي. په خصوصي توګه هغه مغروره خلقو ته کوم چې په مال دولت ډېر ناز او غرور کوي. نو هوښياران ورته وايي چې په مال دولت دومره مۀ نازېږه يا دومره غرور مۀ کوه ، مال دولت ډېر بې وفا شے دے او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "پېسه د لاس خيرے دے".

دا چاتـــــــه ځـــــــان چاتـــــــه ايمـــــــان شـــــــي
چـــــا تـــــه خـــــوږۀ پېســـــه د مـــــوره پـــــلاره شـــــينه

پيشو تر هغه شېخه چې په غوښه نۀ ده پېښه

پيشو په ظاهره يو معصومه او بې ضرره ځناور ښکاري. خو په خوي خصلت ډېره چالاکه او مکاره ځناور دے. خلق يې په کورونو کښې ساتي هم او په ځنګلو او ورشو کښې هم ليدے او کتے شي. او په لارو کوڅو کښې لاروۍ (کوڅه ډبې) هم ګرځي. ډېره هوښياره او مينه ناکه ځناور دے. هسې خو دا هر څۀ خوري خو په غوښه او پيئو ډېره مئينه وي. د پيشو سره نور هم ډېر متلونه جوړ او تړلي شوي دي. دا متل هم د پيشو د يو عادت پورې جوړ شوے دے. او مطلب يې دا دے چې ګڼې که پيشوډېره نېکه (شېخه) او پرهېزګاره وي خو

چې غوښه ووينې يا ورته مېلاؤ شي نو بيا ترېنه ټوله شېخي هېره وي. يعنې چې تر څو يې څۀ ليدلي نۀ وي نو ښۀ نېکه او شېخه ده خو که غوښه يا بل د خوراک شے يې وليدو نو بيا هر څۀ هېر دي. يعنې ښۀ او بد حلال او حرام يا تپوس پوښتنه پکښې نۀ وي. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے دے او د پيشو مثال يې د داسې خلقو سره ورکړے دے چې څوک د ناکامه شېخان وي ، يعنې چې لاس او وس يې نۀ رسي نو د ناکامه نېک او شېخ وي او که څۀ په لاسو ورغلۀ نو بيا پکښې شېخي ، نېکي او مسلماني نۀ وي. بيا ترېنه هر څۀ هېر وي. يعنې چې څۀ مومي ، که حلال وي او که حرام نو خېټه پرې وراچوي ، يا که ډالۍ او بډهۍ مېلاويږي نو بيا شېخي مېخي نۀ ټسوي. لنډه دا چې چا له هم څۀ په لاسو ورشي نو هغه بيا خپل وس کوي او چې چا ته څۀ موقع نۀ مېلاويږي نو هغه د ناکامه شېخ وي. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د ناکامه شېخ جوړ شوے وي او د هغۀ پېژندګلو خلق د هغۀ په کردار او عمل خبر وي. نو هغوي ورته د طنز ، پېغور او لعنت په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "پيشو ده تر هغې شېخه چې په غوښه نۀ ده پېښه".

هر ځائے لاس د بري کار دے د کوتک والا ده مېښه
که دې ږيره چا له ورکړه بيا وباسي يې د وېخه
دا چې لاس کښې د حاجي دي دا تسبيح غاښ د هاتي دي
پيشو ده تر هغې شېخه چې په غوښه نۀ ده پېښه

پيشو ته وازدې سپارې

په دې متل کښې هم د پيشو سره د غوښو او وازدو ذکر شوے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې غوښې ، چيچړې او وازدې د پيشو دومره خوښې وي چې ورپسې ځان وژني او که څوک پيشو ته وازدې سپاري. نو هغه به څنګه امانتې پاتې شي ځکه چې پيشو ده تر هغې شېخه چې په غوښه نۀ ده پېښه. يعنې د متل نه مطلب دا شو چې څوک پيشو ته غوښې يا وازدې سپاري يعنې د وازدو څوکيداره او امانتداره پيشو جوړوي نود هغۀ نه بل غټ بې وقوفه او کم عقل نۀ وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې يې استعمالوي چرته چې څوک څۀ شے داسې چا بنده ته د امانت په توګه په حواله کړي چې په امانت کښې د خيانت خطره وي يا يې د ورکېدو ، خرابېدو ، ختمېدو او يا د قبضه کېدو خطره وي نو هغه غړي ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه دا دې څۀ وکړل! "پيشو ته وزادې سپارې". او په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره د وازدو په ځائے شودۀ يادوي او وايي چې:

"دودھ کی رکھوالی وہ بھی بلی".

پيشو خلق په اوله شپه وژني

قيصه:

د دې متل په شا داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو زلمي وادۀ وکړو. هغه زمانه کښې ډېر ساده ګان خلق وو. زلمي به د وادۀ د دود دستور او د لانجو کونجو نه ناخبره وؤو اکثر به ورله دوستانو څۀ دروغ رښتيا او اولټه پ ، لټه مشورې ورکولې. دا هم يو دستور يا چالاکي او مکر فريب وؤ چې په اوله شپه به زلمو په کور ودانو (مېرمنو) خپل رعب داب اچولو ، يا خپل زور ، دهشت او دبدبه به يې ښودله. خېر د هغه زلمي نه هم دوستانو په دوېمه ورځ پوښتنه وکړه چې وايه اشنا څۀ رعب داب دې اچولے دے که نه. هغه ساده ځوان ترېنه تپوس وکړو چې هغه څنګه؟ هغه دوستانو ورته چل ول ښودلے دے چې خېر اوس هم څۀ تلي راغلي نۀ دي. نن شپه داسې وکړه چې د ځانه اشور جوړ کړه ، چا ورته وئېل چې چرګه راګېره کړه او چا وئېل چې پيشو. اخر ټول په دې رضا شول چې يو دوست به ورله پيشو راولي او دے به يې بورۍ کښې پټه بوځي او په کوټه کښې به يې راګېره کړي چې په کور ودانې ښۀ رعب داب پرېوځي. دوستانو ورته وئېل چې پيشو راګېره کړې نو تر څو چې درته ښځې ښۀ ډېر منت زاري نۀ وي کړي تر هغې يې مۀ پرېږده. دا زلمے ښۀ په چرت کښې کور ته ورغے. او د ورتلو سره يې کوتک ته ګوتې کړې. ښځه يې خو د اول نه ډېره وېرېده چې ګنې زما نه څۀ غلطي شوې ده. خو چې کله د بورۍ نه پيشو غر وهل او دې زلمي هم ورپسې ورټوپ کړو. پيشو مخکښې او دے ورپسې. کله يو ګوټ او کله بل. کله د

کټ لاندې او کله د تونۍ. کله کټوۍ ماته کړې او کله خانک غورځولے. نۀ پيشو ګېرېږي او نۀ د کوتک ګوذار وررسي. دا ښځه خو څۀ شېبه په تماشه وه او بيا يې ترېنه پوښتنه وکړه چې خان دا ولې ، دې پيشو غريبې څۀ ګناه کړې ده. هغه زلمي ورته وئېل چې نن يې خامخا وژنم پرېږدم يې نه. هغه ښځه هم په ډرامه پوهه شوه نو ورته يې وئېل چې خان راځه دا ستا کار نۀ دے او هسې هم د دې کار وخت تېر شوے دے. پيشو خلق په اوله شپه وژني. او وايي چې داسې د هغه وخت نه مشرانو دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه او مطلب يې دا دے چې ګڼې د دې کار وخت تېر دے. دا کار د اول نه کول پکار وو.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې د وخت تېرېدلو نه پس يا د موقعې نه وروستو ځان باتور باتور کوي. يعنې چې مار تېر شي او بيا يې په کرښه راباندې کړې وي نو داسې غړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې بس که يار! "پيشو خلق په اوله شپه وژني".

پيشو د خدائے لپاره منږک (مږه) نۀ نيسي

دا يو عام متل دے چې معنـ ی او مطلب يې د لفظونو نه څرګنده دے. ګو چې نن زمانه کښې نۀ هغه پيشوګان شته چې مږه اونيسي او نۀ هغه مږې شته چې د پيشو نه وېرېږي ، يا خو پيشوګان بزدله شو او يا منږکان تکړه او بهادره شول. خېر بيا هم دا متل په خپل ځائے د کاڼي کرښه ده. د متل مطلب دا دے چې پيشو مږه نيسي نو دا د هغې خپل ضرورت او حاجت دے. يعنې دا د پيشو خپله خوراکه ده که چرې پيشوګانو منږکان نۀ خوړل نو هېچرې به يې نۀ نيول. دا مثال يعنې د پيشو او د منږک دا دښمني مشرانو د دې مطلب دپاره وړاندې کړے دے چې په انسانانو کښې هم ډېر داسې غړي وي چې هغوي د خپل مطلب او ضرورت دپاره د بل چا کار کوي. يعنې هسې د خدائے دپاره د بل چا کار بغېر غرضه يا بغېر مطلبه نۀ کوي.

نن سبا په داسې موقعو او د داسې خلقو دپاره استعمالېږي. چرته چې څوک د بل چا څۀ کار وکړي. خو مطلب ترېنه خپل پورته کوي يا څۀ داسې خبرې کوي ، يا جوړوي چې احسان په بل وراړوي خو مطلب او غرض ترېنه خپل سر ته کوي نو په داسې وخت او داسې غړي ته مشران د متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "پيشو د خدائے دپاره منږک نۀ نيسي".

داسې پيشو به پېدا نۀ شي
د خدائے دپاره چې د مږو ښکار کوينه

" ت "

تا د بل سترګې نۀ دي ليدلي ، تا سرې سترګې نۀ دي ليدلي

په متل کښې د بل د سترګو او د سرو سترګو نه مطلب دے د بل جا بدمعاشي ، نشه ، غصه او د هغۀ زورورتيا ، يعني قهرېدلې سرې برندې سترګې. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې دا چا ته طنز ، پېغور او خبردارے (چېلنج) ورکول دي. چې کښې تۀ که ځان په سپر حسابوې. نو بل سوا سپر هم شته ، يا د سر دپاسه سر وي. که تا د ځانه اشور پهلوان يا جمني خان جوړ کړے دے نو تۀ لا په جا اوړېدلے نۀ يې. او کله چې په داسې بنده پېښ شې چې د هغۀ سترګې ستا نه زياتې برندې او سرې وي نو بيا به درته پته ولګي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې يې استعمالوي جرته چې داسې شوک بنده خپله بدمعاشي او زورورتيا په چا غريبو او کمزورو خلقو چلوي يا قائموي. نو مشران ورته داسې وايي چې پخپله به سم شې. "تا لا د بل سترګې نۀ دي ليدلي".

تا راته څۀ د پيش نه پشم خان جوړ کړے دے ؟

دا يو عام متل دے او مطلب يې دا دے چې د ځنې خلقو دا عادت وي چې د لرې او وړې خبرې نه دپره او غټه خبره جوړه کړي. يعني څۀ معمولي خبره وي او هغه بنده يې دومره درنه کړي. هغه د چا خبره ، چې ناباري خر يې نۀ شي وړلے. دا متل په داسې موقعو کښې استعمالېږي جرته چې څوک وړې او معمولي خبرې له دپر زيات اهميت ورکوي يا جرته يو عام او معمولي بنده په صفتونو او تعريفونو د زمکې نه ا ـ سمان ته اوخېژوي نو کله چې اوربدونکے د دغه صفتونو نه تنګ راشي او هغه ېيان کوونکے د داسې قسمه خبرو نه منع کول غواړي يا هغه ملامته کول غواړي نو دا متل ورته وراندې کوي. او داسې وايي چې غلے کښېنه يار! "تا راته څۀ د پيش نه پشم خان جوړ کړے دے". او په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې وئيلے شي چې: "بات سے بهتنگڑ بنانا".

د بعضې خلقو دا عادت وي
چې يې د پيش نه پشم خان جوړ کړے وينه

تا راته څۀ د ځانه چمني خان جوړ کړے دے ؟

د پښتو دپر متلونه د څۀ خاص ځائے يا د چا خاص وکړي په نامه هم جوړ شوې او مشهور شوې دي. لکه سخي ارسلا خان ، متشم ، شاکل ، ميردين او داسې په دوي کښې يو چمني خان هم وؤ. چې نن هم د خپل نرتوب ، ښۀ سرېتوب او باتورى له امله په متلونو کښې ژوندے دے. وايي چې چمني خان دپر نر او بهادر پښتون وؤ. نو ځکه د هغۀ کارنامې نن په متلونو او سندرو کښې ژوندى. او مشهورې دي او خلق يې يادوي ، د دې متل نه مطلب هم دا دے چې کټې خان د چمني خان غوندې باتور کټې. يعني خان دپر باتور او بهادر حسابوې.

نن سبا دا متل په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک په محفل کښې دوزې وولي. د دروغو خپلې کارنامې بيانوي يعني خپله درنه او د بل سپکه وايي او د ځانه يې داسې باتور او بهادر جوړ کړے وي چې دپاسه پرې بل نۀ وي. نو په داسې وخت او داسې بنده ته مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې هلکه غلے کښېنه! "تا راته څۀ د ځانه چمني خان جوړ کړے دے".

تا سره نېکي کول په شګو کښې متيازې کول دي

دا يو عام متل دے چې په الفاظو کښې يې څۀ لږه ډېره بې شرمي يا بې حيائي ښکاري خو مطلب يې روغ دے. په شګو کښې چې کله اوبۀ توې شي نو شګې يې ډېرې زر داسې راکاږي لکه چې د اوبو وجود نۀ وے. يعنې اوبۀ ډېرې زر د شګو وېخ ته لاړې شي. داسې د ځنو خلقو عادت وي که هغۀ سره څوک نېکي او احسان وکړي نو هغه يې ډېر زر هېر کړي. نۀ د چا احسان ياد ساتي او نۀ د چا مننه لري. مشرانو دا حالات او داسې خلق د شګو او د اوبو سره تړلي او ګڼلي دي. مطلب دا چې ګڼې دا داسې شوه لکه چې شګې اوبۀ ډېرې زر راکاږي او هېرې يې کړي. هم د داسې خلقو او داسې حالاتو دپاره دا متل وړاندې کيږي او داسې وئيلے شي چې پرېږده يار! "تا سره خو نېکي کول په شګو کښې ..... کول دي".

لکه په شګو اوبۀ توې شي داسې کم اصلو ته نېکي د خلقو شينه

تا کومې مغ ، لې کونډې کړې ؟

پخوا په زمانه کښې چې کله زمونږه په علاقه يعنې برصغير باندې مغ ، لو حکومت او سرکار وؤ نو په ځنې علاقو کښې واړۀ واړۀ څۀ داسې ولايتونه هم وو چې هغوي د مغ ، لو نه بغاوت کړے وؤ هغه وخت کښې زمونږ په سيمه د يو يوسفزو ځانله يو ا ـ زاد وطن وو. چې د مغلو د سرکار غلامي يې نۀ قبوله کړې وه او نۀ يې قبلو هغوي د خپلې ا ـ زادۍ د مغلو خلاف خپل د ا ـ زادۍ تحريک او جهاد جاري ساتلے وو. هغه ټول حالات د تاريه پاڼو کښې ښۀ په تفصيل سره نن هم ژوندي دي او داسې د خوشحال خان خټک بابا او د مغ ، لو تر مېنځه جنګونه هم د تاريخ په پاڼو کښې ژوندي دي او دا د پښتون قام د باتورۍ ، قام پرستۍ او وطن پرستۍ يوه ښکلې او د ستائنې وړ نمونه او ورثه ده. متل هم د هغه وخت د پښتون قام او د مغ ، لو تر مېنځه د جنګ جګړو له کبله جوړ او مشهور شوے دے معنـ ، ی يې دا جوړيږي چې ګڼې يو بنده ته دا پېغور او طنز ورکولے شي چې تۀ د مغ ، لو خلاف په جنګ کښې شريک شوے يې او که يې څومره مغ ، ل دې وژلي دي. چې د هغوي نه ښځې کونډې پاتې شوې دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې تا د ځانه باتور يا اشور جوړ کړے دے. نو تۀ څومره بهادر او باتور يې. ماته د خپلې باتورۍ کارنامې اوښايه.

نن هم دا متل د دې مطلب دپاره په داسې موقع کښې استعماليږي چرته چې څوک څۀ ډوزې وولي يا اوچتي لاپې وولي. نو د داسې سړي خ ، له په دې متل بنديږي او يا څوک چا پورې ټوقې مسخرې کوي. د دله توب او بې غېرتۍ پېغورونه ورکوي نو هغه نامرده يا بې غېرته بنده هم داسې ځواب ورکوي چې ښۀ ده زۀ خو دله شوم خو تا چې کوم د باتورۍ او بهادرۍ کارونه يا کارنامې کړې دي نو هغه ماته اوښايه. او دا پوښتنه ترېنه په دې متل کښې کوي او داسې وايي چې خانه تا "کومې مغ ، لې کونډې کړې" يا "کومې مغ ، لې کونډې کړې دي".

تربور چې د تربوره کم وي نو غوږ يې د پرېکولو دے

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو سړي خر رنځور شوے وؤ. د خر غوږ خراب وؤ. چا پوهه سړي ورته وئيل چې د خر نه غوږ پرې کړه نو ښۀ به شي. هغه سړي د خر نه رنځور (خراب) غوږ پرې کړو او څۀ موده پس د دارو د ، رملو سره د خر غوږ ښۀ شو. د دې سړي يو تربور وؤ چې هغه هم خر ساتلے وؤ. هغۀ چې د تربور نيم غوږے خر وليدو نو کور ته لاړو او ښځې ته يې وئيل چې ښۀ تېره چاړۀ راوړه. ښځې ترېنه پوښتنه وکړه چې په چاړۀ څۀ کوې. سړي ځواب ورکړو چې د خر نه پرې غوږ پرې کووم. ښځې ورته وئيل چې سړيه! اوچ په موچه د خر نه غوږ څله پرېکوې؟ سړي ورته ځواب ورکړو چې د فلاني د خر يو غوږ نشته ځکه يې ترېنه پرېکوم. ښځې ورته وئيل چې پاګل شوے يې څۀ؟ د هغۀ د خر غوږ خو خراب (رنځور) وؤ. تۀ څله د خپل خر نه سم او روغ غوږ پرې کوې. سړي ورته ډېر په غصه کښې ځواب ورکړو چې چپ شه کم عقلې ښځې! تربور چې د تربوره کم وي نو غوږ يې د پرېکولو دے. زۀ د تربور نه په څۀ کم يم يا زما خر د هغۀ د خر نه په څۀ کم دے. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه.

دا متل اکثر په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک شدت مار ، چغلخور او لمسون کولو والا سړے چا ته د تربور خلاف شدت او لمسون کوي. نو دا متل ورسره ضرور وړاندې کوي او داسې وايي چې: اهو خيال کوه کورے! "تربور چې د تربوره کم وي نو غوږ يې د پرېکولو دے". او څنې خلق داسې وايي چې: "خر چې د خره کم وي نو غوږ يې د پرېکولو دے".

خـــــــر چـــــــې د خـــــــره کـــــــم شـــــــي يـــــــاره
داســـــــې تربـــــــور تـــــــه هـــــــم د غـــــــوږ شـــــــي پېغورونـــــــه

ترور نيمه مور

مور په مخ د زمکې الله پاک داسې يو هستي پېدا کړي ده چې ټوله مينه مينه ده. زړۀ يې د مينې محبت او د رحم د جذبو نه ښۀ کوټلے ډک پک وي. د اولاد په يو معمولي شان کړاؤ باندې د رحم دا جذبې داسې په جوش او موج کښې شي چې د اولاد په خاطر هر قربانی ته غاړه نيسي. ځکه د مور بدل خو شوک نۀ شي جوړېدے. خو بيا هم الله پاک د مور شان رحم او ځۀ لره ډېره مينه د ترور په خميټر (زړۀ) کښې هم اچولې ده. ترور په پښتو ژبه کښې د مور خور ته وئيلے شي. ترور په خوريو خورينو يعنې د خور په اولاد هم دومره مئينه وي چې څومره په خپل اولاد وي. مونږ به ژوند کښې ډېر داسې واقعات ليدلي او کتلي دي چې ډېر داسې ماشومان چې د هغوي مور مړۀ شوې وي نو هغه تروريانو پاللي او لوئے کړي دي. چې د مور نه پس که د چا په زړۀ کښې مينه محبت ، ترس او د رحم جذبې وي نو هغه د ترور زړۀ وي ځکه مشران وايي چې ترور که ټول په ټوله نۀ وي نونيمه مور ضرور کېدے او جوړېدے شي.

نن سبا اکثر په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې د ترور د لاس خوارۀ وموميې نو په خپلو خبرو اترو کښې د ترور شکريه ، منته ، صفتونه او ستاينه هم په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "ترور نيمه مور". په اردو ژبه کښې د دې مطلب دپاره داسې وئيلے شي چې "سالی ا - دهی گهر والی".

تړي شپيلي نۀ غواړي

قيصه:

په متل کښې د تړي نه تړي ځاروي او ځناور مراد دي. ځکه چې د تړي سره شپيلے هم استعمال شوے دے. او شپيلے به زميدارو غږو د ځاروو اوبۀ کولو دپاره وهلو. يعنې چې زميدار غږي ځاروي اوبګوي نو هغوي په يو خاص سر او طرز کښې شپيلے وهي او هغه ځاروے هم د شپيلي په طرز او مطلب پوهه وي. که تړے وي خو په اوبو ځښلو شروع وکړي اوکه تړے نۀ وي نو په اوبو کښې شوند ووهي او بيا سر وچت کړي. دا متل هم د زميدارو غږو په دې ارخ يا عادت پسې جوړ شوے دے. په دې لړ کښې داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې يوه ورځ يو ساده زميدار خپل غوائے اوبو ته ودرولے وؤ او شپيلي يې ورته وهل. هغه غوئي اوبۀ نۀ ځښلې او په وروستو يې د تلو زورونه کول. خو دې زميدار به بيا په زوره د اوبو خوا ته راړولو. او شپيلي به يې ورته وهل. دپاسه وړاندې يو بل زميدار راغے او تپوس يې ترينه وکړو چې يار په شپيلو وهلو مې زاره شنه شوه خو دا غوائے اوبۀ نۀ ځښي. هغه پوهه زميدار ورته وئيل چې کم عقله! تړي شپيلي نۀ غواړي. ستا غوائے تړے نۀ دے ، که تړے وے نو په خپله به يې اوبۀ ځښلې وے. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په ځۀ کار کښې انې بهانې جوړوي. او هغه کار کول نۀ غواړي يا د ځۀ کار ورته ضرورت او حاجت نۀ وي يا په خوراک او په ځۀ کار کښې ستونه او منتونه غواړي. نو هوښياران وايي چې دا وړے تړے نۀ دے. که تړے وے نو ستونه او منتونه به يې نۀ غوښتل او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "تړے شپيلي نۀ غواړي".

تړے کوهي پسې ځي کوهے تړي پسې نۀ

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي يعنې يې دا ده چې ګڼې څوک تږے وي نو هغه د اوبو په تلاش پسې ځي ، يا د اوبو ځائے يعنې کوهي لټوي او هلته ځان رسوي يا ورځي. د تږي او د کوهي د دې تړون نه د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې حاجتمند او ضرورتمند د حاجت او د ضرورت ځائے ته ځي. يعنې چې د کوم ځائے نه يا د چا نه چې ضرورت او حاجت پوره کيږي نو ضرورتمند هغه ځائے او هغه بنده پسې ورځي. هوښيارانو د ضرورت او حاجت دا فلسفه او حالات په دې متل کښې ستاييلي او مشهوره کړي دي. او دا خبره يې په ګوته کړې ده چې ګڼې بنيادم خپل ضرورت او حاجت پسې خپله درومي. نه چې ضرورت او حاجت بنيادم پسې کور ته راځي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د چا نه څۀ شے وغواړي او ورته دا سپارختنه او ضد هم کوي. چې کور ته يې راله راوړه يا څوک بل چا ته څۀ کار په حواله کړي. او د هغې ګټه يا مېوه هم په کور کښې غواړي. نو که هغه ورکولو والا بنده اوزګار نۀ وي يا هغه دا نۀ غواړي چې چاره نوړۍ ورله په خپله کښې ورکړي نو ورته داسې وايي چې خانه! حاجت ستا دے که راغلې نو خپل حاجت ، ضرورت او يا کار به پوره کړې ګڼې زما هېڅ کار نشته چې تا پسې کډې ګرځوومه. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "تږے کوهي پسې ځي ، کوهے تږي پسې نه".

تماشګير د نخښې مېنځ وولي

دا يو ساده او عام متل دے معنې او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. اکثر داسې ليدے او کتے شي چرته چې څۀ لوبه کيږي او په مېدان کښې لوبغاړي په مقابله کښې وي نو د مېدانه بهر ناست تماشګير ډېر په جوش او جذبې سره د خپل طرف (ډلې) لوبغاړو ته شاباش ، ډاډګېرنه او مرسته ورکوي څوک چغې سورے او نعرې وهي ، څوک په خپله شپيلي او په لاسو تاړي (چکچکي) غږوي. او چې څوک ډېر شوقين او جذباتي وي نو هغوي سم د لوبغاړو سره د مرستې دپاره زورونه کوي ، چلونه او دوونه ورته هم ورښائي. داسې سيالي او مقابله که چرې د نخښې او موخې د ويشتو وي نو په هغې کښې خو بيا تماشګير لا ډېر زورونه کوي او لوبغاړو له مرسته او ډاډګېرنه ورکوي. څوک پکښې داسې هم وي چې باقاعده لوبغاړو ته چلونه ورښايي چې هلکه داسې يې ووله يا هلکه مېنځ يې اووله او داسې که د چا نه نخښه خطا شي نو تماشګير ورته نور هم په جوش او جذبې سره د ويشتلو چلونه ورښائي. او ځنې خو پکښې د ډېر جوش او غصې نه داسې هم وايي چې ارمان دے زۀ به نۀ وے نو ، اوس به مې داسې په مېنځ ويشتلے وے چې دينا به کتلے وے. اصليت کښې دغه تماشګير د مېنځ د دحاله نۀ وي خبر چې په مقابله کښې په لوبغاړو څۀ تېريږي. کله چې سړے خپله ورمېدان ته شي نو هله ورته پته ولګي چې د سېره څو پخيږي. په متل کښې هم مشرانو د مقابلې دوران او د تماشګيرو حالت او کېفيت ستاييلے او وړاندې کړے دے.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د چا په کار کښې څۀ غلطۍ ، عېبونه او نقص راوباسي ، يا ورته په څۀ کار کولو کښې خبرې کوي يا ورته د کار کولو چلونه ورښايي ، يا ورته خپله لويي ، پوهه ، چالاکي او استاذي ورمخکښې کوي نو په داسې وخت او داسې غړي ته خلق داسې وايي چې ستا به هم پته ولګي خو چې ورمېدان ته شې. د بهر نه خو هسې: "تماشګير د نخښې مېنځ وولي".

تـ ـوت ته يې اوخېژوؤ

تـ ـوت ته خېژول يوه محاوره ده چې د لږ شان بدلون سره د متل په توګه هم استعماليږي او مطلب ترې نه دا دے چې ګڼې څوک په فرېب او چالاکۍ سره دهوکه کول يعنې په څۀ دهوکه فرېب ، چالاکۍ ، ټګۍ ټورۍ او په خوږه خپله او خوږو خبر و سره د چا نه څۀ شے بود کول يا څۀ قيمتي شے ارزان اخستل ، يا وېريا تر لاسه کول يا خپل خراب او ارزان شے په ګران قيمت خرڅول ، يا ترېنه خپل مطلب او غرض پوره کول او سر کولو ته تـ ـوت ته خېژول وئيلے شي. لکه داسې وئيلے شي چې د ښار خلق او دوکانداران ډېر زيات هوښار او چالاکه وي. او کله هم چې ورته د کلي څوک ساده باده بنده ګېر شي نو بيا راشه که تودېږي هغه ساده ګـ ـل چې څو په ځان پوهيږي نو دوکاندار پرې د شلو څيز په سلو ورتين کړے وي. بيا يو خوا هغه ساده غريب په لاره ګوتې شمېري او بل خوا دوکاندار داسې وايي چې: تـ "ـوت ته مې اوخېژوؤ". په دې حقله زما يوه ټپه ده چې:

ت ، وري دې لالا وهي نورى دې عبدالله وهي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې وئيلے شي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې دوه وروڼه وسېدل. دواړه ډېر ښۀ او تکړه ځوانان وو. د مشر نوم زاهد الله وؤ او کشر عبدالله نومېدلو. مشرى ډېر تکړه او نر ځوان وؤ چرته چې به د مرانې کار وؤ نو هغه به پکښې مخکښې ولاړ وؤ. وايي چې يوه شپه په کلي باندې ډاکوانو حمله وکړه. د کلي خلق هم د ډاکوانو مقابلې ته اودرېدل. تولو ځوانانو د ډاکوانو سره مقابله کوله. دغه وخت زاهد الله ډېر په مرانه ټوره چلوله خو عبدالله په دغه وخت حاضر نۀ وؤ. اخر چې د ډاکوانو نه ډېر کسان مړۀ شول. او ځۀ وتښتېدل. په سبا له د کلي خلق په کډه راجمع وو او خوشحالى يې نمانځلې. د کلي مشر خان تولو وکړو له د دوډى بندوبست هم کړے وؤ. په دې موقع مشرى ورور زاهد الله حاضر نۀ وؤ. او عبدالله په هغه ډله کښې ځان مخکښې او مشر کړے وؤ. په دغه وخت د يو مشر د خ ، لې نه خبره وخته چې بېګاه د ت ، وري وهلو په وخت زاهدالله وؤ او اوس خوراک له عبدالله د تولو مخکښې حاضر دے. په دغه وخت يو بل مشر دا ځواب ورکړو چې ا ـ هوا! وري يې لالا وهلې او اوس نورى عبدالله وهي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه داسې مشهوره شوه چې: "وري دې لالا وهي او نورى دې عبدالله وهي".

نن سبا دا متل په داسې موقعو او د داسې خلقو دپاره استعمالېږي چرته چې ځوک د بل چا په مرانو او کارنامو باندې خپله نامه ړدي يا اوچتوي ، يا د چا سر ته کړے کار باندې خپله نامه ترې. او د هغې وخت يا موقعې نه سود او کټه تر لاسو کوي. نو په داسې وخت هغه غړي ته خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې: "وري دې لالا وهي او نورى دې عبدالله وهي".

ت ، ـــ
اوس پـــ
تو ، ـــ
ت ، وکلي لاړي خ ، لې ته ښرته نۀ راځي

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي ، ى يې د الفاظو نه څرګنده ده. چې کنې يو ځل ځوک لاړي تو ، و کړي نو هغه بيا دوباره خ ، لې تۀ نۀ شي راتلے. او دا مطلب هوښيارانو د وخت سره هم ورکړے دے. او داسې وئيلے شي چې تېر وخت په ښرته نۀ راځي. هم دا متل هوښيارانو د هر هغه کار او خبرې سره په مثال ورکړے دے چې په هغې وخت تېر شي يا بې وخته وشي. يعنې د هر کار او خبرې يو خپل وخت وي. او هر ځۀ په خپل وخت کول پکار دي. چې وخت تېر شي نو بيا وروستو سړے ډېر افسوس او ارمان کوي خو تېر وخت نۀ شي راګرځولے. دوېم مطلب ترښه دا هم اخذ شوے دے چې کنې د هرې خبرې هم يو خپل وخت او موقع وي. که

څۀ خبره پې سوچه او پې فکره او بغېر موقعې وشي نو پيا ورباندې بنيادم ډېر ستومانه او ملامته وي. خو څۀ کولے نۀ شي. يعني چې خبره يو څل د خ ، لې نه ووځي نو هغه پيا لکه د ټ ، وکړو لاړو بېرته نۀ راځي. البته خبره صفا کيږي خو سړے پرې ملامته ، پر او تيټ سترګے جوړ شي.

هم د دې مطلبونو دپاره مشرانو دا متلونه جوړ کړي دي او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "ټ ، وکړلې لاړې خ ، لې ته بېرته نۀ راځي". او داسې نور هم متلونه دي چې مطلب يې د دې متل سره ټرون خوري. لکه وايي چې: "د ورځه ټېرې اوبۀ بېرته نۀ راکړځي". "الوتې مرغۍ په لاسو بېرته نۀ راځي". د دې ټولو متلونو نه مطلب هم دا دے چې هر کار او خبره په خپل وخت او سوچ او فکر سره کول پکار دي. چې پيا وروسټو بنيادم ستومانه ، شرمنده او ملامته نۀ وي. او د افسوسه لاسونه نۀ مروړي.

د خ ، لې ټ ، وکړلې لاړې کوره
داسې د ورځه اوبۀ بېرته نۀ راځينه

ټۀ په کومو کندو سر يې

په کندو سر کېدل يوه عامه او ساده محاوره ده ، چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي. يو مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې چرته څوک په غلطو ، بدو او پې مطلبه کارونو او لاړو سر وي نو دا داسې شوه لکه چې هغه سړے د لاړې نه پې لاړې شوے وي. او په کندو کېږو سر وي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وائي چې! خانه دا ټۀ په کومو کندو سر يې. او دوېم مطلب يې دا دے چې چرته دوه کسه په څۀ خبره کښې په بحث مباحثه وي او د يو بل نه مخالفه وي. د يو خبره د بل نه جدا وي. يعني د يو بل خبرې سره اتفاق نۀ لري ، يا څوک جا ته څۀ خبره بيانوي خو هغه سړے يې مطلب ته نۀ رسي يا ترېنه غلط مطلب واخلي. نو د داسې خلقو پام خپلې خبرې ته يا خپل مطلب ته د راکړځولو دپاره مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "دا ټۀ په کومو کندو سر يې".

ټۀ خو د لستوني مار يې

مار! هوښياران وايي چې مار هېڅ کله هم دوست کېدے نۀ شي. که د مار بچے ډېر په محنت ، خوارو زارو او نازونو سره وساتلے شي خو هغه به د بنيادم دوست نۀ شي. ځکه چې د مار فطرت دے ټک ورکول. يعني چيچل يا خوړل. د لستوني مار نه هم مطلب دا دے که چرې انسان يو مار سره‌وو مينه او محبت وساتي او ځان سره يې دومره نزدې کړي چې هغه هر وخت د بنيادم په منګ ، له يا په لستوني کښې ناست وي. خو د مار فطرت دے چې يو ورځ به هغه ټک ورکوي. هم دا مطلب او اشاره هوښيارانو د انسانانو په حقله ورکړې او مشهوره کړې ده. او مطلب ترېنه دا دي چې ګڼې ډېر په اعتبار او باور کښې دې ټک راکړو. يعني په اعتبار ، باور کښې ، خپلولۍ او خوږه دوستۍ کښې زيان ، تاوان ، تکليف او غم خفګان رسول يا ورکول. او نن سبا اکثر د داسې نزدو او خوږ دوست په حقله استعمالېږي کوم چې په يارۍ دوستۍ کښې ټکې توري او دهوکه فريب وکړي. او په خوږه دوستۍ کښې چې څوک دوست ته څۀ زيان ورسوي نو هغه ټک ، بدبخته او پې وفا دوست ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "ټۀ خو د لستوني مار يې".

څوک په يارۍ کښې چې غدار شي
لکه بسامار چې په لستوني کښې پټ وينه

ټۀ خو د هر دېګ څمڅۍ يې

دا يو عام متل دے. د پښتنو په سيمه کښې اکثر په غمونو او بسادو کښې وريژې پخولے شي. دا وريژې اکثر په دېګونو کښې پخولے شي. د غم بسادۍ دا دوډۍ اکثر کسب کړ پخوي. په څنو علاقو کښې نايان او څنو کلو کښې کولالان. د پخلي والاسري (دېګمار) سره يوه څمڅۍ وي او هغه هم لکه د چان سورے وي. او دېګمار په هر دېګ کښې هم هغه څمڅۍ استعمالوي. يعني دېګونه که هر

څومره وي خو څمځی يوه وي او هم هغه يوه څمځی په هر ډېګ کښې وهلے شي. دا متل هم د دغه څمځی په حقله جوړ او مشهور شوے دے.

چمچه يا څمځی لفظونه په دوېم مطلب کښې د چاپلوسی ، خوشامندګری او چمچه ګيری دپاره هم استعمالېږي. لکه وئيلے شي چې ټهٔ خو د فلاني چمچه ګيږي کوه. دا متل هم د دې مطلب دپاره وړاندې شوے دے. جرته چې يو غړے داسې د هر چا چاپلوسي ، خوشامندګري او چمچه ګيری کوي يا د هر چا خبرې ته خان ښه وايي والا معامله وي. يعنې کوکو خان ښهٔ وايي او وا وا خان ته هم ښهٔ وايي. نو د داسې خلقو په حقله دا متل وړاندې کيږي او داسې وئيلے شي چې: "ټهٔ خو د هر ډېګ څمځی يې".

يـــــــا بـــــــه څمځـــــــی شـــــــي يـــــــا برغـــــــولے
څـــــوک چـــــې محفـــــل کښـــــې د هـــــر چـــــا مرســـــته کوينـــــه

ټهٔ څوک يې! خامخا

دا د طنز او پېغور ورکولو يوه فقره ده چې په محفل کښې اکثر داسې درپېښې ته وړاندې کولے شي. څوک چې داسې بې تپوسه او نابلے د چا مېنځ ته وردانګي. يعنې د دوۀ غړو يا ډلې تر مېنځه په ټهٔ کار يا په خبرو کښې ځان شريکوي. صلاح او مشوره کوي خو هغه کسان يا ډله د دې نابللي صلاح مشوره نهٔ خوښوي او نهٔ مني. بلکې په شرکت يې بد ګڼي. نو هغوي دغه غړي ته د طنز او د پېغور په توګه داسې وايي چې هلکه ټهٔ څوک يې زمونږ فېصله کولو والا ، يا تا ته ضرورت نشته په قلاره کښېنه. ټهٔ ځله د بل په کار کښې کار لرې ، يا ټهٔ زمونږ په خبرو کښې غرض مهٔ لره. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ټهٔ څوک يې! خامخا".

ټهٔ د کوم بن لرګے يې /
ټهٔ د کوم باغ مولی يې

دا يو عام او ساده متل دے معن ، ی او مطلب يې د لفظونو نه څرګنده دي. دا متل د سوال کولو په شکل کښې دے. خو مطلب يې عام سوال نهٔ دے بلکې جا ته زورنه او د مقابلې دهمکي ورکول دي. دا متل د داسې حالاتو دپاره مشهور او وړاندې شوے دے جرته چې د دوۀ کسانو په خپلو کښې ټهٔ جنګ جګړه وي او يا يې په ټهٔ خبره بحث مباحثه وي او په دوي کښې يو تن ځان مخکښې او باتور باتور کوېږکي يا د جنګ دهمکي ورکوي او هغه بل بنده د دڅ په ر ،عب داب او دپکو کښې نهٔ راځي. او وېره يې تر ېنه نهٔ کيږي يا نهٔ وېرېږي. او جنګ ته تيار وي نو هغه هم ورته د دهمکي او خبرداري (چېلنج) په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې څه مره! "ټهٔ د کوم بن لرګے يې" يا "ټهٔ د کوم باغ مولی ئې".

د نامعلومـــــــــه بـــــــــن لـــــــــرګے شـــــــــي
څـــــوک چـــــې د چـــــا مېـــــنځ لـــــه بېـــــر تپوســـــه ځينـــــه

ټهٔ ښاريانو سره اګی جنګے
ټهٔ هاتهيانو سره ټانټې جوړې

قيصه:

زمونږ د پښتونخوا په سيمه کښې په خصوصي توګه د کوئټې په علاقه او د هشتنغر او د پېښور ښار سره نزدې په خواو شا علاقو کښې يوه ډېره زړه او مشهوره لوبه د اګو جنګولو لوبه ده. دا لوبه نن سبا هم په ځنو علاقو کښې د اختر په ورځو شپو کښې خوندي کولے شي. پخوا چې ځنګه خلق سادګان وؤ نو داسې د هغوي لوبې هم ډېرې ساده باده وې. دا لوبه داسې کولے شي چې د جرګو اګی ويشولے شي. رنګونه ورله ورکړي او بيا يې د يو بل سره جنګوي. د اختر په مېلو کښې اکثر دوکاندارانو داسې اګی د مخکښې نه تيارې کړي وي او په هغه دوکانونو دا لوبه کرمه وي. يعنې خلق د دوکان نه اګی اخلي او جنګوي. دا لوبه داسې کولے شي چې يو وګړے په موټي کښې

اګې داسې اونيسي چې د هغې سر د موټي نه لږ پورته ښکاره وي او بل کس ېيا په بله اګې ګزار ورکوي چې کومه اګې ماته شي نو د هغه بنده ېېلات وي او د بل کنه. هغه ماتې اګې ېيا ګټې والا ته مېلاويږي. او داسې دا لوبه دېر په شوق او د يو بل په ضد کښې خوندي کيږي.

وائي چې پخوا په زمانه کښې داسې يو کلي وال بنده د اختر په ورځو کښې ښار ته تلے وؤ. په مېله کښې يې دا لوبه ولېده ، هغۀ هم لوبه شروع کړه. اګې به يې اخستې او بائيللې. ښاريان خو هسې هم دېر جالاکه وي او د اکو په جنګ کښې خو هغوي ېيا دېرې جالاکي او دهوکې کوي. اکثر يې د لرګي نه اګې جوړې کړې وي او هغې له يې رنګ روغن ورکړے وي. دا ساده هلک هم په داسې چا پېښې شوے وؤ. چې هغۀ ورله د اکو په جواري (جنګ) کښې ټول جېب خالي کړو. دے چې شو په ځان پوهېدو نو ېيا الله هم پاک او دربار هم پاک. نۀ ېيا د مېلې په خوند پوهه شو او نۀ په رنګ. اوږے ترے پياده کلي ته زوړند روان شو. ماښام په تيارۀ په دېکو دېکو کلي ته ورسېدو. په کلي کښې ترښه يو مشر پوښتنه وکړه چې هلکه ولې تۀ خو داسې خفه ، زهيره او ناخواله راروان يې. په دې وخت د کومې؟ هغه هلک ورته ټوله قيصه تېره کړه چې د ښار په مېله کښې مې د اکو په جنګ کښې ټولې پېسې ېېلې. نار نهور دا دے اوس پياده را ورسېدوم. هغه سړي ورته وئېل چې کم عقله! تا ښاريانو سره اګې جنګولې ، هغوي خو هسې په پاؤ کښې سړے وهي. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب يې دا دے چې کټې په خۀ کار يا خۀ خبرو کښې د ماهره لوبغاړي او استاذ بنده سره مقابله مۀ کوه او هم داسې چا جالاکه ، دهوکه باز او فريب ژن غړي سره لېن دېن يا کار روزګار مۀ ساته.

نن سبا په‌داسې حالاتو کښې استعماليږي جرته چې څوک په خۀ مقابله کښې ، يا په خۀ کار او يا په خۀ لوبه کښې يو غړے ور شي او بل پر. نو هغه ور غړے ورته د طنز په توګه داسې وايي چې تۀ دومره نۀ يې چې زما مقابله وکړې ، يا تۀ د لوبغاړو سره د مقابلې جوګه نۀ يې. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "تۀ ښاريانو سره اګې جنګې". او يا "ښاريانو سره اګې مۀ جنګوه". او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې: "هاتهيانو سره ټانټې مۀ جوه".

تۀ کوز شه ټټو ما له راکه

تۀ کوز شه ټټو ماره چې زۀ سور شم ستا دپاره

قيصه:

وائي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے په سفر پياده روان وؤ. د خۀ مزل کولو نه پس هغۀ سره يو بل بنده ملګرے شو. چې په ا ـ س سور وؤ. دواړه په کېږ شېو کښې مشغول په سفر روان وو. دې پياده سړي په زړۀ کښې کرل ريبل چې په خۀ جل وزن دې سړي سره په ا ـ س سور شېبه يو موقع کښې دې ا ـ س والا سړي وئېل چې يار زۀ خو دېر د لرې نه راغلم او دېر سترے شوے يم. هغه پېدل سړي ورته د ټوقې په انداز کښې ځواب ورکړو چې تۀ کوز شه ټټوماره چې زۀ سور شم ستا دپاره. مطلب يې دا وؤ چې کټې تۀ په ناسته ناسته سترے شوے يې. تۀ کوز شه او ټټو ماله راکړه. تۀ به په پياده سفر دمه شي او زۀ به لږ په ټټو دمه واخلم. هغه ټټو والا ورته وئېل چې دوسته ، خفه کېږه مۀ. ځنکه چې زۀ سترے يم داسې مې ټټو هم سترے شوے دے. ښۀ به دا وي چې مونږه جرته په سېوري لږ ارام وکړو نو ټول به دمه شو. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو په متل مشهوره کړه.

نن سبا د داسې غرضي غړي په حقله استعماليږي جرته چې څوک د خپل غرض او مطلب دپاره بل ته جلونه ښايي ، يا ورته لاړې کودړې سموي ، يا ورښايي خو مطلب او غرض يې خپل وي. نو په داسې وخت او موقع هغه سړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې دا خو داسې شوه لکه چې: "تۀ کوز شه او ټټو ما له راکړه" يا "تۀ کوز شه ټټوماره چې زۀ سور شم ستا دپاره".

تۀ هم ظالم يې ، خو دوه غوايان نشته

قيصه:

پخوا د زميدارو خلقو ژوند دېر ګران وؤ. زميداری کښې به دوي دېر محنت ، کراؤنه او خواری کولې. نن سبا خو ترېکټرو او مشينانو د زميدارو ژوند دېر اسان کړے دے. ترېکټر په لږه شېبه کښې دېره زمکه دوه درې ځله يوې کړي. او د فصل دپاره يې تيارە کړي. پخوا زمانه کښې به زميدارو په غوايانو يوې کولې. يعنې زمکې (پټې به يې اړول) ښۀ تکړه زميدار او تکړه (لېې) غوايانو به جرته په ټوله ورځ کښې يو جريب نيم پټے اړولو. داسې وايي چې هغه زمانه کښې يو زميدار وؤ چې هغۀ به د يوې دپاره سحر تللو او په تيارۀ ماښام به راتلو.

يوه ورځ دا زميدار د پټي نه واپس راروان وؤ چې په لاره کښې يو دوه اوزګار خېل ناست وؤ. هغه يو کس دې بل ته وئېل چې ګوره دا کاکا څومره ظالم دے په دې غوايانو څومره ظلم کوي سحر وختي ځي او په ماسخ ، تن راځي. په کار يې د غوايانو څرمن وويسته. دا خبرې دې زميدار سړي واورېدې. هغه چې دې کسانو ته رانږدې شو نو ځواب يې ورکړو چې خانه! تهٔ هم ظالم يې ، خو دوه غوايان نشته. يعنې ستا د وس لاندې غوايان نشته نو ځکه دې د ځانه ښهٔ سړے جوړ کړے دے. يعنې مطلب دا چې تهٔ هم ظالم يې خو ستا په څهٔ شي وس نهٔ رسي. داسې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. نن سبا دا متل هم داسې کسانو ته وړاندې کيږي. چرته چې څوک د بې وسۍ له کبله ښهٔ سړے جوړ شوے وي نو که داسې خلق د چا په کردار باندې څهٔ داغ لګوي يا نور خلق په بدو حسابوي او يادوي نو په داسې وخت دغه سړي ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "تهٔ هم ظالم يې ، خو دوه غوايان نشته".

تېرو ته يې پام نهٔ شي

قيصه:

دا د شېطانت شرارت او د لمسې ورکولو يوه محاوره او جمله ده. د دې په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د دوؤ زميدارو په اوبهٔ خور باندې جنګ وؤ. يو پهلوان وؤ او بل کمزورے. دې پهلوان هغه کمزورے په لختي کښې رامنجيله کړے وؤ. او د بېلچې په سته يې پرې راباندې کړي وو. په دغه وخت يو شېطان خويه او شرير سړے په لاره تېرېدو. هغهٔ وليدل چې دوه کسه په جنګ دي. نو د خلاصي او سولې صفالې په ځائے ورته په پوله اودرېدو او دا نعره يې وهله چې خدايه خېر! تېرو ته يې پام نهٔ شي. اخر چې دا اواز د هغه پهلوان سړي تر غوږو شو او هغهٔ ورته بېلچه په دوه لاسي په تېرو کړه او د هغه لاندې پروت سړي سر يې په يو ګوذار دوه ټوټې کړو. يو مړ شو او بل ځندان ته ورسېدو او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. مطلب ترېنه دا دے چې ګټې د شېطانۍ او شرارت په کار کښې چا له لمسه او ترغيب ورکول. نن سبا هم په داسې وخت او حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې د جنګ جګړې حالات جوړ شي نو څوک شېطان خويه بنده ورکښې د شرارت او د لمسې دپاره دا جمله يا نعره پورته کوي ، يا اکثر يې دوستان خپلو کښې د طنز او مزاح په توګه هم يو بل ته استعمالوي او داسې وايي چې خدايه خېر! "تېرو ته يې پام نهٔ شي".

" ج "

جنک کور کوې او بېرې په صحرا نه خوري

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه شپونکي ډېر خوارۀ دوستان وۏ. دوي به په صحرا کښې اکثر يو ځائے کډې ېيزې ځرولې. يو ورځ چې دوي په صحرا کښې يوځائے شول. يو شپونکي په جارو کښې بېرې (کرکې) ټولې کړې وې. دې بل دوست ته يې بېرې ورکولې. چې والا يار وخوره. خو هغه دوست يې مرور او خفه خفه کډو او بېرې يې نۀ اخستلې. هغه بېرو والا دوست تر ېنه پوښتنه وکړه چې دوسته څۀ چل شوے دے په څۀ خفه او مرور يې. هغه بل ورته ځواب ورکړو چې دوسته ستا نه خفه نۀ يم. خو ما سحر کور جنک کړے دے. نو ځکه بېرې نۀ خورم. هغه بېرو والا ورته وټبل چې پرېږده لېونيه! جنک کور کوې او بېرې په صحرا نۀ خوري. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل د داسې خلقو دپاره استعمالېږي ځوک چې داسې د کوره خفه شوے وي او د يارانو په محفل کښې هم ځان خفه کوي ، يا د يو دوست نه خفه وي او د بل دوست سره هم هغسې د خفګان او مرورتيا سلوک ساتي ، يا ځان ورته خفه او مرور کوي. نو نور دوستان ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "جنک کور کوې او بېرې په صحرا نۀ خوري".

"چ"

چرته هندوان او چرته تـ ، وتان

قيصه:

کله چې هندوان او مسلمانان يو ځائے په يو وطن (برصغير) کښې وسېدل. نو هغه ورځو کښې د پښتنو په علاقه کښې هم ځائے په ځائے څۀ لږ ډېر هندوان ا ـ بيا وو ورځ څۀ پښتانۀ هلکان د تـ ، وتانو په موسم کښې د غرمې تـ ، وتانو خوړلو دپاره لاړل. دوي سره د هندوانو يو هلک هم ملګرے شو. هلکان ټول ونو ته وختل خو دا هندو هلک ونې ته نۀ شو ختلے نورو ملګرو ورته څۀ لږ ډېر تـ ، وتان وڅنډل ، خو دې هندو هلک بيا هم ونې ته د ختلو تکل کولو. خپلو ملګرو دے بيا بيا منع کولو. چې د ونې د ختو نه يې ، لاندې به ګوذار شې. خو هغه هندو هلک هم دا ضد نيولے وؤ چې اوس خو به ارو مرو دې ونې ته خېژم. اخر چې ونې ته تر څۀ حده پورې وختو نو پښه يې خطا شوه. او سر د لاندې راوغورځېدو. هغه وخت د يو هلک د خـ ، لې نه دا خبره وخته چې هم چرته هندوان او چرته تـ ، وتان. او داسې د هغه وخت نه هوښيارانو دا خبره په متل مشهوره کړه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې چرته دا خلق او چرته دا کار يا چرته تۀ او چرته دا کار ، يا تۀ د دې کا رد کولو لائق نۀ يې او يا تۀ دا کار کولے نۀ شې. نن سبا دا متل په داسې موقعو او حالاتو کښې استعماليږي چرته چې يو سړے د څه کار د کولو جوګه نۀ وي. او هغه بيا هم د هغه کار کولو کوشش کوي ، خو کولے نۀ شي يا ترېنه هغه کار وران او خراب شي. نو د هغۀ په ناکامه کېدو او پړ راتلو باندې ورته خلق د طنز په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې څه مړه! "چرته هندوان او چرته تـ ، وتان".

چـــــــــې د غـــــــــويي لـــــــــونګۍ خـــــــــوراک شـــــــــوه
لکـــــــــه هنـــــــــدوانو چـــــــــې تـ ، وتـــــــــان خـــــــــوړلي وينـــــــــه

چرګ خو يو مارغۀ دے چې چا اونيوؤ د هغۀ دے

قيصه:

چر ګان صحراني هم وي او کورني هم. صحراني يعنې ځنګلي چرګان الوځي او کورني چرګان الوتے نۀ شي. حقيقت هم دا دے چې چرګ د مارغانو د کورنۍ نه يو مارغۀ دے خو چې چا په کور کښې ساتلے وي نو هغه د مالک مال ، جائېداد او حق ګڼلے او منلے شي. د متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يوه ورځ په جومات کښې مولوي صېب ډېر په جوش او جذبې سره مسئلې بيانولې. د حلالو ، حرامو او د پردي مال په ناحقه د خوړلو خبرې ترې او بيان کېدلو وسمت ته ګوره چې هم په دغه ورځ د مـ ، لا صېب کره د چا چرګ راغلے وؤ او د مـ ، لا صېب کورودانې (مېرمنې) هغه چرګ حلال کړے او ښۀ مزېدار يې پوخ کړے وؤ. کله چې مېرمنې د مـ ، لا د خـ ، لې مسئلې او خبرې واورېدې نو ډېره زياته خفه او ځان ته ملامته شوه. چې ګنې نن مې لويه ګناه کړې ده. د سزا او وېرې له کبله يې په زړۀ کښې کرل رېبل چې اوس به څۀ کېږي. اخر په دې صلاح شوه چې مولوي صېب ته ټوله قيصه رښتيا بيان کړي. کله چې مولوي کور ته راغے نو مېرمنې ورته ټوله قيصه تېره کړه. مولوي هم په دوؤ کښې حېران شو. چې اوس څۀ فېصله وکړي. که چرګ حلالوي نو د خپل تازه بيانه جار ووځي. او که حراموي نو کور ته راغلے په تالي کښې تيار چرګ يې د ګوتو ووځي. څۀ شېبه خو مولوي صېب په سوچونو ډوب وؤ. او اخر يې دا خبره زړۀ له راغله چې راشه پښې ورله اوبو ته کړه. مسئله به په مسئله پاتې شي او چرګ به راته هم په کور پاتې شي. نو ښځې ته يې په خندا کښې وئېل چې کم عقلې! "چرګ خو يو مارغۀ دے چې چا اونيوو د هغۀ دے". او داسې د هغه وخت نه دا قول مشرانو د متل په توګه مشهور کړو او مطلب يې دا دے چې ګنې څۀ شے چې څوک ومومي نو هغه موندے شے هم د هغه بنده شي. يعنې چې چا له په لاسو ورغے نو د هغۀ حق او ملکيت دے.

نن سبا هم په داسې موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې داسې څۀ ورک شي پسې خلق لټون کوي. او چې چا له په لاسو ورشي نو هغه پرې قبضه وکړي او که څوک پرې دعوی ، لري. نو هغه ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې څه مره! "چرګ خو يو مارغۀ دے چې چا اونيوؤ د هغۀ دے".

چې اختر تېر شي نو نکريزې په دېوال اوتپه

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے بل وطن ته مزدورۍ له تلے وؤ. يو کال مزدورې خوارې يې وکړه او د اختر ورځو له کور ته راروان شو. د ځان سره يې د کور اود کور والو دپاره څۀ سود سودا هم کړې وه. پخوا به پياده مزلې وې. دا سړے هم پياده کلي ته راروان وؤ. د الله پاک کړه داسې وشو چې دا سړے اختر له کلي ته ونۀ رسېدو او اختر پرې په لاره راغے. اخر چې د اختر نه څۀ ورځې پسې دے کور ته ورسېدو. کور والا ورته هم دېر لېواله ناست وؤ. او په راتلو يې دېر خوشحاله شول. دۀ چې چا له څۀ راوړلي وو نو هر چا ته يې خپل خپل څيزونه حواله کړل. مېرمني (کوروداني) له يې نکريزې راوړلې وې. دې سړي ښځې ته وښل چې اختر خو تېر شو خو خبر دا نکريزې ستا دي ، ځان له يې ولګوه. ښځې ورله ځواب ورکړو چې سړيه د هر کار خپل يو وخت وي چې اختر تېر شو نو نکريزې په دېوال اوتپه ، زۀ اوس په نکريزو څۀ کړم. داسې د هغه وخت دا خبره مشرانو بيا دمتل په توګه مشهوره کړه او مطلب ترې نه دا دے چې کښې د هرې خبرې او د هر کار کولو يو خپل وخت وي او چې هغه وخت تېر شي نو بيا د هغه کار نۀ هغه شان خوند وي او نۀ مزه. نن سبا دا متل خلق په داسې موقعو کښې استعمالوي. چرته چې د چا نه د څۀ کار کولو وخت تېر شي او هغه بيا هم د هغه کار کولو هڅۀ کوي. نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرپرده يار اوس وخت تېر دے او! "چې اختر تېر شي نو نکريزې په دېوال اوتپه".

د هوښ يارانو دا وينا ده
چې اختر تېر شي بيا پرې سړۀ کړه دېوالونه

چې اوربشه پوره شي نو څۀ بهانه شي

اوربشه د پخوا زمانې غله ده. نن سبا هم پېدا کيږي خو دېره کمه کوزه. د غنمو شان بلکې د غنمو نه هم زياته قيمتي او د ژوند دپاره دېره ضروري ده. نن سبا د سائنس او حکمت د نوي لټون (ريسرچ) له کبله دا خبره په کوته شوې ده چې د ژوند ژواک لپاره اوربشه دېره قيمتي او کټه وره ځيز دے. اوربشه د دېرو مرضونو دپاره علاج او شفاء ده. دا خبره خو نن په کوته شوې ده. خو زمونږه مشرانو الله زده چې د کله نه د اوربشې مثال د ژوند سره ترلے وؤ. او د اوربشې دا ترون ، حاجت او ضرورت يې په دې متل کښې مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې کټې د چا اوربشه (رزق) پوره شي نو ورته څۀ نه څۀ بهانه جوړه شي. او هغه بيا د بلې دنيا په سفر روان شي. يعنې چاته څۀ مرض ، چاته حادثه ، چاته اوبۀ او چاته اور بهانه شي او يا څوک قتل شي. يعنې د مرګ دا ټول اسباب يوه بهانه ده. په اصل کښې خبره د اوربشې ده او کله چې اوربشه (رزق) پوره شي نو سړے مر شي. نن سبا هم په داسې موقع استعمالېږي چرته چې داسې څوک په حق ورسي يعنې مر شي نو په داسې موقع اکثر مشران داسې وايي. چې خبره د رزق ده ، بس چې: "اوربشه پوره شي نو څۀ بهانه شي".

واړه کارونه د قدرت دي
څۀ يې بهانه شي چې دانه يې ختمه شينه

چې اوښان ساتې نو دروازې دنګې ساته

دا يو ساده متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. يعنې ، ې يې د الفاظو نه څرګنده ده. يعنې اوښ چې په ټولو ځناورو کښې دنګ لور دے. نو د هغۀ دپاره لازمي دروازه دنګه پکار وي. ځکه چې په چيته يا وړه دروازه باندې د اوښ تګ راتګ ګران دے. او مطلب د متل دا دے چې کټې که د اوښ رنګې غټ او لوئے کار کوې يا کول غواړې نو لکه د دنګې او لوړې دروازې شان ورته زړۀ هم لوئے کړه يا لوئے ساته.

دا متل په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې يو سړے غټ کارونه کوي او بيا يې خرچو او لګښت ته ټينګ نۀ وي ، يا څوک د غټو مالداره خلقو سره ناسته پاسته لري. خو خپله بيا په تاوان او خرچو باندې خفه وي او نۀ هغه خرچې پوره کولے شي. نو په داسې وخت هغې غړي ته مشران داسې وايي چې د ځانه لوئے او غټ کارونه کوې نو اوس خرچو او تاوان ته هم زړۀ لوئے کړه يا لوئے ساته. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي: "چې اوښان ساتې نو دروازې دنګې ساته".

زړۀ ورتـــــــــه غـــــــــټ در دې اوچـــــــــت کـــــــــړه
د اوښ ســـــــــاتنې لـــــــــه در لـــــــــوړ پکـــــــــار راځينـــــــــه

چې اوګه نۀ خوري نو بوي ترې نۀ ځي

دا د مشرانو او هوښيارانو يو عام قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې يې د الفاظو نه ظاهره ده. اوګه د يو قسم سبزي ده. دا ډېره قيمتي او د کار شے دے ډېرو مرضونو دپاره د دارو د ، رملو کار ورکوي. خاص کر د وينې د تېز رفتار (High Blood Pressure) دپاره ډېره ترياقه نسخه دپه نورو ډېرو دارو د ، رملو کښې هم د دې ګډون لازمي ګڼلے شي. زمونږ په امروزه ژوند کښې دا د سالن (اينګولي ، پخکړي) لازمي حصه او جز دے. په اينګولي کښې د دې ګډون ، داغ يا بګار خوند ، مزه او ذائقه جوړوي او زياتوي. د دې ټولو خوبو سره سره د دې يو علت يا بدوالے هم دے. او هغه دا چې دا ډېر تېز بوي لري. چې په سالن کښې پخه شي نو بوي يې مات او ختم شي او يا ډېر کم شي. خو کچه اوګه ډېر تېز بوي لري او بوي هم د خوښې بوي نۀ وي. بلکې داسې بوي چې په انسان ډېر بد لګي. په دې حقله يو حديث شريف هم دے. چې رسول الله ﷺ د اوګې خوراک منع فارمائيلے دے او په خصوصي توګه چې جومات ته د تلو په وخت خوراک بالکل نۀ دے پکار. ځکه چې کچه اوګه څوک اوخوري نو د هغه سړي نه بد بوي ځي. او دا داسې بوي وي ، بنيادم څۀ چې فرښتو ته ترېنه هم تکليف رسي. چا چې اوګه خوړلې وي نو هغه غړے نۀ بيا دا پټولے شي او نۀ ترېنه انکا رکولے شي. او داسې غړے ښۀ په اسانه او ښۀ صفا پېژندے شي. د اوګې خوراک ، بوي او د هغه غړي په اسانه د پېژندګلو دا حالاتو مشرانو په دې متل کښې ستاېيلي او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې څوک څۀ کار وکړي نو په هغې کښې څۀ نه څۀ اشارې يا څۀ نخښې نښانې داسې وي يا پاتې شي. چې د هغې نه د هغه کا رکوونکي بنده په اسانه پېژندګلو وشي. نو ځکه ورته بيا خلق ګوته نيسي چې دا کار دې بنده کړے دے. يعنې د متل نه مطلب دا شو ، چې څنګه د اوګې د بوي نه غل (خوړلو والا) پېژندے شي نو داسې د څۀ نخښو نښانو نه هم غل (کار کوونکے) پېژندے شي.

دا متل نن سبا د داسې خلقو په حقله استعمالېږي چرته چې څوک داسې څۀ غلط کار يا خبره وکړي ، خلق ورباندې بد رد او لعنت ملامت وايي. او که هغه بنده د هغه کار يا خبرې نه منکر وي نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې که چرې تا کښې څۀ غلا نۀ وے. نو خلقو به درباندې نۀ وئېل ځکه: "چې اوګه نۀ خوري نو بوي ترې نۀ ځي".

چـــــــې اوګـــــــه نـــــــۀ خـــــــوري بـــــــوي تـــــــرې نـــــــۀ ځـــــــي
داســـــــې پـــــــه روغـــــــو خلقـــــــو نـــــــۀ شـــــــي الزامونـــــــه

چې پښتون دله شي نو خپله کته هم نۀ وړي

د پښتو ژبې پوهانو ، هوښيارانو او استاذانو چې د پښتون لفظ (توکي) نه کومې معنې جوړې کړې او اخذ کړي دي نو هغه څۀ په دې رنګ دي: پ: پت ، ښ: ښاغلے ، ت: توريالے ، و: وفادار ، او ن: ننګيالے. يعنې (پ ښ ت و ن= پښتون). چې پت ، ښاغلے ، توريالے ، وفا او ننګ راجمع شي نو پښتون ترېنه جوړ شي. او حقيقت هم دا دے چې پښتون قام په نېز د نورو قامونو ښۀ توريالے ، ننګيالے او وفادار قام دے. د پښتنو تاريخ هم په دنيا ښۀ روښانه ، ستاېيلے شوے او منلے شوے دے. د دې قام دا يو لوئے صفت او عادت دے چې دوي د ژوند په هر اړخ انتها ته رسېدلے وي. که دوستي او وفا شوه نو سر بائيللو ته پکښې تيار وي. که دښمني شوه نو هم هر وخت کفن په سر تړلے ولاړ وي. که نرتوب او مړانه شوه نو هم دوي د هر قام نه مخکښې وي که تقوى ، او پرهېزګاري شوه نو هم دوي د نورو قامونو په نېز ډېر تقوى ، دار او ايماندار ه دي. خو هم داسې که څوک پکښې دله ، دوس او بې غېرته اوخېژي نو هغه هم بيا په دې لړ کښې اخري حد له

رسېدلے وي. بلکې حدونه يې مات کړي او دندې وربانديې ماتې شوې وي. هم د دې حالاتو او د داسې غړي په حقله هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. کنه د خر ، ټټو يا د بل باري څاروي دپاسه اچولے شوې يا ترلے شوې هغه د بورو يا د کيندرو کېږو تکړو (اسباب) ته وايي کوم چې د څاروي خپل حاجت او ضرورت وي. يعنې د څاروي د حفاظت دپاره وربانديې ترلے شي. نو څکه دا کنه د څاروي يو شان خپل وزن منلے او ګڼلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې که يو څاروے دومره کمزورے او يا دله دوس شي چې هغه خپل وزن (کنه) هم نۀ شي وړلے نو هغه به نور څۀ وکړي ، يا د هغۀ نه به نوره څه طمع لرلے شي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستاييلے او مشهور کړے دے او مثال يې د بنيادم سره ورکړے دے. د بنيادم لپاره د (کنې) وزن نه مراد خپله خرچه ، د کور غم ښادي او ماته کۀ ، ۀه يعنې د کور حاجتونه او ضرورتونه پوره کول. يعنې مطلب دا شو چې څوک پښتون غړے دله دوس شي نو هغه بيا خپله خرچه ، يعنې کور ماتې کۀ ، دې هم نۀ شي پوره کولے يا نۀ شي وړلے ، يا پوره کول نۀ غواړي نو د داسې دله دوس ، بې ننګه او بې غيرته غړي په حقله مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې پښتون دله شي نو خپله کنه هم نۀ شي وړلے".

چې پوره يې نۀ وي ، که سر يې د کانې لاندې کړي نو هم نۀ مري

دا يو عام متل دے چې مشرانو د مرګ د نښې په حقله جوړ کړے او مشهور کړے دے۔ هغه ، ی خو يې د الفاظو نه څرګنده ده او مطلب ترينه دا دے چې کنې د چا د مرګ نښه يعنې وخت پوره شوے نۀ وي. او له د ژوند اوږښه يې په دې دنيا وي نو که د هغۀ سر له کانې راخلاص کړې هم مر به نۀ شي ، يا که د څۀ حادثې او ا ۔ فت له کبله او کانو لاندې کېږ شي نو هم به ژوندے وي. او داسې څو څو ځله مونږه ليدلي او کتلي دي. تازه مثال يې د کال ۲۰۰۵ء د اکتوبر د مياشتې هغه خونړي زلزله وه چې په زرګونو خلق ورکښې مړۀ شوي او ژوبل شوي وو او چې د چا نښه نۀ وه پوره نو هغوي د خاورو او د کانو د ملبې نه دوه درې ورځې پس ژوندي ژار راويستلے شوي وو. او وايي چې د هزارې په علاقه په بالاکوټ کلي کښې يو ماشومه په پنځلسمه ورځ د ملبې نه ژوندے راويستلے شوې وه. هم د داسې حالاتو او واقعاتو په حقله مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې کنې د چا نښه پوره نۀ وي نو هغه د کنو کانو لاندې هم ژوندے پاتې شي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي جرته چې داسې څۀ معجزه وليدے شي چې د بنيادم د بچ کېدو څۀ طمع او ا ، مېد نۀ وي خو په څۀ حادثه کښې هغه ژوندے پاتې شي يا داسې څوک د سخت مرض او رنځ نه بيا راژوندے شي. يعنې ښۀ روغ رمټ شي. نو په داسې وخت خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې پوره يې نۀ وي نو که سر يې د کانې لاندې کړي نو هم نۀ مري" او هم د دې مطلب دپاره د اردو ژبې يو متل داسې مشهور دے ، وايي چې: "جسے اللہ رکھے، سے کون جھکے".

چې په ا ۔ خور دې لوئے شي نو غاښ يې مۀ کوره

قيصه:

د څاروو عمر اکثر خلق د غاښونو نه معلوموي. سخوندر ، جوټه يا سخي کتې اکثر په دوه کاله پس دوه غاښه را وباسي. څنې پکښې داسې هم وي چې هغوي دوه کاله پس غاښ ونۀ کړي نو بيا څلورم کال په يو ځلۀ څلور غاښه وباسي. دې څاروو ته دوه غاښے يا څلور غاښے وئيلے شي. د دې متل په حقله يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو ساده زميدار سړي دېر څاروي ساتلي وو. يوه ورځ يې يوه سخوندر نيولے او غاښ يې ورله کنل. په دغه وخت دپاسه وربانديې يو بل ګاونډي زميدرا راغے او تپوس يې وکړو چې هلکه څه کوې؟ هغه سړي ځواب ورکړو چې د دې سخوندر غاښ مې کنل. چې د څومره عمر شوه. هغه ګاونډي ورته وئيل چې ساده سړيه! چې په ا ۔ خور دې لوئے شي نو غاښ يې مۀ کوه. مطلب يې دا وؤ چې کتې دا سخوندر تا سره وړه لويه شوه پکار دي چې تا ته د دې عادت ، ع ـلت ، صفت او عمر ښۀ معلوم وي. تۀ د دې غاښ څله کوري. او داسې د هغه وخت دا خبره مشرانو په متل مشهوره کړه او مطلب ترينه دا دے چې کنې د معلوم او پېژندګلو بنده يا د څۀ شي عادتونه ، صفتونه او ع ـلتونه ښۀ معلوم وي. نن سبا دا متل په داسې وخت استعماليږي جرته چې په محفل کښې څوک لاپې او دوزې وولي ، خپله درنه ، خپل صفتونه بيانوي او څان باتور باتور کوي ، يا د څانه يې جمني خان او سخي ارسلا خان جوړ کړے وي نو څوک پېژندګلو بنده ورته داسې وايي چې کښېنه غلے! ماته معلوم نۀ يې څۀ ، يا زۀ دې دېر

ښهٔ پېژنم چې تهٔ ځومره باتور يې. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي:"چې ا ـ خور دې لوئے شي نو غاښ يې مهٔ کوره".

د تپـــــــــوس هـــــــــبڅ ضـــــــــرورت نشـــــــــته
د کـــــــــورني ســـــــــخوندر ځـــــــــوک نـــــــــهٔ شـــــــــهپرې غاښـــــــــونه

چې په تمه د سو ـ رو شي هغه پاتې په مېرو شي

قيصه:

پخوا په زمانه کښې پيادې مزلې وې. دا زما د يادو خبره ده چې زمونږ د کلي او د علاقې نه به خلق پياده په مېره غاړه د کاکا صېب زيارت ته تلل او راتلل. د دې متل په حقله داسې بوه قيصې مشهوره ده. وايي چې داسې يو غړے پخوا په سفر روان وؤ. دا سفر يې په خوشې شاړو او مېرو باندې وؤ. دې غړي چې تر مابښامه سفر وکړو نو سترے شو. د دمې لپاره په لاړه يو غاړې ته کښېناستو ، دا فکر او سوچ يې کولو چې کېدے شي په دې غاړه ځوک راپښې شي او سورلي ورسره وي. په دې طمع وربانديې تيارهٔ شوه. بيا يې په زړهٔ کښې دا راغلل چې د شپې به ځهٔ مزلې کوم. هم دلته به شپه تېره کړم او کېدے شي چې ځوک نه ځوک راپښې شي. داسې په ناسته او کله ملاسته يې شپه سبا کړه بيا د سحر يې هم کرل رېبل چې روان شي او که نه. اخر بيا يې انتظار ته غاړه کښېوده او زړهٔ له يې دا تسلي ورکړه چې پرون مابښام وؤ او اوس ورځ شروع شوه کېدے شي چې ځوک راشي. په انتظار انتظار يې هغه ورځ هم تېره کړه. خوراک څښاک ورسره هم ختم شو او په لوړه تنده يې هغه بله شپه هم تېره کړه. په بله ورځ بيا سرے د حرکت کولو نهٔ وؤ. دومره توان يې نهٔ وؤ چې سفر يې جاري ساتلے وے. هم په هغه ځائے اوړے ترے پروت وؤ او لاړې ته يې دوه سترکې خلور کړې وې. خو دا هم اتفاق وؤ چې په دغه ورځو کښې ځوک په هغه لاړه تېر نهٔ شول. او داسې وايي چې هغه غړے هم په هغه ځائے د لوړې تندې نه مر شو. خو د مرګ نه وړاندې هغهٔ خپل ټول حالات ليکلي وو چې زما په حال خلق خبر شي او سبق ترېنه واخلي. ځکه هوښياران وايي چې په حرکت کښې برکت وي او چې ځوک حرکت کوي نو په تولند تولند منزل لنډيږي. هم د دې مطلب دپاره د هغه وخت مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړو. يعنې مطلب دا چې ځوک غړے د سورلي په تمه او اميد کښې په لاړه کښې ناست وي. نو کېدے شي چې هغه هم هلته ناست پاتې شي. ځهٔ سورلي ورته مېلاؤ نهٔ شي او بيا لاړه چې د صحرا ، ځنګل او مېړې وي نو په هغې کښې سل خطرې وي او خدائے خبر چې هغه بنيادم د کومې خطرې سره مخ شي. او نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي جرته چې ځوک داسې ناراسته او لټ بنده په هر کار او خبره کښې د بل په تمه او انتظار وي ، يا داسې په لنډ او لږ سفر هم د ځهٔ سورلي په انتظار کښې پروت وي او وخت بربادوي نو په داسې وخت او موقع داسې ناراسته خلقوته هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي:"چې په تمه د سو ـ رو شي هغه پاتې په مېرو شي".

چې په خوي ثاني وي د هغو ياري وي

د خوي خصلت نه معنـ ـی او مطلب د بنيادم اخلاق ، طبيعت او کړهٔ وړهٔ دي. يعني مطلب دا چې د چا د يو بل سره اخلاق ، کړهٔ وړهٔ ، ناسته پاسته ، طبيعت او عادتونه (خوي خصلت) يو شان وي نو د هغوي ياري دوستي او خپلولي وي ، يا ياري دوستي يې ښهٔ مضبوطه او پائيداره وي. بلکې زهٔ به دا ووايم چې په دې کښې حېثيت ، مقام او مرتبه هم مهمه ده. يعني د يو حېثيت او يوې مرتبې والا خلقو د يو بل سره ياري وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې د يو شان خوي خصلت د يو بل سره يو شان نهٔ وي نو د هغوي ياري دوستي او خپلولي دېره رز خنمه او ماته شي. يعني د ښهٔ ، روغو او نېکو خلقو هم د ځان پشان ښهٔ او نېکو خلقو سره ناسته پاسته وي ، يعني ياري دوستي وي او د بداخلاقو ، لوفر لفنګ او د بدمعاشانو خلقو هم د ځان غوندې بدو خلقو سره ياري شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. او داسې وائي چې خانه! ياري د سياله سره خوند که ځکه! "چې په خوي ثاني وي نو د هغو ياري وي".

چې په ښهٔ مې نهٔ راځي نو نوم يې نهٔ راځي

قيصه:

د پښتنو په معاشره کښې ترۀ ، تربور ، تربورولي او دښمني د يو بل سره تړلې قيصۍ دي. ډېرې دښمنۍ داسې وې او دي چې هغه د ترونو راوړو او تربورانو تر مېنځه وي. داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو هلک نه چا تپوس وکړو چې هلکه ترۀ دې شته ، هغه هلک ورته وئېل چې اهو شته. هغه سړي ترېنه د نوم تپوس وکړو. نو هلک ځواب ورکړو چې نوم يې نۀ راځي. هغۀ ترېنه بيا تپوس وکړو چې زامن خو به يې وي ، د هغوي څۀ نامې دي. هلک ځواب ورکړو چې نومونه يې نۀ راځي. هغه سړي ورته ډېر په حېرانتيا سره وئېل چې تۀ څنګه بنيادم يې چې نۀ د ترۀ نوم درځي او نه يې د زامنو. هلک سمدستي ځواب ورکړو چې خفه کېږه مۀ کاکا! چې په ښۀ مې نۀ راځي نو نوم يې نۀ راځي. او وئېلے شې چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې د چا ما سره لېن دېن ، تعلقات ، تلے راغلے ، عزيزولي او خپلولي نشته يا ساتل نۀ غواړي. نو زۀ يې نۀ د حاله خبر يم او نۀ ترېنه ځان خبرول غواړم. نن سبا په داسې حالانو کښې استعماليږي چرته چې څوک د چا سره د هغۀ د مخالفو په حقله څۀ خبرې اترې کوي ، يا ترېنه د هغوي په حقله څۀ تپوس پوښتنه کوي يا کول غواړي نو هغه غړے د ځان او د خبرې د خلاصي دپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار! "چې په ښۀ مې نۀ راځي نو نوم يې نۀ راځي".

چې په شوملو مئين يې نو ځان له غوا واخله

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو زميدار غړي په پټي کښې د شوملو سره ډوډۍ خوړله. مچان هم د شوملو دښمنان وي ، يو مچ به بيا بيا راتلو او په شوملو کښې به ورغوپه کېدو. دې سړي به مچ د شوملو نه راويستو او لرې به يې ګوذار کړو. خو مچ به بيا راورسېدو او په شوملو کښې به ورغوټه شو. دا سړے چې د مچ نه دېر تنګ راغلے وؤ نو يو وار يې وئېل چې سر خوړليه نورې دې رانه اونۀ څښلې. چې شوملې دې دومره خوښې دي نو ځانله غوا واخله. داسې دا خبره د هغه وخت نه مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې د چا څۀ شے خوښ وي نو ځانله دې خپل واخلي. د بل په تمه او اسرا دې نۀ کښېني يا د بل سوال ته دې نۀ کښېني يا د بل په کور يا د بل په چاټوري دې خېټه نۀ وراچوي. اکثر يې مشران د طنز په توګه خلقو ته وړاندې کوي او مطلب يې دا وي چې ګڼې که څوک د څۀ شوق لري يا څۀ خوښوي نو ځانله دې خپل واخلي. د بل په تمه دې نۀ وي يا د بل نه دې سوال نۀ کوي او مشران يې اکثر په داسې موقعو کښې استعمالوي چرته چې څوک تش تور باڼے بنده شوقونه خو زيات لري خو مدام يې د بل په سر او لاس ، يعنې د بل په جېب پوره کوي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "مچ چې په شوملو مئين دے نو ځانله دې غوا واخلي".

چې په ګ ، ړه مري نو زهرو ته يې حاجت نشته

د لفظونو نه ظاهره ده چې دا هم يو ساده او عام متل د معنی او مطلب يې دا دي چې ګڼې ګ ، ړه خوږه وي او هر څوک يې خوړلو ته په رضا صلاح سره تيار وي. بل خوا زهر دي چې نامه يې هم ترخه او بده لګي. نو هر سړے ترېنه وېره او ډډه کوي. د زهرو خوراک ته څوک په اسانه غاړه نۀ ږدي ، يا په زبردستۍ ورکولے شي او يا په دهوکه دهرکه. هم داسې چې د چا نه څۀ کار په رضا صلاح او په مينه محبت باندې اخستلے او سر ته کولے شي نو بيا زور زبردستۍ يا وهلو ټکولو ته حاجت او ضرورت نشته. مشرانو دا متل هم د دې مطلب دپاره جوړ کړے او مشهور کړے د معنې مطلب دا شو چې په خوږه او پسته خ ، له يو کار کيږي نو بيا غصې ، زور زبردستۍ او جنګ جګړې ته ضرورت او حاجت نشته. خاص کر د ماشومانو سره د خوږې ژبې او مينې محبت ډېر ضرورت وي. ماشومان د څۀ څيز په لالچ ، خوږه ژبه او مينې محبت سره ډېر زر په ښودلې شوې لاره باندې روانيږي يا په لاره کيږي ته د ګ ، ړې نه مطلب مينه محبت او خوږه وېنا ده. اود زهرو نه مطلب زورنه ، کنځل وېنا ، غصه ، قهر او جنګ جګړه دي.

نن سبا دا متل په داسې موقعو کښې استعماليږي چرته چې د يو بنيادم په بل چا څۀ کار پېښ شي او هغه کار په ګ ، ړه يعنې په خوږه خ ، له او پسته ژبه اخستلے او سر ته کولے شي. نو هغۀ سره بيا جنګ جګړې او زور زبردستۍ ته حاجت او ضرورت نۀ وي. ځکه مشران په داسې حالانو او موقع کښې دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې "په ګ ، ړه مري نو زهرو ته يې حاجت نشته".

چې کورے نوم پرې بدنام نۀ کړي
چې کره شته زهرو ته نشته حاجتونه

چې پېدا دې نۀ وي د مورد ، ورته اونۀ وائې ورورد

دا يو ساده او عام متل د معنۍ ، ې پې د لفظونو نه څرګنده ده. يعنې چې ځوک خپل سکه وروړ نۀ وي نو بل پردے راوړے وروړ کېدے او جوړېدے نۀ شي. مطلب دا چې خپله وينه خپله وي او پردے راوړے که ډېر هم خوږ شي خو وروړ به نۀ شي. اکثر داسې په يارۍ دوستۍ کښې دوه غړي دومره نزدې او خواړۀ وي چې په يو بل ځان قربانوي. خو بيا هم مشران وايي چې د وروړۍ درجې ته نۀ رسيږي يعنې د وروړ خپل حېثيت ، مقام او اعتبار وي. چې هغه په هر جا نۀ کولے شي او نۀ ورکولے شي. په دې حقله نور هم ډېر متلونه مشهور دي. او مطلب د ټولو دا دے چې ګڼي د وروړ مقام او اعتبار چا بل چا له مۀ ورکوه. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ياري دوستي ، ټلے راغلے ، اشر غوبل او غم شادي په خپل ځائے. او لازمي کول هم غواړي. ځکه چې دا د ژوند سره تړلي دي. او بغېر د دې دود دستور او پښتو نه ژوند ژواک نېمګړے او پېکه وي. خو وروړ او وروړولي جدا حېثيت او مقام لري. او دا مقام صرف په يارۍ دوستۍ يا په وروړ وټېلو نۀ حاصليږي. او نۀ جا پردي راوړي ته ورکولے شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے. د هوښيارانو قولونه د ګاڼې کربڼې وي او په هغې کښې يو دا قول هم دے وايي: "چې پېدا دې نۀ وي د مورد ، ورته اونۀ وايې ورورد".

چې تنګ شي نو په جنګ شي

دا يو عام متل د معنۍ ، ې پې د الفاظو نه څرګنده ده او مطلب يې دا دے چې ځوک غړے د څۀ کار د زياتې له کبله يا د يې ځايه او پرېوانه کنځلو وېنا او زورنې له کبله تنګ راشي يا د چا د ډېر زور ظلم ، ناکړدو او بې انصافۍ له کبله تنګ شي. صبر يې تمام او برداشت ختم شي. بله څۀ لار کودر يې نۀ وي يا نۀ وينې يا بله د تېښتې لار يې نۀ وي نو اخر د مجبورۍ نه جنګ ته غاړه کېږدي. او بيا دې خبرې يا دې فېصلې ته په صلاح شي چې بس يا به دا زور ظلم ختم کړي او يا به پرې خپل سر مات يا خورې ايرې کړي. او داسې حالات اکثر ځکه جوړېږي يا پېدا کېږي جرته چې انصاف نۀ وي نو د زور ظلم او ناانصافۍ نه تنګ راغلي خلق قانون ، ا ، صول او حدونه هر څۀ مات کړي او جنګ ته تيار شي. که هغه د چا ظالم خلاف وي يا د چا د دلې خلاف ، يا د معاشرې خلاف او يا د سرکار او سلطنت خلاف وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو. چې کنې دومره زور ظلم او ناانصافي نۀ ده پکار. چې له کبله يې خلق دومره تنګ راشي چې هغوي جنګ جګړې ته تيار شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا اکثر په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې ځوک داسې د چا د زور ظالم او ناکړدو نه تنګ راشي ، يا يوه ډله يا قبيله د سرکار د چارواکو د بې انصافۍ او لاقانونيت له کبله بلوه کوي او باغيان شي. نو په داسې وخت هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې اخر د صبر هم څۀ حد وي. "چې تنګ شو نو اخر په جنګ شو". هم په دې الفاظو او د دې مطلب دپاره په اردو او فارسي ژبه کښې کښې داسې وئېلے شي چې: "تنګ امد بجنګ امد".

د تېښتې تي رو کود ر چې بند شي
اخر په جنګ شي چې ځوک تنګ په ژوندون شينه

چې جنګ سور شي مېرے تود شي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے مير غلام نومېدو. چې په کور کلي په ميري مشهور وؤ. ميرے ډېر ساده او کم عقل وؤ. د ساده والي او بې وقوفتيا له کبله به اکثر خلقو سره په جنګ وؤ. که امروزه نه وؤ نو په دوېمه به يې خامخا د چا سره بشکر انښلولے وؤ. خو خلقو هم په کم عقل لېونې حساب کړے وؤ. نو ځکه به يې ترېنه ډډه کوله. د ماشومانو نه خو شېطان هم امان غوښتے دے. داسې ميرے به هم کله کله ماشومانو راکېر کرواو په توقو مسخرو به يې ميرے ښۀ تنګ کوړے به هم ماشومانو ته ډېر غصه وؤ خو د خپلې بې عزتۍ او وېرې نه به خ ، له کتولے وؤ. او کله چې به په داسې موقع ځوک مېدان ته

راغلل. يعني خلقو به وارۀ منع کول يا شرل نو ميري ته به پته ولګېده چې اوس د خلاصې خلق موجود دي نو په دغه وخت به ميري هم کنځل وېنا او زورونه شروع کړل. کله به يې ښځې کښې ته لاس اچوو اوکله د بل په لاس کوتک ته. دا د ميري د جنګ يو انداز او طريقه وه چې کله به دوه په دوه وۏ نو په ځان به يې غوږونه راچولي وو او چې کله به د خلاصې خلقو خلاصے کولو نو په دغه وخت به ميرے تود شو. د مير غلام هغه خوي خصلت مشرانو د متل په توګه مشهور کړو. او مطلب ترېنه داسې جا ته اشاره ده ، شوک چې لکه د ميري غوندې د کار په وخت چل ول کوي. يعني چې د کا رکولو وخت وي نو په هغه وخت سړے غائب او پټ راپټ شي او چې کار ختم شي او سور شي نو بيا هغه بنده رامېدان ته شي. بډې راکاړي او متې رانغاړي او تش په خبرو او هله کوله ځان مخې مخې ته کوي او مېدان ګرموي. نو په داسې وخت هغه مېدان ښائسته سړي ته خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې جنګ سور شي ، ميرے تود شي".

چې چا چو کړي دي هغوي به يې پاځوي

قيصه:

د چو کولو معنا ، ی ده کښېنول. په خصوصي توګه د اوښانو کښېنولو ته چو کول وئيلے شي. کله چې په اوښ سامان اچولے او بار کولے شي نو اوښ والا (ساربان) ورته اوښ کښېنوي. او دې ناستې ته چو کول وئيلے شي. د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو اوښ والا د يو زميدار غړي غنم په اوښ راوړل. دۀ چې کله اوښ چو کړو. نو د حرص يا د ناپوهۍ له کبله يې بار دېر دروند اوترلو. کله چې يې اوښ پاځولو نو د زيات بوج له کبله اوښ نۀ شو پاځېدلے. دې اوښ والا ورسره خپل چل هنر دېر وکړو خو اوښ به غرغرۍ کولې اود پاځېدو نۀ وۏ. په دغه وخت يو زميدار په لاره روان وۏ. دې ساربان ورله اواز ورکړو چې کاکا راشه دا اوښ راسره پاځوه. هغه زميدار چې د اوښ بار ته وکتل نو پوهه شو چې د دې وزن سره يا د دې بوج نه اوښ د پاځېدو نۀ دے. نو ساربان ته يې وئيل چې خانه! جا چو کړي دي هغوي دې پاځوي. او وايي چې د هغه وخت نه هوښيارانو دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه او مطلب ترېنه دا دے چې کټې جا غلطي کړې ده نو اوس هغوي پوهه شه او کار يې پوهه شه ، يا چې د جا نه کار وران او خراب شوے دے نو اوس دې هغوي سموي يا روغه وي. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي. حرته چې د جا نه ځۀ غلط کار وشي يا ترېنه ځۀ شے وران خراب شي. نو د کار يا د هغه ځيز مالک يا نور خلق ذمه واري د هغه پر غړي په سر داسې وراوړي چې خانه! تا نه کار وران او خراب شوے دے يا له تا نه خبره ورانه شوې ده. اوس به يې تۀ سموې يا روغوې. يعني تۀ پوهه شه او کار دې پوهه شه. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي: "چې جا چو کړي دي هغوي دې پاځوي". په اردو ژبه کښې د دې مطلب دپاره داسې وئيلے شي چې:

"جو بولے وه بواه کهولے".

چې چرته ښۀ وي هلته شپه وي

دا د هوښيارانو قول دے چې کله کله د متل په توګه هم استعماليږي. د دې توري /توکي "ښۀ" نه دواړه معنې مطلب او مراد دي. يعني په ښۀ نظر کتل. ښۀ قدر عزت کول او ښۀ خيال خاطر ساتل. او دوېم مطلب يې د خپتې سره ترلے دے. يعني ښۀ خوراک خښاک (غوړ زېړ ، حلواکاڼي او چرګان) مېلاوېدل. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې چرته د جا قدر عزت وي نو هلته وخت (شپه) تېروي. او يا ځوک داسې خپته ور او اوړ سترګے بنده چې په خپته مړ وي او د هغۀ غرض هم وخت د بېره کول وي. نو هغۀ ته چې بيا کوم ځائے غوړ زېړ ، يعني ښۀ او دېر خوراکونه مېلاويږي نو هم هلته خپل کټ پوزے اچوي يا غوړوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او نن سبا هم چې چرته داسې شوک باران پسې پټے ګرځوي نو د هغۀ په حقله جمعه خان کاکا وايي چې لېونيه! د ډېراني به ځۀ وائې هغه خو: "چې چرته ښۀ وي هلته شپه وي".

چې چرته ډب وي هلته ادب وي

دا د هوښيارانو قول دے او د نصيحت په توګه يې مشران استعمالوي. د ډب نه مطلب کوذار دے. يعني کوذار ورکول او وهل يعني د کزار په ځائے د ډب تورے هم وئيلے شي. لکه داسې وئيلے شي چې هلکه! په دې غوا يو دوه ډبه واچوه. يعني يو دوه کزاره يې ووهه او په محاوره کښې "ډبول" استعماليږي. لکه وايي چې: دومره مې اوډبوو چې ښهٔ مې پلن کړو. د دې معنې تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې جرتې وهل وي نو هلته وېره وي او چې جرتې وېره وي نو هلته سړے په ادب کښې وسي. دا متل په خصوصي توګه د ماشومانو په حقله استعماليږي او مطلب يې دا دے چې ګڼې جرتې ماشومانو سره دا وېره وي چې ګڼې په ځهٔ غلط کار يا غلطه خبره به راته سزا مېلاويږي او وهل به اوخورو. نو هغوي بيا په نېغه لار وي. شرارت او شېطانت نهٔ کوي او د مشرانو مخکښې په ادب کښې وسي او جرتې چې ماشومانو ته په ځهٔ کښې نامنع نهٔ وي يا ورته زورنه غصه او ډب نهٔ ورکوي نو هغوي بيا اکثر بې سره او بې ادبه لوئے شي. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. نن سبا هم مشران د نصيحت په توګه خلګو ته داسې وايي چې ماشومانو ته د ادابو ښودلو دپاره د محبت او نصيحت سره سره ډب هم لازمي دے. ځکه: "چې چرته ډب وي نو هلته ادب وي".

چې چرته شاړه ده ، نو د ميان م ، لا په غاړه ده

د دې متل په حقله وئيلے شي چې د پښتونخوا په سيمه کښې چې کله د قبيلو په سطح د زمکو وېش کېدو نو د دوۀ قبيلو ترمنځه به يې ځهٔ زمکه بغېر وېشه پرېښودلځوک وايي چې دا زمکې يې ميا کانو او م ، ليانو له ورکړي وي او دا به د دوۀ قبيلو يا د دوۀ کلو پوله وېعني د دوۀ قبيلو او يا د کلو تر منځ به م ، ليان او ميا کان وو. نو هغوي به د يو بل په زمکو قبضې او جنګ جګړې نهٔ شوې کولې. او ځوک وايي چې دا زمکې په شامبلانو حساب وې.کومو پوهانو چې دا وېنا ده چې دا زمکې يې م ، ليانو او ميا کانو له ورکړي وي خو ميا کانو او م ، ليانو نه زميداري کوله او نهٔ کوي نو ځکه ترېنه هغه زمکې شاړې پاتې شوې يا جوړې شوې. نو ځکه ورپسې دا متل مشهور شو او د دلې دلې پوهان داسې وايي چې دا شامبلات وو او نن هم داسې په ځنو علاقو کښې د کلي په سطح د شامبلانو زمکې پرتې دي چې نن پرې زورورو خلقو قبضې کړې دي. خو د هغه وخت زميدارو او خانانو چې به چرته شاړه او د کلي نه لرې زمکه وه نو هغه به يې چا م ، لا يا ميان له خبراتي ورکړه. داسې ډېر شته منو زميدار او خانانو خپلې ځهٔ روغې (ابادي) او ځهٔ بې ابادي شاړې زمکې دوي ته سپارلې او وربخښلې وي چې په سيرې مشهورې شوي. يعني چې کومه زمکه به يې دوي له ورکړه نو هغه به د ميا کانو سيرې شوه. داسې ډېر کلي نن سبا د ميا کانو په نامه اباد دي. او وايي چې هم د دې حالاتو له کبله دا متل جوړ او مشهور شوے دے. مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې پاتې راپاتې ، خراب بې کاره او ناپکاره ځېز يا شے زمونږ په غاړه شو ، يا زمونږ په غاړه دے.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي جرتې چې ځوک ځهٔ ناپکاره او بې کاره متلک ، ډ ، زور يا پاتې راپاتې شے جا له ورکوي نو هغه بنده ورته داسې وايي چې د غورځولو شو يا شار شو نو اوس دې راوړو ، يا ورته په ځهٔ وېش کښې مات ک ، ډ او خراب شے په برخه ورسي يا ورته پاتې راپاتې برخه مېلاؤ شي نو په داسې وخت هغه بنده خپل قسمت په دې متل کښې ژاړي او داسې وايي: "چې چرته شاړه ده نو د ميان م ، لا په غاړه ده". او په ځنې علاقو کښې داسې وئيلے شي:"چې چرته د خور غاړه ده نو د ميان م ، لا په غاړه ده".

چې چرته غم وي ، د متشم وي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې يوه بوډۍ کونډه ښځه وه. د هغې يو ځوئے متشم نومېدو. متشم خوار غريب او مزدورکار غړے وؤ. د خلقو په خدمت او خواري مزدورۍ يې ګزران وؤ. وايي چې مزدورۍ له يې يو خر او يوه خره هم ساتلې وو. متشم ښهٔ خواري کښې او ايماندار بنيادم وؤ. په خپله برخه ښهٔ خوشحاله ، مطمئين او شکرګزاره وؤ. وايي چې په يو حال الله پاک دے. بنيادم ته خو کله شپې اوږدې او کله ورځې. متشم غريب هم د وخت او د بخت په چال کښې داسې

راکښر شو چې تکليفونه او غمونه يې ورځ تر ورځه سپوا کېدل. اول د کار روزګار په لټون کښې سرګردانه وؤ. خو څۀ مزدوري او روزګار يې نۀ موندلو. هم په دې ورځو کښې يې مور داسې ناروغه شوه چې يو څو ورځو کښې په حق ورسېدله. د مور غم يې لا تازه وؤ چې يو ورځ يې خر د کمره اورغږېدو او مړ شو. هوښياران وايي چې د خوارو خواره برخه وي. داسې متشم هم د غمونو سره مخ وؤ. هم دغه ورځو کښې يې خره لنګه شوه او کوچے (نر بچے) پيدا شو. د الله پاک کارونه د حکمت وي ، د کوچي لکی نۀ وه. خلق چې د دې نه خبر شول نو نندارې او تماشې له به راتلل. متشم غريب چې د اوله ښۀ غمونو زېلے وؤ چې هغه يې لکی کوچي ته به يې کتل نو دېر به زهير شو او چې د خلقو رنګ رنګ خبرې به يې اور بدلې نو بيا خو به يې زړۀ تک جودو. يو ورځ داسې په حجره کښې په متشم او د هغۀ په کوچي بحث او خبرې اترې شروع وې. په وګړو کښې يو مشر چې د متشم د حالاتو نه ښۀ خبر وؤ وئېل ، چې متشم خو دېر ايماندار سړے دے. خدائے خبر چې نن سبا يې بخت ولې کوټه شوے دے. کوره چې چرته غم دے نو د متشم دے. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې کټ هر غم يا ټول غمونه د متشم په سر دي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې لکه د متشم غوندې په مصيبتونو ، خفګانونو او غمونو کښې راکښر وي. يو غم لا تلې نۀ وي چې بل يې په سر وي. او بخت يې داسې کوټه شي چې په اوچ ميدان او ډاکه ټکرې خوري نو کله چې هغه غرے خپل حالت او کېفيت بيانوي نو د خپل بخت ژړا په دې متل کښې ژاړي او داسې وايي: "چې چرته غم دے نو د متشم دے".

چې چرته نۀ کار ، هلته څۀ کار
چې چرته نۀ ګرېږي نو هلته مۀ ګروه

قيصه:

پخوا په زمانه کښې ابادي کمه وه. يعنې ځائے په ځائے او د يو بل لرې لرې وارۀ وارۀ کلي او باندې ابادي وي. شارې مېړي او ځنګلي زياتې وي. دې ځنګلو کښې به شرمخان او کيډران دېر زيات وو. شرمخانو خو به هم زيان رسولو خو کيډرانو به فصلونه سم تباه کول. په خصوصي توګه د جوارو او کنو دښمنان وو. د فصل د څوکې او ساتنې دپاره به زمېدارو اکثر په پټو کښې سپې ساتل او يا به يې کيډرانو ته کورکے (لټ) کېښودلو. د دې متل په حقله هم داسې يو قيصه مشهوره ده. وايي چې يو ورځ يو زمېدار وکړي د جوارو په پټي کښې کيډرانو ته لټ کېښودلو. چې په هغه وخت يو څو ماشومانو وليدو. کله چې هغه زمېدار د پټي نه لاړو نو هغه ماشومان ورغلل او هغه ځائے يې لتوؤ. د کتنې او لټون دپاره يې چې ځنګه هغه ځائے کمتل شروع کړۀ نو هغه پټ لټ پرې راخلاص شو او د يو ماشوم لاس ورکښې کېر شو. هغه ماشوم د درد او وېرې نه چغې سورې جوړې کړې. په چغو سورو سره د خواوشا خلق راجمع شول ، څۀ کوري چې ماشوم په لټ کښې انځۍ پروت وؤ. په دغه وخت پرې هغه د پټي مالک هم راورسېدو. اول خو ورته دېر غصه شو خو چې د هلک حال ته يې وکتل نو زر يې د لټ نه خلاص کړو او په غصه يې ورته وئېل. چې چرته نۀ کار نو هلته څۀ کار. او داسې د هغه وخت نه دا قول د متل په توګه مشهور شو. او مطلب ترېنه دا دے چې کټ چرته دې څۀ غرض ، مطلب او کار نۀ وي نو هلته څۀ کار مۀ کوه يا د خانه څۀ کار مۀ کوه ، يا ځانله کار مۀ کوره. او نن سبا هم په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د بل په کار کښې کار لري ، يا د چا کار رخراب او ورانوي. خپل ځان يا بل چا ته زيان رسوي ، يا د زيان او د کراؤ سبب جوړېږي. نو مشران ورته دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې چرته نۀ کار نو هلته څۀ کار" يا "چې چرته نۀ کرېږي نو هلته مۀ کروه".

چې ځان خفه کړي نو بل به خوشحاله کړي

دا يو ساده او عام متل دے. مطلب يې دا دے چې که چرې بل خوشحالول غواړي نو ځان خفه کره. يعنې دا متل داسې حالاتو ته اشاره کوي چرته چې دوه کسه د سود او کټې دپاره د يو بل نه خفه او ناراضه وي. مطلب دا چې د دوؤ غرو تر مېنځه په څۀ کار روزګار کښې چې يو ته فائده او بل ته زيان رسي نو فائدې والا بنده ښۀ خوشحاله وي او زيان والا ښۀ خفه ، غصه او ناراضه وي. د دې حالاتو دپاره مشرانو وئېلې دي چې که چرې بل سړے خفه کول نۀ غواړي نو کټه او فائده بل ته ورکړه. چې هغه خوشحاله شي. زيان او تاوان خپله واخله ، په ځان غم او خفګان تېر کړه نو هله به بل خوشحاله کړي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې که

بل خوشحالول غواړي نو غم خفګان ، دړد تکليف او زيان په ځان واخله يا تېر کړه ، نو بل بنده به خوشحاله شي. هم د دې مطلب لپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. داسې حالات عموما ـ په کاروباري لېن دېن ، په خپلولۍ او عزيزولۍ کښې او اکثر د کورنو شخړو او حالاتو له کبله سړي ته ورمخ کيږي. په داسې حالاتو کښې د روغې صفالې او خبرې سپينولو لپاره مشران يوې ډلې ته يا يو کس ته داسې وايي چې خېر دے هلکه! په دې وخت تهٔ خفه ښهٔ يې خو چې هغه خوشحاله شي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي: "چې ځان خفه کړې نو بل به خوشحاله کړې".

خوشحالول کـــــــــــــــه د بـــــــــــــــل غـــــــــــــــواړې
پـــــــــــــــه خپـــــــــــــــل ســـــــــــــــر پنـــــــــــــــډ کـــــــــــــــړه د دنيـــــــــــــــا واړه غمونـــــــــــــــه

چې ځې ځې نو ا ـ بازو له به راځې

قيصه:

د پېښور ښار نه چې تنګي ته ځې نو وړومبے د شبقدر ډهېرۍ وړه شان ښاريه راځي. د شبقدر (شوقدر) نه پورته بيا تنګي ته سړک تلے دے شبقدر او د تنګي په مېنځ کښې ډېر واړهٔ واړهٔ کلي ا ـ باد دي. د شبقدر ډهېرۍ نه لږ بېرته او تنګي غاړې ته نزدې يو سيند دريائے سوات هم بهيږي. په هغه سيند باندې سړک تنګي ته پورې وتلے دے. په سيند چې ل تړلے شوے دے نو هغه د م ـ نډې پ ـ ل په نامه مشهور دے هغه ځائے د سيند په غاړو کښې يو خوا بل خوا ډېر کلي ا ـ باد دي بازو کلے هم دغلته د سيند په غاړه ا ـ باد دے ا ـ بازو سره خواوشا کښې نور کلي هم لکه متهه ، بېله ، کنوزئي او داسې نور کلي ا ـ باد دي. پخوا په زمانو چې کله د م ـ نډې پ ـ ل لا جوړ نهٔ وؤ نو په ا ـ بازو کلي کښې د بېړو (کيشتو) پ ـ ل وؤ دغې علاقې تک راتک به د ا ـ بازو کلي د بېړو (کيشتو) پ ـ ل وؤ. که څوک به تنګي ته تلل او شبقدر غاړې ته پورې وتل نو اول به لازمي ا ـ بازو کلي ته تلل او د بېړو په پ ـ ل به پورې وتل. نو بيا به يې خپل منزل ته مخه کوله. مطلب دا چې د هغې علاقې خلق به په سيند پورې وتلو له ارومرو (ضرور او لازمي) بازو کلي ته ورتلل. د دې وجې نه په هغه علاقه کښې دا خبره مشهوره وه چې که هر خوا ځې خو ا ـ بازو کلي ته به ضرور ورځې. او دا مطلب وروستو مشرانو په يو جمله يا فقره کښې د متل په توګه داسې مشهور کړو چې "ځې ځې نو ا ـ بازو له به راځې".

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د يو کس چا سره داسې څهٔ کار پېښ شي. چې هغه کار بغېر د هغه کس نه ، د هغه دوکان ، يا د هغه ادارې نه علاوه بل څوک نهٔ شي کولے. او د هغه کا رسر ته کولو بله څهٔ لاره ګودره نهٔ وي. بلکې هغه بنده مجبوره شي چې هغه کس ، دوکان او يا ادارې ته غاړه کېږدي. نو په داسې حالاتو او موقع کښې هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "ځې ځې نو ا ـ بازو له به راځې".

چې څوک بل ته کنده کني نو خپله پکښې پرېوځي

دا يو ساده او عام متل دے او عبدالرحمان بابا دومره زيات مشهور کړے دے چې د پښتون بچي بچي ترېنه خبر ، په معنـ ـ ي پوهه او مطلب ته رسېدلے دے. په دې حقله نور هم ډېر متلونه مشهور دي لکه: "مهٔ کوه په چا اوبه شي په تا" يا "خپل عمل د لارې مل" يا "چې څهٔ کړې هغه به رېبې" او داسې نور ډېر. او د ټولو نه مطلب دا دے چې څوک بل ته کنده کني. يعنې د بل چا دپاره بد خوښوي ، بد ګوري يا بد لټوي يا ورته څهٔ زيان رسوي. يعنې په مصيبت ، تکليف او غم يې اړوي. نو يو وخت داسې راشي چې هغه غړے خپله په هغه بدو کښې راګېر شي ، يا هغه شان زيان ومومي يا هغسې تکليف ، غم او مصيبت سره مخ شي. يعنې دا مکافات علم دے چې د چا څهٔ رنګ عمل او کردار وي نو هغهٔ ته به هم هغه شان صله ، نتيجه او مېوه مېلاويږي. د يو حديث شريف مفهوم دے. وايي چې څهٔ شے د ځان دپاره خوښوې نو د مسلمان ورور دپاره هم هغه شان څيز خوښوه. او چې څهٔ د ځان دپاره بد ، زهر او ناخوښه ګڼې نو بل ورور هم د هغې نه بچ ساته ، يا بچ کوه. د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے او د نصيحت په توګه يې خلقو ته

وړاندې کوي او وايي: "چې څوک بل ته کنده کني نو خپله پکښې پرېوځي". هم د دې مطلب لپاره ځنې خلق داسې وايي: "چې څنګه نيت هسې مراد".

کوهے مهٔ کنه د بل سړي په لار کښې چرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
(عبدالرحمان بابا)

چې څنګه يې دغسې يو

دا هم د مشرانو يو عام قول دے چې کله کله د متل په توګه استعمالېږي يعنې او مطلب يې دا دي چې ګڼې تهٔ چې په کوم حال يې ، هغسې موږه هم يو. دا متل ځکه مشهور شوے دے چې د ځنو خلقو دا يو پوخ عادت وي. چې خپله بده ورځ ، غريبي ، تکليفونه او غمونه هر چا ته په هر وخت او هر ځائے بيانوي. او خپل قسمت ژاړي. د دې اوږدو قيصو ، ژړا فرياد او ډېرو بيانونو نه د ځان خلاصي دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

دا متل اکثر په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې دوه وګړي په ګپ شپ ناست وي او يو کس پکښې د بل د ژړا فرياد او د قيصو اورېدو نه تنګ راشي. مجلس او خبره ختمول غواړي نو د خبرو د خلاصي دپاره ورته هغه زر په لنډه راتاؤ شي او داسې وايي چې يار بس! "چې څنګه يې دغسې يو" ، يا څوک چا ته خپله غريبي او فقيري ژاړي. او دا تمه لري ، يا ترېنه سوال کوي چې ګڼې څهٔ مدد او مرسته ورسره وکړي يا ورله څهٔ خېر زکوة ورکړي. او هغه بل سړے يا خو په حقيقت کښې دغسې وي او يا ترېنه ځان خلاصوي نو په داسې وخت هم هغه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار يو حال دے: "چې څنګه يې دغسې يو".

چې څنګه يې دغسې زهٔ ووم
چې څنګه يم داسې به تهٔ جوړ شې مئينه

چې څنګ يې ما ئي داسې جا ئي

دا يو عام او ډېر مشهور متل دے. او مطلب يې دا دے چې د هر شي نسل په خپل اصل پسې ځي. په دې کښې انسانان ، ځناور ، مرغان ، نباتات او هر هغه شے شامل دے. په کوم کښې چې د نسل پېدا کولو خصوصيت او صفت موجود وي. د هر يو بنيادم دا فطرت وي او هر چا ته ښهٔ معلوم دي چې هر يو انسان ښهٔ او اصيل نسل والا څيزونه خوښوي. هغه که د ژوند ملګرے دے ، که اسونه ، سپي او يا نور ځناور دي ، يا که د ژوند کولو او تېرولو د ضرورت او حاجت څيزونه او سامانونه دي. دا ځکه چې د اصل کوم خصوصيات او عادات وي. نو هغه په راتلونکي نسل کښې هم وي. يعنې د نسب او نسل څهٔ عادتونه او خوبۍ په راتلونکي نسل کښې قدرتي او فطرتي موجود وي. ګو چې دا به سل په سل نهٔ وي خو بيا هم د اخلاقو ، عادتونو او قدرونو ډېره برخه په ورثه کښې مېلاوېږي. نن سبا د نوي لټون له کبله دا خبره هم په ګوته شوې ده چې ډېر مرضونه هم په ورثه کښې بنيادم ته مېلاوېږي. او د دې متل مطلب هم دا دے چې ګڼې څنګه اصل وي نو هغه شان يې نسل او نسب وي. يعنې د باز په بچي کښې به د باز شانې خوي خصلت وي او د ټپوس هغې کښې به د ټپوس. هسې خو هر شے د دې متل د مطلب په دائره کښې شامل دے خو مشرانو په خصوصي توګه دا متل د انسانانو دپاره جوړ کړے او مشهور کړے دے. او هم د بنيادم په حقله يې استعمالوي.

نن سبا دا متل اکثر په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې په چا کښې داسې څهٔ عادت وي چې هغه عادت او خوي خصلت د هغهٔ په پلار نيکهٔ او يا په نسب کښې مشهور وي. يعنې د بنيادم چې څهٔ عادتونه د مور پلار سره يا د خاندان د نورو مشرانو سره مېلاوېږي ، يا د هغوي پشان وي نو د داسې بنده په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې څنګ يې ما ئي داسې جا ئي". په دې حقله يو بل متل هم ډېر زيات مشهور دے. چې مطلب يې هم د دې متل سره تړون خوري. هغه داسې وئيلے شي چې: "که سل رګه يې نور وي خو يو پکښې د مور وي".

د پـــــــــــلار نيکـــــــــــهٔ نخښـــــــــــي يـــــــــــي کـــــــــــوره
داســـــــي بـــــــه جـــــــا وي جـــــــي يـــــــي مـــــــا څـــــــهٔ رنکـــــــي وينـــــــه

چې څومره خرکے وي دومره يې بارکے وي

قيصه:

د خرکي نه مطلب دے ، وړوکے خر. يعني چې په عمر هم وړکوتے وي او په قد کاټ کښې هم وړوکے او سپک وي. بار هغه سامان او وزن ته وئيلے شي چې د خر دپاسه ترلے او وړلے شي. چې دا بار لږ وړکوتے او سپک وي. يعني په وزن او حجم کښې لږ او کم وي نو هغې ته بارکے وئيلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې وزن او بوج يعني بار د خر د توان او طاقت مطابق ترلے شي. يعني که خر مضبوط او پهلوان وي نو بار ورله هم ښهٔ غټ او دروند ترل پکار دي او که خر وړوکے او کمزورے (خرکے) وي نو وزن ورله هم لږ سپک يعني بارکے ترل او اجول پکار دي.

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې يو زميدار نوے کوچے (خرکے) باري کړے وؤ. يو ورځ هغه زميدار جرته بل کلي ته تلے وؤ او د هغه دهقان چې ټول عمر يې په په سر پندونه راجلولي وو نو هغه خرکي له ښهٔ دروند بار ترلے وؤ. خرکي چې څهٔ لږ شان مزل کړے دے. نو بيا يې ورته وار خطا وؤ. دې دهقان په وهلو تر څهٔ خايه شرلے دے. اخر چې خرکے لاندې او بار پرې دپاسه په لاړه کښې وران ويجار پروت دے. بار دومره دروند وؤ چې هغه دهقان په بواځې نهٔ شو اړولے. په پټې کښې لګيا يو بل زميدار ته يې غږ وکړو چې کاکا راشه لږ مدد راسره وکړه. هغه زميدار او دهقان چې بار واړولو نو څهٔ کوري چې خرکے ترې د لاندې سيدله پروت وؤ. هغه زميدار چې بار ته وکتل او بيا خرکي ته. نو هغه دهقان ته يې وئيل چې اے د خدائے ظالمه! دومره ظلم څوک کوي چې څومره خرکے وي نو دومره يې بارکے وي. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

دا متل نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې په څهٔ شي باندې زيات بوج او وزن وراچوي يا د چا د توان او طاقت نه زيات په هغهٔ باندې څهٔ کار ، بيکار ، بوج او ذمه واري وراچوي. نو هوښياران ورته دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې هلکه ظلم مهٔ کوه او کژاره کوه خکه. "چې څومره خرکے وي نو دومره يې بارکے وي".

چې څهٔ بوس وو هغه وسو

قيصه:

دا زمونږ د يادو خبره ده چې ترېکټري او ترېشري لانهٔ وي جوړې ، يا زمونږه سيمې ته نهٔ وي راغلي. نو خلقو به په څاروو قد (لمبو) باندې غوبلې کولې. هغه غوبل شوې دانې او بوس به په وړځو وړځو په درمنزونو کښې پراتهٔ وو. او د هوا په جلبدو يا الوتو به زميدارو دانې پاکولې. د دې متل په حقله داسې وئيلے شي چې پخوا په زمانه کښې داسې يو درمنز د کلي خوا ته جوړ شوے وؤ. د غوبل نه پس دانې زميدار سنبال کړې وي. خو بوس لا په درمنز کښې پراتهٔ وو. يو ماځيکر جرته د کلي ماشومانو د درمنز خوا سره لوبې کولې او اور يې بل کړے وؤ. د اور څهٔ بخړي د هوا سره بوسو ته لږل او بوسواور واخستو. چې خلق څو خبر پدل ، او بيا درمنز ته رسېدل نو ټولو بوسو اور اخستے وؤ او هر څهٔ سوي وو. دې دوران کښې يو کس د ټولو وروستو راغے. او د خلقو نه يې پوښتنه کوله چې خبر خو دے څهٔ وسو. هغه د بوسو مالک زميدار چې دپر خفګان او غصې اخستے وؤ. خو بيا يې هم دپر په صبر او استقامت سره ځواب ورکړو چې اهو! خبر دے. بس چې څهٔ بوس وو هغه اوسو. او داسې د هغه وخت نه دا خبر د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب يې دا دے چې کټې دومره زيات تاوان او زيان وشو چې څهٔ پاتې نهٔ شول او هر څهٔ تباه برباد او ختم شول. نن سبا دا متل په داسې موقعو کښې استعماليږي چرته چې چا ته دپر زيات زيان ورسي. يعني داسې نقصان وشي چې هر څهٔ ټول په ټوله تباه شي. يعني هيڅ پکښې بچ پاتې نهٔ شي ، هر څهٔ ختم شي. نو په داسې وخت او موقع مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې څهٔ بوس وو هغه وسو".

د	لېونې	به	دغه	وس	وو				
چې	څهٔ	يې	بوس	وو	هغه	يې	ټول	سېزلي	دينه

چې څۀ تيار وي هغه د يار وي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه دوستان وو چې په جدا جدا کلو کښې مېشتۀ وو. يوه ورځ هغه يو دوست د بل دوست کلي ته د څۀ کار دپاره ورغلے وؤ. کله چې د خپل کار نه اوزګار شو نو وخت داسې وؤ چې واپس خپل کلي ته نۀ شو رسېدلے. په زړۀ کښې يې دا فېصله وکړه چې دا شپه به دلته د دوست سره تېره کړم او سبا به کلي ته واپس لاړ شکله چې د دوست ځائے ته ورسېدو نو ماسخ ، تن ناوخته وؤ. دواړه دوستان مېلاؤ شو او د يو بل په لېدو بۀ خوشحاله شول. مېلمه په حجره کښې ناست وؤ. او کوربه لاړو کور ته چې د دودۍ بندوبست ورله وکړي. دے چې کور ته ورغلو نو بڅه يې اوده شوې وه. دې سړي بڅه راويښه کړه او ورته يې وئېل چې دوست مې راغلے دے. او د اخلي پخلي څۀ بندوبست ورله وکړه. بڅه يې چې د کڅه خوب نه په راويښېدو باندې غصه وه. نو دېر په غصه کښې يې وئېل چې زۀ خو ستا د دې بې وخته دوستانو نه خلاصه نۀ شوم. دغه د دودو شکور دے او هغه کښۍ د ساکو دکه ده. د هغې نه ورله يوسه. په دې وخت زۀ هېڅ نۀ شم کولے سړي د مجبورۍ نه په خ ، له لاس کېښودو او هغه سره دودۍ يې کرمه راکرمه کړه. او دوست له يې حجري ته يوړه. په خبرو اترو کښې يې ورته دا خبره داسې وارولە. چې يار ما خو وئېل چې څۀ بۀ شے درله تيار کړم. خو ورندار دې وئېل چې دا به کله پخيږي. او هغه غريب د دېر لرې نه راغلے دے سترے به هم وي او وړے هم. دا تياره ورله يوسه چې وخوري او اودۀ شي نو ارام به وکړي. او هسې هم چې څۀ تيار وي نو هغه د يار وي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا دا متل د داسې دوستانو تر مېنځه استعمالېږي څوک چې د يو بل سره بۀ ا ـ زاد او خوارۀ وي. نۀ د يو بل سره د مېلمه او کوربه شاني تعلق ساتي او نۀ د يو بل نه په دې خبره خفه کېږي ، يا چې څوک داسې په تياره کښې مېلمه شي او د څۀ خاص بندوبست کولو وخت نۀ وي. نو کوربه ورته اکثر د دودۍ په وخت په دې متل کښې خپله مجبوري څرګندوي ، يا مېلمه له سترګې توروي. او داسې وايي چې بس يار دا تياره دودۍ وه او هسې هم: "چې څۀ تيار وي هغه د يار وي".

چې څۀ تيار هغه د يار وي
څنګ په جل ول خلق يې داران دهوکه کوينه

چې څۀ تېر شي هغه هېر شي /
شپه تېره ، خبره هېره

دا يو عام متل دے. د دې متل په حقله يوه فحش قيصه هم مشهوره ده. خو حقيقت دا دے چې د متل لفظونه هم روغ دي. او مطلب تر پنه هم روغ اخستے شي. او اکثر د نصيحت په توګه خلقوته وړاندې کولے شيځلا ـ که يو بنده جرته د چا په مرګ باندې دېر غمژن او بې ا ـ رامه وي يا د څۀ شي په ورکېدو ، خرابېدو او په ماتېدو سره څوک زيات خفه او غمژن وي نو هغۀ ته د تسلي او دادکېرنې دپاره مشران داسې وايي چې صبر کوه خانه ، صبر بۀ شے دے. د وخت سره به هر څۀ ټيک شي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي: "چې څۀ تېر شي نو هغه هېر شي". صبر پکار دے صبر کوه او حقيقت هم دا دے چې د وخت تېرېدو سره د هغه بنده صبر راشي او هغه غم او خفګان يې هېر شي.

دويم مطلب يې دا دے جرته چې د دوۀ کسانو يا دلو روغه صفاله کېږي نو د جرګې مشران هم دواړو دلو ته دا نصيحت کوي چې هلکو څۀ تېر شو. نو هغه هېر کړئ او نور ځان مۀ برباديوئ ، يا چې شپه تېره نو خبره هېره. يو بل سره خپل تلے راغلے او روزګار روغ کړئ او خپله غم بادي شړئ. نن سبا د دې متل يو نوے طرز هم جوړ شوے دے چې مشران يې هم په داسې جرګو مرکو کښې استعمالوي. اکثر د جرګې مشران دواړو دلو ته اخري نصيحت او خبردارے داسې ورکوي او وايي چې هلکو بس: "تېر هېر او باقي روزګار".

خبره هېره شپه کړه تېره
په پردي کت نۀ شي د ټولې شپې خوبونه

چې څۀ کړې هغه به رېږې

دا د هوښيارانواو پوهانو يو ډېر مشهور قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. ی او مطلب يې هم هر چا ته ښۀ معلوم دے. لکه څنګه چې د دې دنيا په پټو کښې څوک څۀ کړي نو هغه رېږلے شي. د ځمنو نه ځنم او د اوربشو نه اوربشې رېږلے کيږي. هم داسې دا دنيا د ا ۔ خرت بټے دے چې دلته دې څۀاوکړل نو هغه به په هغه جهان يعني په ا ۔ خرت کښې رېږې. يعني که ښۀ عمل کوې نو ښۀ به مومې او که بد عمل کوې نو بد به مومې. هم‌دې دنيا او هم په ا ۔ خرت کښې به د خپل عمل سزا ، جزا او مېوه مېلاويږي. په دې حقله نور هم ډېر متلونه مشهور دي چې مطلب يې هم د دې متل سره تړون خوري لکه: "خپل علم د لارې مل دے" ، يا "مۀکوه په چا اوبه شي په تا" يا د عبدالرحمان بابا شعر: "کوهے مۀ کنه د بل سړي په لار کښې — چرې ستا به د کوهې په غاړه لار شي". د دې ټولو متلونو نه مطلب قريب قريب يو دے. او اکثر مشران يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. چې خلق تر ښه سبق ، نصيحت او عبرت واخلي. او د ژوند په لاره وربانديې عمل کوي.

د هوښ ـــــــ

شي. د هغه سړي چې يقين او عقيده ښه په دې خبره پخه شوې وه چې کنې دا ورکړه د الله پاک د طرفه وي او د الله پاک حکم نه بغېر نۀ مراد سر ته کېږي او نۀ به وشي. نو هغه سړي ته يې خواب ورکړو چې ورورہ! چې خدائے يې نۀ کړي نو پير بابا يې ځۀ کړي او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب ترينه دا دے چې کوم کار الله پاک ته منظوره نۀ وي يا يې وخت نۀ وي پوره شوے ، يا يې د کوم نۀ وي ورکړے شوے نو هغه خبره يا هغه کار د دنيا بل هېڅ يو طاقت نۀ شي کولے.

نن سبا دېر زيات پيران او مولبان د دې کارونو ټهيکداران جوړ شوې دي. او په هر ځائے کښې د دوي ادې او دوکانونه جوړ شوي دي. دوي دا کاروبار يا روزګار باقاعده د تجارت په شکل کښې جلوي. په هر ځائے کښې د پيرانو او باباګانو صلاح کار (کارنده) ساده باده خلقو ته د دې خبرې لمسه او مرسته ورکوي. چې کنې د هر مشکلاتو حل د فلاني پير صېب يا د فلاني بابا صېب سره دے. د داسې خلقو په عقل شعور باندې هم ژړا راشي. چې د هغوي ايمان ، يقين او عقيدې هم په دې خبرو داسې پخې جوړې شوې دي. چې د هر تکليف ، مصيبت ، غم ، مرض او کشالو مسئلو حل د پير صېب په تعويذ ، ساخت يا په دم درود باندې سر ته کول او ختمول غواړي. د داسې خلقو د نصيحت لپاره دا متل کافي او شافي دے او هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک داسې د الله پاک په رضا راضي نۀ وي او ځۀ کار يا خبرې له د پيرانو او باباګانو واسطې لتوي ، يا ځۀ کار روزګار د محنت کولو په ځائے په چو منتر باندې جلول غواړي. نو داسې خلقو ته هوښياران د سبق او نصيحت په توګه دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې هلکه! "چې خدائے يې نۀ کړي نو پير بابا به يې ځۀ کړي".

دا د قـــــــــــرا ـ ن حـــــــــــديث مفهـــــــــوم دے
چـــې خـــدائے يـــې نـــۀ کـــړي څنـــک بـــه يـــې وکـــړي تعويذونـــه

چې خوار شي نو هوښيار شي

په متل کښې خوار او هوښيار په يو ځائے ستايېلے شوي دي. دا نه چې کنې مالداره خلق هوښياره نۀ وي. مالداره خو د خوارو نه زيات پوهه او هوښياره خلق وي. ځکه چې د هغوي تعليم او تربيت زيات وي. د هوښيارانو سره يې ناسته پاسته وي. په دنيا کړځېدلي او دنيا يې ښۀ ليدلي او کتلې وي. بل خوا خوار غريب چې ټول عمر يې په دهکانو او مزدورو کښې تېر وي. نۀ هغوي د دنيا په تين تېره پوهيږي او نۀ د دې نه خبر وي چې دنيا څو ډانګه ده. خو دا متل په اصل کښې د يو داسې خوار غريب بنده محنت خواري او د هغۀ هلې ځلې څرکندوي. چې هغه وربانديز د خپل ژوند لاړي خوښوي ، روغوي ، اسانوي او ېيا پرې خپل ژوند ښۀ او غوره (بهتره) کوي او تېروي. لکه د مثال په توګه پروني کسب کړ خلق نن غټ غټ سېټان او افسران دي. ځکه چې هغوي د خپلې خواری او غريبی نه سبق او عبرت اخيستے وۀ. او هوښياران شوي وۀ. په خپل عقل فکر او هوښيارتيا يې ځانله د ژوند لاړي خوښې کړې. محنت خواری ، مزدوری يې وکړې. په هغه هوښيارتيا او هلو ځلو نن د هغوي ژوند ژواک د پلار نيکۀ د ژوند نه په زر ځله ښۀ او بهتره دے. د دې معنو تر لاندې دا متل نه مطلب دا شو چې کنې خوار او غريب سړے د ژوند کولو دپاره ځۀ لاس پښه وهي ، يا ځۀ نه ځۀ حرکت کوي او په دې حرکت او محنت کښې هغه باندې دېر تودۀ ساړۀ تېر شي. د خوارو ژوند ټول د کرامو او د ټکرو ژوند وي او د دې تکليفونو ، مصيبتونو او د ټکرو له کبله د هغه کم عقل خوار غريب نه هوښيار بنده جوړ شي. هم دا خوار او هوښيار مشرانو په دې متل کښې ستايېلے دے او خلقو ته يې د نصيحت ، سبق او عبرت دپاره وراندې کوي او داسې وايي: "چې خوار شي نو هوښيار شي".

چې د ابې زړۀ وي نو په پټې کښې هم تپې کوي

پخوا په زمانه کښې به ډالډا غوړي نۀ چا پېژندل او نۀ به يې استعمالول. هر زميدار به لنګه غوا مېښه لازمي ساتله. پې غوړي ، کوچ ، ماستۀ او شوملې هر ځۀ به بسيار وۀ. زميدارو به اکثر د ماستو او شوملو سره دوډۍ خورله. او پخکرې (سالن) يا اينګولے به يې په

س ، وجه (اصلي) غوږو کښې پخولو. او يا به يې د سالن دپاسه سړۍ کړي غوږي اچول. او د کور مشره يعنې ابی به د چاتوري او د انغري واکمنه وه. يعنې د خوراک ځيزونه به د ابی په لاس وو. او ابی ته چې به کوم نمسي نمسيان خواړۀ او نزدې وو. نو هغوي له به يې ښۀ خوراک ، يعنې ماستۀ ک ، ج او غوږي په خوراک کښې ورکول. هم دا حالات يعنې د ابی مرضي ، خوښه ناخوښه او واک اختيار هوښيارانو په دې متل کښې ستايلے او مشهور کړي دي. او مطلب ترينه دا دے چې کښې پښتي يا ساګ ځۀ خاص شے (پخکړے) نۀ دے. خو چې د ابی زړۀ وي يعنې مرضي وي نو په ساګ او پښتي کښې هم تپې کوي. يعنې غوږي اچوي.

نن سبا هم داسې د خوښې او ناخوښې د مطلب دپاره استعمالېږي. يعنې جرته چې داسې څوک څۀ شے ويشي او جا له پکښې په فرق او زيات ورکړي يا جا له هسې په انو بهانو څۀ ځيز رسوي يا ورکوي. د زړۀ سود او مينه پرې کوي. نو په داسې موقع خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې د ابی زړۀ وي نو په پښتي کښې هم تپې کوي". او په ځنې علاقو کښې داسې وئيلے شي: "چې د ابی زړۀ وي نو په ساګو کښې هم تپې کوي".

چې د چا په لاس کښې کار دے هغه سرکار دے

دا يو ساده متل د معنی ، ی او مطلب يې د لفظونو نه څرګنده دي. مطلب دا چې د چا په لاس کښې څۀ کار وي نو نور خلق يعنې ضرورتمند خلق هغه ګړي ته حاجتمند ، محتاجه او مجبوره وي. کله چې هغه بنده د خلقو د مجبورۍ نه غلطه فائده اخلي يا اوجتوي. يعنې جرته ډالی او جرته رشوتونه (بڼهې) غواړي. او جرته په سفارشونو او واسطو باندې کار کوي ، يا چې زړۀ يې غواړي نو کا رکوي ، ګټې انکار. نو دا داسې شوه چې هم هغه بنده د خلقو دپاره سرکار وي. او که هغه کار کوونکے سړے بيا د سرکار عهده دار وي. نو هغه بيا لا ډېر په نشه او خشماشی کښې وي. او په خلقو باندې د سرکار د حکم په ځائے خپل حکمونه جلوي. اکثر داسې موقعې هم راځي يا راشي چې يو معمولي بنده هم د عام خلقو دپاره سرکار جوړ شيڼلا ، يو معمولي اردلي ، يا د يو جج ، کمشنر يا د ډاکټر چپراسي چې يو معمولي عهده لري. خو ځنې وخت هغه هم د خلقو دپاره لوئے سرکار وڼيکه چې عام وکړي دوي ته محتاجه او م ، تازه وي. يعنې بغېر د اردلي د سفارش ، يا د جېب کرمولو نه هغه د صبب سره نۀ مېلاوېدے شي او نۀ ورته خپل فرياد ، غرض او يا مريض رسولے شي. په داسې وخت د مجبورۍ له کبله هغه اردلي يا چپراسي هم د خلقو دپاره سرکار وي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک د ځۀ معمولي کار دپاره جا معمولي بنده ته مجبوره شي نو په داسې حالاتوکښې خلق هغه کس ته وايي چې هلکا! تا رانه هم د ځانه کورنر جوړ کړے دے ، يا تۀ هم زمونږ دپاره سرکار جوړ شوے يې. ځکه خو مشرانو وئيلي دي: "چې د چا په لاس کښې کار دے نو هغه سرکار دے".

دا د مجبـــــــــــــــور ســـــــــــــــرې وينـــــــــــــــا ده
هغـــــــه ســـــــرکار دے جـــــــې يـــــــې کـــــــار پـــــــه لاســـــــو وينـــــــه

چې د چا زور وي د هغۀ کور وي

دا يو عام متل د معنی ، ی يې خو دا جوړيږي چې کټې که څوک په زوره د چا په کور قبضه وکړي نو هغه کور د هغۀ شي. داسې شوي هم دي او کيږي هم. د متل نه مطلب دا دے چې کټې څوک زورور وي نو هغه خپل کار او خبره په زوره کولے ، منلے ، ايستلے او سر ته کولے شي ، يا په زوره د خلقو نه کارونه اخلي ، يا د مټو په زور او يا د پيسو په زور نور خلق مجبوروي. چې د هغۀ خبره اومنلے شي. دا زور او زورورتيا مشرانو په دې متل کښې ستايلے او مشهوره کړي ده. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک په زوره د چانه څۀ شے قبضه کړي ، يا په زور زبردستی خپل کار او خبره سر ته کوي. او خپل مطلب او مقصد تر لاسو کوي. نو په داسې موقع خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې د چا زور وي د هغو کور وي". هم د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې داسې وئيلے شي چې: "جس کی لاٹھی ا ، س کی بھینس".

چې د چا زور د هغۀ کور وي
مېښه د هغو شي چې کوتک په لاسو وړينه

چې د چا کړه دانې وي ، د هغو غټې ستانې وي

دا يو عام متل دے. د دانو نه مطلب جوار او غنم يعنې د هر قسم غله ځوند ستانې معنې ، ې کوټه (کمره) ده. او د غټې ستانې نه مطلب شو غټه کوټه. يعنې غټ کور او مالداره کورنۍ. پخوا په زمانه کښې د پېسې ټکې دومره حېثيت او مشهورتيا نۀ وه. زميدار غټ خلق او زميداري غټه پېشه او روزګار ګڼلے او منلے شو. هغه زمانه کښې ټول ګزران د زميداری په کټه وټه وۀ. چې د چا زمکه زياته وه. نو هغه غټ او درانۀ زميدار غړي وو. او چې زميداري به درنه وه نود هغوي دانې به هم زياتې وي. او چې د چا کره به دانې زياتې وي نو هغوي به شته من يعنې مالداره غړي منلے شول. يعنې د هغو مالداري به د دانو په کچ او پېمانه وه ، مشرانو په دې متل کښې ستاېيلې او مشهوره کړې ده. او مطلب يې دا دے چې کښې دا غټ کور او مالداره خلق دي ، يا دا کار د مالدارو خلقو دے ، يا داسې کارونه هغه خلق کولے شي چې څوک مالداره وي. نن سبا يې هم خلق په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې څوک د چا مالداره غړي د ځۀ کار په حقله ځۀ خبره کوي ، يا خپله رائے ورکوي چې کنې داسې کارونه ، يا داسې خبرې غټ او مالداره خلق کوي ، يا کولے شي. نو خپله رائے ، صلاح او فېصله په دې متل کښې څرګندوي او وايي: "چې د چا کړه دانې وي. د هغو غټې ستانې وي".

چې د چتو ښکار له ځې ، تش به راځې

چتے يو وړه شان مرغۍ ده. بلکې که زۀ دا ووايم چې په مرغو کښې د ټولونه وړه ده ، نو غلطه به نۀ وي. يو خو وړه ده ، چې په نظر ډېره کمه راځي. او بل يې دا عادت وي چې په يو ځائے نۀ ټېنګيږي. په ونه کښې د يو شاخ نه بل ته او د بل نه بل ته داسې زر زر ټوپونه وهي چې د سترګې نظر پرې نۀ ټېنګيږي. بلکې د سترګې په رپ کښې يې ځلور پنځه ځايونه بدل کړي وي. نو ځکه نۀ سم ليدے شي او نۀ ورته شېش اخستے شي. اکثر خو ښکاري په چتې کوذار نۀ کوي او که کوي نو هغه هم د توکل کوذار وي. چې اکثر خطا شي. نو ځکه د چتو ښکار کول ډېر ګران کار ګڼلے او منلے شوے دے. او دا ګران کار مشرانو د متل په توګه مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې داسې لکه د چتې شان وروکے ، سپک بې فائدې او ګران کارونه څوک کوي نو اکثر ورته سود او ګټه نۀ مېلاويږي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک داسې لکه د چتې په شان وروکے بې فائدې او ګران کار کښې ځان سترے کوي او ګټه ورته دومره نۀ مېلاويږي ، چې ځومره يې خواري او محنت وي. نو په داسې وخت او حالاتو کښې هغه غړي ته مشران دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي: "چې د چتو ښکار له ځې نو تش به راځې".

کـــــــــــــــــم عقلـــــــــــــــــه دا خبـــــــــــــــــره واوره
څـــــــوک چـــــــې د چتـــــــو ښـــــــکار لـــــــه ځـــــــې تـــــــش بـــــــه راځيـــــــنـــــــه

چې د ځانه مست نۀ وي نو په بنګو نۀ مستيږي

شراب ، افيم ، پوډر (هيروين) ، چرس او بنګ دا ټول د نشې ځيزونه دي. يعنې په خوړلو او ځښلو يې بنيادم ته نشه ورسي ، يا بنيادم نشه کيږي. افيم د ډوډې د بوټې نه ايستلے او جوړولے شي. چرس د بنګو د بوټې نه جوړيږي. د بنګو يو وروکے شان بوټے وي. چې زيات نه زيات يو ګز دوه اوږدېږي يا لوئيږي. او د دې د پاڼو او کچه سانګو او څرګو نه چرس جوړيږي. داسې د بنګو پانې او کچه نرۍ څرګې چې لکه د چکنۍ اوټکولے شي او بيا په شربت يا لسي کښې واچولے او ګډې وډې کړے شي. نو دا هم بنيادم ته نشه ورکوي. د بنګو لسي يا شربت جوړول ډېر اسان او ارزان وي. نو ځکه اکثر په مزارونو او زيارتونو کښې ملنګان د بنګو لسي جوړوي او ځښي. او د بنګو په نشه کښې بيا ملنګان په سرور او مستۍ کښې راشي او د ډهول سره ګډا ګاني ، اټنې او انډوخړي جوړې کړي. يعنې د بنګو په نشه کښې

مستي او سرور هم راځي. ځکه ملنګان بيا د ځانه بې ځانه په مستو او انډوخرو سر وي. خو چې د چا په وجود کښې خپل ترنګ نۀ وي او په زړۀ يې خپل سرور او مستي نۀ وي. نو هغوي بيا په نشه کښې هم په سرور او مستۍ کښې نۀ راځي. بلکې په نشه کښې ډب ډوب د حاله بې حاله پراتۀ وي. د بنګو دا نشه او د نشې والا سرور او مستي هوښيارانو په دې متل کښې ستايېلے او مشهوره کړې ده. او مطلب تر ښه دا دے چې کټې د چا چې خپله د زړۀ توان او طاقت خوشحالي او مستي نۀ وي نو که هغه بنګ وڅښي نو ځۀ پرې په هغۀ بيا هم مستي نۀ راځي. ځکه چې د هغه د ځانه مست نۀ دے ، يعنې د زړۀ زور يې نشته. نو په بنګو به ځۀ مست شي. داسې په چا کښې چې خپل ځۀ لياقت ، هنر او قابليت (مستي) نۀ وي. نو هغوي د بل چا په مدد او مرستې کاميابه او کامرانه کېدے نۀ شي. يعنې چې د چا خپل ځۀ قابليت هم نۀ وي او د ځۀ کار روزګار کولو شوق مينه او جذبه هم نۀ لري. نو که هغۀ سره هر څومره مدد او مرسته وکړے شي. خو هغه به کاميابه نۀ شي. يعنې بغېر د خپل لياقت ، محنت ، قابليت او شوق او جذبې نه څوک نۀ منزل موندے شي او نۀ مرام ته رسي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. جرته چې څوک داسې بې زړۀ ، بې وقوفه ، کم عقله ، نالائقه وي. او يا څوک بې روزګاره وي نو داسې غږوته مشران داسې نصيحت کوي چې ګڼي ځان کښې خپل لياقت او قابليت پيدا کړه يا ځان کښې خپل هم ځۀ سرېټوب او عقل پيدا کړه. تر کومې به د بل لاسوته ناست يې. او دا طنز او پېغور هم ورکوي چې په تا کښې خپله ځۀ لياقت ، قابليت ، جوش ، جذبه ، نشه ، لاشه او مستي نشته. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او وايي: "چې د ځانه مست نۀ وي نو په بنګو نۀ مستېږي".

اے د بنګو بوټے خمار دې کړم
غم د دنيا کې نه اوزګار دې کړم

چې د سړي په سړي کار شي ،
جوړ د ځوي نه ورته پلار شي

په دې متل کښې هوښيارانو د حاجتمند بنده د بې وسۍ او بې بسۍ هغه حالت او کېفيت څرګنده کړي دي. کله چې يو بنده بل چا ته محتاجه شي. نو د ضرورت او حاجت له کبله د بل بنده نخړې او خبرې اوړي او زغمي. مطلب دا چې که هغه حاجت پوره کولو والا غږے په عمر ، عهده ، مقام او حېثيت کښې ډېر کم وي او هغه حاجتمند غږے د ځانه کم درجې والا ، يا کم حېثيت والا غړي ته لاس نيسي يا کښېني. نو هغه په عمر او مرتبه کم بنده که د ځوي برابر وي. نو هم په دغه وخت لکه د پلار جوړ شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے دے. او په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک د ځانه کم درجې ، عهدې او کم حېثيت والا بنده ته د ځۀ مطلب او غرض له کبله محتاجه او متازه شي. نو په داسې وخت او موقع مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې د سړي په سړي کار شي جوړ د ځوي نه ورته پلار شي".

چې د سلو نه درباندې شي ، نو غوړي شکرې خوره

قيصه:

پخوا زمانه کښې سل روپۍ ډېر لوئے دولت وؤ. سل روپۍ به د خانانو او نوابانو سره وې. عامو وګړو ته سل روپۍ کټل او جمع کول ډېر ګران کار وؤ. هغه وختونو کښې د غلامۍ نظام په دهقانانو کښې بدل شوے وؤ. خانانو او زمېدارو به د مزدورۍ او زمېدارۍ دپاره دهقانان ساتل. دهقاني هم د غلامۍ يو قسم وؤ. دهقان به په سر پېسې راخستې وې او په هغه پېسو به يې دهقاني کوله. زمېدار يا خان به ورله ځۀ لړه ډېره برخه (څلورمه يا پنځمه) هم ورکوله. خو دا برخه به دومره وه چې د هغه غريب به پرې ګزاره نۀ کېدله. دهقان به بيا مالک ته د کور د ماڼې ، پې او خرچې دپاره لاس په سوال وؤ. داسې به په دهقان غريب کال تر کاله پېسې زياتېدلې. او يو وخت به داسې راغے چې دهقان به تر وښتو پورې د مالک قرضدارے وؤ. او د هغه قرض له امله به هغه دهقان يو قسم غلام جوړ شو. بلکې اکثر به داسې وؤ چې هغوي به تر راتلونکي نسلونو پورې غلامان جوړ شوي وو.

د دې متل په حقله داسې يو قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دهقان وؤ چې ډېره قرضه پرې ختلې وه. هغې دهقان به ښۀ خرچې ، بلکې فضول خرچې به يې کولې. ښۀ او د مستۍ خوراکونه به يې خوړل. هغه دا فرض کړې وه چې ګڼې د هغۀ په ژوند دا قرضې نۀ شي

خلاصېدے. خو چې تر څو ژوند دے نو ښې مزې او عېش عشرت پکار دے. يو ورځ هغهٔ ته يو بل دهقان وئېل چې يار په تا خو د سلو نه هم زياتې روپۍ اوړېدلي دي او تهٔ يې چې ګزاره نهٔ کوې. د څادر نه دې پښې بهر ايستلي دي. بلکې خرچې دې نورې هم زياتې کړې دي. هغهٔ ورته ځواب ورکړو چې يار هېڅ فکر او پرواه مهٔ کوه. چې د سلو نه درباندې شي ، نو بيا غوړي شکرې خوره. مطلب يې دا وؤ چې ګڼې سل روپۍ ډېر شے دے ، او د دې سر د خلاصېدو نهٔ دے. نو بيا فکرونه څله او پرواه د څهٔ. ښهٔ خوره او څښه او خپل ژوند ښهٔ تېروه. چې تر کومې ژوند دے نو دهقاني به کوو. او چې مړهٔ شو نو بس هر څهٔ ختم. او داسې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو او د داسې خلقو په حقله استعمالېږي چرته چې يو سړے د بل د قرضو د لاندې وي. او هغه پور ډېر زيات وي. د خلاصېدو يې څهٔ لاره ګودره نهٔ وي. او يا هغه غړي خپله د پور د خلاصولو څهٔ بن بېنا نهٔ کوي او نهٔ يې څهٔ پرواه ساتي. خو خپل ژوند ښهٔ په مزو تېروي. نو هغه بيا خپل حالت ، کېفيت يا خپله منشا او مدعا په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې پرېږده يار! "چې د سلو نه درباندې شي نو بيا غوړي شکرې خوره".

پـــــــور چـــــــې د ســـــــلو نـــــــه شـــــــي پورتـــــــه
مســـــــت قلنـــــــدر شـــــــي بيـــــــا غـــــــوړي شـــــــکرې خورينـــــــه

چې د شپېتو شي نو د ويشتو شي

هسې خو دا متل د اسلامي قانون او تعليماتو ، د انسانيت او د فطرت نه اپوټه او په ضد دے. بل خوا د اسلام او د انسانيت سره سره دا د پښتو او پښتنو د رواياتو ، کلتور او د قدرونو نه هم خلاف دے. خو بيا هم متل دے. او د هوښيارانو وېنا ده. نو ځکه دا هم يو حقيقت دے. ګو چې د دې متل خلاف او په ضد کښې نور ډېر متلونه مشهور دي چې د پښتو د دستور ، قانون او د پښتنو د شعور څېړنه کوي. او په اصلي معنو کښې د اسلامي تعليماتو او د پښتو د قدرونو او رواياتو څرګندونه کوي. لکه د مثال په توګه وئېلے شي چې: "زاړهٔ خو مور پلار ښهٔ وي" يا "مشر د کور برکت وي" يا "مشران خلق د دعا دپاره ساتي" او "مشران چې زاړهٔ شي نو د شکرې نه خواږهٔ شي". او داسې نور ډېر.

په اصل کښې دا متل مشرانو د دې مطلب دپاره جوړ او مشهور کړے دے چې کم مشر د شپېتو کالو شي نو د هغوي خوي بوي اکثر د ماشومانو شي ، يا زيات داسې شي. چې دماغ يې صحيح کار نهٔ کوي. په لږه خبره او معمولي کار خفه او ناراضه کيږي. او د خلقو په هر کار او خبره کښې غلطي راوباسي يا هېڅ بې هېڅه زورنې او وېناګانې کوي. بيا د داسې بوډاګانو نهٔ په کور کښې ځائے وي او نهٔ په حجره کښې. نهٔ يې څوک په ښهٔ بلي او نهٔ په بدو کښې. نهٔ په تين کښې وي او نهٔ په تېره کښې. يعنې په ژوندوني په مړو حساب وي او کېدے شي چې داسې څوک بوډا د خپل داسې قسم ژوند نه تنګ راغلے وي او د هغهٔ د خ ، لې نه چرته د ډېره سوخته دا خبره ختلې وي چې نن مونږ ته د متل په توګه مشهوره ده. ګڼې پښتانهٔ خو د خپلو مشرانو ډېر زيات قدر عزت او خيال خاطر کوي او ساتي. داسې مشران خو ډېر خواږهٔ ، درانهٔ او د قدر وړ وي.

د پنځـــــوس نـــــه چـــــې شـــــپېتو تـــــه رســـــېدهٔ شـــــي
شـــــي همســـــاء پـــــه لاس راغونـــــډ لکـــــه لينـــــده شـــــي
وي بدبختـــــه چـــــې پـــــه بـــــد نظـــــر ورګـــــوري
مشـــــران خـــــو نـــــور خـــــواږهٔ شـــــي چـــــې زاړهٔ شـــــي

چې د کومې بلا نه نهٔ خلاصېږې ، نو ډېر ډېر ورته خانده

دا يو ساده متل دے چې معنـ ، ی او مطلب يې جدا جدا دي بلا لفظي معنـ ، ی ده ډېر ، يعنې ډېر زيات. لکه وئېلے شي چې بلا خلق راجمع وو. يعنې ډېر زيات خلق وو. خو د دې نه يو بل مطلب يو داسې ناليدلے هېبت ناکه شکل يا شے هم دے چې د هغې په ليدو سره په بنيادم هېبت او وېره راشي. زمونږ په معاشره کښې دا توري اکثر په کورونو کښې د ماشومانو د وېرولو دپاره استعمالېږي. لکه اکثر مېندې وړو ماشومانو ته داسې وايي چې چپ شه ، هغه ده بلا راغله ، يا هغه دے بؤ راغے. خو تر نن ورځې پورې نهٔ چا بلا وليده او نهٔ يې بؤ. چې دا څهٔ څيز يا څېزونه دي. خو خلق يې د داسې خيالي بدشکله شي دپاره استعمالوي چې هغه په بنيادم وېره او هېبت راولي. د بلا

نه يو بل مطلب څۀ حادثه ، غم خفګان او مصيبت هم اخذ شوے دے. او په دې متل کښې هم دغه حادثه يا مصيبت مطلب دے. يعنې هر هغه مصيبت ، تکليف ، غم درد مرض يا نورې داسې څۀ حادثې چې بنيادم ته ترښه غم خفګان او تکليف رسي. نو دا تکليفونه او مصيبتونه په مثال لکه د بلا دي. لکه چې چا ته څۀ حادثه ، غم ، تکليف درد او مصيبت ورمخ شي ، نو ځکه په داسې موقع وئيلے شي چې: "په بلا واوړېدو". ځکه مشرانو داسې حالات د بلاګانو په نامه ترلې او ياد کړي دي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے دے. او وايي چې که په دې بلاګانو کښې درباندې چرته يوه بلا راغله او خلاصے دې ترښه نۀ شي نو سوچونه ، غمونه او فکرونه مۀ کوه. په خندا خوشحالي ، روڼ تندي او صبر استقامت سره يې په ځان تېره کړه. دېر دېر خندل او په خندا تېرول. په خصوصي توګه په داسې وخت يا موقع استعماليږي چرته چې داسې د چا په کور ناڅاپه څوک مېلمانۀ راشي چې کورېه باندې بوج وي او که دا مېلمستيا لږه اوږده شي نو بيا سړي ته د بوج نه بلا جوړه شي او کورېه په سوچونو ، فکرونو او غمونو کښې کېر شي. په داسې وخت هغه کورېه ته د تسلي او دادکېرنې دپاره مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې د کومې بلا نه نۀ خلاصيږي نو دېر دېر ورته خانده".

پـــ

چې د ګيدړ نښته پوره شي نو کلي ته يې مخه شي

پخوا په زمانه کښې به شاړې ، مېړې او څنګلي ډېرې وې. او په دې کښې به څنګلي ځناور هم ډېر وو. ګيدړ هم يو څنګلي ځناور دے. پخوا زمانه کښې به ګيدړان هم ډېر زيات وو. اوس چې څنګه ملک اباد شو. شاړې ، څنګلي ختمې او زمکې ابادې شوې. نو داسې د ګيدړانو نسل هم په ورکېدو او ختمېدو شو. بايد چې زمونږ راتلونکي نسل د نن زمانې ګيدړان سبا له لکه د (ډينو سار) په شان صرف په فلمونو کښې وينې او کوري. زما د يادو خبره ده. مونږ چې به بابو ډېرې ته ځاروې د څر دپاره بوتلل نو روزانه به مو دوه درې ګيدړان په مخه کړې وو. هغه زمانه کښې به ګيدړان اکثر د شپې د کلي خواؤشا ته راتلل او په ونه يا په ديوال ناستې جرګې به يې په مخه کولې. داسې به يو نيم پکښې د ورځې هم پېره کوله. کله چې به داسې د کلي په غاړو او لمنو کښې چرته ګيدړ شکاره شو نو بيا به ورپسې خلق کوتکو په لاس راوتلي وو. او سپې به يې ورپسې ورخطا کړي وو او چې کوم ګيدړ به کېر شو نو د هغۀ به بيا مرګ مېلمه وۀ. د دې حالاتو له کبله مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې کله د ګيدړ وخت پوره شي او مرګ يې راشي نو مرګ ورله کلي غاړې ته مخه ورکړي. او هلته د سپو او يا د بنيادمو د لاسه مر شي. په ګيدړانو پسې نور هم دېر متلونه مشهور دي.

نن سبا په داسې حالاتو او واقعاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک داسې په څۀ کار روزګار کښې زيان او تاوان ومومي ، يا ورته په څۀ کار يا خبره کښې څۀ غم خفګان او تکليف ورسي ، يا چرته په تک يعنې په سفر کښې ورته څۀ حادثه پېښه شي يعنې د غم خفګان يا د زيان ځائے ته چې يو بنده په خپله ورسي نو په دغه وخت خلق داسې وايي چې که جړې دا کار يې نۀ وے کړے يا دې ځائے ته نۀ وے تلے نو دا تکليف او خفګان به يې نۀ موندلو. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي ، او داسې وايي: "چې د ګيدړ نښته پوره شي نو کلي ته مخه وکړي".

چې دوه کسه په پرځولو ورشي ، نو يو ورکښې راغورځيږي

دا يو ساده او عام متل دے۔ ی او مطلب يې د لفظونو نه څرګنده دي. يعنې مطلب دا دے چې چرته داسې دوه کسه په پرځولو ورشي نو يو تن پکښې راپرځولے شي ، يا داسې په څۀ بله مقابله کښې چې دوه وکړي مخامخ شي نو يا خو به مقابله سر په سر پاتې کيږي خو په عامو حالاتو کښې داسې موقع دېره کمه کوځه وي. ځکه چې داسې غړي به دېر کم وي. چې هغوي په زور قوت کښې ، په چل ول او هنر کښې يا په تکې توري. او مکر فريب کښې يو شان وي. نو ځکه په مقابلو کښې اکثر د يو کښه او د بل بېلات وي. يو وړ او بل پر. يعنې نۀ دواړه پرۀ کېدے شي او نۀ دواړه وړۀ جوړېدے شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے او داسې د وړې پرې دا فلسفه يې بنيادم ته په هر کار کښې وړاندې کړې ده. چې کله بنيادم په هر کار او هره خبره کښې وړ کېدے نۀ شي. کله کله ورله پره هم متل پکار ده. يعنې که په څۀ امتحان څۀ کار کښې پاتې راشي نو غم خفګان نۀ دے پکار بلکې بيا سر دوباره تيارے پکار دے. او هم د

دې مطلب دپاره يې خلقو ته په داسې موقع وړاندې کوي. چرته چې څوک داسې په څۀ مقابله کښې پړ راشي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي. او وايي چې خانه! غم مۀ کوه په مقابله کښې داسې کيږي! "چې دوه کسه په پرځولو ورشي نو يو ورکښې راغورځيږي".

چې دوه لوښي يو ځائے شي نو ټنګ ترې خېژي

دا يو ساده او عام متل دے لوښي نه معنی د کور لوښي لرګي دي. يعنې د کور د استعمال کټوی، څمڅی، پتيله، خانک، پرچ پيالی، تالے او داسې نور د استعمال څېزولو. د ټنګ معنی ده اواز (غږ). يعنې د څۀ شي نه چې اواز ووځي نو هغې ته ټنګ هم وئيلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې چرته چې دوه لوښي په يو ځائے کېښودے شي يا پراتۀ وي نو يو بل سره د جنګېدو له کبله د هغې نه اواز ووځي، يا اواز پېدا کيږي. دا مطلب هوښيارانو د بنيادم سره تړلے دے، يا بنيادم ته اشاره کړے دے. او مطلب يې دا دے چې په کوم ځائے يا کور کښې چې دوه کسه په يو ځائے ژوند کوي نود هغې تر مېنځه هم کله کله داسې حالات پېدا شي چې ټنګ ترې خېژي. او داسې حالات په خصوصي توګه د کور د مېرمنو تر مېنځه جوړيږي. يعنې په کوم کور کښې چې دوه ښځې (بڼې) وي، يا خواښې اينګور يا يورياني وي، يا ورندار او ايندرور يا نورې داسې مېرمنې يو ځائے ژوند کوي. نو د هغوي تر مېنځه په څۀ نه څۀ بهانه، اکثر د ماشومانو په سر جنګ جګړه راځي او کوي. هم دا حالات مشرانو په دې متل کښې ستايېلي او مشهور کړي دي. او وايي چې داسې دوه مېرمنې (لوښي) چې يو ځائے کيږي نو جنګ جګړه (ټنګ) به ترېنه خېژي. او هم په داسې موقع استعماليږي چرته چې په يو کور کښې د دوؤ مېرمنو تر مېنځه لوبه ګرمه شي. يعنې ايرۍ پېرۍ، کنځل وېناګانې او پېغورونه په زور وي. نو د هغه کور يا کورنۍ حالات خلق په دې متل کښې څرګندوي او وايي: "چې دوه لوښي يو ځائے شي نو ټنګ ترې خېژي".

چې ډېر شي نو ګنډېر شي

د متل نه مطلب دا دے چې ګڼې هر هغه شے چې د خپل مقدار او حد نه ډېر او زيات شي نو هغه ګنډېر يعنې زهر شي. د مقدار مطلب دے ضرورت او حاجت. يعنې چې د کوم شي څومره ضرورت او حاجت وي نو هم هغه هومره خرچ کول پکار وي. او چې د ضرورت نه زيات شي نو هغه فضول بېکاره او برباد شي. هسې خو د متل نه د ژوند هر اړخ مطلب او مراد دے خو په خصوصي توګه د خوراک څښاک په حقله زيات استعماليږي. يعنې چې څۀ شے د ضرورت او حاجت يعنې د مقدار نه زيات اوخوړے شي نو هم هغه شے برباد (ضائع) شي. او هم د صحت لپاره زهر جوړ شي. يعنې د ګټې او فائدې په ځائے د زيان او تاوان سبب جوړ شي. داسې چې څۀ کار د خپل مقدار، بوج او وزن نه سېوا وکړے شي نو کېدے شي چې په زياتي کار هغه مشين او اوزار هم وران او خراب شي. او د بنيادم يا د څاروي صحت او مال ته ترېنه هم زيان او تاوان ورسي. او د څۀ څيز نه چې زيات تاوان ورسي. نو دا داسې شوه لکه چې هغه شے ګنډېر (زهر) او يا برباد شو. هم دا مطلب مشرانو په متل کښې څرګنده کړے دے او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وړاندې کوي. او داسې وايي: "چې ډېر شي نو ګنډېر شي".

دا متل دے چې څۀ تېر شي هغه هېر شي
هم ګنډېر شي هغه واړه چې څۀ ډېر شي
هر شے چې زيات شي نو په زيان شي
لکه اوړو کښې د چا مالګه زياته شينه

چې رښتيا راځي نو دروغو به کلي وران کړي وي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې يو مالدار زميدار سره يو غلام يا دهقان وؤ. هغه غلام ډېر دروغژن او چغلي مار وؤ. د هغۀ د لاسه به اکثر دوه کسه په جنګ وو. ډېرو خلقو يې مالک ته ګيلې شکوې کولې. خو د مالک پرې يقين نۀ راتلو. يوه ورځ دواړو په پټي کښې کا رکولو چې مالک د غلام نه پوښتنه وکړه چې دا تۀ څنګه دوه کسه په جنګ کړې. ولې خلق لېوني دي چې ستا په لمسون او دروغو په

جنګ ورځي. زما يقين نۀ شي چې دا روغ خلق ستا په خبرو کښې راشي او په جنګ شي. دې غلام ور ته ځواب ورکړو چې ستا به يقين راشي خو وخت به تېر وي. په دې خبرو ځۀ موده تېره شوه او د مالک دا خبرې اترې هېرې شوې وې. يوه ورځ دا غلام کور ته راغے نو مالک يې کور کښې نۀ وؤ. غلام د کور مېرمن (د مالک ښځې) له دېر په راز او غم رازی سره دا خبردارے ورکړو چې خبر شوے يم چې مالک بل وادۀ کوي او په فلاني کلي کښې يې خپره جوړه کړي ده. ښځه د اوږدو سره سمه سره لمبه شوه. دېرې غصې او خفګان واخسته. دې غلام ورته وئېل چې فکر او خفګان مۀ کوه. ما ستا دپاره د مخکښې نه بندوبست کړے دے. په فلاني خائے کښې يو پير صېب دے او د هغۀ سره مې خبره جوړه کړې ده. هغه به درله داسې تعويذ وکړي چې ستا کور به اباد پاتې شي او مالک به د دوېم وادۀ نه صبر شي. خو د دې دپاره د مالک د ږېرې وېښتۀ پکار دے. چې په تعويذ کښې بند کړے شي. او دا سپارښته يې پرې وکړه چې بېګاه له مالک اودۀ شي نو د ږېرې نه ورله دوه دري وېښتۀ پرېکړه. او سبا له به زۀ هغه وېښتۀ د وخته هغه پير صېب له ورسوم. غلام دا ښځه په دې خبره ښۀ پخه کړه او ترېنه پټې ته لاړو. مالک يې په پټې کښې مېلاؤ شو. په خبرو خبرو کښې غلام مالک ته وئېل چې خبره ښۀ نۀ ووه خ ، له او غټه خبره خو ما ستا رزق خورلے دے. اوتلمې زۀ خ ، وږېرې. نو ځکه دې خبرووم. مالک ورته وئېل چې خبره کوه ځۀ چل دے. غلام ورته وئېل چې د کور مېرمن د بل چا سره لېن دېن ساز کړے دےاو نن دے که سبا دے ستا د مرګ ب ،نا جوړوي. ځان ساته هسې نه چې بيا افسوس کوپالک ورته غ ، صه شو چې تۀ ځۀ دروغژن سړے يې په دې خبرو زما يقين نۀ شلۀ.خبردار که دوباره دې دا خبره په خ ، له راغله نو وژلے به مې يې. غلام ورته وئېل چې ښۀ ده تۀ بېګاه له ځان په دروغه اودۀ کړه نو بيا کوره چې ځۀ کيږي. دې سړي ټوله ورځ په سوچونو او فکرونو کښې تېره کړه. اول خو يې دا خبره نۀ منله خو شېطان هم ورله په زړۀ کښې وسوسې اچولې. چې بېګاه له ازمېښت خو وکړه چې ځۀ کيږي. اخر چې شپه شوه نو دې سړي سم د ماسخوتنه ځان د قصده اودۀ کړو. ځۀ شپېه پس مېرمن په قلاړه د سړي خوا له رانږدې شوه چې د ږېرې نه ورله وېښتۀ پرې کړي. کله چې دې ښځې ږېرې ته لاس واچولو نو دا سړے پرې راپاڅېدواو د ښځې په لاس يې چې چاړۀ وليده نود سړي پوخ يقين وشو چې کنې ښځې زۀ وژلم. په غصه کښې يې ښځه راکېره کړه او په ځان پوهه نۀ شو. داسې بده بده يې ووهله چې ښځه په ځائے مړه شوه. کله چې ښځه مړه شوه نو غلام په منډه منډه لاړو او د ښځې ورونه يې خبر کړل چې خور يې درله بې ګناه ووژله. د ښځې ورونه راغلل او هغه سړے يې قتل کړو. غلام د هغه ځايه په منډه منډه د سړي قام پسې لاړو او د هغۀ ټول قام يې خبر کړو چې زما مالک فلاني قام بې ګناه مړ کړو. د سړي قام او تېر راغوند شول او په هغه بل قام يې حمله وکړه. داسې د کلو او د قامونو تر مېنځه جګړه سره شوه. چې ورکښې دېر بې ګناه خلق مړۀ او ژوبل شول. په کاونډ کښې يو بوډا سړے چې هغه د غلام د عمل او عادتونو نه خبر وؤو د دې نه هم خبر شو چې د غلام په شرارت ، چ ، غلی او لمسون سره دا دومره خلق مړۀ او ژوبل شول. نو په دغه وخت يې وئېل چې ورونو واورئ د نن نه پس په دې سړي او د دۀ په خبرو اعتبار اونۀ کړئ. د دې دروغژن د لاسه دوه کلي تباه شول. "چې رښتيا راځي نو دروغو کلي وران کړي وي". او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې د چا د دروغو په وېنا باندې بل چا ته ځۀ زيان او نقصان ورسي ، يا ورته ځۀ کرامه ، شخړه او يا کراؤ تکليف ورمخ شي نو په داسې وخت او موقع کښې مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې رښتيا راځي نو دروغو به کلي وران کړي وي".

دا دروغـــــــــــژن خدايـــــــــــه کـــــــــــونکے کـــــــــــړي
چـــــــــــې رښـــــــــــتيا رســـــــــــي کلـــــــــــي لـــــــــــوتي لـــــــــــوتي شـــــــــــينه

چې زور شي کله به جور شي

دا يو عام متل دےچې د زور خيز عېب او ع ،لت پکښې بيان شوے دے. مطلب يې دا دے چې کټې ځۀ شے زور شي نو اکثر وران ، خراب او ناروغه وي. د هر شي يو خپل عمر وي. د وخت تېرېدو سره هر شے زړېږي او چې څومره زړېږي نو دومره هغه ورستيږي او کمزورے کيږي. او چې ځۀ شے روست او کمزورے شي نو بيا هغه ايله په بهانه وي. يعني په لږ کار هم ورانيږي ، ماتيږي ، خرابيږي او يا ستړے کيږي او ناروغه کيږي. هسې خو د متل نه د دنيا هر شے مراد دے. خو په خصوصي توګه د بنيادم په حقله زيات استعمالېږي. چې بنيادم زړېږي يعني بوډا کيږي نو کمزورے کيږي. او چې څومره کمزورے شي نو دومره ورته مرضونه او تکليفونه زيات شي. ځکه خو هوښياران وايي چې يو بوډاوالے د سلو مرضونو برابر وي ، يا داسې وايي چې بوډاوالے خپله سل مرضونه دي. او چې يو غړے زور شي نو

هغهٔ ته سل مرضونه نېغ ولاړ وي که ډېر هم علاجونه او دارو د ، رمل کوي نو هم په رغېدو او جوړېدو يې کالونه او مودې لګي. د زوړ (بوډاوالي) دا کمزوري ، ناروغتيا ، کړېدل او جوړېدل هوښيارانو په دې متل کښې ستايېلي دي. او داسې هر يو شے چې هغه زوړ وي او وران ويجاړ يا خراب شي نو په جوړېدو يې بيا ډېر محنت ، پېسه او وخت لګي. نو ځکه په داسې موقع بيا مشران وايي:

"چې زوړ شي کله به جوړ شي"

چې سبا شي غم پېدا شي

د بنيادم ژوند د کړاؤنو ، غمونو ، خفګانونو ، مصيبتونو ، شخړو ، کړامو ، افسوسونو ، ارمانونو او اميدونو يوه مجموعه ده. د بنيادم ژوند په يو ډګر نهٔ وي ، بلکې کله راحت او کله زحمت. ځکه خو مشرانو وئېلي دي چې غم ښادي ورور او خور وي. خو خوشحالۍ او ښادۍ کمې کوزې او غمونه زيات وي. د ژوند ګاډے چې د وخت په پايه روان دے. دا هم د الله پاک لوئے غنيمت ، رحمت او کرم دے. چې شپه يې پېدا کړې الله تعالی فرمائي چې شپه ما ستاسو د ارام دپاره پېدا کړې ده. په لاکهونو او بې شمېره شکر الحمد ، الله چې شپه راشي. او تر څهٔ وخته پورې بنيادم بې غمه اودهٔ شي. څهٔ ارام او دمه ورته مېلاؤ شي ، ګنې د ژوند سره تړلي دومره غمونه دي چې بنيادم ترېنه سر ګرولو ته نهٔ وزګارېږي. يعنې هره لحظه يو نوے غم ولاړ وي. يو لا ختم نهٔ وي چې بل يې په سر ولاړ وي. او بنيادم د دې غمونو او مسئلو په حل کولو او هلو ځلو کښې اخر يوه ورځ خپله لوئے غم جوړ شي او خپلو خپلوانو ته غم جبه جوړه شي. او الله زده چې خپله د غمونو په دلدل کښې وربوخت شي او که د راحتونو په چمن کښې ورکوز شي.

په دې متل کښې هوښيارانو د بنيادم د غمونو نه بر چک ډک ژوند ته اشاره کړې ده او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې په دې ژوند يا دنيا د بنيادم غمونه نهٔ ختمېږي. که نن يو غم يا مسئله ختمه شي نو سبا بل نوے غم پېدا شي او دا د غمونو سلسلې به د ژوند سره روانې وي. هم دا مطلب هوښياران په دې متل کښې څرګندوي او د بنيادم حالت ، کېفيت او د قدرت دا قانون او فطرت داسې بيانوي او وايي: "چې سبا شي غم پېدا شي".

دنيـــــــــا د غـــــــــم پـــــــــه ورځ پېـــــــــدا ده
د هـــــــــر ســـــــــبا ســـــــــره راځـــــــــي نـــــــــوي غمونـــــــــه

چې سر حيات وي ټوپۍ ډېرې

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو ګاونډ کښې د دوؤ ښځو ښهٔ راشه درشه وو. د يوې بلې سره يې د ورکړه راکړه روزګار هم وؤ. دې يوې ښځې يوه ورځ د هغې بلې ښځې ماشوم ځوي له ټوپۍ جوړه کړه او په تحفه کښې يې ورکړه. د ښځو دوستۍ او دښمنۍ ډېرې زر زر بدليږي رابدليږي. لکه چې څنګه د ښځو د ژړا او د خندا څهٔ پته نهٔ لګي. په يو وښکي يې خندا وي ، او په بل کښې ژړا. داسې د دوي د دوستۍ او دښمنۍ هم څهٔ اندازه او بهروسه نهٔ وي. داسې يوه ورځ د دې دواړو ښځو تر مېنځه هم په څهٔ خبره زړهٔ بداوے راغے. او خپلو کښې په جنګ شوې. د جنګ په مېدان کښې ښځې د کنځلو ، وېناګانو ، ښېرو او پېغورونو هم ډېرې مړنۍ وي. په دې مېدان هم د پېغورونو او ښېرو تشې ډزې په يو بل شروع وې. هغې يوې ښځې بلې ته پېغور ورکړو چې پرېږده خوارې د ځوي په سر دې اوس هم زما د لاس ټوپۍ پرته ده. او تهٔ هم لا خبرې کوې. هغې بلې ښځې ورته زر د ځوي د سر نه ټوپۍ راکوزه کړه. او په غصه يې ور ګوذار کړه چې واخله خواره شې خواره تهٔ يې او خواره دې مور ده. زما د ځوي چې سر حيات وي نو ټوپۍ ډېرې. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې يو بنده د بل چا نه د څهٔ په تمه وي. هغه که د پېسې ټکې وي. خوراک څښاک وي او يا د نوکرۍ مزدورۍ تمه وي. او بيا خاص کر چې د جينۍ د رشتې تمه يې وي او هغه تمه پوره نهٔ شي. نو هغه مېرمن بيا اکثر داسې وايي چې زما ځوئے ژوندے وي نو جينکۍ ډېرې. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې پرېږده خوارې! "چې سر حيات وي ټوپۍ ډېرې".

دا يـــــــــــي د كونـــــــــــ ـــــــــــ ـــــــــــ

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې دوه دوستان وو. دوي د يو بل نه لرې په جدا جدا علاقو کښې مېشتهٔ وو. ډېره موده د دواړو ملاقات نهٔ وؤ شوے. اخر يوه ورځ دې يو دوست تکل وکړو او د هغه بل دوست کلي ته ورغے. په ملاقات يې د يو بل نه ګيلې شکوې کولې ، چې ګڼې ډېره موده مو ولې د يو بل تپوس پوښتنه ونهٔ کړه. او داسې دواړو يو بل ته پړه وراړوله. هغه کوربه دوست ورته وئېل چې دوسته رښتيا خبره دا ده چې زهٔ ډېر غريب شوے يم. فصل مې باران او ګلۍ برباد کړو. او مال ډنګر مې هم څهٔ مړهٔ شول او څهٔ مې د نېستۍ له کبله خرڅ کړل. دغه وجه ده چې ما ستا تپوس اونهٔ کړے شو. په دغه وخت ورته هغه مېلمه دوست وئېل چې پرېږده يار! چې غريب خدائے کړې نو دله چا کړې. مطلب يې دا وؤ چې ګڼې غريب خو شوې خو چې دوستي او ورورولي دې پرېښوده نو دله هم شوې. او دا نهٔ وو پکار. څوک وايي چې ورته يې وئېل چې ګلۍ خو دې په فصل شوې وه څهٔ په پښو خو دې نهٔ وه شوې. او داسې د هغه وخت دا جمله مشرانو په متل مشهوره کړه.

نن سبا دا متل داسې غړي په حقله استعمالېږي چرته چې د چا غريب سړي نه په خطايۍ او يا قصدا ، څهٔ داسې د دله توب کار وشي ، يا څوک غريب سړے چرته په يارۍ دوستۍ کښې يا په خپلوۍ او عزيزولۍ کښې په څهٔ خبره کښې پاتې راشي نو په داسې وخت هغه غړي ته دا متل وړاندې کېږي او داسې وئېلے شي چې هلکه! " غريب خدائے کړې نو دله چا کړې".

نېستي خو برخه د قسمت ده
د دله توب درپاندې چا کېښود چاپونه

چې غل نهٔ اوړي نو مل دې واوړي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې يو ټک غړے وسېدو. چې هغه غلاګر ، دهوکه باز ، نشه باز ، دروغژن ، فرېب ژن او جوارګر هم وؤ. يوه ورځ په دغه کلي کښې د يو سړي بيزه ورکه شوه.بيزې خاوند په دې غلاګر سړي باندې دعوی ، وکړه. چې بيزه هم دهٔ پټه کړې ده. هغه سړے د بيزې د غلا نه سکوټ انکاري وو. اخر خبره جرګې ته ووته او د کلي مشران راجمع شول. مرکه او خبرې اترې شروع شوې. غل د غلا نه انکاري وو او د بيزې مالک زور راوستے وؤ. چې بيزه هم دهٔ پټه کړې ده. دواړه طرفه سوګند ته تيار شول. د بيزې مالک وئېل چې خامخا به راته سوګند خوري هسې يې نهٔ پرېږدم. او غل هم سوګند خوړلو ته تيار وؤ. په دغه وخت د جرګې يو مشر د بيزې مالک ته وئېل چې ځوانه! تهٔ خو سم دم روغ سړے يې. هغه خو غلاګر ، دروغژن ، او سپين سترګے دے. د هغهٔ خو سترګه نهٔ سوزي. اوس به په دروغو سوګند وخوري خو دا د دواړو دپاره ښهٔ نهٔ دے. خېر دے که غل نهٔ اوړي نو مل دې واوړي. تهٔ سوګند مهٔ ورکوه. وايي چې په دې خبره د بيزې مالک د سوګند ورکولو نه واوړېدو او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو شريف سړے د چا بدمعاش يا بداخلاقه سړي سره په څهٔ لانجه کښې انښتے وي ، يا د چا بې وقوفه او کم عقل سره په څهٔ بحث او مباحثه کښې لګيا وي. خو هغه کم عقل د دهٔ خبرې او دليل منلو ته تيار نهٔ وي. نو خلق هغه شريف او هوښيار غړي ته داسې وايي چې پرېږده يار ، هغه خو بې وقوفه او يا بدمعاش دے. تهٔ ورسره څله ځان بدناموې ، يا ځان شرموې او خرابوې. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار! "چې غل نهٔ اوړي نو مل دې واوړي".

غل چې بې شرمه بې حيا شي
مل له پکار دي چې په څنډه ترېنه ځينه

چې غوا خفه کوې نو سخے ورله وهه

هسې خو هر ساه والا شے ، که هغه بنيادم دے ، ځناور دي او او که مارغان ، خو په خپلو بچو باندې زهيره او خفه کېږي. يعنې هر يو شے د بچو دړد او تکليف نهٔ شي برداشت کولے. چې بچي په مصيبت او تکليف کښې ويني نو د مور پلار زړهٔ دړديږي او خفه کېږي. خو مشران وايي چې په ځناورو کښې غوا بيا ډېره په بچو مئينه وي. او د بچو تکليف ، دړد ، غم او جدايۍ نهٔ شي برداشت کولے. د

غوا دا مينه محبت يې په دې فقرو يا جملو کښې هم څرګنده کړي دي. لکه وايي چې: دا څۀ دي لکه د لنګې غوا هر وخت نعرې جوړې کړي وي ، يا دا څۀ دي لکه د لنګې غوا هر وخت کور ته مخه کړې وي. د دې متلونو نه مطلب دا شو چې غوا په خپلو بچو ډېره مئينه وي. او چې څومره ورسره مينه محبت زيات لري نو ظاهره ده چې دومره به يې په تکليف او درد درديږي او خفه کيږي هم زياته. د غوا دا کمزورۍ يا دا مينه محبت ، دردېدل او خفه کېدل هوښيارانو په متل کښې د بنيادم سره تړلي او وړاندې کړي دي. او مطلب تر ېنه دا دے چې کټې که څوک زيات خفه کول غواړي نو په هغه ځائے کوذار يا تک ورکوه چې په کوم ځائے هغه زيات دردېږي او خفه کيږي. يعنې که زيات زيان رسول او ورکول غواړې نو د هغۀ په خوږ شي يا د هغۀ د خوښې په شي قبضه وکړه ، يا ورله هغه شے وران او تباه کړه. نو په هغه نقصان به هغه زيات دردېږي او خفه کيږي. او هم په داسې موقعو کښې استعمالېږي جرته چې څوک په دښمنۍ کښې چاته زيان ، تاوان او خفګان رسول غواړي. نو په دې متل عمل کوي. داسې په دې حقله يو بل عام متل هم ډېر زيات مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره ترون خوري. او هغه داسې وئيلے شي:"چې کوجر خفه کوي نو کټے ورله وهه".

چې پـــــــه کـــــــوجر دې وس بـــــــر نـــــــۀ شـــــــي
پـــــــه ســـــــخي کـــــــې بانـــــــدې يـــــــې وباســـــــه براســـــــونه

چې کلي دوه شي د چ ، غلخورو ښۀ شي

چ ، غلخوري کول يعنې غېبت او لمسون کول ډېره سخته کناه هددې کناه نه په قرا ـ ن شريف او په حديثو کښې هم څو څو ځايه منع فرمائيلے شوې دي. او په ډېرو سختو الفاظو يې غندنه شوې ده. او په ډېرو سختو عذابونو سره به يې سزا وي. يعنې دا دومره غټه ، ناروا او کنده کناه ده چې مثال يې د مر ورور د غوښې خوراک سره ورکړے دے. خو بيا هم سره د دې دومره منع کولو زمونږ په معاشره کښې اکثر خلق په دې مرض مريضان دي. او وخت په وخت د دې مرض جراثيم نور هم زيانېږي. د پښتو ژبې دا تورے (لفظ) ، غلخوري د غېبت نه زيات د کناه کار او خبره ده. غېبت خو د يو غړي څۀ کمزورۍ ، عادت يا بد عمل بيانول يا څرګندول وېنو چ ، غلخوري کښې څۀ داسې خبره کول ، يا لمسون کول ، يا جا ته مرسته او ډاډ ورکول وي. چې هغه بنده د دې لمسون ، شيدت او ډاډ له املـه د کناه کار ته تيار شي. په خصوصي توګه د بل چا زيان رسولو ته تيار شي ، يا د چا سره بدو ، جنګ جګړې او مرګ ژوبلې ته تيار شي. يعنې د دوۀ غړو ، دوۀ کورنو ، د دوۀ ډلو او يا د دوۀ کلو تر مېنځ جنګ جګړه جوړول يا راوستلو عمل ته چ ، غلخوري وئيلے شي. او څوک چې داسې عمل او عادت کوي نو هغوي په چ ، غلخورو مېلے او بلے شي. او دا عمل د غېبت د عمل نه زيات پليت او د کناه کار دے.

د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې چ ، غلخور د خپل عمل يعنې چ ، غلخوري له کېدل خلقو نه څۀ نه څۀ ب ، ده کوي. يعنې په مخامخ غړي ته د هغۀ صفتونه او د هغۀ د دښمن غېبت او سپکه بيانوي. د دوۀ ډلو تر مېنځه وړې راوړې کوي او په دې وړې راوړې او چ ، غلخوري کښې خپله فائده لټوي. څۀ نه څۀ ب ، ده کوي. چ ، غلخورو دا کمالات او حالات هوښيارانو په دې متل کښې ستايلي او مشهور کړي دي. او مطلب تر ېنه دے چې کله چ ، غلخوري د دوۀ غړو تر مېنځه وي نو دهغې نه فائده ډېره کمه وي ځکه چې د دوه کسو تر مېنځه خبره او شخړه زر صفا کېدے شي او خبره سېپنه شي او داسې د هغه چ ، غلخور غړي فائده هم ختمه يا کمه شي. او چې دا چ ، غلخوري د دوۀ ډلو تر مېنځه شي نو ب ، ده او فائده لږه نوره زياته شي او کله چې د دوۀ قبيلو او کلو تر مېنځه جنګ جګړه جوړه شي. نو بيا خبره دومره زر نۀ صفا کيږي بلکې هغه چ ، غلخور جګړه او شخړه لاسپوا کوي. او خبره ورانوي. او هم په دې کښې د هغوي فائدې زياتې او تر دېرې مودې جليږي. او په متل کښې هم دا فائده (ښۀ) ته اشاره شوې ده يعنې چې د دوۀ کلو دښمنې جوړه شي نو د چ ، غلخورو ښې مزې شي. نن سبا هم د داسې خلقو په حقله استعمالېږي جرته چې څوک داسې د چا تر مېنځه وړې راوړې کوي ، يا د چا د دښمنۍ او جنګ جګړې نه خپله فائده او کټه پورته کوي. نو په داسې موقع مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي:"چې کلي دوه شي د چ ، غلخورو ښۀ شي".

چې ګډيږي نو اخر وربږي

دا يو ساده متل دے. د ګډېدو او وربدو نه وربڅې مطلب دي. يعنې کله چې په اسمان کښې وربڅې راخوري شي او ورکښې کره کوره او پرق پروق جوړ شي. نو اخر باران ته وربڅې جوړې شي او باران تر ېنه شروع شي. همسې خو يو بل متل هم مشهور دے چې

مطلب يې د دې متل نه اپوټه دے. يعني داسې وئيلے شي. "چې کړيږي نو هغه نۀ وريږي". خو په خپل خپل ځائے او موقعې سره دواړه متلونه روغ او صحيح دي. يعني کله کله په يو خاص موسم کښې داسې کړه کوره راشي چې صرف کړېدۀ او برېښنا وي. او ځۀ لږۀ شېبه پس بيا اسمان صفا شي. يعني وربځي بغېر د باران د وربدو نه تېرې شي او اسمان شين شي. او کله کله داسې کړه کوره راشي چې ځۀ شېبه بنۀ کړيږي او برقيږي او اخر د باران وربځي جوړې شي ، نو بيا تربنه بنۀ زيات او طوفاني باران وشي يا ووريږي. د وربځو دا کړېدل او وربدل مشرانو د بنيادمو سره په مثال وراندې کړي دي. او مطلب تربنه دا دے چې کنې ځوک بنده چې د ځۀ کار يا د ځۀ خبرې په حقله لګيا وي خبرې کوي. يعني هر جاته يا په هر محفل کښې د زړۀ منشاء او مدعا څرګندوي او بيانوي ، چې کنې هغه دا کار کول غواړي يا داسې ځوک چا ته غصه او قهر بدلے وي او د هغه سړي خلاف خپله غصه او خفګان ښکاره کوي ، يا هغۀ ته د ځۀ زيان رسولو خپل نيت او اراده څرګندوي. نو هوښياران د هغه بنده دا خبرې اتري ، يا د هغۀ اراده ، تکل ، هڅه او هلې ځلې کول په کړېدو حسابوي. او وايي چې داسې ځوک ارادې او هلې ځلې (کړېدۀ) کوي نو اخر يو ورځ په خپل مقصد کښې کاميياب شي. او هغه کار وشي يا هغه کار وکړي ، يعني ووريږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې دا بنده د دېر وخت نه کړېدو نو اخر ووربدو. او په داسې وخت مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې کړيږي نو اخر وريږي". خو په اردو ژبه کښې د دې متل نه اپوټه او د وړومبي متل په مطلب کښې داسې وئيلے شي چې: "جو گرجتے ہيں وہ برستے نہيں".

چې ګورګوري خوري نو خ ، له به دې توريږي

ګورګوري يو وړه شان مېوه ده. دا لکه د وړې بېرې (کرکښې) په شان په جاړو کښې کيږي. د پښتونخوا په سيمه د بنوں او د کوهاټ په غرونو کښې زياته پيدا کيږي. وړې وړې دانې وي او چې پخې شي نو رنګ يې جامني او د جامن نه هم لږ تور وي. لکه چې څنګه ۀ پاڅۀ جامن تور ښکاري نو داسې پخې ګورګوري هم د رنګه توري وي او په خوړلو يې خ ، له توريږي. او چې جا ګورګوري خوړلې وي نو د هغۀ د تورې ، لې نه دا پته او اندازه لګي چې ګورګوري يې خوړلې دې ګورګورو دا صفت يا ع ـلت چې خپله په تن توري وي په خوړلو خ ، له توروي. او بيا بل جا ته غلا پيژه شي چې کنې دې بنده ګورګوري خوړلې دي. مشرانو به دې متل کښې ستايېلي او مشهور کړي دي. او د ګورګورو مثال يې د لغر او شغرو او بدو کارونو ، عملونو او بدو اخلاقو سره ورکړے دے او د توري خ ، لې مثال يې د مخ تورېدو سره تړلے دے. د دې معنو تر لاندې نه مطلب دا شو چې کنې څنګه چې څوک ګورګوري خوري نو خ ، له يې توريږي ، او داسې چې څوک بد ، فحش او لغر کارونه کوي نو مختورن به وي. يعني په کلي کور او معاشره کښې بدنامه ، بې شرمه او بې غېرته مشهور شي ، يا وي. او داسې بې شرمه او بې غېرته مدام په لعنت او ملامته وي. يعني چې څوک داسې کجه او د ملامتيا کارونه کوي نو لزمې به مختورن او په لعنت کيږي. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وراندې کوي او داسې وايي چې "ګورګوري خوري نو خ ، له به دې توريږي". او په څنې علاقو کښې داسې وئيلے شي چې "وتان خوري نو خ ، له به دې توريږي".

چې لاس مات شي نو غاړې له راځي

دا يو عام متل دے او د داسې حالاتو نه اخذ شوے دے کوم چې اکثر په انساناتو باندې تېر شوي وي. اکثر ليدے شي چې د جا بنيادم لاس مات شي نو ډاکټران حکيمان يا پوهان يې ورله د يوې کېرې يا د پټې په ذريعه د غاړې سره وتړي. يعني پټې يې د څټ نه راتاؤ کړي وي او لاس پکښې په ارام پروت وي. د دې مطلب دا وي چې هغه مات يا رنځور لاس د بنيادم د حرکت نۀ کوي. بلکې په يو ځائے په ارام پروت وي.

دا متل هم د دې مطلب دپاره جوړ شوے دے چې لکه څنګه د يو سړي لاس ته تکليف ورسي. او هغه لاس د خپلې غاړې سره اوتړلے شي. ځکه چې غاړه دبنيادم په بدن کښې بنيادم ته دېر نزدې ، د خوښې او د مينې محبت ځائے دے. او چې د جا څوک خوښ وي ، مينه محبت ورسره کوي يا چې څوک چا ته زيات نزدې او خوږ وي نو ځکه په ملاقات او مبلاوېدو کښې يو بل له غاړه ورکوي. او خپلې مينه ناکې جذبې او پېرزوکاني شريکوي. هم داسې جرته چې څوک په تکليف کښې شي يا وي نو هغه خپلو خورمنو خلقو ته ورنزدې کيږي ، يا ورته خپل خلق ورنزدې شي. ځکه چې خپل خپلوان هم د هغۀ په تکليف ، درد او غم خفګان خورمن او دردمند وي. نو ځکه يې ځان

(غاړې) ته رانزدې کوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې کله هم په چا بنيادم باندې څۀ سخته او تکليف راشي نو هغه خپلو خپلوانو او خوږمنو ته ورنزدې شي.

دا متل د داسې خلقو په حقله استعماليږي چرته چې څوک د خپلو خپلوانو نه ، ټبرداری ، عزيزولی او د ورورولی نه باغي شي او د خپلو نه جدا شي. غم ښادي او تپوس پوښتنه پرېږدي. نو هوښياران ورته دا متل د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې ګوره وروره ضد پرېږده. او که تۀ ډېر هم ضد ونيسې خو اخر به دې دا خپلوان پکار راځي ځکه: "چې لاس مات شي نو غاړې له راځي".

چې مال لري اقبال لري

دا يو ساده متل دے. او په امروزه ژوند کښې زيات نۀ استعماليږي مال معنی ده مال دولت ، يعنې ټول جائېداد. په دې کښې مال ډنګر ، دوتر ، کار روزګار او پېسه ټکه هر څۀ شامل وي. خو په عامه ژبه کښې د پېسو دپاره زيات استعماليږي. لکه وئېلے شي چې هلکه څومره مال دې اوګټلو ، يا څومره مال دے درسره. خو په دې متل کښې د مال نه مال دولت يعنې ټول هر څۀ مطلب دي. دا يو حقيقت دے چې د مال دولت زور او قوت په هره زمانه کښې منلے شوے دے. د مال دولت يعنې د پېسې د زور په حقله نور هم ډېر متلونه مشهور دي. لکه وايي چې "پېسه راشي نو ګ ره د بونېره راځي" او داسې نور ډېر. دوېم تورے دے اقبال. دا د فارسی ژبې تورے دے چې معنی او مطلب يې دے د قدر او عزت لوړ مقام. د مال زور او قوت او د قدر او عزت لوړ مقام مشرانو په دې متل کښې تړلي او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې څوک مال دولت لري. نو د هغوي ډېر قدر او عزت وي. يعنې په کور ، خاندان ، ټبر ، ټولنه او معاشره کښې مالداره سړے د قدر وړ وي. يعنې زيات قدرمند او عزتمند وي. د مال دولت دا زور او قوت ، يا فلسفه خلق اکثر په داسې وخت ويني ، ګوري او مني. چرته چې څوک داسې د (پېسې) مال دولت په زور د دستار مالک شي. (نن سبا زمونږه وزيران او ممبران) د قدر عزت لوړ مقام ته ورسي. ګو چې په هغه خلقو کښې خپل څۀ لياقت او قابليت نۀ وي چې پرې هغه مقام ته رسېدلے وے. خو د مال په زور هغه مالداره عزتداره جوړ شي. په داسې موقع خلق د هغه بنده او د حالانو څرګندونه په دې متل کښې کوي. او داسې وايي: "چې مال لري نو اقبال لري".

چې مرګ راشي نو سړے تبې ته غاړه کېږدي

د بنيادم په ژوند کښې د ټولو نه سخت او ګران وخت د مرګ وخت دے. او تبه په بشري رنځونو کښې يو رنځ دے. دا هم يو سخت او تکليف والا رنځ دے. سره د دې چې د ټولو انسانانو په دې خبره پوخ يقين دے چې مرګ حق دے او ارو مرو به يو ځل هر ساه والا مخلوق مري. که هغه د عمر په هره پاڼکۍ (حال) کښې دے. که ځوان دے ، ماشوم دے او يا که بوډا والے دے. خو يو ځل به راځي او تېښته ترېنه نۀ شي. بل طرف ته دا هم انساني فطرت دے چې مرګ زمونږ نه هېر دے. او يا مو هېر کړے دے. هوښيارانو په دې متل کښې د مرګ هغه سخت وخت ته اشاره کړې ده. وايي چې که چرې بنيادم ته د مرګ هغه سختې ورمخکښې شي نو بيا بنيادم دې ته تيار وي چې خېر دے که د تبې په رنځ رنځور شم خو چې د مرګ سخته نۀ وي. مشرانو دا حالات او د بنيادم دا کېفيت د متل په توګه وړاندې کړي دي. او مطلب يې دا دے چې په دنياوي ژوند کښې چې چرته په چا څۀ سخت وخت يا مصيبت راشي نو بنيادم بيا په خپله د هغې سختې نه کمې او لږې سختې او لږ مصيبت ته تيار وي مثلا ، که د يو زميدار په څاروو باندې څۀ مرض راشي او څۀ څاروي پکښې مړۀ شي نو هغه بيا داسې وايي. چې پاکه ربه دا سخے کټے خېر دے که مړ وے خو چې دا لنګه غوا بچ شوے وے. نو هم به ښۀ وه. يعنې بنيادم د ډېر تاوان او زيان په ځائے لږ تاوان ته غاړه ږدي. په داسې موقعو کښې د بنيادم د زړۀ هغه احساسات ، جذبات ، حالات او کېفيت مشران په دې الفاظو (متل) کښې وړاندې کوي او داسې وايي: "چې مرګ راشي نو سړے تبې ته غاړه کېږدي".

چې مور مېره شي نو پلار پلندر شي

دا يو ساده او عام متل دے. په دې کښې مشرانو داسې حالانو ته اشاره کړې ده چې کوم د پښتنو په سيمه کښې زيات ليدے او کټے شي. زمونږه په چاپېرچل (معاشره) کښې مېره مور ډېره بې رحمه ، ناترسه او ظالمه مشهوره وي. او اکثر وي هم داسې. ډېرې کمې به

داسې وي چې هغوي د مېرانه اولاد سره مينه محبت کوي او خيال خاطر يې ساتي. د مېرې مور د زور ظلم قيصۍ خو ډېرې مشهورې دي خو کله کله داسې حالات هم جوړ شي چې سړے يعنې پلار هم د ښځې په لمسون او خبرو کښې راشي او هغه هم خپل اولاد مجرم او ګرم ګڼي او مني. ښځه ذات ډېره فسادي او مکرژنه مخلوق دے. وايي چې رسول الله ﷺ هم په يوه د ۰ عا کښې د ښځو د فتنې او فساد نه امان غوښتے دے. کله چې يوه ښځه مېره مور جوړه شي نو هغه په خپل مکر فرېب او چالونو سره سړے داسې حد له راولي چې د خپل اولاد نه يې زړۀ بد او تور شي. بيا د اولاد سره داسې روزګار ، تعلق او لېن دېن کوي يا ساتي لکه چې څنګ يې ښځه يعنې مېره مور غواړي. کله چې يو پلار اولاد ته وچ په م ۰ جه ، بې ښې بې بدې رټل تروټل ، کنځل وېنا او وهل ټکول شروع کړي نوپه هغه وخت اولاد ته خپل پلار بيا مېرۀ پلار ښکاري. او دغه مېرنه کردار ادا کوونکي پلار ته پلندر وئېلے شي. مشرانو په دې متل کښې داسې حالات څرګند کړي دي او د متل نه مطلب هم دا دے چې ګڼې کله د چا مور مړه شي او پلار يې بل وادۀ وکړي نو د هغې مېرې مور له امله بچو ته خپل پلار پلندر جوړ شي. نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې په يو ماشوم باندې مېره مور زور ظلم کوي او پلار يې پوښتنه نۀ کوي نو په داسې وخت خلق داسې وايي چې ګوره که مور پرې ظلم کوي نو هغه خو مېره ده خو دې پلار ته يې ګوره چې تپوس پوښتنه يې نۀ کوي. هوښيارانو څۀ رښتيا وئېلي دي: "چې مور مېره شي نو پلار پلندر شي".

يتـــــيم څـــــوک مـــــۀ شـــــه يتـــــيم خـــــوار وي
پـــــلار يـــــې پلنـــــدر شـــــي د چـــــا مـــــور چـــــې مېـــــره شـــــينه

چې نرے وي ، ازمرے وي چې غټ وي نو لټ وي

دا متل په خصوصي توګه د بنيادم د روغ صورت او د صحت دپاره او د بدن د چاک چوبند ساتلو دپاره جوړ شوے او مشهور شوے دے. د نري نه مطلب چاک چوبند او چوست بدن دے. او مثال يې د ازمري سره ورکړے دے. يعنې چې وجود نرے وي نو هغه بنيادم لکه د ازمري چاک او چوست وي. او چې په وجود غټ وي نو هغه لټ يعنې سست سوړ پوړ او ناراسته وي. د لټ تورے (لفظ) اکثر د غوئي سره استعمالېږي. کوم غوائے چې په کار کښې سست او سوړ وي نو هغۀ ته لټ وئېلے شي او زميدار غړي اکثر داسې څاروے په قصاب ورتين کوي. ځکه هوښياران وايي چې د لټ غوئي مالک اخر قصاب وي. او چې کوم بنيادم په وجود غټ شي نو هغه هم بيا لټ وي. نۀ ترې څۀ کار کېږي او نۀ کولے شي ، او که څۀ کار کوي هم نو ناراسته بلاوي. نن سبا د طب په نوي لټون (ريسرچ) کښې دا خبره په ګوته شوې ده چې داسې غټ او لټ د مرضونو جاله وي. يعنې غټ والے د سلو مرضونو جرړه ده. د دې نه دا خبره معلومه شوه چې دا متل هم د چا پوهه حکيم قول کېدے شي. چې بنيادم ته يې دا خبره په ګوته کړې او څرګنده کړې ده چې که وجود دې نرے او چاک چوبند وساتۀ نو لکه د ازمري به طاقتور او چوست چالاکه يې. او که وجود دې غټ کړو نو بيا به درنه لټ غوائے جوړ وي. او چې څنګه د لټ غوائي مرګ د قصاب د لاسه وي نو داسې به ستا وجود هم د مرضونو جاله جوړېدے او اموخته کېدے شي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې بې خرته يعنې بې حسابه غټ وي. نو هغۀ ته هوښياران وايي چې هلکه لږ د ځان خيال ساته او خپل وجود ته پام وکړه. که دا حال وي نو د هر څۀ به اوځې ، يا د ژوند نه به ډېر زر لاس اووينځې. هم دا مطلب او نصيحت ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي: "چې نرے وي نو ازمرے وي او چې غټ وي نو لټ وي".

چې نن سپک شي سبا ورک شي

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. د سپک توري نه درې معنې اخستے شي. وړومېے دا چې څۀ شے په وزن سپک وي. يعنې دا د وزن پېمانه ده چې يو شے به يا سپک وي او يا به دروند. او چې څۀ څيز په وزن کم يا لږ وي نو هغې ته سپک وئېلے شي دوېمه معنـ ی او مطلب ترېنه په اخلاقو سپکېدل ، د چا قدر او عزت ختمېدل يا کمېدل دي. داسې چې څوک ډېر بې قدره او بې عزته وي يعنې ډېر بې ادبه ، بدتميزه ، بد اخلاقه ، بې شرمه او بې حيا وي ، نۀ پخپله حيا وي او نۀ د بل د عزت څۀ خيال خاطر ساتي. هر وخت او په هر ځائے سپکې سپورې ، بې ادبه ، بې ډبه ، او بې مطلبه خبرې کوي. نو د هغۀ په حقله اکثر داسې وئېلے شي. چې دا فلانے خو ډېر سپک سړے دے ، يا دا فلانےمې د نظره ډېر سپک راغے. يعنې زما په نظر کښې دے د قدر او عزت لائق او جوګه نۀ دے.

درېم مطلب ترېنه دا دے چې داسې ځوک ظالم ، مالداره او زورور غړے بل ځوک غريب او کمزورے غړے وکځي ، ووهي او بې عزته کړي. نو داسې عمل ته هم سپکول وئيلے شي. يعنې په داسې وخت وئيلے شي چې فلانے بې دېر سپک کړو ، يا هسې لکه د بنې بې سپک کړو او بنه دومره سپکه وي چې د هوا سره په هوا شي ، او چې چرته د هوا خوښه وي نو په هغه ،خ يې په مخه کړي. او ځوک چې داسې د جا د نظره سپک راشي ، يا په هر محفل کښې سپک کېلے او ېلے شي ، يا د جا د لاسه سپک شي. په خصوصي توګه ځوک چې داسې په څۀ سپک کار د کور والو په نظر کښې سپک شي نو نۀ بيا د هغه بنيادم په کور کښې ځائے وي او نۀ په حجره جمات کښې يې د سترګو د لکېدو ځائے وي. هم د دې امله هغه بنده د خپلولې ، عزيزولې ، د ټبرداری او د کلي د غم شادی نه ووځي ، يا خپله په ډډه شي او يا ورسره خلق ټلے راغلے او غم شادي پرېږدي. او بيا يو وخت داسې هم راشي چې هغه د خپل ټبرولې ، ولسولې او عزيزولې نه ورک شي او دا ورکېدل يا د غم شادی نه ايستلے کېدل مشرانو په متل کښې ستايلے او مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې ګڼې خپل عزت په خپل لاس کښې دے. د بل قدر عزت کول او خپل قدر عزت ساتل پکار دي. نۀ جا ته سپکه وېنا پکار ده ، نۀ جا ته په سپک نظر کتل ، او نۀ د بل په نظر کښې سپکېدل. يعنې داسې کارونه ، خبرې او سپکه وېنا نۀ ده پکار چې سړے ورباندې سپک ښکاري او سپک جوړ شي. هم دا مطلب مشران د نصيحت په توګه په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي: "چې نن سپک شي سبا ورک شي".

چې نۀ پوهېږي نو کران اخله

دا يو عام متل دے چې معنې يې او مطلب يې دواړه ظاهره او يو دي. د دنيا په دې بازار کښې په قسم قسم څيزونه مېلاويږي او خرڅيږي. بلکې هر شے په خو خو نمونو او نقلونو سره په بازار کښې مېلاويږي. او دا خبره منلے شوې ده چې اصل شے اصل وي او نقل نقل. يعنې که نقل هر څومره ښکلے او مزېدار شي خو اصل ته نۀ رسي او نۀ بې ځائے ليولے يا اخستے شي. په دې وجه اصل شے په قيمت کران او نقل ارزان وي. په بازار کښې د اصل او نقل فرق کول هم دېر مشکله او کران کار وي. د هر چا په هر شي کښې دومره تجربه او اندازه نۀ وي چې د اصل او نقل فرق وکړے شي. د دې حالاتو او مشکلاتو له کبله مشرانو دامتل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کټې په سودا کولو ، يا د څۀ څيز په اخستلو نۀ پوهيږي. يعنې د اصل ، نقل يا د ښۀ/خراب فرق نۀ شي کولے نو کران څيز اخله کېدے شي چې هغه به د ارزان په نيز ښۀ او اصل وي. ضروري نۀ ده چې هغه به اصل وي ځکه چې نن سبا خو په بازار کښې داسې ټکان خلق ناست وي چې په خبرو خبرو الېلوسي او جالونو کښې سړے داسې دهوکه کړي چې هغه څو په څان پوهيږي نو بيا يې ت ۀ وت ته خبرولے وي. خو بيا هم دا متل په خپل ځائے ښۀ پوره او کوتلے حقيقت منلے شوے دے. ځکه چې د مشرانو خبرې د کاني کښې وي. او په هغې کښې يوه خبره دا ده: "چې نۀ پوهيږي نو کران اخله".

د هو ښـــ

چې نۀ ځې نو وابه دي خلم چې نۀ خوري نو څۀ دي کړم

دا يو ساده متل دے. مطلب يې دا دے چې چرته يو بنده خفه او مرور وي او چرته د تلو دپاره تيار نۀ وي نو د هغۀ دوستان يا خپلوان هغه سړے په زوره هم د څان سره بوتلے شپېنې که ماشوم وي خو په ا ۀ وړه يا په شا به يې واخلي ، يا به يې په څۀ سورلي ورسور کړي. خو خوراک داسې عمل دے چې دا په زور زبردستي نۀ شي کولے. يعنې دا پره متل چې د مرور بنده سره ځوک څۀ نۀ شي کولے. او که په زوره يا وهلو ټکولو ځوک خوراک باندې مجبوره هم شي نو هغه څۀ خوراک وي بس زهر ټبرول وي. د مرور غړي د خوراک نه انکار او د مرورتيا دا حالات مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې د څۀ کار په نۀ پوره کېدو يا د څۀ خبرې په نۀ کېدو کښې خپله مجبوري څرګندول او پره متل.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي چرته چې ځوک داسې په کور کښې مرور شي ، يا د جا خپلوانو او د يارانو دوستانو په دعوت کښې خفه او مرور شي او د خوراک څښاک نه انکاري وي. او په منت زارو هم نۀ رضا کيږي. نو په داسې وخت هغه مرور بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې نۀ ځې نو وابه دي خلم خو چې نۀ خوري نو څۀ دي کړم" ، يا "چې نۀ ځې نو په شا به دي کړم خو چې نۀ خوري نو څۀ دي کړم".

چې نۀ دې رسي لاس ، بيا مۀ کوه بکواس

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه خال خال او په خاص موقعو کښې استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې په څۀ معامله ، څۀ کار ، څۀ خبره او يا په څۀ مسئله کښې دې لاس نۀ رسي ، يعنې چې په څۀ کښې واک اختيار نۀ لرې نو بيا د هغه کار ، مسئلو او خبرو نه ځان لرې ساته. په هغه معاملو کښې ځان مۀ شريکوه يا هغه مېدان ته مۀ وردانګه. داسې چې دې واک اختيار نۀ وي نو بيا د جا سره د څۀ کار او خبرې وعدې نېټې هم مۀ کوه ، يا چې د فېصلې کولو وس دې نۀ وي نو بيا د جا تر مېنځه خبرو اترو ته ، مشورو ورکولو ته او بحث مباحثې (بکواس کولو) ته هېڅ حاجت نشته. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے. او په خاص موقعو يې خلقو ته د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي خانه! "چې نۀ دې رسي لاس ، نو بيا مۀ کوه بکواس".

چې نۀ سيخ وسوزي او نۀ کباب

دا يو عام متل دے. چې د پر زيات مشهور دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. سيخ او کباب د يو بل سره ترلې او جوړه دي. څۀ کباب په کړهي کښې پخولے شي. چې په سيخ اړولے راړولے شي. او څۀ کباب په سيخ کښې ټومبلے د سکروټو دپاسه وريتولے يا پخولے شي. په دواړو طريقو کښې د کباب سره سيخ لازمي وي. يعنې بغېر سيخه نۀ کباب جوړېدے شي او نۀ پخولے شي. د کبابو پخول هم يو هنر دے. او د متل مطلب هم دا دے چې داسې په هر هنر کباب پخول پکار دي چې نۀ کباب وسوزي يعنې بېکاره شي. او نۀ سيخ وسوزيعنې مات کړے بې خرابه ، بېکاره او ناپکاره شي. سيخ او د کبابو دا ټرون او د پخولو چل هر هنر مشرانو په دې متل کښې ستاېيلے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه هر کار او هره خبره دېعنې هر کار په داسې چل هر هنر سره کول پکار وي چې نۀ کار وران شي او نۀ د کار اوزار ، يا کار کولو والا خلق مات کړ بې رنځور او کنېم شي. داسې په هره خبره کښې په خصوصي توګه د جا تر مېنځه په جرګو مرکو کښې د مېنځ لړه کودره جوړول او غوره کول پکار وي. چې نۀ يوې دلې ته زبان وي او نۀ بلې دلې ته تاوان ورسي ، يا ورکړے شي. بلکې صلح صفائي او خبره داسې روغول پکار وي چې دواړه دلې پرې راضي او خوشحاله وي. هم د دې مطلب دپاره يې مشران د څۀ کار کولو په موقع او يا د څۀ فېصلې کولو په وخت خلقو ته وړاندې کوي ، او داسې وايي چې دا خبره يا دا کار داسې کول ، يا جوړول پکار دي ، يا داسې څۀ چل هنر کول پکار دے: "چې نۀ سيخ سوزي او نۀ کباب" په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې وئيلے شي چې: "سانپ بهي مر جائے اور لاٹهي بهي نه ٹوٹے"

چې نۀ مري نۀ مري نو اخر به ومري

مرګ شته او خلاصېدے تري نشته. بېشکه چې مرګ حق دے. ازمونږ د ايمان او عقيدې يو بنيادي او مهمه جز دے. بل زمونږه د سترګو وړاندې دا يو حقيقت دے. روزانه مونږه وينو کورو او په خپلو لاسو خپل وروڼه بهائي ګان او خوښدې مېندې تورو خاورو ته سپارو. دا د الله پاک يو قدرت او حکمت دے. الله زده چې په ورځ کښې څومره انسانان پېدا کيږي او څومره مري بس يو سلسله ده روانه ده. او چې د جا اوربشه پوره شي نو ورته څۀ بهانه شي. په دې متل کښې هم هوښيارانو د اوربشې پوره کېدل او د نېټې يعنې د وخت پوره کېدل په کوته کړي دي. يعنې بنيادم ته دا يادکېږنه ورکول دي چې ګني که نۀ مري نو اخر تر کومې. يعنې که د پر هم ژوندے وي يعنې په سوونو کاله هم ژوندے پاتې شي نو اخر يو ورځ به دې نېټه پوره شي. ځکه چې مرګ شته او خلاصېدل تري نشته. او هم دا حقيقت هوښيارانو په دې متل کښې ستاېيلے او مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت ، سبق او خبرداري په توګه وړاندې کوي او وايي: "چې نۀ مري نۀ مري اخر به اومري". او په ځنې علاقو کښې داسې وئيلے شي: "که نۀ مري نۀ مري نو اخر به اومري".

چې نۀ مني د يار ، مدام ګرځي خوار و زار

پخواني څۀ سادګان او سپين سپېڅلي خلق وو. په يارۍ دوستۍ کښې پاخۀ ، وفادار او ډېر مخلصه وو. هغه يارۍ دوستۍ ، چې هندو د يار دپاره غوښه خوړله. د هغه زمانې دا متل د يارانو او دوستانو اخلاص او خلوص څرګندوي. مطلب يې دا دے چې ګڼې ياران داسې وي چې هغوي يو بل له ښۀ ، بهتره او مخلصه مشوره ورکوي. او چې څوک په هغه مشوره عمل وکړي نو هغه کار به يې وشي يا هغه شخړه به يې ختمه شي او که عمل پرې ونۀ کړي او خپله يې هم عقل کار نۀ کوي. يعنې د هغې مسئلې څۀ حل ورسره نۀ وي نو په هغه خبره يا مسئله کښې خوار و زار شي ، وکړيږي. ګو چې دا متل يو عام متل دے. د وخت او د زمانې د قېد نه ازاد دې خو بيا هم زما په خيال د نن زمانې سره تړون نۀ خوري. ځکه چې نن نه هغه مسلماني شته او نۀ هغه ياري دوستي ، يا خپلولي او ورورولي. چې خلق يو بل له د خېر ښېګړې او د فائدې مشوره ورکړي. نن سبا خو اکثر داسې ليدے کټے شي چې خپل ورور تربور يا خوږ دوست به دې پښې وهي ، يا به دې کندې ته راکاږي. ځکه خو هوښيارانو دا هم وئېلي دي چې: "مشوره د هر چا اوره خو کوه خپله". بويه چې د چا مخلصه يار دوست د خېر ښېګړې مشوره دې خوښه شي نو عمل پرې وکړه او د داسې وفاداره دوست او د هغۀ د خېر او مخلصې مشورې او رائے په حقله مشران وايي: "چې نۀ مني د يار مدام ګرځي خوار و زار".

چې وار د غل شي نو سپۍ اوده شي

په پښتو کښې ډېر متلونه په ځناورو پسې هم جوړ شوې دي. په دې کښې د سپو په حقله جوړ متلونه زيات مشهور دي. سپے په خوي خصلت ډېر وفادار ګڼلے او منلے شي. اکثر يې خلق د کور او د مال حال د څوکۍ دپاره ساتي. په متل کښې هوښيارانو د سپي او د غل مثال ستاييلے دے. او مطلب يې دا دے چې ګڼې کله د غل د راتلو او د غلا کولو وار يعنې وخت شي نو سپۍ چې د کور او مال حال څوکيداره او ذمه داره ده نو هغه اوده شي. او چې څوکيدار اودۀ وي نو بيا غل ته څۀ ګرانه ده. او د داسې څوکيدار نه څۀ فائده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې د څۀ مال حال څوکيدار چې لاپرواه شي نو بيا د بل نه څۀ طمع ده. بيا خو به غل غلا کوي يا نور خلق به هغه مال تباه او بربادوي. او يا تالا والا کوي ، يا داسې څوک چې چا ته څۀ کار په حواله کړي او هغه ذمه دار بنده عېن د کار په وخت او موقع پټ راپټ شي يعنې د کار په وخت غېب شي او پکار رانشي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې چا ته د څۀ کار وېنا وکړي يا ورته څۀ کار په حواله کړي يا څوک د چا نه د څۀ کار يا څۀ خبرې طمع لري او عېن د کار يا وعدې په وخت هغه غړے دهوکه وکړي. پټ راپټ شي يا څۀ بهانه جوړه کړي. يعنې ځنې خلق او اکثر ماشومان داسې وي ، چې هغوي ته د کار په وخت مونځ او سبق ورياد شي نو په داسې وخت او داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: "چې وار د غلا شي نو سپۍ اوده شي". داسې يو بل متل دے چې مطلب يې هم د دې متل سره تړون خوري او هغه داسې وئېلے شي: "چې وخت د ښکار شو نو لختۍ له غ ـ ل ورغلۀ".

چې ورانه ده نو د خانه ده

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې يو ټک امير خان نومېدو چې په ميري مشهور وؤ. دے ډېر چالاکه ، دروغژن او فرېېژن وؤ په لمسون او چ ـ غلۍ به يې اکثر دوه کسه په جنګ کړي وو. او بيا به يې د هغو تر مېنځه وړے راوړے کولو. خپل غرض او مطلب به يې تر لاسو کولو يعنې ب ـ ده به يې ترېنه کوله. په دې وړي راوړي کښې سړے داسې تجربه کار او ماهره شو چې جرګو ته ورسېدو. بيا به يې د خلقو فېصلې او جرګې کولې. او د دې جرګو مرکو له کبله امير خان د ميري نه په خان مشهور شو. څومره چې به چا خان راضي او خوشحاله ساتلو هومره به هغه په جرګه کښې دروند او رښتونے وؤ. او بله ډله به پړه او مړه وه. داسې په کلي څۀ چې په علاقه کښې خان مشهور شو. چرته چې به د چا څۀ لاندے باندے راغے نو وئېل خان به يې فېصله کړي. داسې وايي چې يو ورځ په پټي کښې د دوؤ زميدارو جنګ وؤ. بل يو مشر درېم ګړي يې تر مېنځه خلاصے وکړو. او پوښتنه يې ترېنه کوله چې په څۀ مو جنګ دے. هغوي دواړو ورته خپله خپله قيصه تېره کړله. هغه درېم ګړي ورته وئېل چې دا دومره غټه او د جنګ خبره نۀ ده. خان له ورشئ هغه به درله فېصله وکړي. هغه يو زميدار چې د خان د عمل او کردار نه خبر وؤ نو ورته يې وئېل چې کاکا تۀ هم ښۀ

وايي. خو دا چې ورانه ده نو د خانه ده. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترينه دا دے چې دا خبره ورانه هم د دې کېله ده.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک داسې د ځۀ کار ، خبرې ، شخړې او د جنګ ذمه واري ، غوړه او پره په جا وراچوي. يعنې ځوک کام قصوروار ه کړځوي يا جا ته په ځۀ معامله او حادثه کښې کوته نيسي نو د هغۀ ج ۀ رم ، قصور او پرتيا په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي: "چې ورانه ده ، نو د خانه ده".

چې وربړي پرې باران نو مزې کوي خواران

قيصه:

دا متل په دوه جدا توګو (الفاظو) او معنو سره مشهور دے. يعنې يو د مزو سره او بل د ژړا سره. يعنې داسې هم وئيلے شي چې وربړي پرې باران نو ژړا کوي خواران. د دې متل په حقله داسې يو قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو کلي سره ځنګ کښې يو خو ۀ ر تېر شوے وۀ خو ۀ ر په غاړه په يو اوخت کمر يو غريب سړي خانله يوه جونګړه جوړه کړې وه. يک سر په هغه شپول کښې يې ګزران وۀ. وايي چې د پشکال مياشت وه او يوه شپه ښۀ ډېر باران وشو خو ۀ ر کښې سېلاب راغے او په ټول کلي اوبۀ واوړېدې. هر خوا الغو تلغو جوړ وۀ. هر جا خپلې کډې کوډې او مال حال زغلولو. جا سامانونه زغلول او جا مال ډنګر په مخه کړې وو. او چرته اوچ د امن ځائے او لاړې کودړې يې لټولې چې د سېلابه ځان بچ کړي. وايي چې د کلي يو وګړے د هغه غريب په غاړه وربښې شو. هغه بودا يو شلېدلے کټ په هغه اوخت کمر اچولے وۀ. او د چيلم نه يې ښهۀ ج ۀ رت کش راښکلو. هغه کس ورته وئيل چې کاکا کلے په بله اوړې. سېلاب وخت تر وخته سپوا کيږي او تۀ بې غمه د چيلم نه خرار وباسې. پاسه د کور او مال حال غم دې وکړه. هغه بودا ورته وئيل چې خانه زما به ځه يوسي. دا يو شلېدلے کټ او يو پوزے دے. که وړې نو وړې دي. اوس چې په هغه وخت د هغه غړي د خ ۀ لې نه دا خبره وخته. "چې وربړي پرې باران نو مزې کوي خواران". يعنې نن خوارانو سره د ځۀ غم نشتهغوي په ج ۀ رت کښې چيلم کړم کړے دے او مزې کوي. او داسې د هغه وخت نه دا جمله يا فقره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترينه دا دے کچې داسې په ځۀ حادثه ، ا ۀ فت او مصيبت کښې د غريبو خلقو زيان او تاوان لږ وي يا لږ کيږي. او د شته منو او مالدارو غړو زيان زيات او ډېر کيږي. يعنې که د غريبو زيان وشي نو ځۀ به وي. هغه د مشر کاکا خبره چې يو کټ پوزے دے وړې دا چرته چې داسې په ځۀ ا ۀ فت يا حادثه کښې د جا مالدارو محلونه او مانۍ تباه شي يا يې مال دولت او لاړې موټرې تباه بربادې شي او کله چې داسې زيان او غم خفګان ورته ورسي نو په هغه وخت دا متل خلقو ته راپه ياد شي او داسې وايي: "چې وربړي پرې باران نو مزې کوي خواران".

دوېم متل چې د ژړا سره وئيلے او مشهور شوے دے هغې مطلب دا دے چې کچې داسې ځۀ حادثه او ا ۀ فت کښې چې کله د غريبو خلقو يوه جونګړه وي. او هغه هم سېلاب يوسي ، يا يې طوفان او زلزلې تباه و برباد کړي. يا د غريبو د سر د پټېدو ، يا په سيوري کښو ځائے ځائېکے نۀ وي. نۀ ورسره ځۀ بدل وي او نۀ د تېښتې رو کودر وي. نو په داسې حالاتو کښې هغه خواران د ژړا نه علاوه نور ځۀ کولے شي. لازمي ده چې ژړېږي به. هم په داسې موقع چرته چې داسې د خوارو خواره برخه ورسي او هغوي خپله ژړا فرياد کوي. خپل قسمت او برخه ژاړي نو دا متل وراندې کوي او داسې وايي: "چې وربړي پرې باران نو ژړا کوي خواران".

چې واوړي نو ووايه چې ووينې نو مۀ وايه

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه مشهور شوے دے. هسې خو نۀ د اوربدو خبره جا ته وئيل او ډنډوره کول پکار دي. او نۀ د ليدو. خو هوښيارانو په دې متل کښې دا په کوته کړې ده چې که د بل جا نه ځۀ واوړي او هغه خبر يا خبره د ښکاره کولو لائقه وي نو که بل جا ته يې څرګندوي يا رسوې نو خبر دے. خو چې په خپله ځۀ ووينې او هغه د څرګندولو نۀ وي يعنې د جا شرم پرده پرې ماتيږي نو هغه مۀ وايه. ځکه چې د هغې خبرې تۀ پواځې ګواه يې. او خبره په پرده کښې ساتل سنا فرض او ذمه واري ده. يعنې چې په هغه کار څوک خبر نۀ وي نو تۀ پرې خلق مۀ خبروه. بلکې خبره په پرده کښې وساته. د يو حديث شريف مفهوم دے چې جا په دې دنيا د بل پرده وساتله نو الله پاک به په هغه جهان (اخرت) کښې د هغۀ پردې ساتي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے. د هوښيارانو يو بل قول دے. وايي چې تر څو دې په خپلو سترګو لېدلے نۀ وي نو په هغې خبره اعتبار مۀ کوه. او د دې

نه هم مطلب دا شو چې څۀ واوري نو هغه بې اعتباره وي او داسې بې اعتباره خبرې او ګنګوسې خوړول ښۀ کار نۀ دے. يعني مطلب دا شو چې احتياط ښۀ شے دے ، نۀ ګنګوسې او دروغ وينا خوړول پکار دي او نۀ داسې رښتيا خبره ښکاره کول او خوړول پکار دي چې د چا شرم حيا او پرده پرې ماتيږي. ځکه چې داسې خبرې کول په غيبت کښې راځي او غيبت کول سخته ګناه ده. نو ځکه دا متل مشران د نصيحت په توګه وړاندې کوي او وايي: "چې واوري نو ووايه چې ووينې نو مۀ وايه".

چې وير شي نو په سر توره ښۀ دے

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې ډېر زيات استعمالېږي. وير ، ژړا سر پټ ساتل او سر سرټوړول د زنانۀ يعني د مېرمنو سره تړلي دي. کومه ژړا چې ډېره د افسوس ، غم ، درد او سوز سره کولے شي نو هغې ته وير وايي. په خصوصي توګه کله چې زنانه اکثر په غم کښې يعني د چا په مړي باندې ژړا انګولا کوي. نو هغې ته وير وئيلے شي. په دې وير کښې چغې سوري ، غاړې /ساندې او سلکې وي. او اکثر زنانه داسې د ښېرو او د وير په وخت پخپله سرونه سرټور کړي. خو ځيني مېرمني پکښې داسې مدهوشه ، يا بې خوده شي چې نۀ بيا د ځان د حاله خبر وي او نۀ د چاپېرچل نه. يعني د وير په وخت مېرمني دا پام او خيال نه ساتي. چې سر بې سرټور دے او که پټ ، يا لوښته ، څادر بې په سر او غاړه شته او کنه. په هغه وخت هغوي نه دې خبرو ته پام کوي او نۀ بې خيال ساتي. بس په چغو سورو کښې وي. څوک مخونه ټکوي او څوک ځانونه. د وير په وخت د زنانۀ دا حال مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے. او معنۍ ، ې بې دا ده چې کټې که څوک وير کوي او سر هم پټ ساتل غواړي. يعني د ځان پرده هم ساتل غواړي نو دا دواړه نۀ کېږي ځکه چې د وير په وخت د ډېرې جوشه او سوزه اکثر مېرمني د ځان د حاله ناخبره وي. يعني چې وير کوي نو بيا به د سر پرواه نۀ ساتي. او چې سوز ، جوش او بې خودي پکښې نۀ وي نو هغه وير نۀ دے. د دې معنو تر پاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې که څوک داسې څۀ کار کوي چې پرده يې پرې ماتيږي يا پرې شرميږي. نو اول خو هغه کار کول نۀ دي پکار او که د څۀ مجبوري له کبله هغه کار کول غواړي يعني بنيادم مجبوره شي نو بيا ورته سم ورلاندې وتل پکار دي. يعني چې ډهول په غاړه شي نو بيا ښۀ په ازاد مټ غږول پکار دي. بيا پکښې شرم او انې بهانې کول او جوړول نۀ دي پکار. په داسې وخت او حالاتو کښې خلق هم دا متل استعمالوي او داسې وايي:

"چې وير شي نو په سر توره ښۀ دے"

چې يارانه په شلتالو شوه ، نو زما نه پاتې واخله

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه دوستان وو. د هغه يو دوست په پتې کښې د شلتالو يوه ونه وه چې په موسم به ورکښې يو څو دانې مېوې کېدلې. او د کور مېرمنې به په چم کاونډ کښې ووېشلې. څۀ ورځې د دې دواړو دوستانو ملاقات نۀ وۀ شوے. يوه ورځ هغه شلتالو والا اشنا د هغه بل پوښتنې له ورغلو. وئېل يار! ډېرې ورځې وشوې ښکاره نۀ شوې. څۀ حال وۀ خېر خو وۀ. هغه بل اشنا ورته وئېل چې يار! زۀ په طمع او تۀ بې غمه. تا خو سخ کال هډو زما تېوس ونۀ کړو. هغۀ ترپنه بيا پوښتنه وکړه چې اخر حال څۀ شوے دے. د حاله خو مې خبره که. هغه خفه اشنا ورته وئېل چې کوره د شلتالانو موسم راغے او تېر شو. تا دا ځل پکښې مونږه ياد نۀ کړو. دې شلتالو والا غږې له په دې خبره ډېره غصه ورغله. او هم په غصه کښې يې داسې سکوټ خواب ورکړو. وئېل اشنا! چې يارانه په شلتالو شوه نو زما نه پاتې واخله. يعني مطلب يې دا وۀ چې تۀ دومره په وړه او لږه خبره خفه کېږې يا په لږ شي خفه او مروريږې نو داسې ياري دوستي زۀ نۀ شم کولې. نن سبا هم دا متل په داسې موقع کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک په وړه خبره يا په لږ شي باندې کېلې مانې کوي ، يا خفګان څرګندوي ، يا داسې څوک په يارانه کښې حساب کتاب او رنې ريشتنې کوي نو هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ک ، لابه! "چې يارانه په شلتالو شوه نو زما نه پاتې واخله".

چې يارانه په شلتالو شوه
زما نه پاتې د ياري واخله بندونه

چې يې وخوړې نو غ ، ل به شي ، چې يې ورکړې نو ک ، ل شي

دا يو ساده متل دے. خو په امروزه ژوند کښې زيات نۀ استعمالېږي يعنې يې دا ده چې ګڼې څۀ شے چې بنيادم وخوري نو د هغې نه چې اخري څۀ جوړ شي ، هغه خلقو ته معلوم دي. بل خوا چې څۀ شے چا له ورکړے شي نو د هغې نه يو احسان او نېکي جوړه شي چې په مثال لکه د ګ ۀ ل شوانو د ګ ۀ ل مثال ورکړے دے چې ګ ۀ ل خپله يو ښائسته څيز دے. او ډېر زړۀ پورې او زړۀ راښکونکے بوي ترې خېژي يعنې ګ ۀ ل ته چې څوک ګوري نو په کنو يې سترګې خوګېږي ، زړۀ خوشحالېږي ، او چې بوي يې کړي نو د زړۀ سره روح ته هم سکون ارام او خوشحالي مېلاؤ شي. داسې هوښيارانو ورکړه هم لکه د ګ ۀ ل ستايېلې ده. چې چا له څۀ شے ورکړے شي نو دا نېکي او صدقه شوه او هم د دې نه روح ته خوشحالي او سکون مېلاوېږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې يو څيز چې پخپله څوک وخوري نود هغې خو به هغه لږ ساعت خوند او مزه وي. خو اخر ترېنه _____ جوړ شي. او که په هغې کښې څوک شريک کړے شي يا چا له خېراتي ورکړے شي نو هغه صدقه ، خېرات يا نېکي او احسان سره د بنيادم روح ته داسې ارام ، سکون او خوشحالي ورکړي ، يا ورسوي لکه چې څنګه د ګ ۀ ل په ليدو او بوئيولو رسيږي يعنې هغه ورکړه لکه د ګ ۀ ل جوړه شي. او دا يو کوټلے حقيقت دے چې په احسان او نېکۍ کولو بنيادم زړۀ ته حقيقي خوشحالي او سکون مېلاوېږي. دا متل هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي: "چې يې وخورئ نو _____ شي او چې يې ورکړئ نو ګ ۀ ل شي".

Pukhto.Net
پښتو

"ځ"

ځان به ورک کړم خو تا به ورکه نهٔ کړم

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې کله چې پېسه کمه وه او قدر يې زيات وؤ. نو يو بنده په لاره کښې يوه ټکه يا انه بيا اوموندہ. هغه سکه يې په موټي کښې کلکه نيولې وه. چې ګڼې نهٔ يې څوک ووينې او نهٔ رانه چرته ورکه شيځهٔ شېبه پس د دې سړي لاس يعنې تلے خو ـ لې شو. دې ساده سړي دا ګمل چې ګڼې دا سکه ژاړي نو ځکه زما تلے لوند شو. په هغه وخت يې د ځان سره وئېل چې ژاړه مه ځان به ورک کړم خو تا به ورکه نهٔ کړم. او څوک وايي چې سر به ورکړم خو تا به ورنهٔ کړم.

مشرانو ترېنه مطلب دا اخذ کړے دے چې ګڼې پېسه دومره خوږه ده چې بنيادم پرې خپل سر بائيلي خو پېسه نهٔ پرېږدي. بيا په خصوصي توګه يو شوم او کنجوس بنده ته پېسه دومره خوږه شي چې باندې خپل ايمان ، عزت او سر بائيللو يا ورک ـ ولو ته تيار وي. قيصه يا واقعه يې هر څهٔ چې وي خو مشران يې هم د دې مطلب دپاره وړاندې کوي او استعمالوي. چرته چې داسې څوک شوم بنده وي چې په خرچه او لکښت کښې شومتيا کوي. هر څهٔ يې شاته او صرف پېسه يې اسرا کړي وي. يعنې په پېسه دومره مئين وي چې ورته بې بې وايي. نو په داسې وخت او داسې وګړو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ستا مثال خو داسې دے لکه چې: "ځان به ورک کړم خو تا به ورکه نهٔ کړم". په دې حقله بل يو لغړ او فحش متل هم مشهور دے. چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې وئېلے شي چې: "عزت جاوے ليکن دمڑی نه جاوے".

ځان ته ترخز وهل

ځان ته ترخز وهل يوه محاوره ده. چې په امروزه ژوند کښې ډېره استعماليږي. کله کله يې مشران د متل په توګه هم استعمالوي. او مطلب يې دا دے چې ګڼې هر شے ځان ته مهٔ راکاږه ، مهٔ راغونډوه يا په هر شي خېټه مهٔ اچوه. يعنې چرته چې څوک داسې په "ميم زر ما ټوله زما" باندې عمل کوي. هر څيز باندې قبضه کوي او د بل د حصې او برخې څهٔ خيال خاطر نهٔ ساتي ، يا په هر کار او خبره کښې خپله فائده او سود لټوي. او د بل په زيان او نقصان يې څهٔ کار نهٔ وي. بلکې د خپل غرضه سره کار لري. نو په داسې حالانو کښې د داسې بنده په حقله خلق دا محاوره د متل په توګه استعمالوي. او هغه بنده ته دا احساس ورکوي يا يې ضمير راويښوي چې ګڼې هر څهٔ د ځان دپاره مهٔ خوښوه ، يا ځان ته مهٔ راکاږه. او دا مطلب ورته داسې څرګندوي او وايي چې: "ځان ته ترخز مهٔ وهه".

ځانله ورانه بلۍ نهٔ شې جوړولے ،
او بل له بنګلې ابادوې

دا يو عام متل د معنـ ـ ی او مطلب يې هم د الفاظو نه ظاهره دي. زمونږ په معاشره کښې چرته نه چرته يو کس نيم داسې وي چې هغه ډېر هوښياره ، چالباز ، چالاکه او د خـ ـ لې نه ډېر تېز وي. داسې بنده اکثر په محفلو کښې ځان وړاندې وړاندې کوي. او خلقو ته ځان داسې ورښکاره کوي چې ګڼې دے ډېر د کار سړے دے. اکثر خلقو ته مفت مشورې ورکوي. خپله خو د څهٔ کار روزګار نهٔ وي. بس ځان يې د بل د مشورو او مسئلو دپاره وقف کړے وي. په خبرو کښې اکثر داسې ګپ او لاپې وولي چې فلاني له مې پرون دا کار وکړو ، او د فلاني به نن دا کار وشي. خو چې کله د کار وخت راشي نو بيا خپله ورانه بلۍ هم نهٔ شي جوړولے. خو هسې په خيالونو او ګپونو کښې بل له بنګلې او غټې غټې ماڼۍ ابادوي. په داسې حالانو کښې مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ځانله ورانه بلۍ نهٔ شي جوړولے او بل له بنګلې ابادوي".

مـــــــــدام يـــــــــــې ورانـــــــــــه بلـــــــــــۍ ويـــــــــــنم
د بـــــــــل دپـــــــــاره چـــــــــې بنګلـــــــــې ابادوينـــــــــه

ځوانان چا بدرنګ کړي دي

دا يو ساده متل دے. او مطلب يې دا دے چې ګنې ځواني خپله يو ښائسته دوران وي او چې څوک ځوان وي نو هغه بدرنګه نۀ وي. بلکې ښکلے او ښائسته وي. هسې خو ټول مخلوقات په ځوانۍ کښې ښکلي او ښائسته وي. خو د متل نه مطلب انسانانو ته اشاره ده. مشران وايي چې که نر وي او که ښځه ذات خو په ځوانۍ کښې بدرنګه نۀ وي. خو په خصوصي توګه دا متل د زلمو دپاره زيات استعمالېږي. داسې که څوک د رنګه تور ، يا غنم رنګے وي خو چې ځوان وي نو د ځوانۍ له کبله ښکلے ښکاري. اکثر په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د چا ځوان د وادۀ کوېژدن خبرې اترې روانې وي او که زلمي ته څوک ګوته نيسي او دا اعتراز کوي چې هلک ښکلے نۀ دے. نو د زلمي د غاړې مېرمنې (زنانه) ورته اکثر دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې خورې!

"ځوانان چا بدرنګ کړي دي"

ځه سپين باز ګرځه

د ځنګل په ځناورو کښې چې څنګه ازمرے د باچا حېثيت لري هم داسې په مارغانو کښې باز باچا ګڼلے شي. څنګه چې په ځنګل کښې ازمرے بې خوفه او بې خطره ګرځي. داسې باز هم بې خوفه خپل ژوند تېروي. بلکې ټول مارغان او د ځنګل څۀ واړۀ ځناور هم د باز نه وېرېږي. او ډډه ترېنه کوي. په متل کښې سپين باز ياد شوے دے. هسې خو د سپين مطلب دے په رنګ سپين. خو په پښتو ژبه کښې سپين او تور په نورو معنو کښې هم استعمالېږي. يعنې د سپين مطلب دے صفا ستهره يا بغېر داغه. او د تور مطلب دے داغ. هغه داغ چې هغه د انسان په کردار باندې پورې شي. يعنې په چا باندې څۀ الزام پورې کولو ته تور وئېلے شي. اکثر يې خلق په جملو کښې داسې استعمالوي لکه په ما يې هسې تور پورې کړو ، يا په فلاني يې تور پورې کړے دے.د دې نه مطلب دا شو چې تور الز ام ته وئېلے شي. او سپين صفا بې داغه يا بې الزامه ته وئېلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې څه بې داغه بې الزامه صفا ستهره او لکه د باز بې خوفه او بې خطره ګرځه. او دا مطلب مشرانو داسې په دې يو څو ټکو کښې د متل په توګه مشهور کړو چې: "ځه سپين باز ګرځه".

دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې په چا څۀ تور پورې وي. او هغه سړے د هغه تور يا الزام نه بري شي ، يا چرته د دوؤ کسانو يا د دوؤ ډلو تر مېنځه روغه صفاله وشي او د يو بل الزامونه او تور معاف کړي. او يو بل ته خطره نۀ جوړوي ، يا په يو بل دوسه او بلوسه نۀ وهي او نۀ کوي. نو د معاف کولو اعلان په دې متل کښې کوي او داسې وايي چې: "ځه يار سپين باز ګرځه".

"خ"

څۀ اوبۀ خړې او څۀ مهيان ړاندۀ

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي يعنې ، ی او مطلب يې دا دے چې کښې ګناه او قصور د دواړو غاړو يا د دواړو ډلو دے. يعنې چرته چې شوک بنده څۀ کار کوي او يو خو هغه کس په هغه کار نۀ پوهيږي يعنې استاذ او ماهره نۀ وي او بل ورسره د هغې کار مطابق سامان او اوزار هم نۀ وي ، يا د هغه کار کولو موقع او وخت نۀ وي ، يا هغه کار کران او مشکله وي نو په داسې وخت او موقعې مشران وايي چې څۀ ګرم خو دا کاريګر دے چې په کار سم نۀ پوهيږي او څۀ قصور يا غلطي دا ده چې د کار مطابق سامان او اوزار ورسره هم نشته ، يا د دې کار دا وخت او موقع نۀ وه. نو ځکه دا کار وران يا خراب شو. يعنې قصورواره دواړه ډلې يا دواړه غاړې شوې. دوېم مطلب ترېنه دا دے لکه چې ځنګه په خړو اوبو کښې مهيان ړاندۀ شي. څۀ ورته په نظر نۀ راځي نو بيا بښۀ په اسانه نيولے شي نو داسې کله کله څۀ اداري په خصوصي توګه رياستي اداري داسې خړې شي چې ورکښې مهيان هم ړاندۀ شلوېدے ځلاځ ، لطلی ، ځبن او بډې اخستلو سر شړېو بښارې ناړ ، رسان جوړ شي. د تپوس کولو يا د مخ نيولو يې شوک نۀ وي. بلکې دا کارونه بغېر څۀ وېرې او خوفه بښۀ په ډاډه زړۀ سره کوي. يعنې مطلب دا شو چې کنې يو خوا دا نظام او قانون (اداره ، حکومت يا معاشره) دومره کنده او بدسلوکه ده چې د تپوس کولو پکښې شوک نشته او بل خوا خلق هم داسې په بدو عادت او اموخته دي چې روغه لاره نۀ وينې او نۀ خوښوي. دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے دے.

نن سبا اکثر په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې شوک داسې په څۀ اداره يا محکمه کښې د بډو اخستلو کاروبار بښۀ جاري باري او په جوبن کښې ووينې. نو په داسې وخت د هغۀ د زړۀ د براس نه دا الفاظ جوړ شي چې: "څۀ اوبۀ خړې دي او څۀ مهيان ړاندۀ".

د پـــــــــــر او وړ تمېـــــــــــز يـــــــــــې نشـــــــــــته
ړانـــــــدۀ مهيـــــــان پـــــــه خـــــــر ســـــــبلاب کښـــــــې لاهـــــــو شـــــــونه

څۀ په هغه پسرلي ، چې نۀ دې غوا څړي نۀ سخي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو زميدار په څاروو مرض راغلے وۀ. ډېر څاروي يې مړۀ شول او څۀ يې خړڅ کړل. کور يې داسې صفا شو لکه چې سيلي پرې الوتې وي. يوه ورځ په حجره کښې ګپ شپ ګرم وۀ. يو زميدار پکښې خبره وکړه چې شکر دے سر کال بارانونه زيات وشول او دا کال به بښۀ اباد وي او که خبر وي نو پسرلے به هم بښۀ په جوبن کښې وي. مال ډنګر به په کيا بښۀ مارۀ شي. د دې خبرې په اور ېنو هغه غريب زميدار چې د څاروو نه يې لاس وينځلے وۀ. يو سور اسويلے وکړو او ډېر په افسوس سره يې وئېل چې يار! "څۀ په هغه پسرلي چې نۀ دې غوا څړي نۀ سخي". يعنې مطلب يې دا چې اوس په پسرلي زۀ څۀ وکړم زما خو نۀ غوا شته او نۀ مې سخے کښے شته چې وخړي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې زۀ په هغه کار څۀ وکړم يا زما په داسې کار څۀ چې ماته ترېنه څۀ سوداو کته نۀ وي.

نن سبا دا متل په داسې موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې شوک د څۀ کار يا منصوبو ذکر کوي. يعنې داسې وايي چې دا کارونه به داسې وشي ، يا دا به داسې کېږي يا چرته د حکومت يا د عوامو د بښکړې څۀ بحث مباحثه وي او د کارونو يا منصوبو جوړولو خبرې اترې وي نو که په محفل کښې داسې شوک حاضر وي چې د دې خبرو نه يا د حکومت د منصوبو نه هغۀ ته څۀ فائده نۀ وي نو په داسې وخت هغه سړے دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "څۀ په هغه پسرلي چې نۀ دې غوا څړي نۀ سخي".

د هوښـــــــــــيارۀ خـــــــــــ ، لـــــــــــکې ، ـــــــــــف دے
ورک پســـــــــــرلے شـــــــــــه چـــــــــــې دې نـــــــــــۀ څـــــــــــړي اســـــــــــونه

څۀ د غر پناه او څۀ د ور پناه

دا يو عام متل د معنـ ، ی يې دا ده چې ګڼې که څوک د غر پناه شي او که د ور خو په مطلب کښې دواړه يو شان دي. يعنې مطلب ترېنه مسافري ده. د غر نه مطلب لرې يا د بل وطن مسافري او د ور نه مطلب نزدې او يا په وطن کښې مسافري ده. يعنې چې يو بنده د کور نه مسافر شي نو که منزل يې د ګهنټو وي او که د ورځو خو په جدائۍ او مسافرۍ دواړه يو شان وي. يعنې د مسافرۍ غمونه ، فکرونه ، کرامې او مشکلات په دواړو يو شان تېرېږي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک د کوره مسافر شي يا لرې چرته بل وطن ته لاړ شي. او د کو رخلق ورپسې خفه او غمژن وي ، يا څوک د لرې او د نزدې په مسافرۍ کښې تفريق کوي. نو مشران ورله طبع تسلۍ ورکوي او داسې وايي چې خېر دے مسافري ټوله يو شان وي. که د لرې وي او که د نزدې خو مسافر ، مسافر وي. او په داسې وخت ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "څۀ د غر پناه او څۀ د ور پناه".

څۀ ژرنده ورانه او څۀ دانې لمدې

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے د ژرنده ګړي سره په دې خبره په جنګ وؤ. چې هغۀ ورله اوړۀ خراب کړي وي او ژرنده ګړي غوړه په هغه سړي وراړوله چې ستا دانې لمدې وې. نو ځکه دې اوړۀ خراب شوي دي. دانې به دې اوچې راوړې وې نو اوړۀ به دې سم او ښۀ مېده وو. دوي دواړه په دې جګړه وؤ چې دپاسه پرې يو درېم ګړے سړے راغے. هغۀ ورنه تپوس وکړو چې څۀ چل دے ولې دواړه په شور يئ. دې دواړو ورته خپله خپله قيصه تېره کړه او ورته يې وئېل چې په تا فېصله ده. تۀ انصاف وکړه چې د چا غلطي ده. او څوک ګرم دے. دې درېم ګړي اول ژرنده وکنه او بيا يې د هغه سړي اوړۀ هم وکنل. په زړۀ کښې يې وئېل چې دا دواړه غريبانان دي. او په يو تن/کس بوجهـ وراړول پکار نۀ دي بلکې د دواړو روغه صفاله پکار ده. نو دواړو ته يې مخ راواړو او وئېل يې چې ځوانانو خفه کېږئ مۀ. قصورواره دواړه يئ. څۀ ژرنده ورانه ده او څۀ دانې لمدې دي. داسې د هغوي مسئله حل او فېصله وشوه او د هغه وخت نه دا خبره مشرانو په متل مشهوره کړه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک د چا مېنځ کښې روغه صفاله کوي. نو وايي چې بس ګناه د دواړو ده. او دا متل ورته وړاندې کوي ، يا چې څوک خپله غلطي اومني خو د ځان سره بل هم قصورواره ګڼي. نو د خبرې ختمولو دپاره وايي چې يار څۀ ستا غلطي وه او څۀ زۀ په غلطه ووم. د دې مطلب دپاره ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "څۀ ژرنده ورانه او څۀ دانې لمدې".

لمـــــــدې دانـــــــې ورتـــــــه بهانـــــــه شـــــــي
پـــــــه ژرنـــــــده ګـــــــړي بانـــــــدې راشـــــــي الزامونـــــــه

څۀ سخي سخي کوې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو زميدار غړي سخے بې درکه شوے وؤ. هغه غريب ورپسې دېر در په در وګرځېدو. او په خواؤ شا علاقه کښې يې ورپسې لټون او نغارې هم وکړې خو سخے وؤ چې مېلاؤ نۀ شو. د هغه زميدار په مازغو کښې د سخي ياد او لټون داسې پوخ شوے وؤ چې په هره خبره کښې به يې د سخي ذکر لازمي کولو. که خبره به هر څۀ وه يا کار به هر څۀ وؤ خو د دۀ په ذهن کښې د خپل سخي ياد داسې ځائے نيولے وؤ چې د سخي ذکر به پکښې ارو مرو راتلو. تر دې چې چا به خپلو کښې ګپ شپ لګولو او دا سړے به محفل ته راغے نو وړومبۍ خبره په يې دا وه چې هلکو دا څۀ سخے سخے کوئ. او وايي چې داسې د هغه وخت نه مشرانو ، پوهانو دې خبرې له د متل رنګ ورکړو.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د چا غړي په مازغو کښې د څۀ شي طلب ، ضرورت او حاجت دومره زيات شي چې هر وخت يې يادوي. او يا ورپسې هر وخت ارمانونه کوي. په هر وخت او هر ځائے د هغې شي ذکر کوي. نو داسې غړي

ته خلق وايي چې هلکه! په تا خو هم د هغه سخي والاشان اثر شوے دے ځکه خو دې هر وخت په خ ، له وي چې هلکو! "څۀ سخے سخے کوئ".

څـــــوک چـــــې پـــــه غـــــم کښـــــې ســـــودائي شـــــي
اوري د هـــــر خـــــوا نـــــه د ســـــخي ســـــخي اوازونـــــه

څۀ مړي په پړي کوې

په پړي کولو يا په پړي وهلو نه مطلب دا دے چې چرته څۀ کار وران وي يا څۀ کوږ ووږ وي نو خلق وايي چې هلکه په پړي يې کړه. يعنې نېغ او برابر يې کړه. ګلکار يا مستري چې څۀ ځائے ابادوي نو هغۀ سره هم يو مزے (نرے پړے) وي. چې د دېوال يو او بل سر ته تړلے وي. او دېوال د هغې مزي (پړي) سره نېغ جوړوي يا خېژوي. اکثر زميدار خلق چې ولاړ فصل ويشي نو په هغه موقع هم وئېلے شي چې هلکه په پړي يې کړه ، يا پړے پرې راکاږه. يعنې نېغ او برابر يې اووېشه. بل خوا مقبرو کښې قبرونه چې اکثر کاږۀ واږۀ او په لوړه ژوره کښې جوړ وي. يعنې چرته چې چا ته ځائے مېلاؤ شي هم هلته خپل مړے ښخ کړي. داسې ټول قبرونه بې ترتيبه او ګډ وډ وي. که چرې څوک مقبره په پړي کوي يعنې نېغوي نو دا ډېره مشکله او ناممکنه خبره ده. ځکه چې مقبرې او مړي په پړي نۀ نېغيږي او نۀ يې څوک په پړي کولے شي.

مشرانو د دې مطلب دپاره دا متل مشهور کړے دے. او په داسې حالانو کښې يې استعمالوي چرته چې يو بنده په څۀ داسې کا رکښې لګيا وي چې د هغې سر ته کول مشکله څۀ چې ناممکنه وي ، او هغه بنده په هغه کار خپل وخت او قوت ضائع کوي يا چرته څوک په څۀ کار کښې لګيا وي خو هغه نۀ غواړي چې هغه کار سر ته شي يا ترېنه څۀ فائده اوچته شي. بلکې د هغۀ مطلب او مقصد هسې وخت تېرول بلکې وخت بربادول وي. او د هغه کار خلاصول ، نتېجه يا فائده نۀ غواړي. نو په داسې حالانو کښې داسې خلقو ته لېونے دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "څۀ مړي په پړي کوې".

داســـــــــې بېکـــــــــار کـــــــــوې لګيـــــــــا يـــــــــې
لکـــــه چـــــې مـــــړي څـــــوک پـــــه پـــــړي نېغـــــه وينـــــه

"خ"

خارو د کونټرې تلل کول نو خپل تړې هېر شول

خارو او کونټره دواړه د مارغانو د کورنۍ سره تعلق لري. دا دواړه قسمه مرغۍ ځنکلي هم وي او خلق يې په کورونو کښې ساتي هم. په رنګ جوسه کښې خو دواړه ښې ښکلي مرغۍ دي. خو په کړښدو کښې د کونټرې کړښدۀ ښايسته او ښکلي وي. هسې خو شاعران د ناز قدمونه د زرقې سره تړي او ستايي خو کونټره هم په ناز کښې د جا نه کمه نۀده. يعنې د کونټرې کړښدل هم ډېر ښکلي او د ناز قدمونه وي. مطلب دا شو چې کنې د کونټرې کړښدۀ ډېر ښکلي او زړۀ پورې ، يا زړۀ راښکونکي وي. نو خارو هم غوښتل چې هغه هم لکه د کونټرې په رنګ ښکلي او په ناز قدمونه کېږدي. وايي خارو چې کله د کونټرې نقل يا پېڅې شروع کړي نو خپل تلۀ تړېنه هم هېر شول. ځني خلق په دې متل کښې د کارغۀ او د خارو مثال تړي او ورکوي. په متل کښې که کارغۀ او خارو وي يا که خارو او کونټره ، خو مطلب يې يو دے.او هغه دا چې داسې جرته څوک په څۀ کار روزګار ، په ناسته پاسته يا په خبرو اترو او کرو وړو کښې د جا نقل کوي ، يا د هغۀ په شان کول غواړي يا جرته د اسې يو غريب بنده د خپل حېثيت او مرتبې نه سېوا لکه د خانانو نوابانو کړۀ وړۀ او خوي کوي. نو د داسې بنده نه هم اکثر خپل حېثيت ، مقام او خپل ابی دادا هېر شي. هم د داسې خلقو په حقله مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب تړېنه دا دے چې کنې داسې خبرې ، نقل ، نخرې پېڅې او کارونه کول نۀ دي پکار. ځکه چې په دې عمل باندې د بنيادم خپل عمل ، اخلاق ، کړۀ وړۀ حېثيت او مقام هر څۀ هېرېږي ، بدلېږي او خرابېږي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک داسې د بل جا نقل او پېڅې کوي نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او وايي چې: "خارو د کونټرې تلۀ کول نو خپل تړې هېر شول" يا "کارغۀ د خارو تلۀ کول نو خپل تړې هېر شول". په دې حقله هم د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې داسې وئيلے شي چې: "کوا چلا ہنس کی چال اپنا بھی بھول گیا".

خبرې ډېرې او سر يې دا

دا د مشرانو قول دے چې په امروزه ژوند کښې د متل په توګه هم استعمالېږي. مطلب تړېنه دا دے چې کنې خبرې او قيصې ډېرې دي خو لنډه دا چې دا کار داسې شوے دے ، يا دا خبره داسې شوې ده. يعنې د بيان يا د خبرې کوونکي غرض او مطلب دا وي. چې هغه خبره يا قيصه ختمه کړي. او پس د دې فقرې يا جملې نه هغه د خبرې انجام يا نتيجه بيان کړي او خبره ختمه شي. يعنې په دې جمله باندې خلق د خبرو سلسله ختموي. لکه د مثال په توګه داسې وئيلے شي چې يار! څۀ به دې سر خوګوم. خبرې ډېرې او سر يې دا چې: ډېراني بيا انکار وکړهم د دې مطلب دپاره خلق دا محاوره ، جمله يا فقره په داسې موقع استعمالوي چرته چې خبرې يا جرګې مرکې اوږدې شي او وېنا يا بيان والا بنده غواړي چې خبره ختمه کړي نو هغه په دې فقره خپله خبره يا بيان ختموي او داسې وايي چې: "خبرې ډېرې او سر يې دا".

خپله ژبه هم قلعه دد هم بلا دد

دا د مشرانو قول دے. چې د متل په توګه مشهور دے قلعه معنۍ ده هغه ځائے چې بنيادم ورکښې محفوظه او په امن وي. يعنې د وسېدو هغه ځائے چې پکښې بنيادم د هر قسمه حادثو او مصيبتونو نه ، بلکې د جنګ جګړې په وخت هم په امن کښې وي. د بلا نه مطلب غم خفګان ، مصيبت ، تکليف ، کرامې او شخړې دي. يعنې جرته چې جا ته څۀ تکليف يا مصيبت ورمخ شي نو داسې وايي چې دا څۀ بلا راپېښه شوه ، يا دا څۀ په بلا واوړېدو. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې بنيادم ته خپله ژبه قلعه جوړېدے شي چې ورکښې خپل ژوند په امن او سکون تېروله شي او يا خپله ژبه ورته بلا هم جوړېدے شي چې يې ژوند په غمونو او مصيبتونو سره سر شي.

ځکه مشران وايي چې خپله ژبه په قابو او واک کښې ساتل پکار دي. بې ځايه ، بې فائدې او فضوله بيان ، خبرې اترې او کنځل وېنا کول نهٔ دي پکار. يعنې چې څوک داسې بې واکه يا کاواکه لګيا وي. نو دا خپله ژبه ورته بلاجوړه شي او ژوند يې په کړامو ، مصيبتونو او تکليفونو سره مخ شي. او چې څوک خپله ژبه په واک او قابو کښې ساتي ، سمه روغه او خوږه ژبه استعمالوي نو د هغوي ژوند په سکون او امن کښې وي. د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت دپاره وړاندې کوي. او داسې وايي چې خپله ژبه په واک کښې ساتل پکار دي ځکه چې: "خپله ژبه هم قلعه ده هم بلاده".

خپله ګناه د ولي مېنځ ، د بل ګناه د کلي مېنځ

د ولي مېنځ د وجود هغه جـ ـز يا حصه ده چې پخپله ليدے کټے نهٔ شي. يعنې يو بنيادم خپل ولے پخپله نهٔ شي ليدلے. ځکه چې دا حصه د بنيادم شا ته يعنې د څټ نه لږه ښکنه وي. د ليدو دپاره سترګې پکار وي او سترګې په تندي وي. په څټ کښې نه. نو ځکه يو بنيادم خپله ملايا وولي نهٔ شي ليدلے. بل تورے د کلي مېنځ دے. د کلي مېنځ نه مطلب دا دے چې ګټې د کلي په مېنځ کښې اکثر ډېر خلق راجمع وي. هر وخت پکښې ګڼه ګوڼه وي. او دلته چې کومه خبره مېدان ته شي ، يعنې چې کومه خبره وشي نو د کلي ټول خلق ترېنه خبر شي.

دوېم مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې د کلي مېنځ ښهٔ ښکاره وي او د کلي د هرې غاړې نه ښکاري يا ليدے شي. او د کلي هر بنده ، لوئے وړوکي ته معلوم وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې هر چا ته خپله ګناه يا خپل قصور لکه د ولي د مېنځ په شان نهٔ ښکاري. او د بل ګناه ورته لکه د کلي د مېنځ رنګې ډېره غټه او مشهوره ښکاري ، يا د بل ګناه داسې بيانوي يا څرګندوي چې هر څوک پرې خبر شي ، يا هر چا ته معلومه شي. خبرې ډېرې او سر يې دا چې هر چا ته خپله ګناه نهٔ ښکاري يا خپله ګناه نهٔ ويني او د بل ګناه ورته ښهٔ معلومه وي ، يا ترېنه ښهٔ خبر وي. د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې يې استعمالوي چرته چې څوک په بل تور پورې کوي يا داغ لګوي. نو داسې خلقو ته مشران د نصيحت په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه اول خپل ګرېوان کښې وګوره ، يا اول خپل ګرېوان کښې کنل پکار دي. مطلب دا چې ګټې خپلې ګناه ته هم پام او فکر وکړه ، دا نه چې: "خپله ګناه د ولي مېنځ د بل ګناه د کلي مېنځ".

خپله لاسه ګ ـ له لاسه

د مشرانو يو بل قول او متل دے. وايي چې د بل په لاس مار وژل هم ښهٔ نهٔ دي. د دې دواړو متلونو مطلب تر څهٔ حده پورې يو دے. په دې متل کښې خپل لاس ستاپيلے شوے دے. او په بل کښې پردے لاس. مطلب يې دا دے چې په خپل لاس کار کول ښهٔ ، سم دم او ښکلے وي. خپل اوزار يا سامان که د بل لاس شي نو هم اوزار مات ګ ـ ـډ شي او هم کار وران ويجاړ شي. ځکه وايي چې په خپل لاس کار کول لکه د ګ ـ ـل ښکلے وي داسې خپل سامان يعنې د استعمال څيزونه او اوزار په خپل لاس لکه د ګ ـ ـل ساتلے شي. او چې د بل په لاس شي نو د ګ ـ ـل نه..... جوړ شي. يعنې يو بنده چې څومره په خپل کار او مال خپله خيال ساتي نو بل څوک د چا په کار او مال حال دومره اريان نهٔ وي. که څهٔ کار کوي نو هم شاړ شېر او نيمګړے نيمه خوا. او که څهٔ شے په لاس ورغے نو هم يې پرې زړهٔ ترس نهٔ خوري. لنډه دا چې څوک خپل کار پخپله کوي نو په ښهٔ طريقه او ترتيب سره يې ښهٔ ښکلے او مزېدار کوي يا جوړوي. او چې د بل په لاس شي نو ګنده او خراب شي داسې څهٔ سامان ، اوزار يا څاروے هم خلق پخپله لکه د ګ ـ ـل په پام استعمالوي او په خيال يې ساتي. هم دا مطلب مشران په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې "خپله لاسه ګ ـ ـله لاسه".

چـــــې پـــــه خپـــــل لاس وي ګ ـ ـــــل تـــــرې جـــــوړ شـــــي
د بـــــل پـــــه لاس خـــــاورې ايـــــرې شـــــي ســـــرهٔ لعلونـــــه

خپله لور خور کنمېزنه وي

دا يو عام متل دے. او مطلب يې دا دے چې اکثر خلق د دوستۍ او خپلولۍ دپاره د خپل تېر نه پهر د زلمو وادۀ کوېږدني کوي. که زلمي شو او که د زلمو مور او پلار خو د خپلو کورونو نه ورته هسې د پهر خلق او کورونه درانۀ خوارۀ او جينکې ورته ښکلې او ښائسته ښکاري. د دې يوه وجه خو دا ده چې د خپلو کورونو جينکې چې زلمي يې اکثر د امروزه کار روزګار په جامه کښې يعني د ختو لوتو او د غوجلو په کار کښې سخان پسخان وينې. نو ځکه ورته پودرې او خيچني پيچني ښکاري. او دا ظاهره ده چې د پردې کور جينې ځوک په داسې حال او داسې جامه کښې نشي ليدلے. او که د چا ليدۀ کاتۀ چرته په غم ښادۍ کښې وشي نو ظاهره ده چې په داسې موقعو جينکې بنې صفا سنګار بنې پوره او برابرې وي.

دوېمه وجه يې دا هم کېدے شي چې زمونږ د پښتنو په معاشره کښې اکثر د ترونو تربورانو جنګ جګړې او مسئلې کشالې ډېرې زياتې وي. بلکې اکثر پکښې خبره مرګ ژوبلې ته ورسي او ترېنه د عمرونو پخې دښمنۍ جوړې شي. د دې تېريزو دښمنو او کشالو له کبله زلمي د خپلو کورونو جينکې نۀ خوښوي. او نۀ ورسره وادۀ ته تيار وي. بلکې هغوي ګڼي ورته سل عېبونه او غلطونه په نظر راځي. هم داسې هوښياره، ماهره استاذان او فنکاران، يا ځوک لائق فائق وګړي چې پردو خلقو ته دېر درانۀ خوارۀ استاذان او د قدر عزت وړ وي. خو په خپل تېر يا خپلو خلقو ته هغوي نۀ استاذان او فنکاران وي او نۀ يې هغسې قدر عزت وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. نن سبا اکثر په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو زلمے په خپل تېر کښې د وادۀ کوېږدني نه انکاري شي، يا ځۀ ټال متول کوي او خبره رنځوي، يا د چا استاذ او هنرمند بنده پوهه، هنرمندي او استادي خپل خپلوان مني او نۀ يې قدر عزت کوي. نو په داسې موقع خلق داسې وايي چې دا ځکه انکاري شو يا دا ځکه يې قدر عزت نۀ کوي چې: "خپله لور خور کنمېزنه وي".

ځکـــــــــــــــه د کـــــــــــــــوره بهـــــــــــــــر اوځـــــــــــــــي
د کنمېزنـــــــــــــــو جونـــــــــــــــو ځـــــــــــــــوک کـــــــــــــــوي پوښـــــــــــــــتنه

خدايه په خپل مقام يې کړې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې کله چې د اوړو ژرندې په اوبو چلېدلې نو يو ساده زميدار غړي خپلې دانې ژرندې له وړلې وي. د بده شامته په هغه وخت ژرنده کړے نۀ وۀ. يو بل زميدار ژرنده روانه کړې وه. او خپلې دانې يې پرې اوړۀ کولې. هغه زميدار چې خپلې دانې اوړۀ کړې نو د دې بل زميدار دانې يې ژرندې ته وړاچولې او ورته يې وئېل چې ژرنده کړے به راشي. او که رانغے نو چې سنا دانې خلاصې شي نو بيا ژرنده اودروه. هغه کس خو په خپله مخه لاړو. او زميدار اوړو ته اودربنو. دانې ټولې اوړۀ شوې خو ژرنده کړے رانغلو. دې ساده زميدار ته د ژرندې بندوېلو اودرولو چل او هنر نۀ ورتلو. دې غريب د خپل عقل فکر او وس مطابق دېرې هلې ځلې وکړې خو ژرنده يې بنده نۀ کړے شوه. زړۀ کښې يې کرل رېبل چې اوس به ځۀ کيږي. چې په ذهن کښې يې ځۀ ترکيب رانغلو نو الله پاک ته په دعاګانو سر شو او داسې وئېل چې خدايه پاکه په خپل مقام يې کړې. يعني په خپل ځائے يې اودروې. او داسې وئېلے شي د هغه وخت نه دا فقره يا جمله د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا په داسې وخت او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د چا نه ځۀ کار داسې وران او خراب شي چې د راګرځولو يې بيا ځۀ بنه نۀ ورځي نو داسې بنده ته خلق د طنز او توټې په توګه دا متل وراندې کوي. اکثر مسافرو او مريضانو ته هم په دعاګانو کښې مشران دا متل استعمالوي او داسې وايي چې: "خدايه په خپل مقام يې کړې".

خدائے چې ورکوي نو په انغري کښې يې هم ورکوي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې يوه بوډۍ کونډه ښځه سره د يو ځوي وسېدله. دا بوډۍ ډېره غريبه مسکينه وه. خو ډېره ديندار او ايماندار وه. ځوي له يې هم ښۀ تربيت ورکړے وۀ. د حرامو او غلا غلطي نه يې په ډډه ساتلے وۀ. دې

ځوان به د ځنګل نه لرګي راوړل او په بازار کښې به يې خرڅول. په دې د دواړو ګزران وؤ. ژوند يې په خوشحالۍ ، صبر او شکر تېرولو. وايي چې يوه ورځ دا زلمے ناروغه شو. دوه درې ورځې يې په کټ تېرې کړې. مزدوري يې کولے نۀ شوه. او چې د کور بوڼي ختمه شوه نو لوږې تندې ورباندې راغلې. يوه ورځ دا بوډۍ د انغري په غاړه فکرونو وړې ناسته وه. په زړۀ کښې يې کرل رېبل چې دومره څۀ په لاسو راشي چې دې مريض له يې پاخۀ کړي. بل خوا دا زلمے هم په سوچونو او فکرونو کښې بوخت پروت وؤ. د مور په سلګو د فکر د ټال نه رالړه شو. او چې مور ته يې وکتل نو هغې غريبې په تش انغري کښې په چخچي کرښې راښکلې. ځوي چې د مو رخفګان او بې وسي وليده نو په دغه وخت يې د زړۀ نه دا دعا وخته چې خدايه پاکه خزانه راکړې او هم په دغه انغري کښې يې راکړې. په بله ورځ د ځوان مرض لږ کم شوے وؤ. همت يې وکړو خپل څادر او پړے يې په اوږه کړو او ځنګل ته روان شو. مور ډېر منع کړو خو زلمي چا د مرضۍ نه منع کړي دي. هغه هم د پاؤ اوړو ګټلو په تکل کښې ځنګل ته ورسېدو لته ورته د ونې يو زوړ م ، ونډ مېلاؤ شو. م ، ونډ راويستلو دپاره زلمي زمکه وکنستڅۀ ګوري چې د م ، ونډ په خوا کښې يوه کټوۍ ښخه وه. زلمي چې د کټوۍ نه سر پورته کړو نو هغه د اشرفو (پېسو) نه ډکه وه. يعنې خزانه ورته مېلاؤ شوه. لږه شېبه خو زلمے فکرونو وړے وؤ خو بيا يې په کټوۍ سر کلک کېښودو او خاورې يې پرې ورواړولې. د ځان سره يې وئېل چې خدايه پاکه ما خو په انغري کښې غوښتلې وه که راکوې نو په انغري کښې يې راکړه. او بغېر د کسب نه کور ته راستون شو. مور ترېنه پوښتنه وکړه چې څۀ دې راوړۀ که نه. دې زلمي ورته ټوله قيصه تېره کړه. مور يې ډېره خفه شوه او ورته يې وئېل چې اے کم عقله! هم دغه خدائے درکړې وه او تا ورله لته ورکړه. د ځوان پوخ يقين او عقيده وه چې خدائے پاک به يې هم دلته راکوي. دې زلمي چې کله مور ته دا قيصه کوله نو د دېوال خوا ته يې ګاونډۍ دا ټولې خبرې واورېدې. ماښام چې کله د ګاونډۍ کور والا راغے نو ښځې ورته ټوله قيصه تېره کړه. هغه ګاونډي يې هم په زړۀ کښې ډېر خوشحاله شو. او هم په هغه شپه ځنګل ته لاړو او د بېسيار تلاش نه پس يې اخر هغه ځائے بيا اوموندو. دې سړي چې کله د کټوۍ نه سر راپورته کړو نو په هغې کښې غټه بلا/اژدها پرته وه. زر يې په کټوۍ سر واپس کېښودو. څه شېبه خو وېرې او هېبت اخستے وؤ خو چې کله په ساه صورت شو نو په زړۀ کښې يې دا صلاح وکړه چې دا کټوۍ د ګاونډۍ (بوډۍ) په انغري کښې ښخه کړي او چې سحر د کټوۍ نه سر پورته کوي نو دا مار به يې وخوري يا وچيچي. هم د شپې شپې يې هغه کټوۍ د بوډۍ په انغري کښې ښخه کړه. سحر چې بوډۍ د انغري خوا له راغله نو د انغري خوا ته يې تازه خاوره وليده. او په انغري کښې ورته کټوۍ هم ښکارېدله. بوډۍ د خوشحالۍ او هېبت نه ځوي ته چغې جوړې کړې. ځوي يې هم د هېبت نه رامنډې کړې چې ګڼې په مور مې څۀ چل وشو. زلمي کله مور ته او کله په انغري کښې کټوۍ ته کتل. اخر چې کټوۍ يې راپورته کړه او سر يې ترېنه لر کړو نو هغه د سرو زرو د اشرفو نه ډکه وه. بوډۍ خو د خوشحالۍ نه سيادله شوه او چې کله دواړه په ساه صورت شو نو خزانه يې سنمباله کړه. هغه زلمي وئېل چې مورې! ما درته نۀ وئېل چې خدائے يې ورکوي نو په انغري کښې يې هم ورکوي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. د متل نه علاوه په دې قيصه کښې ډېر لوئے سبق او عبرت دے. يو دا چې په هر قسمه سختو حالاتو کښې صبر پکار دے او د الله پاک شکر ادا کول پکار دي. دوېم دا چې سوال صرف د الله پاک نه او د زړۀ د اخلاصه کول پکار دي. درېم دا چې لکه د زلمي شان پوخ يقين او عقيده ساتل پکار دي. هم د دې مطلبونو دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې څۀ حادثه يا معجزه ووينې ، يا داسې چا ته څۀ فائده او ګټه وراورسي چې د هغه بنيادم په خواب او خيال او ګمان کښې نۀ وي. نو په داسې وخت داسې وئېلے شي چې: "خدائے يې ورکوي نو په انغري کښې يې هم ورکوي" په دې حقله د اردو ژبې يو متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. او هغه داسې وئېلے شي چې: "الله جب ديتا ہے تو چھپر پھاڑ کر ديتا ہے".

خدائے دې لوئے کړه خو لوئي درمۀ کړه

دا د دعا يو کليمه ده. چې مشران يې د متل په توګه هم استعمالوي. د لوئے نه دوه معنې اخذ کيږي. يوه دا چې چا ته دعا وکړي چې لوئے شې نو مطلب يې دا وي چې په عمر لوئے شې. يعنې عمر دې ډېر شه. دوېمه معنې ، ی يې دا ده چې ګڼې مال حال دې ډېر شه ، عهده او مرتبه دې لويه او اوچته شه. او يا په قدر او عزت کښې لوئے او اوچت شې. لکه د مالدار يا د غټ افسر په حقله اکثر خلق داسې وايي چې فلانے ډېر لوئے سړے دے. د دې لويي والي نه د هغۀ مرتبه ، حېثيت ، عهده او مقام مراد وي. بل تورے/ټکے يا لفظ لويي ده دې هم دوه معنې ، ی اخستے شي. يوه خو په قد کاټ کښې لوئے والے يعنې اوږدوالے دے او بله معنې ، ی يې کبر او غرور دے. لکه چرته

چې څوک غړے کبر او غرور کوي نو د هغهٔ په حقله داسې وئېلے شي چې ډېره لويي کوي ، يا دومره لويي مهٔ کوه. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې خدائے درله مال دولت ، مرتبه ، عهده ، حېثيت ، قدر او عزت درکړه خو غرور او تکبر درمهٔ کړه. مشران ، بيا په خصوصي توګه بوډېګانې مېرمنې اکثر دا دعا خپلو خوږمنو ته وربخښي او داسې وايي چې: "خدائے دې لوئے کړه خو لوئي درمهٔ کړه".

خدائے يې کوي خو شولې اوبهٔ غواړي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې يوه ورځ د جمعې په خطبه کښې مولوي صېب مسئلې کولې. په مسئلو کښې يې د الله پاک وحدانيت او قدرت بيانولو. مولوي صېب وئېل چې هر شے د الله پاک په قدرت کښې او د حکم د لاندې دے. الله پاک چې څهٔ غواړي نو هم هغه کيږي. الله پاک چې څهٔ غواړي نو اراده اوفرمايي او هغه کار وشي. خو دا هم د الله پاک جوړ شوے نظام او ترکيب دے چې هر دنياوي کار له يې څهٔ نه څهٔ سبب ګرځولے دے. يو شے يا يو بنيادم يې د بل محتاجه کړے دے. دا د الله پاک سنت دي چې د دنيا نظام په دې ترتيب سره چليږي. لکه مونږ وئېلے شو چې يو بنيادم د هوا ، رڼا او د اوبو نه بغېر ژوندے نهٔ شي پاتې کېدے. نو الله پاک د بنيادم ژوند له دا څيزونه پيدا کړل. هسې خو ډېرې معجزې داسې شوي دي او څهٔ مونږه خپله ليدلي کتلي هم دي چې بغېر د دې اسبابو الله پاک انسانان ژوندي ساتلي دي. خو د انسان ژوند چې د څهٔ سره تړلے دے نو هغه څيزونه ورله الله پاک پيدا کړي دي. او انسان له يې دا علم او عقل فکر ورکړے دے چې د دې کائناتو او د دې دنيا د چلولو دا قاعده او قانون دے چې يو څيز د بل محتاجه يا يو کار د بل کار سبب جوړيږي. او وايي چې مولوي صېب په دې خپل بيان ختم کړه چې بې شکه هر شے د الله پاک په دست قدرت کښې دي. او چې الله پاک څهٔ غواړي نو هغه کيږي. وايي چې په دې جمع کښې يو ساده زميدار سړے هم وهغه غړي په بله ورځ سحر وختي ق ، لبه په مخه کړه او شاړه خوره زمکه يې واړوله. په بله روځ يې د شولو بوزغلے يوړو او په هغه شاړه زمکه يې نال شروع کړو. دپاسه ورباندې يو بل مشر او پوهه زميدار وګړے راغے. د ښهٔ چارې پخېر راغلې نه پس يې ترېنه تپوس وکړو چې څوانه دا څهٔ کړهغهٔ ورله ځواب ورکړو چې ګ ، ل کاکا شولې دي. دې مشر ور ته وئېل چې خانه لېونے شوې يې څهٔ؟ په شاړه او خوره زمکه څوک شولې کړي. دې له به اوبهٔ د کومې راولې. هغه ساده سړي ورته وئېل چې اوبو ته څهٔ ضرورت دے. مولوي صېب وئېل چې هر څهٔ الله پاک کوي. نو زما شولې به هم وشي. هغه مشر ورته وئېل چې بې شکه هر څهٔ الله پاک کوي خو شولې اوبهٔ غواړي. يعنې مطلب يې دا ، چې دا زمونږه عقيده او ايمان دے چې هر څهٔ الله پاک کوي. خو تا له يې هم عقل فکر درکړے دے. او دا يې درته ښودلي دي چې دا کار روزګار به څنګه کيږي او څنګه کولے شي. يعنې د هر کار خپل وخت ، ترکيب ، ترتيب او اسباب وي. او ورسره محنت او خواري هم غواړي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک د محنت ، ترکيب ، ترتيب او د س ، نت لاره پرېږدي. بغېر محنته او بغېر اسبابو څهٔ شے غواړي. نو داسې خلقو ته مشران وايي چې اول خپل محنت دے ، بيا په الله پاک باندې توکل دے. هله به الله درله مېوه او فائده درکوي. دا نه چې تهٔ دنيا قانون ، نظام او د الله پاک س ، نت پرېږدي يا مات کړې ، او په طمع کښې يې چې دا به الله پاک کوي. نو بې شکه الله پاک داسې کولے شي او کړې يې هم دي خو ما او تا ته يې علم ، عقل ، ترکيب او طريقې هم ښودلې دي. هم دا مطلب ورته مشران په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "خدائے يې کوي خو شولې اوبهٔ غواړي".

خراړې د يو ډزه سره لاړې

خراړې د مرغانو د نسل نه يوه وړه شان مرغۍ ده. دا د چرچنې نه لږه شان غټه وي. لکه د مړز غوندې په رنګ خړه وي. دا په صحرا خوشحاله وي ، نهٔ د ابادۍ خوا له راځي او نهٔ د بنيادمو. اکثر په شاړو کښې د بوچړو په وېخ کښې جاله جوړوي او اګۍ بچي ورکښې کوي. د ژمي په موسم کښې کمې کوزې وي. خو د ګرمۍ په موسم کښې د پښتونخوا علاقو ته ډېرې راکوځې شي. زياته په زمکه باندې خوشحاله وي خو کله کله په ټکمه غرمه کښې په هوا کښې دومره بره اوخېژي چې په نظر نهٔ راځي. لکه چې څنګه وړاندې ذکر شوے دے چې خراړه د ابادۍ او د بنيادمو نه ډېره وېرېږي. چرته چې بنيادم ويني نو تښتي. او کله چې څوک ښکاري په څهٔ ښکار باندې ډز وکړي. نو خراړې ټولې والوځي او ښې ووچتې لاړې شي. نهٔ يې بيا اواز اورېدے شي او نهٔ په نظر راځي. د خراړۍ دا وېره او تېښته مشرانو په دې متل کښې مشهوره کړې او ستايېلې ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې ډېره وېره يا ډېر ډرپوک يا ډېر وېرېدونکے مخلوق.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک لکه د خراړې ډېر وېرېږي ، یا داسې ناڅاپه د وېرې نه ټوپ ووهي ، یا د وېرې نه داسې څۀ ځائے ته نۀ ورځي یا د چا په یوه دپکه مېدان پرېږدي او وتښتي. نو داسې بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې: "خراړې د یو ډزا سره لاړې".

خر پلار که او مطلب پرې بار که

د بنیادم په خوي خصلت کښې مینه محبت ، خلوص ایثار او قرباني قدرتي او پېدائشي صفتونه دي. خو د دې سره سره ځنې خلق د حسد او خودغرضۍ نه هم تر مرۍ مرۍ ډک وي. یعنې ځنې خلق ډېر زیات غرضیان وي. داسې خلق د خپل مطلب دپاره په ختمه هم اور لګوي. دا متل هم د داسې خلقو دپاره جوړ شوے او مشهور شوے دے. په متل کښې د خر نه مطلب په رښتیا خر نۀ دے. بلکې دا چا داسې بنده ته اشاره ده څوک چې لکه د خر غوندې کم عقل ، ناپوهه او جاهله وي. که په داسې بنده دې څۀ کار پېښ شو یا دې ورته څۀ حاجت او ضرورت راغے نو هم ورته لکه د پلار شانې په قدر عزت او په درنه سترګه وګوره. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې که چرته لکه د خر غوندې بنیادم ته دې څۀ حاجت او ضرورت پېښ شو نو لکه د پلار په شان ورله قدر او عزت وکړه او خپل ضرورت ، حاجت او مطلب ترېنه سر کړه ، یا تر لاسو کړه. یعنې دا هم د خودغرضۍ ، چاپلوسۍ او خوشامندګرۍ یوه طریقه او ذریعه ده. چې خلق ورباندې خپل کارونه او مطلبونه سر کوي یا وباسي. نن سبا هم چرته چې داسې د چا په بل بنده څۀ کار ، حاجت او یا څۀ ضرورت پېښ شي نو غرضیان ورته دا متل وړاندې کوي. او داسې وایي چې یار! "خر پلار که او مطلب پرې بار که".

خر په کته نۀ درنېږي

په ځناورو کښې د خر په حقله نور هم ډېر متلونه جوړ شوي دي. کته د خر په شا یا په ملا باندې تړلے هغه اسباب ته وئېلے شي. کوم چې د بوجو/ بورو نه او یا د کیندړو نه جوړ وي. دا د خر په ملا ځکه تړلے شي چې د وزن او د بوجهـ له کبله د خر شا یا ملا د خ ، وړېدو او ژوبل کېدو نه بچ وي. هسې خو دا کته درنه وي خو دومره هم نۀ وي چې ګنې خر یې نۀ شي وړلے. او دا د خر خپله حاجت او ضرورت هم وي. که کته نۀ وي نو بیا خر ، خره یا بل باري څاروے لږ سامان هم په اسانه نۀ شي وړلے. ځکه چې بغېر کنې د خر شا لګي ، یعنې زخمي کیږي. او چې کته پرې پرته وي یا تړلې وي نو بیا په منونو بوجهـ هم په اسانه وړلے شي. مطلب دا شو چې که چرته څوک د بوجهـ د درنېدو یا سېوا کېدو له وېرې نه د خر نه کته لرې کوي یا کوزوې چې ګنې بوجهـ به کم شي. نو دا کم عقلتیا ده. ځکه چې د کنې دومره وزن نۀ وي خو خپل خر به خراب او زخمي کړي. بغېر له کنې په ځناور سامان او بوجهـ وړل ظلم دے. په داسې وخت او داسې خلقو ته مشران وایي چې هلکه کته ترېنه مۀ لر کوه ، په کته خر نۀ درنېږي. بل داسې چرته یو بنده د ډېر وزن وړلو طاقت لري او عادت هم وي. او که په څۀ موقع هغه د لږ زیاتي وزن وړلو انکاري شي نو خلق ورته داسې وایي چې یار په دې لږ سامان تۀ نۀ درنېږي. او مشران ورته هم دا مطلب په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وایي چې یار! "خر په کته نۀ درنېږي".

خر په وهلو نۀ اس کیږي

هسې خو خر ډېر عاجزه او بې وسه ځناور دے خو په خوي خصلت کښې ډېر سخت اړیمار او ضدي دے. کله کله چې په ضد راشي نو که بیا یې په وهلو مړ کړې خو هم د خپلې نه نۀ اوړي. یعنې د خوي په نېز اس اصیله او خر کم اصل ځناور ګڼلے او منلے شي. د اس او د خر د دې خوي خصلت په نسبت مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. د متل نه مطلب دا دے چې خر هېڅ کله هم د خپل عادت نه نۀ جار ووځي. که په وهلو یې ښۀ ګوشمال کړې خو لتې وهل ، اړي او ضد کول نۀ پرېږدي. یعنې خر خر وي او اس اس. په وېنا ، زورولو ، وهلو او په چل ول په خر کښې د اس خوي خصلت نۀ راځي او نۀ راتلے شي. دوېم مطلب ترېنه پوهانو دا هم اخذ کړے دے. چې داسې یو بنیادم چې لکه د خر کم عقله او جاهله لوئے شوے وي. په اخلاقو هم لکه د خر بې خرته بې ادبه او بې سره وي. په خوي بوي اړیمار ، ضدي او رزیله وي. یعنې ټول عادتونه یې لکه د خر وي. نو هغه بنده هم نۀ په وېنا وي ، نۀ په نصیحت او نۀ په وهلو

ټکولو په ادب کيږي. او نۀ په سمه او روغه لاره کيږي يا راګرځي. نن هم د داسې بې ادبه او رزيله بنيادم په حقله مشران وايي چې د دۀ مثال خو لکه د خر دے ، يا دا ځۀ خر دے. "خر په وهلو نۀ اس کيږي".

خر د خيد په خوراک ځۀ پوهيږي

په دې متل کښې هم خر د يو ناپوهه او جاهله ځناور په توګه ستايېلے شوے دے. خيد د اوربشو کچه او شنو ډکو ته وئېلے شي. کله چې د اوربشو بوټي يو دوه لښتي دنګ يا اوږدۀ شي نو په دغه وخت دا تک شنۀ او کچه وي. او په دې وخت دا د ځناورو ډېره د خوند او د مزې کيا او خوراکه وي. هر يو ځاروے يې بۀ په شوق سره خوري. او زمېدار يې په خصوصي توګه لنګو (پيو والا) ځاروو ته ورکوي. بل خوا خر او خره يو داسې ځناور دے چې ټوله ورځ وربانديې زمېدار خلق کارونه وکړي او په اخره يې چرته ورشو ته وشړي. بيا هلته په شاړو کښې ځړي او ځان په خپله مروي ، يا ورته زمېدار چرته اوچ نرې او جوار وراچوي. او دا د هغۀ خوراکه وي. لکه څنګه چې سرکنده شوه چې خيد يوه قيمتي او د خوند مزې کيا ده. او زمېدار خلق يې اکثر د پيو والا ځاروو له ورکوي. بل خوا خر دے چې په ورشو او شاړو کښې په دربو ، کبلو او يا په وچه کيا ځان مروي. او په خاورو او ريګونو کښې ارغړي. نو هغۀ ته د خيد د خوند رنګ او مزو ځۀ پته ده. هم داسې چې يو بنده کم عقله او ناپوهه وي. په ځۀ بۀ کار ، بۀ خبره او بۀ خوراک نۀ پوهيږي او نۀ يې لېدلې وي. نو هغۀ ته هم د هغه کارونو يا خوراکونو د خوند او مزو ځۀ پته وي. داسې بنده ته اکثر خلق وايي چې تا دا کارونه يا داسې خوراکونه چرته لېدلې دي. او يا تۀ د دې په مزو او خوندونو ځۀ پوهيږي. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "خر د خيد په خوراک ځۀ پوهيږي".

خر غېرت کړے وؤ نو ترک وهلے وؤ

لکه چې څنګه وروميې متل کښې ذکر شوے دے چې خر دېر ضدي ځناور دے. کله چې اړي او ضد ونيسي نو بيا که يې په وهلو مړ کړي خو هم قدم نۀ پورته کوي. بنيادم يې مخکښې راکاږي او خر په وروستو زور کوي. وئېلے شي چې داسې يو خر په ضد کښې راغلے وؤ او د سړک په مېنځ کښې ولاړ وؤ. نۀ مخکښې تلو او نۀ وروستو. په سړک ځۀ وړې لاړی موټرې تېرې شوې. خو بيا هم خر د ځايه رپ اونۀ وهلو. ناڅاپه وربانديې يو ترک دپاسه راغے. ډرائيور ورته دېرې هارنې (پان پان) وکړلې خو بيا هم خر بۀ په ج ، رت کښې په ځائے ولاړ وؤ. اخر د ترک برېکونو هم کار اونۀ کړو او د خر دپاسه تېر شو. ترک په خپله مخه لاړو او خر په ځائے مړ شو. وايي چې داسې د هغه وخت نه دا متل مشهور شو. مطلب ترېنه دا دے چې داسې شوک بنده لکه د خر بې ځايه او بې موقعې په غېرت ودرېږي نو د هغۀ انجام هم لکه د هغه خر وي. يعنې داسې بنده اکثر زيان او تاوان مومي. په داسې موقع او حالاتو کښې هغه ضدي بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "خر غېرت کړے وؤ نو ترک وهلے وو".

خرې ته ګوره او په صحرا شپې ته ګوره

د اوړي (ګرمۍ) په موسم ، اکثر د هاړ او پشکال په مياشتو کښې زمېدار خلق خپلې خرې او خرونه ورشو ته خوشې کړي. په دې موسم په پټو کښې ځۀ خاص فصلونه نۀ وي. نو دا خره ازاده په هره غاړه ځري او کرځي. او چې د جا ورته ځۀ ضرورت او حاجت نۀ وي نو هغوي يې د شپې هم تپوس پوښتنه نۀ کوي. د خرو دا پوخ عادت دے چې د ورځې به ورشو کښې وخړي خو شپې له به کور ته راځي او يا به د کلي خواوشا لمنو ته راغوندېږي. او د کلي سره خوا کښې ډنډونو ، کندو او يا ډاکو کښې شپه تېروي. که يوه نيمه خره به چرته صحرا پاتې شوه نو هغه په شرمخانو او کيډرانو ماته کړي وه. هم دا وجه ده چې خر ذات د شپې د تيارو نه وېرېږي. او د صحرا نه کلي ته يا

د کلي خواو شا ډاګو ته راتښتي. د خرو د دې عادت او خصلت له کبله مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که خرې په صحرا شپه تېره کړه نو دا به يو ډېره عجيبه او نااشنا خبره يا کار وي ، يا دا به ډېره د بهادرۍ خبره وي.

نن سبا چې چرته څوک داسې څۀ نااشنا کار وکړي چې د هغه بنده نه د هغه کار کولو څۀ طمع او اميد نۀ وي ، يا څوک داسې د څۀ کار کولو دعوی ، لري او يا تکل کوي خو هغه کار د دغې بنده د وس او بس خبره نۀ وي. او خلق دا ګڼي او يا مني ، چې دا کار يا دا خبره دا بنده نۀ شي سر ته کولے. نو په داسې وخت ورته د طنز په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "خرې ته ګوره او په صحرا شپې ته ګوره". په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې يو متل مشهور دے ، وايي چې: "يہ منہ اور مسور کی دال" ، يا "کہاں پدی اور کہاں پدی کا شوربہ".

خړ سپے د ګيدړ ورور وي

د سپو بعضې نسل په شکل او کړۀ وړۀ کښې لکه د ګيدړانو په شان وي. بلکې زۀ به دا ووايم چې ګيدړ هم د سپو د ذاته دے. ځکه چې په خوي بوي رنګ ډنګ او په قد کاټ کښې لکه د سپو غوندې وي. داسې په سپو کښې چې کوم سپے په رنګ خړ وي نو هغه سم لکه د ګيدړ ښکاري. مشرانو د ګيدړ او د خړ سپي دا يو والے په دې متل کښې ستايېلے دے او مطلب يې دا دے چې چرته داسې د يو بنده د بل چا سره خوي خصلت او عادتونه مېلاوېږي. يعنې د دواړو عادتونه او خوي بوي يو شان وي. لکه چرته چې يو بنده داسې څۀ کار وکړي چې هغه کار د بل چا سره يا د بل چا ټبر سره تړلے او مشهور شوے وي. نو دا بنده هم خلق هغه کس يا د هغه ټبر سره تړي او يادوي. لکه د مثال په توګه زمونږ په معاشره کښې دا مشهوره ده چې جولاګان کم عقله او بې وقوفه وي. او داسې چې څوک هم د کم عقلتيا څۀ کار وکړي نو هغه کار کونکے بنده بيا خلق د جولاګانو سره ستايي. يعنې داسې وئېلے شي چې دا هم د جولاګانو د کورنۍ نه دے ، يا دے هم جولا دے ، يا داسې چرته يو بنده په څۀ کار ، څۀ خبره کښې يا په څۀ موقع باندې د چا مرسته او تائيد کوي يا ورسره پره جمبه کوي. نو په داسې موقع وئېلے شي چې دے به يې مرسته ولې نۀ کوي دا دواړه يو شے دے ، يا دا دواړه يو دي ، يا د دواړو عادتونه يو دي ، يا په ورورولۍ او عزيزولۍ کښې دواړه يو دي. او يا د دې دواړو مطلب او مقصد يو دے. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "خړ سپے د ګيدړ ورور وي".

خس کم جهان پاک

خس يعنې خسنے يا خس و خشاک خس معنی ده بې کاره واړۀ واړۀ او نري نري ډکي. خسني او خځله. يعنې هر هغه شے په خس پېژندے او بللے شي چې هغه بېکاره او ناپکاره وي. په هوا کښې يو خوا بل خوا الوځي رالوځي او ځائے ګندکوي. او د جهان نه مطلب دنيا ، کلے ، چم ګاونډ او کور مهلت دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې خس خځله (کچره) چې څومره کمه وي يا نۀ وي نو جهان يعنې کور کلے به دومره صفا او پاک صاف وي. خو دلته مشرانو د متل مطلب دا اخذ کړے دے. چې د خس نه مطلب داسې غړے يا غړي دي څوک چې د خپلو بدعملو او بدو اخلاقو له کبله کور کلے او چم ګاونډ ګنده کوي يا خرابوي. يعنې داسې بدمعاش ، بدعمله ، بدتميزه ، بې شرم او بې حيا بنده چې د هغۀ نه کور کلے تنګ راغلے وي ، يا د هغۀ له کبله کلے او چم ګاونډ بدنامه او پليت وي ، يا د هغۀ د بد عادتونو او کارونو له کبله معاشره بدنامه ، خرابه او پليته شي. نو دا داسې شوه لکه چې (خس) خځلې ټول (جهان) کور کلے ګنده کړے او خراب کړے وي. او کله چې داسې پليت بوټے د کو رکلي ورک شي يا مړ شي نو د کلي تنګ راغلے خلق داسې وايي: ښۀ ده چې ورک شو چې دا جهان ترې پاک شو. هم دا مطلب مشران په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "خس کم جهان پاک".

خس يې مۀ ګڼه په سترګو کښې به دې خار شي

دا هم يوساده او عام متل دے. چې ګڼې که خس ډېر هم يو معمولي او بڅرے شے دے. خو چې په سترګه کښې پرېوځي نو بيا بنيادم ته ډېر تکليف رسوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې هر يو شے که هغه يو خس هم وي. خو کمزورے او معمولي يې مۀ ګڼه. دا خس هم د تکليف او ضرر سبب جوړېدے او ګرځېدے شي. په خصوصي توګه دا متل مشرانو د دښمن په حقله

جوړ کړے او وړاندې کړے دے. او مطلب يې دا دے چې ګټې دښمن که ډېر هم کمزورے وي ، خو کمزورے او معمولي يې مۀ ګڼه يا مۀ حسابوه.

نن سبا په داسې موقعو کښې استعماليږي چرته چې داسې يو بنده په خپل طاقت او قوت يا په خپل مال دولت کبر او غرور کوي. خپل ځان زورور او دښمن کمزورے او معمولي خس ګڼي او حسابوي. نو هغه غړي ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "خس يې مۀ ګڼه په سترګو کښې به دې خار شي".

پـــــــه ســـــــپک نظـــــــر چاتـــــــه مـــــــۀ ګـــــــوره
معمـــــــولي خـــــــس جـــــــوړ شـــــــي د ســـــــترګو تکليفونـــــــه

خلق په موګي يو ځل ټکره خوري

موګي د لرګي هغه ټکړې يا ټوټې ته وئيلے شي کوم چې تر څۀ حده (نيمه يا لږه زياتوړې) په زمکه کښې خښه وي او قريبا ء څۀ لېش دوه حصه يې د زمکې نه بهر وي. موګي خلق د ډېرو مطلبونو دپاره خښوي او استعمالوي. خو زيات او اکثر د څاروو د تړلو دپاره استعماليږي. او په کوم ځائے کښې چې موګي خښخ وي نو هلته بنيادم په احتياط او خيال سره ګرځي. اکثر داسې وشي چې د سړي خيال نۀ وي او هغه په موګي ټکره وخوري. دا ټکره کله نه کله ډېره خطرناکه هم وي. اکثر د سړي پښه زخمي شي. بل خوا اکثر په لارو کوڅو کښې يا چرته بل د تک راتګ ځائے کښې داسې چرته ګڼه يا څۀ بل شے خښخ وي چې د هغې څۀ حصه د زمکې نه پورته وي نو د دې متل په معنـ ی کښې هغه ګڼه يا خخته هم په موګي حساب ده. د دې حساب نه د متل مطلب دا شو چې که چرې يو سړے داسې په موګي يا ګڼه باندې يو ځل ټکره وخوري نو بل ځل په هغه ځائے په احتياط او پام سره تېرېږي. يعنې په هغه ټکره يې عقل سر له راغلے وي. او که بيا هم هغه غړے په تک راتګ کښې څۀ احتياط ونۀ کړي او په هغه ځائے په پام نۀ تېرېږي نو لازمي ده چې دوباره به په هغه شي ټکره خوري. او چې کوم سړي پرې دوباره ټکره اوخوړه نو پوهه شه چې د هغۀ نه زيات بل بېوقوفه او کم عقله نشته. ځکه چې په يو ځل ټکره يې عقل رانغلو.

چرته چې يو سړے د بل چا نه دهوکه وخوري. نو هغۀ له پکار دي چې دوباره خيال ساتي. او که چرې بيا هم هغه بنده هم په هغه طرز دوباره دهوکه شي نو دا داسې شوه لکه چې په موګي يې دوباره ټکره وخوړه. او ظاهره ده چې په دوباره ټکره خوري نو هغه ښۀ بېوقوفه وي. هم د داسې حالانو او د داسې خلقو دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او هم داسې کم عقل او بې وقوفه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه پام کوه! "خلق په موګي يو ځل ټکره خوري".

د مـــــــوګي يـــــــو ټکـــــــره بـــــــس وي
ځکـــــــه پـــــــه پـــــــړي بيـــــــا د مـــــــار ګـــــــمـــــــان راځينـــــــه

خلق لېوني پورې خاندي او لېونے کلي پورې

د لېونو هم څۀ عجيبه غوندې ژوند وي. هسې خو لېوني په ګرمۍ سردۍ او غم ښادۍ نۀ وي. خو بيا هم چې لېونو ته پام وکړو نو هغوي ژاړي هم او خندا هم کوي. يعنې د هغوي په ذهن او زړۀ کښې هم کله خفګان او کله خوشحالي راځي. خو ژړا يې لږه او خندا يې زياته وي. داسې لېوني اکثر ليدے او کټے شي چې په لاره روان وي نو کله د ځان سره لګيا وي. څۀ خبرې ترې کوي او کله خنداګانې. د لېونو دا خنداګانې مشرانو په دې متل کښې د هغه روغو خلقو سره تړلې دي. چې يا خو هغوي ته د خپل ډېر تعليم/علم له کبله عام خلق لېوني ښکاري ، يا هغه خانان ، نوابان او لوئے افسران خلق چې هغوي ته عام غريب خلق لېوني ښکاري. د داسې خلقو عادتونه او طبيعت نۀ د عامو خلقو سره مېلاويږي. او نۀ هغوي غواړي چې د عام غريبو خلقو سره لېن دېن او ناسته پاسته وساتي. ځکه چې هغوي خپل ځان اوچت ، هوښياره او پوهان ګڼي. او نور خلق ورته لېوني ښکاري. يعنې دا دواړه ډلې يو بل ته لېوني وايي او يو بل پورې ټوقې مسخرې جوړوي ، کوي او خاندي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګند کړے او مشهور کړے دے. او په داسې حالانو کښې يې استعمالوي. چرته چې داسې څوک غټ خان يا افسر په غريبو خلقو پسې پچموزې او خنداګانې کوي. نو پوهان ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هن! "خلق لېوني پورې خاندي او لېونے کلي پورې".

خ ، له يې خوري او سترګې شرميږي

دا يو ساده متل دے. او مطلب يې دا دے چې د بنيادم دوه کمزورۍ داسې دي چې د هغې له کبله انسان سپک او بې عزته وي يا ښکاري. هغه کمزورۍ يوه لوږه ده او بل شرم او حيا. لوږه داسې شے دے چې کله په انسان غلبه ومومي نو بيا د سړي د سترګو نه شرم او حيا ختمه شي. او خوراک بيا په داسې بې شرمۍ سره کوي. چې عام خلق يې بې عزتي ګڼي. او داسې غړي ته خلق اوږ سترګے وايي. يعنې د هغۀ سترګې اوږې وي. که خېټه يې مړه وي خو سترګو کښې يې شرم او حيا نۀ وي. نو ځکه يې سترګې نۀ مړيږي. خو که د چا سترګو کښې څۀ لږ ډېر شرم او حيا وي. نو د هغوي سترګې د خوراک په وخت شرميږي. خ ، لې او سترګو دا تړون مشرانو د دې مطلب دپاره مشهور کړے دے يعنې که خ ، له د لوږې نه خوراک غواړي. خو سترګې يې حيا غواړي نو ځکه خ ، له د خوراک نه منع کوي. اکثر په انسان کله کله داسې وخت هم راشي. چې هغه د څۀ شي د خوراک ډېر طلبګار وي او هغه څيز ورته مخې ته پروت هم وي. خو د شرم او حيا نه يې هغسې نۀ شي خوړلے چې څنګه يې زړۀ خوراک غواړي. يعنې د شرم نه په نيمه خېټه خوراک وکړي.

بل مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې که يو غريب بنده د چا دوست په دعوت کښې حاضر يا شريک وي. او دوست ورله په قدر عزت سره ښۀ بندوبست کړي وي. نو په هغه وخت هم هغه غريب سړے د شرم نه خوراک نۀ شي کولے. يعنې په داسې موقعو کښې خ ، له خوراک کوي. خو سترګې شرميږي. هم د داسې موقعو او حالاتو دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے او وړاندې کړے دے او داسې وايي چې: "خ ، له يې خوري او سترګې شرميږي".

خوار کور د دېواله پېژندے شي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې وئيلے شي. چې پخوا په زمانه کښې يو دوه دوستان په سفر وتلي وو. هغوي چې يو ورځ نيمه سفر وکړو نو ستړي شوي هم وو او د خوراک څښاک سامان ورسره هم ختم شوے وؤ. دواړو صلاح وکړه چې چرته ابادي ولټوي. نو دمه به هم وکړي. او د خوراک څښاک څۀ بندوبست هم. دوي په تولند مزل کولو چې څه شېبه پس ورته د ابادۍ نخښې نښانې ښکاره شوې. دوي ډېر خوشحاله شول او هغه ابادۍ غاړې ته يې مخه وکړه. دواړو خبرې ترې کولې. دې يو دوست وئېل چې دوسته زۀ خو ډېر اوږے تږے يم نور صبر رانه نۀ کيږي. خو چې دا وړومبے کور راشي. نو د دوي نه به د خوراک څۀ وغواړو. کله چې دوي په کلي وردننه شول او وړومبے کور يې په نظر شو نو هغې دوېم دوست ورته وئېل چې دوسته د دوي نه د څۀ طمع لرل هسې عبث دي. دوي خو خپله خواران غريبانان دي. څه چې چرته بل شتۀ من کور وګورو. خېر دوي د هغه کلي والو مېلمانۀ شول او هغوي ورله د خپله وسه سره ښۀ مېلمستيا وکړه. او ښۀ په درناوي يې رخصت کړل. په لاره دې وړومبي دوست د دې بل نه پوښتنه وکړه چې دوسته! تاته څنګه پته وه چې هغه وړومبے کور خوار وؤ. هغۀ ورله ځواب ورکړو چې کم عقله! خوار کور د دېواله پېژندے شي. تا د هغه کور دېوالونه نۀ ليدل چې څنګه کنډ کپر ، رېژېدلي او دوړېدلي وو. د دې نه دا معلومه شوه چې د کور مالکان دومره خواران او غريبانان دي چې خپل د ختو دېوالونه هم نۀ شي سمولے. او وئېلے شي چې داسې د هغه وخت نه دا قول د متل په توګه مشهور شو. او مطلب يې دا دے چې ګڼې د يو ټبر مالي حالت او حېثيت د هغوي د کورد حالت نه معلومېدے او پېژندے شي. بلکې مشران وايي چې د يو کس د ناستې پاستې ، خبرو او د کړۀ وړۀ نه د هغۀ د حېثيت ، مرتبې د ژوند ژواک او د مقام پته لګي او معلومېږي. او دا مطلب مشران په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "خوار کور د دېواله پېژندے شي".

لکـــــه چـــــې کـــــور پـــــه دېـــــوال نســـــي
داســـــې بـــــاغ هـــــم وئـــــي د ماليـــــار د ژونـــــد حالونـــــه

خوراک له غوائے يې او کار له سخے يې

دا يو عام متل دے. مطلب يې دا دے چې غوائے کله جوبن ته ورسي نو د سخت کارونو په وجه زميدار خلق غوئي له ښۀ خوراکونه ، لکه ونډه ، ب ،تاوه ، د اوړو پېړي او کله ورسره تېل او غوړي هم ورکوي. چې وجود يې کلک ، تکړه او پهلوان وي. نو بيا ښۀ سخت کار کوي. بل خوا د دوه درې کالو ځوان ته سخے وئېلے شي او سخي له زميدار نۀ هغه شان خوراکونه ورکوي او نۀ ترېنه هغه شان کار اخلي. د سخي والي عمر (ځواني) هغه ښۀ په مزو او مستو کښې تېر کړي. په متل کښې مشرانو د غوئي او د سخي مثال د دې مطلب دپاره ورکړے دے. چې که غوائے ښۀ او ډېر خوراک کوي نو هغسې هغه کار هم ښۀ او سخت کوي. او که چرې سخي له څوک ډېراو ښۀ خوراکونه ورکړي نو بيا هم هغه نه ډېر او سخت کار کوي او نۀ يې کولے شي. دا متل بنيادم ته اشاره ده او مطلب ترېنه دا دے چې ګټې لکه د غوئي ښۀ او ډېر خوراکونه کوې يا غواړې او کار ته دې بيا لکه د سخي څټ مات وي. يعنې د سخي په شان لږ کار کوې.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک لکه د غوئي ښۀ او ډېر خوراک کوي يا غواړي ، او بيا يې کار ته لکه د سخي څټ مات وي. يعنې خوراک ډېر کوي او کار لږ ، نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "خوراک له غوائے يې او کار له سخے ئې".

لکـــــــه غـــــــوائے د خـــــــوراک بـــــــد يـــــــي
د کـــــار پـــــه وخـــــت کښـــــې درنـــــه ســـــخے جـــــوړ شـــــي مئينـــــه

خوراک هله کوه چې نعمت شي ،
او اوبۀ هله څښه چې شربت شي

د دې متل په حقله څۀ هوښياران وائې چې دا د يو حديث شريف مفهوم دے. او د ځنې هوښيارانو دا خيال دے چې دا د چا حکيم وېنا ده. او زمونږ مشرانو د متل په توګه مشهوره کړې ده. مطلب يې دا دے چې ګټې خوراک هله پکار دے. کله چې بنيادم ته د خوراک ضرورت او حاجت وي. يعنې چې بنيادم ښۀ اوږے شي. نو هله خوراک پکار دے. کله چې په لوږه خېټه خوراک وشي نو خوراک مزه او خوند هم ډېر کوي. هضم هم ښۀ شي او چې وجود ته د څۀ ضرورت وي نو هغه هم پوره شي او داسې خوراک زمونږ دپاره نعمت جوړ شي. او چې کله د خوراک ضرورت نۀ وي ، يعنې په مړه خېټه چې يو بنيادم ښۀ ډېر خوراک وکړي يا هر وخت په څۀ نه څۀ شخوند وهي. نو داسې خوراک د وجود د ضرورت نه سېوا شي. او په ځائے د نعمت دا د وجود دپاره زحمت او بوجهـ جوړ شي. هم داسې د اوبو مثال دے. کله چې يو بنيادم تږے وي. نو په هغۀ اوبۀ هم لکه د شربت خوږې لګي. دوېم مطلب ترېنه دا هم دے چې اوبۀ په وخت څښل پکار دي. لکه د يو حديث شريف مفهوم دے چې اوبۀ د ډوډۍ نه مخکښې څښل پکار دي. او که ضرورت او حاجت وي نو د خوراک په مېنځ کښې ، خو د ډوډۍ نه پس سمدستي څښل بالکل نۀ دي پکار. ځکه چې دغه اوبۀ د شربت په ځائے زهر شي. او کومې اوبۀ چې په ضرورت ، مناسب وخت او موقع يعنې د تندې په وخت اوڅښلے شي نو هغه په بنيادم داسې خوږې لګي لکه شربت. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د ضرورت او حاجت په مناسبت سره هر کار کول پکار دي. هم دا مطلب په دې متل کښې مشران څرګندوي او داسې وايي چې: "خوراک هله کوه چې نعمت شي او اوبۀ هله څښه چې شربت شي".

خوښه د مېرمنې که سربې خوري که رېمنې

دا يو عام او ساده متل د معنـ ی او مطلب يې داسې دي چې هر يو سړے په خپل ځائے د خپل کور مالک او واکمن دے. او خپله خوښه او واک اختيار يې په لاس دي. په خپل کور د مالک (مېرمن) خوښه ده. چې څۀ کوي او څۀ خوري. يعنې خپله خوښۀ خپل واک اختيار او په خپلو لاسو د کور روزګار چلول او په خپله مرضۍ د ژوند ورځې شپې تېرول. مطلب دا شو چې هر يو سړے د خپلې مرضۍ مالک دے. خپله يې چې څه خوښه وي نو هغه کوي. او چې څۀ يې خوښ وي نو هغه دې خوري. د خپلې مرضۍ ، خپلواکۍ او

خپل اختيار دا حالت او کېفيت مشرانو د متل په توګه داسې مشهور کړے او وړاندې کړے دے. او مطلب ترڅنه دا دے چې د مېرمنې خپل اختيار او خپله خوښه ده. چې څۀ يې خوښ وي نو هغه دې کوي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک د چا مېلمه شي. او کور به د مېلمه نه د هغۀ د مرضۍ او خوښې تپوس کوي. نو مېلمه ورته دا متل وړاندې کوي يا ځوک په څۀ کار کښې د چا نه څۀ مشوره اخلي يا غواړي او که هغه مشورې والا ورته وايي چې سنا څۀ خوښه وي نو هغه کوه يا خپله خوښه کوه. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "خوښه د مېرمنې که سرې خوري که ربړې".

خوړه ژبه د خزانې ک ، نجي دده

دا د هوښيارانو او پوهانو قول دے. چې د متل په توګه مشهور شوے دے. مطلب يې دا دے چې کټې هر مشکله ، سخت او ګران کار چې په ظاهره مشکله يا ناممکنه ښکاري. نو هغه په خوړه ژبه کولے شي او مطلب تر لاسو کولے شي. د خوړې ژبې نه مطلب خوړې پستې خبرې کول دي. يعنې کله چې د يو بنده په بل چا څۀ کار يا ښکار پېښ شي او هغه کار نۀ کېږي يا يې هغه بنده کول نۀ غواړي. نو په خوړه پسته ژبه يعنې خوړو پستو خبرو او ښۀ اخلاقو د هغه بنده زړۀ نرمولے او هغه کار ته مجبوره کولے شي. او داسې هغه کار پوره کولے او سر ته کولے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې په خوړو پستو خبرو او ښۀ اخلاقو د کاټې نه سخت زړۀ هم نرمېږي او د ګران نه ګران کار ، مسئله او ښخره پرې حل کېدے او هوارېدے شي. او چې ځوک داسې خپل مطلب او مراد تر لاسو کړي نو دا داسې شوه لکه چې خزانه يې تر لاسو کړه. لنډه دا چې ځوک خوړه ژبه استعمالوي يا جلوي نو خزانې به ورته پخپله پرانستے کېږي. يعنې خوړۀ خ ، له د خزانو ک ، نجي شوه. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې "خوړه ژبه د خزانې ک ، نجي ده".

"د"

دا اوږدۀ غنم دي

دا يو عام متل دے معنی او مطلب يې جدا جدا دي. هسې خو نن سبا هم د غنمو رنګ رنګ تخمونه کرلے او رېبلے شي. خو پخوا زمانه کښې د غنمو يو خاص تخم وؤ. چې د هغې بوټے به د نورو غنمو په نېز اوږد او لوئے وؤ. دا غنم به د نورو تخمونو نه څۀ لس شل ورځې وروستو رارسېدل يعنې پخېدل. د دې غنمو سنمبالښت به وروستے او اخري وو. زميدارو په ورته انتظار کولو. که د چا زميدار نه به چا پوښتنه وکړه چې فصل دې سنمبال کړو نو هغوي به ځواب ورکولو چې يار! دا اوږدۀ غنم دي ، لږ صبر او انتظار غواړي. د زميدارو غړو د هغه وخت صبر او انتظار مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې ګڼې په عام او امروزه ژوند کښې هم ډېر داسې کارونه راشي او راځي چې هغې ته يا د هغې دپاره صبر او انتظار کول پکار وي. بې صبري او تادي کول نۀ ده پکار. د هر کار او خبرې خپل يو وخت مقرر وي. او چې هغه وخت پوره شي نو هغه کار يا خبره پخپله سر ته ورسي.

هسې خو صبر او انتظار په هر کار کښې پکار وي. خو چې کوم کار لکه د اوږدو غنمو وخت اخلي ، په خپل وخت او په قلاره سره سر ته کېږي. نو هوښياران وايي چې داسې کارونه په تادۍ ، منډه او بېړه سره نۀ سر ته کېږي. بلکې داسې کار ته ضرور لوئے صبر او اوږد انتظار پکار وي. هم دا مطلب ، يعنې صبر او انتظار کول مشران په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "دا اوږدۀ غنم دي".

دا ټټو دې په سېوري اوتړه

دا د مشرانو يو قول دے. چې د محاورې او د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې يې څۀ داسې جوړېږي چې ګڼې ټټو د نمر نه سېوري ته کړه ، يا په سېوري اوتړه. خو په اصل کښې مشرانو د ټټو مثال د څۀ کار ، مطلب ، مراد ، طمعې او غرض په معنو کښې اخستے او ورکړے دے. او د سېوري مثال يې د طمعې کتي کولو او د زړۀ صبرولو سره تړلے او ورکړے دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې دا کار د کېدو نۀ دے ، يا ستا دا غرض د پوره کېدو نۀ دے. او د دې نه زړۀ صبر کړه. يعنې مطلب دا چې يو بنده د بل چا نه د څۀ خبرې يا د څۀ کار طمع لري ، يا د څۀ بودې او غرض تکل کوي. او هغه کار يا خبره د کولو يا د کېدلو نۀ وي ، يا يې هغه کولے نۀ شي او يا يې کول نۀ غواړي. نو په ځواب کښې ورته داسې وايي چې يار دا کار د کېدو نۀ دے ، يا ستا غرض د پوره کولو نۀ دے. د دې کار يا خبرې نه زړۀ صبر کړه. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "دا ټټو دې په سېوري اوتړه". په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره داسې وئېلے شي چې: "يه بيل منڈے نہيں چڑيگی".

او د محاورې په توګه په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې يو بنده د چا نه خپل څۀ مطلب او غرض تر ګوتو کړي يا کول غواړي. او د دې خبرې اظهار کوي. يعنې دا خبره څرګندول غواړي چې ګڼې ما خو خپل مطلب او غرض سر ته کوو يا زۀ خو ترېنه خپل غرض سر ته کول غواړم. نو هغه دا مطلب په دې محاوره کښې داسې څرګندوي او وايي چې يار! "ما خو خپل ټټو په سېوري کوو" يا "زۀ خو خپل ټټو په سېوري کول غواړم".

دا چا نۀ ده شل کړې

دا د هوښيارانو قول دے چې د متل په توګه هم استعمالېږي. دنيا يعنې مال دولت ، بنيادم ، حسد او حرص دا د يو بل سره تړلي څيزونه دي. بنيادم ازلي او پېدائشي حريص دے. بنيادم چې کله د دنيا ښائست ، زېب و زينت او عېش عشرت ته نظر او پام کوي نو په زړۀ کښې يې د مال دولت حرص لا زياتېږي او دا فکرونه يې په سر وي چې په څه چل هنر مال دولت راجمع کړي. حسد او حرص بنيادم په قلاره نۀ پرېږدي. چې څومره مال زياتېږي نو دومره د بنيادم حرص لا سېوا کېږي مثلا ، که چا سره نولس (يو کم شل) روپۍ وي. نو هغۀ شپه ورځ په دې سوچ او فکر کښې سرګردانه وي چې کله او څنګه به دا شل کړم. او چې کله هغه شل شي نو صبر يې بيا هم نۀ

راځي بلکې حرص يې نور سېوا شي. او د شلو نه دوه شلې ، او په حرص او لالچ کښې ورپسې په بره روان وي. خو پوره بيا هم نۀ شي او اخر يوه ورځ يې پښې اګرې ته شي. او چې څنګه تش لاس دنيا ته راغلے وي ، هم هغه شان تش لاس د منونو خاورو لاندې تورو تيارو ته کوز شي. په دې حقله يو بل قول دے. مشران وايي چې دا خېټه (نفس) به په خاورو مړيږي ، په بل څۀ نۀ. دا مطلب يعنې د بنيادم دا حرص ، طمع او لالچ هوښيارانو په دې قول کښې داسې رانغړلي او څرګنده کړي دي. لکه چې کوزه کښې سمندر بند کړے شي. مطلب يې دا دے چې ګڼې دا دنيا ، يا د دنيا دا حاجتونه او ضرورتونه چا نۀ دي پوره کړي. بنيادم ته د نصيحت دپاره دا قول کافي او شافي دے. او مشران يې هم د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "دا چا نۀ ده شل کړې".

نۀ ده شل شوې نۀ به شل شي فاني دنيا ده نيمه خوا به پاتې شينه

د اختر مياشت شوې — يا د اينځر ګ ل شوې

دا يو عام متل دے. د دنيا ټول قامونه په څۀ نه څۀ موقعو او ورځو باندې خپلې خوشحالۍ نمانځي. زمونږ د مسلمانانو په مذهب او شريعت کښې هم د خوشحالو نمانځلو دوه موقعې (دستورې) يعنې دوه اخترې دي. يو وړوکے اختر (عيدالفطر) او دوېم (عيد الاضحى) يعنې لوئے يا غټ اختر دے. دا اخترې په کال کښې يو ځل راځي نو ځکه ورته خلق په انتظار وي. بلکې راتلو ته يې ډېر لېواله وي. بيا په خصوصي توګه وړوکي اختر ته خلق زيات خوشحاليږي. عيدالفطر د روژې مياشتې پسې وي. يعنې د رمضان مياشت خلق روژې اونيسي او بيا د شوال د مياشتې وړومبے ورځ د وړوکي اختر ورځ وي. او د اختر دغې مياشت (سپوږمۍ) ليدو ته خلق ډېر زيات خوشحاله او لېواله وي. په ليدو او راتلو يې ډېرې ډېرې خوشحالۍ نمانځلے شي. د اختر مياشت ته د خلقو انتظار ، لېواله کېدل او په ليدو او راتلو يې ډېر بې شانه او بې پايانه خوشحالېدل ، مشرانو په دې قول يا متل کښې ستاييلے څرګنده او مشهوره کړي دي.

بل خوا د اينځر د ګ ل په حقله مشران وايي چې دا ګ ل په بوټي کښې د شپې راټوکيږي. او هم د شپې شپې ترې نه د مېوې غوټۍ جوړه شي ، يا مړاوے او ختم شي. نن ورځې پورې ما داسې کس نۀ دے ليدلے چې څوک دا دعوى کوي او يا لري چې ګڼې هغۀ د اينځر ګ ل ليدلے وي. د اينځر د ونې يا بوټي په حقله هم ډېرې قيصۍ مشهورې دي. څوک وايي چې په دې کښې پېريان وسيږي. څوک يې بختور او زبرګ بوټے ګڼي. هر څۀ چې خو په قرا ن کښې هم د دې بوټي ذکر دے. او د حديثو نه هم دا خبره څرګنده شوې ده چې د اينځر مېوه د ډېرو مرضونو دپاره دارو ده. د ګ ل روانه وه نو لکه څنګه چې دا ګ ل چا نۀ دے ليدلے نو دا ځکه دومره قيمتي ، ناوياته او قدردانه ګڼلے شي. ګ ل دا قدروقيمت ، ناوياته توب او نازولېتوب مشرانو په دې متل کښې ستاييلے او مشهور کړے دے. مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې د څۀ شي قدروقيمت دومره ته دے ، يا دا شے دومره قيمتي او ناوياته دے لکه د اينځر ګ ل چې څومره قيمتي او ناوياته ګڼلے او منلے شي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې د چا څوک خوږ دوست يا څوک عزيز په ډېره موده پس مېلاؤ شي. د هغۀ په مېلاوېدو چې کومې خوشحالۍ نمانځلے شي يا څوک د خپلو خوشحالو ، د مينې محبت د جذباتو او احساساتو څرګندونه او څېرنه کوي او خپلې پېرزوګانې چا سره شريکوي او وربخښي نو په داسې موقع دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "د اختر مياشت شوې" يا "اينځر ګ ل شوې" ، يا چرته چې څۀ شے ډېر قيمتي او ناوياته شي او د هغې مېلاوېدل ډېر ګران وي. نو د هغه څيز په حقله خلق داسې وايي چې دا خو داسې شو "لکه د اينځر ګ ل شو". او ځنې خلق وايي چې دا خو داسې شو "لکه د مار پښې" يا داسې شو "لکه د مرغۍ پۍ".

زۀ يې په طمع انتظار ووم
د اينځر ګ ل شو اوس به يې کوم ځائے لټومه
سترګې شوې سپينې ستا په لاره
د اختر مياشت شوې ځکه ورځې دې شمېرمه

دا خو خر بېړۍ ته خېژول دي يا سنډا په سپر خېژول دي

خر له الله تعالی طاقت ورکړے دے خو دې سره يې څۀ عادتونه او علتونه داسې ورکړي دي چې د هغې له کبله ځنې وخت خر خپله هم او ورسره بنيادم هم ډېره په مشکلاتو کښې ګېر شي يو علت يې خو لته وهل دي او بل دا چې خر د اوبو نه ډېر وېرېږي. ډېر کم کوز خر ذات به داسې وي چې هغه به په اوبو ورګډېږي. ګټې تو سره باقاعده کشتي کول غواړي. او بيا هم مقابله اکثر خر اوګټي او بنيادم بائيلي. يعنې خر په اوبو پورې ويستل ډېره ګرانه خبره ده. د اوبو په ځائے په متل کښې د بېړې مثال ورکړے شوے دے. او دا ځکه چې بېړې (کيشتی) هم د اوبو په غاړه ولاړه وي. يو خو بېړۍ ته ختل ګران کار دے او بل چې خر اوبۀ ووينې نو بيا خو لا ډېره مشکله ده. چې خر بېړې ته اوخېژي. د خر يو دا هم ډېر بد او پوخ عادت دے. چې يې څومره مخکښې راکاږې نو دومره هغه په وروستو زور کوي او کله چې اوبۀ ووينې نو بيا خو يو پل هم وړاندې نۀ ږدي. د دې نه دا معلومه شوه چې خر بېړۍ ته خېژول څۀ اسان کار نۀ دے. بلکې ډېر زيات د کړاؤ او ګران کار دے.

لکه چې څنګه خر اوبو ته کوزول او بېړې ته خېژول ګران کار دے. داسې سنډا سپر ته خېژول هم اسانه خبره نۀ ده. سنډا چې په ټولو څاروو کښې پهلوان او دروند څاروے دے. يو خوا سپر ته د ختو لاره ګودره نۀ وي چې سنډا پرې پخپله وخېژي او بل خوا سنډا دومره دروند وي چې په پړو او ناړو کښې هم پورته خېژول ډېره مشکله او ګرانه خبره ده. اول خو که ډېر هم څوک کوشش وکړي. نو مشکله ده چې په زورونو سره سنډا پورته وخېژوي. او که چرې پورته يې وخېژوي هم نو بيا سنډا دومره وزن لري چې سپر به سره د هر څۀ مات کړ لاندې پروت وي. يعنې دا خبره هم دومره ګرانه ده څومره چې خر بېړۍ ته خېژول دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه دا څرګنده شوه چې دا دواړه کارونه او خبرې ډېر ګران کار او مشکله خبره ده.

نن سبا هم په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې چا ته څۀ داسې ګران کار ورپېښ شي. چې د هغې پوره کول يا سر ته کول ډېر ګران وي. نو په داسې وخت مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "دا خو خر بېړې ته خېژول دي" يا "دا خو سنډا په سپر خېژول دي".

لېونے داسې غم په سر شو
لکه بېړۍ ته چې څوک خر ورخېژوينه

دا خو سنډا ته رباب وهل دي

سنډا ته رباب وهل د پښتو محاوره ده چې کله کله د متل په توګه استعمالېږي يعنی او مطلب يې جدا جدا دے. سنډا په ځناورو کښې د ټولو نه پهلوان او تکړه ځناور دے. هسې خو په ځناورو کښې خر زيات بېوقوفه او کم عقل منلے او ګڼلے شي خو سنډا هم په خپل ځائے بېوقوفه او کم عقل منلے شوے دے د دې سره سره ډېر سست او سوړ هم دے. سنډا په کار کولو کښې ډېر په قلاره او په خپل جدا چال ډال سره لګيا وي. که سړے ورته هر څومره چغې وهي ، اوازونه او يا ګوذارونه ورکوي خو د سنډا پرې څۀ پرواه نۀ وي. بلکې هم هغسې په خپل چال او سر کښې روان وي. مشرانو د رباب وهلو يو مطلب خو د دې نعرو ، اوازونو ، وهلو او ټکولو سره ورکړے دے. يعنې سنډا ته که هر څومره اوازونه ورکوي او يا يې وهي او ټکوي خو د هغۀ پرې څۀ پرواه نۀ وي. او دوېم مطلب ترې نه دا اخذ شوے دے. چې سنډا ډېر بېوقوفه او کم عقل ځناور دے. يعنې مازغۀ يې کار نۀ کوي يا په خپل خيال او کار کښې داسې مست وي چې د بل چا څۀ ښودنه او زده کړه ورباندې هېڅ اثر نۀ کوي. مشرانو په متل کښې د رباب مثال ورکړے دے او مطلب يې دا دے چې يو خو سنډا دومره بېوقوفه او کم عقل دے چې هغه د رباب په سر ساز نۀ پوهېږي نو خوند به ترې نه څۀ واخلي. او بل هغه دومره سوړ او سست دے چې ستا په رباب وهلو هېڅ پرواه نۀ لري ، يا هغه په خپل خيال او کار کښې دومره مصروفه او مست دے چې ستا رباب وهل هډو اوري نه. او چې څوک څۀ اوري نه ، نو اثر به پرې څۀ وشي. دا خو د سنډا د رباب معنی او مطلب وؤ. خو په اصل کښې هوښيارانو د سنډا او د رباب دا مثال د انسانانو دپاره اشاره ورکړې ده. او مطلب ترېنه داسې بنيادم دے. چې هغه د چا په وېنا ، زورنې ، خبرو او

نصيحت څۀ پرواه ساتي او نۀ ورباندې څۀ اثر کوي. او په خپل حال يا کار کښې مست وي ، يا په خپل چال ډال کښې خوشحاله وي. دا متل هم د داسې خلقو په حقله استعمالېږي چرته چې څوک داسې د چا په نصيحت ، خبرو ، وېنا او زورنې باندې څۀ پرواه نۀ ساتي. او لکه د سنډا په خپل چال ډال کښې روان وي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "دا خو سنډا ته رباب وهل دي" ، يا "د سنډا په رباب څۀ". په ځنې علاقو کښې د رباب په ځائے سرينده يادېږي او داسې وئېلے شي چې: "د سنډا په سرينده څۀ". په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره يو متل مشهور دے. چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. او هغه داسې وئېلے شي چې:

بهينس کے ا - گے بين بجانا".

څوک چې بې ځايه نصيحت که لکه سنډا ته چې رباب وهلے شينه

د اودو هغه کتې راوړي

قيصه:

دا يو ډېر مشهور متل دے. او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. د دې متل په حقله داسې قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه دوستان وو. دواړو به د څاروو سوداګري (تجارت) کولو. د نورو علاقو نه به يې څاروي راوستل او په خپله علاقه کښې به يې خرڅول. وايي چې يوه ورځ دوي په يوه لرې علاقه کښې دوه مېښې واخستې. يوه د يو او بله د بل شوه. دواړه سره د مېښو واپس کلي ته راروان وو. د څۀ مزل کولو نه پس په لاره د يو کوهي په غاړه دواړو دمه کوله. دې دوران کښې د سترې له کبله د هغه يو دوست سترګې ورغلې. يعنې په خوب اودۀ شو. د رب کارونه ګوره چې هم دې دوران کښې دواړه مېښې لنګې شوې. چې کوم کس ويښ ناست وؤ د هغۀ مېښې کټے (نر بچے) راوړو او د اودۀ هغې کټۍ (ماده بچے) راوړو. دې ويښ کس زر تر زره هغه بچي د يو بل مېښو ته بدل کړل. هغه اودۀ دوست چې يې راويښ شو. نو د حاله خبر شو هغه دوست ته يې د ګيلې په توګه وئېل چې يار زما مېښې کټے راوړو او ستا هغې کټۍ. نو دې دوست ورله ځواب ورکړو چې هؤ يار د اودو هغه کټي راوړي. او داسې د هغه وخت نه دا قول د متل په توګه مشهور شو.

مطلب د متل نه دا دے چې ګنې څوک اودۀ وي او د اودو نه مطلب دے. چې سست او لټ وي يا بې غمه ، بې پرواه او بې فکره وي. يعنې په خپل څۀ کار روزګار کښې غور او فکر نۀ کوي ، يا خپل روزګار ته خيال او پام نۀ کوي يا په خپل مال حال خيال نۀ ساتي نو داسې خلق اکثر په کار روزګار کښې زيان او خساره مومي. او کله چې هغه بنيادم بيا خپله خساره يا خپل قسمت ژاړي نو په داسې حالاتو کښې هغه ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د اودو هغه کټي راوړي".

دا دې لکه شپاړس

پخوا په زمانه کښې زمونږ د پېسې (کرنسۍ) کج او پېمانه (يونټ) پېسه او انه وه. څلور پېسې به يوه انه وه. او شپاړس انې به يوه روپۍ وه. داسې په روپۍ کښې به څلور شپېتۀ پېسې او يا شپاړس انې وې په متل کښې د شپاړس معنـ ، ی او مطلب هم هغه روپۍ ده. د دې متل مطلب د يو بل متل "بې زما نه دې شل نۀ کړه". (مخکښې ذکر شوے دے) سره تړلے دے. يعنې دا دواړه متلونه په يو وخت ، يوه موقع او په يو ځائے استعمالېږي. دا دواړه متلونه په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې دوه کسه يا دوه دوستان د څۀ کار په حقله په بحث مباحثه او په تکرار وي. يو کس بل دوست ته دا تړي (چېلنج) ورکوي چې ګنې دا کار بغېر زما د مدد يا د مرستې نه نۀ شي کولے ، يا به يې پوره نۀ کړې. نو دا مطلب ورته هغه په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "بې زما نه به يې شل نۀ کړې" يا "بې زما نه دې شل نۀ کړه". او که هغه کار کوونکے هم په دې موقع دا ګڼي او مني چې ګنې د دوست نه مرسته او مدد واخلي يا يې په هغه کار کښې شريک کړي نو د هغوي دواړو دا سوال ځواب څۀ په دې طرز او ترتيب سره وي.

مرسته او مدد ورکونکے: بې زما نه به يې شل نۀ کړې

کار کونکے: راواچوه چې شل شي

مدد کونکے: دا دې لکه شپاړس. يا

دا واخله لکه شپاړس

راواچوه چې شل شي نه مطلب دا دے چې ګڼې ستا مدد او مرسته مې پکار ده ، يا ستا مرسته مې قبوله ده. په دې وخت د وېنا سره هغه کار کونکے خپل ښے لاس د مدد کونکي مخې ته اونيسي. بيا مرسته کونکے خپل لاس د هغهٔ په لاس ږدي يا لاس ورکوي. يعنې دا وعده او لوظ ورسره کوي چې ګڼې زهٔ ستا ملګرے او ملاتړ يم. او دا مطلب ورته هغه داسې څرګندوي او وايي چې: "دا واخله لکه شپاړس" يا "دا دې لکه شپاړس". يعنې دا شپاړس انې (پوره روپۍ) واخله چې ستا هغه شل پوره شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې زهٔ ستا ملګرے يم ، يا زما مرسته او ملګرتيا تا سره ده. چې ستا کار او کړامه پوره او سر ته شي. يعنې ښهٔ په کلکه چا سره ملګرتيا ، مدد او د مرستې دپاره لوظ او وعده کول.

د اوړو نه پرې بوڼه زيات شو

دا يو عام متل دے ، مطلب يې دا دے چې کله د اوړو نه ډوډۍ پخولے شي نو د پېړې او د ډوډۍ جوړولو په وخت څهٔ لږ غوندې اوچ اوړهٔ د پېړې سره ګډولے شي چې پېړه او ډوډۍ ترېنه په اسانه جوړه شي. هغې اوچو اوړو ته څوک خوشکه وايي او څوک ورته بوڼه وايي. دا بوڼه د اوړو په نسبت ډېر کم او لږ استعمالېږي. يعنې اوړهٔ زيات او بوڼه کم وي. او که چرې د اوړو نه بوڼه زيات شي نو دا جدا او زياتي زيان شي. هم دغه زياتي زيان مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے او وړاندې کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې د اصل زر نه پرې خرچه زياته شوه.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک څهٔ کار کوي او په هغه کار باندې د خپل قيمت نه زيات رقم او د خپل وخت نه زيات وخت او محنت ولګېږلا يو سړے ښار ته د څهٔ شي د اخستلو دپاره لاړ شي. هغه شے په ښار کښې په سل روپۍ واخلي. خو په تګ راتګ ورپسې کرايه او خرچه دوه سوه روپۍ راشي نو دا داسې شوه چې د اوړو نه پرې بوڼه زيات شو. په دې حقله يو بل متل هم ډېر زيات مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. هغه داسې وئېلے شي چې: "د سېره يې پارسنګ دروند دے".

قيمت له اصل زر ته ګوره
بوڼه د اوړو سره په قدر خوند کوينه

دا زهٔ درته ځناور ښکارم څهٔ ؟

قيصه:

دا متل يو سواليه فقره يا جمله ده. خو دلته دا سوال يا پوښتنه د تپوس او د تائيد په حقله نهٔ ده. بلکې د طنز او مزاح په توګه استعمال شوې ده. د دې متل په حقله يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو خېټه ور (پيټو) بنده يوه ورځ د يو دوست کره مېلمه شو. دوست يې د خوي او عادت نه ښهٔ خبر وؤ. هغه د کور مېرمنې ته خبردارے ورکړو چې ډوډۍ ښې ډېرې پخې کړي. کله چې ډوډۍ تياره شوه او دسترخوان خور شو نو مېلمه يې دسترخوان ته راوبللو. مېلمه چې کله په دسترخوان د ډوډو سترې ته وکتل نو د کوربه نه يې پوښتنه وکړه چې يار دا څو ډوډۍ دي. کوربه ورته ځواب ورکړو چې پوره شل دي. نو هغه مېلمه ورته وئېل چې يار يوه ترې کمه کړه. دا زهٔ درته ځناور ښکارم څهٔ ؟ او وئېلے شي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

دا متل نن سبا هم د طنز او مزاح په توګه هم د دې مطلب دپاره استعمالېږي ، يا چرته داسې څوک په څهٔ کار بېکار کښې د چا نه لکه د ځناورو غوندې کار اخلي يا اخستل غواړي يا ورته لکه د ځناورو غوندې ګوري. نو په داسې موقع او حالاتو کښې هم هغه بنده د ګيلې او شکوې په توګه دا متل استعمالوي او داسې وايي چې يار! "دا زهٔ درته ځناور ښکارم څهٔ ؟".

دا سوے کال به تېر شي ، خو ستا سوے پتون به مې هېر نهٔ شي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې په يوه علاقه کښې قحط راغلے وؤ. څو مياشتې خو خلقو ګزاره وکړه خو چې کله د خوراک څښاک ذخيرې ختمې شوې نو په ټوله علاقه کښې خلق ډېر تنګ او پرېشانه شول. ډېرو د علاقې نه هجرت وکړو او چې د چا وس طاقت کېدو نو ځانله يې د نورو علاقو نه غلې او د خوراک څښاک څيزونه راوړل. خلق د ډېرې تنګسيا له کبله شومان شوې هم وؤ. د يو بل سره

يې مدد او احسان نۀ کولو او نۀ يې کولے شو. بلکې د ځان ځانې حالات جوړ شوي وو. وايي چې په دغه علاقه کښې يو غريب يتيم هلک هم وسېدلو. د هغۀ يوه ترور لره مالداره وه. (څوک د ترور په ځائے خور يادوي) دغه هلک يوه ورځ د لوړې نه ډېر تنک راغلے وؤ. نو د ترور کره لاړو چې وکوري که د خوراک ورته ځۀ مېلاؤ شي. کله چې دا هلک د ترور په کوڅه وردننه شو نو ترور يې ډوډۍ پخولې. ترور يې چې دا هلک وليدو نو په هغې هم ناوخته شو. د هغې ټول تېر هم د ټولې ورځې نار نهور وو او دپاسه ور باندې دا هلک هم ورغے. په دغه وخت د هغې ترور نه نور ځۀ اونۀ شو نو په تلوار يې د تبخې نه کرمه ډوډۍ راکوزه کړه او زر يې د پټون د لانډې کړه. کرمې ډوډۍ يې پټون اوسپړلو. خو بيا يې هم ډوډۍ د پټون لانډې پټه کړه. هغه هلک دا هر ځۀ وليدل او مطلب ته يې ورسېدو. نو ترور ته يې داسې وئېل چې: "دا سوے کال به تېر شي خو ستا سوے پټون به مې هېر نۀ شي". او هم د هغه ځايه راستون شو. دا حالات او خبره چې مشرانو واوربده نو افسوس يې ډېر وکړو خو دا خبره يې دومره خوښه شوه چې د متل په توګه يې مشهوره کړه.

نن سبا يې هم خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې څوک ډېر تنګدسته وي. ګزاره يې نۀ کيږي او که هغه د چا نه د ځۀ مدد او مرستې طمع لري يا د دوستانو او خپلوانو نه قرض پور غواړي ، او هغه مدد يا تقاضه پوره نۀ شي ، يا څوک داسې د چا په کور ورشي او د کور به ورته نيت خراب ، زړۀ تنګ او سترګې په تندي کښې وي نو په داسې وخت هغه مجبوره او حاجتمند بنده اکثر داسې وايي چې خبر زما دا سخت وخت خو به تېر شي خو ستا نيت راته معلوم شو. نو دا مطلب ورته هغه په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي چې: "دا سوے کال به تېر شي خو ستا سوے پټون به مې هېر نۀ شي".

دا سوے کال به مې خدائے تېر کړي
هېر به مې نۀ شي ستا دا سوے زنګونونه

داسې ونه نشته چې باد نۀ وي وهلې ، رپولې او يا خوزولې

دا يو عام متل دے او معنۍ يې دا ده چې کنې باد (هوا) داسې شے دے چې الوځي نو بيا هر ځائے ته رسي او په هر شي باندې يو شان الوځي او لګي. نۀ لوړه ، ژوره او نۀ وړوکے او غټ کوري او وينې. خو کله چې د الله پاک حکم وشي نو بيا په هر شي باندې يعنې که غرونه دي ، سيندونه او که وني بوټي دي په هر ځائے خوريږي او تېريږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې په دې دنيا کښې داسې ځۀ شے نشته چې باد نۀ وي وهلې يا باد پرې نۀ وي تېر شوے. او هم دا مطلب مشرانو د بنيادم د حالاتو سره ترلے دے. يعنې کله چې په يو بنيادم چرته داسې ځۀ حالات يا واقعات راشي چې په هغې کښې نور انسانان هم شامله وي ، يا په نورو بنيادمو مخکښې تېر شوي وي. يعنې داسې بنيادم نشته چې هغه ناروغه شوے نۀ وي يا ورباندې ځۀ غم ، مصيبت ، تکليف ، شخړه او ځۀ کرامه نۀ وي راغلې يا نۀ وي پېښه شوې. مشرانو د بنيادم دا حالات په متل کښې د دنې او د باد سره ترلے او مشهور کړي دي. او داسې غمزېلو او مصيبت وهلو غړو ته د طبع تسلي او د نصيحت دپاره دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې: "داسې ونه نشته چې باد نۀ وي وهلې او رپولې".

د اوښانو غلا په ټيټه ملا نۀ کيږي

د دې متل نه مطلب دا دے چې کنې غل چې غلا کوي نو اکثر د غلا ځائے ته پټ پټ ورځي. کله په ناسته او کله په ټيټه ، هر هغه ترکيب کوي چې ځان پټ وساتي او څوک يې اونۀ وينې. داسې که څوک اوښ پټه وي. نو که هغه ډېر هم ملا ټيټه کړي او ځان پټ وساتي. خو اوښ به ځنګه پټه وي يا پټ ساتي. اوښ چې خومره غټ او دنګ لوړ ځناور دے نو هغه پټ ساتل ، يا په ټيټه بوتلل (ناممکنه) يعنې د نۀ کېدو کار دے. په دې لړ کښې بله يوه محاوره هم مشهوره ده چې "اوښ په بډه وهل" يعنې نۀ اوښ به بډه وهلے شي او نۀ په ټيټه ملا بوتلے شي. مطلب دا شو چې نۀ اوښ په ټيټه ملا مزل او تولند کولے شي او نۀ د اوښ غل په ټيټه پټ پاتې کېدے شي. بلکې غلا به يې پيازيږي. او که څوک داسې کار کوي ، يا کول غواړي نو مشران وايي چې د هغۀ نه بل غټ بېوقوفه او کم عقله نۀ وټېلا چرته چې څوک داسې ځۀ غټ کار په پټه کوي يا يې پټول غواړي. کوم چې لکه د اوښ په شان پټ نۀ شي پاتې کېدے ، يا څوک داسې ځۀ کار کول غواړي چې هغه ډېر زيات کران او يا د نۀ کېدو وي ، يا په هغه کار د چا غلا پيازيږي ، يا په هغه کار د چا پرده ماتيږي. نو مشران

وايي چې دا هم داسې شوه لکه چې د اوښانو غلا په تېته ملا کوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د اوښانو غلا په تېته ملا نۀ کيږي".

يـــــــاد پـــــــه کـــــــم عقلـــــــو لېوند ـــــــو شـــــــي
څـــــوک چـــــې پـــــه تېتـــــه مـــــلاد اوښ غـــــلاپســـــې ځينـــــه

د اوښ په شا سپو وخورو

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د کوچيانو کډې روانې وې. بل وطن ته يې سفر کولو. کوچيان اکثر د کور ټوله کډه کوډه د ځان سره کړځوي. او چې د يو ځائے نه بل ځائے ته ځي نو ټولې کډې په اوښانو بار کړي. او د شپې منزلې کوي. دوي د څوکې دپاره سپې هم ساتي. او چې کله منزلې او سفرې اوړدې وي نو سپې هم لکه د جرګانو د نورو کډو سره په اوښانو سوارۀ کړي. د کوچيانو هغه قافله کښې هم يو څو سپې په اوښانو سوارۀ وو. په لاره دې قافلې سره يو ملکے غړے ملګرے شو. دې غړي هم په هغه مخه سفر کولو. د اوړد سفر کولو له کبله دا سړے دېر سترے شوے وۀ. هغه کوچيانو ته يې خواست وکړو چې زۀ خو دېر سترے شوے يم. که لږه دمه مو په اوښ راکړه نو مننه به وي. دې کوچيانو ورله اجازت ورکړو او په روانه کښې يې يو اوښ ته ور پورته کړو. د کوچيانو نه هېر شوې وۀ چې په هغه اوښ باندې د دوي سپې هم سوارۀ وو. کله چې دا کس اوښ ته وراوختو نو يو سپې ورباندې حمله وکړه. د دې سړي په شور زور سره کوچيانو په سپې اوازونه وکړل او هغه سړے يې ترښه خلاص کړو. خو تر هغې يې دا کار شوے وۀ. دا سړے څو ځايه سپو چيچلے وۀ. دې سړي د اوښ نه ښکته راټوپ کړو. دېر په افسوس سره يې وئېل چې هائے زما خواره قسمته! د اوښ په شا سپو وخورو. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې جا ته داسې ناڅاپي او ناګهانه څۀ مصيبت ، غم يا څۀ حادثه ورپېښه شي يا ورته په لږه يا په نۀ څۀ خبره کښې زيات زيان او نقصان ورسي. نو په هغه وخت هغه غم زېلے دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې هائے زما خواره قسمته! "د اوښ په شا سپو اوخورو".

څـــــوک پـــــه قســـــمت چـــــې پـــــاتې راشـــــي
د اوښ پـــــه شـــــا کښـــــې ورتـــــه ســـــپي پـــــټ شـــــوي وينـــــه

د اوښ په غلبيل څۀ

دا يو عام متل دے او مطلب ترښه په دوه قسمه اخستے شي. يو دا چې کنې اوښ دېر لوئے او غټ څناور دے او په وزن وړولو کښې ښۀ پهلوان دے. د اوښ په حقله دا خبره مشهوره ده. وايي چې په اوښ که هر څومره وزن بار شي او هغه يو ځل د وزن سره پاڅېدو نو بيا يې وړلے شي. د متل نه يو مطلب دا اخستے شي چې کنې اوښ چې ښۀ دروند وزن وړے شي. نو که په هغه وزن کښې څۀ غلبيل نيم وزن يا بوجهړ زيات شي نو هم په اوښ څۀ فرق نۀ پرېوځي. او په غلبيل وزن سره اوښ نۀ درنيږي.

دويم مطلب ترښه دا اخذ شوے دے. لکه څنګه چې دا خبره معلومه ده چې اوښ لوئے او غټ څناور دے نو داسې هغه خوراک هم زيات کوي. اوښ لکه د نورو څاروو/څناورو خوراک ښۀ نۀ غواړي خو دېر غواړي. دلته د متل نه مطلب دا شو چې کنې اوښ دومره زيات خوراک غواړي. نو د هغۀ په يو غلبيل خوراک باندې ژامه هم نۀ ګرمېږي. يعنې په غلبيل (لږ شان) خوراک باندې د هغۀ هېڅ نۀ کيږي. دا متل مشرانو هم د دې مطلبونو دپاره مشهور کړے او وړاندې کړے دے. او کله چې داسې حالات چرته په انسانانو راشي چې دا دواړه مطلبه ترښه اخذ کيږي نو په هغه وخت دا متل وړاندې کيږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې لکه د اوښ خټه ور وي او دېر خوراک کوي يا غواړي. نو په هغه وخت د هغه غړي په حقله خلق داسې وايي چې دے خو لکه د اوښ داسې خټه ور دے ، يا داسې زيات خوراکي دے چې په لږ خوراک يې ژامه نۀ ګرمېږي. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د اوښ په غلبيل څۀ".

د اوښ غږغږے عادت وي

قيصه:

اوښ چې کله نه کله خرتم راوباسي. کله هسې په شخوند وهلو او کله د غصې نفو دې سره په يو خاص س ، ر او طرز کښې اوازونه هم کوي. دې اواز ته ېرار ، غرار ، غږېدۀ او غږغږے وئېلے شي. اکثر اوښان د جۀ کولو او پاڅولو په وخت هم غږغږے کوي. وايي چې داسې يوه ورځ يو اوښ د پاڅېدو په وخت ډېرې غږغږې کولې لکه چې فرياد يې کولو. يو زمېدار هغه ساربان (اوښ والا) ته وئېل چې يا ظالمه! دومره غټ بار دې ورله ترلے دے چې اوس فريادونه کوي او د پاڅېدو نۀ دے. دا بوج ورله لږ کم کړه چې پاڅي. هغه ساربان ورته وئېل چې کاکا دا وزن دومره نۀ دے ، خو د اوښ هسې غږغږے عادت وي. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې کټې هسې اوچ په مچه او بې بڼې بې بدې هر وخت فريادونه کول او ژړا کول.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي. جرتله چې څوک فريادي بنده وي. چې هر وخت ژړا فرياد کوي. که ځۀ غم مصيبت وي او که نه. خو هغه د خپل بخت نه ګيله مند وي. په هر کار او هره خبره کښې خپل قسمت رامخکښې کوي. او د خوار قسمت ژړا ژاړي يا ستايي. نو په داسې موقع د داسې عادي او فريادي بنده په حقله مشران داسې وايي چې: "د اوښ غږغږے عادت وي".

د اغېرلي په يو ډرکي هم ګزاره کيږي

دا يو عام متل دے او د اغېرلي معن ، ى ده پرسېدلے. يعني د جا بنيادم يا د ځناور چې باد بند شي او خپته يې اوپرسيږي نو هغه بنيادم يا هغه ځاروي ته اغېرلے وئېلے شي. په ګياکانو کښې ځني داسې ګياکاني هم دي چې د هغې په خوراک ځاروي پرسيږي. داسې زمونږ په خوراکونو کښې هم ډېر داسې بادي خيزونه دي چې په خور اک يې بنيادم پرسيږي او ترېنه تکليف او مرضونه راولاړيږي. او که داسې څوک پرسېدلے (اغېرلے) بنده يا ځاروے وي چې په دغه حالت کښې تنګ او مصيبت کښې وي. نو که په داسې وخت هغه يو ډرکے هم وکړي نود خپتې نه ځۀ نه ځۀ هوا خارجه شي او د مريض پرې ځۀ ډېره ګزاره وشي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې جرتله داسې څوک بنده په ځۀ مصيبت ، خفګان ، مرض او په کشالو کښې کېر وي. او څوک د هغۀ سره ځۀ لږ غوندې مدد او مرسته وکړي چې د هغۀ پرې لږې لمدې شي. يعني د هغۀ تکليف ، مرض او کشالې يا مشکلات ځۀ لږ ډېر کم شي ، يا هغۀ ته ځۀ لږ ډېر سکون او ارام مېلاؤ شي نو په داسې وخت د هغه بنده او د هغۀ لږ شان مدد په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د اغېرلي په يو ډرکي هم ګزاره کيږي".

د اکبر باچا لتان دي

قيصه:

د غټو خلقو غټې خبرې ، غټې او عجيبه مشغولا ګانې وي. وايي چې پخوانو باچايانو به هم غټ او عجيبه عجيبه شوقونه لرل او ساتله هندوستان چې کله د مغ ، لو حکومت وؤ نو په دوي کښې يو اکبر باچا هم تېر شوے دے. د دۀ ډېره لويه او مشوره باچائي وه. دے هم ډېر شوقين مزاجه او عياش وؤ. چې ځۀ شوق به يې په زړۀ راغے نو هغه به يې پوره کولو. وايي چې د نورو ډېرو فضوله شوقونو سره يې يو شوق دا هم وؤ چې په ملک کښې ځومره لتان خلق وؤ. نو هغوي يې په خپل دربار کښې راجمع کړي وو. دوي به ښۀ بې غمه پراتۀ وو ، او تياره به ورته مېلاوېدله. وايي چې دوي دومره ناراسته او لتان وو چې نوري به يې هم په خ ، لۀ کښې غوښتله. د دوي دغه سستي ، بې حسي او ناراستي مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه او نن يې هم خلق د مثال په توګه ستايي او په طنز ، مزاح او ټوقو کښې وربانديې خپل خوندونه خوندي کوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک ډېر زيات لټ او ناراسته وي ، يا د چا نه داسې د ناراستۍ ځۀ کار وشي يا ځۀ داسې خبره وکړي چې سستي او ناراستي ترېنه څرګندېږي يا ترېنه مطلب وي. نو په داسې وخت هغه ناراسته لتانو ته خلق داسې وايي چې: "دا هم د اکبر باچا لتان دي".

د ناراستۍ پولـــــــــه شـــــــــوه ماتـــــــــه
نـــــن د اکبـــــر باچـــــا لټـــــان را پـــــه يـــــاد شـــــونه

دا ګز او دا مېدان

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دروغژن بنده وؤ چې ډېر دروغ به يې وئېل. په هر محفل کښې او مجلس کښې به يې ګپ ګرم کړے وؤ. په دروغو به يې خپلې غټې لاپې او قيصې بيانولې. د پسرلي موسم وؤ او په کلي کښې د پسرلي لوبې شروع وې. چرته د کبډو او پرزولو لوبې وې او چرته به ځوانانو د ټوپونو وهلو مقابلې کولې. يوه ورځ په حجره کښې ځوانانو ګپ ګرم کړے وؤ. يو پکښې وئېل چې ياره نن خو هغه فلاني ډېر اوږد ټوپ ووهلو. دا دروغژن بنده هم په مجلس کښې ناست وؤ. اخر د دۀ نه هم صبر اونۀ شو. غاړه يې تازه کړه. او وئېل يې چې پرېږدئ مړو ، دا به څۀ ټوپونه وي. ټوپونه خو مونږه په هندوستان کښې وهلي وو. چې خلقو يې تماشې کولې. په هغه مقابله کښې ما شل ګزه ټوپ وهلے وؤ. په دې مجلس کښې يو بل مشر سړے هم ناست وؤ. په هغۀ دا خبره ډېره بده ولګېده. نو دې دروغژن له يې ټک ورکړو چې هلکه بچ پکښې وايه ، لږ په اندازه چلېږه. ګټې اوس به دې پته ولګي رامېدان ته شه. دا ګز او دا مېدان. په دې ټوکلو هغه دروغژن ډېر ملامته شو. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا دا متل هم د داسې بنيادم په حقله استعمالېږي. چرته چې څوک لاپې او غټې پټې وايي ، يا په هر ځائے او هر وخت يې د ځانه سخي ارسلا خان يا چمني خان جوړ کړے وي. نو په داسې وخت هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې غلے کښېنه مړه ، ګټې اوس به دې پته ولګي ، رامېدان ته شه! "دا ګز او دا مېدان".

څـــــوک چـــــې د ځانـــــه اوچـــــت دانګـــــي
هوښـــــياران ګـــــز ورتـــــه مېـــــدان کښـــــې ګرځوينـــــه

د املوکو په تول کښې راغلے يې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړي تور املوک واخستل. په لاره روان وؤ او املوک يې خوړل. د دې بنده په روانه کښې لاس ته پام نۀ وؤ. بس د جېب يې يو څو داني املوک راويستل او خـ ـ لې ته يې کړل. سړي چې کله په املوکو خـ ـ له وهل شروع کړه. نو د املوکو نه څۀ عجيبه غوندې چين پين شان اوازونه وختل. د خـ ـ لې خوند يې هم څۀ بل شاني شوۀ زر د خـ ـ لې نه هغه املوک رابهر کړل او چې يې وکتل نو په املوکو کښې يو تورونګټ هم د املوکو سره چک چـ ـ ک شوے وؤ. په تلوار يې بيا خـ ـ لې ته ور واچوؤ او وئېل يې چې ، که چين کوې او که پين کوې اوس خو د املوکو په تول کښې راغلے يې او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې يو کس بل چا ته په څۀ کار کښې يا د څۀ مجبورۍ له کبله ګېر شي نو بيا ترېنه هغه ښۀ کار اخلي يا وباسي او وايي چې د املوکو په تول کښې راغلے يې ، يا داسې يوه خبره يا يو کار چې هغه د بل کار يا بلې خبرې سره تړلے وي. او سړے ورته د مجبورۍ نه غاړه ږدي. نو په داسې وخت هم دا متل وړاندې کيږي. او داسې وئېلے شي چې اوس څۀ کېدے شي! "د املوکو تول کښې راغلي يـ ـ و".

چـــــې د املوکـــــو تـــــول کښـــــې واخلـــــي
بيـــــا دې هغـــــه تـــــه د چـــــا پـــــلار ټنـــــګ شـــــي مئينـــــه

دانګلي نۀ دانګلي

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به خلقو دارو درمل د حکيمانو نه کول. حکيمانو به د علاج شروع کولو نه مخکښې مريض له جار ورکولو. جار لپاره به حکيم مريض له د خښتې د صفا کولو دارو ورکړۀ. چې د هغې سره به خښته ښۀ صفا شوه. د خښتې نه به هر ګند بلا او جراثيم ختم شول. د هغې نه پس به يې بيا د نورو مرضونو علاج شروع کړو. په جار کښې د مريض دپاره دپر پرهېز وؤ. يعنې چې چا به جار وکړو نو په هغۀ باندې به وزن اوختول ، وړول ، منډه او توپونه وهل سخت منع وو. د دې پرهېز دپاره به حکيم مريض ته ښۀ په سختې سره وېنا کوله. وايي چې يوه ورځ يو سړي د حکيم نه د جار دارو واخستل. حکيم هغه د پرهېز په حقله ښۀ پوهه کړو. تر دې يې ورته وئېل چې د لختې نه به هم توپ نۀ وهې. د جار نه پس يوه ورځ دا سړے بهر پتو ته وتلے وؤ. په لاره ورله يو لختے مخې له راغے. دې سړي چې کله د لختې نه ودانکل نو د حکيم صېب هغه خبره ورته رايياده شوه. زر يې بيا واپس راودانکل او د ځانه سره يې وئېل چې دانکلي نه دانکلي. کله چې دا خبره حکيم صېب ته او بيا نورو مشرانو ته څرکنده شوه نو هغوي دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه. او نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې شوک داسې څۀ کار ، يا خبره و کړي چې وروستو پرې پښېمانه او ملامته وي. او خپله خبره واپس اخستل غواړي ، يا خپله پښېماني څرکندوي. نو دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "دانکلي نه دانکلي".

د بارانه پټېدو د پرنالې لاندې مو شپه شوه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے بل وطن ته په سفر تلے وؤ. کله چې واپس راتلو نو په مېړو او ځنګلو پېدل راروان وؤ. دۀ چې څۀ مزل وکړو. نو دپاسه وربانديې باران شروع شو. يو خوا طوفاني باران وؤ. او بل خوا وربانديې شپه هم راروانه وه. دۀ دپر په تندۍ سره سفر کولو چې شپه چرته ابادۍ ته ورسوي. اخر هغه وشو چې د څۀ يې په زړۀ کښې بره وه. يعنې شپه يې په سر راغله او د ابادۍ چرته نخښې نښانې نۀ ښکاربدې. خو دې غړي خپل سفر جاري وساتلو. او په شومه دم د يو کلي خوا ته ورسېدو. د ژړۍ شپه وه. کلے ټول خاموشه پروت وؤ. دې سړي دوه درې کورونو ته اوازونه ورکړۀ. خو نۀ چا د دۀ غږ اورېدو او نۀ ورله څوک راوتل. اخر چې سترے او ناکامه شو نو د يو کور د بلې لاندې اودرېدو. چې څۀ نه څۀ خو به د بارانه بچ شي. د بده مرغه دے چې کوم خائے ولاړ وؤ. هم په هغه خائے د کوټې پرنالې سازه وه. کله چې باران تېز شو او د کوټې ټولې اوبۀ په پرنالې راماتې شوې نو نېغې د دې سړي په سر راغلې چې په هغه وخت د هغۀ د خ ، لې نه دېر په افسوس سره دا خبره وخته چې هائې خواره قسمته! د بارانه پټېدو نو د پرنالې لاندې مو شپه شوکله چې بيا هغه سړي خپله قيصه بيان کړه نو مشرانو د هغۀ د خ ، لې دا وېنا په متل مشهوره کړه. او مطلب ترېنه دا دے چې کټې د يو مصيبت نه مو تېښته کوله او د هغې نه په غټه بلا واوړېدو.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو بنده د يو غم نه ژاړي او تېښته کوي خو د هغې نه په بل غټ غم او مصيبت واوړي. نو بيا خپل بخت داسې ژاړي او وايي چې: "د بارانه پټېدو د پرنالې لاندې مو شپه شوه".

څـــــــوک چـــــــې د پښـــــــې تېښـــــــته کانـــــــدي
قســـــــمت يـــــــې نېـــــــغ د پرنـــــــالې لانـــــــدې لـــــــه وريـــــــنه

د باز د جالې نه د باز بچي الوځي

دا يو ساده او عام متل دے چې معنې يې دا ده چې کټې د باز بچے هم لکه د باز باتور وي. چې د باز د جالې نه والوځي نو هغه به د باز بچے وي او ضروري ده چې لکه د پلار به باتور او مرنے وي. د دې معنې تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې د يو شي نسل او نسب چې څنګه وي. نو هغه شے يا هغه ځيز به هم هغه شان وي. يعنې ګيدړ به ازمرے نۀ شي او د تېوس بچے به چرته باز جوړ نۀ شي. د تېوس بچے تېوس وي که هغه هر څومره کوشش وکړي خو د باز خوي بوئي ، باتوري او مرانه به ورکښې رانۀ شي. او د باز بچے به باز وي. ځکه چې د هغه ته د باز ټول خوبونه او عادتونه په ورثه کښې د نسب او نسل نه راغلے وي. مشرانو په دې متل کښې د باز باتوري او مرانه ستائيلې ده. او د دې مثال يې د بنيادمو سره ورکړے دے. يعنې دا متل د دې مطلب دپاره د بنيادمو په حقله هم استعمالېږي. چرته چې داسې څۀ حالات جوړ شي چې په محفل کښې د چا د نسل او نسب په حقله يا د چا د کارنامو ، مرانې او باتورۍ په حقله څوک بحث مباحثه کوي نو د هغه بنده په صفت او تعريف کښې داسې وئېلے شي چې دوي پلار په نيکۀ نران ، سخيان ، باتوره او ننګيالي خلق دي. او

چې ځنګه هغوي نران وؤ. هم هغسې يې دا ځوان ننګيالے دے. او دا صفت او ستائېنه ورله مشران په دې متل کښې ځرګندوي او داسې وايي چې: "د باز د جالې نه د باز بچي الوځي".

د اصـــــيل نســـــب بشـــــکاره پـــــه خپـــــل اوصـــــاف شـــــي
د شـــــاهين نـــــه شـــــي کـــــو نترو کښـــــې پـــــرواز
د بـــــاز جـــــالې نـــــه د بـــــاز بچـــــے الـــــوت کـــــه
د تپـــــوس بچـــــے بـــــه نـــــهٔ شـــــي چرتـــــه بـــــاز

د برېتو نه يې وينې ځاځي

دا يو ساده فقره يا جمله ده. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. د برېتو نه وينې ځڅېدل په حقيقت کښې د ازمرو او شرمخانو صفت دے. يعنې دا مخلوق دومره غضبناک ، غصه ناک او خونيان وي چې هر وخت د مرګ ژوبلې په تکل کښې وي. او چرته چې ورله د ځنګل نور مخلوق په لاس راشي. نو خپل قهر ، غضب ، غصه او تنده پرې سره کړي. کله چې دوي ځهٔ ښکار وکړي نو داسې يې په غاښونو راکاړي او وشلوي. چې په غوښو او وينو يې ځ ، له سره شي. او وينې يې بيا د برېتو نه ځاځي. مشرانو په دې متل کښې د ازمرو دا صفت يعنې غصه ، غضب ، دهشت او قهر د داسې خلقو سره ترلے او مشهور کړے دے. ځوک چې ډېر زيات غضب ناک ، غصه ناک او قهرژن وي. په نهٔ ځهٔ خبره بډې راښکلې د جنګ جنګ نعرې وهي. او هر وخت مرګ ژوبلې ته تيار وي. نو د داسې بنده په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې دے خو دومره غصه ناک دے چې هر وخت يې: "د برېتو نه وينې ځاځي".

د بل په کار کښې کار مهٔ لره

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. د دې نه مطلب دا دے چې کښې ستا په ځهٔ کار يا خبره کښې ځهٔ مطلب او غرض نهٔ وي نو په هغه کار يا خبره کښې مهٔ وردانګه. اکثر داسې شوي دي او کيږي چرته چې ځوک نابلې د بل په کار کښې ځان شامل کړي. نو هغه کار وران او يا خراب شي او بدنامي يې سر له راشي يا ځان له پخپله بدنامي او يې عزتي جوړه کړي ، يا هغه کا رکولو والا بنده يا ډله د دهٔ شاملېدل نهٔ خوښوي ، او نهٔ غواړي. نو په سختي او زورني سره يې د کار کولو نه منع کړي او يا يې د هغه ځايه اوشړي. نو دا هم د بنيادم دپاره د يې عزتي او سپک والي خبره او کار دے. يعنې مطلب دا شو چې ځوک د بل په کار کښې کار لري نو يا ورله هغه کار وران او خرابوي يا به تر بنه ځهٔ ځيز مات کړ ، ه کيږي. او د کتنې او سود په ځائے به تاوان او زيان مومي. او يا به اخر سپک ، بې عزته او اوشرمولے شي. او که بې اجازته او بې بلنې د چا په کار ، خبره او يا د چا مېدان ته نهٔ وردانګي او نهٔ شاملېږي نو په خپل ځائے به ښهٔ خوږ دروند عزتداره او قدردانه وي. نو ځکه مشران خلقو ته د نصيحت په توګه داسې وايي چې: "د بل په کار کښې کار مهٔ لره". او داسې يو بل متل دے چې مطلب يې هم د دې متل سره تړون خوري او هغه داسې وئيلے شي چې: "چرته نهٔ کار نو هلته ځه کار" يا "چې کوم ځائے نهٔ کړېږي نو هلته مهٔ کروه".

هر چا له خپل کارونه ښائي
د بل په کار کښې ځانله مهٔ کوره کارونه

د بل په کور سل مېلمانهٔ ځهٔ دي

قيصه:

د بزرګانو هغه خبره چې مېلمه د خدائے پاک رحمت وي. خو کله کله دا رحمت ځني بنيادم ته زحمت هم جوړ شي. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه دوستان وو چې په جدا جدا کلو کښې مېشتهٔ وؤ. يوه ورځ هغه يو دوست د بل دوست کلي ته د مېلاوېدو دپاره ورغلو. هغه دوست يې ډېر خوشحاله شو او ډېر په درناوي يې ورله هر کلے او راشه درشه وکړه. دي مېلمه چې کله خپله مېلمستيا ډېره په درناوي ولېده نو پوخ ورته ډېره شو. دوه درې ورځې خو دا کوربه دوست ورته هم ښهٔ په مينه کښې وؤ. اکثر به يې داسې وئېل چې مېلمانهٔ

خو د الله پاک رحمت وي او مونږ خو هر وخت د مېلمنو لارې سارو. کله چې مېلمه ورته پوخ کټ پوزے واچوو نو هغه کوربه هم اخر تنګ شو. او په خبرو خبرو کښې به يې دې مېلمه دوست ته د واپس تللو خبره چېرله. خو مېلمه دوست يې هم د کوربه هغه خبره پخه کړې وه. چې مېلمه د خدائے رحمت وي. يوه ورځ دا کوربه ډېر په تريو تندي د مېلمه دوست خوا له راغے. دا دوست يې هم د راتلو او کړۀ وړۀ په مطلب پوهه شو. خو ورسره يې خوږې پستې خبرې شروع کړې او ورته يې وئېل چې اهو يار مېلمانۀ خو د خدائے رحمت وي. مونږه هم امروزه شل دېرش تنه مېلمانۀ اوزروو. هغه کوربه دوست چې ډېر تنګ او په غصه کښې وؤ نو سمدستي يې ځواب ورکړو چې يار شل څۀ چې د بل په کور سل مېلمانۀ څه دي. مطلب يې دا وؤ چې ګټې تۀ خو زما په کور دېره يې. داسې که تۀ سل کسه هم د ځان سره راولې نو په تا يې څۀ بوج دے. او وايي چې داسې د هغه وخت دا فقره مشرانو په متل مشهوره کړه

نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې د چا په کور ګڼ مېلمانۀ دېره شي او دا رحمت ورته د ورځو زحمت جوړ شي. نو هغه بنده هم په خبرو خبرو کښې خپله لاچاري ، بې وسي يا خپله بدبختي په دې متل کښې څرګندوي اوداسې وايي چې: "د بل په کور سل مېلمانۀ څۀ دي".

د بـــــــل پـــــــه کـــــــور مېلمانـــــــۀ څـــــــۀ وي
ګرانـــــه هلـــــه شـــــي چـــــې يـــــې خپـــــل مـــــخ تـــــپ وهينـــــه

د بل په لاس مار وژل هم ښۀ نۀ وي

دا يو عام او ساده متل د معنـ ی او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. پوهان وايي چې اعتبار ښۀ کار دے خو اعتبار نۀ کول زيات غوره دي. د متل نه مطلب هم دا دے چې هر کار په خپل لاس يا په خپله نګرانۍ کښې کول پکار دي. تر دې چې ګڼې مار وژل هم د بل په لاس نۀ دي پکار. په متل کښې هوښيارانو د مار مثال ځکه ورکړے دے چې مار يو زهريله مخلوق دے او د انسانانو دښمن منلے او ګڼلے شي. کله چې څوک هم مار ووينې نو هغه يې خامخا د وژلو هڅه او تکل کوي. يعنې د دې باوجود چې د مار په ليدو سره هر انسان د هغۀ د وژلو هڅه کوي. خوهوښياران وايي چې دا کار هم په بل مۀ کوکېدے شي چې هغه بنده قصدا ، يا د څۀ مجبورۍ له کبله يا د سستۍ او نالائقۍ له کبله هغه مار مړ نۀ کړي يا نۀ کړے شي. او سبا له هم هغه مار ستا د نقصان او زيان سبب وګرځي. د دې نه ښۀ دا ده چې دا معمولي کار او لږ شان اعتبار هم په بل مۀ کوه. د داسې حالاتو نه د بچ کېدو او د نصيحت دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک چا ته څۀ کار په حواله کړي او هغه سړے په هغه کار کښې هم د هغۀ ذمه دار يا د امانتدار د لاسه زيان ومومي ، يا ورله د شلو په ځائے سل خرچه کوي يعنې د کار د مقدار او شمېر نه ورباندې خرچه زياته وکړي. نو په داسې وخت هغه د کار مالک بيا نورو خلقو ته نصيحت کوي او داسې وايي چې هغه د هوښيارانو خبره چې: "د بل په لاس مار وژل هم ښۀ نۀ دي".

اعتبـــــار ښـــــۀ دے هوښـــــيار وايـــــي بـــــې اعتبـــــاري عمـــــل دے غـــــوره
نـــــۀ پـــــردي راوړے خپـــــل دي نـــــۀ وژلـــــے پـــــه بـــــل مـــــار شـــــي

د بنګړو بار دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کشې يو سړي د خرڅولو دپاره بنګړي بازار ته وړلي وو. د بنګړو پنډ يا شکرے په سر بازار کښې روان وؤ. چې يو داروغه (سپاهي) ورله په مخه ورغلو. سپاهي په ډانګ هغه پنډ له ګزار ورکړو چې هلکه دا څۀ دي؟ هغه بنګړي مار ورله ځواب ورکړو چې خان! که يو بل ګزار دې ورکړو نو بيا هېڅ هم نشته. سپاهي ترېنه بيا تپوس وکړو چې مطلب دې څۀ د هغۀ ورته پنډ د سره راکوز کړو او ورته يې اوښودل چې زيات بنګړي ورکښې مات ګ ـ ډ شوې وو. ورته يې وئېل چې خان يو بل ګوذار ورکړه نو بيا هېڅ هم نشته مطلب دا چې د بنګړو بار يا پنډ دومره نازک وي چې په يو ګوذار سره ټول مات ګ ـ ډ او چک چ ـ ک شوې وي. د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې

داسې څۀ ډېر نازک شے ځوک ووينې يا د چا د لاسه څۀ شے ايله په بهانه مات شي نو په داسې وخت دا متل وړاندې کولے شي او داسې وايي چې دا خو: "د بنګړو بار وۏ".

ځـــــــوک چـــــــې بـــــــزدل د زمـــــــانې شـــــــي
لکـــــــه چـــــــې پنـــــــډ د بنګـــــــړو لړه کښـــــــې پـــــــروت وينـــــــه

د بوسو سخے يې ترېنه جوړ کړو

دا يو ساده او عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. پخوا په زمانه کښې چې به د چا د غوا يا د مېخې وړوکے د پيو څښلو والا بچے مړ شو. نو خلقو به د هغه مړ بچي نه څرمن اوويستله او بوس به يې ورکښې ډک کړل،بوسو نه ډک کړے به سم لکه د سخې ښکارېدو. او که دا د سخې نمونه به چا وهله نو د هغۀ په وهلو څۀ. يعنې که داسې څۀ نمونه څوک وهي. يعنې کوذار ورکوي نو ترس يې پرې نۀ شي. او د متل نه هم مطلب دا دے چې کټې څۀ شے يعنې ځناور يا څوک بنيادم ډېر زيات وهل. يعنې داسې ناترسه وهل ، د چا هغه خبره چې دژړۀ پراس پرې وباسي ، يا ژړۀ پرې يخ کړي. او د دې مطلب دپاره په داسې وخت استعمالېږي چرته چې څوک په جنګ کښې د ځانه لاندې او کمزورے بنده کېر کړي او ښۀ يې کوشمال کړي. يعنې ښۀ ډېر زيات يې ووهي او ژوبل يې کړي نود هغه ژوبل بنده په حقله خلق داسې وايي چې هسې: "د بوسو سخے يې ترېنه جوړ کړ".

هســـــــې د بوســـــــو ســـــــخے تـــــــرې جـــــــوړ شـــــــي
څـــــــوک چـــــــې د مونـــــــږ غـــــــلا کـــــــوي کېـــــــر شـــــــي مټينـــــــه

د بونېر کم عقل دي په يوه پوهيږي

قيصه:

هوښيار او کم عقل خلق په هر قام ، قبيله او هره علاقه کښې وي خو ځنې علاقې او ځنې قبيلې داسې وي چې د هغوي مثال ېيا د متل په توګه مشهور شي. دا قيصه هم داسې بيان شوې ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو جبل کښې دوه قبديان وو. يو د بونېر د علاقې وۏ او بل د رڅرو. يوه ورځ د دواړو په څۀ خبره جنګ شو. هغه بونېري له بوه کټه په لاس ورغله. هغۀ په دې بل ځړي دېکې شېکې کولې او وټپل يې چې لرې شه نزدې رانشي کورے. زۀ د بونېر کم عقل يم ، زۀ په يوه پوهيږم. اوس به درله سر خور کړم. د رڅرو هغې ځړي ترېنه کټه لاسو ته کړه او سر له يې ورله راوبغوله. او وټپل يې چې زۀ د رڅرو کم عقل يم په يوه هم نۀ پوهيږم. بونېرے خو ژوبل ډېر شو خو د مرکه بچ شو. ېيا چې به ترېنه چا تپوس کولو نو هغۀ به ځواب ورکړو چې د بونېر خلق خوپه يوه پوهيږي خو دا ځور خلق خو هډو پوهيږي نه. او داسې د هغه وخت نه دا متل مشهور شو.

نن سبا دا متل داسې استعمالېږي چرته چې څوک داسې کم عقله خبره يا څۀ د کم عقلو والا کار وکړي چې په خپله پکښې زيان وموميږ. نو داسې ځړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه! جوړ د بونېر کم عقل يې په يوه پوهيږي. او اکثر ورته بعضې خلق ډېر په لنډو راتاوېږي او داسې وايي چې: "هلکه تۀ جوړ د بونېر يې".

يـــــــاد پـــــــه کـــــــم عقلـــــــو لېونـــــــو وو
نـــــــن يـــــــې بـــــــونېر دے د جنـــــــت پـــــــه مثالونـــــــه

د بېرې په سر کونه نۀ يې او ځان ته هوښيار وايې

قيصه:

پخواني ډېر ساده او سپېځلي خلق وو. ساده به يې کړۀ وړۀ وو او سپيني به يې خبرې وې. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو کلي ته يو ورځ يو مسافر مېلمه راغے. د کلي غړو ورله ښۀ راشه درشه او اوبۀ چيلم وکړل. مېلمه يو دوه ورځې تېرې کړې او بيا په خپله مخه لاړو. څۀ موده پس بيا هغه بنده راپېښ شو او دا ځل ښۀ پوخ دېره شوماسخ ، تنې چې به زميدار خلق په حجره کښې راغونډ شول نو دې مېلمه به ورته ډېرې هوښيارې او د حکمت ډکې خبرې کولې. داسې خوږه ژبه او خوږې خبرې به يې کولې چې زلمي يې سم مريدان کړي وو. خو کله کله په يې په خبرو خبرو کښې دا زميدار ساده خلق ملامته کول. د دې له کبله به ترېنه مشران او بوډاګان لږ په ډډه تېرېدل او وسېدل. يوه شپه چې دې مېلمه ښۀ ګپ ګرم کړے وؤ او د ځانه يې افلاطون جوړ کړے وؤ نو يو زميدار مشر په زړۀ کښې کرل رېبل چې څنګه به دا بنده په خبرو کښې ګېروي او ملامته کوي. هغۀ په دې سوچونو کښې ډوب په جېب کښې لاس وهلو. چې په جېب کښې ورته څۀ شے په ګوتو ورغلو. زميدار چې د جېبه لاس راوويستو او وې کتل نو هغه بېره (کرکنه) وه. په زړۀ کښې يې وئېل چې راشه په دې د دې مېلمه امتحان واخله. مېلمه ته يې هغه بېره وروړاندې کړه او تپوس يې ترېنه وکړو. چې دا څۀ شے دے. هغه مېلمه د بده مرغه داسې ځنګلې بېره چرته نۀ وه ليدلې. يوه شېبه خو ورته هغۀ په بقو بقو کتل او سوچونو وړے وؤ. خو پوهه پرې نۀ شو چې دا څۀ کېدے شي. اخر يې هغه زميدار له ځواب ورکړو چې وروره څۀ په سر کونه يې پوهه نۀ شوم. چې دا څۀ شے دے. هغه زميدار مشر ورته د خوشحالۍ نه په ټق ټق وخاندل. او ډېر په طنز کښې يې ورته وئېل چې خانه! د بېرې په سر کونه نۀ يې او ځان ته هوښيار وائې. په دې خبره هغه مېلمه ډېر ملامته شو. په بله ورځ يې سحر وختي کډه راونغاړله او خپله مخه يې ونيوه. داسې وايي چې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتوکښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې ځان باتور ، حکيم او هوښياره ګڼي يا حسابوي او د ځانه يې افلاطون جوړ کړے وي. او که چرې د هغۀ نه داسې څۀ غلط کار وشي يا په څۀ کار پوهه نۀ شي او هغه کار خراب او يا ګډ وډ کړي نو داسې بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د بېر ې په سر کونه نۀ يې او ځان ته هوښيار وايې".

د پردي باټه خپله برجو ښۀ ده

دا يو عام متل دے. باټه او برجو دواړه يو قسم کاڼي دي. چې د اوزارو د تېرولو دپاره استعمالېږي. باټه چې په څرخه يا چرخه کښې لګېدلې وي. او په پښو يا په لاسو په زوره زوره توخلے يا چلولے شي. نن سبا د بجلۍ په مشين (موټر) باندې تاوېږي يا چلېږي. د باټه سره اوزار ښۀ تېرۀ کېږي او وخت پرې هم لږ لګي. بل خوا برجو يو ساده کاڼے دے. چې اوزار (چاړۀ ، چاقوان) ورباندې په لاسو راښکلے شي نو هله تېرۀ کېږي. يو خو دا عمل ډېر کړاؤ او محنت غواړي او بل وخت پرې هم زيات لګي. يعنې د کار په نېز باټه د برجو نه په لږ وخت کښې ښۀ او ډېر کار کوي. په دې وجه باټه د برجو نه ښۀ او غوره دې.

بل خوا په متل کښې د پردي او خپل ذکر دے. که چرې يو شے يا څيز ډېر هم ښۀ او غوره وي خو که هغه پردے وي نو نۀ يې سړے هر وخت استعمالولے شي او نۀ په هر وخت مېلاوېږي. د پردي شي دپاره منت زاري کول او احسانونه اخستل هم لوئے مشقت وي. که چرې يو څيز کمزورے او کم قيمته وي ، خو چې خپل وي نو هغه د پردي د غوره او ښۀ شي نه ښۀ او غوره وي ځکه چې په هر وخت د سړي په خپل واک اختيار کښې وي. چې څۀ رنګ او کله يې هم استعمالول غواړي نو کولے يې شي. د خپل او پردي شي دا نسبت او فلسفه هوښيارانو په دې متل کښې څرګنده او وړاندې کړې ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼي که باټه د برجو نه ډېر هم ښۀ او غوره دے. خو پردے دے او پردے کټ د نيمې شپې وي. نو د هغې نه خپله برجو ښۀ ده ځکه چې مدام خو درسره وي او هر وخت دې پکار راځي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې د چا نه د څۀ شي طمع لري يا ترېنه څۀ څيز وغواړي او هغه سړے ورته انکار وکړي ، يا چا سره خپل اوزار وي او هغه د بل نه ښۀ او غوره اوزار غواړي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! په خپل اوزارو ګزاره وکړه ځکه چې: "د پردي باټه خپله برجو ښۀ ده".

د پـــــــــردۍ تـ ، ـــــــــورې نـــــــــه جانانـــــــــه
پـــــــه خپلـــــــو لاســـــــو خپـــــــل لـــــــروکے خونـــــــد کوينـــــــه

د پردي خېراته سپي شړې

دا يو عام متل دے او مطلب يې دا دے چې چرته داسې د خېرات يا د غم ښادۍ څۀ اخلے پخلے پخولے شي نو هغه ځائے ته اکثر سپي او پيشوګان راځي او بيا خوشکي سپي خو چې هيله په بوي پوهيږي يا خبريږي نو هلته ځان رسوي. د هغه ځائے د مالکانو دا کار او فرض وي چې د هغه ځايه سپي شړي او د اخلي پخلي ځائے او لوښي لرګي پاک او صفا ساتي وېم مطلب او معنـ ی يې دا ده چې هم په داسې خېراتونو کښې مالک د خپل ټېر څوک بنده يا چرته يار دوست په خصوصي توګه د دې کار دپاره مشر جوړ کړي. چې هغه د اخلي پخلي د ځائے مشري کوي او د خوراک څښاک د څيزونو ، د مېلمنو د ډودۍ او د سنمبالخت خيال ساتي. په دغه وخت هغه مشر بنده د هر څۀ ذمه دار وي او د دې خبرې خاص خيال ساتي چې د کور مالک ته څۀ زيان اونۀ رسي. داسې يو خوا که هغه بنده د هغه ځايه سپے پيشو شړي نو بل خوا يې په نابللو او ناپکاره غړو هم نظر وي. او چې د چا هلته څۀ ضرورت او حاجت نۀ وي نو هغۀ له د هغه ځايه رخصت ورکوي. ځنې وخت په داسې خېراتونو کښې داسې نابللي غړي هم ورګډ شي لکه چې ما مۀ شمېره در ګډ يمه. او د هغه ځائے يعنې د دېګونو د خوا مشري بغېر د مالک د تپوس پوښتنې او مرضۍ نه تر لاسو کړي. څوک کښېنوي او څوک پاسوي. کله سپي شړي او کله ماشومان. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې چرته داسې غړے د خپله ځانه مېدان ته ورګډ شي او د هغه ځائے مشري اونيسي. چاته پلېټ ږدي او د چا نه مجمه وچتوي. کله فقيران شړي او کله ماشومانو ته قهريږي ، نو په داسې وخت هغه غړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د پردي خېراته سپي شړې".

څـــــوک چـــــې اوزګـــــار شـــــي پـــــه بېګـــــار شـــــي
بيـــــا د پـــــردي خېراتـــــه ســـــپے پيشـــــو شـــــړينه

د پردي کلي په سبا څوک څۀ پوهيږي

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې يو زميدار وګړي خپل څۀ دوستان د کار لپاره (اشر) رابللي يا راغوښتي وو. دا زميدار د اشر نه يوه ورځ مخکښې د څۀ مجبورۍ له کبله بل کلي ته لاړو. هلته ورباندې يو زوړ دوست پېښ شو. دوي په ګپو شپو کښې داسې بوخت وو چې د وخت تېرېدو پته ورته اونۀ لګېده. او چې څو خبرېدل نو بيا ماښام وؤ. هغه دوست دا مېلمه په زور ډوډۍ ته ايسار کړو. په خوراک څښاک هم دومره وخت ولګېدو چې شپه ورباندې راغله. دې زميدار ډېر زورونه کول چې سبا مې اشرګندي خبرې کړي دي او زۀ به خامخا کلي ته ځم. خو هغه کوربه دوست ورپاندې زورور شو. او دے يې په زوره شپې ته پاتې کړو. هغه دوست ورته وئېل چې اوس شپه ده او سبا به سحر وختي پاڅو نو زۀ به هم درسره لاړ شم. په دې اميد او اسره دا سړے شپې ته پاتې شو. د شپې تر ناوخته دواړو ګپې شپې لګولې. خېر چې کله سملاستۀ نو هم دې زميدار له د غمه خوب نۀ ورتلو. د بده شامته د بانګونو په وخت دے اودۀ شو. او هغه دوست يې هم په ښخ او خوږ خوب اودۀ وؤ. دوي دواړه چې کله راپاسېدل نو نمر د اسمان نيمې له راغلے وؤ. د هغه ځايه هغه سړي کلي ته مخه وکړه. او نېغ په نېغه پټي ته ورسېدو. هلته د اشر خلق راجمع وو او په دې سړي يې لعنت ملامت وئېلو. چې هلکه داسې څوک کوي. مونږ د مـ ـلا بانګ وخت نه په کارونو اخته يو او تۀ بې غمه په کور کښې داسې اودۀ وې. چې هډو په سبا پوهه نۀ شوې. زميدار ورله ځواب ورکړو چې يار! د پردي کلي په سبا څوک څۀ پوهيږي. اشرګړو ترېنه تپوس وکړو. چې خانه څۀ مطلب دے. نو دې سړي ورته خپله ټوله قيصه تېره کړه او داسې د هغه وخت نه مشرانو دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د بل کلي په حقله څۀ خبره کوي يا د څۀ کار يا د خبرې متعلق څۀ بحث مباحثه وي او چې څوک په هغه کار روزګار نۀ پوهيږي ، يا ورته د هغې کار او خبرې څۀ مطلب او انجام معلوم نۀ

وي. نو په داسې وخت هغه ناپوهه بنده خپله کم علمي او ناپوهي په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "د پردي کلي په سبا څوک څۀ پوهيږي".

د پښتو ملک دے — يا — د پښتو سوال دے

دا د مشرانو قول دے چې د متل په توګه هم استعماليږي. دا اکثر د خبردارے ، زورنې او کله کله د طنز په توګه هم استعماليږي. مطلب يې دا دے چې ګڼې خيال او پام کوه. چرته لاس پښه دې خطا نۀ شي. چې سبا پرې پښېمانه ، شرمنده او ملامته نۀ يې. يعنې مطلب دا چې څوک داسې کچه خبره يا کارونه کوي چې هغه د شرم ، حيا ، غېرت او د پښتو نه پرېوتے وي ، يا په چا کښې داسې څۀ عادتونه وي چې پښتو پرې کچه کيږي ، يا پرې سړے شرميږي. نو داسې بنده ته مشران د طنز ، نصيحت ، خبردارے او د زورنې په توګه دا متل وړاندې کوي. او وايي چې هلکه پام کوه. دا کار يا دا خبره اونۀ کړې ، يا داسې عادتونه او کارونه پرېږده. دا خلق ځان پورې مۀ خانده وه ، يا دا خلق راپورې مۀ خاندوه. دا خلق به څۀ وايي اخر! "د پښتو ملک دے.يا. د پښتو سوال دے".

کـــــــه اتيـــــــه ســـــــل کالونـــــــه تېـــــــر شـــــــي
د پښـــــــتو ملـــــــک دے پښـــــــتون نـــــــۀ پرېـــــــږدي ضـــــــدونه

د پښتو کاڼي په اوبو نۀ ورستيږي

(Language) هغه ، يا ژبه هغې ذريعې ، واسطې يا لارې ته وئيلے شي په کومه چې مونږه انسانان د خپل زړۀ حالونه ، جذبات ، احساسات او کېفيت يو بل ته وړاندې کوو ، ځان پوهه کوو او بل خبروو. خپل خيالونه ، فکرونه او غمونه يو بل سره شريکوو. په دنيا کښې جدا جدا علاقو او جدا جدا قبيلو کښې ځانله جدا جدا ژبې ليکلے ، لوستلے او وئيلے شي. چې هغوي ورباندې د امروزه ژوند کارونه او ضرورتونه پوره کوي ، تعليم او تربيت پرې حاصلوي او خپل ژوند ژواک پرې خوندي کوي. غسې زمونږ د سيمې لـ ، هغه يا ژبه پښتو ده. د پښتو دا تورے يا لفظ د ژبې د معنې نه علاوه يوه بلعنـ ، ی او مطلب هم ورکوي. زمونږ د پښتنو په چارپېرچل (معاشره) کښې د ژوند کولو يو رهنما ا ، صول ، قانون ، دودو دستور او نظام(، سېستم) دے او دې ا ، صولو ، دود دستور او نظام ته پښتو وئيلے شي.

زمونږه دود دستور ، قدرونه (کلتور) يعنې عزيزولي ، ټبرولي ، تربورولي ، دوستي ، دښمني او مينه محبت يعنې د ژوند ژواک هر اړخ د يو قانون ، نظام (سېستم) او ا ، صولو (پښتو) تر لاندې تېريږي. په خصوصي توګه پښتو د ننګ ، پت ، وفا او د غېرت په اډانه ولاړه او اباده ده. بې د ننګ او غېرت نه پښتو نيمګړې او بغېر د پښتو نه پښتون ، دا ا ، صول (پښتو) صرف زمونږ د پښتنو په معاشره کښې ليدے او کتے شي. د بل قام داسې دود دستور يا ا ، صول نۀ دي ليدلي. چې هغه د هغوي د ژبې په نامه وي ، يا يې د قام په نوم ترلے وي. دا زمونږ دپاره د قدر وړ يو لوئے اعزاز دے چې زمونږه دا ا ، صول (پښتو) نورو قامونو هم منلې ، ستائيلې ، غوره او د قدر وړ ګڼلې او منلې ده.

دا قانون ، ا ، صول (پښتو) څۀ شے دے. دا د قام هغه قامي ، ملي او اولسي جذبات او احساسات دي په کوم چې زمونږ د قام پېژندګلو او ا ، صول په جدا جدا حالاتو او موقعو کښې په جدا جدا رنګونو کښې ليدے او کتے شي. خو په هره موقع د وفا ، ننګ او غېرت جذبې او رنګونه لازمي او يو شان وي. د دود دستور په حقله د علاقې په نيز د کلو په سطح ، د چم ګاونډ او د حجرو دېرو په سطح څۀ لږ ډېر ادلون بدلون وي. د دوستۍ ، عزيزولۍ ، دښمنۍ او د غم ښادۍ په وخت په دې جذبو او احساساتو کښې څۀ نه څه لاندے باندے هم راځي. خو نه ترېنه څوک څټ ايستلے شي او نۀ يې څوک حدونه ماتولے شي. ځکه چې د کلي اوځه خو د نرخه مۀ اوځه. کله چې دا احساسات ، چې داو پېرزوګانې د يو قانون او ا ، صولو تر لاندې شي او باقاعده د يو نظام په دائره کښې چليږي. نو دې نظام او سېستم ته پښتو وئيلے شي. پښتو دا ا ، صول او قاعدې لکه د کاڼو ډېرې زياتې پخې او مضبوطې وي نو ځکه مشرانو په متل کښې د دې مثال د کاڼو سره ورکړے او ستائيلے دے.

د پښتو دا کاڼي چې د دښمنۍ په لاره کښې پراتۀ وي نو بيا لا ډېر پاخۀ او مضبوط وي. نۀ ماتيږي او نۀ ورستيږي. او که دا کاڼي (صول) په اوبو کښې پراتۀ وي نو هم نۀ ورستيږي. د اوبو مثال مشرانو د زمانې او وخت سره ورکړے دے. يعنې که کالونه تېر شي خو د پښتو ا ، صول او قانون به مات نۀ شي ، يا به وراستۀ نۀ شي. هم د دې مطلب دپاره پوهانو مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او په داسې موقع

کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک چا ته د څۀ حادثې يا د بدلې اخستلو يا هېرولو په حقله نصيحت او وېنا کوي. نو هغه بنده ورته ځواب په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د پښتو کانې په اوبو نۀ ورستيږي".

د پښتو کانې نۀ ورستيږي که په اوبو کښې وي په څو زره کالونه

د پولۍ پرق ته ناست يې ، و

دا يو عام او ساده متل دے. پخوا په زمانه کښې به په کلو کښې د بټونو رواج ډېر وۀ. دکلو خلقو به ورکښې دانې وريتولې. خاص د جوارو ، يعني د (ژمې) په موسم کښې به بټونه ډېر گرم وو. په دې موسم کښې به د بټ غاړه هم لکه د گودر د ماخيگر پشان ډېره گرمه او ښائسته وه. ياران دوستان به راجمع وو. ښې به يې وريتولې او گپې شپې به يې گرمې گرې وې. پولۍ د جوارو هغه دانې ته وئيلے شي چې کومه د ډېره زوره او د ډېر تاؤ نه په مښخ اوچوي. د اوچو جوارو دانې اکثر پولۍ کيږي. او په بټ کښې چې پولۍ پرق کړي نو اکثر پکښې څۀ د بټ نه بهر ودانګي. اکثر غريبانان ماشومان د بټ په غاړه هم هغې پولو ته ناست وي. چې کله پولۍ د بټ نه پرق کړي نو هغوي ور پسې هم ورودانګي او زر يې په خ ، له کړي. د غريبۍ او نېستۍ دا حالات او د پولۍ پرق مشرانو په دې متل کښې د دې مطلب دپاره وړاندې کړے دے. چې گپې کله کله سړے دومره غريب شي چې د ښو دپاره ورسره يوه لپه دانې هم نۀ وي. او د بټ په غاړه د پولو پرق ته کښېني.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د چا نه څۀ شے قرض پور يعني پېسې ټکې او يا دانې خوراکه وغواړي. او هغه سړے ورته داسې وايي چې گپې زۀ خپله دومره غريب يم چې ستا څۀ مدد يا مرسته نۀ شم کولے. نو هغه ورته دا مطلب په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار مونږه خپله د "پولۍ پرق ته ناست يې ، و".

چې وه خوانې د پولۍ پرق وۀ
په بودا والې د ښو راغلۀ دورونه

د پېسې کور د بلا د کوره بېرته وي

دا يو ساده متل دے چې معنې ، ی او مطلب يې جدا جدا دي. د پېسې د کور نه مطلب مالداره کور دے. او د بلا د کور نه مطلب غمونه ، فکرونه او مصيبتونه دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب داسې څرګنده شو چې گپې مالدار کورونه يا مالداره غړي د غمونو ، فکرونو او مصيبت نه بېرته يعني په ډډه وي. او مصيبتونه ، غمونه او فکرونه د غريب سړي برخه او جاگير وي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے او وړاندې کړے دے.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو غريب بنده په څۀ غم او مصيبت کښې ګېر شي. نو هغه اکثر په خپل فرياد کښې داسې وايي. چې دا غمونه صرف د غريبو خلقو دپاره وي. او مالداره خلق بې غمه وي. بلا يعني مصيبتونه مدام د غريب په کور اموخته وي. او دا مطلب هغۀ د متل په توګه داسې وړاندې کوي او وايي چې: "د پېسې کور د بلا د کوره بېرته وي". په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره ترون خوري او هغه دا چې: "کاڼے مدام د غريب سر له راځي".

د مالدار کوره بلا تښتي
غمونو کور د غريبي لېدلے وينه

د پېښې نه تېښته نۀ شي

دا يو عام متل دے چې معنې ، ی او مطلب يې سره يو دي. مطلب دا چې کله هم بنيادم ته څه مصيبت ، کړاؤ ، غم خفګان او يا څۀ حادثه ورپېښه شي نو د هغې نه وېرېدل او تښتېدل نۀ دي پکار. بلکې ښۀ په حوصله ، صبر استقامت سره د حالاتو مقابله پکار ده. ښۀ په پام فکر او خيال سره د مخ نيوي دپاره تدبير او ترکيب جوړول پکار دي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. او داسې وايي چې هلکه ځان تکړه او زړۀ ډاډه کړه! "د پېښې نه تېښته نۀ شي" يا يو بل متل

دے چې مطلب يې هم د دې متل سره تړون خوري. او هغه داسې وئېلے شي: "چې خدائے يې چا ته پېښه کړي نو ځان دې ورته مېښه کړي". د مېښې نه مطلب لکه د مېښې په شان غټ زړۀ او لوئے صبر کول مراد دے.

څـــــــوک چـــــــــې د پېښـــــــــې تېښـــــــــته کانـــــــــدي
د پښـــــــو بېـــــــړۍ يـــــــې خپـــــــل تقـــــــدير جـــــــوړ شـــــــي مئينـــــــه

د تش جام نه به څۀ توې شي

دا يو عام او ساده متل د معنی يې د الفاظو نه څر ګنده ده. يعنې چې يو جام تش وي نو که هغه پرېوځي يا نسکور هم شي نو څۀ به ترې توې شي. خو مطلب يې د معنې نه جدا دے. دلته د جام مثال مشرانو د يو داسې بنيادم سره تړلے دے چې هغه ډېر غريب او فقير وي. د مال دولت نه بالکل پاک او لفنګ وي. که داسې بنده غواړي چې چا له څۀ ورکړي ، نو څۀ به ورکړي د داسې بنده مثال يې د تش جام په توګه ورکړے دے. يعنې چې جام کښې څۀ نشته نو توې به ترېنه څۀ شي.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک داسې بنده چې په مثال د تش جام وي. خپلې لويې بډوارې بيانوي يا لاپې او ډوزې وولي ، ستايي يا وايي ، يا د خپل سخاوت قيصې قطارې بيانوي. نو په داسې وخت هغۀ ته خلق وايي چې ستا مثال خو د تش جام دے او: "د تش جام نه به څۀ توې شي".

د ټوقې نه بوقه جوړه شوه

دا يو عام متل دے او مطلب يې دا دے چې ګڼې په ټوقو ټوقو کښې خبره ورانه شوه. اکثر د يارانو او دوستانو په محفل کښې خنداګانې ، ټوقې مسخرې او ګپې شپې وي. ځنې ځنې وخت پکښې داسې هم راشي چې يو کس پکښې د بل دوست يا د دوستانو په خبره يا ټوقه باندې بد وګڼي او خفه شي ، يا غصه شي او ورسره جنګ جګړې ته تيار شي. د محفل او د دوستانو دا حالات ، يعنې د ټوقو ټقالو او مسخرو نه خبره ورانېدل او بيا جنګ جګړې ته رسېدل مشرانو په دې متل کښې ستائېلے او مشهور کړے دے.

چرته چې څوک داسې په ټوقو کښې خفه او مرور شي. نو هغۀ ته نور دوستان داسې وايي چې هلکه تۀ په ټوقو هم نۀ پوهېږې. د ټوقو نه بوقه مۀ جوړوه. يعنې د ټوقو نه خبره مۀ ورانوه ، يا چې په ټوقو کښې خبره جنګ جګړې ته ورسي او دوه کسه يا دوه ډلې د يو بل نه خفه شي. نو په هغه وخت خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکو! "د ټوقې نه بوقه جوړه شوه".

د جومات ختې دي

نن سبا خو کورونه ، حجرې او جوماتونه هر څۀ د پخو خښتو او سېمټو جوړ شول. پخوا په زمانه کښې ټولې ابادۍ کچه د ختو لوټو نه جوړې وې. دې کچه ابادو به په کال کښې خامخا يو ځل لاس راښکل غوښتل. يعنې د ابادو د روغولو او سمولو دپاره به خلقو په کال کښې خامخا څۀ نه څۀ کار کولو. او که چا به ترېنه لاس پورته کړل نو بيا به د ژمي او پشکال بارانونه ورکره په کوټو او ستانو دننه هم داسې ورېدل لکه چې بهر څنګه په غولي او مېدان کښې ورېږي. د ژمي د ژړو او د پشکال د شېبو نه پس به خوار کور د دېواله ډېر د لرې نه ښۀ په اسانه پېژندے شو. يعنې مطلب دا دے چې دې د ختو لوټو ابادو به د روغولو او سمولو دپاره لاس وهل لازمي غوښتل. داسې چا چې به په کور او يا حجره کښې ختې (د ختو لېو) کولې. نو د چم ګاونډ خلق به يې په اشر راوبلل او په يوه ورځ کښې به يې کوټې ستانې او دېوالونه سم راسم او لېو کړل. اشرګړو به ختې کولې او د کور مالک به ورله د اخلي پخلي او د خوراک څښاک غم او بندوبست کولو. د دې اشر دپاره به د ښۀ نه ښۀ خوراکونه تيارېدل. چرګان ، سوچه (کورني) غوړي ، اګۍ ، پراټې او حلواګانې د هغه زمانې ښۀ خوراکونه منلے او ګڼلے شول. يعنې کله به چې چرته داسې اشر جوړ شو نو هلته به غوړ زېړ ښۀ ډېر وؤ. او اشر ګړي به ورله هم ښۀ په مينه او شوق سره ورتلل. او د زړۀ د اخلاصه به يې ختې کولې.

بل خوا د جوماتونو داسې حال وؤ چې جوماتونه به اکثر د يو ټبر ، يوې قبيلې يا د يو چم په شريکه وو. او چې کله به داسې د جومات د ختو اشر جوړ شو يا اوبللے شو. نو د کور په سر به يو يا دوه کسه جومات ته د کار (ختو) دپاره بللي شول. ټوله ورځ به د ختو لوټو

کار وؤ خو د خوراک څښاک (چائے ، ډوډۍ) بندوبست به پکښې نۀ وؤ. هر غړي به خوراک خپل کور کولو. چرته يو کس نيم به ورله يو وخت چائے راوړلي ، ګڼې کار به د جومات وؤ او خوراک به په خپل کور وؤ. يعنې د جومات په اشر کښې به هغه غوړ زېړ نۀ وو کوم چې به د چا په کور يا په حجره کښې مېلاوېدل. د دې له کبله به د هر چا د جومات اشر (ختو) ته څټ مات وؤ. نۀ به څوک په شوق سره ورتلل او نۀ به چا د زړۀ د اخلاصه کار کولو. که چرې چا به بل ته د ښۀ او په تندۍ سره د کار کولو وېنا کوله. نو هغه بل به ورته په ځواب کښې وئېل چې مړه اوبه شي. په قلاره لګيا ووسه کومه حلوا درنه سړېږي. دا د جومات ختې دي. او وايي چې د داسې حالاتو له کبله دا جمله د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د چا په بېګار کښې ګېر شي. يعنې چې نۀ د هغه کار دياړي او مزدوري مېلاوېږي او نۀ ترېنه څۀ نوره صله ، فائده او يا ګټه تر لاسو کېږي. نو په داسې موقع او وخت هغه کار کوونکے د هغه کار او بېګار په حقله دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار دا خو لکه! "د جومات ختې دي".

داســـــــې بېګـــــــار کښـــــــې راايســـــــار شـــــــوم
لکـــــه چـــــې ګېـــــر څـــــوک د جومـــــات ختـــــو کښـــــې شـــــينه

د جولا او د شپونکي يارانه نۀ شي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې د يو شپونکي او د جولا دوستانه وه. شپونکي غريب به چې سحر ورشو ته لاړو نو ماښام په تيارۀ به واپس راتلو. ټوله ورځ به يې په ګرځېدو زاره شنه شوه. او ماښام چې به کټ له ورسېدو نو بيا به نۀ د ځانه خبر وؤ او نۀ د جهانه. بل خوا جولا غريب به ټوله ورځ کډۍ ته په ناسته تېره کړو. د ملا نه به يې تير او د پښو نه ک ، نده جوړه شوې وه. په ناستې ناستې به غريب ټک اوچودو. د ماښامې به کله چې دواړه دوستان يو ځائے شول نو هغه جولا به ورته وئېل چې اشنا! راځه لږ شان به وګرځو چې پښې ازادې کړو. بل خوا به شپونکي غوښتل چې چرته ډډه واچوي چې لږ دمه شي. وايي چې څۀ مودې پورې خو دواړو په څۀ چل ول دوستانه راښکله. خو اخر ونۀ شوه او يوه ورځ دواړو يو بل ته صفا وېنا وکړه. چې زمونږه يارانه نوره نه شي چلېدلے. او داسې د دواړو يارانه او دوستانه ختمه شوه. د دې حالاتو له کبله داسې وايي چې د هغه وخت مشرانو دا متل مشهور کړو او مطلب يې دا دے چې چرته داسې لکه د شپونکي او د جولا رنګې حالات جوړ شي چې د دواړو په عادت او طبعيت کښې ډېر فرق او تفاوت وي نو په داسې حالاتو کښې مشران د دې مطلب دپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د جولا او د شپونکي يارانه نۀ شي".

نـــــۀ بـــــه جـــــولا د شـــــپونکي يـــــار شـــــي
نـــــۀ بـــــه پـــــه نـــــل کښـــــې د ګنـــــي راشـــــي خوندونـــــه

د چتي پل مۀ وهه

دا يو عام متل دے. د پل وهلو نه مطلب دے چې ګنې د پل (پښې) نخښه معلومول. يعنې د څۀ شي د پښو نخښه معلومول. او بيا په هغه نخښه باندې تلل. او د هغه نخښې له کبله هغه شے معلومول يا راپېدا کول. دې کار او دې عمل ته وئېلے شي پل وهل. پخوا زمانه کښې به په کلي يا په علاقه کښې داسې څوک هوښياره بنده وؤ چې هغه به پل وهلو. او د پل په نخښو به تر هغه ځايه رسېدلو چرته چې به هغه سړے يا ځناور موجود وؤ ، يا به هغه ځائے ته ورغلے وؤ. د پنجاب په علاقو کښې داسې کس ته کهوجي وئېلے شي. نن سبا هم هلته داسې کهوجيان مېشتۀ دي او چرته چې څۀ د څاروو غلا وشي نو هغه کهوجي د هغه څاروي پل وهي او غلا پيازوي. ځکه خلق د غل معلومولو دپاره د هغوي نه مدد اخلي. لنډه دا چې څوک داسې د څۀ شي پل معلوموي او د پل په هغه نخښه خپل منزل ته رسي نو دې عمل ته پل وهل وئېلے شي.

په متل کښې د پل سره د چتي ذکر شوے دے. چتے يو ډېره وړه ، معمولي او بې قيمته مرغۍ ده. نو ځکه ورپسې تلل ، يا معلومول يعنې پل وهل نۀ دي پکار. بله دا چې چتے داسې شے دے چې د سترګې په رپ کښې يې څلور پنځه ځايونه بدل کړي وي. په يو ځائے نۀ اودريږي نۀ کښېني او نۀ ټينګيږي. په بوټي کښې يې يو خوا بل خوا داسې ټوپونه جوړ کړې وي چې سترګې پرې هم ټيکاو نۀ

خوري. نو داسې شے چې د سترګې په رپ کښې شل ځايه بدلوي او هغه هم ادل بدل نود هغه شي پل معلومول (پل وهل) هم څۀ اسان کار نۀ دے. داسې که څوک د چټي پل وهل غواړي نو اول خو دا معلوميږي نه. او که په کراؤ ، محنت او خوارو سره معلوم هم شي نودا دومره د کار او قيمتي شے نۀ دے چې څومره ورپسې کراؤ او خواري غواړي يا کولے شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې جرته هم داسې لکه د چټي يو معمولي ، بې قيمته او ناپکاره شان شے وي نو هغې پسې زړۀ سترے کول ، محنت ، کراؤ او خواري نۀ ده پکار. يعني د داسې شي ډوند او تلاش بيکار او فضوله وي. يعني چې د څۀ شي مېلاوېدۀ ډېر په کرانه وي او شے هم ډېر معمولي يا بې فائدې وي نو مشران وايي چې د داسې شي ډوند او درک وهل پرېږده. او دا مطلب په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د چټي پل مۀ وهه".

د خان د خ ، لې نوکران ي ، و

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره دهلېي چې پخوا په زمانه کښې يو خان چرته په چ ، رت کښې راغلے وؤ او د نوکرانو سره يې کپ شپ لګولو. په کپ شپ کښې د خوراک څښاک په حقله څۀ خبرې شروع وې. خان پکښې د ښندو صفت کولو. چې ښندې ډېره ښۀ سبزي ده. د خان يو نوکر چې ډېر چالاکه او موقع شناس وؤ. نو هغۀ هم د ښندو په صفت کښې زمکه اسمان يو کړل. او ورسره يې د خان هم صفتونه شروع کړل. چې خان ډېر هوښياره او پوهه دے. چې ښندې خوښوي ځکه چې د ښندو ډېرې فائدې دي. په دې صفتونو خان هم ډېرخوشحاله شو او نوکر له يې داد او شاباشے ورکړو. داسې په بله ورځ بيا څۀ بحث شروع وؤ. خان پکښې وټپل چې دا ښندې خو ډېر بې خونده شے دے. خبرې خو د باتېنګړو کوه. چې په اور يې سرۀ کړي او تشه مالکه پرې واچوي نو بيا يې لا بل شان خوند او مزه وي. هغه چالاکه نوکر يې هم د باتېنګړو په صفتونو سر شو او د ښندو يې بلا ډېر عېبونه او نقصانونه بيان کړل. او په اخره کښې يې وټپل چې اهو! خان ښۀ وايي ، ښندې لا هم څۀ د خوراک شے دے رنګ دي ورک شي. خبرې خو د باتېنګړو کوه چې بس سرۀ زر دي. څۀ شښه پس چې خان کور ته لاړو نو د حجرې نوکران ټول دې کس ته راغونډ شول او ورته يې وټپل چې هلکه! پرون د ښندو په صفتونو نۀ مړېدې او نن دې ورکښې سل عېبونه راويستل. او د باتېنګړو نه دې راته اسمان جور کړو. مونږ خو ستا په پته پوهه نۀ شو چې پرون دې څۀ وټپل او نن څۀ وايې. هغه چالاکه نوکر ورته وټپل چې اے کم عقلو! مونږه باتېنګړ څۀ کووو نږ خو د خان د خ ، لې نوکران ي ، و. چې خان وايي ښۀ دي نو مونږ هم وايو ، و چې اهو ښۀ دے او که خان وايي زهر دي نو هم به وايو ، و چې اهو خان ښۀ وايي. يعني مطلب دا دے چې مونږه نوکران او غلامان ي ، و. نو نوکر او غلام مجبوره وي چې د خان حکم به مني او د هغۀ خبرې ته به ښۀ وايي. که خان وايي چې ورځ ده نو وايه ورځ ده. او که وايي شپه ده نو وايه شپېګه.چې مونږ د خان د خ ، لې نوکران ي ، و ، مونږه باتېنګړ څۀ کوو. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا يې خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې څوک داسې د چا نه د څۀ کار او يا د څۀ خبرې طمع لري ، يا ورته څۀ غرض وړاندې کوي يا تر ېنه په څۀ مسئله کښې مدد او مرسته غواړي ، يا ورته چرته د تللو بلنه ورکوي. او بيا د هغۀ نه د فېصلې او ارادې پوښتنه کوي ياتر ېنه د مدد او مرستې غوښتنه کوي نو که هغه بنده غواړي چې مرسته يې وکړي ، يا يې هغه کار سر ته کړي او يا يې خبره ومني. نو ورته داسې ځواب ورکوي چې يارمونږ خو ستا نوکران ي ، و ، يا ستا د خبرې نه زۀ انکار نۀ شم کولے. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار مونږ"خوڼان" د خ ، لې نوکران ي ، و". کله کله داسې د توقو ټقالو په موقع د طنز او مزاح په توګه هم استعمالېږي. چرته چې داسې په کپ شپ کښې څوک د چا نه څۀ صلاح مشوره غواړي ، يا اخلې او هغه بنده ورته مشوره څۀ چې خپل ځان ورسپاري نو داسې ځواب ورکوي. چې يار! د نوکرانو به څۀ صلاح مشوره او څۀ فېصله وي مونږ خوڼان" د خ ، لې نوکران ي ، و".

د خپل ځادر سره پښې غزول پکار دي

د ځادر نه معن ، ي او مطلب دے خپل حېثيت ، مقام ، توان و طاقت ، مرتبه او عهده ، وس ، بس او واک اختيار دي. يعني مطلب يې دا دے چې کښې د خپل حېثيت ، توان طاقت او د خپله وسه سره کار کول پکار دي ځکه چې د يو بنده وس د سلو روپو وي او هغه په څه کار باندې زر روپې خرچه کوي يا څوک داسې کار کوي يا لاس اچوي چې هغه کار د هغۀ د وس ، حېثيت او مرتبې نه اوچت

وي ، يا يې هغه خبره او کار د واک اختيار نه بهر وي نو په هغه کار به سبا بل ته مخ تورن او شرمېږي ، يا به پرې پړ ، ستومانه او ملامته وي. ځکه هوښياران وايي چې داسې کارونه نهٔ دي کول پکار. او د دې مطلب درپاره ورته د نصيحت په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د خپل څادره سره پښې غزول پکار دي".

د خدائے اوږي به خدائے مړوي

بېشکه چې الله تعالـ ی د تمام مخلوقاتو رازق دے. بلکې خېرالرازقين دے. هر چا ته د خپل تقدير مطابق خپله برخه رزق وخت په وخت مېلاوېږي. هغه که د اوبو لاندې يا د زمکې لاندې مخلوقات دي او که د زمکې باندې. د وړوکي نه وړوکي چينجي ، ماشي او مېږي ته هم په خپل وخت خپله برخه رزق مېلاوېږي. په متل کښې د مړولو نه دوه مطلبونه اخستے شي. يو دا چې د سړي خېټه خو مړه وي خو سترګې ، خوي او نفس (ارواه) يې نهٔ مړېږي. داسې خلق اکثر ليدے شي. که هغوي هر څومره خوراک وکړي خو چې په ارواه خوار وي نو د هغوي خېټه نهٔ مړېږي. د داسې خلقو لپاره مشرانو دا متل وړاندې کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې داسې اوږے به خدائے پاک مړوي. ځکه چې د دوي سترګې اوږې وي ، يعنې د سترګو موړوالے حيا او نفس له صبر خدائے پاک ورکولے شي ، بنيادم نهٔ.

دوېم مطلب ترېنه دا اخذ کيږي چرته چې يو بنده ډېر زيات اوږے وي. د اوږي نه مطلب دلته ډېر زيات فقير مسکين او غريب بنده دے. لکه چې خلق اکثر د داسې بنيادم په حقله داسې وايي چې هسې د خدائے اوږے دے ، يا هسې د خدائے فقير دے. يعنې مطلب يې دا وي چې ګڼې دا سړے بې انتها غريب دے. په متل کښې د اوږي نه مطلب هم داسې ډېر غريب او فقير بنده دے. د داسې خلقو سره که يو سړے مدد يا احسان وکړي نو د هغهٔ چرته يوه نيمه ګرامه يا مصيبت به سر ته کړي. د هغهٔ غريبي ، فقيري او لوږه به د خدائے په فضل او کرم سره ختمېږي يا سر ته کيږي. يعنې دا د بنيادم د وس او بس خبره نهٔ ده. چې اوږي ماړهٔ کړي يا اوږې سترګې مړې کړي. هم دا مطلب مشران په دې متل کښې داسې وړاندې کوي او وايي چې: "د خدائے اوږي به خدائے مړوي".

د خر په ځائے کولال داغې

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به اکثر چې چرته اس ، ټټو ، خر يا نور څاروي رنځوران شول نو هغوي له به يې داغ ورکولو. په ځنې مرضونو کښې به انسانانو هم داغ يا رګ وهلو يا ورکولو. د دې کسب به خپل خپل استاذان او ماهران وو. داسې وايي چې د يو کولال خر چرته ګ ډ شوے وؤ. چا ورته وئېل چې فلاني استاذ له يې بوځه چې داغ ورته کېدي. نو ښهٔ به شي. بله ورځ کولال سحر وختي خر مخکښې کړو. او هغه پوهه سړي له يې بوتلو. هغه وخت هلته يو دوه مريضان هم د داغ دپاره راغلي وو. دې کولال هم يو غاړې ته خر اوتړلو او د هغه سړو سره کښېناستو. هغه استاذ د هغوي دپاره سيخونه ښهٔ په اور کښې سرهٔ کړي وو. استاذ چې کله ګرم سيخ په لاس دوي له راغے نو شاګرد ته يې وئېل چې هله اونيسه. او کولال ته يې وئېل چې ملا بربنډه کړه. استاذ ګټل چې ګڼې دے هم داغ کېښودو له راغلے دے. په شاګردانو کښې يو تن چې د کولال د حال نه خبر وؤ. نو چغه يې کړه چې پام کوه استاذ ګورې! دهٔ خو خر راوستے دے. د خر په ځائے دے اونهٔ داغې. داسې کولال د داغ نه بچ شو. او بيا وروستو د شاګرد هغه نعره يا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا يې خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي چرته چې څوک د يو بنده په ځائے بل څوک ګناهنګار او مجرم ګڼي. يعنې چې ګرم او پړ يو وي او لعنت او ملامت يا سزا بل چا ته ورکوي. نو په داسې وخت دا متل وړاندې کيږي او داسې وئېلے شي چې پام کوه خانه! "د خر په ځائے کولال داغې".

هـــــــــــيڅ قصـــــــــــور واره طبيـــــــــــب نـــــــــــهٔ دے
د خـــــــر پـــــــه ځـــــــائے کـــــــه داغ کـــــــولال لـــــــه ورکوينـــــــه

د خر شا ته مهٔ تېرېږه او د سپي مخې ته

دا يو عام او ساده متل دے معنـ ی او مطلب يې د توکو/تورو (الفاظو) نه ښهٔ واضحه او څرګنده دي. يعنې د خر عادت وي چې هغه لته وهي. د دغې لتې نه د بچ کېدو دپاره د خر شا ته تلل نهٔ دي پکار. بلکې د خر نه په ډډه تېرېدل پکار دي. داسې د سپو عادت

وي. چېپ کوي ، خ ـ له اچوي ، چک لګوي ، چيچل کوي او يا په سړي ورغوټه کيږي. او دا دواړه د خپلو عادتونو نه مجبوره وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د دې دواړو نه که ځان بچ ساتل غواړې نو بيا د سپي د مخې نه او د خر د شا نه ځان ساته يا په ډډه تېرېږه.

دوېم مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې چرته څوک داسې بنيادم وي چې په هر وخت هر څوک رټي تروټي او لکه د سپو هر څوک داړي. نو هوښياران وايي چې د داسې بنده نه هم ځان ساتل پکار دي. مۀ يې په مخه تېرېږه او مۀ په شا. بلکې په ډډه ترېنه تېرېدل او وسېدل پکار دي. نن سبا ورسره نوکرانو او مزدورکارو خلقو افسر هم ملګرے کړے دے. يعنې په څۀ اداره يا محکمه کښې هم داسې څوک اوچتې عهدې والا (افسران) وي. چې هغوي هم د عادت نه مجبوره وي. او چې چرته هم خپل ماتحت نوکر ووينې. نو وينه يې جوش وهي ، بې ښې بې بدې او ارو مرو يې رټي تروټي ، او يا ورته څۀ نه څۀ کار او بېګار په حواله کوي. نو د داسې حالاتو له کبله نن سبا خلق دا متل په نوي طرز داسې هم استعمالوي او وايي چې: "د خر شا ته مۀ تېرېږه او د افسر مخې ته".

د خر مينه څۀ وي لته

دا يو ساده متل دے. او مطلب يې دا دے چې خر له الله پاک پېدائشي دا عادت ورکړے دے چې دے لته وهي. هر څومره که خر سره مينه وکړې ، ښۀ خوراکونه ورکوې خو د هغۀ عادت دے چې کله هم څوک ورنږدې کيږي نو يو ځل لته ضرور وهي. که مالک وي او که بل څوک غېر ، که مينې له ورنږدې کيږي او يا که هسې ورسره خوا کښې څوک تېرېږي خو خر به يو ځل لته وهي يا د وهلو هڅه کوي د دې عـ لت او عادت له کبله دا متل مشهور شوے دے. او مطلب يې دا دے چې که خر سره هر څومره څوک مينه وکړي نو په ځواب کښې به د خر مينه څۀ وي. هغه به وي چې کوم د هغۀ عادت دے. يعنې هغه به خپله مينه په خپل عادت سره څرګندوي. او هغه عادت څۀ دے ، لته. مشرانو او پوهانو د دې حالاتو د ليدو ، کنو او جاج اخستو نه پس د خر عادت او مينه د متل په توګه مشهوره کړه ، او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې که خر مينه کوي نو هغه به لته وهي. دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په څه داسې عادت کښې ګېر وي يا مجبوره وي. که هغه چا سره ښۀ کول غواړي يا مينه کول غواړي. خو د هغۀ د غلط عادت له کبله نورو خلقو ته څۀ زيان يا تکليف ورسي نو په داسې وخت د هغه بنده په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او وايي چې: "د خر مينه څۀ وي؟ لته".

د خوارو خواره برخه وي

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې ګنې څوک غريب او لاچار بنده وي. نو اکثر په څۀ کار روزګار کښې هغۀ ته زيان زيات وررسي. او مالداره خلقو ته زيان کم او فائده ډېره زياته. يعنې مطلب دا شو چې که په څۀ روزګار کښې زيان مېلاوېږي نو د غريب بنده دومره موړي وي چې په هغه زيان او تاوان سره يې پوزے لنګ شي. او که په څۀ فائده کښې ورته برخه مېلاوېږي نو هم د هغۀ د حېثيت او دولت په نېز به ورته څۀ لږه شان خواره برخه مېلاؤ شي.

دوېم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے چې زمونږ په چاپېرچل (معاشره) کښې دا پخه خبره ده چې داسې څوک مالداره او مخوريز بنده وي نو خلق يې په خېرات او دعوتونو کښې ښۀ په عزت رابلي او ښۀ درنه برخه ورله کوي ، يا هسې په ورکړه راکړه کښې ورله هم ښۀ درنه برخه کوي. ښۀ او غوره څيزونه ورله ليږي. او خوارو غريبو له پاتې راپاتې او نيم نيمګړے شے يا څيزونه ورليږي. هوښيارانو هم داسې حالت په دې متل کښې ستائېلي او مشهور کړي دي. نن سبا يې هم خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي چرته چې چا ته داسې په څه لږ کړه يا خبره کښې زيان ورسي ، يا څۀ بـ ـ دري ومومي او يا هسې اوچ په مـ ـچه په اوچه ډاګه ټکره اوخوري. او څۀ زيان يا تکليف ورته ورسي ، يا چا خوار غريب ته څوک داسې څۀ خواره برخه ورکړي. نو په داسې وخت د ګيلې شکوې په توګه دا متل وړاندې کيږي او داسې وئيلے شي چې: "د خوارو خواره برخه وي".

د خوارې پيشو لا بدې نوکارې وي

دا يو عام متل دے او معنـ ی يې دا ده چې ګڼې د پيشو خو هسې هم تېرې نوکارې وي. خو چې هغه خواره شي. يعنې چې په خېټه مړه نۀ وي ، اوږې تږې او په بدن ټپه ټيپه او کمزورې وي نو د هغې پيشو نوکارې ښې تېرې او تېزې وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې داسې څوک خوار غريب بنده چې هغه بې وسه او بې بسه وي او چې کله هم د هغه وس بر شي. يعنې چې موقع ورته مېلاؤ شي نو د هغۀ نه بد زورور او ظالم بيا بل نۀ وي. يعنې د هغۀ (نوکارې) زور ظلم او جبر لا ډېر زيات او بد وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. نن سبا دا متل په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې څوک غريب ، خوار ، بې وسه او د بې بسه بنيادم وس بر شي. يعنې چې څۀ واک اختيار بيا ومومي او په څۀ شي يا په چا يې وس بر شي او هغه بيا د هغې نه غلطه فائده اوچتوي. په چا زور ظلم او جبر کوي يا بل چا ته څۀ تکليف او زيان رسوي نو په داسې حالانو کښې او د داسې بنده په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وئېلے شي چې خدائے دې د کمزوري د زوره وساته! "د خوارې پيشو لا بدې نوکارې وي".

د خوېشکو نسوار دي په وروستو زور کوي

قيصه:

خوېشکے د نوښار سره نزدې يو زوړ او مشهور کلے دے. داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې په دې کلي کښې يو دوکاندار وؤ. چې هغۀ به ډېر تېز نسوار جوړول او خرڅول. په علاقه کښې دا مشهور نسوار وو. وايي چې يوه ورځ يو نوے نسواري کس د هغه دوکاندار نه نسوار واخستل. چې نسوار يې واچول نو څۀ شېبه پس ورله نسوارو داسې نشه ورکړه چې سر پرې او چورلېدو راپرېوتو او بې هوشه شو. خلق ورته راجمع وو. چا ورله اوبۀ ورکولې ، چا پښې مخلې او چا ورله لاسونه. خو د وخت تېرېدو سره د هغۀ نشه لا زياتېدله. هغه خلقو کښې يو تن د دوکاندار نه پوښتنه وکړه چې اے ظالمه! څۀ دې ورکړي دي چې سړے نۀ ښۀ کېږي. دوکاندار ورله په تسلۍ سره ځواب ورکړو. چې فکر مۀ کوه د نسوارو نشه ده ، اوس به ښۀ شي. خلقو ورته وئېل چې ظالمه! د نسوارو نشه داسې وي. نو دوکاندار ورته وئېل چې دا د خوېشکو نسوار دي په وروستو زور کوي. په دې حقله يوه بله قيصه هم مشهوره ده. وايي چې د نسوارو اچولو نه پس د هغه غړي نه باد لاړل. او په دغه وجه ورته خلقو وئېل چې دا د خوېشکو نسوار دي په وروستو زور کوي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې څوک څۀ کار وکړي او د هغې ګڼه فائده يا زيان او تاوان ورته وروستو مېلاؤ شي. يعنې څۀ موده ، يا څۀ ورځې پس ، يا د کار په نيز ورته ګڼه يا تاوان زيات مېلاؤ شي. نو په داسې وخت او حالانو کښې مشران داسې وايي چې: "د خوېشکو نسوار دي په وروستو زور کوي".

غمونـــــــــــه تېـــــــــــر عمـــــــــــر کښـــــــــــې زور کـــــــــــړي
لکـــــــــــه نســـــــــــوار د خوېشـــــــــــکو وروســـــــــــتو زور کوينـــــــــــه

د درنو سره به دروند يې او د سپکو سره سپک

دا يو عام متل دے معنـ ی او مطلب يې جدا جدا دي په معنـ ی کښې خو دروند او سپک د وزن کولو يا تللو کج او پېمانه ده. يعنې چې څۀ شے په تله وتللے شي نو سپک او دروند يې معلوم شي خو په متل کښې ترېنه معنـ ی دا ده چې څوک بنده په قدر ، عزت او شهرت کښې دروند او سپک وي. د خوږ دروند نه مطلب هغه عزتدار او قدردانه بنده وي چې په اخلاقو ، قول او کردار کښې روغ او مخلصه وي. څۀ غلا غلطي ، ګنړکپي او مکر فرېب پکښې نۀ وي. مېلمه دوسته ، قدردانه او وفاداره وي. نو داسې بنده د پښتنو په معاشره کښې دروند منلے او ګڼلے شي. بل خوا داسې څوک چې خـ ـلې نه پوچ ، ګنړکپ ، بدمعاش ، بې حيا ، بې شرمه او په يارۍ دوستۍ کښې نااعتباره وي. نو د هغۀ هېڅ قدر عزت نۀ وي. او که څۀ لږ ډېر وي نو هغه هم د بدمعاشۍ يا د پېسې ټکې په زور وي. خو په معاشره کښې په سپک منلے او بللے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو. چې د درنو ، يعنې پرهېزګاره ، عزتداره او قدردانه خلقو سره دې ناسته پاسته وي نو لکه د هغوي به تۀ هم عزتداره او قدردانه (دروند) وې. او که د پوچ ، نيچ او بدمعاشانو (سپکو) خلقو سره دې ډله وي نو تۀ به هم

لکه د هغو رنګي بې عزته او بې قيمته (سپک) شي. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل مشهور کړے دے. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د درنو سره به دروند يې او د سپکو سره سپک".

په سپک محفل سړے سپک ښکاري
چې د درنو سره روزګار که دروند به وينه

د دروغو عمر لږ وي

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه استعمالېږي. او مطلب يې دا دي چې دروغ دروغ او رښتيا رښتيا وي. نۀ دروغ پټ پاتې کېدے شي او نۀ رښتيا. که څوک دروغ وايي يا ووايي نو د هغه دروغو عمر ډېر لږ وي. يعنې مطلب دا شو چې که چرې داسې څوک د دروغو وينا کوي نو څۀ شېبه يا ورځ نيمه پس د هغې پته ولګي او خبره صفا شي چې دا دروغ وه او يا رښتيا. او که ډېر هم دروغ پټ پاتې شي نو اخر تر کومې. يوه موقع اخر داسې راشي چې دروغ او رښتيا جدا جدا شي. هسې خو د دينا په ټولو مذهبونو کښې دروغ وئېل منع دي. غټه ګناه ګڼلے او منلے شي. خو بيا زمونږ په مذهب يعنې ۔ اسلام کښې دروغ وئېل ډېر سخت ناروا او د ګناه کار منلے شوے دے. هسې هم دروغژن بنده اکثر شرمېدلے او مخ تورن وي. خلقو ته بې اعتباره شي او که بيا هغه څۀ خبره رښتيا هم کوي خو د خلقو ورباندې اعتبار او بېروسه نۀ وي. د يو حديث شريف مفهوم دے. وايي چې دروغژن بنده قسمونه ډېر خوري چې ګني د هغۀ په وينا خلق باور وکړي. خو بيا هم يو وخت داسې راشي چې (دودهـ کا دودهـ او پانی کا پانی). داسې دروغژنو او فريبژنو غږو ته مشران وايي چې د دروغو توبه کار شي. ځکه چې دروغ پټ نۀ پاتې کيږي. هم دا دروغ به دې سبا شرموي او دنيا ته به مخ تورن شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د دروغو عمر لږ وي".

د دوارو دې رنګ ورک شي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وئېلے شي چې پخوا په زمانه کښې به ځناورو هم د يو بل سره خبرې اترې کولے شوې. د يو بل په ژبه او خبرو به پوهېدل. وايي چې يو زميدار يو اوښ او يو اس ساتلې وو. په اوښ په يې ټوله ورځ کارونه کول. د وزن او بوجهـ کارونه به ټول د اوښ په برخه وو. او کله چې به اوزګار شو نو ورشو ته به يې خوشے کړو او هلته به په چارو او کاريزو کښې څرېدلو. اس به ځۀ خاص کار هم نۀ کولو. او مالک به ورلـه خوراک هم ښۀ او په مړه خټه ورکولو. يوه ورځ دې اس د اوښ نه تپوس وکړو چې کله دې په شا بوجهـ پروت وي نو تا ته په لوړه ختل ګران وي او که په ژوره کوځېدل. هغه اوښ چې د خپل مالکه او د اس نه هم خفه او ناراضه وؤ. نو ډېر په غصه او سختی يې ځواب ورکړو چې د دوارو دې رنګ ورک شي. او داسې وايي چې د هغه وخت نه مشرانو دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه. دلته زۀ دا خبره سپينول غواړم چې زما په خيال بلکې زما يقين دے چې دا يوه فرضي قيصې ده. خو کېدے شي چې هوښيارانو د دې مطلب دپاره جوړه کړې وي. او د متل نه مطلب دا شو چې چرته داسې چا ته دوه شخړې ورمخې ته شي چې تکليف ، درد او کراؤ ترېنه مېلاويږي. يعنې محنت ، تکليف او کراؤ په دوارو کارونو يا دوارو مسئلو کښې وي او د خوښې او ناخوښې موقع يا د فېصلې وخت راشي ، او هغه بنده فېصله نۀ کوي يا کول نۀ غواړي نو د خبرې ختمولو دپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د دوارو دې رنګ ورک شي".

د دېوال سپورے يې سحر يو خوا او ماښام بل خوا

دا يو عام او ساده متل د معنـ ی او مطلب يې جدا جدا دي. د دېوال سېورے د نمر د غاړې نه اپوټه غاړې ته يعنې بلې غاړې ته پرېوځي. يعنې چې نمر نمر خاتۀ غاړې ته وي نو د دېوال سېورے به قبلې طرف ته وي. او که نمر قبلې غاړې ته وي نو سېورے به نمر خاتۀ غاړې ته پرېوځي. مطلب دا شو چې د سحر په وخت کښې د دېوال سېورے قبلې غاړې ته او ماځيګر يا د ماښام په وخت بيا دا سېورے نمر ختيز غاړې ته وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې زمونږ په چاپېرچل کښې ډېر داسې خلق ليدے او کتے شي. چې هغوي په خپله خبره او وعده کلک نۀ وي. کله د خپلې وېنا نه انکاري وي. نو کله خپله وعده ماتوي. يعنې که سحر څۀ خبره کوي نو ماښام ترې جار ووځي ، يا که ماښام وعده وکړي نو سحر ترېنه منکر وي. مشرانو هم د داسې خلقو مثال د دېوال د سېوري سره په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے.

نن سبا دا متل هم د داسې رنګې خلقو په حقله استعماليږي. چرته څوک چې داسې د خپلې خبرې نه جار ووځي. سحر د يوې ډلې مرسته کوي او ماښام د بلې ډلې صفتونه او ستائېنې کوي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه تۀ خو! "د دېوال سېورے يې سحر يو خوا او ماښام بل خوا".

د دې وړۍ نه شړۍ نۀ جوړېږي

دا يو عام متل دے. وړۍ او شړۍ د يو بل سره تړلي (لازم او ملزوم) څيزونه دي. پخوانو غړو به د ګډو بيزو او د اوښانو د وړۍ نه واسکنې ، بنېنونه او (کمبلې) شړۍ جوړولې. او د ژمي په موسم به يې استعمالولې. مطلب دا شو چې شړۍ د وړۍ نه جوړېږي او که وړۍ نۀ وي ، يا د ضرورت او حاجت نه کمه وي نو بيا ترېنه شړۍ نۀ جوړېږي. مشرانو دا متل د دوؤ مطلبونو دپاره جوړ کړے او مشهور کړے دے. اول مطلب خو يې دا دے چې دا د څۀ بهانې په توګه استعماليږي. داسې څوک د چا نه څۀ شے وغواړي او د هغه غړي د ورکولو نيت نۀ وي او څۀ بهانه ورته کوي. چې يار پرېږده دا شے د دې کار دپاره نۀ دے. دوېم مطلب ترېنه دا اخذ کيږي. چې څۀ شے د څۀ کار دپاره پوره او برابر نۀ وي. يعنې د څۀ کار دپاره چې د څۀ څيز يعنې د سامان او اوزار څومره ضرورت او حاجت وي. هغه پوره نۀ وي. د دې معنو تر لاندې د متل مطلب دا شو. چې يا خو د څۀ کار نۀ کولو بهانه وي او يا څۀ شے د حاجت او ضرورت نه کم وي.

نن سبا په داسې حالانو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د څۀ کار نۀ کولو بهانه لټوي ، يا جوړوي ، يا د چا نه د څۀ کار يا د څۀ خبرې طمع لري او هغه کار يا خبره د کېدو نۀ وي ، يا څوک چا ته څۀ کار په حواله کړي خو د هغه کار دپاره څيزونه د حاجت او ضرورت مطابق پوره او برابر نۀ وي. نو په داسې وخت او حالانو کښې مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "د دې وړۍ نه شړۍ نۀ جوړېږي".

د ډم د ذاته يې هر چا ته خاندې

ډمان ډېر ښۀ او خواږۀ خلق وي. خپله که په کور دننه يا په زړۀ دننه هر څومره غمژن او يا غم زپلي وي. خو بهر په روڼ تندي ، په خندا خوشحالۍ په خوږه پسته خـ ـله هر چا سره راشه درشه کوي. د خلقو په ښادو کښې خپله هم خوشحاله وي او نور خلق هم خوشحالوي. نو ځکه ورته خوشحاله کورنۍ هم وئيلے شي. مطلب دا چې يو خو د دوي په خمبير کښې دا اخښلې شوې دي چې هر وخت خوشحاله ووسي او ښکاري. بل د دوي د کسب اولنے ضرورت او حاجت هم دا دے. بلکې دوي ته د خپلو مشرانو اولنے سبق دا وي چې هر چا سره ښۀ جي جان ساتي او په خوشحالۍ خندا ورته هر وخت لاس په نامۀ ولاړ اوسې. د کلي په سطح د کلي ټولې کورنۍ د دوي نايکان (مالکان) وي او دوي يې کسب ګر. نو ځکه يې هر چا سره پېژندګلو او راشه درشه وي. دوي د خپل کار کسب له کبله او ځنې وخت د څۀ مجبورۍ ، حاجت او ضرورت له کبله هم هر چا ته په هر وخت خندا خوشحالۍ او په سلامۍ ورمخامخ کيږي او مېلاوېږي.

د دې بحث نه دا مطلب څرګند شو چې د کلي د دم يا د دم ذات دا عادت او مجبوري وي چې هغه د کلي هر غړي سره ښۀ په خندا او خوشحالي مېلاوېږي. ځکه چې د هغوي کار کسب داسې دے چې دا د هغۀ مجبوري او حاجت دے. نۀ هغوي خپل کار کسب پرېښودے شي او نۀ د چا سره دښمني او تربګني کولے او پالے شي.

مشرانو داسې د دمانو دا خوشحاله طبعيت او د هر چا سره خندا په دې متل کښې ستائېلي دي او مطلب يې دا دے چې داسې څوک په نه ځۀ خبره يا په هره خبره هر وخت په هر ځائے کښې او هر چا ته خاندي ، يا په هر محفل او مجلس کښې د هر چا خوشامندګري او جمجه ګري کوي او هر چا ته ځان خوا خوا ته کوي ، يا په خندا او خوشامندګرۍ ځان مخمخے کوي. نو داسې خوشامندګر او چمچې غړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د دم د ذاته يې هر چا ته خاندي".

د ډيوې د کونې لاندې تيارۀ وي

پخوا په زمانه کښې چې کله بجلي يعنې د بجلۍ رنا نۀ وه. نو خلقو به د رنا دپاره ډيوې بلولې. دا ډيوې به کولالانو د خاورو (ټيکرو) نه جوړولې. په دې کښې به د شرشمو تېل بلولے شول. د مالوجو باتي يا لامبه به په تېلو کښې پرته وه او يو سر به يې د ډيوې په سر رسوري کښې پر راايستلے وۀ. او هغې ته به يې اور ورته کړے وۀ. داسې به ډيوه بلېدله او رنا به ترښه خورېدله. ځۀ زمانه پس ترقي وشوه او د ډيوې نه لالټين جوړ شو. په لالټين کښې به د خاورو تېل بلولے شول. د لالټين رنا به د ډيوې نه تېزه او زياته وه. د دې سره سره د رنا دپاره موم باتي (شمعې) هم جوړې شوې. بيا ځۀ موده پس زماني ترقي وکړه او يو نوے قوت (بجلي) راپيدا (ايجاد) شوه. او داسې د بجلۍ له کبله نن سبا په هر لوري رنا ګاني خورېږي. نن ډيوه صرف په نوم پاتې ده. او چرته خال خال په مزارونو د جمعې په شپه بلولے شي.

هسې خو متل د ډيوې په نوم تر لے او جوړ شوے دے. ځکه چې په هغه زمانه کښې د رنا خورېدلو ذريعه ، يا اله صرف ډيوه وه. خو که پام او فکر وکړے شي نو د هر هغه شي لاندې تيارۀ وي کوم چې رنا خوروي. يعنې د هغه شي په وېښ يا په موند کښې تيارۀ وي. او د ډيوې دا وېښ (کونه) او تيارۀ مشرانو په دې متل کښې ستائېلې او مشهوره کړې ده. مطلب ترښه دا دے چې کټې ډيوه خو خپله هر خوا تر لرې پورې رنا خوروي. خو لاندې ورسره خوا کښې تيارۀ هم وي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک داسې په ځۀ ورک او بې درکه شي پسې تر لرې لرې پورې لټون کوي او کړځي. خو چې کله ورته هغه شے د محنت او بسيار کراؤ نه پس ډېر نزدې په خپل ځائے او يا په خپل سامان کښې مېلاؤ شي. نو په داسې وخت او حالاتو کښې دا متل وړاندې کېږي. او بيا داسې وئيلے شي چې: "د ډيوې د کونې لاندې تيارۀ وي". په اردو کښې هم په دې توکو (الفاظو) کښې د دې مطلب دپاره داسې وئيلے شي چې: "چراغ تلے اندھيرا".

د روغو او د لېونو کلي نۀ کېږي

کلي کول يوه محاوره ده او معنۍ يې دا ده چې کټې د خپل دود دستور لاندې غم ښادي کول ، تلے راغلے او لېن دېن کول خپلولي ، عزيزولي او ياري دوستي پالل. په متل کښې بل ذکر د روغو او د لېونو شوے دے. نو روغ خو په غم ښادي او دود دستور ، يعنې په کلي کولو پوهيږي. نو هغوي خو خپل دود دستور (کلي) کوي. بل خوا د لېونو نه په متل کښې هغه خلق مراد او مطلب دي کوم چې لېونې خو نۀ وي خو داسې کم عقل وي چې د دنيا د دود دستوره ناخبره وي او يا پرې نۀ پوهيږي. يعنې دماغي مريضان لېونې نه بلکې روغ خلق خو چې په کلي کولو نۀ پوهيږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د روغو يعنې (هوښياره) خلقو او د لېونو (کم عقلو) خلقو د يو بل سره لېن دېن او غم ښادي (کلي) نۀ کېږي. هم دا مطلب هوښيارانو په دې متل کښې څرګنده او مشهور کړے دے. او په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک روغ خلق داسې د چا کم عقلو خلقو نه ځۀ ګيله شکوه کوي نو هوښياران ورته وايي چې هغه خو کم عقل لېونې دي. هغوي په دې خبرو نۀ پوهيږي. د داسې لېونو نه ځۀ ګيله او ځۀ شکوه. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او وايي چې: "د روغو او د لېونو کلي نۀ کېږي".

دړې خمبيره يې د وخت لګي

دا يو عام متل دے چې معنه ، ې او مطلب يې جدا جدا دي. خمېر يا خميره هغه اخښلي اوړو ته وئيلے شي. چې د يوې يا نيمې ورځې زاړۀ وي. او بيا د نوروتازه اوړو سره ګډ ودې کړے شي. چې هغه ټول اوړۀ ورسره خميره شي. دا خميره په اوړو کښې ډېره لږه استعمالېږي ځکه چې په يو خانک اوړو کښې به نيمه پېره خمېر ګډولے شي. په دې حساب سره چې د چا دړې خميره د وخت لګي نو وايه چې ټول اوړۀ خو به يې بيا په منونو لګي. او داسې خرڅه يا لنګرې خو به جرته غټ خانان او يا لوئے نوابان جلولے او سر ته کولے شي. دا د عام بنده د وس او بس خبره نۀ ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې ډېر زيات مالداره او يا زيات خرچې کولو والا بنيادم دے. خو اکثر دا متل د طنز په توګه استعمالېږي.

دا متل هوښيارانو د داسې موقعې او حالاتو ډپاره جوړ کړے او مشهور کړے دے. جرته چې ځوک داسې په مجلس کښې ډېرې اوچتې دوزې اولي. د غرور او تکبر په نشه کښې داسې ډوب وي چې نور مخلوق په ځۀ کښې نۀ حسابوي. يعني ځان ډېر اوچت ګڼي او نورو خلقو ته په سپک نظر ګوري. کله چې ځۀ خبره کوي نو د تکبر ، غرور او د نشې نه داسې ډکه وي چې د بل چا سپک والے او بې عزتي يې مطلب وي نو د داسې بنده په حقله مشران د طنز په توګه وايي چې دومره غرور او نشه يې ده لکه چې ډېر غټ خان ، نواب او يا ډېر زيات مالداره وي. او شپه ورځ يې دومره لوئے يا غټ لنګر جليږي چې د يو وخت خميره پکښې پوره درې لګي. هم دا مطلب ورته په لنډو توکو په دې متل کښې وراندې کوي او په طنز کښې داسې وايي چې: "دړې خميره يې د وخت لګي".

داســـــــــــي نشـــــــــــه داســـــــــــي غـــــــــــرور کـــــــــــه
لکـــــــــــه خميـــــــــــر يـــــــــــي چـــــــــــي دړې راوړلـــــــــــي وينـــــــــــه

د زرو قدر په زرګر وي

دا يو عام متل دے چې معنه ، ې او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. سړۀ زر (ګولډ) داسې شے دے چې قدر يې د هر چا سره وي. خو زرګران چې د زرو پېژندګلو او شناخت زيات او ښۀ کولے شي. هغوي اصل او نقل ښۀ پېژني. نو ځکه يې ورسره قدروقيمت هم زيات وي. داسې که چا ته سړۀ زر ميلاؤ شي. او هغه يې پېژندګلو نۀ شي کولے چې کټې دا زر دي او که بل ځۀ. نو ځکه يې هغه په قدر او قيمت نۀ پوهيږي. د دې نه دا خبره ظاهره شوه چې د يو شي په قيمت څومره څوک پوهه وي ، يا د اصل نقل پېژندګلو کولے شي نو هومره به يې هغۀ سره قدر هم زيات وي. يعني زرګر چې زر پېژني چې دا اصلي او قيمتي شے دے. نو ځکه يې ورسره قدر زيات وي. دا علم او پوهه ، د ځۀ شي پېژندګلو او قدروقيمت مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے او وراندې کړے دے.

نن سبا دا متل اکثر په داسې موقعو کښې استعمالېږي. جرته چې د دوۀ غړو تر مينځه د ځۀ شي سودا کيږي او يا کولے شي او اخستونکے د هغه شي قيمت لږ او کم لږه وي يا لږ قيمت ورکوي. نو هغه خرڅونکے ورته وايي چې ټه د دې د قيمته ځۀ خبر يې ، يا تا ته د دې شي ځۀ پته ده. د دې په قدر او قيمت خو هغه خلق پوهه دي چې څوک يې پېژني. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې خانه! "د زرو قدر په زرګر وي".

د زرو قـــــــــــدر پـــــــــــه زرګـــــــــــر وي
د خـــــــــــر پـــــــــــه حقلـــــــــــه د کـــــــــــولال کـــــــــــره تپوســـــــــــونه

د زورورو منت د زورورو د زوره زيات وي

دا يو ساده او عام متل دے ، مطلب ترينه دا دے چې که څوک زورور بنده په چا غريب او بې وسه کس ځۀ زور ظلم وکړي نو هغه وخت هر څومره چې سخت وي خو تېر شي. بل خوا که هغه زورور بنده د غريبو او بې وسه خلقو نه دا هم غواړي چې ګټې د هغوي ژوند دي د دۀ د حکم او مرضي لاندې تېريږي. يعني په هر کار او هره خبره کښې د خان صېب او نواب صېب منت زاري کول وي. او د هغۀ نه اجازت غوښتل يا اخستل وي. که د خان خوښه وي خو ښۀ ده ګټې مظلوم او غريبانان ورته په منت او زارو سترې شي او د خان صېب پرې غوږ هم نۀ کړيږي. بلکې په داسې وخت وهل ټکول ، کټل وينا او بې عزتي يې جدا زورورتيا وي. په داسې وخت او داسې کارونو سره زورور خپل نفس او شېطان خوشحاله وي. خو د الله پاک حکمونه او حدونه ماتوي. که د يو وخت زور ظلم وي خو سړے به صبر او برداشت وکړي. او هغه به پرې تېر شي. خو چې د چا زورور او ظالم منت زاري کول په بې عزتي او شرمولو وي او هغه منت زاري

ځائے هم نۀ نيسي. نو دا دېر سخت او بد وخت وي. کله کله خو په ريښتوني په پوزه کړېي هم راښکلے شي. د زورورو دا زور او د غريبو مظلومو خلقو دا شرمېدل ، بې عزته کېدل او منت زاري هوښيارانو په دې متل کښې ستائيلي او مشهور کړي دي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې چا ته داسې حالات ورپېښ شي چې يو بنده د بل چا منت او زاري ته مجبوره شي. خو په دې بې زړۀ اوبۀ نۀ ځښې چې ګني دا منت زاري به قبوله او منظوره شي. بل خوا په منت زاري کښې ورسره د خپلې بې عزتۍ وېره هم وي نو په داسې وخت هغه کس خلقو ته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خدائے دې ترېنه وساته خانه! "د زورورو منت د زورورو د زوروه زيات وي" يا "د زورورو منت د زورورو د زوره ګران وي".

د زورورو زور اوبـــــــــــــــــــــــۀ شـــــــــــــــــــــــه

د زورورو منـــــــــــــــــت کـــــــــــــــــران د زوره وينـــــــــــــــــه

د سبا مړي به سبا ښخوو

دا يو ساده او عام متل دے معنۍ او مطلب يې جدا جدا دي. د سبا مړي نه مطلب د سبا غمونه او د سبا کارونه دي. او د متل نه مطلب دا شو چې ګني د سبا غمونه او فکرونه مۀ کوه. د سبا غمونو سره به سبا کورو. نن ښېدار شه او د نن کار روزګار دې سر ته کړه. هسې نه چې د سبا په غم کښې درنه نن ورځ هم تش په توره لاړه شي. دا حالات او کېفيت په دې متل کښې مشرانو د سبق او نصيحت دپاره خلقو ته وړاندې کړي دي. چې د سبا غم مۀ کوئ او د نن کار سبا ته مۀ پرېږدئ يا مۀ سپارئ. دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د سبا په غم او فکر کښې ځان له مازغۀ خوري. د سبا دپاره غمونه فکرونه او سوچونه کوي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار د سبا په غم کښې مۀ مره! "د سبا مړي به سبا ښخوو".

د سپي لکۍ يې

دا يو عام متل دے معنۍ او مطلب يې دا دے چې کتې څنګه چې د سپي لکۍ کړه ده او نۀ نېغيږي. نو داسې تۀ هم يې. هوښياران وايي چې د سپي لکۍ اکثر کړه وي. او که دېره خواري ورسره وکړے شي خو نېغه به نشي. که په څۀ قالب او نجه کښې دېره موده هم کښېودے شي نو هم نېغه به نۀ شي. هم هغسې کړه به وي. د سپي د لکۍ مثال هوښيارانو د داسې بنيادم سره ورکړے دے. څوک چې داسې وران کارے او بدعمله وي ، يا په بدو لاړو سر وي. که څوک ورته دېر هم نصيحت کوي يا ورته زورنه ، وېناکاني او غصه وکړي. خو بيا هم په هغۀ څۀ اثر نۀ کوي. په نېغه لاره نۀ راکړځي. بلکې هغسې په بدو او کړو لاړو سر وي. نو هوښياران وايي چې دے هم لکه د سپي د لکۍ کوړ دے ، نۀ نېغيږي. بلکې چې څنګه بدخويه يا بدمعاش دے هم داسې به کوړ (بدمعاش) وي او کوړ به پاتې شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او هم د داسې کړو او بدو خلقو په حقله يې استعمالوي او ورته داسې وايي چې: "د سپي لکۍ يې". د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې هم په دې الفاظو داسې وئيلے شي چې"کتے کی دم".

د سترو ځائے شهباز ګرځ دد

قيصه:

شهباز ګرځ د مردان نه نمر ختيز اړخ ته څۀ تخمينا ۳ اتۀ نهۀ ميله پرته د لوئے سړک (مردان صوابی روډ)غاړه ا ۔ باده ده. د شهباز ګرځي نه مخ په نمر خاتۀ صوابی ته سړک تلے دے او يو بل سړک مخ په قطب ر ۰ستم ، بونېر او تر سواته پورې رسېدلے دے. داسې شهباز ګرځ د درېو خاصو علاقو يعنې مردان ، صوابی د بونېر او سوات تر مينځه پرته ده. پخوا په زمانه کښې کله چې لارۍ موټرې نۀ وې نو زياتو خلقو به پياده په قافلو کښې مزلې کولې. د هرې علاقې نه چې به قافلې راتلې نو په شهباز ګرځ کښې به يې دمه کوله. د مردان نه سوات ، بونېر او يا صوابی ته چې به څوک تلل ، د سوات بونېر نه که به څوک راتلل او يا که د صوابی د غاړې نه به څوک تلل راتلل نو خامخا به يې په شهباز ګرځ دمه کولې غالبا ۳ چې قافلو به نيمه لاره ووهله نو شهباز ګرځي ته به رارسېدلے وو. خلق به سترې هم وو او په شهباز ګرځ کښې به ورته د استوکنې ځائے او د خوراک څښاک سامان او ځيزونه هم مېلاوېدل. نو دلته به يې ځکه دمه کوله. د دې حالاتو

له کبله د هغه وخت مشرانو دا متل مشهور کړو. او نن سبا دا متل په داسې موقعو کښې استعمالیږي چرته چې د جا کور په داسې مرکز یا لاره کښې اباد وي چې د هغه ځائے نه ګېرچاپېره علاقو او کلو ته تګ راتګ کیږي، او کله چې په دغه لاره یا مرکز د خپلو خپلوانو او عزیزانو تګ راتګ وي، او هم په دغه کور کښې دمه کوي ، یا په دغه خلقو دعا سلام کوي او تبریږي نو لازمي ده چې څۀ اوښۀ جیلم به هم کوي. ځکه په داسې وخت او حالاتو کښې د کور مالک اخر دې خبرې ته مجبوره شي او داسې وایي چې: شهباز کړه مو تر پښه جوړه کړي ده. "د سترو ځائے شهباز کړه ده".

شهباز کړهٔ پې ته که دې تګ شو
په سترو وایه مې د ورایه سلامونه

د سحر په بانګ کښې مې نوې تپه واورېده

قیصه:

داسې وایي چې پخوا په زمانه کښې یو ساده سړے وؤ. مونځ اودس به یې دېر کم کوز کولو. او د سحر مونځ خو یې چرته په ژوند کښې نۀ وؤ کړے. یو ورځ چرته د سحر د بانګ په وخت راویښ شوے وؤ. نو د سحر بانګ یې واورېدو. د سحر په بانګ کښې د نورو عامو بانګونو نه یوه کلمه زیاته ده. دې غړي چې کله هغه کلمه واورېده نو دېر حیرانه شو. سحر وختي د کوره راوتو او چې څوک به یې لیدل نو هغه به یې خبرووه چې نن مې د سحر په بانګ کښې نوې تپه واورېده. خلق چې کله د دۀ په مطلب پوهه شول نو بیا یې دے پوهه کړو چې ساده سړیه په بانګ کښې تپې نۀ وي. دا خو د پخوا نه د بانګ یوه حصه او کلمه ده. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک څۀ نااشنا او د حیرانتیا څۀ خبره واوري ، یا څۀ داسې کار ووینې چې هغۀ ته نااشنا معلومیږي. نو په داسې وخت هغه دا متل وراندې کوي او داسې وایي چې یار دا خو لکه چې: "د سحر په بانګ کښې نوې تپه وي".

د سحر وخت وؤ لېونیه
په نوي طرز د مې لیانو وو بانګونه

د څربو غوښو ښوروا هم خوږ وي

غوښه یا غوښې خوراک خو نن سبا د غریبو د وس خبره نۀ ده. غټ غټ خانان او نوابان یې خوږے شي. کټې د عامو خلقو د وس او بس نه وتلې خبره ده. غوښه څربه یعنې تروتازه او ښۀ ښکلې هم وي او ریښه یعنې تپه تیږه ، کمزورې جیجړې او هډوکي هم. خو چې څربه او ښائسته غوښه وي نو هغه خلق خوښوي. ځکه چې داسې تروتازه څربه او ښائسته غوښه خوږه یعنې په خوند او مزه پوره وي. نو لازمي ده چې د داسې غوښو ښوروا به هم خوږه وي. بل خوا تپه تیږه او جیجړه غوښه نۀ خپله خوږه او مزه ناکه وي او نۀ یې ښوروا د خوند او د مزې وي. ځکه یې خلق نۀ خوښوي.

د غوښو دا څورب والے خوند رنګ او خوږوالے مشرانو په دې متل کښې ستائیلے دے. او مطلب تر پښه دا دے چې څوک داسې مالداره سامې او مخاویز بنده وي نود هغۀ مثال لکه د څربو غوښو وي. د هغۀ خبرې ، کړۀ وړۀ او د هغۀ کارونه هر چا ته ښۀ (خواړۀ) وي. د هغۀ خبر ښېکړه څۀ چې د هغۀ بد هم په خلقو خواړۀ لکي. اونن سبا دا متل مشران په داسې حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې څوک داسې د مالداره بنده یا مالداره کورنی په څۀ معمولي خبره یا په څۀ لږ کار هم د هغوي صفتونه کوي ، یا د هغوي بد هم په ښۀ حسابوي ، یا یې په لږ شي دېر خوشحالیږي. نو په داسې وخت مشران وایي چې اهو! "د څربو غوښو ښوروا هم خوږه وي".

د سر دپاسه سر وي

دا د هوښيارانو د ازمېښتونو او تجربو نه نچوړ شوے يو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. په دې قول کښې هوښيارانو هغه حالات په کوته کړي دي کوم چې زمونږ په امروزه ژوند کښې ليدے او کټے شي. دې دنيا کښې ډېر خلق داسې شته چې هغوي ځان ته څۀ وايي. يعنې خپل ځان ډېر اوچت او د نور مخلوق نه خپل حېثيت او مقام جدا او غوره ګڼي. د هغوي په ذهن او زړۀ کښې دا وي چې ګڼي که يم نو زۀ يم. دا نور خلق زما نه لاندې او کمزوري يا نيچ دي. داسې خلق د ژوند په هره لاره کښې ليدے او کټے شي. که د سرکار کور دے ، سياست ، تعليم ، د علاقې ، کلي او که د جم کاونډ په نيز وکټے شي نو هر ځائے داسې خلق موجود وي. چې په دې مرض کښې مريضان دي. تر دې چې عالمان او مولويان صاحبان هم د جا نه کم نۀ دي. په دوي کښې هم ډېرې علامې داسې شته چې په ربښتيا عجيبه علامې دي. د بنيادم دا "که يم خو زۀ يم" والا غرور ، تکبر دا فلسفه او نشه د ماتولو او د سر نه د کوزولو دپاره هوښيارانو دا متل مشهور کړے دے او مطلب ترېنه دا دے چې بنيادم ډېر کمزورے او عاجزه شے دے. که څوک ډېر هم لوئے عالم جوړ شي خو دا ډېره لويه دنيا ده بل به څوک د دۀ دپاسه موجود وي. داسې که څوک ډېر غټ او مضبوط پهلوان وي خو د هغۀ دپاسه څوک داسې راشي چې په مقابله کښې يې راوغورځوي.داسې د ژوند په هر اړخ کښې څوک داسې دعوى ، نۀ شي لرلے چې ګڼي په دې لر کښې که دے نو بس دا يو دے.

دا متل د کافي کرښه ده. حقيقت دا دے چې په دنيا کښې داسې سر نۀ دے پاتې شوے چې د هغۀ دپاسه سر نۀ وي راغلي. نن سبا هم د داسې مغروره او نشه مارو خلقو په حقله استعمالېږي. چرته چې څوک ډېر په نشه او غرور کښې وي. نۀ په جا تري او نۀ پرانيزي. بس په خپل غرور او تکبر کښې مست وي. نو مشران ورته داسې وايي چې هلکه دومره غرور مۀ کوه ، د غرور سر مدام لاندې وي. ځکه چې: "د سر دپاسه سر وي".

د غـــــــــرور ســـــــــر شـــــــــي اخـــــــــر لانـــــــــدې
د ســـــــــر دپاســـــــــه الله ســـــــــر پيـــــــــدا کوينـــــــــه

د سلو بللو ځائے وي او د يو نابللي نۀ وي

دا يو عام او ساده متل د معنى ، ى او مطلب يې سره يو دي. په بنادى کښې چې کله څوک مېلمنو ته دعوت ورکړي نو د کور خلق مېلمنو ته د خدمت دپاره نېغ ولاړ وي. د هر کلي او راشه درشه نه واخلي تر دوډى خوړلو پورې د هر چا دا کوشش وي چې د مېلمنو بۀ خدمت وکړي. چې څوک ترېنه خفه لاړ نۀ شي. اکثر د بنادى والا کورنى د خلقو جدا جدا دوستان او خپل خپلوان راغلي وي. ځکه د هر بنده دا کوشش وي چې د خپلې خپلې دلې بۀ خدمت وکړي. په داسې موقعو يعنې بنادو کښې په سوونو خلق بللے شي. او خدمت يې کولے شي. خو که دغه مېدان ته يو داسې نابللے بنده ورغلو د هغۀ نۀ ه ، هسې هر کلے وي ، نۀ هغه شان خدمت او نۀ تپوس. او نۀ ورته څوک د عزت په سترګه کوري. بلکې د هر چا سترګې ورته په تندي کښې او نيتونه خراب وي. مطلب دا شو چې داسې په بنادو او خپراتونو کښې که سل کسه وبللے شي نو د هغوي قدر عزت او بۀ خيال خاطر کولے او ساتلے شي. خو که يو نابللے راغے نو د هغۀ نۀ هغه شان خدمت وي او نۀ هغه رنګ قدر عزت ، بلکې د هر چا د سترګو ازغے وي. او په زړۀ يې نۀ ځائيږي. د بللي او نابللي دا تفاوت ، يعنې قدر عزت او بې عزتي مشرانو په دې متل کښې ستائيلې دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼي قدر په خپل لاس کښې دے. که څوک دې په قدر عزت او درناوي سره بلي نو بۀ ، ګڼي نابللے د جا تالي ته مۀ وردانګه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک نابللے د بل په تالي کښې وردانګي او بيا عزت ترېنه هم غواړي ، يا ترېنه څۀ ګيله شکوه کوي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې خانه په خپل کور بۀ درووند خوړ کښېنه ، نابللے د جا تالي ته مۀ وردانګه ځکه چې: "د سلو بللو ځائے وي خو د يو نابللي نۀ وي".

د ســـــــــلو ســـــــــل پېنـــــــــدې بـــــــــه ځـــــــــائے شـــــــــي
ازغـــــــــے د ســـــــــترګو نـــــــــابللے ســـــــــرے شـــــــــينه

د سېره څو پخيږي — يا — دنيا څو ډانګه ده

دا يو عام متل د معنـ ی او مطلب يې جدا جدا د معنـ ی يې خو دا جوړيږي چې ګنې د سېر اوړو نه څو ډوډۍ پخيږي او دا سوال چې څوک د چا نه وکړي نو هغه ورته د مزاح او ټوقې په توګه وايي چې څو ترېنه پخوې ، نو پخيږي ، يا داسې څوک تپوس وکړي چې دنيا څو ډانګه ده. نو هم ورته په ټوقه کښې داسې وئيلے شي چې ډانګ ډانګ بويه. يعني ډانګ لوئے هم کېدے شي او وړوکے هم. خو مطلب يې د دې معنې نه جدا دے. او هغه دا چې داسې څوک په څۀ کار روزګار کښې د څۀ ازمېښت او امتحان نه تېر شي نو هله هغۀ ته د هغه کار روزګار يا د ذمه وارۍ پته ولګي او پوهه شي. يعني هغۀ ته د دنيا د کار روزګار پته ولګي. چې دنيا او د دنيا کار روزګار او ذمه واري څۀ شے دے. او دا روزګار يعني دود دستور او کلي څنګه کولے شي او څنګه شړلے شي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے.

دا متل په داسې حالاتو او د داسې بنده په حقله استعماليږي چرته چې څوک د غېر ذمه وارۍ او بې پروايۍ ژوند کوي. او چې کله ورپاندې خپله د ذمه وارۍ بوج راشي. د ګڼې وټې او د روزګار لپاره پرېشانه او سرګردانه شي نو هغۀ ته هوښياران دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "د سېره څو پخيږي" يا "دنيا څو ډانګه ده".

کـــــــه ځـــــــان خبـــــــرول پـــــــه مطلـــــــب غـــــــواړې
د ســـــــېر اوړو نـــــــه د ډوډو وکـــــــړه پوښـــــــتنه

د سېره پرې پارسنګ دروند شو

سېر د پخوا زمانې د وزن تللو او معلومولو يوه پيمانه وه. څلوېښت سېره به يو من وؤ. څلور سېره به يوه دړۍ وه. په يو سېر کښې به څلور پاوه وؤ. او په يو پاؤ کښې څلور چټاکۍ وې. په يوه چټاکۍ کښې به پنځه تولې وې او په يوه توله کښې به دولس سرسايې وې. هغه زمانه کښې به د وزن تللو دپاره د ډنډې والاتله استعمالېدله. يعني د لرګي ډنډې ته به دواړو غاړو ته په پړو باندې د تلې چاپړي تړلې وؤ. يو خو به د جوړښت له کبله دا دواړه چاپړي په وزن کښې يو برابر نۀ وو او بل به د تړلو پړو د وزن له کبله د تلې دواړه غاړې په وزن برابر نۀ وې. د تلې د وزن برابرولو دپاره به خلقو د تلې سپکې غاړې ته څۀ زياتي وزن (وړوکے شان کاڼے) تړلو او يا کېښودلو. يعني په دې به يې د دواړو غاړو يا دواړو چاپړو وزن برابرولو. دې زياتي وزن ته پارسنګ وئيلے شي. په متل کښې د سېر او پارسنګ نه مطلب زياتي وزن او يا زياتي خرچه ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې په څۀ شي باندې د اصل زر ، يا د اصل وزن نه خرچه زياته وشوه ، يا خرچه پرې زياته راغله. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې د تلې په يوه غاړه کښې څۀ اصل زر (سېر) کېښودلے شي او په بله غاړه کښې ورپسې شوې خرچه (پارسنګ) واچولے شي. او د اصل زر (سېر) نه ورپسې خرچه (پارسنګ) دروند شي. مطلب دا چې چرته داسې د لږو پيسو کار وي او هغې باندې خرچه زياته راشي يا په څۀ کار کښې فائده لږه وي. تاوان ، محنت او کړاؤ ورپسې زيات وشي ، يا د لږ وخت کار وي خو هغې پسې هم محنت او وخت زيات ولګي نو مشران وايي چې دا داسې شوه لکه چې د سېره پرې پارسنګ دروند شي. او چرته چې داسې حالات جوړ شي يا چا ته ورپېښ شي نو هغوي دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د سېره يې پارسنګ دروند شو" ، يا "د اوړو نه پرې بونړه زيات شو".

د شادو زخم ترېنه جوړ شو

قيصه:

د شادوګانو دا عادت وي چې د يو بل سر او ملا کښې لاسونه او ګوتې وهي. لکه چې د کور مېرمنې يوې بلې له او يا ماشومانو له په سر کښې سپکې ګوري. داسې د شادوګانو عادت وي چې دوي ارو مرو يو بل له سرونه او ملاګانې ګروي. د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په يو ځنګل کښې د يو شادوګي ملا زخمي شوې وه. شادوګانو ورله هغه په ګرولو ښۀ زخمي کړه. چې زخم ه هيله لږ ښۀ شو او خـ ـله به يې ورکړه نو بيا به نورو شادوګانو په ګرولو زخم تازه کړو. او داسې په د شادو زخم د ښۀ کېدو په ځائے ښۀ

زخمي شو. مشرانو د شادوګانو هم دا حالات او عادات په دې متل کښې څرګنده کړي او مشهور کړي دي. او مطلب يې دا دے چې که داسې د چا څۀ زخم وي او هغه يې په ګرولو خراب کړي ، يا د موسم او حالاتو له کبله خراب شي ، يا په ډېرو خبرو او پام ګرځولو يعنې هر چاته خپل زخم ښائي او ژړا فرياد کوي ، يا د چا داسې څۀ مسئله او شخړه وي چې هغه د رقيبانو او اغيارو په لمسون او ګوتو وهلو نۀ حل کيږي او نۀ رغيږي. بلکې لا زياتيږي يا ورانيږي. نو په داسې حالاتو کښې او داسې بنده ته مشران وايي چې هلکه ستا دا زخم خو نۀ ښۀ کيږي ، يا ستا دا شخړه خو نۀ حل کيږي. بلکې لا نور خرابيږي او زياتيږي. نو دا مطلب ورته داسې څرګندوي او وايي چې: "د شادو زخم ترېنه جوړ شو".

د شوم او سخي يوه برخه وي

دا يو عام او ساده متل دے چې معنی او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. سخي هغه غړي ته وئېلے شي چې څوک ښۀ په ازاد مټ خېر خېرات ورکوي. په خپلو پردو ښې خرچې کوي. ښۀ مېلمه دوست وي د ضرورت او حاجت په وخت هر چا له لاس ورکوي ، مدد او مرسته ورسره کوي. بل خوا شوم هغه چا ته وئېلے شي چې ډېر په تنګ زړۀ او په حساب کتاب سره خرچې کوي. په ځان سخته او تکليف تېروي خو د پېسې سر نۀ خوګوي. که چرته د سلو روپو کار وي نو هلته کوشش کوي چې په شلو روپو کار وباسي. شپه او ورځ په دې فکرونو او سوچونو کښې وي چې د څۀ نه څۀ بچت وکړي. او څۀ مال دولت راجمع کړي. خو هوښياران وايي چې د فطرت او د الله پاک د قدرت دا فېصلې وي چې د کال په اخره کښې د شوم او د سخي برخه برابر شي. يعنې يو خوا سخي بنيادم ټول کال ښۀ ډېرې خرچې کوي ، خېراتونه او ذکواتونه ورکوي ، د غريبو ، ضرورتمندو او حاجتمندو ضرورتونه پوره کوي بل خوا شوم بنده ټول کال په نه ول زول تېر کړي. نۀ په ځان ، نۀ په کور او نۀ غريبو څۀ خېر خېرات کوي او نۀ د چا په ښۀ راځي. ټول کال د جمعې او بچت په سوچونو او فکرونو کښې تېر کړي. خو د کال په اخره کښې ورته الله پاک څۀ داسې حادثه ، مسئله ، څۀ شخړه او يا څۀ داسې کار ورپېښ کړي چې د ټول کال هغه بچت يې په يو وار او يو ځائے خرچه شي. او يا ترېنه په څۀ داسې لار ، يا کار کښې خرچه شي چې بيا ورپسې د ارمانه لاسونه او ګوتې مروړي خو څۀ کولے نۀ شي. مطلب دا چې د کال ټوله خواري يې اوبۀ يوسي. هم دا حالات او مطلب هوښيارانو په دې متل کښې مشهور کړي او وړاندې کړي دي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې څوک شوم بنيادم وي او د هغۀ نه څۀ د شومتيا او کنجوسۍ ار کصدا او يا په خطايۍ سره وشي ، يا څوک داسې د څۀ مجبورۍ له کبله څۀ شومتيا کوي. نو داسې شوم بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار دومره شومتيا مۀ کوه هسې هم! "د شوم او د سخي يو برخه وي".

برخـــــــــه د شـــــــــوم د ســـــــــخي يـــــــــو شـــــــــي
پـــــــه يـــــــو ځـــــــائے نـــــــۀ شـــــــي د ســـــــتوان شـــــــپيلي کار ونـــــــه

د ښوروا نه مرور او غوښه مې په خ ، له

د دې متل نه مطلب دا دے چې ګټې غوښه مې خوښه ده. نو هغه خورم او ښوروا مې نۀ ده خوښه ، نو ځکه ترېنه مرور يم. يعنې غوښه خورم او ښوروا نۀ خورم. مطلب دا چې ګټې کوم شے مې خوښ وي. نو هغه به خورم او چې څۀ مې خوښ نۀ وي نو د هغې نه به ځان مرور کړم. د دې معنو تر لاندې مطلب دا شو چې څوک داسې د چا په څۀ کار کښې يا په خبره کښې د خپل مطلب ، غرض ، خوښې او د فائدې کار ، څۀ شے او يا خبره واخلي او نور پرېږدي. يعنې د خپلې فائدې حصه يا د خپل مطلب او غرض کار او خبره ومني او خپله کړي. او نور کار يا نوره حصه باندې ځان ناغرضه يا ناخبره کړي ، يا په هغه وخت ځان خفه او مرور کړي. نو په داسې وخت هغه بنده ته خلق وايي چې ښه يار چې ستا د خوښې او فائدې کار وؤ نو ښۀ په شوق لګيا وې او چې ستا غرض او مطلب پوره شو نو اوس بهانې جوړوې. کله ځان خفه کوې او کله مرور. هم دا مطلب ورته خلق په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د ښوروا نه مرور او غوښه مې په خ ، له" په اردو ژبه کښې هم داسې يو متل مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. هغه داسې وئېلے شي چې: "ميٹا ميٹا هپ هپ اور کڑوا کڑوا تو تو".

د عمر روژه وه په غ ، لو ماته شوه

دا يو عام متل دے او مطلب يې دا دے چې ګنې د چا د څۀ کار کولو نه يا د څۀ خبرې نه پرهېز وي. يعنې په ځان يې د څۀ بد او ناروا کارونو او يا د څۀ لغړو او فحش خبرو نه پابندي اېښودې وي. چې ګنې دا کار او دا خبرې به نۀ کوم. او يا يې ټول عمر لکه د روژې پوندې په تقوی ، او پرهېز کښې تېر کړي وي. يعنې لکه د ملا بهادر په شان ټول عمر په اودس کښې ګرځېدلے وي. خو په اخر کښې ترېنه څۀ داسې غلطي وشي يا يې لاس پښه خطا شي او څۀ د ګناه کار وشي ، يا يې د خ ، ○ ، لې نه څۀ غلطه خبره او کنځل وېنا وخېژي. نو هوښياران وايي چې دا داسې شوه لکه چې روژه څوک په حرامو او مردارو څيزونو ماته کړي. هم د دې مطلب لپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا دا متل په داسې موقعو او حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک په خپله ګناه ، څۀ غلط کار او يا خبرې باندې ، يعنې په خپلو کړو ستومانه ، شرمنده او ملامته وي. نو د خپلې ملامتيا ، خطا ، پرتيا او د ګناه منلو اقرار په دې متل کښې کوي او داسې وايي چې يا د "عمر روژه مې ماته کړه او هغه هم په غ ، لو" ، يا ورته نور خلق د زورنې او پېغور په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي: د "عمر روژه دې په غ ، لو ماته کړه".

ديغ په لاس کښې هسې ټ ، وک لوئے ښکاري

دا يو عام او ساده متل دے. وک معن ، ی خو په اصل کښې د جوارو د ډوډۍ ټوټې يا ټکړې ته وايي. خو په عامه ژبه کښې ټ ، وک د هرې ډوډۍ ټکړې ته وئېلے شي. مطلب د متل دا دے چې که غريب بنده ته چرته يو ټ ، وک ډوډۍ مېلاؤ شي او اکثر چې هغه وک د جوارو س ، کړک وي نو بيا هم نورو خلقو ته هغه ټ ، وک لوئے ښکاري. هم داسې اول خو چا غريب سره څۀ مال دولت وي نه. او که چرې د چا غريب سره څۀ پېسه ټکه راشي نو هغه غريب بيا نورو خلقو سترګو کښې اخستے وي. د هغۀ ه ، غه مال يا پېسه ورته لويه بلا (لوئے ټ ، وک) ښکاري. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې څوک غريب سړے خلق په سترګو کښې واخلي او په هغۀ بحثونه کولے شي نو په داسې وخت هغه غريب سړے خپل حال احوال داسې بيانوي او وايي چې يار مونږه خو د پولۍ پړق ته ناست يو. دا خو هسې خلقو ته د "غريب په لاس کښې ټ ، وک لوئے ښکاري".

دنيـــــا غريـــــب تـــــه کـــــتے نـــــۀ شـــــي
پـــــه لاس کښـــــې ټ ، ـــــوک د غريـــــب لـــــوئے ښـــــکاري مئينـــــه

د غل په ږيره کښې خس وي

قيصه:

دا ډېر مشهور متل دے او قيصه يې هم ښۀ مشهوره او عامو خلقو ته ښۀ معلومه ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې درې غړي د غلا په مقدمه کښې ګېر شول. دوي چې کله قاضي صېب ته ورمخکښې شول نو قاضي ترېنه تپوسونه کول چې غلا چا کړې ده. درې واړه د غلا نه انکاري وو. د درېواړو يو ځواب وؤ. چې مونږه نۀ يو خبر چا به کړي وي. هغه قاضي ډېر هوښيار او پوهه بنيادم وؤ. هغۀ ورته وئېل که چرې تاسو رښتيا نۀ وايئ نو هم ماته پته ولکېده چې غلا چا کړې ده. هغه غلو ترېنه تپوس وکړو چې صېب هغه څنګه. قاضي ورته وئېل چې چا غلا کړې وي نو د هغۀ په ږيره کښې خس يعنې خسنے انخښتې وي. د دې وېنا په اورېدو سره هغه درېو کښې يو کس زر په خپلې ږيرې باندې لاس راښکلو. چې ګنې که خسنے پکښې وي چې صفا يې کړي او داسې قاضي صېب د هغۀ په دې حرکت باندې خپل مراد او مقصد ته ورسېدو او هغه کس يې ګېر کړو. چې بيا وروستو هغه په خپلو کړو داده شو. يعنې د غلا اقرار يې وکړو. او بيا سزاوار په ځندان کښې بنديوان شو. داسې د قاضي صېب هغه هوښياره خبره يا قول مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا هم که دې څوک په څۀ جـ ـرم يا په څۀ غلط کار کښې ګېر شي نو اکثر د هغۀ نه هم د تپوس پوښتنې په وخت داسې څۀ حرکت وشي چې هغه هوښيارانو او قاضيانو (ججانو) ته اشاره جوړه شي.او داسې هغه بنده هم مجرم ، ګرم او سز اوار وګرځولے شي. په داسې وخت او داسې خلقو ته دا متل وړاندې کيږي. او داسې وئيلے شي چې: "د غل په ږيره کښې خس وي".

لکه ژړا چې پېژندے شي
داسې د غل په ږيره خس ليدلے شينه

د کال خواري يې اوبو يوړه

دا يو عام او ساده متل دے. چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. مطلب يې دا دے چې ګڼې د چا محنت ، کړاؤ او خواري بې ځايه ، بې فائدې او عبث لاړه شي. يعنې داسې که څوک د څۀ کار دپاره پوره کال ښۀ خواري او محنت (ښۀ تيارے) وکړي. او د کال په اخره کښې د څۀ حادثې له کبله هغه کار اونۀ شي ، يا د څۀ مجبورۍ له کبله نيمګړے پاتې شي يا وران او خراب شي يا څوک ټول کال د چا خدمت او پالنه وکړي. او د هغۀ محنت ، خدمت او نوکري چاکري څۀ ځائے اونۀ نيسي ، يا يې مننه او ستائنه نۀ وي ، يا څوک د څۀ شي يا د چا سره ښۀ خواري او محنت وکړي خو په اخره کښې د هغه شي نه يا د هغه بنيادم نه ورته هېڅ فائده او ګټه مېلاؤ نۀ شي. لنډا دا چې د دې ټولو معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې چرته د چا بنده محنت ، خدمت ، کړاؤ او خواري بې فائدې او عبث لاړه شي. نو دا داسې شوه لکه چې د هغۀ خواري په اوبو لاهوشوه. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل مشهور کړے دے. او په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې د چا محنت او خواري بې ځايه او عبث لاړه شي. نۀ يې منځته وي او نۀ مننه. نو په داسې وخت خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د کال خواري يې اوبو يوړه".

د کـــــــال خـــــــواري يـــــــې اوبـــــــۀ يوســـــــي
لکـــــه هنـــــدو چـــــې تـــــش پـــــه تـــــوره ســـــتړے شـــــينه

د کانګړې په ټس کښې لاړې بټګرامه

قيصه:

هسې خو د چارسدې ټوله ضلع تر مهمندو ايجنسۍ پورې د هشتنګر يا هشتنغر په نامه يادېږي. (يعنې د هشتنغر علاقه) يادېږي. خو د چارسدې نه مخ په قطب تر شبقدر يا شوقدرډېرۍ پورې علاقه د دواوې په نامه مشهوره ده. وايي چې پخوا زمانه کښې په دې علاقه کښې دوه اويا (۷۲) کلي اباد وو. نو ځکه د دواوې په نامه مشهوره شوه. کېدے شي چې نن سبا ورکښې د سلو نه زيات کلي اباد وي. د دې علاقې لوئے سړک د چارسدې نه شروع کيږي او مخ په قطب غاړه تر شوقدر ډېرۍ رسېدلے دے. د دې سړک دواړو غاړو ته ډېر کلي اباد دي. په دې کښې بټګرام او کانګړه کلي د يو بل سره نزدې نزدې اباد دي. وئيلے شي چې دا د دې علاقې پخواني او زاړۀ کلي دي. او دا متل هم د دې کلو په حقله مشهور شوے دے. په قيصه کښې داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې د غلو يا د ډاکوانو يوې ډلې ته دا خبر رسېدلے وؤ چې د کانګړې کلي هندوانو سره ډېر مال دولت جمع شوے دے. د دې خبر له کبله د ډاکوانو سردار دا فېصله وکړه چې په کانګړې ډاکه وغورځوي. په کومه شپه چې ډاکوان د ډاکې دپاره کانګړې ته ورتلل. نو دپاسه ورباندې طوفان او باران شروع شو. د طوفان له کبله د ډاکوانو نه د کانګړې لاره خطا شوه او د کانګړې په ځائے په بټګرام ورغلل طوفاني باران او تـ ـندۍ له کبله چې د ډاکوانو په لاسو څۀ ورغلل نو هغه يې په مخه کړل. او د هغه ځايه يې پښې سپکې کړې. په سبا له په ټوله علاقه کښې دا خبر خور شو چې بېګاه په بټګرام ډاکه غورځېدلې وه. او ډاکوانو ډېر مال حال لوټ کړے دے. کله چې دا خبر ډاکوانو ته ورسېدو نو په هغه وخت د ډاکوانو د هغه سردار د خـ ـلې نه دا خبره وخته چې: د کانګړې په ټس کښې لاړې بټګرامه. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې يو بنيادم د چا بل چا له امله يا د لاسه په څه تکليف ، غم او مصيبت کښې کېږ شي ، يا ورته څۀ زيان او تاوان ورسي. يعنې د بل په تبلو کښې چې ځوک وسوزي. نو په داسې وخت او موقع د هغه بنده په حقله مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د کانکړې په تس کښې لاړې بټکرامه".

د کـــــــــانکړې هســـــــــې نـــــــــوم بـــــــــدنام شـــــــــو
د بټکـــــــــرام پـــــــــه قســـــــــمت لېـــــــــک وۏ تکليفونـــــــــه

د کلي اوځه خو د نرخه مۀ اوځه

قيصه:

وائې چې پخوا په زمانه کښې يو سړي د خپل کلي نه کډه وکړو. او په بل کلي کښې مېشتۀ شو سړي يوه ل ۰ ور خپلو تربورانو کښې کوږدن کړې وه. څۀ موده پس هغه تربورانو د جينې د وادۀ لپاره تپوس وکړو. دې سړي وربانديې د وادۀ خرڅ خوراک ډېر زيات کېښودو. هغه خپلوانو يې ډېرښ زاړي کول چې غريب خلق يې ۰ و ډېر زياتې راسره مۀ کوه. خو چې څۀ دستور وي. هغه به پوره کړو. چې په خوشحالي سره دا کار سر ته شي. خو هغه سړي هم خپله خبره نېولې وه. چې دا به پوره کوئ نو هله به ډولي وړئ. اخر يوه ورځ ورله هغه تربورانو د کلي نه جرګه راوسته. هغې جرګې والو ورته هم منت زاري کول چې کوره ستا عزيزان دي. او تا ته معلوم خلق دي چې دومره وس طاقت يې نشته. او ته چې څومره خرڅ خوراک غواړې نو دا زمونږ د کلي نرخ او دود دستور هم نۀ دے. هغه سړي ورته وئېل چې زۀ د کلي نه وتلے يم. زۀ اوس د کلي په دود دستور څۀ کوم. ما له خپل خرڅ خوراک پوره پکار دے. نو بيا وادۀ کوئ. د جرګې يو مشر ورته وئېل چې خانه! د کلي اوځه خو د نرخه مۀ اوځه. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا دا متل د هر قسمه سوداګانو په وخت او موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې ځوک په نرخ کښې څه لاندے باندے کوي يا د نرخ نه غېره يا سېوا سودا خرڅول غواړي ، يا ځوک د دود دستور غم بادي او عزيزوالي نه څټ وباسي. يعنې غم بادي کول نۀ غواړي. نو هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "د کلي اوځه خو د نرخه مۀ اوځه".

د دود دســـــــــــتور او نرخـــــــــــه مـــــــــــۀ وځـــــــــــه
خبـــــــــــر دے کـــــــــــه کـــــــــــلے کـــــــــــور مهلـــــــــــت دې پـــــــــــاتې شـــــــــــينه

د کلي خوار په هندوستان هم خوار وي

قيصه:

هوښياران وايي چې خوار غريب په هر ځائے خوار وي. د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د پښتونخوا د سيمې نه يو خوار غريب سړے د نېستې له کبله مزدورې لپاره هندوستان ته تلے وۏ. دا غريب بې تعليمه او بې هنره ساده باده بنيادم وۏ. د پښتنو سيمه خو هسې هم په تعليم او هنر کښې وروسته پاتې ده. او بيا هغه زمانه کښې خو د علم او هنر ډېر زيات کمه وۏ. دا سړے چې کله په ټکرو هندوستان ته ورسېدو نو هلته ورته څۀ خاص کار روزګار نۀ مېلاوېدو. دې غريب ډېر کوشش وکړو خو څۀ نوکري ورته مېلاۏ نۀ شوه. اخر د رېل کاډي په يو اډه (سټېشن) يې مزدوري دياړي شروع کړه. او هم هلته د پټرۍ په غاړه په يوه جونګړه کښې ډېره شو. د ورځې به يې دياړي مزدوري کوله او شپه به يې په هغه جونګړه کښې تېرولې. وايي چې يوه ورځ د هغۀ يو کلي والا خان چې د سېل دپاره هندوستان ته تلے وۏ. په هغه سټېشن د دې کلي والا سره مېلاۏ شو. په ليدو دواړه ډېر خوشحاله شو او تر ډېره وخته پورې د يو بل نه کولېدل او زارېدل. دې شته من خان د دې غريب سړي نه تپوس پوښتنه کول چې شپې ورځې دې څنګه تېريږي او څۀ روزګار کوې. هغۀ ورته خپلې سترې ستومانه شروع کړې. وئېل يې چې ټوله ورځ په دې سټېشن ټکرې خورم ، کله مزدوري وي او کله نا. او په دې جونګړه کښې په غنو شپې سبا کووم. هغه کلي والا يې د ډۀ په دې حال ډېر زهيره او غمژن شو.په هغه وخت يې دا خبره د خ ۰ لې وخته چې د کلي خوار په هندوستان هم خوار وي. او داسې وايي چې دا وينا د هغه وخت مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب يې دا دے چې کټې خوار په هر ځائے خوار وي.

نن سبا يې هم مشران د دې مطلب دپاره په داسې حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې څوک غريب بنده د نېستۍ له کبله بل کلي ته يا بلې علاقې ته يا بل وطن ته هجرت وکړي او حالات يې بيا هم بدل نهٔ شي ، يا نور هم خوار شي نو په داسې وخت که هغه بنيادم خپله نېستي يا حال بيانوي يا نور خلق د هغهٔ په حقله څهٔ خبره کوي. نو د هغه حالات په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د کلي خوار په هندوستان هم خوار وي".

د کم عقلو د يارۍ نه هوښياره دښمن ښهٔ وي

قيصه:

د دې متل په حقله ډېره مشهوره قيصۍ ده. چې زياتو خلقو ته معلومه ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو غريب مزدورکار سړے ځنګل ته د لرګو وهلو او راوړلو دپاره تلے وؤ. هلته څهٔ ګوري چې يو ميلو (ريچهه) په (لنګ). ړکۍ کښې انخښتے وؤ. دې سړي هغه ميلو د کړکۍ نه ازاد کړو. د خپل څادر نه يې ريخه اوسېزله او په ژوبل شوې پښه يې ورله ګرمه ايره او پټۍ اوتړله. هغه ميلو ډېر په احسان مندو او خوږو سترګو د دې سړي شکريه ادا کړه. او په ځنګل کښې غېب شو. بيا چې به کله دا سړے ځنګل ته لاړو نو هغه ميلو به ورله هم راغے او څهٔ وخت به دواړو په يو ځائے تېرولو. کله چې به سړي لرګي پنډ کړل نو ميلو به په خپله مخه لاړو او سړے به خپل کلي ته. داسې د دوي دوستانه روانه وه. يوه ورځ دا سړے په ځنګل کښې لرګو پسې ګرځېدو. هغه ميلو هم ورسره وؤ. څهٔ شېبه پس دواړه د يو وني لاندې کښېناستل. دا سړے سترے شوے وؤ نو اودهٔ شو او ميلو دوست يې سر ته د حفاظت دپاره ناست وؤ. دې دوران کښې يو مچ راغے او د سړي په مخ کښېناستو. دې ميلو به هغه مچ شړلو او هغه مچ به بيا بيا راتلو او د هغه سړي په مخ او سر به کښېناستلو. ميلو د مچ په شړلو دومره تنګ شو چې د مچ د مرګ بېنا او تکل يې وکړو. وايي چې يو ښهٔ غټ کاڼے يې راواخستو او کله چې مچ د سړي په مخ کښېناستو نو ميلو ورله هغه کاڼے راوبغوؤ. مچ خو لاړو والوتو خو د سړي سر دړې وړې شو او په ځائے مړ شو. د کم عقل دوست د ښېګړې له کبله سړے ځائے ته ورسېدو. دا قيصه الله زده چې دروغ ده او که رښتيا. خو زما خپل دا خيال دے چې دا يوه فرضي قيصۍ صرف د سبق او د نصيحت دپاره چا هوښيار بنده جوړه کړې ده. او د انجام يا نتيجې له کبله بيا مشرانو ترېنه متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

دا متل نن سبا د داسې کم عقلو خلقو په حقله ، په خصوصي توګه د داسې دوستانو په حقله استعمالېږي چې د هغوي د کم عقلتيا او بې وقوفتيا له کبله چا دوست ته څهٔ زيان ، نقصان او تاوان ورسي ، يا په څهٔ مصيبت ، تکليف او غم کښې راګېر شي. نو په داسې وخت او موقع دا متل وړاندې کېږي او داسې وئېلے شي چې: "د کم عقلو د يارۍ نه هوښياره دښمن ښهٔ وي". او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې: "د کم عقلو د يارۍ نه د هوښيارو دښمني ښهٔ ده".

هوښيار دښمن شي ترېنه غوره
د بې وقوفه په يارۍ مهٔ کړه نازونه

د کوره په صحرا خوشحاله يې

دا د هوښيارانو يو قول دے. چې د متل په توګه هم مشهور شوے دے. مطلب يې دا دے چې ګڼې زړهٔ دې په کور کښې او د کور په کار روزګار کښې نهٔ لګي. او د کور نه بهر په وخت تېرولو ښهٔ خوشحاله يې. اکثر ماشومان هلکان او زلمي د کور نه بهر په خپلو لوبو او لوړغو کښې بوخت ښهٔ خوشحاله وي ، يا زلمي زيات وخت د کور نه بهر د يارانو او دوستانو په مجلس کښې په ګپو شپو کښې ښهٔ خوشحاله وي. داسې ماشومانو او زلمو ته اکثر خپل مشران د نصيحت او زورنې په وخت دا متل وړاندې کوي ، يا د هغوي خيال او پام کور او خپل کار روزګار ته د راګرځولو دپاره داسې وايي چې هلکه! کور ته دې بالکل شا کړې ده. لږ دې خپل کور او کار روزګار ته هم خيال او پام کوه. د کور درسره هېڅ غم نشته بس! "د کوره په صحرا خوشحاله يې".

د کونډې ځويه څۀ خو بويه

دا يو عام او ساده متل دے۔ زمونږه په معاشره کښې اکثر داسې کونډې مېرمنې ليدے او کټے شي چې هغوي اکثر د خلقو کره کارونه او خواری، مزدوری کوي۔ خو خپل بچي دېر په مزو او نازونو ساتي۔ يعنې داسې کونډې په ځان سختي ، لوړې او تندې تېروي۔ خو خپل بچي د هر تکليف او کراؤ نه بچ ساتي۔ داسې ماشومان چې کله لوئے شي۔ نو په دوي کښې دېر کم کوز داسې وي چې هغوي ځان وپېژني۔ خپلې غريبي او لاچاری، ته کوري۔ شوک تعليم حاصل کړي ، شوک نوکری او مزدوری کوي ، شوک څۀ کار روزګار روان کړي۔ د خپل ځاډره سره پښې غوزوي او خپله ګزاره او ګزران کوي۔ بل خوا په دوي کښې اکثر داسې هم وي چې هغوي کله لوئے شي او د کار روزګار شي نو هم څۀ نۀ کوي۔ بلکې د تيارې خوند يې احسټے وي او هم هغسې تيارې ته پراتۀ وي۔ د ماشومواليِ هغه نازونو دوي له داسې عادتونه خراب کړي وي چې بيا نه څۀ روزګار کوي او نۀ کول غواړي۔ نۀ څۀ تعليم حاصل کړي او نۀ څۀ هنر۔ نۀ مزدوری، ته غاړه نيسي او نۀ نوکری، ته۔ يعنې د دوي په ژوند کښې د دوي خپله څۀ کښه وټه او حېثيت نۀ وي۔ بلکې هم هغسې د بوډېګانو محنت او خوارو مزدورو ته ناست وي۔ هم داسې تيارلکې د کونډې زامن مشرانو په دې متل کښې ستائيلې او مشهور کړي دي۔ او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې خپله هم څۀ کار روزګار کوه يا خپله هم څۀ کښه وټه کوه ، لره او ساته۔

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي۔ شوک چې لکه د کونډې د زوي د تيارې خوند واخلي او خپله يې هر څه ته شا کړې وي۔ مشران داسې زلمو ته وايي چې هلکه خپله څۀ تعليم او هنر زده کړه۔ چې خپل کار روزګار پرې روان کړي۔ تر کومې به تۀ د مور پلار يا د ورونو کټې ته ناست يې ، يا تر کومې به تۀ داسې تيارې ته ناست يې۔ او د نصيحت په توګه ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د کونډې زويه څۀ خو بويه"

د کونډې زويه څۀ خو بويه
د غور منکي په شائي مۀ کړخه مټينه

د کوهي خټه په کوهي لګي

دا يو عام متل دے۔ چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي۔ پخوا په زمانه کښې به په کورونو کښې د اوبو دپاره کوهيان کښتلي شو۔ نن سبا هم په کلي والو علاقو کښې په ځنې کورونو کښې ليدے او کټے شي۔ د څښلو او د کور د ضرورت دپاره به اوبۀ د دې کوهيانو نه راويستلے او استعمالولے شوې۔ نن سبا خو په اکثرو کورونو کښې د اوبو سرکاري نلکې لګېدلي دي۔ او يا خلقو خپلې نلکې (بور) کړے او لګولے دے۔ چې د اوبو ضرورت او حاجت ترېنه پوره کوي۔ دا کوهيان به دېر ژور نۀ وو او اکثر به د خټو او چکرو نه ډک شول نو اوبۀ به ورکښې کمې شوې بيا به خلقو تشول او صفا کول۔ په کال کښې به يې ضرور د کوهي نه يو وارې خټې راويستلې او د اوبو لاړه او راوونه به يې صفا کول۔ د کوهي نه چې به کومه خټه راويستلے شوه نو په هغې به د کوهي غاړې مورکې روغولې او سمولې شوې۔ يعنې د کوهي نه چې کومه خټه راووځي نو هغه دوباره د کوهي په روغولو او ودانولو ولګي۔ د کوهي او د کوهي د خټو دا حاجت او ضرورت مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے۔ مطلب ترېنه دا دے چې چرته داسې په څۀ کار ، يا روزګار کښې څۀ کټه ، سود او فائده مېلاؤ شي۔ او هغه کټه دوباره هم په هغه روزګار کښې خرچه شي ، يا ولګي نو دا داسې شوه لکه چې د کوهي خټه په کوهي دوباره ولګېده۔ هم په داسې حالاتو کښې يې خلق استعمالوي او داسې وايي چې يار! "د کوهي خټه په کوهي لګي"۔

د ګور شپه په کور نۀ شي

دا د پوهانو او هوښيارانو قول دے۔ چې د متل په توګه هم استعماليږي۔ مطلب ترېنه دا دے چې کټې د مرګ يو وخت مقرر دے۔ او چې هغه پوره شي نو بيا هغه وخت نۀ بدليږي۔ يعنې چې نېټه پوره شي نو سا تر اوخپړۍ۔ او لازمي ده چې ګور ته به کوزيږي۔ که په نصيب کښې يې وي نو هله۔ ځکه چې يو بل متل دے وئيلے شي چې "مرګ حق دے خو کفن کښې شک دے"۔ يعنې په مرګ خو مړ شي خو د چا قسمت کښې ګور کفن وي او د چا نه۔ لنډه دا چې کومه شپه په ګور ليکلے شوې وي نو هغه په کور کښې نۀ شي تېرولے۔ بلکې

سړے مړ شي او هم هغه شپې له ګور ته کوز شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د نېټې وخت نۀ بدليږي. يعني د ګور شپه به لڑمې ګور ته کوزېږي. دوېم دا چې داسې هر څۀ چې په تقدير ليک وي. نو هغه پوره کېږي. يعني د قسمت ليک د وخت پوره کېدو سره خامخا بنيادم ته ورسيږي او مېلاوېږي. نن سبا يې هم خلق د دې مطلب دپاره په داسې حالاتو کښې استعمالوي چرته چې د چا اوربشه ناڅاپه پوره شي.يعني ځوک زلمے روغ رمټ چې ناڅاپه په حق ورسي. نو په داسې وخت او موقع خلق وايي چې يار ښۀ سم دم وۅ. پته نشته چې ناڅاپه پرې څۀ وشو. خو د مشرانو هغه خبره رښتيا ده چې: "د ګور شپه په کور نۀ شي".

د ګيدړ تر هغې باچايي ده ، تر څو چې نمر نۀ دے راختلے

د ګيدړانو په حقله ډېرې متلې مشهورې دي. او اکثر د ګيدړ بزدلي ، کمزورتيا ، خوف او وېره پکښې ستائيلے شوې ده. په دې متل کښې هم د ګيدړ د خوف ، وېرې او د بزدلۍ ذکر شوے دے. او مطلب تر ښه دا دے چې ګيدړان د شپې په تيارۀ کښې راوخي. چرته په جرګانو حملې کړي او چرته په مردارہ باندې ځان مور کړي. د شپې په تيارۀ کښې اکثر د کلي غارو او لمنو ته راغونډيږي. جغې سورې او روړې وباسي. کله د چا جرګ جرګورے تختولے او چرته د کډې بيزې بچے مات کړي. په دې متل کښې د ګيدړ دا خوي بيان شوے دے. چې کنې تر څو شپه تيارۀ ده نو تر هغې د ګيدړانو باچايي ده. چې په تيارۀ کښې ښکار پسې کړخي. او که په دې تيارۀ کښې دوه درېو ګيدړانو د چا کهه بيزه ، سخے کتے او يا خره کېره کړه نو هغه هم ښکار کوي يا ماتوي. خو د دوې دا باچايي تر هغې ده چې تر کومې نمر نۀ دے راختلے. او چې نمر راوخېژي او رڼا خوره شي. نو بيا څوک ګيدړ په سترګو نۀ وينې. بلکې خپلو غارونو ته يې ځان رسولے وي. مشرانو د ګيدړانو د تورې شپې باچايي د داسې بنيادم سره په مثال تړلې او ورکړې ده. چا ته چې داسې د څۀ لږ وخت دپاره څۀ واک اختيار مېلاۅ شي. او هغه بنده د هغې نه فائده وخټوي. خپله باچايي يعني خپل حکم او زور چلوي. او خپله من منټيا کوي خو چې د بل په راتلو باندې د هغۀ دا باچائي ختمېږي نو په داسې وخت داسې بنده ته خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې خبر دے غم مۀ کوه يار ، دا به هم تېر شي: "د ګيدړ تر هغې باچايي ده چې تر څو نمر نۀ دے راختلے".

د لټ غوائي خاوند قصاب وي

قيصه:

د دې متل په حقله يوه فرضي قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو زميندار دوه غوايان او يو خر ساتلے ۅۀ. وايي چې کله موسم‌يوې يعني د زمکو د اړولو راغے نو زميندار به سحر په م ، لا بانک مال قلبه مخکښې کړه. او ټوله ورځ به يې يوې کوله او ماښام په تيارۀ به واپس راتللو. خپله به هم سترے ستومانه ۅۀ. او غوايان به يې هم د لادو بادو پرېوتي وو. وايي چې يوه شپه دې غوايانو کښې يو غويي دې خر ته وئېل چې اشنا زۀ خو دېر سترے شوم. او دا مالک رالہ دمه نۀ راکوي. څۀ حل ول راته اوښايه چې لږ دمه شم. خر ورته وئېل چې دا خو ډېره اسانه خبره ده. سحر د کار په وخت ځان ناروغه کړه. ځمله چې مالک دې پاڅوي نو هم مۀ پاسه. دې غويي په سبا هم داسې وکړل. سحر غويي نۀ کيا خورله او نۀ پاسېدلو. څۀ لږه شېبه خو ورته مالک صبر وکړو او بيا يې د پاسولو ډېر کوښښونه وکړل. خو غوئي د خايه رپ نۀ وهلو. اخر د کار ناوخته کېدو نو زميندار غوټے په خائے پرېښودو. او نور څاروي يې پټې ته په مخه کړل. اول خو زميندار په زړۀ کښې کړل رېبل چې دا چا نه غويي وغواړي. او د خپل غويي سره يې په جغ کړي. چې دا پاتې زمکه پرې واړوي. خو بيا يې زړۀ له دا خيال راغے چې دا خر د غويي سره په جغ کړي او په دمه دمه به لګيا وي. نو څۀ نه څۀ کار به وشي. او هم داسې خر يې د غويي سره جوت کړو. او ټوله ورځ يې پرې پوې رابښکله. ماښام چې کله واپس راغلل نو خر خو دېر زيات سترے ستومانه ۅۀ. خو د خپله شرمه او ملامتي يې غوئي ته حال نۀ شو وئېلے. خر په زړۀ کښې وئېل چې څه ورځ وه تېره شوه. سبا به غوئي خپل کار ته جوت وي. خو غوئي د دمې او د تيار خوراک خوند هيله اوس موندے ۅۀ. نو په بله ورځ يې بيا هغه کار وکړو. يعني د سحر په وخت يې پښې اوږدې کړې وې ، نۀ پاسېدو او نۀ يې څۀ اراده وه. مالک هم هغه شان خر د غويي سره مخکښې کړو او پوې ته يې جوت کړو. په هغه ورځ خر ښۀ د لادو بادو پرېوتے ۅۀ. کله چې د شپې غويي د خر نه پوښتنه وکړه چې وايه کنه اشنا. ورځ دې څنګه تېره شوه خر ورته وئېل چې ورځ خو ښۀ په مزو تېره شوه خو ستا سبا له خبر نشته. هغه غوئي تر ښه پوښتنه وکړه چې څنګه يار. خر ورته وئېل چې نن مې مالک د ګاونډي سره خبرې کولې چې هغه بل غويے مې ناروغه او لټ شوے دے. سبا مې اراده کړې ده چې په قصاب يې ورخرڅ کړم. هغه ګاونډي ورته هم وئېل چې

اهو! ځان تري خلاصوه. د لټ غويي خاوند اخر قصاب وي. غويي چې دا قيصه واوريده نو ټوله شپه يې په غنو تېره شوه. سحر وختي د نورو څاروو نه مخکښې پاسېدلے وؤ. او ابغ نبغ ولاړ وؤ. مالک چې راغے او غوږے يې روغ رمټ وليدو نو ډېر خوشحاله شو. د نورو څاروو سره يې غوږے هم پټې ته بوتلو او هم هغه شان په کار روزګار کښې يې ورځ تېره کړه. داسې خر هم ډېر خوشحاله شو چې د ښوې د کار روزګار او بېکار نه خلاص شو. او وايي چې داسې د هغه وخت نه د خر د جالاکۍ دا فقره يا جمله د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې د چا څاروے د کار روزګاره ووځي نو خلق ورته مشوره ورکوي چې هلکه ځان تري خلاص کړه. د لټ غويي خاوند اخر قصاب وي. او يا چرته داسې څوک بنده چې ډېر لټ او ناراسته وي نو هغۀ ته هم خلق دا متل د طنز ، زورني ، نصيحت او د پېغور په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د لټ غويي خاوند اخر قصاب وي".

د لوندو به څۀ لواندۀ شي

دا يو عام متل دے او مطلب يې دا دے چې کښې که چرته څۀ شے ، يا څوک بنيادم يو څل په اوبو لوند شي. نو بيا د هغۀ په اوبو د لمدېدو نوره وېره يا خوف پاتې نۀ شي. بلکې بيا هغه ښۀ په ډاډه زړۀ په اوبو کښې يا په هغه لمدو جامو او حالاتو کښې خپل کار سر ته کوي. مطلب دا چې کنې که څوک د اوبو او يا د لمدېدو له وېرې په څۀ کار کولو کښې احتياط کوي. خو که يو څل هغه لوند شو نو بيا هغه وېره او احتياط پرېږدي او ښۀ په ډاډه زړۀ کار ته لاندې ووځي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک په څۀ کار کولو کښې د څۀ وېرې او خوف له کبله احتياط کوي او هغه احتياط يې پکار رانشي ، يا چرته يو بنده داسې بې حيا او بې شرمه شي چې ټول حدونه مات کړي او بيا يې په شرم او حيا څۀ کار نۀ وي. يعنې څوک دومره زيات بې شرمه او بې غېرته کېدل. چې په شرمېدو به د هغۀ نوره څۀ حياء لاړه شي. نو داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د لمدو به څۀ لمده شي".

چې په حمام ورکې د شوي يار
بيا د اوبو او د لمدو څۀ پرهېزونه

د لوندو ختو لرې اوبۀ بهانه شي

دا يو ساده او عام متل دے معنې ، ی او مطلب يې جدا جدا دي. کله چې څوک د خاورو نه خته جوړوي يا سازوي نو په وړومبي څل هغه خاوره ښې ډېرې اوبۀ غواړي او چې يو څل خته جوړه شي نو بيا د هغې د لمدولو دپاره لږې اوبۀ هم کافي وي. داسې چې څوک د خټو دېوال جوړ کړي او هغه لا اوچ نۀ وي نو په لږ شان باران هم دوړېږي. او يا راغورځېږي. دا لمدې خټې او لږې اوبۀ مشرانو په متل کښې د هر هغه شي يا څيز سره په مثال تړلې او ورکړي دي چې هغه ډېر کمزورے وي. او په لږ هـ بهانه راغورځېږي.

نن سبا دا متل اکثر په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو کمزورے او يا بودا بنده راپرېوځي او څۀ لاس پښه يې مات کـ ېـ شي ، يا څوک کمزورے سړے چې په معمولي مرض باندې د کټ شي ، يا په مالي نېز څوک ډېر غريب بنده په لږ شان زيان او تاوان سره بالکل لفنګ او ملنګ شي. نو په داسې حالاتو کښې د داسې خلقو په حقله عبدالرحمان بابا څۀ ښۀ وېنا کړې ده. وايي چې:

د لمدو ختو بهانه لرې اوبۀ شي
زوروې رابانديې هومره زور په څۀ

او لېونے وايي چې:

د لمدو لږ باران بهانه شي
په يو تکره بودا کـ ـد عمر شينه

د لوند خور خېرات دے

قيصه:

لوند خور د مردان نه قطب طرف ته د تخت بهائي نه پورته د شېر کړه او د هاتيانو نه نمر ختيز اړخ ته يو زور ، ډېر لوئے او مشهور کلے دے۔ پخوا په زمانه کښې د دې علاقې خانې او خانان ډېر مشهور وۆ۔ په دغه خانانو کښې يو خان ډېر ښۀ او سخي ځوان وۆ۔ هغۀ به اکثر خېراتونه کول۔ د کلي او د علاقې ټول خلق به يې رابلل۔ وايي چې يو کال هغۀ خېرات کړے وۆ۔ او د علاقې ټول خلق يې رابللي وو۔ خوراکه يعني ډوډۍ يې دومره پخه کړې وه چې د خلاصېدو نۀ وه۔ اخر کښې خان حکم ورکړو چې په پټو او مېرو وګرځئ او خلق ډوډۍ له راولئ ، چې څوک پاتې نۀ شي۔ کله چې د پټو او مېرو نه زمېدار خلق رامات شول نو د ډوډۍ په ځائے کښې داسې کتې جوړه شوه چې نۀ د لاس وينځلو ځائے وۆ او نۀ جا سره وخت۔ چې جا ته ته جرته ، څنګه او څۀ مېلاوېدل هغه يې خورل او تختول۔ بس يو تالان کۀ وۆ۔ په دغه وخت د يو مشر سړي چې دې تالان ته پام شو۔ نو وئېل يې چې نۀ پکښې د پاک پليت پته لګي او نۀ د بللي او نابللي۔ د لوند خور خېرات دے او تالان پرې کۀ دے۔ وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه۔

نن سبا هم په داسې موقعو کښې استعمالېږي جرته چې څوک د جا په خېرات کښې نابللي ورشي او يا ورله په هغه خېرات کښې څۀ تالان جور کړي ، يا داسې څوک د جا فصل تالا ترغه کړي يا ورله په څۀ نورو خيزونو کښې داسې تالان جور کړي چې هر شے يې ختم او تباه برباد شي۔ يعني د څۀ شي په تالان او بربادېدو په وخت دا متل وراندې کيږي۔ او داسې وئېلے شي چې هلکه! "د لوند خور خېرات دې ترېنه جور کړو" يا "د لوند خور خېرات دے څۀ؟"۔

يـــــــار پـــــــه تيـــــــاره کښـــــــې ورتـــــــوپ کـــــــړو
لکـــــــه خېـــــــرات يـــــــې د لونـــــــد خـــــــور مونـــــــدلي وينـــــــه

د لېوۀ د خ ، لې نه س ، ور هډوکے هم بس دے

قيصه:

د دې متل په حقله يوه فرضي قيصه مشهوره ده۔ وايي چې يوه ورځ په څنګل کښې يو لېوۀ د څۀ شي ښکار وکړو۔ د غوښې خورلو سره يې يو هډوکے هم اوخوړو۔ هغه هډوکے د لېوۀ په تالو (مرۍ) کښې ونخښتو۔ او داسې ونخښتو چې نۀ تېرېدو او نۀ بهر راوتو۔ لېوۀ په څنګل کښې اعلان وکړو که چرې چا هم زما د مرۍ نه دا هډوکے راويستو نو هغۀ ته به غټ انعام ورکولے شي۔ د څنګل ټولو ځناورو خپلې هسې وکړې خو ټول ناکامه شول۔ ځکه چې هغه هډوکے په تالو کښې ډېر دننه انخښتے وۆ۔ په دې خبره يو ډينګ (اوږد څټ او اوږدې مخوکې والا مارغۀ) هم خبر شو۔ او د لېوۀ پوښتې له راغے۔ ډينګ لېوۀ ته وئېل که چرې د دې مصيبته مې خلاص کړې نو ما له به څۀ راکړې۔ لېوۀ ورله ځواب ورکړو چې د دې دنيا د ټولو نه لوئے او ښائسته انعام به درکړم۔ ډينګ لېوۀ ته وئېل چې خ ، له وازه کړه۔ لېوۀ ورته خ ، له وازه کړو۔ ډينګ د لېوۀ په وازه خ ، له کښې خپله اړده مخوکه وردننه اوکړه۔ څۀ شېبه محنت نه پس يې د لېوۀ د خ ، لې نه په وينو س ، ور هډوکے راويستو۔ لېوۀ ايله په ارام ساه واخسته۔ او د ډينګ يې ډېره شکريه ادا کړه۔ مارغۀ ورته وئېل چې ستا شکريه خو به خپل ځائے۔ خو زما انعام۔ لېوۀ ورته وئېل چې څه ، د دنيا د ټولو لوئے انعام مې درکړو۔ چې ستا سر سلامت پاتې شګې زما خ ، لې له چې يو واړې د چا سر راغلے دے نو سلامت نۀ دے پاتې۔ ډينګ واوېدل نو هغه س ، ور هډوکے يې په خ ، له کښې اوچت کړو او داسې يې وئېل چې د لېوۀ د خ ، لې نه يو س ، ور هډوکے هم بس دے۔ او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه۔

نن سبا دا متل په داسې وخت استعمالېږي جرته چې داسې جا ته د جا شوم او کنجوس بنيادم نه څۀ لږه شان کتنه او فائده مېلاؤ شي ، يا ورته څۀ لږ شان مدد او مرسته مېلاؤ شي۔ او هغه بنده په هغه لږه فائده او کتنه هم خوشحاله او راضي وي۔ نو په داسې وخت

دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې لېوۀ "د خ ـ لي سـ ـ ور هډوکے هم بس دے". هم د دې مطلب دپاره په اوردو ژبه کښې داسې يو متل مشهور دے. وايي چې:

"بهاگتے چور کی لنگوٹی هی سہی".

د مانځه په بهانه تـ ـ رې خورې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو زميدار د خټکو هيندوانو باغ کرلے وؤ. د کلي يو ځوان چې په غلا غلطۍ عادت وؤ. يوه ورځ د باغ غاړې ته ورپېښ شو. هغه چې په باغ کښې پاخۀ خټکي وليدل نو زړۀ يې ورته ټينګ نۀ کړے شو. په باغ ورګډ شو او په خټکو شوکولو يې لاس پورې کړو. دې دوران کښې ورباندې د باغ مالک راغے او اواز يې ورباندې وکړو چې هلکه څوک يې او څۀ کوې. دې غل په ځان زر څادر راخور کړو او په پټي کښې کښېناستو. د پټي مالک چې کله ورنزدې شو نو دې هلک ورله اواز ورکړو چې کاکا حاجت (بار) ته ناست يم. دې زميدار ورته وئېل چې خدائے دې پوهه کړه په باغ کښې خلق حاجت ته نۀ کښېني. د الله پاک کارونه ګوره چې په بل کال هغه زميدار د ترو باغ کرلے وؤ. هم هغه غل بيا په هغه غاړه ورېښ شوه پـ ـ وله روان وؤ چې يوه تره يې راوشوکوله. تره تازه او ډېره خوږه وه. دې ځوان له يې ډېر خوند او مزه ورکړه. هم په هغه ځائے کښېناستو او ترو ته يې څادر خور کړو. څلور پنځه ترې يې شوکولې وې چې د باغ مالک يې په نظر شو چې د باغ غاړې ته په منډه راروان وؤ. دې غل په زړۀ کښې کرل رېبل چې اوس څۀ بهانه جوړه کړم. اخر هغه ترې يې د څادر لاندې کړې او په څادر مانځه ته اودرېدو. د باغ مالک چې دا وليدل نو د څادر پلو يې راواړولو. ترې يې ترېنه رااويستې او په هغه غل يې راباندې کړې. په وهلو يې ترېنه ښۀ د بوسو سخے جوړ کړو او ورته يې وئېل چې ظالمه د مانځه په بهانه تـ ـ رې خورې. او داسې د هغه وخت نه دا وېنا د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک ټګ بنده يو کار له بل کار بهانه کوي ، يا د غلا پيازېدو د وېرې نه بله بهانه لټوي يا جوړوي ، يا خپله غلا غلطي په څۀ بله بهانه پټوي. نو په داسې وخت هغۀ ته خلق دا متل وړاندې کوي او وايي چې خانه! "مانځه په بهانه تـ ـ رې خورې".

د مرغابو بچو ته لامبو ښايې

الله پاک چې څومره مخلوقات پېدا کړې دي. نو د بېل بېل نسل په مطابق هر چا له يې جدا جدا پېدائشي صفتونه ورکړي دي. د مرغابو پېدائشي صفت د هغوي لامبو ده. د مرغابو بچي پېدائشي ښۀ اوچت لامبوزن وي. الله پاک دوي له د پښو پېدائشي داسې جوړښت ورکړے دے چې دوي ته په اوبو کښې وسېدل يا لامبو وهل څۀ ګران کار نۀ وي. لنډه دا چې مرغابۍ په لامبو کښې د نورو مارغانو نه ډېرې پوهه ، مړانې او ماهره وي. په دې وجه دا متل داسې مشهور شوے دے چې ګنې د مرغابو بچي پېدائشي د لامبو تکړه او ماهره وي. نو هغوي ته د چل ښودنې ضرورت نشته ، يا هغوي ته د لامبو ښودنه خپله ناپوهي او کم عقلتيا ده.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک په يو کار کښې پوهه او ماهره وي. او بل څوک هغۀ ته په هغه کار يا په بله څۀ خبره کښې د چل ښودلو کوشش کوي ، يا مشوره ورکوي يعنې چې څوک چا استاذ ته د څۀ هنر ښودنې يا زده کړې او عقل ورکولو کوشش کوي ، يا څوک داسې چا استاذ او هوښيار بنده ته په څۀ خبره کښې دروغ وايي ، يا ورسره څۀ ټګي ټوري کوي يا څۀ دهوکه فرېب ورکوي ، يا ورکول غواړي ، نو په داسې وخت او موقع هغه دروغژن او فرېبژن سړي ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه تۀ! "د مرغابو بچو ته لامبو ښايې" يا "د مرغابو بچو له غوپې مۀ ورکوه".

ګـــــورې چـــــې ځـــــان افلاطـــــون نـــــۀ کـــــړې
د مرغـــــابو بچـــــو تـــــه مـــــۀ ښـــــايه چلونـــــه

د مرغابو نر يې نۀ اګۍ اچوې او نۀ بانګونه وايې

دا يو عام متل دے چې مطلب يې د معنې نه جدا دے. مطلب يې دا دے چې ګڼې ستا نه هېڅ فائده نشته. چرګ د چرګو نر (بانګي) که اګۍ نۀ اچوي. نو بانګونه خو وايي. د چرګانو بانګونه زمونږ په ژوند کښې ډېر اهميت او حېثيت لري. پخوا زمانه کښې کله چې ګهنټې (ګهړۍ) نۀ وې جوړې شوې نو خلقو (په خصوصي توګه کليوالو) به د وخت رفتار د ورځې د نمر د سېوري په مناسبت سره معلومولو. او د شپې به يې د ستورو او د چرګانو په بانګونو باندې د وخت پېژندګلو کوله. او داسې باقاعده يو وخت د چرګ په نامه تړلے شوے وؤ. سحر وختي د ملا بانګ نه لږ شان مخکښې چرګان بانګونه شروع کړي. دا بانګونه د وخت د پېژندګلو يوه پخه نخښه ده. چې د سحر وخت کېدو والا دے. دې وخت له پخواني مشرانو باقاعده د "چرګ بانګ مال" نامه ورکړے وه. او په دې وخت به زميدارو غړو او مېرمنو خپل امروزه کارونه شروع کول. مطلب دا چې د چرګ د بانګ نه هم خلقو ته فائده رسېدله. بل خوا د مرغابو نر دے چې نۀ اګۍ اچوي او نۀ بانګونه وايي. يعنې نۀ د چا په ښۀ راځي او نۀ په بده. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړے او مشهور کړے دے.

دا متل د داسې خلقو دپاره استعمالېږي چرته چې څوک نۀ د چا په ښۀ کښې پکار راځي او نۀ په بده کښې. يعنې نۀ د چا د ښې وي او نۀ د بدې ، يا داسې يو بنده چې هغه نۀ نر وي او نۀ ښځه. نو داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د مرغابو نر يې نۀ اګۍ اچوي او نۀ بانګونه وايي".

د مرګ مچ يې هر ځائے حاضر يې

دا يو ساده متل دے چې معنـ ی او مطلب يې جدا جدا دي. د ګرمۍ په موسم کښې مچان ډېر زيات شي. هر ځائے او په هر شي باندې بڼېږي. اکثر د غرمې په وخت يې بنيادمان هم ډېر تنګ کړې وي او خوب ته يې نۀ پرېږدي. کله يو ځائے او کله په بل ځائے کښېني پاڅي. چې د سر نه يې شړې نو په مخ کښېني او چې د مخ نه يې شړې نو په يوزه درته سور شي د لاسو نه پښو ته او د پښو نه لاسو ته ځي راځي. او بڼار کوي. کله کله چې د اودۀ بنيادم په پوزه کښې ورننوځي نو سړے سم په تړتکو سر کړي. اخر چې بنيادم ترې نه ډېر تنګ راشي نو بيا يې د مرګ بـ نا جوړوي. داسې چې کوم مچ اجل اخستے وي نو هغه کله په مخ ، کله په پوزه او کله په لاسو کښېني او پاڅي. اخر چې د بنيادم په داؤ کښې کېر شي او مړ شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې د کوم مچ اجل راشي نو که هغه هر ځائے وي خو خامخا د بنيادم مخې ته راحاضر شي او ژوند يې تمام شي.

نن سبا په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې څوک لکه د مچ نابللے په هر وخت او هر ځائے کښې حاضر وي. اکثر داسې خلق د خوراک څښاک په وخت لکه د مچ د هر چا په تالي کښې غوپه وهي يا وهل غواړي. نو د دې عادت له کبله ترېنه خلق پوزې له راغلي وي. يعنې ډېر زيات تنګ وي. نو ځکه ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د مرګ مچ يې هر ځائے حاضر يې".

په هر محفل کښې چې حاضر وي
لکه د مرګ مچ چې اجل اخستے وينه

د مرور دوه برخې وي

دا د مشرانو يو عام قول دے چې د متل په توګه هم مشهور دے مرور معنـ ی ده. د چا نه خفه او ناراضه. داسې خفګان او مرورتيا اکثر د څۀ شي د وېش او يا د خوراک څښاک په وخت کښې وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې داسې چې څوک خفه او مرور شي نو بيا په وېش کښې د هغۀ دوه برخې وي. يعنې د هغۀ د رضا کولو او خوشحالولو دپاره بيا هغۀ ته د نورو غړو نه زياته او يا دوه دونه برخه ورکولے شي. اکثر ورله وېش والا غړے خپله برخه هم ورکړي چې ګڼې د دۀ خفګان او مرورتيا ختمه شي او رضا شي. نن سبا هم په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په کور يا د يارانو په محفل کښې داسې خفه او مرور شي چې څۀ خوراک څښاک نۀ کوي نو په اخره کښې هغۀ ته اکثر زياته برخه پاتې شي. بيا ورته خلق دا ملت وړاندې کوي او داسې وايي چې ښه يار ، تا دې ته جوړه کړې وه چې زياته واخلې ځکه چې: "د مرور دوه برخې وي".

د مړو واک د ژوندو وي

دا د هوښيارانو يو قول دے چې د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې ، ی يې دا ده چې ګڼې کله چې يو بنيادم په حق ورسي ، يعنې (مړ شي).نو د هغهٔ خپل واک اختيار او ر ضا يا مرضي ختمه شي او بيا د هغهٔ فېصله ژوندي خلق (وارثان) کوي. يعنې بيا د مړي نهٔ په خپل ځان او نهٔ په مال حال باندې څهٔ واک اختيار وي او نهٔ لري. اکثر په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په حق ورسي. او د هغهٔ ګور کفن او د قبر جنازې فېصلې کولے شي. نو په دغه وخت وئېلے شي چې د مړو واک د ژوندو وي ، يا داسې بوډاګان وګړي چې د دنيا د کار روزګاره وتلے وي. او د هغوي د مرضۍ يا د فېصلې څوک خيال نهٔ ساتي. نهٔ د هغوي منلے شي او نهٔ ترېنه څوک صلاح مشوره اخلي. نو داسې بوډاګان هم اکثر خپلې ګيلې مانې په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې ، نن سبا مونږه څوک په څه کښې حسابوي. زمونږه مثال خو د مړو دے او "د مړو واک د ژوند وي".

د م ،لانو ګاډے ترېنه مهٔ جوړوه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو څو کسه موليان په سفر روان وو. دوي خپلو کښې په دې خبره رضا شول چې سفر په رېل ګادي کښې وکړي. دوي د رېل ستېشن ته ورغلل ، ټکټونه يې واخستل او د ګاډي په انتظار کښې کښېناستل. کله چې ګاډے راغلو م ،لانو د احترام او عزت له کبله يو بل ته ګاډي ته د ختلو لاره پرېښودله چې استاذ جي مخکښې تاسو. او هغهٔ به بل ته اشاره کوله چې نه جي مخکښې تاسو وايي چې م ،ليان داسې د مخکښې تاسو او وړومبے تاسو په تکرار وو. او يو بل ته يې د ختلو ستونه او خواستونه کول. چې دې دوران کښې د ګاډي وخت پوره شو او مخ په وړاندې روان شو. ،ليان حق حېرانه په ډاګه پاتې شول. او ګاډے ترېنه لاړو. او داسې د هغه خوت د م ،ليانو هغه حالات هوښيارانو د متل په توګه مشهور کړل.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د څهٔ کار په وخت (خاص د تادۍ په کار کښې) يو بل ته وار يا نمبر پرېږدي. يو بل ته ستونه کوي او يو بل مخکښې کول غواړي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکو! "م ،لانو ګاډے ترېنه مهٔ جوړوئ".

د مور غېږه د ماشوم وړومبۍ مدرسه وي

دا د هوښيارانو يو عام قول دے چې د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې ، ی او مطلب يې د الفاظو نه ښهٔ ښکاره او معلوم دي. دا يو قدرتي او فطرتي عمل دے. چې ماشوم کله سترګې اوغړوي نو د مور غېږه ووينې او چې کله ژبه پرانيځي ، يعنې چې خبرې شروع کړي نو وړومبے نوم که هغه په هره ژبه کښې وي خو د مور نوم وي. مطلب دا چې ماشوم د زېږېدو نه واخلې تر زلميتوبه پورې مور سره زيات نزدې او بلد وي. مور د پلار په نيز د اولاد سره زياته مينه محبت لري او کوي. داسې اولاد هم د پلار په نيز مور سره زياته مينه محبت لري او کوي. څنګه چې دا خبره څرګنده ده. او دا هم يو فطرتي او قدرتي عمل دے چې د اولاد سنمبالښت او پالنه د مور په لاس او ذمه وي. او د دې کبله د اولاد وړومبے سبق يا تربيت د مور د غېږې نه شروع شي. داسې ماشوم د مور ښودلې خبرې يادوي او د هغې د کردار او عمل نه تربيت او اثر اخلي. د مور او د ماشوم د دې فطرتي او قدرتي عمل ، جوړښت ، تربيت او اثر په حقله هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

مطلب دا شو چې د ماشوم تربيت او کردار کول او جوړول د مور په کردار سره جوړېږي. يعنې چې مور ماشوم ته څهٔ ښايي ، يا يې څنګه تربيت کوي نو ماشوم هغه زده کړه کوي او هغه شان اثر اخلي. يعنې يوه زده کړه خو د سبق د ښودنې نه او د تربيت کولو سره کيږي. او کردار د چا دعمل نه د اثر اخستلو نه جوړېږي. يعنې چې يو بنده څهٔ رنګ عمل کوي او بل ترېنه اثر اخلي نو بيا هغه بنيادم هم هغه شان عمل کوي يا د کولو هڅه او تکل کوي. مطلب دا شو چې مور ماشوم ته څه ښايي او چې د مور څهٔ کردار او عمل وي نو لازمي ده چې ماشوم به هم هغه زده کړه کوي. او هم هغه شان عمل به کوي ، او هم د هغې عمل نه به اثر اخلي ، او هغه شان کردار به يې

جوړيږي. او دا قدرتي او فطرتي تربيت ، عمل او اثر هوښيارانو د متل په توګه مشهور کړو. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته او په خصوصي توګه مېندو ته د ذمه واري. او فرائضو وريادولو دپاره وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د مور غېږ د ماشوم وړومبی مدرسه وي".

د مېړي کور د غمه خالي نۀ وي

مېړے د الله پاک په مخلوقاتو کښې يو وړوکے شان مخلوق دے. او داسې وړوکے دے چې روزانه په زرګونو د بنيادمو او د ځناورو د پښو لاندې راځي او مري.دې حقله په قرا ـ ن شريف کښې هم ذکر راغلے دے. د مېړو دا په قسمت کښې ليک دي. چې دوي د مخلوق د پښو لاندې مري. دا هم د الله پاک يو حکمت او قدرت دے. چې ځنې مېړو له د پشکال په موسم کښې وزړي ورکړي. يعنې هغه مخلوق چې په زمکه په پښو کړځي نو د هغوي وزړي وشي او بيا په هوا شي. کله چې د پشکال بارانونه شروع شي نو په زرګونو مېړي د خپلو سوړو نه راوځي او په هوا کښې الوځي. داسې په يو وخت چې په زرګونو رايهر شي نو بيا مري هم په زرګونو. ځنۀ په هوا کښې د مرغو خوراک شي ځنۀ د جرګ جرګوړو او ځنۀ د بنيادمو د پښو لاندې شي او مړۀ شي. يعنې د مېړو په کور کښې روزانه شوک نا شوک مړۀ وي او په کور يې غم جوړ وي. ځکه چې په زرګونو د کوره راوځي او په يو خائے يې شمېره مړۀ کيږي. د مېړو امروزه دا غم او خفګان مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے دے او مطلب ترېنه دا دے چې د مېړي په کور کښې روزانه شوک نا شوک مړۀ وي نو ځکه يې په کور کښې هر وخت غم جوړ وي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې شوک داسې په زيات غم ، خفګان ، تکليف او کړاؤ کښې راګېر شي. يو غم يې لا ختم نۀ وي چې بل يې په سر وي. يعنې ژوند يې پرله پسې په غم او خفګان کښې کېر وي. نو هغه بنده خپل حالات او خوارۀ ورځ په دې متل کښې ژاړي ، يا شوک بل بنده د هغه خوار قسمت داسې ژاړي او وايي چې: "د مېړي کور د غمه خالي نۀ وي".

د نر زوي ژړا په ځانګو کښې پېژندے شي

دا يو عام او ساده متل دے يعنې ، ی او مطلب يې دا دي چې کنې ماشوم د خپلې ژړا او عادتونو نه پېژندے شي. داسې هر يو بنيادم د خپلو خبرو کړو وړو او عادتونو نه پېژندے شي. او د زانګو نه مطلب دا دے چې کنې د اول ځل د حرکت نه. يعنې د وړومبی خبرې نه ، د وړومبي حرکت نه او داسې د ځنۀ عمل او ناستې پاستې نه. لکه عبدالرحمان بابا ځنۀ ښۀ وئيلي دي:

د هر چا عمل ښکاره په خپل کفتار شي

يعنې د وړومبی خبرې ، د وړومبي حرکت او يا عمل نه د هغۀ پېژندګلو وشي. چې دا بنده کومې قبيلې والا دے. شريف دے او که بدمعاش. دا مطلب مشرانو د ماشوم د ژړا او د زانګو سره ترلے او مشهور کړے دے. مطلب دا دے چې کنې ماشوم خو نۀ خبره کولے شي ، نۀ ځنۀ حرکت او عمل ، چې د هغې نه د ماشوم ځنۀ پته ولګي. خو د ماشوم ژړا د هغۀ کفتار دے. نو هوښياران وايي چې د هغې ژړا نه هم د ماشوم پېژندګلو کېدے شي. چې دا به ځنۀ رنګې بنيادم وي.

نن سبا دا متل په داسې موقعو او د داسې خلقو په حقله استعماليږي چرته چې شوک د جا نه د ځنۀ کار روزګار طمع لري. او هغه کار سر ته نۀ شي ، يا شوک جا ته ځنۀ کار په حواله کړي او هغه کار اونۀ شي ، يا شوک ځنۀ کار کوي يا کول غواړي خو کولے يې نۀ شي. نو هغه بنده ته بيا خلق داسې وايي چې ماته د مخکښې نه پته وه چې تۀ دا نۀ شې کولے ، يا ما ته معلوم وي چې دا ستا کار نۀ دے ، يا ما ته پته وه چې تۀ دومره نر نۀ يې چې دا کار به وکړې. او دا مطلبونه ورته په دې متل کښې داسې وړاندې کوي او وايي چې پرېږده يار! "د نر زوي ژړا په زانګو کښې پېژندے شي". په دې لړ کښې يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره ترون خوري ، هغه داسې وئيلے شي چې: "ميا شت د اوله پېژندے شي".

د نن کار سبا ته مۀ پرېږده

دا هم د هوښيارانو او پوهانو قول دے. چې د متل په توګه استعماليږي. مطلب ترېنه دا دے چې د نن کار له د سبا نېټه مۀ ورکوه. يوه وجه خو يې دا ده چې کنې د سبا علم هيڅا ته نشته. چې سبا به ځنۀ کيږي او دوېم مطلب دا دے چې د سبانی ورځې به خپل ډېر کارونه وي. چې هغه به هم کول يا سر ته کول غواړي. داسې که هره ورځ لړ لړ کار په سبا باندې پرېښودے شي. نو د هغې نه به لوئے

غر جوړ شي او بيا ورته د بنيادم ملا او څټ دواړه مات وي. او هغه کارونه د خلاصېدو نۀ وي. بل داسې هم شوي دي او کيږي چې د ښ کار سبا ته پاتې شي. نو په هغې کښې بيا زيان او تاوان مېلاويږي. په دې حقله ډېرې قيصې هم مشهورې دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې هر کار په خپل وخت سر ته رسول او ختمول پکار دي. داسې ځۀ سستي او ناراستي نۀ ده پکار چې د ښ کار سبا ته پاتې شي. او هم د دې مطلب دپاره يې مشران د نصيحت په توګه خلقو ته وراندې کوي او داسې وايي چې: "د ښ کار په سبا مۀ پرېږده".

د هوښ ـــــــ

دے. يعني د دنيا کح مېچ او حساب کتاب تر ېنه مطلب نۀ دے. بلکي په دنيا کښې د ژوند کولو حساب کتاب او طور طريقې مطلب دے. يعني د ځۀ کار روزګار ، لېن دېن کولو او په معاشره کښې د ګزران کولو ، يعني غم ښادي ، تېرداري ، عزيزولي او وروولي (کلي) کولو او د زده کولو طور طريقې او لارې چارې مراد او مطلب دي.

او د دې مطلب دپاره دا متل اکثر خلقو ته د سوال په توګه يا د زورنې او پېغور په توګه په داسې حالاتو کښې وړاندې کولے شي جرته چې داسې ځوک بنيادم د سود زيان او د ګټې او تاوان نه ناخبره ژوند تېروي. يعني د بل په ګټه وتې او په تيارۀ وخت تېروي او مزې کوي ، يا ځوک چې د دنيا د لانجو کونجو نه ځان په ډډه ساتي. يعني د کلي غم ښادي او عزيزولي يې په سر نۀ وي. د کور اتې بټ يې په ذمه نۀ وي يا تر ېنه ناخبره وي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې تۀ يې لا د ډبه نۀ يې خبر چې: "دنيا ځو ډانګه ده". او چې کله دا ټولې ذمه واري د داسې نابلده او ناخبره بنده په سر شي يا د کور ټول بوج او غم ښادي يې په سر شي. نو بيا ورته خلق داسې وايي چې اوس به درته پته ولګي بجو چې: "دنيا ځو ډانګه ده" ، يا ځوک ساده باده بنيادم چې د دنيا په سود زيان نۀ پوهيږي يا د دنيا د حالاتو نه ناخبره وي نو داسې بنده ته خلق د طنز په توګه داسې وايي چې يار تاته ځۀ پته ده چې: "دنيا ځو ډانګه ده".

دوه به سړه روغ وے که دربمګړے يې تر مېنځ نۀ وے

دا يو عام متل دے يعنې ، ې يې د الفاظو نه څرګنده ده. او مطلب يې دا دے چې کټې د دوۀ کسانو يا ډلو تر مېنځه که چا دربمګړي جفلي ، لمسون او وړې راوړې نۀ کولې نو تر مېنځه به يې زړۀ بداوے ، تربګنې او دښمني نۀ وے. يعني د جفليمار دربمګړي په جفلي او لمسون باندې اکثر دوه کسه د يو بل سره لاس په ګريوان وي. خو په متل کښې هسې په نوم دربمګړے مراد نۀ دے. ځکه چې دربمګړے خو هغه هم وي چې د دوۀ ډلو تر مېنځه صلح او روغه صفاله کوي. دوه تنه يو ځائے کوي او دوه کوره روغوي. دلته په دې متل کښې د جفلخور جفلي او لمسون ته اشاره ده. يعني که جفلخور يې تر مېنځه جفلي نۀ کولے. نو دوه کسه به سره دوستان وۀ ، خپلوان وۀ ، ښۀ ګاونډيان او هم به ښۀ انسانان وو. يعني د جفلخورو په خوي خصلت او د عادت په حقله مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې د جا کور د جا دربمګړي د لاسه وران او برباد شي ، يا جرته د غماز په غمازۍ چې دوه تنه په جنګ شي. نو په داسې وخت خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "دوه به سړه روغ وے که دربمګړے يې تر مېنځ نۀ وے".

دوۀ ګيدړانو ازمړے وژلے دے

دا يو عام متل دے. چې ورکښې د ازمړي او د ګيدړ ذکر شوے دے. د دې دواړو په خوي خصلت ، عادت ، مړانه او جرات کښې د زمکې او اسمان شان فرق دے. ازمړے په ځناورو کښې ډېر باتور او زړۀ ور ځناور دے. او د خپلې باتورۍ او بريالېتوب له کبله د ځنګل باجا منلے او ګڼلے شي. بل خوا ګيدړ فطرتي ډېر وېرېدونکے او ډرپوک دے. ګيدړ خو د ورځې اول لېدے نۀ شي. که راوځي او بنيادم يې په نظر شي نو بيا ملکونه پناه کوي. د دې دواړو ځناورو دا خوي خصلت ، مړانه ، باتوري ، وېره ، کمزورۍ او بزدلي په دې متل کښې ستائيلې شوې ده. يعني يو خوا ازمړے دے چې دومره باتور او طاقتور دے چې د ځنګل باجا منلے شوے دے. او بل خوا ګيدړ چې ډېر بې زړۀ ، کمزورے او وېرېدونکے دے. خو چې اتفاق يې راغے او دوه ګيدړان په اتفاق سره د ازمړي مخې ته اودرېدل نو د ازمړي غوندې طاقتور او باتور ځناور له يې شکست ورکړو. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې اتفاق کښې برکت وي. او چې ځوک ورسره لږ شان محنت وکړي نو بيا د برکت سره طاقت هم جوړ شي. يعني دا د اتفاق طاقت او برکت وۀ. چې دوۀ ګيدړانو د ازمړي غوندې د ځنګل باجا مر کړو. د اتفاق دا طاقت مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او هم د دې مطلب دپاره يې خلقو ته د نصيحت په توګه وړاندې کوي. او داسې وايي چې په اتفاق کښې برکت او طاقت وي. خو دا طاقت په حرکت او محنت سره حاصلېږي. لکه ځنګه چې: "دوۀ ګيدړانو ازمړے وژلے وو".

د ورخه تېرې اوبۀ نۀ جار ووځي

د ورخه تېرې اوبۀ واپس نۀ راګرځي

دا يو ساده او عام متل د معنا ، ی او مطلب يې د الفاظو نه ظاهره دي لفظ ورخ معنا ، ی د اوبو لاره ګودره ده. دا لفظ اکثر زميدار خلق د اوبو هغې لارې يا سوري دپاره استعمالوي په کومې چې هغوي د لختي نه خپل پټي ته اوبۀ بيلوي يا ورماتوي. يعنې د لختي نه چې کوم وړوکے شان سورے يا راؤ کودر جوړ شوے وي چې اوبۀ پرې پټو ته بوځے شي ، يا ورتېرېدے شي. نو هغې ته ورخ وئيلے شي. او ظاهره ده چې يو ځل په هغه ورخ اوبۀ ورتېرې شي نو بيا د هغې اوبو واپس کېدل ناممکنه خبره ده. او داسې د وخت حساب هم دے. وخت هم چې يو ځل تېر شي نو بيا هغه (کهرۍ) وخت واپس راګرځول ناممکنه ده.

دا متل په داسې حالاتو کښې او د داسې خلقو دپاره مشهور شوے دے. کوم خلق چې د ناراستۍ ، کم عقلۍ ، يا د څۀ مجبورۍ له کبله خپل وخت خرابوي او بربادوي. څۀ کار محنت نۀ کوي ، يا خپل کارونه په وخت او د موقعې په مناسبت سره نۀ کوي. نو هوښياران هغه خلقو ته داسې وايي چې خانه کورے د وخت دېر قدر کوه. که دا وخت درنه تېر شو نو بيا به افسوس کوې او لاسونه به مروړې خو: "د ورخه تېرې اوبۀ نۀ جار ووځي" يا "تېر وخت په بېرته نۀ راګرځي" يا توکلي لاړې خ ، لمې ته بېرته نۀ راځي.

دوست هغه دے چې په سخته کښې پکار شي

دا د هوښيارانو يو عام او ښۀ مشهور قول دے. چې د متل په توګه په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي معنا ، ی او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. هوښياران وايي چې دوستان خو دېر وي. خو اصلي ، مخلصه او ځوړ دوست هغه دے چې په سخته کښې پکار راشي. يعنې چې يو دوست د بل دوست دپاره د ضرورت ، حاجت او په سخته کښې قرباني ورکړي ، يا ورسره په څۀ کار او خبره کښې مرسته او مدد وکړي. او د ازمېښت ، مصيبت او تکليف په وخت ورسره اوړه په اوړه ولاړ وي. نو هغه دوست دے. يعنې مطلب دا شو چې مطلبي او غرضي بنده دوست نۀ شي کېدلے. بلکې دوستي وفا ، ننګ ، ښت ، خلوص او قرباني غواړي دا د دوستۍ ا ، صول منلي شوي دي. هغې دا ا ، صول او نخښې په جا کښې نۀ وي نو هغه دوست نۀ وي بلکې غرضي ، مطلبي او د پيسو مجنونان وي. په دې حقله د هوښيارانو نور هم دېر قولونه مشهور دي. لکه وايي چې اول پرې ازمېښت وکړه نو هله بيې دوست کړه. يعنې که په ازمېښت کښې پوره يعنې پاس شو نو دا اصلي او مخلصه دوست دے. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او نن سبا يې هم مشران د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه پام کوه. د دوستۍ دعوې خو دېر کوي خو: "دوست هغه دے چې په سخته کښې پکار شي".

دومره په لږو اوبو کښې مۀ ډوبېږه

په لږو اوبو کښې ډوبېدل يوه عامه محاوره ده چې د متل په توګه هم استعمالېږي. هسې خو د اوبو دا خاصيت دے چې ډوبول او تختول کوي. يعنې که څۀ شے سيند يا درياب ته کږار کړے شي يا ور پرېوځي. نو هغه به يا ډوبېږي او يا به اوبو په مخه کړے وي. ځکه خو داسې چې څوک په سيند يا سېلابي اوبو کښې ډوب شي نو هغه دومره د حېرانتيا خبره نۀ وي. خو که څوک په لږو اوبو کښې يعنې جرته په نهر يا په لختي کښې ډوب شي. نو دا د حېرانتيا نه زياته د شرم خبره کېدلے او منلے شي. مطلب دا شو چې ګڼي دا د يو بنده دپاره ډېره د شرم خبره ده چې هغه دومره په لږو اوبو کښې ډوب شي. دويم مطلب ترينه دا هم اخذ شوے دے چې ګڼي دومره منډه ، ېږه ، تېزي او تندي مۀ کوه. چې اوبۀ دې په مخه کړي او په لږو اوبو کښې ډوب شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼي دومره تېزي مۀ کوه او يا دومره بې شرمي مۀ کوه چې په لږو اوبو کښې ډوب شي.

نن سبا يې خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي. جرته چې څوک داسې په څۀ کار او خبره کښې تېزي کوي په لږه خبره يا په نۀ څۀ خبره جنګ جګړې ته تيار وي. بد ګمانه وي او ارو مرو په بل بدګماني کوي. بې صبره وي او يا بې غېرته او بې شرمه وي. نو داسې خلقو ته مشران وايي چې لږ صبر وکړه ، تادي مۀ کوه ، يا دومره بې غېرتي او بې شرمي مۀ کوه. په خصوصي توګه داسې غږے چې په لږه يا په نه څۀ خبره ناراضه ، خفه او مرور شي نو د دې مطلب او نصيحت دپاره ورته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "دومره په

لږو اوبو کښې مۀ ډوبېږه". او د چا نه چې داسې څۀ د بې غېرتۍ او بې شرمۍ کار وشي نو هغۀ ته خلق پېغور ورکوي او د طنز په توګه ورته داسې وايي چې د دې نه خو ښۀ دا وه! "چې په يو چونګ اوبو کښې ځرته ډوب شوے وې".

دومره ښۀ کوه چې څومره بد اوږے شي

دا يو عامل متل دے. د معنې په نېز دا يو اپوټه متل دے. د لرغونو زمانو راسې خو دا متل داسې مشهور وؤ او اوس هم په هغه وېنا کښې وئيلے شي چې: "دومره بد کوه چې څومره خپله اوږے شي". خو لکه څنګه چې زمانې تېرې شوې، بنيادمان بدل شول او داسې ورسره حالات ، دود دستور ، کلتور ، قدرونه ، اخلاق او خوي خصلت هر څۀ بدل شول. نو د دې حالاتو د بدلون له کبله هغه زور متل هم نن په نوي طرز او نوي توګو سره مشهور شوے دے. چې د نن زمانې د حالاتو او واقعاتو ترجماني ، عکاسي او څرګندونه کوي. يعني نن سبا وخت داسې راغلے دے چې که چا سره دې ښۀ وکړل نو کېدے شي چې هغه ښۀ درته سبا بد شي ، يا د هغه ښۀ په بدل کښې درته څۀ زيان ، تکليف او کراؤ مېلاؤ شي. لکه د مثال په توګه که نن دې چا له څۀ قرض پور ورکړو نو بيا د خپل مال د واپسۍ تقاضه نۀ شي کولے. او که ټپوس يې کوې نو تيار جنګ دے. يعني مطلب دا چې نن سبا داسې دېر کم کوز خلق پاتې دي. چې د چا احسان مني ، يا منه لري ، يا د خو به بدل کښې ښۀ کوي. کښې نو اکثر خلق په ځان ځاني او خودغرضۍ کښې داسې کېر دي. چې خپله خو غرض کوي خو بل چا ته د کټې او سود په ځائے د زيان لاړې لټوي. داسې يو بل متل هم دې چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري او هغه داسې وئيلے شي چې: "ښۀ مۀ کوه بد نشته". او د دې دوارو متلونو مطلب دا دے چې کښې نن زمانه بدله شوه يا خلق بدل شول. او چې چا سره ښۀ کوي. نو هغه به په بدله کښې درسره بد کوي. په خصوصي توګه لکه چې مخکښې ذکر شوے دے. نن سبا دې که د چا سره د پېسو لېن دېن وکړو. نو اخري انجام او نتيجه يې زړۀ بداوے وي. يعني مفته او تياره دښمني. ځکه په داسې حالاتو کښې بيا هغه ښۀ کولو والا بنيادم خپله پښېماني ، ستوماني ، غصه او غم خفګان په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "دومره ښۀ کوه چې څومره بد اوږے شي" ، يا "ښۀ مۀ کوه بد نشته".

د وېش نه يې په تالان خوشحاله يې

دا يو عام متل دے وېش نه معنې ، ې ده چې څۀ شے چا له په يو يو يا په شمېر ورکولے شي ، يا په ټوکړو او ټوټو چا له څۀ شے ورکول ، يا په کموکسانو تقسيمولے شي. تالان معنې ، ې ده چې څۀ شيز يا شے په بر يعني په يو ځل ټول په ټوله ورکړے شي ، يا بې شمېره او بې توکه په لږو او په جولو تقسيم کړے شي ، يا پرې خلق بوه هله ځان ځانے جوړ کړي. او چې چا له څۀ په لاسو ورځي نو هغه تختوي. نو دې عمل ته تالاترغه کول او يا تالان جوړول وئيلے شي. مشرانو هم دا مطلب په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي ځرته چې داسې څوک خپل څۀ مال دولت چا ته په حواله کړي يا د څۀ کار کولو دپاره يې ذمه واري او ضامن جوړ کړي او هغه امانتدار يا ضامن بنده په هغه مال خپله هم مزې کوي او نورو خلقو ته ترنه هم فائدې ، برخې او حصې مېلاوېږي او مزې پرې کوي. نو په داسې وخت خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې ستا پرې څۀ زړۀ خوکېږي پردے مال دے! "د وېشه په تالان خوشحاله يې".

د چا په لاس چې د بل مال شي
هغه يې د وېشه په تالان خوشحاله وينه

د هاتهې په غوږ کښې پروت يې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه فرضي قيصې مشهوره ده. وايي چې يوه ورځ د ماشي يو بچے د يو هاتهې په غوږ ورننوتو. څۀ شېبه يې خو پکښې دېر بنګه بنګه وکړل خو د هاتهې وربانډې څۀ غوږ اونۀ کړېدو. ماشي تربنه په مره خبتنه ښۀ بلا وينه وځښله. او بې غمه اودۀ شو. کله چې د خوب نه راپاسېدو نو بيا يې ورته خپله سرېنده سازه کړه. او په غوږ کښې يې بې مندې تړې ووهلې. خو د يهر وتلو لاره

يې اونۀ موندله. داسې ډېره موده ماشے د هاتۍ په غوږ کښې ډېره وۏ. او هغۀ دا ومنله چې کله تلو نو هاتۍ دنيا هم دا ده. يوه ورځ قدرتي ماشے د غوږ نه بهر راوتو. ماشي چې کله د بهر دنيا وليده نو ډېر حېرانه پاتې شو. ماشے چې کله تلو نو هاتۍ ته يې وئېل چې ښۀ ده دوسته زۀ درنه لاړم. هاتۍ ورته وئېل چې ځې نو ځه. خو نۀ دې په راتلو پوهه شوم او نۀ دې په تلو. مطلب دا چې د ماشي ډېاره د هاتۍ غوږ لويه دنيا وه ، هغه د بهر د حاله نۀ وۀ خبر چې بهر په دنيا کښې نور څه کيږي. او د هاتۍ ډېاره ماشے دومره خس شے وۀ چې هغه يې نۀ غوږ ته په راتلو او نۀ بهر په وتلو پوهه شوے وۀ. مشرانو د هاتۍ غوږ د دنيا او د ماشي مثال د بنيادم سره ترلے او ورکړے دے. او مطلب ترينه دا دے چې ځنې انسانان هلې په خپل ذات يا په خپله دائره کښې داسې ج ،پ ، ځلے اودۀ او يا پټ وي چې هغوي ته د خپل چاپېرجل يعنې کور کلي ، چم کاونډ او د دنيا هېڅ پته نۀ لګي. چې په دنيا کښې څۀ کيږي او څه کېدو والا دي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د دنيا د حالاتو نه ناخبره وي يا په څۀ کار يا څه خبره باندې خپله حېرانتيا ښکاره کوي يا د څۀ خبرې او معاملې نه خبر نۀ وي. او يا هم خپله غلطه ملطه رائے يا مشوره وړاندې کوي. نو په داسې وخت هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرپرده يار! تۀ د څۀ نه خبر يې تۀ خو! "د هاتۍ په غوږ کښې پروت يې" يا تۀ خو! "د هاتۍ په غوږ کښې اودۀ يې".

چې د هاتۍ په غوږ کښې پروت وي
څۀ به خبر د دنيا کې د حالاته شينه

د هاتيانو په جنګ کښې چيندخان مري

دا يو عام متل دے. خو په امروزه ژوند کښې ډېر نۀ استعمالېږي. دا يو حقيقت دے چې هاتيان ډېر درانۀ او پهلوانان څناور دي. او چې کله دوه هاتيان په جنګ شي نو په هغه ميدان کښې لوئے غل غوبل جوړ شي. او په دې غل غوبل کښې وارۀ وارۀ څناور (چرند) لکه چيندخې او چيندخان او داسې نور ميږي او چينجي د پښو لاندې راشي ، يا په دېکو او دکرو کښې مړۀ شي. دا حقيقت هوښيارانو د مثال په توګه د داسې خلقو سره ترلے او مشهور کړے دے. چرته چې داسې د دوۀ غټو او زورورو خلقو او يا ډلو په جنګ جګړه کښې څوک غريب ټوپکمار يا څوک غريب درېمګړے مړ شي ، يا داسې چې د دوۀ غټو افسرانو تر مېنځه څۀ مقابله او سيالي راشي. نو د هغوي په داؤنو ، دامونو او چالونو کښې اکثر د هغوي ماتحت نوکران ، خادمان هم په عذاب کښې کېر شي. د جا بدلې اوشي ، څوک پکښې د نوکرۍ نه مات شي. په جا مقدمې جوړې شي او چا ته پکښې سزاګانې مېلاؤ شي. هم داسې حالات او واقعات په کوته کولو او مطلب څرکندولو دپاره هوښيارانو دا متل مشهور کړے دے. او چرته چې داسې څۀ واقعه پېښه شي. يعنې داسې حالات جوړ شي چې د جا غټ افسر له کبله جا غريب نوکر ته څۀ زيان او تاوان ورسي. نو په داسې وخت خلق دا متل وړاندې کوي او وايي چې: "د هاتيانو په جنګ کښې چيندخان مري" او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې: "د سندګانو په جنګ کښې چيندخان مري".

د هاتيانو سره ټانټې مۀ ژووه

دا يو ساده متل دے. ټانټه د جوارو بوټي يا ډکي ته وئېلے شي. يعنې د جوارو بوټے چې دومره غټ شي. چې (توکه ، چلي ، وکې) اونيسي نو هغې بوټي ته ټانټه وئېلے شي. او ژوول چوپلو ته وئېلے شي. يعنې ځنکه چې بنيادم کټ چوپي. هم داسې چې څناور څۀ بوټے يعنې کټي ، نري يا د جوارو ټانټه اوچوپي. نو دې عمل ته ژوول وئېلے شي. هاتۍ په څناورو کښې لوئے ، غټ او پهلوان څناور دے. هاتۍ خو يو ځنکلي څناور دے خو په کورونو کښې هم ساتلے شي. پخوا په زمانه کښې به هاتۍ د فوځ او د جنګ يو ډېر مهمه جز او وسله وه. د افريقې په ځنګلو کښې ډېر ليدے او کټے شي. خو په سنګاپور ، تائي لېنډ ، ملېشيا ، هندوستان ، بنګال ، سري لنکا او نيپال کښې يې خلق په کورونو کښې هم ساتي. د هاتيانو خوراکه ونې بوټي ، کيا او غله ده. خو جوار او کټي يې ډېره د خوښې خوراکه ده. هاتيان چې کله د جوارو يا د کټو په ټل ورکډ شي نو په لږ ساعت کښې ټول بټے تالاترغه کړي. کټي او ټانټې داسې ژووي لکه کانې. خوري او چوپي هم ډېر خو کز کمېت کوي هم ډېر زيات. د هاتيانو د خوراک او د ژوولو دا عمل دومره تېز او ډېر وي چې بل څناور ورسره مقابله نۀ شي کولے. هم د دې تېز عمل له کبله مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې کټي هاتيان په دې عمل کښې دومره تېز ، تکړه او چاک و چوبند وي چې بل څۀ څناور ورسره مقابله نۀ شي کولے.

په دې متل کښې مشرانو عامو خلقو ته اشاره ورکړې ده. چې کوم سړے لکه د هاتهي غټ ، دروند ، پهلوان ، چوست او په خپل کار کښې تکړه او ماهره وي نو د هغهٔ سره مقابله نهٔ ده پکار. يعنې د ځان نه غټ ، تکړه ، پهلوان ، مضبوط او اوچت بنده سره ډغره وهل نهٔ دي پکار. هم دا مطلب هوښياران د نصيحت په توګه په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "د هاتيانو سره ټانټې مهٔ ژووه".

د هر چا سره پنج خو د يار اشنا سره نه پنج

قيصه:

داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې يو درې غلاګر دوستان وو. د دوي خپلو کښې ښهٔ پخه او خوږه دوستانه وه. کله چې به دوي غلا وکړه نو برابر برابر حصې او برخې به يې کولې. چرې يې په مېنځ کښې څهٔ لاندے باندے نهٔ وؤ راغلے. يوه ورځ يې د يو کوره غلا وکړه چې ډېر مال دولت ورله په لاس ورغے. دوي دا مال په يو ځائے کښې ښخ کړو. او دا صلاح يې وکړه چې کله خبره سره شي نو بيا به مال تقسيم کړو. او تر دغې پورې به ټولې خبرې بندې کړو. که څوک هم د څهٔ شي تپوس کوي نو صرف دا ځواب به ورکوو چې پنج. يو خوا دوي خپلو کښې دا صلاح کولو بل خوا د کور مالک په پوليس کښې هم په دې درېواړو دعوی ، وکړه. پوليس درې واړه اونيول. او په زندان کښې يې واچول. کله چې د دوي نه تپوس پوښتنه شروع شوه نو دوي به د هر سوال يو ځواب ورکولو چې پنج. پوليس ورباندې خپله هره حربه او لوبه وکړخو د دوي په خ ، له بس يوه خبره وه چې پنج. اخر چې پوليس سترے شو نو دوي يې عدالت ته ورمخکښې کړل. په عدالت کښې هم د دوي هغه يو ځواب وؤ چې پنج. په عدالت کښې ورباندې څهٔ ثبوت هم ثابت نهٔ شو. او اخر چې قاضي ترېنه هم تنګ راغے او دوي يې پاګلان وګرځول. او د مقدمې نه يې بري کړل. څهٔ موده پس چې خبره غلې شوه نو هغه يو دوست د بل کور ته ورغے او ورسره يې د مال وېشلو خبرې اترې شروع کړې. هغه کور به دوست د دهٔ په تپوس هم ځواب ورکولو چې پنج. هغه دوست ورله په ملا کښې يو سوک ورکړو. او ورته يې وئېل چې يار د هر چا سره پنج خو د يار اشنا سره نه پنج. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې د هر چا سره دهوکه ، فرېب او مکر کوه خو د يار اشنا سره مهٔ کوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک خپل دوست ته په څهٔ خبره کښې دروغ وايي او يا دهوکه ورکوي يا ورکول غواړي ، يا ورسره څهٔ مکر فرېب کوي او هغه دوست د هغهٔ په فرېب او دهوکه پوهه وي يا پوهه شي. نو په ځواب کښې ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "د هر چا سره پنج خو د يار اشنا سره نه پنج".

خېـــــر کـــــه د هـــــر چـــــا ســـــره پـــــنج کـــــړې
د يـــــار اشـــــنا ســـــره څـــــوک نـــــهٔ تـــــړي پنجونـــــه

د هرې ونې مهٔ خوره د يوې به دې ګنډېر شي

دا يو عام او ساده متل دے. مشرانو او پوهانو د خپلو تجربو په نتيجه کښې جوړ کړے او مونږ ته يې وړاندې کړے دے. د ګنډېر توکي مغلظ ی غالبا ، داسې يو سخت شے دے. چې د خوراک په وخت په مرۍ کښې اونخلي. نهٔ په ښکنه ځي او نهٔ بېرته راوتلے شي. او د هغې اخر انجام د سړي د ژوند خاتمه شي وېمه معن ، ی يې د زهرو هم اخستے شي. يعنې هر هغه شے ، څيز يا هغه خوراک چې بنيادم ته زهر شي ، يا ورته لکه د زهرو په شان زيان رسوي. نو هغه څيز هم په ګنډېر بللے شي. د دې معنو تر لاندې د متل مطلب دا شو چې ګڼې په ځنګل کښې د هر قسمه ونې بوټي وي او ورکښې مېوې دانې هم وي. داسې بغېر د معلوماتو نه د هرې ونې نه مېوې دانې خوړل نهٔ دي پکار. مهٔ باده چې چرته پکښې زهريله دانه وي. او هغه ګنډېر شي. مشرانو د دې دنيا مثال هم د ځنګل سره ورکړے دے او وايي چې په دې ځنګل (دنيا) کښې هم په قسم قسم ونې بوټي (انسانان) اوسيږي. دلته کار روزګار ، لېن دېن ، او ناسته پاسته د معلومه خلقو سره په پام ، خيال او اعتدال سره ساتل پکار دي. نهٔ ډېر خوږ او نهٔ ډېر تريخ. نهٔ د هر چا سره دوستي او نهٔ د هر چا دښمني. او چې څوک په دې عمل نهٔ کوي. او د هر چا سره يې ښکرې انخنولې وي. نو اخر ورته يوه ورځ څوک ګنډېر جوړ شي.

نن سبا دا متل د داسې خلقو په حقله استعمالېږي چرته چې څوک په طمع او حرص کښې د هر څۀ نه تېر وي. د هر چا سره غلا غلطي ، فريب او د هوکې دهرکې کوي. د هر چا نه په هر وخت د څۀ نه څۀ بودې کولو په لټون او تکل کښې وي. او په تکې توري وخت تېروي ، يا د هر چا سره د ياري دوستي تعلقات او اعتبار جوړوي. نو داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "د هرې ونې مۀ خوره د يوې به دې کندېر شي".

څوک چې د هرې ونې چک کړي
چرته د يوې بېه يې کندېرشي مېر بېه شينه

د هندوانو تنور يې سېوا ککورے درکښې نۀ راځي

دا يو عام متل دے معنې ، ې او مطلب يې جدا جدا دي. هندو قام چې په بنيا باندې هم مشهور دے. ډېر شوم او کنجوسه قام ياد او منلے شوے دے. د دوي د شومتيا په حقله ډېرې قيصې مشهورې دي. مشرانو او پوهانو چې د دوي سره يې ژوند تېر کړے وۀ. او د دوي سره يې لېن دېن شرلے وۀ. او ددوي کړۀ وړۀ يې ډېر د نزدې نه ليدلې او کتلې وو. نو د خپلو تجربو له کبله يې دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. د متل نه مطلب دا دے چې کنې هندوان دومره زيات شومان وي. چې د هغوي تنور هم صرف د هغوي د ضرورته پورې وي. يعنې که حاجت او ضرورت يې څلور ډوډۍ وي نو تنور يې هم دومره جوړ کړے وي. چې ورکښې هم هغه څلور ډوډۍ راځي. د سېوا ډوډو ، يا د ککورې ځائے پکښې هم نۀ وي. همدې خو متل جوړ د هندوانو په نامه دے خو مطلب يې عام دے. او هوښيارانو هر هغه چا ته اشاره ورکړې ده څوک چې لکه د بنيا رنګې ډېر زياته شومتيا کوي. نن سبا دا متل په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک ډېره زياته شومتيا او کنجوسي کوي ، يا څوک د شومتيا خبرې کوي نو هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې تۀ خو! "د هندوانو تنور يې سېوا ککورے درکښې نۀ راځي".

د هندوانو مال بامبړان خوري

د دنيا په ټولو مذهبونو کښې د مذهب د تعليم او پوهې د درس او تربيت ورکولو دپاره د مذهب عالمان ، پوهان او هوښياران وي. دا عالمان او پوهان د خپلو مذهبونو امامان ، پېشوا او رهنما منلے او کنلے شي. داسې پېشوا او رهنما ته يهوديان ربي ، عيسايان پادري ، مسلمانان امام ، پير او مرشد ، سېکهان گ ، رو او هندوان هم گ ، رو کتال او برهمن وايي. په هندو مذهب کښې د ذات پات لاندے باندے ډېر زيات دے. يو ذات ډېر اوچت او بل ډېر نيچ او اچوت منلے او کنلے شي. همدې خو د هندوانو ډېر ذاتونه او نسبونه دي. خو د ټولو نه اوچت ، معزز او عزتمن برهمن ذات دے. او د ټولو نه نيچ کم او لاندې شودر ذات کنلے شي. ځنګه چې دا خبره څرګنده شوه چې برهمن د ټولو نه معزز او عزتمن ذات دے نو داسې دوي د مذهبي پېشوا او رهنما په توګه هم منلے شوي وو. يعنې د هندوانو مذهبي رهنما به برهمن وۀ(مذهبي ، اولسي او قامي ټولې فېصلې به د برهمن گ ، رو په واک اختيار کښې وي. داسې د مندر مشر (پلار)هم برهمن گ ، رو وۀ. او داسې به هغه ګرو د خپلې اولسوالۍ يعنې د چم محلت ، کلي او يا د علاقې بې تاج باچا وۀ(ې د عوامو د قسمت فېصلې به هم د گ ، رو په لاس وې(ه گ ، رو به وي چې شپه ده نو هغه بيا چا نۀ شوه ورځ کولاسې د زماني تېريدو سره په هندي ژبه کښې د گ ، رو برهمن نه برهمن جوړ شو او د برهمن نه په پښتو ژبه کښې بامبړ جوړ شو. مطلب دا چې د هندوانو مذهبي رهنما او پېشوا برهمن په پښتو ژبه کښې په بامبړ منلے او بلے شي.

د هندوانو په مذهب کښې د دېوتاؤ(ې تانو) په نامه خيرات کول او مال دولت وېشل هم يو مذهبي فريضه او عبادت کنلے شي. يعنې د ې ،تانو په نامه د مال دولت قرباني ورکوي او دا د ې ،تان به په مندر کښې پراتۀ وۀ. نو د خيرات او قرباني مال دولت به ټول مندر ته ورکولے او سپارلے شو. او څنګه چې معلومه ده چې د مندر مشر (ماسۀل) به برهمن (بامبړ) وۀ. نو دا مال حال به ټول هغۀ قبضه کولو او سنبالولو. يعنې د مندر مال به د بامبړ مال وۀ. او چې څنګه به هغۀ غوښتل نو هغسې به يې خرچه کولو يا خورلو.

هم د دې حالاتو له کبله مشرانو دا متل مشهور کړے د ـلو مطلب يې دا دے چې د هندوان مال په م ، فته کښې بامبړان خوري. يعنې بغېر څۀ محنت ، کړاؤ او تکليف نه د ډېر مال مالک شي. او د دې مطلب په حقله هوښياران وايي چې دا داسې شوه چې د حرامو مال وۀ او په حرامه لاره لاړو. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او نن سبا په داسې حالاتو

کښې استعمالیږي چې داسې چا ته د چا مال پاتې شي یا ورته په مفته کښې څۀ مال دولت د چا نه مېلاؤ شي ، یا د چا نه څۀ مال ورک شي یا ترېنه فضوله او بې فائدې خر چه شي. نو مشران وایي چې دا د حرامو مال وؤ او په حرامه لاړو. او دا مطلب ورته په دې متل کښې داسې وړاندې کوي او وایي چې: "د هندوانو مال بامبړان خوري".

دې ته به د چا پلار ټینګ شي

قیصه:

د دې متل په حقله داسې یوه قیصۍ مشهوره ده.وایي چې پخوا په زمانه کښې یو سړے د ګډا (ډانس) ډېر شوقین وؤ. چرته چې به یې د ډول سړنا اواز اورېدو. نو هلته به یې ځان رسولو او په ګډا به یې ځان انډې انډې کولو. د کلي او چم ګاونډ ښادۍ به په دۀ ګرمې وې. کله چې یې زامن رالوئے شول نو هغوي پلار د ګډا نه منع کړو. خو بیا به یې هم کله کله د زامنو نه په پټه مېدان ته وردانګل او د ښادۍ مېدان به یې ګرمولو. یوه ورځ یې د خپل زوي وادۀ جوړ شو.زامنو یې صلاح وکړه چې پلار به د ډول سړنا خوا ته نۀ پرېږدي. نو د وادۀ په شپه یې پلار په یوه کوټه کښې بند کړو. پلار ورته ډېر منتونه او زارۍ کولې خو په زامنو یې هېڅ اثر نۀ کولو. زامنو ورته وئېل چې تۀ په هر ځائے کښې ګډېږې ، مونږه دې وشرمولو. نن خو به زمونږه خاص مېلمانۀ راځي. که د هغوي مخکښې دې څۀ حرکت وکړو نو په شرمونو به وشرمېږو. د دې نه به ښۀ دا وي چې تر سبا پورې دلته ښۀ په ارام څمله. پلار ورته منتونه کول ، قسمونه او قرانونه یې خوړل او پخه وعده یې ورسره وکړه. چې زۀ به داسې هېڅ حرکت نۀ کووم. خو بس دې خوشحالۍ کولو او لیدلو ته مې لږ پرېږدئ. اخر زامنو په قسم او وعدې سره راخلاص کړو.په حجره کښې چې کله استاذانو خپل سازونه سړ کړل او په قسم قسم سازونه یې پکښې اړول راړول. نو اخر دې سړې زړۀ ټینګ نۀ کړے شو او مېدان ته یې وراودانګل. او دا نعره یې پورته کړه چې: دې ته به به د چا پلار ټینګ شي. او داسې د هغه وخت دا نعره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب یې دا دے چې ګنې که ډېر هم څوک د څۀ کار یا د څۀ خبرې نه زړۀ صبروي خو صبر اونۀ کړے شي او هغه کار ترې وشي ، یا هغه خبرې کولو ته مجبوره شي. نو په داسې وخت هغه بنده دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې: "دې ته به د چا پلار ټینګ شي".

چې په ترنګ او ډنګ اریان وي
بیا دې هغۀ ته د چا پلار ټینګ شي مئینه

د یو لاسه ټپ /پړق نۀ خېژي

دا یو عام متل دے. چې په امروزه ژوند کښې ډېر زیات استعمالیږي.او معنی یې دا ده چې ګنې د یو لاس نه د ټپ یا د پړق اواز نۀ خېژي او نۀ ختلے شي. یو لاس به لازمي د بل لاس سره یا د بل څۀ څیز سره جنګوي ، یا راخلاصوي نو هله به ترېنه اواز خېژي یا پېدا کیږي.د لاس او د پړق دا فلسفه هوښیار انو په دې متل کښې د دې مطلب دپاره مشهوره کړې ده. چې ګنې څنګه چې د یو لاس نه ټپ نۀ خېژي نو داسې په یارۍ دوستۍ ، خپلولۍ ، عزیزولۍ او په وروری کښې هم د یو طرف ، یو اړخ او یا د یوې غاړې او ډلې نه خبره نۀ جوړېږي. بلکې لازمي به دواړه غاړې یا دواړه ډلې د یو بل سره یو شان تعلق او یو شان تلے راغلے او غم ښادي ساتي. نو هله به یاري دوستي ، وروري خپلولي او عزیزولي قائمه دائمه او خوږه وي. او که یو غاړه یا ډله ښۀ تعلق او تلے راغلے ساتي او بله ډله نۀ ساتي او نۀ ساتل غواړي نو بیا مشرانو په ځائے وئېلي دي چې: "د یو لاسه ټپ یا پړق نۀ خېژي".

یاري د یو طرفه نۀ شي
لکه د یو لاسه چې نۀ خېژي پړقونه

" "
ډ

ډم مل نۀ دے او وسله شل نۀ دے

دا يو عام متل دے چې معنۀ ، ی او مطلب يې يو دے. ډم چې يو کسب کړ وکړے وي نو د کلي په سطح هغه د هر چا سره تک راتک او راشه درشه ساتي. يعني هغه د خپل کسب له کبله مجبوره وي چې هغه د يو تن يا کس ملکرے کېدے نۀ شي. د هغۀ کسب داسې وي چې هغه به هر چا ته خان ښۀ وايي تپه اروي. که هغه د يو کس يا يوې ډلې ملکرے شي نو بيا هغه خپل کسب نۀ شي کولے. ډېر په معذرت او معافي سره د مشرانو قول دے. نو ځکه يې ځرکندول غواړم. او هغه دا چې کنې کم ذات والا بنده په يارۍ دوستۍ کښې لږ پس وي. هم دا مطلب په يو بل متل کښې مشرانو داسې ستائيلے دے وايي چې: "اصل له خطا نشته او کم اصل له وفا". او په دې متل کښې هم دې اړخ ته اشاره شوې ده. چې کنې دا خلق نۀ مل وي او نۀ ملکرې جوړېدے شي. او نۀ د جوړېدو جوګه وي. دوېم ذکر په متل کښې د شل او د وسلې شوے دے. شل د پخوانۍ زمانې وسله وه. دا لکه د نېزې په شان جوړه وه. خو نېزه نۀ وه. بس د لرکې نه يو لرګے وؤ. يې اعتباره وسله وه. نو ځکه مشرانو د وسلې د خاصيت نه ايستلې ده. په دې حقله د مشرانو يو بل قول هم دے. وايي چې: "سانډو رشته نۀ ده او شل وسله نۀ ده". يعني مشران وايي چې دا يې اعتباره شے دے ، يا لرګے دے او وسله نۀ ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې دا دواړه يې اعتباره دي. په ډم اعتبار نۀ شے کولے ځکه چې هغه د هر در سلام کوي. د يو در خبر بل ته او د بل هغه بل ته رسوي. داسې خبره په ټول کلي کښې ډنډوره او نغاره شي. داسې شل هم اعتباري شے نۀ دے. د ضرورت په وخت کېدے شي چې دے اريان دريان پرېږدي. د ډم او د شل د يې اعتباري دا حالت ، کېفيت او فلسفه مشرانو په دې متل کښې د يو بل سره تړلے او مشهوره کړې ده. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي: "ډم مل نۀ دے او وسله شل نۀ دے".

ځـــــــوک چـــــــې بـــــــې خايـــــــه اشـــــــنايي کـــــــه
مـــــــدام رســـــــوا بـــــــه پـــــــه حجـــــــره جومـــــــات کښـــــــې وينـــــــه

ډمې ته چا وئېل يار دې مړ شو نو وئېل د کومې کوڅې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يوه ډمه ډېره مشهوره وه. يو خوا په رنګ روغن او څېره جوسه ډېره ښکلې او ښائسته وه. نو بل خوا يې د ساز ، آواز او د کډا شور او نامه هم تر ډېر لرې پورې خوره شوې وه. ډېر خلق د هغې عاشقان وؤ. څوک پرې د مال نه تېر وؤ او څوک پرې د مال و سر دواړو نه. هغې ډمې به هم ځان هر چا ته رسولو او ټول عاشقان به يې داسې خوشحاله اوړضا ساتل چې هر عاشق به دا ګڼله چې کنې که ياري دوستي ده نو هم زما سره ده. په دې عاشقانو کښې د علاقې يو خان هم شامل وؤ. هغۀ پرې هم خپل ټول مال دولت زار کړے او ځان تباه کړے وؤ. يوه ورځ د خان نېټه پوره شوه او په حق ورسېدو. د خان يو نوکر ، چې هغه د خان او ډمې د يارۍ نه خبر وؤ. نو د خان د مرګ خبر يې هغې ډمې له يووړو. او ورته يې وئېل چې يار دې مړ شو. هغې ډمې ترېنه پوښتنه وکړه چې کوم يار او د کم کلي يا د کومې کوڅې. او کله چې دا سوال ځواب خلقو ته معلوم شول نو هوښيارانو دغه حالات او سوال ځواب د متل په توګه مشهور کړل. نن سبا يې خلق د داسې بنيادم په حقله استعمالوي چرته چې څوک لکه د ډمې د هر چا سره تعلقات جوړوي او ساتي. خو په وفا او وعده د يو سره هم ټينګ نۀ وي. نو داسې بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ستا مثال خو داسې دے لکه! "ډمې ته چا وئېل چې يار دې مړ شو نو وئېل د کومې کوڅې".

" "
ر

روري په رو رو کيږي

وروري خوري کول د پښتو ژبې محاوره ده. چې د متل په توګه هم استعمالیږي. مطلب يې دا دے چې د يو بل سره لکه د ورونو او خويندو په شان تعلق ، ياري دوستي ، عزيزولي او غم ښادي جوړول او ساتل. يعني په ياري دوستي کښې لکه د ورونو شاني وخت تېرول. هغه بيله خبره ده چې نن سبا د سکه ورونو هم هغه رولي پاتې نۀ ده. کومه چې مشرانو په دې متل کښې ستاېلې ده. نن سبا خو د غرض ، حرص او حسد له کبله ژوند داسې په منډو ، دوڅنو او خان خانې سر دے چې د بنيادم نه خلوص ، اخلاق او ياري دوستي هر ځۀ هېر او پاتې شوې دي. هم دا وجه ده چې نن عزيزولي دوستي او وروروليې هم د پيسو په تول تلے او بالے شي. خبر خبره د متل وه. او د متل نه مطلب دا دے چې کله داسې د دوۀ وګړو تر مېنځه کپ شپ ، تک راتک او راشه درشه جوړ يا شروع شي. نو دا تعلق دوستي او يا د دوستي نه وروړلی ته په رسېدلو وخت لکي. يعني جرته چې داسې څوک نااشنا وکړي د يو بل سره اشنا شي نو د اول نه هغوي په يو بل نااعتباره وي. او بيا په تک راتک رو رو په يو بل باور او اعتبار جوړ شي يا راشي. داسې د هغو دا اشنايي ځۀ موده پس دوستي ته ورسي. او بيا په مودو کښې په وروړلی کښې بدله شي. يعني داسې د اشنايي او ياري دوستي دا تعلق د وخت تېرېدو سره په رو رو د وروړلی مقام ته رسي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي. جرته چې څوک داسې په حا اعتبار او باور نۀ کوي. نۀ ورله په وړومبي ځل د دوستي يا وروړلی لاس ورکوي نو په خپله صفايي کښې دا متل وړاندې کوي او مشران يې هم خلقو ته د نصيحت په توګه وړاندې کوي. او داسې وايي چې هلکه! ياري دوستي په خپل ځائے خو! "وروري په رو رو کيږي".

روري خوري به کوو خو حساب کتاب تر مېنځه

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به بنجاريانو په لرو کوڅو کښې کډې ک ، ودې کړخولې او خرڅولې. دوي سره به د ښځو د استعمال ځيزونه ډېر وولکه کجل ، رانجۀ ، داندااسه ، سـ ،ېږهر ، ا ـ ئينې او ږومنزې او نور ډېر د سينګار او د کور د استعمال ځيزونه به ورسره وو. په دې وجه به د دوي روزګار او لېن دېن د زناناؤ سره زيات وؤ. او ښځو به هم د دوي نه په ازاد مټ سوداګاني کولې. او د يو بل سره به يې قرض پور هم کولو. داسې وايي چې د يو بنجاري يوې مېرمنې ته ځۀ پور پاتې وؤ. بنجاري تر ېنه د پيسو غوښتنه کوله. او هغې ښځې قرض نۀ منلو. بلکې جوته منکره وه. د بنجاري په شور زور ، زورنې ، سوکندونو اود نورو ښځو په وېنا او لعنت ملامت اخر هغه ښځه داده شوه او د بنجاري قرض يې ومنلو. هغې ښځې د بنجاري سره تعلق او لېن دېن خرابول هم نۀ غوښتل. نو خبره يې داسې جوړه کړه. او ورته يې وئېل چې خبر دے وروره. زۀ هم بنيادم يم هېر تېر پکښې راځي. تۀ خو زمونږه ورور يې او په وروري خوري کښې پيسې هېڅ خبره نۀ ده. خو چې دا وروري خوري مو خرابه نۀ شي. هغه بنجاري ورته ځواب ورکړو. چې بې شکه وروري خوري به کوو ، خو حساب کتاب تر مېنځه. مطلب يې دا وؤ چې کې وروري خوري په خپل ځائے او حساب کتاب په خپل ځائے او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالیږي جرته چې داسې د دوه کسو تر مېنځه په سود سودا او لېن دېن کښې د سود زيان خبره راشي. په خصوصي توګه د دوستانو تر مېنځه. نو اکثر يو بل ته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "وروري خوري به کوو خو حساب کتاب تر مېنځه".

وروري خـــــــــوري شـــــــــي تربنـــــــــه پـــــــــاتي
څـــــوک پـــــه يـــــاري کښـــــي چـــــې حســـــاب کتـــــاب کوينـــــه

رښتيا وئېل د پير مذهب کنځل دي

رښتيا وټل په رښتيا چې ډېر ګران کار دے. او بيا خاص په نن زمانه کښې. هغه يو بل متل دے ، وايي چې: "که رښتيا وايم نو موږ ټه مې هم وهي". يعنې په رښتيا وټلو باندې که خپله مور وي نو هغه هم خفه او غصه کيږي. دغه وجه ده چې خلق د بل د خفګان او غصې له کبله رښتيا نۀ وايي. بلکې د ځۀ نه ځۀ مصلحت له وجې د رښتيا وټلو نه ډډه کوي او خبره په انګړه دونګړه پټوي. او يا يې په شپېلي کښې اړوي. که د جا مخکښې رښتيا وايي نو هغه پرې داسې خفه او غصه کيږي لکه چې کنځل دې ورته کړي وي. هم دا حالات مشرانو په دې متل کښې څرګنده او مشهور کړي دي. زمونږه په مذهب يعنې په دين اسلام کښې خو رښتيا وټل يعنې حق وېنا او حقه خبره کول د جهاد برابر کړځولے شوې او منلې شوې ده. او دروغ وټل يې د منافقانو عادت او نخښه کړځولې ده. يعنې رښتيا وټل ثواب او دروغ وټل ګناه ده. ځکه هوښيارانو په متل کښې د بل مذهب (پير مذهب) مثال ورکړے او مشهور کړے دے. او مطلب تر پښه دا دے چې ګڼې رښتيا وټل دومره ګران دي ، يا دومره بد ګڼلے او منلے شي. لکه چې جا ته څوک سپکه سپوره ستغه وېنا او کنځل کوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک د جا په رښتيا وټلو خفه او غصه شي ، يا څوک جا ته داسې حقه خبره کول غواړي. چې د هغۀ د خفګان او غصې امکان پکښې وي. نو په داسې موقعو کښې داسې وټلے شي چې هلکه تا خو دومره غصه وکړه ، يا تۀ خو په حقه او رښتيا خبره داسې خفه او غصه شوې لکه چې کنځل مې درته کړې وي. دا ځکه خو مشرانو وټلي دي چې: "رښتيا وټل د پير مذهب کنځل دي".

رښتيا وټل د مخ سپېړې دي

د دې متل مطلب هم لکه د وړاندې ټبر شوي متل په شان دے. يعنې په رښتيا وټلو خلق داسې خفه او غصه کيږي لکه چې په مخ سپېړې ورکړے شي. يعنې که څوک جا له په مخ سپېره ورکړي نو هغه به ورسره جنګ کوي يا جنګ ته تيار ولاړ وي. داسې که جا ته رښتيا وايي نو هغه هم درسره جنګ کوي ، يا جنګ جګړې ته تيار وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې که جا ته رښتيا وټل غواړې. نو د هغۀ غم ، خفګان ، غصې او جنګ ته هم تيار شه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک جا ته رښتيا وېنا او خبره کول غواړي ، يا يې د ځۀ حالاتو نه خبرول غواړي. او په دې پوهيږي چې کنې زما په رښتيا وټلو به دا بنده خفه يا غصه شي. خو دا رښتيا وېنا او خبره کول هم حاجت او ضرورت دي ، يا دا بنده خبرول لازمي دي. نو د اول نه ورته خبردارے ورکوي او داسې وايي چې يار! "رښتيا وټل د مخ سپېړې دي".

رښتيا يا زوروړ وايي او يا لېونې

دا متل هم په مطلب کښې د مخکښې ټبر شوي متلونو سره ترون خوري. مطلب يې دا دے چې کنې په رښتيا وېنا او خبره خو خلق خفه او غصه کيږي. جنګ جګړې او دښمنۍ تر پښه جوړيږي. نو دا ډېره ګرانه خبره ده چې صرف په يوه خبره يعنې په رښتيا وېنا باندې د خلقو دښمنې په سر واخلي. او زوروړ خلق چې نۀ د جا په غصه او خفګان ځۀ پرواه لري او نۀ د زوروړو دښمنۍ ته څوک په اسانه تيارېږي. نو ځکه هغوي رښتيا وايي يا وټلے شي. دوېم لېونې خلق چې هغوي په دې نۀ پوهيږي چې خفګان او غصه ځۀ وي. او يا که ورسره څوک جنګ هم کوي. نو نور خلق وربانډې لعنت او ملامت وايي. چې هغه خو لېونے دے ، نۀ پوهيږي نو تۀ خو روغ يې ، تۀ ولې داسې کوې. يعنې مطلب دا شو چې لکه د زوروړو غوندې لېونو ته هم نۀ څوک غصه کيږي او نۀ ورته جنګ ته ولاړ وي. نو ځکه هغوي هم رښتيا وايي يا وټلے شي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے دے. او نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. جرته چې څوک رښتيا وټل غواړي. خو د ځۀ مصلحت ، بې وسۍ ، مجبورۍ او کمزورۍ له کبله يې وټلے نۀ شي. نو په داسې وخت هغه خپله مجبوري ، بې وسي او بې کسي په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "رښتيا يا زوروړ وايي او يا لېونې".

روغ د کورد يو ځي او لېونې د کورد وارډ

دا يو ساده متل دے۔ په متل کښې روغ او لېونې ستائيلے شوي دي،روغو نه يوه معنه ، ی خو هغه خلق دي چې په بدن ، صورت او دماغي طور باندې روغ وي۔ يعنې د مرض يا مرضونو نه بچ وي او روغ رمټ وي،وېښه معنه ، ی يې دا ده چې ګڼې هغه خلق چې د ژوند کولوټېرولو په طور طريقو ، د دود دستور ، قدرونو ، حدونو ، بندونو ، قانون او ا ٔ صولو باندې پوهه وي۔ او د هغې تر لاندې خپل ژوند کوي۔ يعنې هوښياره خلق۔ داسې د لېونو نه هم دوه معنې اخستے شي۔ يعنې يو هغه خلق چې دماغي مريضان وي چې په ښهٔ بد ، ګرمي ، سړۍ ، غم ښادي ، خفګان او خوشحالي نهٔ وي او نهٔ پوهيږي۔ دويم هغه خلق چې هغوي په بدن او په دماغو خو روغ وي خو د ژوکولو په قانون ، ا ٔ صولو ، په غم ښادي ، عزيزولي او دود دستور ، يا رسم رواج نهٔ پوهيږي۔ يعنې ا ٔ صولو او بې ډبه ژوند کوي يا تېروي۔ يعنې کم عقله او بېوقوفه خلق۔ هوښياران وايي چې د دې معنو تر لاندې د دې متل نه دوه مطلبه اخذ شوي دي۔ وړومبی دا چې هغه روغ خلق کوم چې په غم ښادي او دود دستور پوهيږي۔ نو جرټه چې داسې د غم ښادي موقع راشي۔ نو د هغې موقعې په مناسبت سره د کور وکړي هغه غم ښادي کوي ، يا د دود دستور لاندې هغه موقع اوزروي۔ په داسې موقعو کښې که ټول ټبر ته دعوت او بلنه وي۔ خو د کوره يو تن نيم د هغه ښادي او خوشحالي ځائے ته ورځي۔ او د هغوي په خوشحالو کښې شاملېږي ، يا داسې د غم په موقع هم د کوره (مشران) يو کس نيم د غم رازي دپاره د غم کور يا ځائے ته ورځي۔ او د غم زپلو سره د هغوي په غم خفګان او درد کښې ځان شاملوي يا شريکوي۔

بل خوا داسې لېونې خلق هم شته چې په ډنګ اريان وي۔ که غم وي او که ښادي۔ خو ټول کور به سره د واړه تکبيرونو (ماشومانو) په مخه شوي وي۔ ورځستو که يې خپل کور ورانيږي نو وران دي شي۔ خو چې دوي د ښادي په کور کښې اتن او انډوخر جور کړي۔ ځني خلق داسې وي چې هغوي په دې موقع خپلې دښمنې ، کيلې شکوې او جنګ جګړې راتازه کړي او په هغه کورني خپله ښادي او خوشحالي اور سکور کړي ، يا داسې د غم په موقع هم ځني خلق سره د دواړه باښتونو د غم کور ته ورځطا وي۔ او په ډېره ژړا او ويړ سره ځان شريکوي ، يا د بل غم درنوي او ښائسته کوي۔ اکثر په داسې موقعو کښې که هغه غم وي او که ښادي۔ خو د کور خلق په داسې شرکت او شمولیت خفه ، ناراضه او غصه وي۔

دويم مطلب ترېنه دا اخذ کېږي يا شوے دے چې داسې که په جا نېستي او غريبي راشي،هغه کورنی سره د کډې ک ٔ ډې بل وطن ته يا بلې علاقې ته هجرت وکړي۔ نو دا سنت ، جائز او ښهٔ خبره ده۔ خو که د نوکرۍ او مزدورۍ دپاره د کور نه ناريښه ټول د سېلمې ووځي يا لږ شي نو ورځستو د کور د سنبالښت او حفاظت نظام به ټول کډ ودِ شي ، يا د کور نظام به يې وران ويجاړ او تباه برباد شي۔ ځکه هوښياران وايي چې د کور د سنبالښت ، حفاظت ، غم ښادي او عزيزولي دپاره يو کس نيم په کلي کور پکار وي۔ او چې څوک داسې نهٔ کوي او ټول په بره نوکرۍ مزدورۍ پسې ووځي نو هوښياران وايي چې دا هم لېونې خلق دي۔ او هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے۔ او خلقو ته يې د سبق او نصيحت په توګه وراندې کوي او داسې وايي چې:"روغ د کوره يو ځي او لېونې د کوره واړه"۔

روغ لېونيه ځان دې پوهه که کره
لېونې واړه روغ يو تن د کوره ځينه

روغ رنځور پکښې کود — يا — روغ رنځور پېژنه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده۔ وايي چې پخوا په زمانه کښې يوه کونډه ښځه اود هغې يو نازولے زوئے په يو کلي کښې ښېښته وو۔ د رب کارونه وو۔ د کونډې زوئے ناروغه شو۔ د حکيمانو نه يې ورله دارو درمل دپر وکړل خو هغه هلک ښهٔ نهٔ شو۔ دې مور به يې اکثر دا دعا غوښتله چې اے الله پاکه! دا زوئے مې ښهٔ کړې خبر دے د دهٔ په ځائے ما واخلې۔ يوه ورځ د دوي يو ګاونډي سړي د کونډې دا دعا وارېده نو په زړهٔ کښې يې د توقې کولو يا جورولو اراده وکړه۔ يوه شپه دې سړي ځان په څادر کښې پټ او عجيبه شکل جور کړے د دې ښځې کور ته واوړېدو۔ دې ښځې چې کله دا عجيبه شکل ولېدو نو د وېرې نه يې بد حال وؤ۔ په وېره وېره يې تپوس وکړو چې څوک يې او څهٔ کوې۔ دې سړي ځواب ورکړو چې ستا دعا قبوله شوه۔ زهٔ د مرګ فرښته يم او ستا ساه اخستو له راغلې يم۔ په هغې ښځې لا يخې يخې خولې راماتې شوې۔ او په رېږدو ژبه يې داسې وئېل چې پام کوه روغ رنځور پکښې کوه ، يا روغ رنځور پېژنه۔ مطلب يې دا وؤ چې

ګڼې زۀ خو روغه رمټه يم او رنځور يعنې مريض خو هغه دے پروت دے. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې بې ګناه د چا په داؤ يا مقدمه کښې ګېر شي. نو خلق يې په سفارش يا په مرسته کښې وايي چې هلکه دا روغ دے. يعنې بې ګناه دے او روغ سړے دې ګېر کړے دے. روغ رنځور پېژنه ، يا څوک د چا ټک او دهوکه باز بنده په چال او دام کښې ګېر شي او هغه بنده خپل ، اشنا يا پېژندګلو وخېژي نو په داسې موقع هم دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "روغ رنځور پکښې کوه ، يا روغ رنځور پېژنه".

څنګه چې روګودر ته پام شي
پېژندګلو د روغ رنځور پکار راځينه

روغ صورت اختر وي

دا د مشرانو قول دے چې د متل په توګه مشهور شوے دے. د صورت توکي يا توري (لفظ) نه درې معنې اخذ شوي دي. يوه جوسه او څهره. يعنې د مخ رنګ ، شکل او جوړښت. دوېم وجود يا بدن. دريمه معنی يې لغړه شغړه ده. چې دلته د ليکلو قابله نۀ او دلته په متل کښې ترېنه وجود او بدن معنی ده. اختر زمونږه د خوشحالو نمانځلو يوه اسلامي دستوره ده. په دې دستوره کښې لوئے واړۀ ډېر خوشحاله وي. او قسم قسم خوشحالی او خوندونه خوندي کوي. د دې معنې تر لاندې دمتل نه مطلب دا شو چې ګڼې روغ بدن اختر وي. او چې څنګه په اختر کښې خلق خوشحاله وي. داسې په روغ صورت هم خوشحاله او د الله پاک شکر ګزاره وسېدل پکار دي. داسې که يو بنده په وجود روغ نۀ وي ناروغه په کټ کښې پروت وي. نو د هغۀ به څۀ اختر وي. يو نۀ که شل اختره راشي نو نۀ د هغۀ زړۀ خوشحالي غواړي او نۀ د اختر خوندونه خوندي کولے شي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده او په ګوته کړے دے. لنډه دا چې څوک په وجود روغ نۀ وي نو که اختر راشي او يا د اختر غوندې نورې خوشحالی وي خو نۀ د هغه رنځور بنده اختر وي او نۀ يې زړۀ خوشحالی غواړي. او چې څوک په صورت روغ وي نو د هغۀ هره ورځ اختر وي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک ناروغه ، شل ګډ او يا ړوند بنده خپل خفګان او غم څرګندوي ، يا خپل غمونه ، مرضونه ، ناچارۍ او قسمت ژاړي. نو خپله ناروغتيا ، بې کسي ، بې وسي ، تکليف ، غم خفګان او د روغ بدن (صورت) صفت او ستائېنه په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "روغ صورت اختر وي".

"ړ"

ړاندۀ په ډيوو څۀ کوي

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې ګڼې ړوند بنده ته رڼا او تيارۀ يو شے وي. يعنې که چرته ډيوه بلېږي نو ړوند ته ترېنه څۀ فائده رسي. او داسې که تيارۀ وي نو هم ړوند ته ترېنه څۀ زيان او نقصان نۀ وي. يعنې مطلب دا شو چې ړوند ته د ډيوې ضرورت او حاجت نشته. مشرانو د ضرورت او حاجت دا فلسفه په دې متل کښې ستائېلې او مشهوره کړې ده.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د يو شي چا ته ضرورت او حاجت نۀ وي. او نۀ ترېنه هغه کس ته څۀ فائده او زيان رسي. خو بيا هم هغه بنده د هغه شي د حاصلولو تکل او هڅه کوي. نو مشران ورته وايي چې دا ستا ضرورت او حاجت نۀ دے او نۀ ترېنه تاته څۀ فائده دررسي. نو پرېږده تۀ به پرې څۀ کوې ، يا څوک دڅۀ شي نه خپله لاس پورته کړي چې ګڼې دا زما د ضرورت نۀ دے. او زۀ به پرې څۀ کووم. نو دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې پرېږده يار! "ړاندۀ په ډيوو څۀ کوي".

ړوند په خپل کور ښۀ پوهيږي

دا يو ساده او عام متل دے. مطلب يې دا دے چې ګڼې که يو بنده ړوند وي نو په ظاهره خو د هغۀ د سترګو رڼا يعنې نظر ختم شي خو د هغې په بدل کښې ورله الله پاک يو بل داسې د احساس طاقت ورکړي يا ورله د زړۀ سترګې داسې بينا کړي چې هغه ور باندې د ژوند نرم ګرم ويني ، ګوري او محسوسوي. يعنې لکه څنګه چې يو بينا بنده د خپل چاپېرچل يعنې د ماحول نه خبرداره او پوهه وي. هم داسې يو ړوند بنده د خپل کور دماحول نه ښۀ خبرداره وي. او د خپل کور په بېګاه سبا ښۀ پوهيږي. بلکې د بل چا نه پرې زيات خبرداره او پوهه وي. د ړوند دا احساس او د کور د ماحول او د ذمه وارو نه خبردارے او پوهنتوب مشرانو په دې متل کښې مشهور کړے او وړاندې کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو بنده بل چا ته د هغۀ د کور په معاملو کښې څۀ صلاح ، مشوره او رائے ورکوي ، يا داسې ياران دوستان يو بل ته څۀ صلاح مشوره ورکول غواړي. او څوک يې د دې کار نه منع کوي. نو په داسې وخت دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يار تۀ پکښې هېڅ مۀ وايه! "ړوند په خپل کور ښۀ پوهيږي".

لکـــــــــه چـــــــــې روغ پـــــــــه مطلـــــــــب رســـــــــي
داســـــــې ړانـــــــدۀ پـــــــه خپـــــــل کـــــــور ښـــــــۀ پوهـــــــدي مئينـــــــه

ړوند په زړۀ بينا وي

دا يو عام متل دے او مطلب يې دا دے چې ګڼې څوک چې په سترګو نابينا يعنې ړوند وي نو هغۀ له الله پاک بل يو داسې زياتي حس ورکړے وي چې هغه ترېنه د سترګو کار اخلي. يعنې مطلب دا چې که هغه په سترګو نۀ ويني نو هم دماغ يې دومره حساس وي چې هغه د خپل چاپېرچل (ماحول) نه ښۀ خبر وي. او د خلقو احساسات ، جذبات ، کړۀ وړۀ ، ارادې ، خبرې اترې او کارونه داسې محسوسوي لکه چې هغه يې د زړۀ په سترګو ويني او ګوري. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د چا ړوند بنده په حقله وايي چې ګڼې دا ړوند په څۀ پوهيږي ، يا څۀ ويني. نو مشرانو ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه! داسې نۀ ده. ړوند دې خو په زړۀ بينا دي يا چرته ړوند بنده خلقو ته خپل احساسات او جذبات څرګندوي ، يا د دنيا په حالاتو څۀ تبصره کوي يا چا ته خپله پوهه او مشوره ورکوي يا وړاندې کوي نو داسې وايي چې هلکو څۀ وشول که د سر په سترګو نۀ وينم. د زړۀ سترګې خو مې بينا دي ، يا که په سترګو نۀ وينم "خو په زړۀ بينا يم".

ژوند د خدايه څۀ غواړي دوه سترګې

دا يو عام او ساده متل دے۔ او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي۔ هسې خو د بنيادم ټول وجود يعنې د وجود هر يو اندام او جز ډېر زيات قيمتي بلکې بېش قيمته دے۔ يعنې که هر څومره زيات قيمت وي خو هغه د بنيادم د وجود د يو وړوکي شان جز بدل هم نۀ شي جوړېدلے۔ ېا په وجود کښې سترګې د الله پاک ډېر لوئے نعمت او رحمت دے۔ او د دې نعمت قدروقيمت هغه چا ته پته ده۔ چې څوک ړاندۀ وي ، يا بنيادم ته هله پته ولګي چې دا نعمت ترېنه واپس واخيستے شي ، يعنې ژوند شي۔ معلومه دا شوه چې سترګې د بنيادم د هر څۀ نه زيات ضرورت او حاجت وي۔ او که يو ژوند د الله پاک نه څۀ غواړي نو معلومه خبره ده چې هغه به اول د سترګو رښا ، يعنې نظر غواړي۔ د ژوند بنده دا ضرورت ، حاجت او د الله پاک نه د سوال کولو يا د دعا غوښتلو دا حالات او واقعات مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړي او ستائېلې دي۔ مطلب دا چې د سترګو دا ضرورت او حاجت دومره زيات يا ېينا سترګې دومره ضروري دي چې که څوک جا ژوند بنده ته وايي چې الله پاک سترا يو سوال قبلوي وايه څۀ غواړې نو هغه به سمدستي وايي چې دوه سترګې۔ هم د دوۀ سترګو دا حاجت او ضرورت مشرانو د هر هغه شي سره په مثال ترلے دے چې د کوم سخت حاجت او ضرورت وي۔ د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې چا ته چې د څۀ شي اشد يعنې سخت ضرورت وي نو هغه به د خدايه هم هغه شے غواړي۔

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو بنده د څۀ شي ضرورتمند او حاجتمند وي۔ او د هغې شي د حاصلولو هڅه او تکل کوي ، يا څۀ شي پسې ډېر ارماني وي۔ او هغه شے ورته نۀ مېلاوېږي۔ نو که په داسې موقع څوک د هغۀ د ارمان پوره کولو يا د ضرورت او حاجت پوره کولو خبر يا زېرے ورکړي نو هغه تکل او تلاش کولو والا يا هغه ارماني بنده به سمدستي داسې وايي چې هله زر کوه۔ دې پسې خو زۀ ژوند شوم او! "ژوند د خدايه څۀ غواړي ، دوه سترګې"۔

ژومبے د اخر پ ،ل وي

دا يو ساده او عام متل دے۔ خو نۀ ډېر مشهور دے او نۀ په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي۔ مطلب ترېنه دا دے چې کنې چرته چې څوک داسې په نامعلومه او نااشنا لاره وڅي نو د هغۀ مثال لکه د ژوند وي۔ که هغه په سترګو ېينا هم وي خو د لاړې د لوړې ژوړې نه او د پائېو کودر نه ناخبره وي۔ داسې کهېيوه دله کښې څوک يو بنده په نابلده او نااشنا لاره ، پ ،له او يا چرته په خور يا درياب ورتېر شي۔ نو هغه د لوړې ژوړې نه او د اوبو د پائېو او کودر نه خبر شي ، يا ورته معلومه شي او ېيا نورو (وروستنو) خلقو ته لاره کودره سموي يا ورښايي۔ او داسې هغه وروستني خلق د هغۀ په ښودلې لاره کودر يا د هغۀ په پل ښۀ په اسانه ورتېريږي۔ يعنې کله چې څوک په يو نابلده او نااشنا لاره يا درياب باندې ورتېر شي۔ نو وروستني نور خلق د وړومبې د تک له کبله د لوړې ژوړې او د پائېو کودر نه خبر شي ، يا ورته وړومبے بنده لاره کودر سمه کړي۔لاړې کودر نه دا خبرېدل يا معلومول داسې شوه لکه چې وروستي بنده ته پ ،ل جوړ شو۔ او هغه ورباندې په اسانه ورتېر شو۔ هم د دې مطلب دېاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے۔

دويم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے۔ چې کنې داسې چې څوک د څۀ کار يا د څۀ خبرې په حقله په سوچونو ، فکرونو او اندېښنو کښې کېر وي۔ چې کنې دا کار به ځنګه کولے شي ، يا دا شخړه او خبره به ځنګه هوارولے يا سر ته کولے شي۔ نو که د هغۀ نه مخکښې چا هغه کار کړے وي يا پې په کومه طريقه هغه خبره او شخړه هواره کړې وي نو دا بنده هم ېيا په هغه طريقه او تربيت سره هغه کار کوي۔ دۀ ته مخکښې پ ،ل يا پ ،له جوړه شوې وي او دے ورباندې په اسانه ورتېر شي۔ او که څوک ترېنه د څۀ تېوس پوښتنه کوي يا ورسره غم خفګان او غصه څرګندوي۔ نو هغه بنده ورته خپله غاړه داسې صفا کوي او وايي چې يار زۀ وړومبے خو نۀ يم۔ دا کار فلاني مخکښې کړے دے ، يا زما نه مخکښې داسې شوي دي نو ځکه ما هم داسې وکړو۔ او دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې"وړومبے د اخر پ ،ل وي"۔

" "
ز

زاړۀ خو مور او پلار نۀ وي

دا يو عام متل دے۔ او مطلب يې دا دے چې هر څيز چې زوړ شي نو هغه بيکاره شي. سېوا د مور او پلار نه. په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے۔ وايي چې: "زوړ شي نو کله به جوړ شي" يعني چې څيزونه زاړۀ شي نو اکثر مات کېږي، وران ويجاړ او ناپکاره شي. او که څۀ لږ ډېر ورکښې د کار کولو قابل هم وي نو هغه هم غمجبه وي. يعني زاړۀ څيزونه اکثر مالک ته داسې د غم او مصيبت سبب جوړ شي چې بيا يې سر تندے نۀ لګي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې زاړۀ څيزونه د غم او مصيبت نه ډک وي. خو زاړۀ يعني بوډاکان مور پلار نۀ وي. چې د اولاد دپاره رحمت او برکت وي. د مور او پلار دعاګانې ډېر زيات اثر لري. خو چې زاړۀ (بوډاکان) وي او اولاد يې خدمت کوي او راضي يې ساتي نو دوي د اولاد د بخښنې ذريعه او واسطه وي. او هغه بختور خلق وي چې د چا مور پلار هغوي ته دعاګانې کوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے۔

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د څۀ زوړ څيز د اخستلو غرضي وي يا يو بنده بل چا له د زوړ څيز اخستلو لالچ ، لمسه او مشوره ورکوي. نو هوښياران ورته وايي چې هلکه پام کوه. د زوړ څيز نه ځان ساته او که چرې زوړ دې واخستو نو په غم به واوړې. دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "زاړۀ خو مور او پلار نۀ وي".

زرګر د موره هم غلا کړي ده

مشران وايي چې "اوکه نۀ خوري نو بوي تري نه ځي" يا په اردو ژبه کښې وئيلے شي چې: "دال ميں کچھ کالا کالا ہے". مطلب دا چې زرګران هسې بدنامه نۀ دي. بلکې څۀ نه څۀ تور پکښې ښته دے۔ يعني دوي په خپل فن کښې دومره ماهره او هوښياره وي چې د سرو زرو او د سپينو زرو په ناب تول کښې او د کالو پترو په جوړولو او روغولو کښې اکثر ځان ته ترخز وهي. او دوي په دې عادت کښې دومره عادي او پاخۀ شوي وي چې بيا پکښې خپل پردے نۀ پېژني. بلکې د خپل غرضه سره يې کار وي. په متل کښې مور يادہ شوې ده او مطلب ترينه دا دے چې کټې زرګر دپر غرضي ، مطلبي او د خپل عادت نه دومره مجبوره وي چې د مور په کالو پترو يې وس بر شي نو د هغې نه هم څۀ نه څۀ بوده ، شوکه او غلا کوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے۔

دا متل نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک ډېر هوښيار بنده وي. په جل ول او تکې توري د خلقو نه بوده او شوکه کوي ، يا داسې غرضي او مطلبي بنده چې په هر کار او خبره کښې خپل مطلب او غرض لټوي. او د سود په وخت لکه د زرګر خپل پردے نۀ پېژني. نو د داسې بنيادم په حقله مشران وايي چې دا فلانے خو! هسې زرګر دے يا هسې د زرګر بچے دے۔ او! "زرګر خو د موره هم غلا کړي ده".

زړۀ د ښودلو نۀ دے حال د وئيلو نۀ دے

دا يو عام او ساده د مشرانو قول دے۔ مطلب يې دا دے چې کټې زړۀ خو په کوکل دننه دے۔ د ليدو کټو نۀ دے چې يې درته وښايم او حال مې داسې دے چې په الفاظو کښې يې بيانولے نۀ شم. يعني د غم او د درد هغه اثر ، حال ، احساس او کېفيت چې کوم زما په زړۀ تېريږي يا تېر شوے دے۔ نو نۀ خو درته زړۀ ښودلے شم چې يې ووينې او نۀ د غم او درد هغه احساس ، حالت او کېفيت په الفاظو کښې وئيلے او بيانولے شم. دوېم مطلب ترينه دا هم اخذ شوے دے چې کټې داسې څوک بنده چې هغه د زړۀ راز بل چا ته بيکاره کول او شريکول نۀ غواړي. او خپل احساسات ، جذبات ، حالات او کېفيات پټ په راز کښې ساتل غواړي. نو هغه د ټپوس پوښتنې په ځواب کښې اکثر دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې پرپرده يار! "زړۀ د ښودلو نۀ دے او حال د وئيلو نۀ دے".

حـــــــال د وئېلـــــــــو چـــــــا تـــــــه نـــــــــۀ دے
ښـــــــودلے نـــــــۀ شـــــــم د زړګـــــــي پـــــــټ پرهرونـــــــه

زما د کوره ووځه نو بېخ دې ووځه

دا يو عام او ساده متل دے. په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. په متل کښې لفظ کور استعمال شوے دے. او دلته زما د کور نه مطلب دے چې ګڼې زما د ذمه وارۍ نه ، زما د واک اختيار نه ، زما د ماتحتۍ او نګرانۍ نه. او يا زما د ځائے يعنې کور ، دېره ، حجره ، دفتر او دوتر يعنې ، له پټې نه ووځه. يعنې د کور توکي (لفظ) نه دوه معنې او دوه مطلبونه اخذ شوي دي. يو خو د ځائے حدود شو چې ورکښې کور ، حجره ، دېره ، دوتر او دفتر هر څۀ شامل دي. دوېم مطلب يې هغه قامي ، اولسي او اخلاقي فرائض او ذمه وارۍ دي. چې د يو بنيادم په بل باندې وي. نو د هغه تعليم و تربيت اوبۀ چيلم پټه او بربنډه هر څۀ د ذمه وار بنده په ذمه وي. دوېم تورے بېخ وتل دېخ وتل د پښتو ژبې محاوره هم ده او د مېرمنو د خ ، لې ښېرې هم دي. مېرمنې چې چا ته ښېرې کوي نو اکثر داسې وايي چې: بېخ دې ووځه ، بېخ ختلي يه ، بېخ بنياد دې خاورې شه ، يا خدائے دې بېخ بنياد وباسلے کړه بېخ يا وېخ معنـ ، ی ده بنياد يا مونډ. د دې معنو تر لاندې مطلب دا شو چې بنياد يا مونډ دې ووځه. او چې د څۀ څيز بېخ بنياد او مونډ اوباسلے شي نو هغه شے تباه برباد او خاورې ايرې شي. او کله چې دا ښېرې د چا بنيادم په حقله استعمال شي نو مطلب ترېنه دا وي چې خدائے دې په غټ مصيبت او غم واړوه ، يا داسې زيان او تاوان ومومې چې ټول کاروبار ، روزګار او مال حال دې تباه او برباد شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې زما د کوره او يا زما د ذمه وارۍ او نګرانۍ نه ووځه نو خدائے دې کړي چې ښۀ زيان ومومې زما درباندې څۀ. يعنې زۀ ستا په تکليف ، غم خفګان او زيان خفه او غمژن نۀ يم خو خپله ذمه واري مې ژړوي. چې ستا ذمه واري مې د سره کوځه شي يا لرې شي نو بيا دې خدائے بېخ بنياد وباسه زما درباندې هېڅ هم نه.

دا متل نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک بنيادم د چا په نګرانۍ او ذمه وارۍ کښې وي يا څوک د چا مېلمه شي او هغه نګران ، ذمه وار او يا کوربه بنده د هغه ماتحت يا د مېلمه د حرکتونو او عادتونو نه تنګ وي. بلکې پوزې له راغلے وي. نو په داسې حالاتو او موقع کښې چې د هغه د زړۀ اواز ، ښېرې او اسوېلي د شونډو سر له راشي نو دا الفاظ ترېنه جوړ شي چې: "زما د کوره ووځه نو بېخ دې ووځه".

زما نه يې شروع کړه د ټولو دوه دوه رسي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو کلي په حجره کښې د شپې محفل ګرم وؤ. ګڼ شمېر خلق راجمع وو او ګپې شپې يې لګولې. په دې کښې د چم يو ښۀ زړے مشر راغے چې جولۍ يې د غوزانو ډکه وه. هغه مشر چې په خلقو نظر واچوؤ نو وئېل چې هلکو ماته ښکاري چې خلق ګڼ دي. او ما سره غوزان کم دي. په هغه مجلس کښې يو بدحرصه غړے ناست وؤ. هغۀ چې دا خبره واورېده نو په تلوار يې ځواب ورکړو چې کاکا! زما نه يې شروع کړه نو د ټولو دوه دوه رسي. مطلب يې دا وؤ چې زما خو به دوه ورسي او بيا که د نور چا رسي او که نه. او داسې د هغه وخت نه دا جمله د متل په توګه مشهوره شوه. نن هم د دې مطلب دپاره په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څۀ څيز يا شے وېشلے شي نو ځنې بدحرصه بنده ورته د حرصه او څوک ورته د ټوقو او مزاح په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه! "زما نه يې شروع کړه د ټولو دوه دوه رسي".

زمکه سرۀ زر دي

دا د مشرانو قول دے. چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي. سرۀ زر (سونا) ډېر قيمتي څيز دے. زمکه خاورې دي او خاورې خو بې قيمته شے ويخو په متل کښې د زمکې نه مطلب پ ، له پټے يعنې دوتر او جائېداد دے. مشرانو د زمکې يعنې د (جائېداد) قيمت د سرو زرو سره مقابله کړے ، بلکې برابر کړے دے او مطلب يې دا دے چې ګڼې د چا پ ، له پټے (زمکه) وي نو هغه جائېداد هغۀ ته لکه د سرو زرو وي. که په څۀ موقع چا ته څۀ ضرورت او حاجت پېښ شي نو هغه د زمکې نه څۀ ټکړه نيمه خرڅه کړي او خپله کړامه پرې سر ته کړي. بل د ژوند ژواک ګزران زيات تر د زمکې د پېداوار سره تړلے دے. چې د چا جائېداد يعنې زمکه وي نود هغوي ژوند د بې

جائېداده خلقو نه ښۀ په اسانه او ارام سره تېرېږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د جائېداد خاوندان د زمکو په پېداوار ښۀ ژوند کوي. او چې چرته ضرورت شي نو لکه د سرو تربنه ځۀ ټکړه نيمه خرڅه کړي او خپل حاجت او ضرورت پرې پوره کړي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائېلے او مشهور کړے دے. او اکثر يې مشران د نصيحت په توګه خلقو ته وراندې کوي او داسې وايي چې خانه! که ځۀ پېسه ټکه درسره وي نو ځانله پرې زمکه واخله. زمکه تاوان نۀ کوي ، بلکې: "زمکه سرۀ زر وي".

زمکه هم امانت کښې خيانت نۀ کوي

مشرانو په دې متل کښې د زمکې يو بل صفت ستائېلے دے. مطلب يې دا دے چې کټې که زمکې ته ځۀ امانت وسپارلے شي نو زمکه ورکښې خيانت نۀ کوي. لفظي مطلب خو يې دا شو چې کټې زمکه هم په امانت کښې خيانت نۀ کوي. خو مشرانو دا متل بنيادم ته د عبرت نيولو او ملامت ورکولو په توګه وراندې کړے دے. مطلب دا چې د دې متل مخاطب بنيادم دے. چې عبرت اونيسه يا شرم وکړه. چې زمکه خو خيانت نۀ کوي او يو تۀ يې چې په پردي امانت باندې خپته وراجوي. نۀ په حرام او حلالو يې او نۀ امانتدار يې چې د امانت حفاظت وکړي. او صحيح سالم يې واپس کړي. اکثر په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک داسې د چا په مال په زوره قبضه وکړي ، يا د چا يتيم او غريب مسکين په امانت کښې خيانت وکړي. نو مشران ورته دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې ظالمه دا دې ځۀ وکړل! "زمکه هم امانت کښې خيانت نۀ کوي".

زمونږه دومره قسمت چرته دے

قيصه:

د مشرانو نه اورو چې پخوا وختونه ډېر ښۀ وو. غريبي او نبستي ډېره وه. خو زړونه مارۀ وو. ساده او سپين سپېځلي خلق وو. ساده خوراکه وه. او ساده يې ژوند وۀ. يو بل سره يې مينه محبت او ورکړه راکړه ډېر وو. د غريبۍ وختونه وو. هغه زمانه کښې به چرګ جرګورے هله حلالېدو چې چرګ به ناروغه شو ، يا به بنده ناروغه شو او يا به د چا خاص مېلمه راغے. وايي چې داسې يوه ورځ د يوې مېرمنې چرګه ناروغه شوه او ډېره د مجبوری نه يې حلاله کړه. د پخلي نه پس يې يوتالے شوروا او يو هډوکے د ګاونډی کره هم ولېږلو. ګاونډی مېرمنه هم ډېره ساده او ښۀ زړې وه. هغه پخکړے (سالن) يې سم د لاسه پټې ته د ګل خان پلار له ولېږلو. د ګل خان پلار چې په پټې کښې د ډوډی سره د چرګ سالن ولېدو نو په زړۀ کښې يې ګرل ربېل چې د ګل خان مور په کومه خوشحالی کښې چرګ حلال کړے دے. دے لا په دې سوچونو کښې ډوب وۀ چې ناڅاپه يې د ښۀ جاړې اواز تر غوږو شو. زميدار چې وکتل نو يو ميان صېب چې په ميان چې مشهور وۀ په ، له راروان وۀ. دې زميدار ځواب ورکړو چې خدائے دې اوبخښه ميان چې. راځه ډوډی وخوره. لکه چې د نامې نه څرګنده ده. نو دلته هم هغه "ميم زر ما ټوله زما" والا حساب وۀ. ميان چې هم په تياره کښې مېلمه شو. زميدار خو خپله د پياز او شملو سره ګزاره وکړه. او د چرګ سالن يې ميان چې ته ورمخکښې کړو. ميان چې چې کله د تالي سره انصاف وکړو نو بيا يې زرغون ته خيال شو. او ورته يې وئېل چې هلکه زرغونه! ښکاري چې ورندار مې دربانديِ ډېره مينه کوي. چې پټې ته درله جرګان رالېږي. زرغون د يو سور اسوپلي سره وئېل چې ميان چې! زمونږه دومره قسمت چرته دے. ځۀ وخت پس ميان چې په خپله مخه لاړو او زرغون يو څل بيا په کار جوت شو. کله چې ورځ تېره شوه او زرغون کور ته راغے نو په زړۀ کښې يې وئېل چې که خبر وي نو ماښام به ډوډی د چرګ سره خورم. ماښام چې ورته د کل خان مور د جوارو په س ،کړک د پېشتري ساګ ورمخکښې کړو نو زرغون حق حېرانه کله کور ودانې ته کتل او کله په بکو بکو شکور ته. کور ودانې ترښه پوښتنه وکړه چې د کل خان پلاره خبر خو دے کنه. زرغون ورته وئېل چې نېک بختي! تا چې هغه چرګ پوخ کړے وۀ هغه ځۀ شو. مېرمنې ځواب ورکړو چې هغه خو فلانی خور غرمه هم دغه يو تالے پخکړے رالېږلے وۀ او ټول په ټوله مې تا له دراولېږلو. ما خو ترښه ځکه هم نۀ وۀ کړے. تا خو خورلے وۀ. ځنکه ځۀ ښۀ وۀ او کنه. زرغون چې دا واورېدل نو د اسوپلو سره يې لاسونه هم مروړل او ډېر په افسوس سره يې ووئېل چې نېک بختي! زمونږه دومره قسمت چرته دے. او بيا يې ورته ټوله قيصه تېره کړه. او وايي چې داسې د هغه

وخت نه مشرانو دا فقره يا جمله د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب تر ښه دا دے چې کټې زما په دې شي يا څيز کښې قسمت نۀ وۏ ، يا دا څيز يا دا کار زما په قسمت کښې نۀ وۏ ، يا مونږه بختوره نۀ يو.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې ځوک د چا نه د ځۀ شي ، يا د ځۀ کار تپوس وکړي چې ستا هغه کار وشو يا هغه شے درته مېلاؤ شو نو که هغه بنده ناکامه شوے وي يا د هغه کار د کېدو ځۀ امکان او اميد نۀ وي نو هغه خپل حالات په دې متل کښې څرګندوي او خپل قسمت داسې ژاړي چې يار! "زمونږه دومره قسمت چرته دے".

زور د پرېوتو دے

د زور توري نه دوه معنې اخذ شوي دي. يو قوت ، تکړه والے ، يعنې پهلوانتوب يا پهلوانتيلوبمه معنه ، ى يې رعب داب ، دبدبه ، دهشت او زورورتيا ده. د دې مطلب دپاره اکثر دا تورے يعنې زور د ظلم توري سره ترلے شي. لکه داسې وئيلے شي چې: "دې زور ظلم مۀ کوه ، يا جمعه خان په خلقو دې زور ظلم کوي" په متل کښې خو هسې دواړه معنې او مطلبونه اخستے شي خو وروسبې معنه ، ى يې د مطلب سره زياته ترون خوري. د دې معنې په نيز د متل مطلب دا شو چې کټې که يو بنده هر څومره تکړه ، پهلوان او زورور وي. خو يو وخت داسې راشي چې د هغۀ قوت ، زور او پهلواني ختمه شي. يعنې د عمر تېرېدو سره ښيادم د زورور نه کمزورے شي. هم دا د ښيادم لاچاره او کمزوري کېدۀ ، زور کمېدۀ او ختمېدۀ ، مشرانو د پرېوتو په توري ، توکې يا لفظ باندې ياد کړے ، ستائيلے او مشهور کړے دے. يعنې زور اخر د ختمېدو دے ، يا د پرېوتو دے. نن سبا دا متل په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې دې زورور او پهلوان وي ، يا څوک زورور او ظالم وي. په نورو خلقو زور ظلم کوي نو مشران ورته د نصيحت په توګه داسې وايي چې په خپل زور او قوت مۀ نازېږه ، يا غرور او تکبر مۀ کوه ، يا دومره زور ظلم مۀ کوه. اخر دا زور به دې ختم شي يا دا دوران به دې تېر شي. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "زور د پرېوتو دے" ، يا څوک عمر خورلے چې خپله ځوانې او پهلواني يادوي او خپل حال بل ته بيانوي نو هغه هم دې پر په افسوس سره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار ، لاړو بودا کان شو اخر! "زور د پرېوتو دے". په ځنې علاقو کښې ځنې مشران په دې متل کښې د زور په ځائے د سور لفظ استعمالوي. يعنې داسې وايي چې: "سور د پرېوتو دے". او د سور نه مطلب هر هغه بنده دے چې په ځۀ نه ځۀ يې سولې کړي وي. او چا چې هم سولې کړې ده. که هغه د هر ځۀ وي نو په ژوند کښې به يو ځل نيم خامخا راپرېوتے وي. يعنې مطلب دا شو چې هر سور د سولې نه راغورځېدلے يا راپرېوتے دے او هم د دې مطلب دپاره استعماليږي. لکه چرته چې څوک د ځۀ شي نه راپرېوځي. نو مشران ورته وايي! خبر دے ، څوک چې سولې کوي نو راغورځېدۀ يا راپرېوتۀ ورسره وي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خبر دے! "سور د پرېوتو دے".

زوړ امام او زړې تراويح

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د روژې مياشت د کرمې په موسم کښې راغله. د روژې نه څو ورځې وړاندې په حجره کښې مجلس کړم وۏ. د چم ټول زميدار خلق راجمع وو او د روژو په حقله يې خبرې اترې کولې. يو ساده زميدار پکښې وئېل چې هلکو! روژه راغله خو ځۀ به کوو. نو يو بل مشر ورله ځواب ورکړو چې نور به ځۀ کوو بس زوړ امام دے او زړې تراويح دي. يعنې مطلب دا چې هم هغه زوړ کار دے او هغه به کوو. او داسې د هغه وخت نه دا جمله د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترښه دا دے چې کټې هغه زوړ کار دے. او هم هغه به کوو. نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي. چرته چې څوک په خپله زړه نوکرۍ ، مزدورۍ او په ځۀ کار روزګار کښې مشغول وي او څوک ترښه پوښتنه کوي چې هلکه نن سبا ځۀ کوې ، يا نن سبا دې ځۀ روزګار دے. نو هغه ورته خپل حال احوال په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار بس! "زوړ امام او زړې تراويح".

زۀ په طمع او تۀ بې غمه

قيصه:

وايي چې پخوا په زمانه کښې يو دوه سوداګران وو. دا دواړه به اکثر په سفر يو ځائے تلل او د سوداګرۍ مال به يې په ښارونو ګرځولو. يوه ورځ دواړو صلاح وکړه چې سبا له به د سودا دپاره فلاني ښار ته ځو. د کلي نه بهر يې وخت او ځائے مقرر کړو. چې دواړه به په فلاني وخت هغه ځائے ته ځان رسوو. نو يې به يو ځائے په سفر روان شو. په سبا هغه يو دوست په وخت باندې هغه ځائے ته سره د خپلې ماله ورسېدو. او د هغه بل دوست په انتظار کښې کښېناستو. دے دلته په انتظار وؤ او هغه بل سوداګر ښۀ بې غمه په کور کښې اودۀ پروت وؤ. دېره شېبه پس چې دا يو په انتظار سترے شو نو دې بل سوداګر پسې کور ته راستون شو. دلته ورته پته ولګېده چې دوست يې بې غمه اودۀ پروت دے. خبر چې د دواړو ملاقات وشو نو هغه وروستي دوست يې ورومبې ته وئېل چې دوسته خفه مۀ شې زما نه خبره هېره وه. نو ځکه اودۀ شوے ووم. او که تۀ نۀ وي راځلے نو بيا هم زما هېر وو. هغه دوست ورله ځواب ورکړو چې پريږده مره ، زۀ په طمع او تۀ بې غمه. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې ګټې زۀ ستا په طمع ناست ووم او تۀ بې غمه پروت يې.

نن سبا يې هم خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي چرته چې ځوک د چا په انتظار کښې ډېر وخت تېر کړي او سترے شي ، يا ځوک د چا د ځۀ کار ، خبرې يا سوال ځواب په انتظار وي. او هغه کار يا خبره اونۀ شي يا سوال ځواب په وخت اونۀ رسي. نو په داسې موقع خلق د کيلې شکوي په توګه دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې پريږده يار! "زۀ په طمع او تۀ بې غمه".

زۀ ځۀ وايم او رباب مې ځۀ وايي

دا يو ساده متل دے او مطلب يې دا دے چې کله زۀ ځۀ خبره کوم او دا بل ځۀ وايي ، يا ترېنه ځۀ مطلب اخلي. تاسو به هم چرته په ژوند کښې داسې ځوک بنده لېدلے او کيلے وي چې د يارانو په محفل کښې ناست وي. خو په دماغي طور باندې هغه په محفل کښې حاضر نۀ وي. هغه په خپلو سوچونو او فکرونو کښې خدائے خبر چې کوم کوم ځايونو کښې ګرځي. که چرې دوستان ترېنه د ځۀ سوال يا د ځۀ خبرې تپوس پوښتنه وکړي نو خبره به يوه وي او هغه به ځواب بل ورکوي ، يعنې په هغه وخت د روانې خبرې او بحث نه علاوه بله ځۀ غېره خبره کوي چې ځۀ د هغۀ په سوچ او دماغو کښې وي نو کېدے شي چې د هغه خبرو بيان کوي ، يا چې هغه خپله په محفل کښې راحاضر شي نو يې د بل نه تپوس کوي چې هن! يار تا ځۀ وئېلې ؟ بحث مباحثه د کرکټ د لوبې په حقله وي او يو کس پکښې په مېنځ کښې راټوپ کړي. چې هو کنه يار! جان شېر خو دېر اوچت او ښۀ لوبغاړے دے. يعنې چې يو تن يوه خبره کوي او بل ترېنه ځۀ بل مطلب واخلي يا په خبره پوهه نۀ شي او د خانه پکښې ځۀ نوې خبره کېږوي يا بيانوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې خبره يو وي او ځوک ترېنه مطلب بل اخلي ، يا ځواب ځۀ بل ځۀ ، يا غېر ورکوي. نو داسې بنده ته خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې جپ شه يار! "زۀ ځۀ وايم او رباب مې ځۀ وائي". او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې! "زۀ ځۀ وايم او ډهولکے مې ځۀ وائي" ، "زۀ ځۀ وايم او باجه مې ځۀ وائي" ، "وهم دې کوم ځائے او ډبار دې کوم ځائے".

زۀ درنه پوزه پرېکووم او تۀ رانه نتکې غواړې

د پخوا زمانې په کالو پټرو کښې هم د مېرمنو يو کالے وؤ. دا به په پوزه کښې اچولې شوه. نن سبا يې رواج راتازه شوے دے او په ځنې علاقو کښې يې مېرمنې اچوي او استعمالوي. دا د هغې زمانې يو مشهور ، قيمتي او ناوياته کالے منلے او ګڼلے شو. دا يوه ځرګنده او کوټلې منلې خبره ده چې د چا ځوک خوښ وي. يعنې چې يو بل سره مينه او محبت کوي نو يو بل له ځۀ نه ځۀ ډالی (تحفې) ورکوي. داسې په هغه زمانه کښې چې به د چا ځوک ډېر خوښ وؤ نو به ډالی کښې به يې ورله ناويانه او قيمتي کالے نتکې جوړوله. دا به د مينې محبت ډالی ګڼلے او منلے شوه نو ځکه مشرانو په دې متل کښې د مينې محبت ، د خوښې او ناخوښې حالاتو ، احساساتو او جذباتو سره تړلې دهمتل د الفاظو نه دا معنۀ ، ی جوړېږي يا اخذ کېږي چې کنې زما دومره ناخوښه يې يا زما دومره بدي شي چې درنه پوزه پرېکول غواړم. او تۀ رابانديې ځان دومره درنوې او داسې نازونه او نخرې راته کوې چې کنې زما دېره خوښه يې او زۀ به درله په ډالی کښې نتکې جوړه کړم يا راوړم. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې زما دومره بدي شي چې درسره خ ، له کډول نۀ غواړم او تۀ راته ځان

خوا خوا ته کوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې د چا څوک بل بنده ډېر زیات بدي شي. ورسره راشه درشه ، غم شادي او خوا کښول نۀ غواړي. او هغه بل بنده ترېنه مینه محبت غواړي یا ترېنه ځۀ قیمتي شے غواړي ، یا ترېنه د ځۀ شي یا کار طمع لري ، یا ترېنه ځۀ ګیله مانه وکړي. نو په داسې موقع ورته هغه بل بنده خپل احساسات ، جذبات او د زړۀ حال په دې متل کښې څرګندوي او داسې وایي چې: "زۀ درنه پوزه پرېکووم او تۀ رانه نتکی غواړې".

زۀ لاړم خو دې پېنډې ته غوړي واچوئ

قیصه:

دا یو مشهور متل دے او په امروزه ژوند کښې زیات استعمالیږي. د دې متل په حقله داسې یوه قیصی مشهوره ده. وایي چې پخوا په زمانه کښې په یو کلي کښې داسې یو بنیادم وۀ چې هغه د هر چا د بشادی مشر وۀ. د هر چا بشادی کښې به نابلے داسې حاضر وۀ لکه چې تۀ څوک؟ زۀ خامخا ، یا هغه مشران وایي چې ما مۀ شمېره در کړے یم والا خبره وه. چرته چې به د چا بشادي یا ځۀ خبرات جوړ شو نو د دودی په وخت به دغه بنده ارو مرو لکه د مرګ مح حاضر وۀ. داسې یوه ورځ د چا په بشادی کښې یې مشري کوله چې د کور مالک یعني کورېه ورته غصه شو. چې هلکه تۀ څوک یې څه چرته په قلاره کښېنه. خو د هغۀ په عزت او بې عزتی ځۀ کار نۀ وۀ. نو ځکه یې د کورېه په وینا ځۀ شا اونۀ ګرېده. او هم هغسې په خپل کار کښې جوت وۀ. اخر د هغه کورېه ورته هم غصه زیاته شوه. هغه بنده یې د متې اونیوو ، ورته یې وټپل چې دا لار اونیسه او څاخ څه ، چې بیا دې اونۀ وینم. هغه بنده چې د خپل عادته ډېر مجبوره وۀ نو ورته یې وټپل چې بسه ده زۀ خو لاړم خو دې پېنډې ته غوړي واچوئ. یعني د عادت نه دومره مجبوره وۀ چې نۀ یې په بې عزتی ځۀ کار وۀ او نۀ یې عادت پرېښودے شو. بلکې د بې عزتی په وخت یې هم خپل عادت پوره کړو. او وایي چې داسې د هغه وخت نه دا جمله یا فقره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې څوک بنیادم د خپل عادت نه یا د خپل خوي بوي نه دومره مجبوره شي چې په بې عزتی یې هم ځۀ کار نۀ وي. بلکې دومره زیات بې شرمه او بې غېرته شي. که څوک یې لکه د سپو رتې تروتي او شړي خو هغه بیا هم خپل عادت کوي.

نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک داسې بنده لکه ما مۀ شمېره در کړے یم والا وي. په ځۀ کار یا ځۀ خبره کښې بیا بیا بې عزته شي خو هغه بیا هم هغه خپل عادت کوي. نو په داسې موقع د طنز په توګه ورته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې هلکه! "زۀ لاړم خو دې پېنډې ته غوړي واچوئ". او ځني خلق وایي چې هغه یو نادیده بنده وۀ. او نوې ګوتمه یې په کوته کړې وه. نو هم په هاغه کوته به یې پېنډې ته اشاري کولې چې دوي ته وریږي واچوئ او دې پېنډې ته غوړي واچوئ. یعني هغه خپله ګوتمه به یې خلقو ته بشودله. او داسې د متل نه مطلب دا شو چې کنې داسې څوک نادیده بنده چې خپل ځۀ نورے شے په ځۀ انو بهانو خلقو ته بشکاره کوي یا وړاندې کوي چې کنې خلق یې ووینې. نو داسې بنده ته هم خلق د طنز په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې: "زۀ لاړم خو دې پېنډې ته غوړي واچوئ".

د بعضې خلقو دا عادت وي کړي د پردو بشادو د پېنډو حسابونه

زۀ مو کوم کوم وژارم

قیصه:

د دې متل په حقله داسې یوه قیصی مشهوره ده. وایي چې پخوا په زمانه کښې په یو کلي کښې یوه غریبه کونډه مېرمن مېشته وه. وارۀ وارۀ بچي یې وو. یو غریبه وه او بل چې خاوند یې مر شو نو غمونو او مصیبتونو ورباندې لاز زور وکړو. یو خوا ورباندې د خوراک څښاک تنګسیا وه نو بل خوا یې ماشومان ناروغه شول. یو شپه یې ماشومان د لوږې او د رنځ له کبله ډېر زیات تنګ وو. یو د لوږې نه شور او غوغا کوله نو بل ورته د تبې د لاسه په ژړا سر وۀ. هغې کونډې غریبې به کله یو بچي له ورمنده کړه او کله به یې بل له دلاسه ورکوله. په دې منډو تررو ، دم دلاسو او منت زارو چې سترې شوه نو اخر چې خپله هم ورسره په ژړا شوه. په ژړا او سانډو کښې به یې داسې وټپل چې زۀ مو کوم کوم وژارم. یعني مطلب یې دا وۀ چې زۀ مو کوم کوم غم وژارم ، یا زۀ مو کوم کوم غم سر ته کړم.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک داسې د چا د غمونو ، مصيبتونو ، کرامو ، مسئلو او شخړو نه ډېر زيات تګ راشي او صبر يې تمام شي. نو اخر خپل ستړے والے او تنګسيا په دې متل کښې ځرګندوي او داسې وايي چې: "زۀ مو کوم کوم وژارم ".

Pukhto.Net
پښتو

"ژ"

ژرنده که د پلار ده خو په وار ده

قيصه:

پخوا په زمانه کښې چې کله د بجلۍ مشينانه نۀ وو جوړ شوي. نو خلقو به دانې په ژرنده اوړۀ کولې. او يا به مېرمنو په کورونو کښې په مېجنو اوړۀ کولې. ژرنده به په اوبو جلېدله او دا به جرته په علاقه يا د کلي په سطح ېوه ژرنده وه. ځکه به خلقو په ژرنده باندې وار نيولو. داسې يو وګړي ژرندې ته دانې وړلې وې. او خپل وار (نمبر) ته په انتظار ناست وۀ. په دې کښې يو زلمے راغے چې خپلې دانې يې د تولو دانو نه مخکښې کولې. دې سړي ورته وښل چې ځوانه دې پسې وار زما دے. تۀ خپلې دانې وروستو کړه. هغه هلک وښل چې کاکا زما دانې به مخکښې اوړۀ کيږي. دې سړي ورته وښل چې ځوانه زۀ مخکښې راځلے يم او تۀ وروستو ، مخکښې وار زما دے. هغه هلک ورته وښل چې زما دانې به مخکښې وي. دا ژرنده زما د پلار ده. هغه سړي ورته هم سمدستي ځواب ورکړو چې خانه که ژرنده دې د پلار ده خو په وار ده. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب دا دے چې څوک داسې ځۀ ځائے ته د ځۀ کار دپاره مخکښې يعنې وړومے ور شي نو وړومے وار (نمبر) هم د هغۀ وي.

نن سبا هم داسې چې جرته په ځۀ کار روزګار کښې يا په ځۀ موقع کښې د وار او نمبر خبره راشي يا جوړه شي. نو اکثر خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ژرنده که دې د پلار ده خو په وار ده". او په ځنې علاقو کښې دا متل داسې مشهور دے. وايي چې: "کاڼے که د پلار ده خو په وار ده".

هـــــــــر شـــــــــے پـــــــــه صـــــــــبر پـــــــــه واره شـــــــــي
وار پکښـــــــــې نيســـــــــه کـــــــــه دې ژرنـــــــــده د پـــــــــلار وينـــــــــه

" "
س

ساعت کښې سېر او درنګ له ماسه

دا يو عام متل دے. سېر او ماسه د څۀ شي د وزن معلومولو کج او پيمانه ده. دا کج او پيمانه ډېره د پخوا زماني راسې استعمالېږي. نن سبا د وزن حساب کتاب د ګرام او کلو ګرام په کج او پيمانه کولے شي. په متل کښې سېر او ماسه د درونده او سپک دپاره ستائيلے شوي دي. سېر درونده او ماسه سپکه وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې ساعت کښې درونده او درنګ له سپک وي. او دا دواړه صفتونه په يو څائے نۀ شي کېدلے. يو شے به يا درونده وي او يا به سپک وي. او چې په ساعت يعني يوه لحظه (يو سېکنډ) يعني د سترګو په رپ کښې چې څۀ څيز وزن بدلوي ، يا رنګ خوند بدلوي. نو هغه بې فائدې ، ناپکاره او بې اعتباره شے دے. او داسې چې څوک بنيادم په ساعت کښې خپل قول او عمل بدلوي. يعني چې خبره وکړي او ساعت کښې ترېنه انکاري وي. نو داسې بنده ډېر ناپکاره او بې اعتباره وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

لکه څنګه چې مطلب څرګند دے چې څوک داسې په ساعت کښې د خپلې خبرې نه جار ووځي ، يا څوک د خپل عمل او د څۀ کردار نه په درنګ کښې منکر شي. نو داسې خلقو ته مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې هلکه په تا خو هيڅ اعتبار پاتې نۀ شو تۀ خو! "ساعت کښې سېر او درنګ له ماسه".

پـــــــــــه داســـــــــــې کـــــــــــس بـــــــــــاور اونـــــــــــۀ کـــــــــــړې
چـــــې ســـــاعت کښـــــې ســـــېر درنـــــګ لـــــه ماســـــه پـــــه تـــــول کښـــــې وينـــــه

ستا ايمان ماته معلوم دے

دا هم د مشرانو يو قول دے چې مطلب او معنه ، ې يې جدا جدا دي خو دا ده چې کټې ستا عقيده يا ستا مسلماني (ايمان) ماته معلوم دے. چې ستا څۀ عقيده ده. بل خوا په پښتنو کښې ننګ غېرت او پښتو هم د ايمان نخښه ، بلکې نيم ايمان ګڼلے او منلے شي. په دې متل کښې هم دغه ننګ غېرت او پښتو مطلب دے. او د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا جوړ شو چې ګټې ستا غېرت او پښتو ماته معلومه ده.

دا متل اکثر د جنګ جګړې ، مقابلې او د دوۀ وکړو تر مېنځه د تکرار په وخت استعمالېږي. چرته چې د دوۀ کسو يا ډلو خپلو کښې څۀ تکرار جوړ وي. يو بل ته خبردارے (چېلنج) ورکوي ، يا يو بنده په بل دېڅکې دهراکې کوي او په دوړه دباؤ يې وېره وي. نو که هغه بل بنده په دېڅکو نۀ وېريږي او نۀ د دۀ په رعب داب کښې راځي نو په ځواب کښې ورته هغه داسې وايي چې څه مره! "ستا ايمان ماته معلوم دے". او د مقابلې د تيارۍ (چېلنج) دپاره ورسره داسې هم وايي چې! "لاس دې ازاد او توره دې تېره".

دا ســـــــــــتا ايمـــــــــــان ماتـــــــــــه معلـــــــــــوم دے
څـــــۀ بـــــه هغـــــه وي چـــــې لـــــه تـــــا نـــــه پېـــــدا شـــــينه

ستا پرے زما غاړه

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. هر يو ځناور بغېر د جلب او د پرې نه قابو کول ډېر ګران کار وي. د ځاروو په غاړه او پوزه کښې خلق پرې ځکه اچوي چې هغه قابو وساتي. او په خپل واک اختيار کښې يې راولي يا وساتي. او ځنګه چې د مالک مرضي وي هم هغه شان کار ترېنه واخلي ، يا په هغه لار يې روان کړي. يعني چې کوم ځناور يا ځاروي ته په غاړه کښې پرے واچولے شي نو هغه يې د مالک په واک اختيار کښې وي. د واک اختيار ، پرې او د غاړې دا فلسفه مشرانو په دې متل کښې ستائيلې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې ګټې خپل واک اختيار د بل په لاس کښې ورکول ، خپل ځان بل چا ته سپارل. يعني د څۀ مجبورۍ ، کمزورۍ يا

د څۀ مصلحت له کبله او يا د محبت او عقيدت په جذبو کښې خپل واک اختيار او خپله مرضي بل ته سپارل ، يا خپل ځان او ذات ورکول.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په څۀ خبره او کار کښې خپل واک اختيار بل ته سپاري ، يا ورسره په څۀ صلاح او مشوره کښې اتفاق کوي چې ګڼې ستا په مرضۍ يا ستا په صلاح زما صلاح ده ، يا په دې کار او خبره کښې زۀ ستا ملګرے يم. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "ستا پرے زما غاړه".

دا زۀ دې بـــــــــــــې دامـــــــــــــه غـــــــــــــلام يـــــــــــــم
غـــــــــــــاړې تـــــــــــــه پـــــــــــــرے راچـــــــــــــوه درســـــــــــــره ځمـــــــــــــه

ستا په چنه څۀ باد لګي

دا د مشرانو يو قول دے. چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي. په چنه د باد لګېدو نه مطلب دے چې ګڼې تا ته تر ښه څۀ غم درد او تکليف دے يا دررسي. د دې قول نه دوه مطلبه اخذ شوي دي. يو خو چې کله دا جمله د سوال په توګه استعمال شي نو مطلب يې دا وي چې ګڼې تا ته څۀ تکليف شته يا تا ته څۀ تکليف دے. دوهم کله چې دا فقره د پېغور په توګه استعمال شي نو مطلب يې دا وي چې ګڼې تا ته هېڅ تکليف نشته ، يا په تا يې هېڅ بوجهـ، غم او فکر نشته. اکثر د طنز او پېغور په توګه استعمالېږي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د چا تر مېنځه د څۀ کار يا د څۀ خبرې په حقله تکرار وي. يو بنده څۀ کار کول غواړي خو بوجهـ، تکليف او کراؤ يې ټول په بل وي ، يا څوک چې د بل په مال دولت خپل عېش ماش کوي يې فائدې او فضوله کارونه کوي. نو هغۀ ته مشران وايي چې په تا يې څۀ بوجهـ نشته يا تا ته يې څۀ تپ ، يعنې غم ، درد ، تکليف او کراؤ نۀ رسي. نو څکه داسې کارونه کوي. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "ستا په چنه څۀ باد لګي" ، يا ستا په چنه يې څۀ باد لګي.

د بـــــــــــــل پـــــــــــــه کـــــــــــــور دوه دونـــــــــــــره زور کـــــــــــــري
پتـــــــــــــه يـــــــــــــې لکـــــــــــــي پـــــــــــــه چنـــــــــــــه يـــــــــــــې نشـــــــــــــته بادونـــــــــــــه

ستا په سر کښې ښکر دي څۀ

دا هم د مشرانو قول دے چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي. د ښکرو نه مطلب اصلي ښکر نۀ دي. خو لکه څنګه چې د ښکرو والا ځاروي که هغه سنډا وي ، غوايې ، ګډ ، ېيز او که يا نور ځناور وي نو د هغوي سرونه دښکرو له کبله ښۀ ګلک او مضبوط وي. او په جنګ کښې د نورو ځناورو په نيز تکره او مضبوط وي. او داسې که د يې ښکرو والا سره په جنګ شي. نو لازمي ده چې ښکرو والا به ور او يې ښکرو والا به پر او ښۀ ژوبل وي. د ښکرو دا کلک والے او مضبوط والے په دې متل کښې مطلب دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې يو بنده د بل نه د طنز او مسخرې په توګه سوال کوي يا ورته خبردارے (چېلنج) ورکوي چې ګڼې تۀ دومره تکره او مضبوط نۀ يې يا تۀ دومره نر نۀ يې.

دا قول يا متل په داسې وخت استعمالېږي چرته چې د چا تر مېنځه څۀ جنګ جګړه او تکرار وي او يو ورکښې ځان باتور او تکړه ګڼي. په بل رعب داب اچوي يا وربانديې دپګې کوي. نو که بل بنده ته هغه ښۀ معلوم وي چې ګڼې دے ځومره نر دے ، يا څوک د چا نه څۀ شے په زور زبردستی لاندې کوي يا د چا حق لاندې کوي نو په داسې وخت هغه بنده ته وئيلے شي چې ګڼې تۀ ولې داسې کارونه کوي ، دپګې دهراګې کوي يا جنګ جنګ نعرې وهي. ولې! "ستا په سر کښې ښکر دے څۀ". او څوک ورسره داسې هم وايي چې ولې! "دا زۀ دې يې ښکرو اولېدم څۀ" يا "دا زۀ درته يې ښکرو ښکارم".

ستا د خبرې مې توبه دده خو دا سپي دې رانه کوري کړه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو فقير په کوڅو کښې خېر غوښتلو. په يو کوڅه کښې چې يې اواز وکړو نو د هغه کور سپے ورپسې شو. ملنګ د سپي نه ځان بچ کولو. خو سپے هم د ملنګ پسې لګېدلے وؤ. او بيا بيا به يې پرې حملې او غوټې کولې. اخر چې ملنګ تنګ شو نو په تېښته د هغې کوڅې نه روان شو. دې دوران کښې د کور مالک ملنګ له څۀ خېرات راوړو. ملنګ پسې يې اواز وکړو. چې ودرېږه دا خېرات خو دې واخله. ملنګ په تېښته او منډه کښې ډېر په غصې سره ځواب ورکړو چې خانه! ستا د خېره مې توبه ده خو دا سپے دې رانه کورې کړه. او داسې د هغه وخت نه د ملنګ هغه وېنا يا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې ستا د خېر زکواة ، ستا د قرض پور ، احسان ، مرستې او ملګرتيا نه مې توبه شه. خو دا ګيلې شکوې ، ټوقې ، مسخرې ، طنزونه او پېغورونه راته مۀ کوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک په چا احسان کوي يا ورسره مرسته او مدد کوي او بيا ورباندې هغه مدد او مرسته ذبادي يا ورپسې ټوقې مسخرې او پچموزې کوي. او يا پېغورونه ورکوي. نو هغه بنده ورته په ځواب کښې دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "ستا د خېره مې توبه ده خو دا سپي دې رانه کورې کړه".

د داسې خېره مې توبه شه
چې د کوم خېر سره د سپو غپار راځينه

ستا د وهلو قسمت راغلے دے

دا د مشرانو قول دے. چې کله کله د متل په توګه هم استعماليږي. مطلب يې دا دے چې ګڼې چا ته خبردارے (چېلنج) ورکولے شي. يعنې څوک د څۀ وران کار نه يا د څۀ خبرې نه منع کوي يا منع کول غواړي او دا خبردارے ورکوي چې ګڼې که دا دې وکړل يا داسې وشو نو بيا به دې ووهم. او اکثر د ماشومانو دپاره استعماليږي. يعنې چرته چې څوک ماشوم څۀ وران کار کوي يا څۀ شرارت او شېطاني کوي او چې مشران يې د هغه کار يا هغې خبرې نه منع کوي نو داسې خبردارے ورکوي او داسې وايي چې هلکه مۀ کوه ګورے! ستا د وهلو قسمت راغلے دے ، يا څوک داسې په محفل کښې په ټوقو مسخرو او نخرو پېښو تنګوي يا ورته کنځل وېنا کوي نو په داسې وخت هم داسې وئيلے شي چې هلکه سم شه ګورے ګڼې! "ستا د وهلو قسمت راغلے دے".

ستا غوږ دے که زما هسې زوږ دے

دا يو عامه جمله ده چې په امروزه ژوند کښې په خصوصي توګه د يارانو په مجلس او ګپو شپو کښې زياته استعماليږي. په متل کښې زور په غوږ او زوږ دے. غوږ د بنيادم په وجود يا بدن کښې د اورېدو يوه اله ده. چې د دې په ذريعه مونږه اوازونه اورو. د غوږ او د اواز دا تړون داسې دے. هوښياران وايي چې اواز د څۀ شي د رپېدو (وائبرېشن) نه پېدا کيږي. او په هوا کښې خورېږي. د هوا چپې (وئېوز) دا اوازونه د ځان سره يو خوا بل خوا ګرځوي يا تښتوي. او زمونږه غوږونه د يو راښکونکي الې (ريسيور) کار ورکوي. يعنې د هوا چپې چې کله زمونږ په غوږ ولګي نو په هوا کښې شامل اوازونه د غوږ په ذريعه زمونږ دماغو ته ورسي. بيا دماغ د هغه اواز په حقله پېژندګلو او فېصله کوي چې دا څنګه او د څۀ شي اواز دے. او بيا ترېنه معنې او مطلب اخذ کوي. بيا د هغه اواز د معنې او مطلب په بدل کښې د هغې ځواب لټوي يا جوړوي. او بيا هغه ځواب يا خپل خيالات د ژبې په ذريعه بل ته رسوي ، يا په ځواب کښې د عمل کولو دپاره د بدن اندامونو ته حکم ورکوي. او داسې خپل ځواب او عمل څرګندوي.

خېر دا خو د غوږ د اواز د تړون پېژندګلو وه. په متل کښې د "غوږ دے" نه مطلب دا دے. چې ګڼې تۀ زما خبره په غور (توجه) سره اورې او که نه. په دې حقله د پښتو ژبې يوه محاوره ده. "غوږ تکۍ کول" يعنې چا ته توجه ورکول. د چا خبره په غور اورېدل. د ځنو غړو دا عادت يعنې تکيه کلام وي. چې څۀ خبره کوي نو اورېدونکي ته داسې وايي چې "غوږ دې دے" يا "ستا خيال دے". يعنې مطلب يې دا وي چې تۀ زما خبره په غور اورې او که نا. بل لفظ دې "زوږاو" د زوږ معنـ ی ده. هسې بې فائدې شور شرابه کول ، يا فضول ، بې مطلبه او بې فائدې غږېدل ، يعنې خبرې کول. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو. چې ګڼې ستا ماته غوږ دے او زما خبره په غور اورې ، او که زۀ هسې بې فائدې لګيا يم شور شرابه کووم.

نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک په مجلس کښې څۀ خبره کوي او د هغۀ خبره څوک په غور نۀ اوري يا ورته څوک توجه نۀ ورکوي. نو هغه خبره کوونکے يا قيصې بيانولو والا بنده د نورو خلقو توجه راګرځولو دپاره ، يا ځان ته د پام کولو دپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "ستا غوږ دے او که زما هسې زوږ دے".

ستا موګے په مټه کښې دے

موګے د لرګي نه جوړ يا د لرګي يوه ټوټه يا ټکړه وي. يتغلم ، چې د څنګل هومره اوږد او د موټي هومره غټ وي. ومينا ، چې يوه حصه بهر او درې حصې په زمکه کښې ښخ کړے شوے وي. يعنې موګے د لرګي نه جوړ شوے او په زمکه کښې ښخ کړے شوے وي. چې څاروي ورباندې ، يا ورسره تړلے شي. مټه يا مټينه د خاورو يا خټو يو قسم دے. د خاورو ډېر قسمونه دي لکه خوره ، شګه يا شګلوړې ، مټه يا مټينه کوتکاڼې او داسې نور ډېر. په دې کښې مټه يا مټينه خاوره او زمکه ډېره کلکه او سخته وي. يعنې مطلب دا شو چې مټه د خاورو ، خټو او يا د زمکې يو قسم دے. چې کلکه ، پخه او مضبوطه وي. دې نه د متل معنی دا څرګنده يا جوړه شوه چې ګنې ستا موګے په کلکه او مضبوطه زمکه ، خاوره او يا په خټه کښې ښخ دے. خو په متل کښې د موګي نه مطلب دے مونډ او بنياد ، يا څوک ملاتړ ، ملګرے ، دوست او سرپرست. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې ستا بنياد ډېر پوخ دے. ستا مونډ ښۀ مضبوط دے او يا ستا ډله ، دوستان او ملاتړ ملګري ښۀ مالداره ، ښۀ تکړه ، ښۀ بهادره او ښۀ مضبوط دي.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په مجلس کښې د بل چا په مرسته څۀ اوچتې لاپې او ډوزې وولي ، يا د چا افسر يا زورور بنده په مرسته او ملګرتيا کښې په چا دپکې دهړاکې کوي. نو په داسې موقع خلق هغه بنده ته وايي چې ستا وروستو مونډ او بنياد ښۀ مضبوط دے ، يا ستا په شا مضبوط لاس دے ، يا ښۀ مضبوط بنده دې ملګرے دے. نو تۀ ځکه داسې اوچت ټوپونه وهې يا اوچت دانګې. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې وايه وايه اشنا! "ستا موګے په مټه کښې دے".

د چا چې مټه کښې موګے وي
لکه د سخي کټي بيا ډېر وهي ټوپونه

سترګې دې سرې دي

قيصه:

د دې متل په حقله د ازمري او ګيدړ قيصې مشهوره ده. وايي چې د يو ازمري او د ګيدړ دوستانه وه. دواړو په ځنګل کښې يو ځائے ورځې شپې تېرولې. دې ازمري چې به ښکار وکړو نو د ګيدړ به هم ورسره اختر شو. کله چې به ازمري ښکار وليدو نو د ګيدړ نه به يې تپوس کولو چې سترګې مې سرې دي. ګيدړ چې به ځواب ورکړو چې اهو ، سرې دي نو ازمري به ورټوپ کړو او ښکار به يې د مرغوټه راټينګ کړو. بيا به دواړو غوښې په شريکه خوړلې. يوه روځ دې ګيدړ ازمري ته وئېل چې نن به ښکار زۀ کووم. ازمري ډېر پوهه کړو چې ګوره ښکار کول د ګيدړانو کار نۀ دے. خو ګيدړ هم په ضد راغلے وؤ. چې ارو مرو به نن ښکار زۀ کووم. دې دوران کښې يو ځنګلي غواېے په مخه ورغے. ازمري ګيدړ ته اشاره وکړه چې ورځه ښکار مېلاؤ شو. ګيدړ د ازمري نه تپوس وکړو چې سترګې مې سرې دي. ازمري وئېل اهو سرې دي. ګيدړ چې کله په غوايي حمله وکړه نو غوايي داسې يوه لته ورکړه چې ګيدړ يې لرې ګوذار کړو. ګيدړ خو څۀ شېبه بې دمه او سيادله پروت وؤ. او چې لږ په ساه صورت شو نو د ازمري خوا له ورغے او ورته يې وئېل چې سترګې مې سرې نۀ وې. او هسې دې راته وئېل چې سرې دي. ازمري ورته وئېل چې کم عقله! ښکار تش په سرو سترګو نۀ کيږي دا چل هم غواړي او طاقت هم. او داسې د هغه وخت نه دا متل مشهور شو. مطلب ترېنه دا دے چې ګنې تش په خبرو او ارادو کولو يا تش په توره مېدان ته په وردانګلو کارونه نۀ کيږي. بلکې هر کار له خپل چل ول (ترکيب) او مال دولت (طاقت) هم پکار دے. نن سبا دا متل چا ته د څۀ کار کولو د لمسې دپاره ، او يا د ټوقو ټقالو په توګه دوستان يو بل ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "سترګې دې سرې دي". وردانګه.

سخے کټے د موګي په زور ټوپونه وهي

دا يو عام متل دے. معنې او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. کله چې سخے کتے لږ غوندې غټ شي. يعنې د کال نيم عمر ته ورسيږي نو دا د ماشوموالي عمر وي او ماشومان بچي که هغه د هر څۀ وي خو په دې عمر کښې لوبې او مستۍ کوي. داسې سخے کتے چې په موکې ترلے وي او مستي پرې راشي نو هغه ټوپونه وهي. يو خوا بل خوا دانګې رادانګي. دوي چې کله زور کوي نو په موکې ترلے پرے يې واپس خپل ځائے له راولي. او که چرې ټوپ وهي نو هم د پرې په زور واپس خپل ځائے ته راځي. داسې زور کول او واپس خپل ځائے ته راتلل دوي له خوند او مزه ورکوي. او ځني چې پکښې موکے مات کړي يا پرے وشلوي نو هغه يوه منډه نيمه ووهي ، يا لږه مستي وکړي او بيا په قلاره شي. يعنې چې څومره ټوپونه او غوبل يې جور کړے وي هغه د موکې په زور وي. او چې د موکې نه خلاص شي نو په يو منډه ټول زور او مستي ختمه شي. مشرانو د سخي کتي دا کېفيت او د موکې سره نسبت په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او مطلب ترينه دا دے چې کتي د جا موکے (مونډ او بنياد) مضبوط وي. نو هغه د هغې موکې په زور ټوپونه وهي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې د بل چا په مرسته ، د بل چا په لمسه يا د بل چا په مال دولت باندې خپله عياشي ، بدمعاشي او مستي کوي. يعنې ټوپونه وهي نو په داسې وخت د داسې خلقو په حقله هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "سخے کتے د موکې په زور ټوپونه وهي".

سړے مړ شي او نوم يې پاتې شي

دا د مشرانو قول دے. چې د نصيحت ، عبرت او د سبق په توګه خلقو ته وړاندې کولے شي په ظاهره خو د متل معنې ، ې دا جوړېږي چې کتي سړے مړ شي او وروستو يې تشه نامه خپل خپلوان يادوي.بيا څۀ موده پس هغه نوم کله نه کله په خ ، له راځي. خو مطلب يې د معنې نه جدا دے. يعنې د نوم پاتې کېدو نه مطلب دے چې څۀ داسې کارنامه ، مرانه يا د قام او د اولس دپاره څۀ د خېر ښېکړې کار وکړي. چې هغه په تاريخ کښې وليکلے شي ، يا ژوندے پاتې شي نو د مرګ نه پس هم د هغه کارونو او کارنامو له کبله د هغۀ نوم ژوندے پاتې شي او تر زمانو پورې يې خلق ياد ساتي او يادوي. مطلب دا شو چې کتي د څۀ کارنامو له کبله د چا نوم په دنيا پاتې کېدل. او ياد ساتل. يعنې د تاريخ په ورقونو کښې ژوندي پاتې کېدل.

نن سبا يې مشران خپلو کشرانو ته د نصيحت په توګه وړاندې کوي او وايي چې داسې د څۀ د خېر ښېکړې کار يا کارنامه پکار ده. چې سبا مو څوک نوم ياد ساتي يا وروستو خلق مو يادوي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "سړے مړ شي او نوم يې پاتې شي".

سړے يې په تندي کښې پورې کوي په تالي کښې نه يا سړے تندي ته ګوري ، تالي ته نۀ

دا يو عام متل دے او معنې ، ې يې اپوټه ښکاري. يعنې د تالي په ځائے تندے وټيلے او ستائيلے شوے دے. مطلب ترينه دا دے چې کتي روغ نيت او صفا رون تندے. يعنې چرته چې څوک د چا مېلمه شي او کورېه ورته په صفا روغ نيت او رون تندي هر کلے وايي. نو مېلمه خوشحاله او ښۀ په مزه وي. که خوراکه ورته ساګ او شوملې مخې ته شي خو چې په روغ نيت او صفا تندي وي نو مېلمه يې ښۀ په خوند او مزې سره خوري.او چې د کورېه مېلمه ته نيت خراب او تندے ب ،ټ وي. نو که چرکان او حلواګاني ورته کېدي نو نۀ په مېلمه هغه دوډی لګي او نۀ يې تېرېږي. يعنې نۀ ورله خوراک خوند او مزه ورکوي او نۀ په هغه ځائے کښې ناسته پاسته. په دې لړ کښې يو بل متل هم مشهور دے. وايي چې: "پياز دي وي خو په ناز دي وي". د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کتي څوک چې د چا مېلمه شي نو هغه ښۀ خوراک ځښاک (تالي) ته نۀ ګوري. بلکې د کورېه نيت او تندي ته کوري. که نيت روغ او تندے رون او صفا وي. نو که خوراک هر څۀ وي خو خوند او مزه يې دېره وي.او که نيت بد او تندے ب ،ټ وي نو بيا لاس تالي ته کوزېدل او يوه نوري د تالي نه پورته کول هم مېلمه ته لوئے مصيبت او زحمت وي. هم د داسې حالاتو او خلقو په حقله مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په داسې بنده ورپېښې چې نيت بد او تندے يې بـ ـ ـت نيولے وي يا د چا په ليدو او راتلو يې په تندي دولس بجې جوړې شي. نو مشران ورته د نصيحت په توګه داسې وايي چې خانه نيت مهٔ ورانوه يا نيت دې روغ کړه. مېلمانهٔ د خدائے رحمت وي او هر څوک خپل قسمت دځان سره راوړي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "سړے يې په تندي کښې پورې کوي په تالي کښې نه". او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې: "خلق تندي ته ګوري تالي ته نه".

خـــــو مـــــا لـــــه چـــــې راځـــــې نـــــو دا يـــــوه خبـــــره واوره
تـــــالي تـــــه بـــــه مـــــې نـــــهٔ ګـــــورې تنـــــدي تـــــه بـــــه مـــــې ګـــــورې
(اباسين يوسفزے)

سل پاپړ يو لو ـړ

پاپړ د چنو د اوړو نه جوړولے شي. يعنې دا د چنو د اوړو ډوډۍ وي. د چنو په اوړو کښې څهٔ مالګه او مرچ مصالحه ګډه وډه کړے شي او بيا ترېنه لکه د کاغذ په شان نرۍ نرۍ ډوډۍ داسې پخې کړي چې کرپندۍ ترېنه جوړ شي. په خوراک کښې ډېر خوند او مزه کوي. د پنجاب او سندهـ خلق يې ډېر په شوق سره خوري.خصوصي توګه د کراچۍ او حېدرا ـ باد (مهاجر) خلق يې ډېر زيات خوښوي. بلکې کسي يې ورپسې لوئېږي.

لو ـړ ، ډانګ او کوتک هغه لرګي ته وئېلے شي کوم چې به پخوا په زمانه کښې خلقو د خپل حفاظت دپاره جوړول ، ساتل او ګرځول. يعنې هغه لخته يا لرګے چې په خصوصي توګه جوړ کړے او غوره کړے شوے وي.داسې ډانګ يا لو ـړ اکثر خلق د خپلې ونې (قد) برابر پرې کوي يا جوړوي.نن سبا هم د پنجاب په سيمه کښې د لو ـړو ساتلو او ګرځولو رواج او عادت عام دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې يو خوا ښهٔ مضبوط لو ـړ دے او بل خوا د کاغذ غوندې نرے او کرپندے پاپړ دے.او که لو ـړ ته سل پاپړ هم يو شي نو په يو ګوذار به ريچي ريچي او ذرې ذرې شي.مشرانو په دې متل کښې د لو ـړ مضبوط والے او د پاپړ کمزوروالے ستائېلے او مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې ګنې د کمزوري شي او د مضبوط شي برابروالے نهٔ شي کېدے ، يا يو برابر نهٔ شي جوړېدے. په دې حقله د اردو ژبې يو متل هم مشهور دے وايي چې: "سو سونار کی ايک لوهار کی". د دې مطلب دا دے چې ګنې د زرګر سل ګوذاره او د لوهار يو ګوذار برابر وي. بلکې د لوهار ګوذار به ترېنه زيات مضبوط وي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک کمزورے بنده چا زورور ته ورمخامخ شي يا ورته د مقابلې دپاره بډهې وهي. نو په داسې موقع ورته مشران يا هغه زورور بنده دا خبردارے ورکوي چې ګنې ستا او زما څهٔ مقابله ده. که ستا په شان شل شي نو هم زما د يو لاس يا د يو داؤ نهٔ دي. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې:"سل پاپړ د يو لو ـړ" يا "سو سونار کی ايک لوهار کی".

سل په لالي پورې دا يو پرې د بنګړو

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې به بنجاريانو په کوڅو کښې کډې کوډې ګرځولې او خرڅولې. داسې يوه ورځ په کوڅه کښې چې بنجاري اواز وکړو نو د چم مېرمنې ورته راټولې شوې. هرې يوې د خپلې خوښې څيزونه کتل او سوداګانې يې کولې. يوې ښځې ترېنه ځانله بنګړي خوښ کړل. چې حساب کتاب وشو نو د بنګړو يوه روپۍ جوړه شوه. دې ښځې ته د بنجاري څهٔ زړې پېسې هم پورې وې. او دا بنګړي يې هم په قرض کښې حساب کړل. په دغه وخت يوې بلې ګاونډۍ ښځې ورته وئېل. چې غرقه شې دا څهٔ کوې. په خاوند دې د مخکښې نه بله قرضونه پورې دي او تهٔ لا نور د روپۍ بنګړي هم په قرضو اخلې. هغې

ښځې چې بنکړي يې په لاسو کړي وو. ورله خواب ورکړو چې پرېږده خواري! سل په لالې پورې دا يو پرې د بنکړو. داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه او مطلب ترېنه دا دے چې کنې هسې هم بلا قرضونه دي يا بلا وزن او بوجهه دے نو په دې يوه روپۍ دا بوجهه يا دا وزن نۀ درنيږي ، يا نۀ سېوا کيږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې ځوک ډېر زيات قرضدارے وي. نو هغۀ ته بيا لږ نور قرض اخستل کران او بد نۀ ښکاري. يعني که سل ورباندې قرض وي نو وايي چې په يوه روپۍ دا نۀ زيانيږي. او داسې غږي ته چې ځوک نصيحت کوي ، د نور قرض اخستلو يا غوښتلو نه يې منع کوي نو هغه قرضدارے بنده په دې متل ځانله زړۀ خوشحالوي ، يا خپله غاړه په دې خلاصوي او داسې وايي چې پرېږده يار! "سل په لالې پورې دا يو پرې د بنکړو".

په چا چې سل دمړي پوره شي
يو پرې دپاسه د بنکړو ورخېژوينه

سل خفګانه يو خوا او يوه حيا بل خوا

د حديث شريف مفهوم دے. وايي چې حيا نيم ايمان دے. يعني مطلب دا شو چې په چا کښې ځۀ لږ ډېر شرم او حيا وي نو هغه د بې شرمۍ او بې حيايۍ د کارونو نه ډډه کوي او ځان ساتي. او چې چا هم داسې د بې حيايۍ يعني د ګناه د کارونو نه ځان بچ او په ډډه وساتلو. نو هغۀ ځپل نيم ايمان بچ کړو. د دې نه دا معلومه شوه چې يوه حيا بنيادم د ډېرو لغړو ، فحش او د ګناه د کارونو او د فضول بې مطلبه روزګار او خبرو نه بچ ساتي.

د حيا دا عبادت ، اشد ضرورت ، ښکلا او مدعا مشرانو په دې متل کښې ستاښلې ده. او مطلب يې دا دے چې که چرته په ځۀ موقع ځوک چا له د بې شرمۍ او بې حيايۍ د کارونو دعوت ورکوي يا ورته لمسون او لالچ ورکوي يا ورباندې د هغه کار کولو دپاره زور زبردستي کوي يا ورته د خپلوي او ياري دوستي واسطې وراندې کوي. او هم ورته د خفګان او دښمنۍ دپکې شپکې ورکوي نو مشران وايي. چې داسې سل خفګانه دې راشي خو بوه حيا پرېښودل نۀ دي پکار. يعني يو حيا په سل خفګانه هم درنه وي. او د ځنې مشرانو قول دے چې حيا پښتو ده او پښتو حيا ده. ځنې وايي چې حيا د پښتو جامه ده. او ځنې وايي چې حيا د بنيادم جامه ده. او د يو حديث شريف مفهوم دے. وايي چې حيا نيم ايمان دے. او زما يوه ناپوهه او جاهلانه رائے ده چې حيا د ايمان سره سره د انسانيت ښکلا ده.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې ځوک داسې د چا نه په ناحقه خفه کيږي. يعني په ځۀ ناجائزه او د ګناه په کار کښې په حصه نۀ اخستلو ترېنه خفه شي ، يا د بل په خوشحالولو او رضا کولو کښې چې خپل شرم حيا ختميږي ، يا يې پرده ماتيږي. نو په داسې موقع مشران وايي چې که خفه کيږي نو يو ځل نه ، سل ځله دې خفه شي! "سل خفګانه يو خوا او يوه حيا بل خوا".

سل دې ومرد يو دې مۀ مرد

د چا مرګ غوښتل ښۀ کار نۀ دے. بلکې دا ښېرې او ګناه ګڼلے شي. خو دا متل ښېرې نۀ دي بلکې بل چا ته دعا کول يا دعا غوښتل دي. مطلب ترېنه دا دے چې چرته په يو خاندان يا په يو ټبر کښې ځوک ډېر تکړه او د سر بنده وي. يعني مخوريز ، هوښيار ، په غم ښادۍ پوهه ، کار کولو او ويستلو والا بنده وي. په داسې بنده ټول خاندان او ټبر راغونډ ، ښاد او اباد وي. د داسې بنده په حقله مشران وايي چې دا يو بنده په سلو وړ دے. او چې د چا په ټبر کښې داسې بنده د دنيا لاړ شي نو د هغوي د کور او خاندان ټول نظام ګډ وډ او تس نس شي. او اخري انجام د هغه ټبر يا کورنۍ تباهي او بربادي وي. نو ځکه هوښياران وايي چې بې پښتو او بې غېرته که سل مړۀ شي. نو هم يې زيان او خفګان دومره نۀ وي ځومره چې د هغه يو بنده په مرګ محسوسيږي يا رسيږي. او نن سبا هم داسې د سر بنده ته د دعا په توګه او يا يې د مړي پسماندګانو ته د غمرازۍ په موقع د طبعي تسلي په توګه خلق استعمالوي. او داسې وايي چې: "سل دې اومره يو دې مۀ مره".

سنډا د مېښې يار وي

سنډا او مېښه دواړه د يو نسل ځناور دي. دا نسل يعني مېښين ځناور دېر بې پرواه او په کم عقلو مشهور دي. په متل کښې دواړه د دې مطلب دپاره ستائيلے شوې دي. جې کنې دواړه يو شے دے که نر دے او که ښځه. خو دواړه بې پرواه او بې وقوفه دي. دوېم مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې کنې دواړه د يو نسل /نسب دي. نو د يو بل خبر خوا ، ملاتړ او مرستوال دي. يعني يو مطلب خو دا شو چې کنې دواړه د يو نسل سره تعلق لري. نو ځکه دواړه يو شان بې وقوفه او کم عقله دي. او دوېم مطلب دا شو چې دواړه د يو نسب او نسل سره تعلق لري. نو ځکه د يو بل ملاتړ وي يا د يو بل مرسته کوي ، يا د يو بل ملګري ، ياران او دوستان وي. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او ځرکنده کړے دے. نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي جرته چې شوک د خپل ملګري ، يار دوست او يا د خپلوان مرسته کوي يا په مجلس کښې د چا طرفداري يعني پره جمبه کوي يا بې د خبرې تائيد کوي نو په داسې موقع ورته خلق وايي چې ته به بې مرسته ولې نۀ کوې يا ته به بې ملګرتيا ولې نۀ کوې. ته هم دغه شے بې يا دواړه يو شے يئ. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "سنډا د مېښې يار وي". په دې حقله د پنجابي ژبې يو متل هم مشهور دے. چې مطلب يې د دې متل سره ترون خوري. او هغه داسې وئيلے شي چې: "منجهمنجهدی يهن هوندی اے".

سودم ته شين دے

قيصه:

د مردان نه نمر ختيز اړخ ته د شهباز ګړهي نه قطب طرف ته او د رزړو /بونېر د علاقې نه مخ په قبله مردان اړخ ته علاقه د سودم په نامه يادے او مشهوره ده. د دې علاقې د ټولو نه غټ او لوئے کلے رستم دے. ځکه سودم سره رستم تړلے شوے دے. يعني شوک هم چې د سودم په حقله ځۀ خبره کوي نو رستم ورسره يادوي او چې د رستم په حقله ځۀ وايي نو سودم ورسره تري. لکه داسې وئيلے شي چې "سودم رستم". داسې وايي چې پخوا په زمانه کښې په دې علاقو سوکړه راغلې وه. دېره موده بارانونه نۀ وو چې له کبله يې قحط جوړ شو. او خلق په هجرت کولو مجبوره شول. وايي چې يو زميندار سړي هم بلې علاقې ته هجرت کړے وۀ. هغۀ ته خپله علاقه او پولې پټې دېر وريادې شوې وې. هر وخت به يې د کلي خبرې کولې او دعاګانې به يې غوښتلې. چې خدايه پاکه په سودم باران وکړي. چې واپس خپل کلي ته لاړ شو. يوه شپه د باران علامې جوړې شوې. په اسمان کوږې وريځې راخوږې شوې او د کړۀ کروزه سره د بجلۍ پرقا او برېښنا جوړه شوه. هغه سړے دېر زيات خوشحاله وۀ. زوي ته يې وئيل چې بچے بارانونه راغلل او که خبر وي نو زمونږه علاقه به بيا اباده شي. زوي يې چې اسمان ته کېرچاپېره وکتل نو پلار له يې اواز ورکړو. چې دادا علامه خو د باران ده. خو سودم غاړې ته اسمان شين دے. هغه بوډا چې دا واورېدل نو زړۀ يې لا دېر خفه شو.د يو سور اسوپلي سره يې دا خبره د خ ۀ لې وخته چې لا اوس هم سودم ته شين دے. او وايي چې داسې د هغه وخت نه مشرانو دا خبره دمتل په توګه مشهوره کړه.

د دې متل په حقله يوه بله قيصه د يو بل متل "شهباز کړه د سترو ځائے دے" سره تړلې ده. وايي چې کله به د سوات ، بونېر ، رزړو يا د نورو علاقو نه قافلې شهباز ګړې ته راورسېدې نو دلته به يې دمه کوله. نو ځکه دا متل مشهور شوے وۀ چې شهباز کړه د سترو ځائے هغه قافلو به د خو ۀ پر په غاړه خپلې کېږې ک ۀ دې کوزولې او شپه به يې کولها خو ۀ ر د قطب اړخه د سودم د علاقې نه مخ په سوپل ډېرې. په شهباز کړه ، امازو کهرې او طورو مايارو ورتېرېږې کله چې به په سودم باران وشو نو دې خو ۀ ر کښې به سېلاب راغے. او ځو واړې داسې شوې وو ، چې د خو ۀ ر په غاړه به د شپې کمې قافلې دېره وې نو هغوي ته به زيان رسېدلو ، هم د سامان او هم به ورکښې د مرګ ژوبلې خطره وه. وايي چې د قافلو خلقو به د باران او سېلاب د وېرې نه اکثر د شپې سودم طرف ته کتل او د باران يا د موسم حال به يې معلومولې موسم به ښۀ وۀ ، يعني سودم ته به ا ۀ سمان شين وۀ. د باران علامه يا خطره به نۀ وه ، نو داسې په يې وئيل چې سودم ته شين دے. او هم د هغه وخت نه دا جمله په متل مشهوره شوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې شوک د چا نه د ځۀ طمع لري. او هغه بل بنده د هغې طمعې او اميد پوره کولو قابل نۀ وي ، يا د چا نه شوک قرض پور غواړي. او هغه بنده خپله داسې فقير وي چې د پولې پرق ته ناست وي. يعني چا له د پور ورکولو جوګه نۀ وي ، يا شوک د ځۀ کار ، يا د ځۀ خبرو په حقله ناخبره وي. او بل ترېنه د هغه کار يا خبرې په حقله ځۀ ټپوس پوښتنه کوي. نو په داسې وخت هغه غړي خپل حالات په دې متل کښې ځرګندوي او داسې وايي چې يار دلته هم! "سودم ته شين دے".

د لېـــــــ

"ش"

شپيلي او ستوان دواړه نۀ کيږي

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې ډېر زيات استعماليږي. خ ، لې او د شونډو نه يو خاص اواز ايستلے شي چې ورته شپيلے وئيلے شي. د شپيلي د وهلو دپاره پوهکے وهل ضروري وي يعنې د خ ، لې نه په يو خاص طرز او س ، ر سره هوا خارجولے يا ويستلے شي. نو هله ترېنه شپيلے يا د شپيلي اواز جوړيږي. بل خوا ستوان د غنمو يا د جوارو او د دواړو ګډو وډ شوي اوړو ته يا دل شوې ذخيرې ته وايي. يعنې غنم او جوار نري دل کړے شي. بيا ورکښې څۀ لږ ډېر خواږۀ (شکره) ګډه وډه کړے شي او د خور اک دپاره استعماليږي. نو دې د خوراک ذخيرې ته ستوان شي او دا ستوان چې کله په خ ، له کښې وي ، يعنې د خوړلو په وخت نو د خ ، لې نه هوا ويستل يعنې شپيلي وهل ډېره ګرانه بلکې د نۀ کولو او نۀ منلو کار او خبره ده. يعنې دواړه کاره په يو ځائے يعنې په يو وخت نۀ شي کېدلے. که شپيلے وهې نو ستوان نۀ شې خوړلے او که ستوان خورې نو شپيلے نۀ شي وهلے. مشرانو هم دا حالت او کيفيت په متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے او مطلب ترېنه داسې څۀ کار ته اشاره وي چې لکه د شپيلي او ستوانو په يو ځائے نۀ شي کېدے.

دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې ناممکنه کارونه کوي يا د کولو تکل او هڅه کوي کوم چې لکه د ستوانو او د شپيلي په يو ځائے نۀ کيږي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه په قلاره کښېنه! "شپيلي او ستوان دواړه په يو ځائے نۀ کيږي".

شرم څۀ سخے کټے نۀ دے چې درپسې باں وکړي

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي معنی او مطلب يې دا دي چې ګنې شرم او حيا د بنيادم خپل احساس ، عادت او خوي خصلت وي. دا احساس او خصلت د بنيادم په زړۀ کښې بلکې په خمير کښې اخښلے شوے وي. او چې په چا کښې خپله دا احساس نۀ وي. يعنې په خوي خصلت بې شرمه وي نو شرم ورپسې اواز نۀ شي کولے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې شرم او حيا د بنيادم په زړۀ دننه خپل احساس وي. او د هغې څيرنه د بنيادم په خوي خصلت او عادتونو کښې څرګنديږي. دا نه چې ګنې شرم څۀ مادي څيز دے. او د بهر نه چا پسې اواز کوي چې زۀ ستا شرم يم.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې بې شرمه بې حيا وي چې په شرم حيا يې څۀ کار نۀ وي. او د بې شرمۍ په کارونو کښې بوخت وي ، يا څوک په مجلس کښې داسې بې شرمه او لغړې خبرې ، وېنا او يا کنځلې کوي نو داسې بنده ته هوښياران د ضمير راويښولو او د غېرت ورکولو لپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار شرم وکړه! "شرم څۀ سخے کټے نۀ دے چې درپسې باں اواز وکړي".

شري ننکۍ يې لا په سر پراتۀ دي

قيصه:

شري او ننکۍ د مرضونو نومونه دي. شرے خو نن سبا هم په ماشومانو راځي خو ننکۍ تر څۀ حده پورې ختمې شوي دي. دا د پخوا زمانې مرضونه وو. چې اکثر به په ماشومانو په وړومبي دوه درې کاله کښې راتلل. د دې د حفاظت لپاره به خلقو ماشومانو له په مټ باندې رګونه وهل. يعنې په ستنو به يې مټ کښې دوايي وراچولو نن سبا د دې او د نورو مرضونو نه د حفاظت دپاره ماشومانو له په خ ، له کښې د دارو قطرې ورکولے شي. د هغه وخت سره دا مرضونه خطرناک ګڼلے او منلے شول. ځکه چې خاص علاج يې چا نۀ وؤ پېژندلے. چې

له کبله به يې زيات ماشومان مړۀ هم شول. او که د ننکو د مرض نه به ښۀ هم شول نو مخ به يې ټول داسې تپې تپې جوړ شوے وۀ چې د پشکال خولو به پکښې ښې دمې کولې. او هغه ښکلے تپې مخ يا ځهره به بيا د بنيادم تر عمره عمره پورې وۀ.

د مثل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې دوه ورونه وو. د ودونو نه پس د مشر ورور کره هلک وزېرېدو. او ځۀ کال نيم پس ورپسې د کشر کره جينې پېدا شوه. يوه ورځ ټوله کورنۍ په يو ځائے راجمع وه. نو دې مشر ورور هغه کشر ته وئېل چې خانه! دا لور دې زما د زوي په نامه شوه. يعني ستا لور زما د زوي شوه. هغه کشر ورته وئېل چې لالا دېره مې خوښه ده. خو شړي ننکی يې لا په سر پراتۀ دي. مطلب يې دا وۀ چې کټې دواړه خطرناکه مرضونه دي او که د دې نه بچ شوه. نو بيا به ستا د زوي وي. او وايي چې داسې د هغه وخت نه مشرانو دا خبره د مثل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا په داسې موقع کښې استعمالېږي چرته چې ځوک د چا نه ځۀ طمع لري ، يا ورته د ځۀ کار روزګار دپاره وېنا وکړي ، يا تر ېښه ځۀ وعده او لوظ غواړي يا ورکوي. او که بل بنده په راتلونکي وخت کښې ځۀ خطره او وېره وينې يا محسوسوي يا د هغې کار او خبرې تر مېنځه ځۀ بندبز ، اړيکې او اړې وينې يا محسوسوي نو بيا داسې ځواب ورکوي چې ښۀ ده يار خدائے دې خبر وکړي! "شړي ننکی يې لا په سر پراتۀ دي".

شل ګرځوئ خو خرځ خپل ګرځوئ

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به په کلو کښې په يو نيم جومات کښې ديني مدرسه هم وه چې د کلو ماشومانو به ورکښې اسلامي کتابونه او سبقونه وئېل. په ځنو مدرسو کښې به د خواؤ شا کلو نه هم ماشومان د سبق دپاره راتلل. او اکثر ماشومان به هم په هغه جومات او مدرسه کښې وسېدل. داسې ماشومان به په طالبانو او د جنو په نامو يادولے او بللے شول. دې جنو به اکثر د مابنامې په کوڅو کښې خبر خبرات ، يعني دوډۍ او پخکرې غوښتل. دې خبرات ته به يې وظيفه وئېله. دوي به په کوڅو کښې داسې اواز کولو چې "وظيفه راوړئ خدائے مو اوبخښه". او د کور مېرمنو به ورله دوډۍ او پخکرے / اينکولې ورکول. د طالبانو سره به يو لوښے وۀ. يعني يا به يو تالے وۀ او يا به کاسه وه چې په هغې کښې به د هر قسمه پخکرې راجمع وو. په دې حقله مشرانو ځکه وئېلي دي چې د طالبانو پېټي تر ېښه مۀ جوړوه. خبر د طالبانو به په دې وظيفو ګران روان وۀ. يعني د خلقو په خبرات او وظيفو په يې ژوند کولو. د طالبانو به حقله نوري هم دېرې قيصې او متلونه مشهور دي.

دا مثل هم د طالبانو د ژوند په يو اړخ جوړ شوے او مشهور شوے دے. وايي چې پخوا په زمانه کښې داسې يو دوه طالبانو وظيفه غوښتله. په يوه کوڅه کښې يې اواز وکړو چې وظيفه راوړئ خدائے مو او بخښه. د کور نه ورله يو ماشوم د خپل وسه سره وظيفه راوړلهغه يو طالب دې ماشوم ته وئېل ورشه مور ته وايه چې مونږه دوه کسه يو ، و. دا خبره د کور مېرمنې واوريده. نو د کوره يې ورله اواز وکړو. چې شل ګرځے خو خرځ خپل ګرځوي. يعني مطلب دا چې کټې وظيفه وه خو ما در ولېږله. نوره زۀ ستاسو په شمېره خو پره نۀ يم ، يا ستاسو د ټولو خو ذمه واره نۀ يم. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د مثل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک د چا د ذمه واری نه لاس پورته کړي ، يا د چا د پالنې نه ډډه کوي يا کول غواړي. نو په داسې وخت دا مثل وړاندې کوي. او کله کله چې ځوک د مېلمنو نه يا د نابللې بنده نه تنګ راشي نو داسې خلقو ته د طنز او ملامته کولو دپاره هم دا مثل وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "شل ګرځئ خو خرځ خپل ګرځوئ".

شل وسله نۀ دد او سانډو رشته نۀ دد

دا يو عام متل دے. شل د پخوا زمانې يوه وسله وه. دا لکه د نېزې په شان وه. خو بې اعتباره وه. نو ځکه مشرانو وسله نۀ ګڼله. يعني په نامه خو وسله ده خو لکه د نورو وسلو اعتباري نۀ وه. داسې سانډو هم هسې په نامه رشته ده. ځکه چې رشتې او خپلولی خو د وينې خپلولی وي. دېرې جونه (پېغلې خوښدې) داسې وي چې په جدا جدا قامونو او په جدا جدا علاقو کښې وادۀ شي. يعني په امه قمه پراتۀ وي. او بيا د هغه جدا قامونو خپلولي صرف د سانډو په رشته نۀ شي پاللے. او نۀ د هغوي خپلولي مدام او پخه وي. ځکه هوښيارانو دا رشته په خپلولی کښې نۀ حساب کړي ، نۀ منلې او نۀ ګڼلې ده. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې نۀ شل اعتباري او

پخه وسله ده او نۀ د سانډو رشته پخه او اعتباري ده. مشرانو هم دا مطلب په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې شوک داسې په ځۀ بې اعتباره شي يا بې اعتباره بنده باندې باور او يقين وساتي. او په هغې کښې ځۀ زيان ومومي او يا خاص چې داسې د سانډو غوندې خپلوانو د لاسه دهوکه وخوري. نو يا نورو خلقو ته د نصيحت په توګه دا متل وړاندې کوي او وايي چې پام کوئ کوري! "شل وسله نۀ ده او سانډو رشته نۀ ده".

شولې په ارابونو نۀ کيږي

قيصه:

په دې متل کښې دوه څيزونه ستائيلے شوي دي. يو شولې او بل اراب. شولې د وريژو شډلو دانو ته وئيلے شي. يعني د وريژو په دانو چې پټ يا پوستکے وي (سپينې شوي نۀ وي) نو هغې ته شولې وئيلے شي. د دې کبله د وريژو فصل ته هم شولې وايي. يعني چې وريژې نال (اوکړلے) شي نو هغه فصل ته شولې وئيلے شي. شولې يو خو په خوړه زمکه کښې کيږي او بل ډېرې زياتې اوبۀ غواړي. د کرلو نه مخکښې زمېدار اول پټې ښۀ اوبۀ کړي. بلکې په پټې کښې ښې اوبۀ اودروي او بيا په هغه ولاړو اوبو کښې شولې نال کوي. مطلب دا چې د شولو فصل په خوړه او د اوبو والا نهري زمکه کښې کيږي. په خوړۀ شاړه او باراني زمکه کښې شولې نۀ کيږي. په متل کښې دوېم تورے اراب دے. اراب يا اغراب په شاړه او خوړۀ زمکه کښې کښتے شوي نالې ، ولې او يا نهر ته وئيلے شي. په خوړۀ زمکه کښې چې لاندې کم سېب وي نو هغه دې ارابونو ته رابهيږي. يعني دا ارابونه د خوړې زمکو نه سېبب راکاږي. او داسې د هغه شاړو زمکو نه خوړۀ (سيم و تهور) ختمېږي.

د دې متل په حقله داسې هم مشهوره ده وايي چې پخوا په زمانه کښې يو ساده زمېدار د اراب په غاړه خوړۀ زمکه پ ، لې پټې کوله. دپاسه وربانديې يو بل هوښيار زمېدار راغے. د ښۀ جاړې پخبر راغلې نه پس بې تربنه پوښتنه وکړه چې هلکه د ځۀ تيارے دے. ځۀ به پکښې کړي. هغه زمکې والا ځواب ورکړو چې شولو ته مې خيال دے. هغه بل تربنه تپوس وکړو چې خانه! د اوبو به يې ځۀ غم وي. هغۀ ورته وئيل چې دا اراب شته کنه. هغه هوښيار ورته وئيل چې خانه! هسې خان مۀ سترے کوه. شولې په ارابونو نۀ کيږي. يعني مطلب يې دا وۀ چې يو خو ستا زمکه خوړۀ ده او بل يې اوبۀ هم نشته. په اراب کښې دومره اوبه نۀ وي چې ستا زمکه به اوبۀ کړي او د شولو فصل به دې وشي. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې شوک داسې د ځۀ کار کولو تکل کوي. چې هغه د کولو نۀ وي يا د هغه کاردپاره چې ځۀ ضرورت او حاجت وي نو هغه نۀ وي ، يا سامان او اوزار پوره نۀ وي. نو په داسې وخت هغه بنده ته مشران داسې وايي چې خانه هسې خان مۀ کړوه! "شولې په ارابونو نۀ کيږي".

شېخ فريده خ ، له دې چپه بهتري ده

قيصه:

د دې متل په حقله دوه قولونه مشهور دي. څنې خلق وايي چې دا د مشهور صوفي شېخ فريد الدين جشتي قول دے. او هغۀ چرته په يو موقع د نصيحت په توګه داسې وئيلے وۀې د فضول خبرو او بکواس نه خ ، له چپه يعني بنده ساتل ښۀ دي. يعني مطلب دا شو چې د فضول او بې فائدې خبرو نه چپه خ ، له بهتره ده.

دوېمه ډله وايي چې پخوا په زمانه کښې داسې يو جعلي پير د شېخ فريد په نامه مشهور شوے وۀ. هغۀ به په چالاکۍ او تکۍ توري خلق لوټل او تروړل. د دم درود ، کودو منترو او تعويذونو کاروبار بې ګرم کړے وۀ. وايي چې يوه ورځ ورپاندې سر د پاسه سر ورپېښ

شو. يعني د يو هوښيار ، عقلمند او چالاکه بنده سره يې مرکه جوړه شوه. هغه بنده د پير نه د طريقت او معرفت په حقله څۀ سوالونه او تپوسونه وکړل. د جعلي پير سره څۀ ځواب نۀ وؤ. هسې اوتې بوتې ، انګا بنګا او انګړه دنګړه يې شروع کړي وو. په دغه وخت د پير يو هوښياره مريد حاضر وؤ. هغه مريد پوهه شو چې د پير نه وار ګودر خطا شوے دے نو اواز يې ورکړو چې شېخ فريده خ ، له چپه بهتري ده. او د مريد په اواز په رښتيا خ ، له بنده کړه او د هغه بنده د سوالونو يا د خبرو يې هېڅ ځواب نۀ ورکولو. داسې د پير صېب څه لږ ډېر عزت پاتې شو. او وايي چې د هغه وخت نه دا قول د متل په توګه مشهور شو.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعماليږي. چرته چې څوک د چا په څۀ سوال او تپوس پوښتنه کښې لاځوابه شي ، يا څوک داسې فضوله اوتې بوتې وايي يا انګړه دونګړه کوي ، يا داسې د خلقو څۀ راز ښکاره کوي چې ترېنه شر او فساد جوړيږي. نو مشران پاسې وخت هغه بنده ته داسې وايي چې د دې نه خو ښۀ دا ده چې دا خ ، له دې چپ او بنده وساته. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې "شېخ فريده خ ، له دې چپه بهتري ده".

Pukhto.Net
پښتو

"ښ"

ښځو په خ ، له خوړے شي نۀ چې په لنډۍ ت ، وره

دا يو عام متل په متل کښې ښار ، خ ، له ، خوړل او لنډۍ ت ، وره ستائېلے شوي دي. ښار يا ښاريه لويه او سترې ابادۍ ته وايي. يعنې کوم ځائے چې په ګڼ شمېر خلق مېشتۀ وي. او ورکښې د ژوند کولو ټول ضرورتونه او حاجتونه په اسانه مېلاوېږي. يعنې ژوند پکښې په اسانه تېرېږي. دا خوږې خ ، لې نه مطلب دے چې ګنې په روڼ تندي او په مسکا سره روغې ، ښې ، پستې او خوږې خبرې کول. ښۀ اخلاق او ښۀ سلوک د هر چا سره ساتل. د خوړلو نه مطلب دے چې تر لاسو کول ، دوست او ملګري جوړول ، هم خيال او همنوا جوړول. او يا ګټل او فتح کول. دا لنډۍ ت ، ورې نه مطلب دے چې ګنې د متو په زور ، په زور ظلم ، په زبردستۍ او په جنګ جګړې او د وسلې په زور ځکه هوښياران وايي چې د ت ، ورې په زور خو به څۀ ځائے فتح شي ، خلق به غلامان جوړ شي. خو دوستان ، ملګري ، مرستيال او همنوا نۀ شي جوړېدلے. او بل وا چې خوږه او پسته خ ، له هر څۀ کېدے شي. تر دې چې د خلقو زړونه پرې ګټلے او فتح کولے شي. او چې زړونه فتح شي نو ښار بيا په خپله لاسو له راځي او په اسانه خوړلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل مطلب دا شو چې ګنې په ښۀ اخلاقو او پسته خوږه خ ، له هر څۀ کېدے شي. يعنې ښۀ اخلاق ، خوږه او پسته خ ، له ښارونه (خلق او د خلقو زړونه) خوړلے شي. يعنې ګټلے او فتح کولے شي. او دا کار يعنې (زړونه ګټل) لنډۍ ت ، وره (جنګ جګړې ، زور ظلم ، جبر او زبردستۍ) يعنې د وسلې په زور نۀ شي کېدلے. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې هر وخت ت ، وره ويستلې د مرچو په څټه ناست وي. او خپل خيالات يا نظريات په زور ظلم او زبردستۍ په خلقو ورتپي يا د ت ، ورې او متو په زور خلق خپل هم خيال او مرستيال جوړول غواړي. نو په داسې وخت داسې غړي ته هوښياران وايي چې ځوانه او مره مرچکے مۀ جوړېږه ، زړونه په خوږه خ ، له او ښو اخلاقو ګټلے شي. په زور زبردستۍ او جبر ظلم نه. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې "ښار په خوږه خ ، له خوړے شي نه چې په لنډۍ ت ، وره".

ښځه په کالو نۀ درنېږي او نر په وسله

دا يو عام متل دے. خو په امروزه ژوند کښې زيات نۀ استعمالېږي يعنې او مطلب يې دا دي چې ګنې کالي پتري د زنانۀ (ښځو) خپل د زينت او سنګار يو حاجت او ضرورت وي. بلکې لکه د جامو ضرورت دے. ځنې کالي داسې وي چې هغه مېرمنو شپه او ورځ اچولي وي. او هغه هم لکه د جامو د بدن حصه ګڼلے شي. داسې ځنې وسلې هم د پښتنو وګړو کالے منلے او ګڼلے شوے دے. او هغه وسلې پښتانۀ خلق لکه د جامو او کالو په شان د ځان سره تړلي ساتي او ګرځوي.

په متل کښې دوېم تورے دروند (درنېدۀ) استعمال شوے دے. لفظ دروند د دوؤ معنو دپاره استعمالېږي. په عامه ژبه او عامو معنو کښې د وزن په حقله استعمالېږي. يعنې چې څه شے په وزن زيات شي يا په څۀ شي وزن زيات شي. نو د هغې په حقله داسې وئېلے شي چې دا شے دروند شو. دوېم مطلب ترېنه دا دے چې څوک زيات قدردانه او عزتمنده وي. يعنې داسې يو بنده چې په اخلاقو ، حسن سلوک ، راشه در شه ، غم ښادۍ او تپوس پوښتنه کښې د خلقو سره ښۀ تعلق ساتي. د هر چا قدر او عزت کوي. نو داسې بنده هم په نورو خلقو ډېر ګران ، قدردانه ، عزتمنده او زړۀ پورې وي. دا د قدر لوړه مرتبه خلق په دروند بلي او يادوي. ځکه د داسې بنده په حقله وئېلے شي چې: ډېر دروند سړے دے ، يا خوږ دروند پښتون دے. او د دروندوالي دا مطلب په يو بل متل کښې هم ستائېلے شوے دے. لکه وايي چې: "د درنو سره به دروند يې او د سپکو سره سپک". د وړومبۍ معنې تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې کالي پتري خو د ښځو د بدن يوه حصه ګڼلے شي ، يا د هغوي د امروزه ژوند يوه حصه ده. او داسې وسله هم د نارينۀ د امروزه ژوند يو ضرورت ، حاجت ، اوزار او يا کالے دے. نو په کالو اچولو نۀ ښځه درنېږي او نۀ په وسله ګرځولو د سړي بوجهه او وزن زياتېږي.

د دوېمې معنې تر لاندې د متل نه مطلب دا جوړېږي چې ګڼې څوک چې پخپله دروند نهٔ وي. يعنې چې په خپلو اخلاقو ، حسن سلوک ، قدر ، عزت او تعلقاتو کښې دروند نهٔ وي. نو نهٔ د بل قدر عزت کوي ، نهٔ خيال خاطر ساتي ، نهٔ چا ته په درنه سترګه ګوري ، نهٔ يې قول وېنا او نهٔ يې عمل د عزتدارو او قدردانو خلقو وي. نو که هغه ډېر هم د ځان سره وسله ګرځوي ، يا د مال دولت ښودنه (نمائش) کوي. خو بيا ورته هم خلق په درنه سترګه نهٔ ګوري. او نهٔ يې دروند مني او ګڼي. مطلب دا شو چې په کالو پترو (زرو) او د مال دولت او وسلې په ښودنه ، اچولو او ګرځولو څوک نهٔ درنېږي.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک خپل عزت او قدر په کالو (د مال دولت په نمائش) او د وسلې په زور جوړول غواړي ، يا په زوره د چا نه عزت او دروندوالے غواړي. نو په داسې موقعو کښې هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ښځه په کالو نهٔ درنېږي او نر په وسله".

ښځه د وسواس په ورځ پېدا ده

د بنيادم سره ډېر صفتونه او عيبونه ، يعنې عادتونه قدرتي او فطرتي تړلې وي. په دې متل کښې هم هوښيارانو د ښځې ذات يو فطرتي صفت څرګنده کړے دے. ښځه ذات فطرتي کمزورې ، کم عقله او کم همته وي دې سره سره شک ، ګ ، مان ، وسواس او اندېښنې هم د ښځو په خمبير کښې اخښلے شوې دي. يعنې ښځه ذات په يقين او توکل کولو کښې ډېره کمزورې وي. په هر کار او خبره کښې ارو مرو شک او ګ ، مان کوي. او يا ورکښې خپلې اندېښنې څرګندوي. په ورځ پېدا نه مطلب دا دے چې ګڼې په اندېښنو او وسواس کښې ډېره زياته يعنې تر مرۍ مرۍ ډوبه او بوخته وي. لکه څنګه چې يو ماشوم ډېر زيات ژاړي نو د هغهٔ په حقله داسې وئېلے شي چې دے خو د ژړا په ورځ پېدا دے دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې ښځه ذات ډېر زيات شک او ګ ، مان کوي. يعنې په وسواس او اندېښنو کښې داسې راګېره وي لکه چې په توکل او يقين يې ايمان نهٔ وي. يعنې په هر څهٔ کښې ډېر زيات وسواس او اندېښنې کوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک ښځه ذات په څهٔ روغ کار او خبره کښې وسواس کوي. يا په څهٔ ګ ، مان کښې راګېره وي ، يا په څهٔ موقع کښې هسې وېره ظاهره وي يا څهٔ ګ ، مانونه او اندېښنې زغلوي. نو په داسې وخت د داسې ښځو په حقله مشران وايي چې د ښځو دا ګمانونه ، وسواس او اندېښنې به ختمې نهٔ شي ځکه چې: "ښځه د وسواس په ورځ پېدا ده".

ښهٔ به دې سلطان کړي او بد به دې اريان

د پوهانو يو بل قول دے وايي چې ښهٔ ښهٔ دي او بد بد. او نن په دې باندې هر بنده که لوئے دے او که ماشوم ، ښهٔ خبر دے او په مطلب يې ښهٔ پوهه دے. چې ښهٔ څهٔ دي او بد څهٔ دي. په دې متل کښې مشرانو د ښهٔ او بدو يعنې د نېکۍ او بدۍ انجام ته پام راګرځولے دے. او دا خبره يې په ګوته کړې ده چې د ښهٔ څهٔ انجام وي او د بدو عادتونو او کارونو څهٔ انجام وي. په دې حقله نور هم ډېر متلونه او د مشرانو قولونه ياد او مشهور دي. او د ټولو نه مطلب دا دے چې ګڼې ښهٔ ، يعنې نېکي کول ، احسان کول ، د خېر ښېګړې کارونه کول ، په نېغه او روغه لاره د تللو څهٔ انجام او څهٔ جزا مېلاوېږي او د بدو خلقو څهٔ انجام وي او د بدو له کبله هغه خلقو ته څهٔ ورسېږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې څوک نېکي يعنې د خېر ښېګړې کارونه کوي. ښهٔ اخلاق او ښهٔ عادتونه لري نو هغوي به لکه د سلطان ژوند تېروي. د سلطان نه مطلب هغه بنده چې په زړونو باچايي کوي. يعنې د هر چا خوښ وي او هر څوک يې د زړهٔ د تله قدر او عزت کوي. او د داسې بنده ژوند بې غمه او په سکون وي. او د بدو خلقو ژوند اکثر په غمونو ، مصيبتونو او تکليفونو کښې ګېر وي. خلقو ته سپک سپوراو سپېرهٔ وي. مدام په منډو ترړو ، دوؤنو او هلو ځلو سر وي. او بيا هم په هر وخت هره خبره کښې اريان وي. هم دا مطلب مشران په دې متل کښې څرګندوي او د نصيحت په توګه داسې وايي چې: "ښهٔ به دې سلطان کړي او بد به دې اريان".

ښهٔ پوهېږم خو نهٔ پوهېږم

دا د مشرانو قول دے. چې د متل په توګه هم ډېر عام استعمالېږي يعنې يې دا ده چې ګنې زۀ په دې کار ښۀ پوهېږم ، يا په دې خبره ښۀ خبر يم خو يا مې قصداً ځان ناغرضه کړے دے. او يا چې تۀ وائې نو ښۀ ده ، زۀ نۀ پوهېږم. د دې معنو تر لاندې د متل نه دوه مطلبه اخستے شي. يو دا چې چرته څوک د څۀ مجبورۍ له کبله ځان ړوند کوڼ کړي. په ځان داسې غوږونه رااچوي او سترګې پټې کړي. نو که بيا د هغۀ په چاپېرچل کښې هر څۀ کيږي ، يا څوک څۀ وايي نو هغه بنده پرې نۀ پوهيږي. خو په حقيقت کښې داسې نۀ وي. بلکې هغه بنده دې څۀ مجبورۍ ، يا د څۀ مصلحت له کبله ځان غلے کړے وي ، يا يې قصداً د ځانه بې وقوفه او کم عقل جوړ کړے وي.

دوېم مطلب يې دا دے چې چرته دوه کسه په څۀ کار او روزګار باندې بحث او مباحثه کوي ، يا څۀ خبرې اترې او صلاح مشوره کوي. په دې خبرو يا په دې بحث کښې چې د دواړو اتفاق نۀ راځي. او د يو بل خبره يا مشوره نۀ مني بلکې خپله خبره مشوره يا د کار کولو ترکيب او طريقه غوره ګڼي. نو په داسې موقع اکثر يو بل ته دا پېغور ورکوي ، يا يو بل ته دا طنز ورکوي چې تۀ په دې کار او خبره نۀ پوهيږي يا نۀ رسې ، يا تۀ په دې خبرو څۀ پوهيږي. نو په داسې موقع که هغه بل بنده لوبه ګرمول نۀ غواړي. خبره او بحث مباحثه ختمول غواړي. او غرض يې دا وي چې ګنې زمونږه کار روزګار ، لېن دېن او ياري دوستي په ځائے روغه پاتې شي. نو هغۀ ورته په ځواب کښې داسې وايي چې ښۀ ده يار! زۀ نۀ پوهېږم تۀ ښۀ پوهېږې. تۀ پوهه شه او کار دې پوهه شه. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "ښۀ پوهېږم خو نۀ پوهېږم".

ښۀ دوست په بد ځائے کښې پکار راځي

د دوستۍ ، دښمنۍ ، دوستانو او دښمنانو په حقله د پوهانو مشرانو ډېر قولونه او متلونه مشهور دي. سپينه او صفا خبره دا ده چې دوست دوست وي او دښمن دښمن وي. په دښمنانو کښې واړۀ او غټ وي خو ښۀ او خراب نۀ وي. بل خوا مشرانو دوستان په تله تللي دي. او ورکښې يې ښۀ او خراب بيل بيل ستاييلي دي. د ښۀ او خراب دا تله يا کج او پيمانه مشرانو د بد ځائے ، بدې ورځې ، مصيبت او د سختۍ د وخت او موقعې سره تړلې ده. هسې خو د دوستۍ په حقله ډېر متلونه مشهور دي. خو د مشرانو يو بل قول دے وايي چې: دوست هغه دے چې په سخته کښې پکار شي. د دې دواړه متلونو مطلب يو دے يعنې دوست هغه دے چې د مصيبت په وخت ، په سخت وخت ، په بده ورځ او بد ځائے کښې پکار راشي. دا د مشرانو پيمانه ده. او وايي چې کله درسره په داسې وخت يعنې د ازمېښت په وخت اوږه په اوږه او ملاتړلے اودرېدۀ نو پوهه شه چې دا دې دوست بلکې ښۀ دوست دے. او که د ازمېښت په وخت دې پکار نۀ شو نو لاس ترې پورته کړه دا دوست نۀ دے بلکې د خپل غرض يار دے. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستاييلے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ښۀ دوست په بد ځائے کښې پکار راځي".

ښۀ دې پېژنم خو پنځه روپۍ نشته

قيصه:

وايي چې په دې متل کښې د پخوا نه اتۀ انې مشهورې وې. خو د وخت تېرېدو سره د انې نه روپۍ جوړه شوه. او د اتو نه پنځه شوې. يعنې پخوا به دا متل داسې وئيلے شو چې: "ښۀ دې پېژنم خو اتۀ انې نشته". او نن سبا داسې وئيلے شي چې پنځه روپۍ نشته. د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې وړې وړې باچايۍ وې. لکه د نن سبا په مثال به دا وګڼو چې د يوې ضلعې يا تحصيل هومره به يوه باچايي وه ، يا يو مملکت يا رياست وؤ. د هغه رياستونو يا باچايو اثار او نخښې نښانې د خاورو د ډېرو په شکل کښې نن هم ځائے په ځائے ليدے او کتے شي او په جدا جدا نومونو مشهورې دي. لکه بابو ډېرۍ ، سپېلنو ډېرۍ ، پرخو ډېرۍ او نورې هم داسې ډېرې ډېرۍ دي. چې د لرغونو زمانو اثار او نخښې نښانې ورکښې نن هم مېلاوېږي. خېر خبره د متل وه. نو وايي چې داسې په يوه باچايۍ (د زياتو خلقو خيال دے چې د سوات په باچايۍ) کښې د هغه خلقو دا عادت (تکيه کلام) وؤ چې د يو بل سره به مېلاوېدل نو يو بل ته به يې کنځل کول. يعنې د دله دوس په نامه يا خطاب به يې يو بل يادول ، يا ستاييل. داسې به يې په ګپ شپ او خبرو اترو کښې هم يو بل ته دا نامې اخستلې. يوه ورځ يو هوښيار وزير د باچا پام دې خبرې ته راوګرځولو چې زمونږ په قام کښې دا عادت

او خبره ښځه نۀ ده. چې هېڅ بې هېڅه يو بل ته کنځل کوي. باچا ترېنه تپوس وکړو چې بيا څۀ کول پکار دي. وزير وټېل چې باچا صېب په دې خبرو بندېز او جرمانه لګول پکار دي. باچا صېب د وزير مشوره ومنله او په ملک کښې يې نغاره وکړه. چې د نن نه پس که چا هم بل چا ته دله يا دوس ووټېل نو هغه به اتۀ اني جرمانه وي. او وايي چې د دې اعلان نه پس خلق د سپکې وېنا نه صبر شول. خو عادت جرتە داسې په اسانه بدلېري ، يا پرېښودے شي. بيا چې به دا خلق يو بل سره مېلاوېدل. نو يو بل ته به يې هغه خبره په شېيلي کښې داسې اړوله. چې ښځ دې پېژنم خو اتۀ اني نشته. يعني مطلب به يې دا وۀ چې کنې ښځ دې پېژنم چې دله يې. خو وټېلے نۀ شم ځکه چې د جرماني اتۀ اني نشته. او داسې د زمانې تېرېدو سره اتۀ اني په پنځه روپۍ مشهورې شوې. ځکه نن سبا داسې وټېلے شي چې ښځ دې پېژنم خو پنځه روپۍ نشته.

دا متل نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېري جرتە چې داسې څوک څۀ د دله توب او بې غېرتۍ کار وکړي ، يا ترېنه په خطائ وشي يا يې څۀ کارونه او عادتونه د بدو او بې حيا خلقو په شان وي ، يا يې د څۀ مجبورۍ له کبله د غېرت په ځائے پښه خوښدلې وي او يا په څۀ نېته وعده کښې پاتې راغلے وي نو په داسې وخت هغه بنده ته خلق دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې يار! "ښځ دې پېژنم خو پنځه روپۍ نشته". او په ځنې علاقو کښې داسې وټېلے شي چې:" يې خو يې خو پنځه روپۍ نشته".

چې څوک هغه وي هغه ئې
افسوس چې جېب کښې اتۀ نېز نشته مئينه

ښځ مۀ کوه بد نشته

دا يو عام متل دے. خو د اسلامي تعليماتو نه خلاف يعني په ضد دے. ځکه چې په اسلام کښې دا سبق دے چې د خپلو مسلمانانو وروڼو سره ښځ يعني احسان کول سنت او واجب دي. بلکې د کافرو سره هم په ښځ اخلاقو د مېلاوېدو حکم دے. بل طرف ته دا متل هم د هغه تجربو او ازمېښتونو نچوړ دے. کوم چې د مشرانو او پوهانو هوښيارانو په ژوند کښې راغلي او تېر شوي دي. نو د هغه حالاتو نه مشرانو دا متل د طنز او د پېغور په توګه جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې که تۀ چا سره ښځ نۀ کوې نو تا سره به څوک بد نۀ کوي. خو داسې حالات يا واقعات دېر کم کوز وي. حقيقت دا دے چې ښځ کوې نو ښځ به مومې. او چې بد کوې نو بد به مومې. خو دا متل مشران د هغه بو نيم بنده په حقله استعمالوي کوم چې د ښځ په بدل کښې بد عمل کوي لا که څوک چا له څۀ قرض پېسې ورکړي او بيا د قرض واپس کولو په تقاضه که د دواړو تر مېنځه څۀ خفګان راشي نو ظاهره ده چې د پېسو والا بنده ته به زيات غم خفګان او تکليف رسي. او په داسې حالاتو کښې هغه د پېسو والا بنده داسې وايي چې افسوس که ما تا سره دا ښځ نۀ وے کړے. نو نن به زۀ ستا د لاسه داسې خفه او غمژن نۀ وے. په داسې موقع هغه بنده د خپل زړۀ حالت او کېفيت په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې:" ښځ مۀ کوه بد نشته".

چې ښځ کوې نو بد به مومې
نن سبا خلق ښځ پسند لاهو کوينه

ښځ هم په ځان دي او بد هم په ځان

دا د هوښيارانو يو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېري. او مطلب يې دا دے چې کنې که څوک ښځ کوي نو هم د ځان سره کوي او که بد کوي نو هم د ځان دپاره. داسې د مشرانو يو بل قول دے. وايي چې دومره ظلم کوه ، څومره چې خپله وړے شي. ددې دواړو قولونو يا متلونو نه مطلب دا څرګند شوے دے. چې که د چا سره ښځ کوي يعني د خېر ښېګړې کارونه کوي نو د هغې انجام به تا ته ښځ مېلاوېږي. او که چا سره بد کوي يعني په چا ظلم جبر کوي يا ورته ضرر او زيان رسوي. نو د دې بدله به هم په بدو مومې. يعني د چا د لاسه به تا ته هم ضرر ، زيان غم او تکليف درسي. لنډه دا چې که دې ښځ اوکړۀ نو ښځ به مومې او که دې بد اوکړۀ نود هغې بدله او انجام به هم هغه شان مېلاوېږي. ځکه مشران داسې وايي چې:" ښځ هم په ځان دي او بد هم په ځان" او يا "ښځ ښځ دي او بد بد".

دوهم مطلب يې دا دے چې په اخرت ، يعني په ورځ د قيامت چې حساب کتاب کېږي. نو هلته به هم انصاف په تله او ميزان مېلاوېږي. په هغه تله کښې به ښځ او بد تلے شي. او د هغه تللي شوي عملونو په نېز به جزا او سزا مېلاوېږي. که ښځ عمل دروند شو نو ښځ

جزا ده او که بد عمل دروند شو نو سخته سزا ده. د هغې سزا نه دې الله پاک ټول مومنان ، مسلمانان په خپل کرم او فضل سره وساتي. امين. دا متل هم د دې دواړو مطلبونو دپاره مشرانو جوړ او مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. چې په خپلو خبرو ، عملونو او کړو وړو باندې سوچ او فکر کوي. ځکه چې خپل عمل د لاړې مل دے. که ښۀ عمل دې او که بد نو هغه به درسره ملګرے وي. ځکه مشران داسې هم وايي چې: "ښۀ هم په ځان دي او بد هم په ځان".

چې بد کوې نو بد به مومې
د بد عمل انجام اخر په بدو شينه

Pukhto.Net
پښتو

" "
ص

صبر تريخ او مېوه يې خوږه ده

دا تورے (لفظ —ص) او د ص نه جوړ شوے صبر د پښتو ژبې خپل تورے نۀ دے. بلکې ځنکه چې د کتاب په شروع کښې ما ذکر کړے دے چې متل هم خپله د عربي ژبې د توري مثل يا مثال نه جوړ شوے او خپل کړے شوے دے. داسې ص صواد او صبر هم د عربي ژبې توري دي. خو په پښتو کښې هم استعمالېږي. د صبر مطلب پوهان دا بيانوي چې کنې زړۀ له طبع تسلي ورکول ، زړۀ مطمئينه او قلاړه ساتل. يعني مطلب دا شو چې د ځۀ کار يا د ځۀ خبرې له کبله بنيادم ته ځۀ تکليف او غم خفګان ورسي ، يا په ځۀ مصيبت او کرامه کښې راکښر شي يا ورته ځۀ حادثه ورپېښه شي چې له کبله يې زړۀ ته غم خفګان او تکليف ورسي او بنيادم په هغه خپل کېفيت قابو ومومي يا ورپه خ ۀ له يا په زړۀ دننه يې د ځۀ قسمه کبله شکوه رانشي. او په هغه حالاتو يې زړۀ مطمئينه او د الله پاک شکر ګزاره وي ، نو داسې کېفيت او حالت ته صبر وئيلے شي ، يا جرته داسې حالات جوړ شي چې يو بنيادم ته د جا د لاسه ځۀ نقصان او زيان ورسي. او هغه بنده سره د طاقته خپل بدل وانخلي. بلکې خپل غم ، خفګان او غصه قابو کړي. ځۀ کبله شکوه نۀ کوي او نۀ لړي. د الله د رضا دپاره هغه کس معاف کړي او زړۀ يې د الله پاک په رضا مطمئينه او شکر ګزار وي. نو داسې کېفيت او حالت ته صبر وئيلے شي. او دا څرګنده خبره ده چې درد ، تکليف ، غم او خفګان په زړۀ تبرول او زغمل دپر ګران او د کلک زړۀ کار دے. داسې د تکليف ، مصيبت او غم خفګان وخت او حالات دپر تراخۀ وي او دا تراخۀ تبرول او زغمل داسې وي لکه د زهرو کوټ تبرول. او دې تريخ کار يا عمل ته صبر وئيلے شي.

د مېوې نه مطلب دے د ځۀ کار يا خبرې انجام ، نتيجه او فائده. يعني مشرانو دا خبره په کوته کړې ده. چې ځوک په ځۀ حادثه ، تکليف او مصيبت کښې صبر وکړي. نو د هغې په بدله کښې ورله الله پاک په ځۀ بل کار کښې يا په بله موقع د هغې نه ښۀ او دپره کښه ورکړي او په اخرت به ورته ثوابونه جدا مېلاوېږي. او دا بدله ، فائده ، سود يا کښه او ثوابونه هوښيارانو د مېوې په توګه او په نامه ياد کړي او په متل کښې مشهور کړي دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې جرته يو بنيادم تريخ وخت يعني د صبر تريخ کوټ تېر کړي نو په بدله کښې به ورته خوږه مېوه (کښه او ثوابونه) مېلاوېږي. نن سبا جرته چې مشران چا له طبع تسلي ورکوي او د صبر کولو نصيحت او تلقين ورته کوي نو داسې وايي چې الله پاک دې صبر درکړي ، صبر ښۀ شے دے کې "صبر تريخ دے خو مېوه يې خوږه ده".

صبر لوئے هنر دے

مشرانو د صبر مثال د ډېرو څيزونو سره ورکړے او ترلے دے. په دې متل کښې يې صبر د هنر په توګه ستائيلے او مشهور کړے دے. هنر يوه معن ، ی خو دا ده چې کنې ځۀ کار کسب کول. په خصوصي توګه د مشينانو چلول يا په مشينانو کار کول. او داسې د هنر کار کولو والا بنده ته هنرمند وئيلے شي. دوېمه معن ، ی د هنر نه دا اخذ کيږي چې چالاکي کول. يعني ځۀ چل ول کول يا لاړه کودره معلومول يا ښودل ، يا ځۀ کار او خبرې له ځۀ ډهانه کتل او جوړول. لکه د مثال په توګه داسې وئيلے شي چې هلکه! د دې سړي نه مې په ځۀ چل هنر خلاص کړه ، يا دا خبره په ځۀ هنر جوړه يا روغه کړه ، يا دا سړے خو نن سبا دپر تېز روان دے. خو په ځۀ چل هنر به راپرځول غواړي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې صبر خپله لوئے چل ول او هنر دے. چې په ځۀ خبره او کار کښې صبر وکړے شي نو د هغې کرامې سر ته کولو ، تکليف او مصيبت ختمولو او د ځۀ کار کولو دپاره الله پاک پخپله ځۀ نه ځۀ ترتيب او هنر جوړ او راپيدا کړي. ډېرا د بنيادم چل ول او هنر ته ځه حاجت او ضرورت نۀ وي. يعني مطلب دا شو چې د پښتې نه د تېښتې دپاره چل او هنر ته ضرورت نشته.

نن سبا يې هم مشران د دې مطلب دپاره خلقو ته د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې ورورە! په دې خبره يا کار کښې چل هنر ته هېڅ ضرورت او حاجت نشته صبر کوه الله تعال ، ی به خپر کړي ځکه چې: "صبر لوئے هنر دے".

Pukhto.Net
پښتو

"ع"

عال ـ م په څۀ دے او مير عالم په څۀ دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے وؤ چې مير عالم نومېدو. دا ډېر بې فکره او لاپرواه بنده وؤ. نۀ يې د دنيا په روزګار څۀ کار وؤ او نۀ ورسره د اخرت څۀ فکر وؤ. فضول شوقونه او نوې نوې لوبې تماشې به يې جوړولې او کولې. يعنې ښۀ مست او عياش سړے وؤ. وايي چې يوه ورځ د مير عالم مور مړه شوه. په کور کښې ويرِ او ژړاګانې وې او حجره کښې هم د دنيا خلق راجمع وو. د حجرې يو ګوټ ته مير عالم د خپلو دوستانو او يارانو سره د ښکار او د سپو د جنګ ګپ شپ ګرم کړے وؤ. په دغه وخت د يو مشر د خ ـ لې دا خبره وخته چې وګورئ عالمه! عالم په څۀ دے او مير عالم په څۀ دے. او وايي چې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې حالات څۀ جوړ دي او تۀ کار څۀ کوې.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو بنده په مجلس کښې د روانو خبرو ، يعنې د روانو لاړو چارو نه بې فکره او لاپرواه شي. خلق يوه خبره کوي او دے ورکښې څۀ بله ټپه اړوي ، يا څوک داسې يو بنده چې د حالاتو او د وخت د مناسبت نه اېوټه کار او يا خبره کوي. نو په داسې وخت او موقع د هغه بنده په حقله مشران دا متل وراندې کوي. او داسې وايي چې وګورئ عالمه! "عالم په څۀ دے او مير عالم په څۀ دے".

هـــــــر څـــــــوک پـــــــه خپلـــــــه دنيـــــــا مســـــــت وي
مير عـــــالم خـــــۀ کـــــوي د نـــــور عـــــالم غمونـــــه

عظمته مړي داسې وي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو غريب سړے عظمت نومېدو. ډېر غريب وؤ ، څۀ کار روزګار او کټه وټه يې نۀ وه. عظمت کاکا به د هر چا قبر جنازې له خان رسولو. په جنازه کښې به چې څۀ خبرات سخات وښيلے شو نو دې غريب ته به هم څۀ نه څۀ مېلاؤ شو. او داسې په هغه خبرات زکواة د دۀ کراره روانه وه. يوه ورځ د علاقې مشر خان په حق ورسېدو. د څربو غوښو بنوروا هم خوړه وي. داسې د خانانو سخات خبرات هم ښۀ غوښې وؤ. عظمت کاکا هم جنازې له خان ورسوؤ. په سخات کښې ورته پېسې ټکي هم مېلاؤ شوې او د کـ ـرې صابن نه جولي هم ډکه شوه. بيا په خبرات کښې هم عظمت کاکا د غوښو او وريژو سره ښۀ انصاف وکړو. او د کور دپاره يې ښۀ غټه کنډه وترله. په لاره ترېنه چا ټپوس وکړو چې عظمته چرته؟ عظمت کاکا ورته وئېل چې هن! هر يو پښې اګرې ته کړي چې مر شوم. عظمته مړي داسې وي. او بيا يې ورته د غم ټوله قيصه تېره کړه. او داسې د هغه وخت نه د عظمت کاکا دا خبره په متل مشهوره شوه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک چا ته د څۀ کار يا د څۀ خبرې مثال وراندې کوي ، يا د څۀ کار په حقله يې خبروي. چې ګڼې ستا د کار نه يا ستا د څۀ شي نه دا کار او دا خيز ښۀ او غوره دے. نو دا متل ورته وراندې کوي او داسې وايي چې: "عظمته مړي داسې وي".

عقل په ټکرو زده کيږي
عقل په ټکرو ځائے له راځي
عقل د کم عقلو نه زده کيږي

دا ډېر مشهور متلونه دي. او درې واړه متلونه په مطلب کښې د يو بل سره ډېر نزدې او تړلي دي. او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. مطلب د متل نه دا دے چې ګڼې کم عقل خلق د خپلې کم عقلتيا له کبله په ژوند کښې غلطۍ او کوتاهۍ کوي. يعنې د کم عقلو خلقو نه داسې څۀ غلطي يا غلط کار وشي. چې هغې ته د هوښيارانو پام شي او د هغه کار يا خبرې نه هوښياره خلق سبق او عبرت واخلي. يعنې د چا د غلطۍ نه عبرت اخستل او ځانله لاره ګودر جوړول او سمول او يا د هغه کار دپاره ترتيب او ترکيب جوړول. بيا په ښۀ عمل سره هغه کار سر ته رسول يا سر ته کول. دې عمل ته عقل زده کېدل يا زده کول وئېلے شي. مطلب دا شو چې د کم عقلو د غلطو نه يا د هغوي د انجام نه چې څوک سبق واخلي او عبرت ترېنه ونيسي نو دا داسې شوه لکه چې هغه د کم عقلو نه عقل زده کړو. د دې په حقله يوه قيصۍ هم مشهوره ده. وائې چې يوه ورځ د ځنګل باچا ازمري په يو ځائے درې ځناور ، يوه غوا ، يوه ګډه او يوه هوسۍ ښکار کړل. ازمرے د ښکار خوا ته ناست وؤ چې ورله غلے غلے يو ګيدړ او يوه لومبړه هم خوا له راغلل. ازمري د ګيدړ نه تپوس وکړو چې وايه کنه دې ښکار سره څۀ وکړو. ګيدړ په زړۀ کښې ډېر خوشحاله شو چې ګڼې غټه برخه به ماته هم مېلاؤ شي. ګيدړ ورته وئېل چې تۀ د ځنګل باچا يې نو دا غټ ښکار يعنې غوا به ستا شي. دا ګډه به زۀ واخلم او دا هوسۍ دې لومبړې ته پرېږده. ازمري ورله ډېر په غصه کښې يوه پنجه راخلاصه کړه. او ګيدړ يې په ترټکو سر کۀ. ازمري وئېل چې ښکار دې زۀ کووم او برخې به تۀ وېشې ، دا نۀ شي کېدے. خېر بيا يې د لومبړې نه پوښتنه وکړه. چې تۀ وايه چې د ښکار څۀ بندوبست وکړو. لومبړې ورته وئېل چې باچا صېب. دا غوا خو اوس وخوره ، دا ګډه به دې بېګاه له شي. او دا هوسۍ دې د سبا ناشته شوه. ازمرے ډېر خوشحاله شو او د لومبړې نه يې پوښتنه وکړه چې دا دومره عقل درته چا ښودلے دے. نو لومبړې ځواب ورکړو چې د دغه کم عقل ګيدړ نه مې زده کړو.

دا متل نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک داسې د کم عقلتيا څۀ کار وکړي. او هوښياره خلق ترېنه سبق واخلي. او بيا يې عامو خلقو ته د مثال او نصيحت دپاره وړاندې کوي. او داسې وايي چې که چرې دوي دا کار نۀ وے کړے ، يا دوي دا غلطۍ ، کوتاهۍ او بې وقوفتيا نۀ وے کړے. نو مونږ به ترېنه څۀ خبر وو ، يا مونږ به ترېنه څنګه څۀ زده کړې وے. رښتيا ده چې: "عقل د کم عقلو نه زده کيږي".

يـــــا پـــــه ټکـــــرو ځـــــائے لـــــه راشـــــي
يـــــا د کـــــم عقلـــــو نـــــه د ژونـــــد زده شـــــي چلونـــــه

عقل د عزت يار دے چې عقل نۀ وي سړے خوار دے

په متلونو کښې ډېر داسې دي چې د ټپې او د شعر په توله او طرز کښې جوړ شوي او مشهور شوي دي. دا متل هم لکه د شعر په توله بر ابر دے. مطلب يې دا دے چې ګڼې عقلمند بنده عزتمنده وي. او بې وقوفه يا کم عقل سړے خوار وي. او د خورا نه دواړه معنې اخستے شي. يعنې په مال دولت خوار غريب ، او داسې په قدر عزت کښې هم خوار يعنې هر چا ته سپک وي. ځکه چې عقلمند بنده د محفل ، د وخت او د موقعې په مناسبت سره خبره کوي يا خپله رائے او فېصله څرګندوي ، يا چا له ورکوي يا د ښۀ سوچ فکر کولونه پس ، او د ګڼې ، تاوان د حساب کتاب نه پس څۀ کار روزګار ته لاس اچوي. بل خوا کم عقله بنده وخت بې وخته نۀ ګوري. د ادابو او اخلاقو نه نابلد بې فکره او بې پامه بس چې څۀ بې خ ـ لې له ر اغلل هغه وايي. ځکه په هر محفل کښې سپک او خوار وي. او د کار روزګار په باب کښې هم څۀ پام او فکر نۀ کوي. او نۀ ورله څۀ ترکيب او ترتيب جوړوي. د عاقله او د کم عقلو دا تفاوت او فرق مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے دے. او مطلب يې دا دے چې ګڼې دا هر څۀ د عقل له کبله وي. يعنې چې څوک په عقل پوره وي نو هغوي داسې کارونه کوي چې د هغوي پرې عزت جوړ وي او کم عقل خلق د خپلې بې وقوفتيا او کم عقلتيا له کبله خوار و زار وي.

نن سبا يې هم مشران د نصيحت په توګه داسې خلقو ته وړاندې کوي څوک چې د خپلې بې وقوفتيا او کم عقلتيا له کبله چرته په محفل کښې بې عزته شي ، يا ورته په مال حال کښې څۀ زيان او تاوان ورسي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې بې وقوفه عقل زده کړه! "عقل د عزت يار دے چې عقل نۀ وي سړے خوار دے".

"غ"

غاښ چې رنځور شي نو د انبور شي

غـــــاښ چـــــې رنځـــــور شـــــي نـــــو د انبـــــور شـــــي
زوئـــــے چـــــې رنځـــــور شـــــي جـــــور تـــــري تربـــــور شـــــي
(خوشحال خان بابا)

دا يو عام متل دے. چې خوشحال خان خټک بابا هم په خپل شعر کښې ستائيلې دے. د متل نه مطلب دا دے چې کټې غاښ خراب ، مات کـ ـ ـ او درد مند شي نو داسې رنځور غاښ په انبور يا زنبور ويستلے شي. مطلب دا چې کله غاښ رنځور شي نو که ډېر علاجونه يې وکړے شي خو اخري علاج يې دا وي چې په انبور ويستلے شي نو هله تکليف او درد ختم شي. او بنيادم په سکون او ارام شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې غاښ رنځور شي نو اخري علاج يې دا وي چې په انبور ويستلے شي. او دوېم مطلب تر ښه بنيادم ته اشاره ده. يعنې د رنځور نه مطلب په رنځ رنځور نۀ دے. بلکې د عمل رنځور دے. يعنې داسې څوک بنيادم چې په بدو لارو سر وي. يعنې بدمعاش ، بد اخلاقه ، بدتميزه او بدعمله وي. نو داسې بدعمله بنده په کور کلي ، عزيزولې ، اولس او اولسوالي کښې سپک او بدنامه وي. څوک ورته په ښۀ او درنه سترکه نۀ کوري. نو ځکه داسې بنده په رنځور بلل شي او هم داسې رنځوران خلق هوښيارانو په مثال د رنځور غاښ حساب کړي دي. او د داسې رنځور غاښ او د رنځور بنده دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. يعنې که د چا غاښ رنځور شي نو هم ورته مشران وايي چې هلکه! اخري علاج يې دا دے چې غاښ دې وباسه چې د غمه يې خلاص شي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وراندې کوي. دوېم چې چرته داسې په يو خاندان کښې څوک بنده بدعمله وخپړي نو هغه هم لکه د رنځور غاښ داسې رنځ جوړ شي چې ټول ټبر او خاندان ته تر ښه تکليف او غم خفګان رسي. او د داسې بنده په حقله د کور او د ټبر مشران اکثر داسې فېصله کوي چې د کور کلي نه يې وباسي. د جائېداد نه يې عاق کړي يا ورسره غم ښادي او عزيزولي پرېږدي. نو په داسې وخت او د داسې بنده په حقله مشر ان د فېصلې کولو په وخت دا متل وراندې کوي. او داسې وايي چې که ډېر هم نزدې دے خو لکه د غاښ رنځور دے او: "غاښ چې رنځور شي نو د انبور شي".

د غـــــاښ دارو اخـــــر امبـــــور شـــــي
ورور جـــــور تربـــــور شـــــي چـــــې د ســـــود زيـــــان شـــــي وختونـــــه

غر په غر نۀ ورځي خو انسان په انسان ورځي

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. مطلب تر ښه په دوه قسمه اخذ شوے دے. يو دا چې کټې غر خو په خپل ځائے ولاړ دے. د کرځېدو نۀ دے. نو ځۀ به په بل غر ورشي. د دې ورتلو نه مطلب ملاقات کول او مېلاوېدل دي. بل خوا بنيادم دے چې کرځيندہ دے. چې کرځي نو لازمي ده چې په يو بل ورځي يعنې يو بل سره ملاقات کوي يا کولے شي او يا مېلاوېږي.

دوېم مطلب تر ښه هوښيارانو دا اخذ کړے دے چې کټې غر په خپل کور پوره دے بل چا ته يې ځۀ حاجت او ضرورت نشته ، او نۀ پېښيږي. يعنې چا ته حاجتمند او ضرورتمند نۀ دے. نو ځکه په بل غر نۀ ورځي. او په خپل ځائے کلک ولاړ دے. بل خوا بنيادم چې په خپل ځائے يا خپل کور پوره نۀ دے. بلکې ضرورتمند او حاجتمند دے. که يو بنيادم ډېر هم په خپل کور ځان پوره کړي خو بيا هم په ځۀ نه ځۀ کار او خبره کښې بل بنيادم ته محتاجه او متازه وي. اود ځۀ مجبورى ، ضرورت او حاجت له کبله په بل بنيادم ورځي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې غر هېڅ حاجت ، ضرورت او مجبوري نۀ لري. نو په يو بل نۀ ورځي. خو انسانان د خپلو مجبورو ، ضرورتونو او حاجتونو له کبله يو بل ته محتاجه او مجبوره وي. نو ځکه په يو بل ورځي. يعنې د يو بل نه مدد او مرسته غواړي. او هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا اکثر په داسې موقعو کښې استعمالیږي چرته چې داسې دوه نااشنا وګړي د یو بل سره اشنا شي. (اکثر په مسافرۍ او یا د سفر دوران کښې) نو د جدایۍ په وخت یو بل ته داسې وایي چې که خېر وي او ژوند وي نو بیا به چرته مېلاؤ شو. او د بیا مېلاوېدو دا امید هغوي په دې متل کښې څرګندوي ، یا داسې دوه کسه چرته په ډېره موده پس مېلاؤ شي ، یا داسې څوک مغروره او کبرژن بنده دا ګڼي چې زما چا ته څۀ ضرورت او حاجت نشته یا نۀ پېښېږي. نو داسې بنده ته مشران د نصیحت په توګه وایي چې دومره کبر او غرور مۀ کوه چرته به دې چا ته څۀ حاجت پېښ شي ، یا په څۀ کار یا خبره کښې به چا ته محتاجه ، متازه او مجبوره شې. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وایي چې خانه! "غر په غر نۀ ورځي خو انسان په انسان ورځي".

غرضي په خټه اور لګوي

دا یو عام متل د معنی او مطلب یې جدا جدا دي. غرضي هغه بنده ته وئېلے شي چې هغه د خپل غرضه سره کار لري او ساتي. نۀ د چا په زیان څۀ کار لري او نۀ پرواه ساتي. بس خپل غرض په مخه اخستے وي. په خټه اور لګېدل خو د نۀ منلو او نۀ کېدو خبره ده خو چرته چې داسې غرضي بنده خپل غرض په مخه واخلي نو هغه بیا هر ناممکنه او د نۀ کولو کار او خبرې ته هم تیار وي. لکه څنګه چې په خټه اور نۀ لګي. خو غرضي بنده په خټه اور لګولو ته هم تیار وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې غرضي بنده د خپل مطلب او غرض دپاره هر جائز ناجائز ، حرام حلال ، اسان ، ګران او تر دې چې د نۀ کېدو کار ته هم تیار وي. د خود غرضۍ ، لالچ او د غرضي بنده دا حالات او کېفیت هوښیارانو په دې متل کښې ستائېلے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک داسې غرضي بنده د خپل غرض او مطلب پوره کولو دپاره بل چا له څۀ تاوان ورکوي یا د خپل غرض دپاره بل څوک په غم ، خفګان ، تکلیف ، کړاؤ ، مصیبت او مشکلاتو کښې ګېروي ، یا ورمخ کوي. نو د داسې غرضي بنده په حقله خلق وایي چې دے خو خپل غرض په مخه اخستے دے ، یا دے خو خپل مطلب او غرض پوره کوي. د چا په زیان ، تاوان ، یا غم خفګان او تکلیف یې څۀ کار دے. او هم دا مطلب ورته مشران په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وایي چې: "غرضي په خټه اور لګوي".

د خـــــــــــود غرضـــــــــــو دا وېنـــــــــــا شـــــــــــي
چـــــــــــې کلـــــــــــه کلـــــــــــه د شـــــــــــېطان منـــــــــــه حکمونـــــــــــه

غلبېل کوزې ته وئېل چې تا کښې دوه سوري دي

دا یو عام او ساده متل دے. کوزې به پخوا زمانه کښې کولالانو د خټو نه جوړولې. دې کښې به دوه سوري وو. یو غټ (غاړه یا غړۍ) د اوبو ډکولو دپاره او یو ورکوټے (سر سورے) د اوبو ویستلو دپاره. هغه زمانه کښې دا کوزې د هر کور ضرورت او حاجت وؤ. په جوماتونو کښې به زیاتې استعمالېدلې. د وخت تېرېدو سره د کوزې شکل او ضرورت هم بدل شو. چرته د کوزې نه د سلورو او پلاسټکو لوټې جوړې شوې او چرته د اوبو پخې نلکې ولګېدې. نن سبا چرته خال خال کور کښې به وي او یا چرته یو نیم جومات کښې صرف د مړي د غسل ورکولو دپاره استعمالیږي یعنې نن سبا دا هم په اثار ِ قدیمه کښې شمېر دي.

غلبېل د اوړو چاڼولو چاڼ ته وئېلے شي. چاڼ یا غلبېل خپله ټول سورے سورے وي. او په کوزه کښې صرف دوه سوري وي. هوښیارانو د کوزې او د غلبېل دا فرق او تفاوت په دې متل کښې څرګنده کړے دے. مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې غلبېل خپل سل سوري نۀ ویني او کوزې ته ګوته نیسي یا پېغور ورکوي چې تا کښې دوه سوري دي. د غلبېل او د کوزې دا مثال بنیادمو ته اشاره ده او مطلب یې دا دے چې ګڼې داسې یو بنده چې خپله تر مرۍ مرۍ په ګناهونو او بدو کښې ډوب وي. او په بل چا تور لګوي یا د هغۀ یوه ګناه په ګوته کوي ، یا پېغورونه او لعنت ملامت ورکوي. نو دا داسې شوه لکه چې غلبېل کوزې ته ګوته نیسي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک خپله د غلطو او ګناهونو نه ډک وي او هغه هم بل ته کوته نيسي يا په جا تور لګوي يا جا ته پېغور ورکوي. نو هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ستا مثال خو د غلېبل دے! "غلېبل راپاڅي او کوزې ته وايي چې تا کښې دوه سوري دي".

د بعضـــــــ

غل ته وايي غلا کوه مالک ته وايي ښه دار شه

دا يو ساده او عام متل دے. چې په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. زمونږ په چاپېرچل (معاشره) کښې ډېر خلق داسې شته چې د هغوي شرارت ، غېبت او جغلي کول او دوه کسه په جنګ کول مشغولا بلکې زړۀ پورې عادت وي. يعنې تر څو چې هغوي دا کارونه اونۀ کړي نو نۀ يې ډوډۍ هضميږي او نۀ يې زړۀ ته سکون ملاويږي. اکثر د يو خبره بل ته او د بل هغه بل ته رسوي. او په دې چل وزن د خلقو نه بودې کوي ، يا داسې شرارت او لمسه جوړه کړي. چې يو کس يا يوه ډله دې ته تيار کړي چې هغوي د چا نقصان وکړي يا ورته په څۀ کار کښې زيان ورسوي. بيا بلې ډلې ته خبردارے هم ورکوي چې دا کار کېدو والا دے يا دا داسې شوي دي. د داسې چغليمار او د دوه مخو خلقو دا شرارت او حالت مشرانو په دې ټکو کښې څرګند کړے دے. او وايي چې کټې دا داسې شوه لکه چې غل ته وايي غلا کوه او مالک ته وايي چې ښه دار شه غلۀ راغلل.

نن سبا د داسې خلقو په حقله استعمالېږي جرته چې داسې د شرارت او شېطانت نه ډک وي. دوه کسه يا دوه ډلې جنګوي يا د چا تر مېنځه لمسون ، جغلي او شېدت کوي. چې د هغوي د يو بل نه زړونه بد شي. نو په داسې وخت د هغه بنده په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې دا ظالم خو داسې کار کوي لکه چې: "غل ته وايي غلا کوه او مالک ته وايي ښه دار شه".

دا منـــــــــــــافق نـــــــــــــه دي نـــــــــــــو څـــــــــــــۀ دي
مالـــــــــک ښـــــــــه دار کـــــــــړي غـــــــــل تـــــــــه لاره ســـــــــمه وينـــــــــه

غل سل کوره وران کړي خو خپل يو ودان نۀ کړي

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي يعنې ، ې يې د الفاظو نه څرګنده ده. دا حقه او پخه خبره ده چې د حرامو په مال کښې برکت نۀ وي. او غلا کول خو بيا سروپ حرام کار دے. يو غل بنده که هر څومره غلا وکړي او د حرامو مال راجمع کړي خو بيا هم د هغۀ ګزاره کرانه وي. او امروزه ژوند يې په کرامو او هلو ځلو سر وي. يعنې که يو غل سل ځايه غلاګاني وکړي نو هم د کور ضرورت او حاجت پرې پوره نۀ کړے شي. ځکه چې په داسې مال کښې برکت نۀ وي. بلکې حاجت او ضرورت يې زيات او حرص يې نور سېوا شي او ژوند يې لانور د لوړې نه په داؤنو ، هلو ځلو او په ټکرو سر شي. هم دا حالات يعنې د غل عمل او د هغۀ د هلو ځلو او نيمګړي نيمه خوا ژوند هوښيارانو په دې متل کښې څرګند کړے دے. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک څۀ غلا ء لطي کوي يا په زور زبردستي د چا په مال خپته اچوي. نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانې! دې غلا ء لطو او حرامو څوک نۀ پوره کېږي او نۀ سر ته کېږي ، که! "غل سل کوره وران کړي خو خپل يو ودان نۀ کړي".

غم او ښادي ورور او خور دي

قيصه:

دا يو ډېر مشهور متل دے. او په امروزه ژوند کښې ډېر زيات استعمالېږي. د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو بنده جرته بل وطن ته په سفر روان وؤ. د يو کلي په څنګ تېرېدو چې په يوه حجره کښې يې څۀ خلق راجمع وليدل. دا بنده چې ورنږدې شو نو خلق ډوډۍ ته پېښې شوي ناست وو. د ورېژو مجمې يو خوا بل خوا زغلېدلې. دۀ ورباندې سلام واچوؤ. د حجرې نه ورله يو تن اواز ورکړو. چې مېلمه راځه ډوډۍ وخوره. ړوند د خدايه څۀ غواړي دوه سترکې. دا سړے سترے شوے هم وؤ او وړے هم. نو په يو اواز حجرې ته ورستون شو او د يوې پېښې سره يې ځان ځائے کړو. دا سړے چې کله ښۀ مور شو نو يو مشر ته ورنږدې شو او ورته يې وئېل چې دېر ښۀ وشو. چې دا کار په وخت سر ته شو. ښۀ ده ښادي مو مبارک شه. د دې په اورېدو سر ه يو دوه هلکان راپاڅېدل او دا مېلمه يې ښۀ لکه د بنې سپک کړو. ورته يې وئېل چې خدائے دې پوهه کړه. زمونږه پلار مر دے او تۀ پکښې امبارکې ورکوې. خبر مشرانو خبره رفع دفع کړه. او هغه مسافر بيا خپله لار ونيوله. دے په دې سوچونو او فکرونو کښې ډوب روان وؤ او په دماغو کښې يې هغه د غم خبره او خپله يې عزتې لاچورلېدله. چې د کلي په بل سر کښې په يوه بله حجره ورمخامخ شو. دلته هم په حجره کښې کې خلق راجمع ووو. دۀ وئېل چې دلته هم غم شوے دے. راشه دعا ورته وکړه. نو بيا به خپله لار وهې. حجرې ته ورستون شو او سلام يې

واجوو. د ناستې سره يې لاسونه پورته کړل او وئېل دعا ورته وکړئ چې خدائے يې وبخښي. خلقو ورته وئېل چې مېلمه غم دلته نه بلکې د کلي په کوز سر کښې شوے دے. دلته خو ښادي ده. تۀ که غم له راځلے يې نو هلته ورشه. دا سړے په خپلو کړو ډېر ملامته شو او وئېل چې عجيبه ده په يو کلي کښې هم غم دے او هم ښادي ده. غم او ښادي ورور خور دي. او داسې د هغه وخت نه مشرانو دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب يې دا دے چې کنې کله کله داسې حالات او موقع جوړه شي چې په يو کلي ، يو جم بلکې کله خو په يو کور کښې هم غم وي او هم ښادي. او کله چې داسې موقع راشي يا د هر چا په خ ۀ له دا هم خبره وي. چې هاې ، په ښادۍ کښې ورته غم جوړ شو. ړښتيا ده چې: "غم او ښادي ورور خور دي".

د هوښـــــــــــــــيارانو دا وينـــــــــــــــا شـــــــــــــــي
يـــــــــو خـــــــــوا ښـــــــــادي وي ورســـــــــره بـــــــــل خـــــــــوا غمونـــــــــه

غوښه دې په غوښه او ښوروا دې پکښې نفع

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به جرګ جرګورے او غوښه هله خورے شوه چې جرګ او څاروے به ناروغه شو نو هله به حلال شو. او هغه خلقو به جرته په کال کښې يو ځل دوه غوښه خورله. بلکې ځکلا د دې مثل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې يو ورځ د يو غريب زميدار سړي کتے مر شو. د زميدار په کور کښې ماتم وؤ خو د جم کاونډ اختر شو. يعني په ظاهره خو يې غم خفګان څرکند وؤ. خو په زړۀ کښې ښۀ خوشحاله وو. وايي چې څۀ موده پس د يو بل زميدار ورکوے (کډورے) مر شو. هغه کډورے خو حلال کړے شو خو په جم کاونډ کښې تر پنه جا پوټے هم ونۀ لېدو. بلکې د کور مېرمنې ټول پخپله سنبال کړو. يوه ورځ يې هغه غوښه پخه کړې وه نو په زړۀ کښې يې راغلل چې هغه کتې والا کاونډۍ له هم لږه اولېږي. تالے يې د غوښې او ښوروا ډک وروليږو. په بله ورځ چې دواړه کاونډۍ يوځائے شوې نو هغې يوې ورته د کيلې په توګه وئېل چې کوره زما کتے مر وؤ. نو ما درله درې غوښه درليږلې وه او ستا کډورے مر شو نو په تالې کښې دې پ ۀچے شان راوليږله. هغې بلې ورته وئېل چې خواږې غوښۀ دې په غوښه او ښوروا دې پکښې نفع. يعني غوښه دې راليږلې وه نو په بدل کښې مې غوښۀ در وليږله. او ښوروا دې ورسره زياتې نفع شوه. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا قول په مثل مشهور شو او مطلب تر پنه دا دے چې کتې داسې څۀ کار چې د هغې نه دوه دونه کټه وخته کړے شي. يعني داسې کار چې د هغې بدل هم مېلاؤ شي او د بدلې نه علاوه نوره کټه هم تر لاسو شي.

نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې داسې جا ته د څۀ خرچ کولو په بدله کښې دوه دونه کټه ورسي ، يا د يو څيز په بدل کښې ورته دوه مېلاؤ شي ، يا د لږ شي په بدل ورته زيات مېلاؤ شي نو په داسې وخت هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "غوښه دې په غوښه او ښوروا دې پکښې نفع".

غوښه که وسوزي نو هم د پيټې نه ښۀ وي

غوښه د هر چا خوښه. يعني په خوراکه کښې غوښه داسې شے دے چې د هر بنيادم خوښه وي. نن سبا خو ډېره زياته استعمالېږي. په رنګ رنګ او قسم قسم پخګري تر پنه جوړېږي او پخېږي. بل خوا پيټې ده. يعني د دالو پخګرے. د دالو نه هم نن سبا په څو څو قسمه پخګري (سالنې) تيارېږي. خو پخوا زمانه کښې د دالو يو سالن وؤ. دال به مېرمنو په اوبو کښې ښۀ اوخوټکولو او بيا به يې ورته د مرچکي او د اوکې بکار (تړکه) ورکړه. په دې کښې به دال کم او اوبۀ زياتې وې. دې سالن يا پخګرې ته پيټې وئېلے شي. مشرانو دال او غوښه په دې مثل کښې ستائيلې دي. او مطلب يې دا دے چې کنې يو خوا غوښه ده او بل خوا خوټکبدلے دال يعني پيټې. نو دا دواړه هېڅرې يو برابر نۀ شي کېدے. بلکې غوښه که په پخولو کښې وسوزي نو هم يې د پيټې نه خوند او مزه زياته وي. د دې معنو تر لاندې د مثل نه مطلب دا شو چې کنې غوښه غوره او بهتره شے دے. او پيټې د غوښې په نيز لاندې او کمتر ه شے دے. دا دواړه يو برابر نۀ دي او نۀ کېدے شي. بلکې سوزېدلې غوښه هم د پيټې نه غوره او ښۀ وي. او دا مثل مشرانو د ژوند د هر اړخ او د هر هغه څيز په حقله وړاندې کړے دے. چې يو ښۀ وي او بل خراب. يو غوره او بل کمتر. يو زوړور او بل کمزورے. يو وړ او بل پر. يو اصل او بل نقل.

نن سبا په داسې وخت او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د خپل ناپکاره او کمزوري شي مقابله د چا د اصل او ښهٔ شي سره کوي ، يا برابروي يا ترېنه خپل څيز غوره ګڼي او مني. نو داسې بنده ته مشران وايي چې هلکه که ستا دا ډېر هم ښهٔ شي خو هغې ته نهٔ رسي. ځکه چې هغه اصل دے ، غوره دے ، وړ دے او يا زورور دے. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "غوښه که وسوزي نو هم د پېټۍ نه ښهٔ وي".

غوړ منګے يې

دا يو عام متل دے معنی يې دا ده چې ګڼې هر يو لوښے که هغه کټوۍ ، پتيله ، کټورے وي او که منګے وي. خو چې هغه په غوړو يا په تېلو غوړ وي نو په هغه لوښي پورې بيا څهٔ شے نهٔ انخښلي او خاص کر اوبهٔ خو پرې بالکل نه ايسارېږي. پخوا په زمانه کښې د ټيکرو د لوښو ډېر رواج وؤ. نو ځکه مشرانو منګے په متل کښې ستائيلے دے. او د غوړ منګي مثال يې د داسې پنيادم سره ورکړے دے. په چا چې د خلقو خبرې او نصيحت څهٔ اثر نهٔ کوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې ستا مثال خو د غوړ منګي دے. نهٔ په غوړ منګي پورې څهٔ انخښلي او نهٔ په تا د چا وېنا ، خبرې او نصيحت څهٔ اثر کوي. هم د دې مطلب دپاره هوښيارانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالانو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک داسې ناپوهه ، کم عقل او نالائقه وي. چې نهٔ څهٔ شے زده کولے شي او نهٔ يادولے شي ، يا ورته په تعليم او سبق کښې مشکلات وي. په دماغو کښې يې څهٔ نهٔ کښېني او نهٔ انخښلي. نو داسې نالائقه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ستا مثال خو! "د غوړ منګي دے" يا "غوړ منګے يې".

غوړي توې شو خو په تالي کښې توې شو

دا يو ساده او عام متل دے معنی او مطلب يې جدا جدا دي معنی خو يې دا ده چې ګڼې غوړې توې شول خو د زيان نه بچ شو. په څهٔ لوښي کښې توې شو او بيا په کار او استعمال کښې راوستے شي. او مطلب ترېنه په دوه قسمه اخذ شوے دے. يو خو د معنی په نيز دے يعنې چې ګڼې زيان رسېدلو خو په لږ څهٔ کښې بچ شو. او دوېم مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې څوک بنيادم ډېر شوم (کنجوس) دے. هغه د زيان او تاوان نه ځان بچ ساتي. تر دې که څهٔ خېرات زکواة کوي نو هم يې په خپل کور والو ويشي. بهر چا ته دانهٔ هم نهٔ ښايي ، يا څوک ترې دانه هم نهٔ ويني. يعنې که څوک وايي چې ما خېرات وکړو او ټول کور والو وخوړو. نو دا داسې شوه چې غوړي توې شو خو په تالي کښې. هم د دې مطلب لپاره هوښيارانو دا متل جوړ او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې موقع استعمالېږي چرته چې څوک داسې د ډېر زيات زيان او تاوان نه په لږ څهٔ کښې بچ شي ، يا په لږ تاوان د ډېر زيان نه بچ شي يا څوک څهٔ خېرات وکړي او په خپل کور کښې يې ووېشي ، يا بل داسې څهٔ کار وکړي چې فائده او ګټه يې ټوله خپل کور يا کور والو ته ورسي يا مېلاؤ شي. نو په داسې وخت هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه! "غوړي توې شو خو په تالي کښې توې شو".

قيصه:

دا يوه د طنز او ملامت ورکولو فقره ده. چې په امروزه ژوند کښې د متل په توګه استعمالېږي. د دې په حقله داسې يوه قيصۍ مشهور ه ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو فقير ملنګ په کوڅه کښې خېر غوښتلو. د يو کور نه ورله ماشومانو ډوډۍ راوړه. فقير يو دېوال ته ډډه شو او ډوډۍ يې خوړله. په دې کښې د چم يو غلنے سپے راغے او په فقير يې د حملې سره يو غپ وکړو. په ناڅاپي حملې سره د فقير د خ ـ لې نه يوه چغه وخته. د سپي په غپار او د فقير په چغو د چم ماشومان راغونډ شول. سپے خو يې وشړلو خو فقير پسې يې ټوقې ، مسخرې او خنداګانې شروع کړې. فقير لا هغسې بې ساه او وار خطا ولاړ وؤ. يو ماشوم ورته د ټوقو نه اواز ورکړو چې ملنګ بابا سپي درنه غوږ يوړو. ملنګ د مخکښې نه هېبت اخستے وؤ او د دې په اورېدو سره يې هر څۀ په ځائے پرېښودل. او په سپي پسې يې منډې کړې. د کوټه خو يو غوټه وي. سپي چې ملنګ کوټک په لاس راخلاص وليدو نو هغه هم دوه خپلې او دوه پردۍ کړې. سپے مخکښې او ملنګ ورپسې. د ډېر هېبته د سپي نه هم خپله کوڅه خطا شوه. او يو خوا بل خوا يې منډې جوړې کړې. دې دوران کښې پرې د چم يو سړے راغے او ملنګ ته په قهر شو. چې دا څۀ شور دې جوړ کړے دے. او سپے دې وچ په مچه په مخه اخستے دے. هغه ملنګ ورته ځواب ورکړو چې خانه! اوچ په مچه نۀ دے. زما نه يې غوږ وړے دے. هغه سړي چې د ملنګ غوږونو ته خيال وکړو نو غوږونه يې روغ رمټ وؤ. ملنګ ته يې وئېل چې خدائے دې پوهه کړه. غوږونه خو دې روغ رمټ دي. ملنګ زر خپلو غوږونو له لاس يوړو. او يقين يې وشو چې غوږونه خو يې په رښتيا روغ رمټ دي. نو په خپلو کړو ډېر ستومانه او ملامته شو. هغه سړي ورته وئېل چې کم عقله غوږ نۀ ګورې او سپے پسې منډې وهې. او داسې د هغه وخت نه دا قول د متل په توګه مشهور شو. مطلب ترېنه دا دے چې اول خپله طبع تسلي پکار ده. يعنې اول د خپل ځان او مال حال پلټنې وکړه او که څۀ لاندے باندے يا کمے بېشے وي نو بيا هله بل ګرموه ، يا په بل غوړه اړوه.

نن سبا يې خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي چرته چې څوک د چا په لمسه ، چغلۍ ، په ګنګوسو ، وسوسو او يا د چا په خبرو په جوش کښې راشي. هغه لمسون او ګنګوسۍ په رښتيا وګڼي. نۀ د هغه کار ، يا خبرې جاج پړتال کوي. نۀ پرې غور فکر کوي او نۀ يې ډوډ لګوي چې دا دروغ دي او که رښتيا. يعنې خپله طبع تسلي نۀ کوي. او سم د ټسه په بل تور او الزام لګوي قصورواره او ګر ـم يې مني او ګڼي. او چې کله هغه خبره دروغ وخېژي نو په داسې وخت ورته بيا مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې کم عقله ، زوروره! "غوږ نۀ ګورې او سپي پسې منډې وهې".

"ق"

قرضدارے چا وژلے نۀ دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو سړي چا ته څۀ پېسې قرض وي. کله چې د واپس کولو نېټه پوره شوه نو دا سړے څو وارې هغه قرضداري پسې لاړو. خو قرضدارے به ترېنه کله پټ شو او کله به يې نېټې وعدې بدلولې. اخر دا سړے ورپسې يوه ورځ ډېر په غصه کښې ورغے. او د ورتلو سره يې قرضداري ته دا پخه وېنا وکړه چې زۀ به نن ارو مرو پېسې وړم ، تۀ که هر څۀ کوې خو ما له رقم راپېدا کړه. هغه قرضداري ورته ډېرې انې بهانې جوړولې. او نوې نېټې وعدې يې ورکولې. خو دا سړے هم په خپله خبره کلک ولاړ وؤ. په دې خبرو اترو کښې د دواړو تکرار جوړ شو. مالک خپلې پېسې غوښتلې او هغه قرضداري ورته انې بهانې جوړولې خو خبره نۀ جوړېده. اخر چې هغه قرضدارے هم تنګ راغے نو په غصه کښې يې ورته وئېل چې خانه ستا پېسې زۀ منم. خو اوس راسره نشته. چې کله وشي نو در به يې کړم. هسې هم قرضدارے چا وژلے نۀ دے. هغه مالک چې د غصې نه تر سپېږمو راغلے وؤ نو څادر يې ورله د مرۍ نه تاؤ کړو او ورته يې وئېل چې چا وژلے نۀ دے خو زۀ يې نن وژنم. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا هم په داسې حالانو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې د چا د قرضو د لاندې وي او وار خطا ورته نۀ وي ، يا يې پرې پرواه نۀ وي او يا يې واپس ورکول نۀ غواړي نو د انو بهانو سره ورته دا متل هم وړاندې کوي او داسې وايي چې يار وار مۀ خطا کوه. "قرضدارے چا وژلے نۀ دے".

قحطي م ، لخ يې هر څۀ راکاږې

دا يو ساده او عام متل د معنـ ، ی او مطلب يې جدا جدا دي. قحطي د قحط نه اخستے شوے يا جوړ شوے دے. قحط داسې حالانو ، يا وخت ته وئېلے شي چې ورکښې هر څۀ ناياب شي. يعنې چې څيزونه پکښې نۀ مېلاوېږي. او يا ډېر په ګرانه مېلاوېږي. بيا خاص د خوراک څښاک څيزونه يعنې غله دانه ډېره کمه او يا بېخي ختمه شي. قحط هم د الله پاک د عذابونو نه يو عذاب ګڼلے شي. باران د الله پاک رحمت وي. او چې په کومه علاقه دا رحمت بند شي نو هلته سوکړه جوړه شي. تيار فصلونه اوچ او تباه شي او نوے فصل اونۀ شي. نو په هغه علاقه کښې قحط جوړ يا راشي. په دې عذابونو او قحطونو کښې يو قحط د ملخانو هم دے. هوښياران ملخ د مرغو په ذات او کورنۍ کښې شمېري. ځنې مليان دا حلال ګڼي او ځني مفتيان يې په مردارو حسابوي. پخوا به دا ملخان ډېر زيات وو. په ځنې موسم کښې په په زرګونو د سېل په شکل کښې ګرځېدل. په کومه علاقه چې به ورغلل نو فصلونه به يې تباه کړل. تر دې چې په ونو کښې به ترېنه پاڼې هم پاتې نۀ شوې. هر ولاړ او شين بوټے به يې د کومې تېر وؤ. د ښېرازه او تيار فصل پټې به داسې ښکارېدل لکه تالا ترغه شوے او خزان وهلے باغ. داسې ملخانو ته به قحطي ملخان وئېلے شو. د ملخانو د تباهۍ او د قحط جوړولو دا عمل مشرانو د داسې بنيادم سره په مثال تړلے او مشهور کړے دے. څوک چې ډېر زيات خېټه ور وي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې لکه د قحطي ملخ هر څۀ خورې ، يا ډېر زيات خورې ، يا لکه د قحطي ملخ داسې خوراکه کوې چې هر څۀ تباه برباد کړې. داسې پېټو يا خېټو بنده ته هم دا مطلب خلق په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې هسې: "قحطي ملخ يې هر څۀ راکاږې".

"ک"

کارغهٔ ګند خوري او مښوکه څنډي

دا يو ساده او عام متل دے. کارغهٔ ډېر هوښياره مارغهٔ دے. خو عادت يې ډېر ګنده دے. سره د عقله ګند خوري او بيا مښوکه وڅنډي ګڼي خ ، له مې پاکه شوه يا خ ، له مې پاکه ده او ما نهٔ څهٔ کړي دي او نهٔ مې خوړلي. يعنې په مښوکه څنډلو هغه ځان پاکوي ، يا ځان پاک حسابوي او څرګندوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې سره د عقله ګند خورې او ګند کوې. او بيا ځان پاک صاف هم حسابوې يا څرګندوې. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او د کارغهٔ مثال يې د بنيادم سره ورکړے دے. يعنې ځنې داسې خلق شته چې لکه د کارغهٔ سره د عقله ګنده ګير وي. ګنده کارونه ، ګنده خبرې او ګنده يې ذهنونه وي. ګنده فکرونه ، سوچونه او خيالونه لري او کوي. يعنې داسې څوک چې د بل چا په حقله څهٔ غېبت او چغلي کوي ، يا د هغهٔ شرم پرده ماتوي. د شېطانت او شرارت کارونه کوي يا څهٔ نور ګنده کارونه وکړي او بيا پرې منکر وي ، نو داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې هلکه تهٔ هم لکه! "کارغهٔ ګند خورې او مښوکه څنډې".

هغـــــــــه پـــــــــه مثـــــــــل د کارغـــــــــهٔ شـــــــــي
ســـــــــره د عقلـــــــــه چـــــــــې ګندونـــــــــه لټوينـــــــــه

کال پسې کال دے

دا د مشرانو قول دے. کله کله د متل په توګه هم استعماليږي. او مطلب يې دا دے چې ګڼې دا وخت يا دا موقع به بيا کال پس راځي. يعنې داسې څهٔ کار يا څهٔ موقع لکه اختر شوقدر چې په کال کښې يو ځل يا يو وار راځي. په داسې موقع استعماليږي چرته چې داسې څهٔ خاص موقع وي. او مشران غواړي چې د دې وخت نه ګټه او فائده وچته کړے شي ، يا ترېنه خوند او مزه خوندي کړے شي. نو خلقو ته داسې وايي چې نن موقع ده او دا نن وخت دے ، فائده ترېنه واخلئ ، يا مزه ترېنه واخلئ. دا موقعې کله کله راځي. پته نشته چې کال پس به څوک ژوندي وي او څوک مړهٔ. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي. او داسې وايي چې نن دې وخت دے ، داسې موقعې هره ورځ نهٔ وي او بيا! "کال پسې کال دے".

کال له به ښهٔ شو

دا هم د هوښيارانو يو قول دے. چې د خپلو امېدونو او ارزوګانو څېرنه پکښې کولے شي. يعنې دا امېد ساتل چې ګڼې کال پس به زما حال ، حالت د دې نه ښهٔ وي يا ښهٔ شي. يعنې مطلب دا شو چې د الله پاک نه د ښهٔ حالاتو ، يعنې د ښهٔ مال حال او ښهٔ صحت امېد ساتل. او هم په دې باندې پخه عقيده لرل او ساتل. مشران يې اکثر په داسې موقع استعمالوي چرته چې هغوي د راتلونکي ژوند په حقله خپله څهٔ رائے ورکوي ، امېد څرګندوي ، يا څوک پنده د خپلو حالاتو ، يعنې سختو ، کړامو او د تکليف نه تنګ وي او په خ ، له يې څهٔ ګيله شکوه راځي نو مشران ورته د روڼ سحر او د راتلونکي ښهٔ ژوند زېرې ورکوي. نو داسې وايي چې فکر مهٔ کوه. ټول عمر به دا سختې نهٔ وي. د الله پاکه ناامېده کېږه مه! "کال له به ښهٔ شو".

کاڼے مدام د يتيم / غريب سر له راځي

دا يو عام متل دے. چې په امروزه ژوند کښې ډېر زيات استعماليږي يعنې ترېنه دا جوړېږي چې ګڼې کاڼے چې ويشتے شي نو مدام پرې د غريب يا د يتيم سر لګي خو په متل کښې د کاڼي نه مطلب د چا غصه ، زورنه ، الزام او تاوان دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې داسې چرته په څۀ کار روزګار کښې تاوان وشي يا څۀ خراب او وران شي. نو زورور او مالداره خلق خپله غصه او قهر په يتيمو او غريبو سړ وي يا وباسي. او اکثر الزام يا تاوان په غريب سړي ورتپي ، يا وراړوي. يعنې که غريب ګرم وي او که نه خو تور په هغۀ لګي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک غريب په څۀ الزام يا څۀ شخړه کښې برناحقه ګېر شي. او د بل په تېلو کښې سوزي. نو هغه غريب بنده خپل حالات او خپله ژړا فرياد په دې متل کښې څرګندوي. او داسې وايي چې لېونيه! "کاڼے مدام د يتيم / غريب سر له راځي".

ک ر شه د چا د مخه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو جومات کښې څو کسه طالبان دېره وو. دوي به د جومات مولوي صېب سره ديني سبق وئېلو. په دغه چم کښې يو مالداره سړے وؤ چې ډېر دينداره او ښۀ بنده وؤ. هغۀ به د دې طالبانو ډېر خيال خاطر ساتلو. د طالبانو خوراک څښاک د هغۀ د کوره وو. وايي چې يوه ورځ د بده مرغه يوسپے جومات ته ورننوتو. طالبانو ورپسې کوتکې راواخستې او سپې يې راګېر کړو. نږدې وه چې سپې يې يو څو کوتکه کرم کړے وے. خو ناڅاپه يو طالب پکښې اواز وکړو چې هلکو مۀ کوئ دا خو د فلاني کاکا سپے دے. دا د هغه مالدار سړي سپے وؤ چا چې به طالبانو سره ډېر لاس کوو. داسې طالبانو سپې ته لاره پرېښوده او سپې بهر ته شت وهله. دغه وخت يو طالب سپې ته وئېل چې ک ر شه د چا د مخه. او داسې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب ترېنه دا دے چې د چا د مخ ملازے ، د چا د خاطره او د عزت دپاره بل څوک معاف کول.

نن سبا په دې موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک پړ راشي يا چرته په غلا غ ، لطۍ او دهوکه فرېب کښې ګېر شي ، يا په څۀ لېن دېن او خبرو کښې لاندې راشي. او د چا په وېنا يا د چا د مخه هغه وړ بنده مجبوره شي. چې پړ او ګرم سړے معاف کړي. نو په داسې وخت يا موقع هغه وړ بنده دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې "ک ر شه د چا د مخه".

کږه خ ، له په س ، وک سميږي

دا يو عا متل دے چې خ ، لې نه مطلب دے چې ګڼې څوک په سمه خ ، له خبره نۀ کوي يعنې نۀ سمه روغه خبره کوي او نۀ چا له په سمه خ ، له ځواب ورکوي بلکې دروغې خبرې نه ورانه جوړوي. په بد سلوک او بدو اخلاقو سره لېن دېن ساتي او کوي. نو داسې بنده ته کوږ لرګے ، ازغے او هغه ګلې ته کږه خ ، له وئېلے شي. داسې کږې خ ، لې دپاره مشرانو د س ، وک علاج غوره کړے دے. د س ، وک نه مطلب دے چې ګڼې په زور زبردستۍ او په وهلو ټکولو څوک د څۀ غلط کار او غلطو خبره نه منع کول. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کږه خ ، له يعنې بد سلوکه بې ادبه تلوينه خ ، له په س ، وک يعنې په زور زبردستۍ سميږي. په منت او زارۍ نۀ. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا هم د داسې بنده په حقله استعماليږي چرته چې څوک ډېر بې سره ، بې ادبه او بد تميزه وي. د هر چا سره بده او خرابه خ ، له چلوي ، يا د شرارت او د وراني خبرې او لمسون کوي. نو هغه بنده ته بيا خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي. چې هلکه خ ، له دې سمه خوزوه ګڼې کږه خ ، له په س ، وک سميږي".

لـــــرګے چـــــې کـــــوږ شـــــي نـــــو د اور شـــــي
د کـــــږې خ ، لـــــې دپـــــاره س ، ـــــوک مـــــزه کوينـــــه

کله د بابا وار او کله د ابۍ وار

دا يو عام متل دے۔ او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي متل معنه ، ی خو دا جوړېږي۔ چې ګڼې کله بابا زورور او کله ابی زوروره۔ خو مطلب د متل نه دوه اخذ شوي دي۔ يو مطلب خو يې د معنې سره تړون خوري۔ کو چې اشاره هر بنيادم ته شوې ده۔ يعنې د بابا او ابی نه بنيادم مراد دے۔ د دې معنو تر لاندې تړينه مطلب دا جوړېږي۔ چې ګڼې کله يو بنيادم زورور وي او کله بل۔ دوېم مطلب تړينه وخت او حالت ته اشاره شوې ده۔ يعنې بنيادم هر وخت په يو شان يا يو حالت کښې نۀ وي۔ بلکې د وخت ادلون بدلون راځي او تېرېږي۔ يعنې کله په بنيادم ښۀ وخت راشي۔ او کله بد وخت ، کله په ځنې بنيادم ، تېر يا خاندان باندې داسې وخت وي۔ چې د باچايی ژوند تېروي او کله وربانديې د وخت داسې سپېره سيلی والوځي چې خبر ته کښېني۔ د بنيادم د ژوند ، د وخت او حالاتو دا بدلون مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے۔ يعنې بنيادم مدام په يو حال نۀ وي۔ بلکې د وخت سره يې حالات او اوقات بدليږي۔

اکثر مشران يې د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي په خصوصي توګه د وخت جابر او زورورو ته دا يادګېرنه ورکوي چې که نن ستا وار دے نو سبا به په تا د بل جا وار وي۔ يعنې که نن تۀ په جا زور ظلم کوې نو کېدے شي چې سبا هم دا غريب خلق په تا زورور شي۔ او د زور ظلم حساب کتاب درنه واخلي۔ او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي ، يا ځوک داسې په ځۀ کار او يا په ځۀ مقابله کښې پر راشي۔ نو هغه پر بنده ښه وړ ته دا خبردارے او يادګېرنه ورکوي چې نن تا اوکتله خو سبا له به زما وار وي ، يا زما وار به هم درباندې راشي۔ نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "کله د بابا وار او کله د ابی وار"۔

کله کله سړے د شېطان هم واوري

د متل نه څرګنده معنه ، ی خو دا جوړېږي چې ګڼې خبر دے که ځوک کله د شېطان واوري۔ خو داسې نۀ ده بلکې د شېطان خو نۀ اورېدل پکار دي او نۀ پرې عمل کول۔ ځکه چې شېطان خو د مسلمان ازلي او خاندانې دښمن دے۔ خاندانې مې ورته ځکه ووئېل چې ګڼې د بابا ادم عليه السلام د وخت نه زمونږه دا دښمني راروانه ده۔ او مشرانو په متل کښې هم دې دهوکې او دښمنی ته اشاره کړې ده۔ يعنې مطلب دا چې شېطان سړے دهوکه کړي او د بنيادم نه ځۀ غلطي وشي۔ او دا غلطي يا د ګناه ځۀ کار کول داسې شوه چې سړي د شېطان واورېدل۔ دلته به زۀ دا خبره په کوته کرم چې کله هم داسې چرته ځوک د شېطان واوري نو خبر بې دا دے چې زر تر زره رب ته رجوع شي۔ او په سچه توبه کار شي۔ د توبې دروازه الله پاک زمونږ دپاره دېر لوئے غنيمت ، رحمت او کرم کړځولے دے۔ د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې کله چې د بنيادم نه هم ځۀ غلطي وشي نو داسې شوه چې بنيادم دهوکه شو او د شېطان يې واورېدل۔

نن سبا يې مشران په داسې وخت او موقعو کښې استعمالوي۔ چرته چې ځوک غلطي وکړي او بيا په خپله ګناه او خطا پښتومانه او توبه کار وي ، يا ځوک په ځۀ کار يا ځۀ خبره کښې خطا شي۔ نو هغوي خپله پښېماني او ملامتيا په دې متل کښې څرګندوي۔ او داسې وايي چې يار! زۀ هم بنيادم يم۔ پام مې نۀ وۀ ، يا پوهه نۀ شوم او شېطان دهوکه کړم۔ او دا مطلب په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې يار! "کله کله سړے د شېطان هم واوري"۔

کلي په زور نۀ کيږي

کلے يا کلي هغه ځائے ته وئېلے شي چې کوم ځائے په کې شهر کورونه اباد وي او خلق ورکښې مېشتۀ وي۔ خو کلي کول د پښتو ژبې محاوره ده۔ چې په دې متل کښې استعمال شوې ده۔ او مطلب يې دا دے چې په کلي کښې د کليوالو خلقو د يو بل سره غم ښادي ، غزبزولي او وروروليې کول او پالل۔ يعنې په يو کلي کښې چې وګړي د يو بل ټپوس پوښتنه ، غزبزولي ، وروروليې او غم ښادي کوي۔ نو د يو بل سره دې جوړ او عمل ته کلي کول وئېلے شي۔ هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے۔ او مطلب ترينه دا دے چې ګڼې دا عمل يعنې غم ښادي او غزبزولي (کلي) په زوره نۀ کيږي۔ دا خو د بنيادم خپله خوښه وي۔ چې د جا سره يې زړۀ منې نو د هغوي سره راشه درشه ، ټپوس پوښتنه ، غم ښادي اوغزبزولي ساتي او پالي۔ او چې د جا سره يې زړۀ نۀ غواړي نود هغو سره داسې جوړ نۀ ساتي۔ او که ځوک په زوره د بل نه غم ښادي (کلي کول) غواړي۔ نو دا به د هغۀ کم عقلتيا وي۔ ځکه خو مشران وايي چې کلي په زور نۀ کيږي۔ په غزبزولی او وروروليې کښې کيلې مانې خو راځي۔ او خلق يې د وخت او موقعې په مناسبت يو بل ته وړاندې کوي هم۔ خو که چرته داسې ځوک کم عقل

بنده بې موقعې او بې مناسبه ګيله مانه کوي او په زوره د بل نه تپوس پوښتنه او غم ښادي غواړي. نو داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "کلي په زور نۀ کيږي".

کور دې د ميردين جومات شه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصه بيانيږي. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې يو مالداره او دينداره بنده ميردين نومېدو. دې سړي د لويې لارې په غاړه يو جومات جوړ کړے وؤ. د کلي خلقو او د لارې مسافرو به ورکښې مونځ اودس کولو. د کلو جوماتونه اکثر داسې وي چې يو کس نيم يې خيال ساتي او چې هغه لاړ شي نو بيا يې د تپوس څوک نۀ وي. خېر نن سبا خو په کلو کښې هم جوماتونو له چندې غونډيږي او په هغه چندو جوماتونه چليږي. خو په هغه وخت د ميردين کاکا د مرګ نه پس د جومات د حفاظت او سنمبالښت څوک نۀ وو. رو رو جومات شاړ شو او د شاړېدو نه پس په ورانېدو شروع شو. خو د روغولو او سمولو يې نۀ څوک وو او نۀ يې چا فکر کولو. اخر چې دېوالونه يې ګنډ کپر او لرګي يې وينو او چينجو اوخوړل. او داسې يوه شپه په زول زپا ، طوفان او باران کښې د جومات چت هم راپرېوتو. بيا پکښې نۀ چا مونځ کولو او نۀ ورله د وېرې نه څوک خوا له ورتلل. جومات هم داسې وران ويجاړ پاتې شو. په خواوشا کلو کښې هم د دې جومات د ورانېدو او ويجاړېدو خبره او قيصه ډنډوره شوه. او د جومات دا حالت په هغه علاقه دومره مشهور شو چې بيا به خلقو يو بل ته د ښېرو په نيز وړاندې کولو. يعنې چا چې به بل چا ته ښېرې کولې نو ورکښې به يې دا جومات هم ستائېلو. او داسې به يې وئېل چې! خدائے دې کور داسې ويجاړ او برباد کړه لکه د ميردين جومات چې وران او ويجاړ پروت دے. او د وخت تېرېدو سره دا ښېرې خلقو په دې الفاظو مشهورې کړې چې: کور دې د ميردين جومات شه. او نن سبا يې هم خلق په دې الفاظو کښې هم د دې مطلب دپاره د متل په توګه استعمالوي. او د نورو ښېرو سره دا غاړه هم اړوي او داسې وايي چې: "کور دې د ميردين جومات شه".

که په وطن خان وي په پرد ېس اريان وي

دا يو عام متل دے خو په امروزه ژوند کښې زيات نۀ استعماليږي.په دې متل کښې مشرانو د مسافرو خلقو د کړ امو ، بې وسۍ ، او د هغوي د سختو ورځو شپو ذکر کړے دے. او د مسافرۍ د حالاتو څرګندونه يې کړې ده. يعنې مطلب دا چې کله کله په چا مسافر داسې وخت هم راشي چې هغه حق حېرانه او اريان دريان پاتې شي. يعنې کله د څۀ حادثې له کبله ، کله د مال دولت لوټ کېدو او يا ورکېدو له کبله ، کله د روزګار نۀ لګېدو او د نوکرۍ نۀ موندو له کبله اريان دريان ، بې وسه او بې بسه وي. ګو که يو بنده په وطن يعنې په کور کلي خان هم وي خو که په مسافرۍ کښې ورته داسې څۀ حالات ورمخ شي نو هغه هم بيا اريان دريان وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې مسافري بده بلا ده. که يو بنده خان هم وي خو کله کله په مسافرۍ کښې د څۀ حالاتو له کبله بې بسه ، بې وسه او اريان دريان جوړ شي يا پاتې شي.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک د مسافرو د کړامو او سختو حالاتو ذکر کوي يا بل څوک خبروي ، يا څوک مسافر خپلې قيصې بيانوي يا بل چا ته نصيحت کوي. نو دا متل ورته وړاندې کوي او داسې وايي چې خدائے دې مسافر مۀ کړه! "که په وطن خان وي په پردېس اريان وي".

که پير خس دے م ، ريد له بس دے

دا يو عام متل دے معنـ ، ی او مطلب يې دا دے چې ګڼې که پير هېڅ هم نۀ دے خو بيا هم دومره جلال او دبدبه لري چې د خپل مريد يقين او عقيده پرې پخه دے يعنې د يو مريد پخپل پير داسې پوخ يقين او عقيده وي که نورو خلقو ته هغه هېڅ نۀ وي خو د م ، ريد طبعې تسلۍ او ډاډګېرنې له بس وي ، يعنې پوره وي مشرانو په دې متل کښې د پير او د م ، ريد دا بې جا تقليد ، عقيدت ، اعتبار ، يقين ، ايمان ، جذبات ، احساسات او حالات څرګنده کړې او مشهور کړې دي. او مطلب يې دا دے چې که يو پير د عامو خلقو په نظر کښې خس وي يعنې بې اعتباره وي يا يې دومره قدر او عزت نۀ وي خو بيا هم د هغۀ مريدان هغه ډېر اوچت او لوئے بزرګ او معتبر ولي ګڼي او مني. د هغۀ په هره خبره يقين ساتي او عمل پرې کوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک د چا په حقله څۀ غلطه فېصله کوي یا د چا په حقله څۀ ښۀ رائے نۀ لري ، یا څوک کمزورے او بې کاره ګڼي. او که په داسې موقع څوک بل بنده هغۀ ته په درنه سترګه ګوري. د قدر او عزت قابل یې ګڼي او مني نو په داسې موقع د هغۀ په حقله دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې: "که پیر خس دے خو مرید له بس دے".

که چاړۀ د سرو شوه خو په خېټه د منډلو نۀ ده

دا یو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زیات استعمالیږي. معنې او مطلب یې جدا جدا دي.معنی یې دا ده چې ګڼې د چړې دا خاصیت دے چې څۀ شے غوڅوي او پرې کوي. که چاړۀ څوک په خېټه ومنډي نو کېدے شي چې د بنیادم ژوند ختم شي. یعنې یو خوا سرۀ زر دي. چې بنیادم ته ډېر قیمتي او د خوښې دي. او بل خوا د بنیادم خپل ژوند ډېر قیمتي دے. نو داسې که چاړۀ ډېره هم قیمتي او د خوښې وي خو د خوراک (یعنې په خېټه د منډلو) نۀ ده. ګڼې قیمتي ژوند ورسره ختمیږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې که یو شے ډېر هم ښکلے ، قیمتي او زړۀ ته نزدې وي خو چې ژوند ته ترېنه خطره وي نو پرهېز ترېنه پکار دے. او داسې هر هغه کار چې بنیادم ته ترېنه خطره ولاړیږي نو که هغه هر څومره ښۀ ، د خوښې او لکه د سرو قیمتي وي. خو ډډه ترېنه پکار ده. ځکه چې د هر څۀ نه قیمتي د بنیادم ژوند دے. او هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک د حسد او حرص پکارونو کښې اموخته وي ، یا د بد دې کولو او د طمعې لرلو ژوند تېروي یا چرته څوک ناروغه بنده بد پرهېزي او بدپالي کوي نو هوښیاران ورته داسې وایي چې هلکه دا هر څۀ په خپل ځائے . خو تا له پرهېز پکار دے. ځکه چې ستا پکښې د ژوند خطره ده. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وایي چې: "که چاړۀ د سرو شوه خو په خېټه د منډلو نۀ ده".

په پټه خېټه کښې حیا ده
چاړۀ د زرو څوک په خېټه نۀ منډینه

که چرګ باري شي نو څۀ به یوسي

دا یو عام متل دے دے. او عام خلق یې زیات استعمالوي. باري هغه ځناور ته وئېلے شي چې هغه په شا یا ملا څۀ وزن او بوجهه وړے شي. او په وړلو عادت وي. یعنې کوم ځناور چې په ملا بار وړي او عادت وي. نو هغه څاروي ته باري وئېلے شي. او په دې متل کښې د چرګ ذکر شوے دے. یعنې مطلب یې دا دے که چرې چرګ باري شي نو څومره وزن ، بوجهه او بار به یوسي. او د چرګ دا مثال مشرانو بنیادم ته اشاره کړې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې داسې څوک بنده چې لکه د چرګ کمزورے او ناتوان وي نو که هغه څۀ بوجهه وړل غواړي ، یا د چا سره مدد کول غواړي. نو څومره بار به یوسي او څۀ به د چا مدد او مرسته وکړي.

نن سبا دا متل اکثر په داسې موقعو کښې د طنز په توګه استعمالیږي. چرته چې څوک داسې کمزورے او ناتوان سړے د خپل طاقت نه زیات وزن والا څیز ته ورلاندې ووځي یا د خپل حېثیت او طاقت نه زیات ټوپ وهي یا داسې څوک زیاتې ډوزې او لاپې وولي ، یا د ځانه زیات زورور پهلوان ته بډهې وهي یا راکاږي.نو هغۀ ته مشران دا متل وړ اندې کوي او داسې وایي چې خانه په قلاره کښېنه دا ستا د وس او بس خبره نۀ ده. "که چرګ باري شي نو څه به یوسي".

که چرګ بانګ ونۀ وایي نو سبا به نۀ شي

قیصه:

پخوا په زمانه کښې به خلقو د نمر ، سپوږمۍ او د ستورو د رفتار ، حرکت او چال نه د وخت رفتار معلومولو. یعنې د وخت پېژندګلو په یې ترېنه کوله. د ورځې به د نمر او د سپوږي د چال نه وخت معلوم او پېژندے شو. او د شپې به د سپوږمۍ او د ستورو د چال او حال نه وخت معلومېدلو. خو د دې سره سره یوه بله اندازه او ذریعه هم وه چې خاص د سحر وخت به ترېنه پېژندے او معلومېدے شو. دا اندازه د چرګانو بانګونه وؤ. چرګانو له الله پاک دا فطرتي خصوصیت او پوهه ورکړې ده چې د سحر وخت پېژني ، یا په

راتلو يې پوهيږي سحر د م ،لا د بانګ نه لږ مخکښې چرګان هم بانګونه شروع کړي. او دا پخه نخښه ده چې څۀ شېبه پس سحر کېدو والا دے. او دغه وخت له مشرانو د "چرګ بانګ مال" نامه کېښودې يا ورکړې ده.

پخوا په زمانه کښې زميندارو خلقو دا وخت د کار دپاره پوخ ترلے او نمانځلے وؤ. يعنې اکثر زميدار به د چرګ په بانګ پاڅېدل او کارونو له به تيارېدل. داسې وايي چې تېره زمانه کښې يو زميدار د څۀ کار دپاره اشر رابلے وؤ. او اشر کړو ته يې په وخت د راتلو وېنا کړې وه. په سبا يو اشر کړے د کار خائے ته دېر ناوخته ورغے. هغه د کار مالک ورته کيله وکړه چې يار داسې څوک کوي تۀ ما له په غرمه کار له راغلې. نو هغه سړي ورته ځواب ورکړو چې يار خفه کېږه مه. زۀ يو څل دوه راپاڅېدم خو چرګ لا بانګ نۀ وؤ وئېلې. نو بيا اودۀ شوم او داسې رابانديې ناوخته شو. په دغه وخت ورته د اشر کړو نه يو بل سړي وئېل چې ښه! تا څۀ کمل چې کنې که چرګ بانګ اونۀ وايي نو سبا به نۀ شي. او داسې د هغه وخت نه هوښيارانو دا خبره د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا په داسې وخت او موقع استعمالېږي جرته چې څوک د چا نه د څۀ کار په طمع وي يا يې ورته څۀ ضرورت او حاجت وي او هغه بنده ورته انکار وکړي يا ورته څۀ انې بهانې جوړوي. نو هغه طمع لرونکے يا حاجتمند سړے ورته داسې وايي چې ښه يار! ستا څۀ خيال دے که تا زما کار ونۀ کړو يا تا ما سره شرکت يا زما مرسته اونۀ کړه نو ګنې زما کار يا خبره به سر ته نۀ شي ، يا به نېمګړې پاتې شي. نو دا مطلب ورته هغه په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې هن! "که چرګ بانګ اونۀ وايي نو سبا نۀ شي".

که چرګه دې کاسيره نۀ وے ، نو بل کره به يې اګې نۀ اچولې

د دې متل په حقله څۀ قيصے هم مشهورې دي. څۀ روغې او څۀ لغړې دي. خو د قيصو نه علاوه دا يو ساده متل دے. او اکثر د طنز او د پېغور په توګه استعمالېږي او مطلب يې دېر ژور او پ ،ر اثر دے. کاسيرې معنۀ ، ی چې په کتاب کښې هر څۀ ليک ده. هغه معنۀ ، ی ما معلومه نۀ کړے شوه. خو دومره راته علم دے چې (کاسيره) تورے (لفظ) مادې يعنې مؤنث دے. او هم د مادې دپاره استعمالېږي. په کلي والا او عامه امروزه ژبه کښې بې شرمه ، بې حيا ، فحش او لغړو کارونو او خبرو کولو والا ته کاسيره وئېلے شي. په اسانه ژبه کښې ورانې او بې لاړې ته کاسيره وئېلے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې که چرګه دې (ورانه) يعنې بې شرمه او بې حيا نۀ وے نو بل کره به يې اګې نۀ اچولې. او ظاهره ده چې څوک ورانه (کاسيره) نۀ وي نو په پردو دننه په خپل کور کښې ښۀ خوړه درنه ناسته وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو جرګه غربېه بدنامه کړې ده چې مونږ ترېنه څه سبق او نصيحت واخلو. هم د سبق او نصيحت دپاره يې خلقو ته وراندې کوي. او داسې وايي چې اول د خپلې چرګې غم ، فکر او پام پکار دے ځکه چې: "که چرګه دې کاسيره نۀ وے نو بل کره به يې اګې نۀ اچولې".

چرګـــــــــــه کاســـــــــــيره کـــــــــــه دې نـــــــــــۀ وے
پـــــــــــه کاونـــــــــــدې بانـــــــــــدې بـــــــــــه نـــــــــــۀ وو الزامونـــــــــــه

که د خو ،ر کانې پاستۀ وے نو ګيدړانو به نۀ وي پرېښې

دا يو عام متل دے. خو په امروزه ژوند کښې زيات نۀ استعمالېږي. مطلب ترېنه دا دے چې کټې کانې پاستۀ نۀ وي. د کانو مثال مشرانو د هر هغه کار سره ترلے دے چې کوم دېر د کراؤ ، سخت او ګران وي. او د ګيدړ مثال يې د هغه بنده سره ترلے دے. چې يا خو بدني کمزورے وي او يا په زړۀ لکه د ګيدړ کمزورے ، ډرپوک او وېرېدونکے وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې دا کار دومره اسان (پوست) نۀ دے. چې څوک کمزورے بنده (کيدړ) يې هم کولے شي. يعنې که دا کارونه دومره اسان وے. نو هر چا به کولے. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا يې خلق اکثر د طنز په توګه په داسې موقع استعمالوي جرته چې څوک داسې کمزورے او ډرپوک بنده لاپې وولي. او يا د څۀ ګران او سخت کار په حقله داسې وايي چې دا خو زما د کس لاس کار دے. نو په داسې وخت او موقع مشران هغۀ ته ګوته نيسي او داسې وايي هن! دۀ ته ګوره او د دۀ دې خبرو ته ، جرته تۀ او جرته دا کارونه. دا دومره اسان کار يا خبره نۀ ده چې ستا غوندې خلق يې وکړي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي "که د خو ،ر کانې پاستۀ وے نو ګيدړانو به نۀ وے پرېښې".

که د غوبه نه خوشې شي ، خو د مالکه خوشې نۀده

غوبه هغه کسب کړ ته وئيلے شي چې د کلي د وګړو مال ډنګر په مزدورۍ يا د دانو په اړه ساتي او ځروي. پخوا به غوبه د کلي ځاروي يو ځائے ته راجمع کړل او بيا به يې په جمع ورشو ته د ځر دپاره شړل يا بوتلل.خوشې نه معنۀ ، ې ده بې مالکه ، بې ساتنې او بې ځوکې. خوشې لفظ د موقعې په مناسبت سره جدا جدا معنې او مطلب ورکوي. لکه د مثال په توګه: داسې وئيلے شي چې خوشکے سے دے ، يا دا ځاروے خوشے مۀ پريږده. يعنې د ځۀ شي خيال ساتل او ځوکې کول. او په متل کښې هم معنۀ ، ې مطلب ده. يعنې د ځۀ شي ځوکې (رکوالي) کول. خيال ساتل او په نظر کښې ساتل. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې که چرې غوبه چرته يو ځاروے خوشے پريږدي نو مالک ورپسې غور کوي. يعنې مالک يې د نظر لاندې ساتي. او ځوکې يې کوي چې چرته ورک نۀ شي. همسې خو په متل کښې د غوبه او د ځاروي ذکر شوے دے. خو مشران يې د هر هغه شي يا ځيز دپاره استعمالوي چې د هغې د ورکېدو ، بې درکه کېدو ، خرابېدو او يا د ناروغه کېدو خطره وي. او مالک ته ترښه غم خفګان ، تکليف او کراؤ رسي. او يا مالک ته د زيان او تاوان سبب جوړيږي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د چا د مال حال ځوکيدار وي او هغه خپل فرض يعنې ځوکيداري نۀ پوره کوي ، يا ځوک داسې د ځۀ کار کولو دپاره ذمه وار جوړ کړي او هغه خپله ذمه واري نۀ پوره کوي. نۀ په کار خيال ساتي او نۀ يې په مال حال. نو په داسې وخت مالکان وايي چې که بل يې خيال نۀ ساتي نو زما خو خپل کار دے ، يا زما خو خپل مال حال دے. ژۀ خو يې تالاترغه کېدو ته خوشے نۀ شم پرېښودلے. هم دا مطلب هغه په دې متل کښې ځرګندوي او داسې وايي چې: "که د غوبه نه خوشې شي ، نو د مالکه خوشې نۀ ده".

که دې راوړله پېسه بيا به وخورې پتاسه /امرسه

دا يو عام متل دے چې مشرانو پکښې د پېسې زور او قدروقيمت ځرګنده کړے دے. يعنې مطلب دا دے چې کټې چا سره پېسه وي نو هغه پتاسه خورلے شي. ربوړی ، لاڅي دانه او پتاسه لکه د مټهائی غوندې د خوراک خوارۀ ځيزونه دي. پخوا به خلقو دا ځيزونه په شوق سره خورل. او اکثر په وادۀ کوړدنو کښې به يې د مونک پلو او چوارو سره وېشل او شيندل. په متل کښې ځوک پتاسې يادوي او ځوک امرسې خو مطلب ترښه هر هغه شے دے چې هغه قيمت لري ، په پېسو اخستلے او خرڅولے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې هر شے په پېسه اخستے شي يا هر کار په پېسو کولے شي او چې پېسه نۀ وي نو پتاسه هم نۀ شي خورلے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک د پېسې قدر قيمت بيانوي يعنې مطلب يې دا وي چې کټې پېسه هر کار کولے شي يا په پېسه هر کار ويستلے شي ، يا د ځۀ شي قدروقيمت زياته وي ، يا د ځۀ شي خوبي او فائدې بيانوي ، يا ځوک چا ته ياد کېږنه ورکوي. چې کټې دا ځيز مفت او وېرپا نه دے. او يا ځوک چا ته طنز او پېغور ورکوي چې کټې تا سره پېسه نشته او دا کار په پېسه کولے شي. نو دا ټول مطلبونه ورته په دې يوه جمله يا متل کښې ځرګندوي. او داسې وايي چې خانه! "که دې راوړله پېسه بيا به اوخورې پتاسه". هم د دې مطلب دپاره په اردو ژبه کښې داسې وئيلے شي چې: "پيسه پهينک تماشه ديکھ".

که رښتيا وايم نو موړې تۀ مې هم وهې

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يوې کوندې ښځې يو زوئے وۀ. هغه هلک چې به کله هم ږهر لوبو له لاړو. نو په ژړا به کورته واپس راتلو. هره ورځ به يې دا حال وۀ چې کله يو وهلے او کله بل ټکولے. د زوي په سر يې مور هم چم کښې ځو واړې د کاونډيانو سره جنګ جګړې کړې وې. اخر چې هغه مور يې هم په جګړو ، ريشتينو او ايرو پيرو ستړې شوه. نو يوه ورځ يې د دې زوي نه پوښتنه وکړه چې اخر ځۀ چل دے په تا کښې ځۀ ورانے دے چې ټول خلق تا وهي. ما خو په دې چم کښې بل ماشوم په ژړا ونۀ ليدو. خو چې کورم نو تۀ په ژړا سر يې. هغه زوي ورته ځواب ورکړو چې موړې ژۀ رښتيا وايم نو خلق مې ووهي. مور ورته وئيل چې دا ځۀ خبره شوه. په رښتيا وينا خو ځوک وهل نۀ کوي. هغه زوي ورته وئيل چې موړې که رښتيا وايم نو تۀ مې هم وهې. مور ترښه کول او زار شوه. وئيل زويه ژۀ خو ستا مور يم ژۀ به دې ولې وهم. ووايه ځۀ خبره ده. په رښتيا وئيلو ځوک وهل نۀ خوري. هغه زوي

ورته وئېل چې موږ زما پلار موده وشوه چې مر دے. نو بيا هره ورځ دا سنګار ته د ځۀ دپاره کوي. په دې خبره يې مور سوباړې ته کوتې کړې خو هلک بيا کوڅې ته رسېدلے وؤ. او داسې وايي چې دا خبره هوښيارانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب يې دا دے چې ربښتيا وئېل د مخ سپېړې دېلو تۀ چې چا له مخ سۀ ر کوې نو بدل خو به يې هم هغه شان وي.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک په دې پوهه وي چې د هغۀ په ربښتيا وېنا او خبره باندې د کور خلق ، يا ياران دوستان خفه کېږي ، يا د چا تر مېنځه ترېنه فساد او جنګ جګړه جوړېږي نو په داسې وخت او موقع هغه خپله خبره په شېبلي کښې اړوي. او داسې وايي چې بس پرېږده يار! "که ربښتيا وايم نو تۀ مې هم وهې".

چې ربښتيا وايي وهل وخوري
چې احسان نۀ کړي بدبه نۀ مومې مئينه

که زړوکي مو زاړۀ دي خو هډوکي مو درانۀ دي

ربښتيا ده چې پخواني خلق دېر پاخۀ ، خواړۀ او درانۀ پښتانۀ وو. د هغوي دېر ساده ، د مينې محبت او د خلوص نه ډک ژوند وؤ. يو خو هغه زمانه کښې پيسه ټکه کمه وه خو هغو خپله هم ساده ژوند خوښولو او تېرولو. نو ځکه به يې جامه پېزار دېر زاړۀ وو. او اکثر به ورته پېوندونه لګېدلي وو. په دې متل کښې مشرانو د هغې زمانې د غريبۍ ، خواري او د ساده ژوند نۀ صرف ځېرنه کړې ده بلکې د هغه ساده خلقو د محنت ، خوداري ، تريالي ، بهادرۍ ، ننګ پت ، د غېرت او د عزت ذکر او ستاېنه يې هم کړې ده. په متل کښې د زړوکو نه مطلب جامه پېزار دے او د هډوکو نه مطلب په ژوند ژواک او په قدر عزت دروند والے دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې که جامه پېزار مو زاړۀ دي خو په قدر او عزت خواړۀ درانۀ يو. يعني قدر او عزت صرف په جامه کښې نۀ دے. بلکې د قام په خدمت ، محنت ، خوداري او په اولسي قدرونو کښې دے. او خوداره قام مدام په خپل کلتور او قدرونو کلک ولاړ وي. نو ځکه هغوي خواړۀ درانۀ وېڅوېم مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے چې کنې په ذات او نسب خواړۀ درانۀ او پټ ماړۀ يو. ځکه په ځنې علاقو کښې دا متل داسې هم وئېلے شي چې: "که زړوکي مو زاړۀ دي خو هډوکي مو ماړۀ دي". نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک د چا خوږ دروند بنده په حقله ځۀ طنز او مذاق کوي يا ورته په توقو تقالو کښې د غريبۍ او فقيرۍ پېغور ورکوي. نو هغه قدردانه او دروند خوږ بنده ورله ځواب په دې متل کښې ورکوي او داسې وايي چې: "که زړوکي مو زاړۀ دي خو هډوکي مو درانۀ دي".

که سل رګه يې نور وي ، خو يو پکښې د مور وي

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې دېر زيات استعمالېږي. يو بل متل هم وړاندې ذکر شوے دے. چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. هغه داسې وايي: "چې ځنګ يې مائي داسې جائي". د دې دواړو متلونو مطلب دا دے چې کنې په هر بنده کښې ځۀ نه ځۀ خوي خصلت د مور او پلار وي. يعني هو به هو او سل په سل خو نۀ شي کېدے او نۀ بالکل اپوټه کېدے شي او که چرې دېر نۀ وي نو ځۀ لږ شاني عادت او خصلت پکښې ضرور د مور او پلار په شان وي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے دے. يعني که يو بنيادم دېر زيات هم د مور پلار نه په خوي خصلت او عادت کښې جدا وي خو بيا هم پکښې يو نيم عادت داسې وي چې هغه يې د مور او يا پلار سره مېلاويږي. هسې خو دا متل د ښځو او سړو دواړو دپاره استعمالېږي خو په خصوصي توګه د زنانۀ په حقله زيات استعمالېږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې يو بنده هر ځومره د مور پلار نه په خصلت او عادت کښې بدل وي خو بيا هم پکښې يو نيم خوي خصلت يا عادت د مور پلار وي.

نن سبا يې اکثر نيم زالې او بوډاګانې ښځې په خصوصي توګه خوابښيانې د خپلو اينکوريانو په حقله استعمالوي. چرته چې د جا اينکور غريبې هيله پښه په کناوه کړه شي. نو خوابښي ورته بيا په ښېرو او وېناګانو سر شي. يو ړدي او بله راخلي. او اکثر ورته د مور په حقله داسې پېغورونه ورکوي چې ستا مور هم داسې اوښۀ هم د هغې مور لا ور يې. په تا کښې هم د هغې مور رګ دے. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "که سل رګه يې نور وي خو يو پکښې د مور وي".

که شا کوو نو شا مو سوزي او که مخ کوو نو مخ

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. د متل نه مطلب دا دے چې ګڼې خطره دواړو غاړو ته ده ، يا زيان او تاوان راته د دواړو غاړو نه دے. يعنې هم د شا نه او هم د مخې نه. د شا او مخ نه مطلب دے چې څۀ کار کول او يا نۀ کول. يعنې د څۀ کار دپاره قدم اوچتول ، څۀ عمل کول او يا وروستو کېدل. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کله کله په بنيادم داسې حالات راشي يا داسې ګېر شي چې که څۀ کار کول غواړي نو هم ورته زيان رسي. او که وروستو کېږي ، يعنې که هغه کار پرېږدي نو هم ورته تاوان او زيان رسي. او يا ورته خطره جوړېږي. هم دا حالات او داسې واقعات مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړي دي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د بده مرغه په داسې حالاتو کښې ګېر شي چې په څۀ کار کولو ورته هم زيان او تاوان رسي. او په نۀ کولو ورته هم غم خفګان او تکليف مېلاوېږي. نو په داسې وخت او موقع هغه بنده خپل حالت او کېفيت په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "که شا کوو نو شا مو سوزي او که مخ کوو نو مخ".

که شپه تيارۀ ده خو منې په شمار دي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو څو دوستانو د شپې صلاح وکړه چې د باغ نه منې راوړي. دوي چې کله باغ ته ورګډ شول نو يو هلک ورته د څادر نه جولۍ جوړه کړه. او نورو به منې راشوکولې او جولۍ کښې به يې اچولې. کله چې جولۍ ډکه شوه نو د باغ نه لرې دوي په يو ، وله کښېناستل. او منې يې خپلو کښې وېشلې. د وېش دوران کښې يو هلک د وېش والا کس ته وئېل چې هلکه تيار ده. او هسې نه چې ځانله زياته برخه واخلي. يو بل ملګري ورله اواز ورکړو چې پرواه نشته. که شپه تيارۀ ده ، خو منې په شمار دي. يعنې مطلب دا چې منې به په شمار ووېشلے شي بيا پکښې غلا غ ، لطي نۀ شي کېدلے. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که شپه تيارۀ ده. يعنې که ظلم ، جبر ، زور او زبردستي ده ، يا ځان ځاني ده يا الغؤ تلغؤ دے ، يا شور شرابه او غوبل جوړ دے. خو عدل او عدالت هم شته ، او فېصله به په عدل او انصاف سره کېږي. د چا زور زبردستي دوړ دباؤ ، دپکې دهراکې او غلا غلطي به نۀ چلېږي او نۀ منلے شي. بلکې فېصله به د حق او انصاف کېږي. هم د دې مطلب لپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک مشران په جرګه کښې داسې څۀ فېصله کوي او يوه ډله يا يو کس د هغوي په فېصله څۀ ګمان کوي ، يا اندېښنې څرګندوي. نو هغه مشران ورته د حق ، عدل او انصاف سره د فېصلې کولو يقين په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "که شپه تيارۀ ده خو منې په شمار دي".

که غر لوئے دے خو په سر يې لار شته

دا يو عام او ساده متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي معنـ ، ی يې دا ده چې ګڼې که غر ډېر هم دنګ او لوړ وي خو په سر يې د تګ راتګ لاره ګودره وي ، يا که غر ډېر هم لوئے ، قوي او مضبوط دے خو د بنيادم محنت او طاقت ته هېڅ نۀ دے. بنيادم په خپل طاقت ، محنت او حکمت سره ورله په سر کښې لارې ويستلې او جوړې کړي دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې که ډېر هم سخت او ګران کار وي خو د بنيادم محنت ، حکمت او همت ته هېڅ نۀ وي. يعنې چې بنيادم همت وکړي نو هر کار سر ته کولے شي.

دوېم مطلب ترېنه دا اخذ شوے دے. چې ګڼې که غر هر څومره لوړ دنګ ، غټ او مضبوط دے او د دې له کبله په غرور او تکبر کښې دے. نو هم ورله چا سر خور کړے او د پښو لاندې کړے دے ، او غرور يې ورله مات کړے دے. يعنې که سر يې لوئے او دنګ دے خو د چا د پښو لاندې راغلے دے. د غر دا مثال هوښيارانو د هر شي په حقله ورکړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که يو شے (خاص بنيادم) که ډېر هم لوړ دنګ ، غټ ، قوي او مضبوط وي. خو غرور او تکبر ورله نۀ دے پکار ځکه که د لوړ دنګ غر سر د پښو لاندې کېدے شي نو بيا د هر څيز غرور ، تکبر او سر ماتېدے شي.او هم دا مطلب مشر انو په دې متل کښې څرګنده کړے دے.

دا متل د موقعې او حالاتو په مناسبت سره د دواړو مطلبونو دپاره استعمالېږي. يعني جرته چې څوک داسې د غرور او تکبر په نشه کښې ډوب وي نو هغۀ ته هوښياران وايي. چې که تۀ ډېر هم زورور ، مضبوط او تکړه پهلوان يې يا ډېر مالداره او لوئے غټ خان او نواب يې خو د غر نه زيات لوړ دنګ او مضبوط نۀ يې. او ځنګه چې د غر سر خور شوے دے. او لاړې پرې جوړې شوې دي. نو داسې به ستا سر هم څوک د پښو د لاندې کړي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي. دويم په داسې موقع کښې استعمالېږي جرته چې څوک داسې بداخلاقه ، بدتميزه ، بدمعاش ، سرکشه او اړې مار بنده وي. چې نۀ د چا مخ ملاړه پېژني. نۀ د چا خيال خاطر کوي ، نۀ د چا اوري او نۀ مني. نو د داسې بنيادم په حقله هوښياران وايي: چې که ډېر هم زورور ، بدتميزه ، بدمعاش ، سرکشه ، مغروره او ډېر اړې مار دے. خو په محنت ، حکمت او همت سره په روغه لاړه ، يا روغې او سمې خبرې ته راوړلے او روانولے شې. ځکه چې: "که غر لوئے دے خو په سر يې لار شته".

که غل يار دے خو خپل خر ترلے ښۀ دے

دا يو ساده او عام متل دے. په امروزه ژوند کښې ډېر زيات استعمالېږي او په مطلب يې هر څوک ښۀ خبر دي. هوښياران وايي چې اعتبار کول ښۀ کار دے خو اعتبار نۀ کول د هر څۀ نه غوره دي. او هم دا مطلب هوښيارانو په دې متل کښې څرګنده کړے دے. يعني که غل سړے هر څومره يار دوست وي خو اعتبار پرې نۀ دے پکار. بلکې د خپل کور او د خپل مال حال د حفاظت او سنبالښت بندوبست پخپله پکار دے. په متل کښې خو غل ستائيلے شوے دے خو مطلب تر ښه هر هغه بنيادم دے چې د اعتبار لائق نۀ وي بلکې په هر چا اعتبار نۀ کول غوره خبره ده. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک د خوږ دوست يا خپل خپلوانو د لاسه په اعتبار کښې دهوکه وخوري. نو هغه بيا دا متل په هر محفل کښې د نصيحت ، سبق او د مشورې په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه خيال کوه! "که غل يار دے خو خپل خر ترلے ښۀ دے".

که ګډې مو نۀ دي څرولې نو خرش خو مو اورېدلے دے

دا يو ساده متل دے معنۀ ، ی او مطلب يې جدا جدا دي. ګډو څرولووالا ته شپونکے وئيلے شي. شپونکے چې کله ګډې څروي يا شړي نو ورسره سمې خبرې کوي. او هغه ګډې هم د هغۀ په خبرو پوهيږي. شپونکے ګډې په قابو کښې د ساتلو او راوستلو دپاره په جدا جدا موقع بيل بيل اوازونه او شپلي وهي او يا اشارې ورکوي. د شپونکي په اوازونو ، شپلو او اشارو سره ګډې هم هغه شان حرکت او کار کوي. په دې اوازونو کښې يو اواز د خشې او خرش هم دے. چې ګډې پرې شړلے ، راړولے او قابو کولے شي. يعني که چا ګډې څرولې نۀ وي او د خرش اواز يې اورېدلے وي يا پېژني او يا هغه شان اواز کولے شي نو بيا ګډې هم څرولے او قابو کولے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګني که مخکښې چا څۀ کار نۀ وي کړے خو که لږ ډېر د هغه کار په حقله څۀ علم ، هنر او پوهه لري. يعني که څۀ لږ ډېر يې په چل ول پوهيږي نو بيا هغه کار کولے شي او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي جرته چې يو بنده څوک د څۀ کار نه منع کوي چې ګني تۀ په دې کار نۀ پوهيږي يا دا کار مۀ کوه خراب به شي. نو که هغه کار کولو والا څۀ لږ ډېر هنر لري. په چل ول يې پوهيږي او په ځان يې باور هم وي نو خپل چل هنر او پوهه په دې متل کښې څرګندوي يا وړاندې کوي. او داسې وايي چې يار! "که ګډې مو نۀ دي څرولې نو خرش خو مو اورېدلے دے".

چې پاهره دهوکه نۀ شي
د ګډو خرش باندې هر څوک پوهدي مئينه

که ګور ګران دے خو د مړي ناکام دے

قيصه:

د دې متل په شا داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې مړے شوے وؤ. خوانانو په مقبره کښې قبر کستلو. قبر چې کله تيار شو نو يو هوښيار او هنرمند سړي په لحد اخري لاس راښکلو. هغه خوانانو کښې يو خوان چې هغه لحد ته پام او فکر وړے وؤ ډېر په سوړ اسوپلي او بوړنبدو سره دا خبره وکړه چې يارانو دې لحد ته وګورئ خومره تنګ ، د خاورو او تيارو نه ډک د ويرې ځائے دے. الله زده چې دلته به دا خلق څنګه ګزاره کوي. دا خو ډېره ګرانه ده. هغه مشر سړي چې لحد يې سمولو ، ورله ځواب ورکړو چې خانه که ګور ګران دے خو د مړي ناکام دے. داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب يې دا دے چې کښې که په څۀ حالاتو او موقعو کښې ژوند کول ګران هم شي خو ناکام او ګزاره کول پکار دي.

نن سبا يې اکثر هوښياران د غم زېلو خلقو سره د غم رازی لپاره ، يعنې د څۀ حادثې ، غم خفګان او مصيبت په وخت وړاندې کوي. او داسې وايي چې خانه دا وخت به هم خدائے پاک تېر کړي. ټول عمر به دا غمونه او مصيبتونه نۀ وي. بلکې په سخته پسې راحته (راحت) وي. صبر ، ګزاره او ناکام پکار دے. او هم دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "که ګور ګران دے خو د مړي ناکام دے". يا څوک داسې په يو کور کښې يا په نوکرۍ کښې يا په هندېوالۍ کښې د جا زوره ور سره ، يا د جا ناخوښه بنده سره ناکامه ژوند کوي. نو هغه هم د خپل ژوند هغه حالت يا کېفيت په دې متل کښې څرګندوي او داسې وائي چې يار! "که ګور ګران دے نو د مړي ناکام دے".

د اســـــــې ناکـــــــام پـــــــه ژونـــــــد پکـــــــار دے
څنګـــــه چـــــې مـــــړي پـــــه خپـــــل کـــــور بانـــــدې کوينـــــه

که نور سپي غاپي نو غاپي دې د کولالانو سپيه تۀ څله غاپي

کولال يو غريب مزدورکار ، هنرمند کسب کړ او کاريکر وي. دا هم منلې او ښکاره خبره ده چې پخوا په زمانه کښې به ټول کسب ګر خلق ډېر غريبانان وو. خو کولال به ورکښې بيا ډېر زيات غريب ، مسکين او کمزورے وؤ. نن سبا خو ټول کسب ګر غټ غټ تاجران او سېټان دي. خېر مشرانو په دې متل کښې دکولال کمزوري ، بې وسي او بې کسي ستائېلې ده. د سپي مثال يې ځکه ورکړے دے چې کښې يو مالک دومره عاجزه ، کمزورے او بې وسه وي نو د هغۀ ساتلے يا د هغۀ نه لاندې شے به لا څۀ وي. يعنې چې مالک يې د جا د څواب نۀ وي نو سپے يې څله خلقو پسې غاپي. يعنې مشرانو په متل کښې د کولال او د هغۀ د سپي د کمزورۍ ، غريبۍ ، عاجزۍ او بې وسۍ دا فلسفه وړاندې کړې ده او مطلب ترينه هر هغه غريب ، فقير ، بې وسه بې طاقته ، مجبوره ، عاجزه او کمزورے بنده دے. چې د جا د جواب نۀ وي.

اکثر يې خلق په داسې موقع استعمالوي. جرټه چې څوک غريب او کمزورے بنده د جا په معامله او شخړه کښې ځان شاملوي ، يا د جا مرستې او مدد له مېدان ته وردانګي ، يا د جا په حق کښې بل ته ګوته نيسي ، يا ورسره بحث مباحثه کوي نو په داسې وخت ورته هغه بل بنده وايي چې کښې تۀ د دې جوګه نۀ يې چې زمونږ په معامله کښې رادانګي يا تۀ زما د مقابلې جوګه نۀ يې ، يا تۀ زما د سيال نۀ يې.نوره دې خ ، له بنده کړه يا بنده وساته. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "که نور سپي غاپي نو غاپي دې ، د کولالانو سپيه تۀ څۀ له غاپي".

که نوې مو نۀ کولې ، نو زړې به مو چا يادولې

دا يو ساده متل دے او داسې وئيلے شي چې دا متل د جولاګانو په قام پسې جوړ شوے مشهور شوے دے. جولاګان د پخوا زمانې هغه هنرمند خلق وو چې په کورونو کښې به يې په کډو باندې د مالوچو نه تارونه او بيا د تارونو نه (کپړې) ټوکې جوړول. هسې خو د دوي کار روزګار ډېر د حکمت او د هنر وؤ خو د هوښيارانو قول دے چې جولاګان ډېر کم عقل وي. يعنې پوره قام په کم عقلو مشهور شوے او منلے شوے دے. په دوي کښې د جا يو بنده نه داسې د بې وقوفۍ او کم عقلتيا څۀ نه څۀ کار وشي چې د دوي زوړ کار ، زړه خبره يا زړې کارنامې بيا راتازه او خلقو ته رايادې شي. د هغه وخت مشرانو د دوي دا کم عقلتيا او حالات په دې متل کښې مشهور کړي دي. او مطلب ترينه دا دے چې کښې که د بې وقوفۍ څۀ نوي کارونه درنه نۀ کېدے نو هغه زاړه به هم د خلقو نه هېر شوي وو. خو چې نوے د کم عقلتيا څۀ کار يا څۀ خبره درنه وشي نو زړې کارنامې مو پخپله خلقو ته رايادې شي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې د چا نه څۀ کم عقله خبره یا د یې وقوفی څۀ کار سر دوباره شي. نو خلق ورته وایي چې هلکه تۀ هم جوړ د جولاګانو د ذاته یې. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وایي چې: "که نوې مو نۀ کولې نو زړې به مو چا یادولې".

———

Pukhto.Net
پښتو

"ګ"

ګټه په تاوان کيږي

ګټه او تاوان د يو بل سره تړلي دي. يعنې په کاروبار کښې کله ګټه وي او کله تاوان او زيان مېلاويږي. خو په متل کښې د تاوان نه مطلب خرچه ده. يعنې په کاروبار کښې (تاوان) خرچه کول پکار وي. نو هله ترېنه ګټه مېلاويږي. مطلب دا چې په کوم کاروبار کښې څومره زياته پېسه (تاوان) ولګي نو هومره يې ګټه زياته مېلاويږي. په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري ځکه وئيلے شي چې څومره ګ ، ره وراچوې نو دومره خوږيږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګټې که ګټه کول غواړې نو اول ځانله تاوان ورکړه. يعنې اول په روزګار او کاروبار کښې پېسه تاوان يعنې خرچه کړه. نو هله به ګټه زياته مومې. او که ځان تاوان ته نۀ نيسې. يعنې خرچه نۀ کوې نو ګټه به څنګه مومې.

نن سبا يې خلق د نصيحت په توګه په داسې موقعو کښې استعمالوي. چرته چې څوک بنده د خپل کاروبار نه سر ټکوي ، يا د تاوان ژړا ژاړي. خو په کاروبار کښې نۀ محنت کوي او نۀ پېسه لګوي. يعنې دوکان کښې سودا نۀ اچوي يا په ګاډي خرچه نۀ کوي خراب ولاړ وي او خان د ګڼې طمع لري نو داسې بنده ته مشران وايي. چې هلکه اول دې دوکان د سودا نه ډک کړه يا اول دې په دې ګاډي لږ تاوان وکړه نو بيا به درله ګټه وکړي. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "ګټه په تاوان کيږي".

ګټه په ګټه ماتيږي

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعماليږي معنـ ی يې دا ده چې ګڼې که ګټه ماتول غواړې نو بلې ګڼې له يې راخلاصه کړه يا يوې ګڼې له په بله ګوذار ورکړه نو ماته به شي. مطلب يې دا شو چې ګڼې ګټه يو سخت شے دے. او ماتولو له يې هم هغه شان سخت او يا د هغې نه هم زيات سخت شے پکار دے. دا فلسفه مشرانو په دې متل کښې د سبق اخستلو لپاره وړاندې کړې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که څۀ سخت کار سره مخ شي نو ځان ورته لکه د ګڼې سخت کړه. نو هله به هغه کار سر ته کولے شي ، يا چرته داسې څوک په خوي خصلت او طبيعت ډېر سخت وي نو هغۀ سره هم هغسې سخت چلېدل پکار دي. نو هله به هغه په لاره کيږي ، يا داسې چرته څوک بدتميزه ، بداخلاقه او بدمعاش بنده وي نو هغۀ له هم هغه شان بدمعاش بنده ورمخامخ کړه. نو هله به د هغۀ غرور او بدمعاشي ماتيږي او ختميږي. هم دا ټوله فلسفه او مطلبونه هوښيارانو په دې جمله يا فقره کښې راجمع کړي او مشهور کړي دي. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه! "ګټه په ګټه ماتيږي".

ګټه چې په ځائے پرته وي نو درنه وي

ګڼې او کاڼي درانۀ هم وي او سپک هم. خو سپک او واړۀ کاڼي اکثر د خلقو د پښو لاندې وي. او يا په ټکرو يعنې د خلقو په لتو سره رغړي. کومه ګټه چې درنه وي نو هغه په ځائے پرته وي. څوک يې نۀ خوزولے شي او نۀ يې په لتو رغړولے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې ګټه ځکه په ځائے پرته وي. چې هغه درنه وي او سپکه ګټه يا بل څۀ شے په ځائے نۀ شي پاتې کېدے بلکې طوفان ، حالات او خلق يې يو خوا بل خوا رغړوي. هم دا مطلب مشرانو بنيادم ته اشاره او مثال ورکړے دے. چې لکه د ګڼې که په ځائے يعنې په خپل کور ، دېره او په خپل مقام او حېثيت کښې وسې نو خوږ دروند به يې. او که بې تپوسه لکه د مرګ مچ هر ځائے حاضر يې يا په هر محفل کښې لکه ما مۀ شمېره در ګډ يمه او يا د هر دېګ څمڅۍ وي. نو نۀ به دې قدر وي او نۀ عزت. بلکې په هر وخت او هر ځائے کښې به لکه د بڼې سپک شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې ځان خپله درنولے شي او هم پخپله سپکولے شي. کوم بنده چې د خپل خاندان ، ټبر او د خپل کور د حيا عزت خيال ساتي. خپله په قدر عزت وسي او د بل هم د عزت خيال ساتي ، د بې حيايۍ ، بې شرمۍ خبرې او سپک کارونه نۀ کوي. نو هغوي په خپل ځائے عزتداره ، قدردانه ، خواږۀ او درانۀ وي. او کوم خلق چې داسې نابللي د هر چا تالي ته وردانګې ، نۀ په

خپل شرم شرمېږي او نۀ يې د بل په حيا څۀ کار وايو، ل ـ جر او لغړې شغړې خبرې او کارونه کوي. نو هغه په هر ځائے کښې او هر چا ته سپک وي. دا په قدر عزت دروندوالے او سپکوالے د مشرانو مطلب دے او هم د دې مطلب دپاره يې دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا دا متل په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې څۀ سپک کارونه کوي ، يا څوک بې ښې بې بدې د خلقو کره تا پشي کوي ، يا داسې هر مجلس ته نابلے ما مۀ شمېره در ګډيمه کوي ، يا خلقو ته په تالي کښې پښه ږدي. نو هغۀ پخپله ځان سپک کړي. هم داسې خلقو ته مشران دا متل د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه! په خپل ځائے خوږ دروند کښېنه. بې مطلبه او بې تپوسه هر محفل ته مۀ ورګډېږه! "ګڼه چې په ځائے پرته وي نو درنه وي".

ګڼـــــــه پـــــــه ځـــــــائے پرتـــــــه درنـــــــه وي
د بڼـــــي ســـــپک شـــــي چـــــې پـــــه بـــــاد ســـــورلي کوينـــــه

ګ ـ جر له بوره ښۀ ده

ګ ـ جر چې جمع يې ـ جران دي. دا يو قام دے. نن سبا خو په دې قام کښې ډېر نوموړي او شتۀ من خلق پېدا شوي دي. خو پخوا په زمانه کښې به ګ ـ جرانو په کلو کښې د زميدارو دهقانۍ کولې. غوا مېښې به يې ساتلې. پۍ غوړي به يې خرڅول او په دې به يې ګزران او ژوند کولو. نن سبا هم د دوي ډېر خلق هم دا کسب کوي. بورې نه معنـ ـ ي او مطلب هغه څاروے دے چې بچي يې مړ شوې وي. يعنې د لنګې غوا مېښې يا بل څاروي چې د پېو رودونکي بچے مړ شي نو هغه څاروي ته بوره وئېلے شي. او چې لنګې پسې بچے وي نو لازمي ده چې څۀ نه څۀ پۍ به هغه بچے هم څښي. او چې څومره پۍ هغه بچے څښي دومره به ګ ـ جر يعنې مالک ته کم مېلاوېږي. د ګ ـ جر کسب پۍ خرڅول دي نو که د بچي برخه پۍ هم ګ ـ جر ته مېلاؤ شي نو داسې به ورته پېسه ټکه زياته مېلاوېږي. ګ ـ جر غواړي هم دا چې د پېو نه ورته زياته پېسه او ګڼه مېلاؤ شي. او چې چرته د غوا مېښې بچے مړ شي (بوره شي) ګ ـ جر پرې لا خوشحاله شي. مشرانو په دې متل کښې د ګ ـ جر دا لالچ ، حرص او حالات ستائېلي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې که په دې کار کښې څۀ ګڼه او فائده وي نو هم داسې ښۀ دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې لالچي بنده وي او د څۀ کار او يا د څۀ خبرې نه هغۀ ته څۀ فائده يا ګڼه رسېږي. که په ظاهره هغه کار د زيان رسېدو هم وي خو چې هغه بنده پرې خوشحاله وي نو په داسې وخت دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ګ ـ جر له بوره ښۀ ده".

ګران بې قيمته نه وي او ارزان بې عـلته نۀ وي

دا متل د پخوانو هوښيارانو يو جاج ، پېمانه او فلسفه ده. چې نن هم هغسې ټول په ټوله ريښتونې او په مطلب پوره ده. د ګران او ارزان دا فلسفه مشرانو په متل کښې ستائېلې ده. او مطلب يې دا دے چې ګڼې کوم شے چې په قيمت ګران وي نو هغه ښۀ او غوره يعنې قيمتي څيز وي ، د نقص او عـلت نه پاک وي. او کوم شے چې په قيمت ارزان وي نو هغې کښې به خامخا څۀ نقص او خرابتيا يعنې عـلت وي مطلب دا چې ښۀ او غوره شے قيمتي وي او خراب يا عـلت والا شے ارزان وي. په دې حقله يو بل متل هم مشهور دے ، وايي: "چې نۀ پوهېږي نو ګران اخله". يعنې دا عام او ناپوهه خلقو ته نصيحت دے. چې ګڼې د څۀ شي په سودا نۀ پوهېږي نو په قيمت ګران واخله هغې کښې به نـ ـ قص او عـلت کم وي او چې ارزان واخلې نو هغه به خراب ، او د عـلته به ډک وي. هم د دې مطلب دپاره يې مشران د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه په کوم شي نۀ پوهېږي نو ګران اخله ځکه چې: "ګران بې قيمته نۀ وي او ارزان بې عـلته نۀ وي".

ګډه بيزه خو خلق په سوک مړئي /مړه کوي

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. ګډه او بيزه ورکوټي څاروے دے. وړه خېټه لرې او په لږه ګيا (خوراکه) مړېږي. يعنې په يو کوده ګيا مړېږي. او د کودې دپاره موټے هم وئېلے شي. لکه وايي چې "يو موټے ګيا ورواچوه". په متل کښې د

کودې دپاره د سوک په خائے "موتے" وئېل پکار وو. ځکه چې د دې مطلب دپاره سوک وئېل څۀ سمون او ترون نۀ خوري. او د لرې خوراکې دپاره يو "موتے" تورے زيات غوره وؤ. د دې سره به دا متل بيا داسې جوړېدو چې: "کډه بيزه خو خلق په موتي مړئي". يعنې په خپله مرول.

خود ځنې خلقو د دې په حقله خيال دے چې کنې دلته مرول نۀ دي. بلکې مړۀ کول مراد او مطلب دے. يعنې مطلب دا چې کډه بيزه خو يو وړوکے او کمزورے شان ځاروے دے. او که څوک يې مړه کول غواړي نو نور څۀ ته حاجت نشته بس يو سوک ورکړه. او کډه بيزه به پرکېدلې پرته وي. يعنې په يو سوک مړه کولے شي. په متل کښې د سوک توري (لفظ) د استعمال نه دا مطلب زيات نزدې او د متل سره ترون خوري. د دې معنو تر لاندې دوېم مطلب ترېنه دا شو چې کنې کډه بيزه خو خلق په سوک مړه کولے شي او هم د دې مطلب دپاره يې استعمالوي.

نن سبا يې خلق په داسې حالاتو کښې استعمالوي. چرته چې داسې څوک کمزورے او غريب بنده جا ته بدې راکاړي ، يا د جا مخکښې څۀ مستي او بدمعاشي کوي يا د خپل حيثيت نه اوچت دانګي ، يا د جا زورور سره ښکرې انځښلوي. نو هغه ته هوښياران وايي چې هلکه په قلاره کښېنه. تۀ خو د هغۀ د يو سوک نۀ يې. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې کښېنه غلے! "کډه بيزه خو خلق په سوک مړه کوي".

کډه بيزه خو خلق په زوره لوشي

دا هم يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. د لنګ ځاروي نه پې ويستلو يا اخستلو ته لوشل وئېلے شي. غټ ځاروے لکه غوا مېښه چې په قلاره ولاړ وي نو هله لوشلے شي. اکثر خو د پېو په وخت په خپله ولاړ وي خو ځنې پکښې په پښو تړلو عادت وي. يعنې مېرمني ورله اول پښې وتړي نو بيا ترېنه پې لوشي. او کله چې غوا مېښه د پېو په وخت لتې او توپونه شروع کړي نو بيا يې په زوره څوک نۀ شي لوشلے. او کډه بيزه چې يو وړوکے او کمزورے ځاروے دے نو هغه که لتې او توپونه وهي نو بنيادم يې د پښو نه ټينګه او کلکه ونيسي. او پې ترېنه واخلي. يعنې په زوره يې ولوشي. د کډې بيزې دا کمزورې ، بې بسې او لاچارې مشرانو په دې متل کښې ستائيلې او څرګنده کړې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې د کډې بيزې شان کمزورے او بې وسه بنده نه خلق خپل مطلب په زوره سر کولے ، تر لاسو کولے ، يا ترېنه خپل کار ويستلے شي. نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې يو کمزورے بنده د جا زورور او ظالم سړي په وړاندې د ځۀ کار يا خبرې نه انکاري وي ، يا د نۀ کولو اراده څرګندوي. نو په زوره د هغۀ کار کولو لپاره هغه زورور په کمزورې باندې دپکه دهراکه کوي او ورته وايي چې ستا به څۀ اختيار وي چې به يې نۀ کوې! "کډه بيزه خو خلق په زوره لوشي".

ګ ، ړه ګ ، ړه وايه خ ، له به دې خوږېږي

ګ ، ړه يو خوږ شے دے او په خوږولو يې خ ، له خوږېږي. نۀ چې تش په نوم اخستلو نه څوک د ګ ، ړي نوم اخلي يا وايي نو په دې وېنا خ ، له نۀ خوږېږي د خ ، لې د خوږولو دپاره ګ ، ړه خوړل لازمي دے ګ ، ړي د خوږولو عمل اوښ ، لې د خوږېدو دا احساس مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او وړاندې کړے دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې تش په وېنا او يا په خبرو نۀ څۀ کار کېدے شي او نۀ کولے شي. بلکې د کار کولو دپاره د محنت او حرکت ضرورت او حاجت وي. يعنې د عمل کولو ضرورت وي. او هم د دې عمل کولو دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. د ځنې خلقو دا عادت او فطرت وي چې هغوي په خيالي دنيا کښې وسي. په خيالونو کښې اکثر غټې منصوبې جوړوي. يعنې په هوا کښې محلونه جوړوي. خو نۀ هغه منصوبې د عمل کولو جوګه وي او نۀ هغه بنده په عملي توګه کام پورته کړي په خ ، له ګ ، ړه ګ ، ړه کوي. هم داسې کم عقلو ته خلق د نصيحت او طنز په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ګ ، ړه کوه خ ، له به دې خوږېږي".

ګ ، ل په بوټي کښې ښۀ ښکاري

دا د هوښيارانو يو قول دے چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې يې د الفاظو څرګنده ده چې واقعي ګ ل په بوټي کښې تروتازه وي ، نو ښهٔ ښکاري. او کله چې د ټنډر نه جدا شي نو څهٔ لحظه پس مړاوے شي. ښکلا او بوي يې ختم شي او څهٔ لحظه پس خپله هم ورېژيږي او اخر ختم شي نهٔ بيا ګ ل وي ، نهٔ ښکلا او نهٔ يې بوي وي يعنې د ګ ل ښکلا د بوټي سره تړلې ده. د دې نه د متل مطلب دا شو چې هر هغه شے چې هغه د خپل اصل او نسل سره تړلے وي. يعنې خپل فطرتي ژوند کوي. نو هغه ښهٔ ښکاري. او چې کله هغه د خپل نسل او فطرت نه جدا شي يا جدا کړے شي. نو نهٔ يې ښکلا پاتې شي او نهٔ خوند رنګ ګ ل او د ټنډر دا فطرتي تړون او د ښکلا دا فلسفه مشرانو په متل کښې ستائېلې او څرګنده کړې او مطلب ترېنه دا دے چې هر هغه شے چې لکه د ګ ل نازک او ښکلے وي نو هغه په خپل فطرتي مقام ساتل پکار دي کله چې د اصل مقام نه جدا کړے شي نو هغه لکه د ګ ل مړاوے او ورېژيږي. يعنې ښکلا يې ختمه شي او اخر چې تباه برباد او ختم شي.

اکثر مشران يې په داسې موقع د نصيحت په توګه وړاندې کوي چرته چې څوک داسې د فطرت ، قانون او قاعدې نه خلاف څهٔ قدم پورته کوي. يعنې څهٔ شے د خپل اصل او فطرت نه جدا کول غواړي نو هوښياران ورته وايي چې ځوانه! که داسې دې وکړه يا دا کار دې وکړو نو دا شے به تباه شي ، يا به د دې څيز ژوند ختم شي. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه داسې مهٔ کوه! ګ ل په بوټي کښې ښهٔ ښکاري".

ګ ل د کدو ګ ل دے چې يو ترې شوکووم ترې لاندې بل دے

دا يو عام متل دے او معنې يې دا ده چې د کدو بوټے اکثر په زمکه خورېږي. او زېلۍ يې دومره ګڼې او ګورې وي چې يو د بل دپاسه خورې ورې او انجل بنجل شوې وي. هره زېله کښې بې شمېره ګ ل لونه توکيږي يعنې د کدو په بوټي کښې بې شمېره ګ ل لونه يو د بل دپاسه پراتهٔ وي ګ ل لونو دا ګوروالے او زيات والے مشرانو په دې متل کښې ستائېلے دے. يعنې مطلب دا چې د کدو په بوټي کښې په يو ځائے يو شان ګڼ ګ ل لونه وي. او د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب او اشاره هر هغه شي ته ده. کوم چې لکه د کدو د ګفلونو غوندې په يو شان يا په يو رنګ په ګڼ شمېر په يو ځائے راجمع شوے وي يعنې يا خو د کدو د ګ ل لونو په شان ګڼ او بې شمېره په يو ځائے ، يا يو موقع راجمع وي ، يا څوک په خوي خصلت ، رنګ جوسه ، جامه پېزار او په څنه سنګار کښې يو شان ، يا يو د بل دپاسه وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې داسې د يو بنده په حقله مشران څهٔ فېصله کوي او د هغهٔ په مرسته بل څوک ودرېږي. او د هغهٔ په حق کښې فېصله کول غواړي ، يا داسې په عادتونو او خوي خصلت کښې څوک يو شان وي. نو فېصله کولو او رائے ورکولو والا داسې وايي چې مونږ خو يو ژاړو يا مونږه خو يو ژړل او دا پکښې لا بل دے. او هم دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي ګ ل د کدو ګ ل دے چې يو ترې شوکووم ترې لاندې بل دے" ، يا د وادهٔ کوېژدنې په موقع ، يا د اختر شوقدر په موقع او يا د بلې څهٔ ښادۍ او خوشحالۍ په موقع چې زلمي او پېغلې په سر څنه ښهٔ سنمبال شوې وي. يعنې په زينت ، سنګار او په ښائست ښهٔ برابر وي يا يو د بل دپاسه وي نو په داسې وخت د هغه خلقو د يو شان ښائست او سنمبالښت په حقله مشران دا متل استعمالوي او داسې وايي ګ ل د کدو ګ ل دے چې يو ترې شوکووم ترې لاندې بل دے".

لکه چې ګ ل د کدو ګ ل دے
داسې ګ ل رنګې د وادهٔ په کور کښې وينه

ګ ل شې خو عمر دې د ګ ل مهٔ شه

ګ ل ، که هغه د هر څهٔ وي. ډېر ښائسته او ښکلے ښکاري خو د ګ ل عمر ډېر کم او لږ وي اکثر ګ ل لونه خو په ځوانه ځوانۍ او جوبڼ کښې خپل انجام ته ورسېږي. يعنې د بوټي نه وشوکولے او جدا کړے شي. او کوم چې په ټنډر پاتې هم شي نو هغه هم په لږو ورځو کښې مړاوے شي او ورېژيږي. يعنې خپل طبعي عمر يې ډېر لږ وي هوښيارانو د ګ ل دا ښکلا او ډېر لنډ تنګ عمر په دې متل کښې ستائېلے دے دسې خو دا د دعاګانو يوه جمله او فقره ده چې مشران يې د دعا په توګه کشرانو ته وربخښي ، يا ورته خپلې دعاګانې او

پېرزوګانې په دې قول ، جمله او يا متل کښې څرګندوي ، وربخښي او وررسوي. په خصوصي توګه کله چې بوډاګان او بوډېګانې مېرمنې چا ماشومانو ته دعاګانې کوي نو د دعاګانو او پېرزوګانو سره دا قول هم شاملوي. او داسې وايي چې "لوئے شې بچے خدائے دې ګ ۰ ل کړه" ، يا ګ ۰ ل" شې بچے خو عمر دې د ګ ۰ ل مۀ شه".

ګنجۍ ته چا وئېل چې ستا وادۀ دے هغې وئېل يقين مې نۀ شي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي کښې يوه ګنجۍ جينۍ وه. د هغې غريبې چې به کله کوېژدن جوړه شوه او د هلک کور والا چې به جينۍ وليده نو بيا به وروستو شول. داسې څو څو ځله رشتې جوړې او ماتې شوې او اخر چې د ګنجۍ هم د وادۀ نه طمع کني شوه. داسې په ورځو کښې يوه ورځ بيا د ګنجۍ بخت بېدار شو او په يو بل کلي کښې د وادۀ خبرې اترې روانې شوې. همزولو جينکو ګنجۍ ته د خوشحالۍ زېرے راوړو. مسخرې او ټوقې ټقالې يې ورسره شروع کړې. جينکو ګنجۍ ته وئېل چې خوشحالېږه وادۀ دې تيارېږي. ګنجۍ ته چې خپله ورځ او بخت معلوم وؤ نو ډېر په افسوس سره يې ځواب ورکړو چې زما يقين نۀ شي چې دا وادۀ به وشي. او داسې د ګنجۍ د زړۀ هغه وسوسې او اندېښنې مشرانو د متل په توګه مشهورې کړې. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې په دې کار يا خبره زما يقين نۀ شي چې دا به وشي يا سر ته شي.

نن سبا هم په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې د يو بنده په څۀ کار او خبره يقين نۀ راځي. نو هغه د خپل زړۀ کېفيت او حالت په دې متل کښې څرګندوي. او يا چې په څۀ کار او خبره کښې د څۀ شک او ګمان اظهار کوي ، يا د څۀ وسواس او اندېښنې څرګندونه کوي. نو داسې وايي چې هن! "ګنجۍ ته چا وئېل چې وادۀ دې دے ، نو هغې وئېل يقين مې نۀ شي".

ګيدړ د خپل سېوري نه هم وېرېږي

دا يو عام متل دے. او مشرانو په دې کښې د ګيدړ کمزوري او بزدلي څرګنده کړې ده. يعنې ګيدړ دومره وېرېدونکے او بزدله وي چې خپل سېورے ووينې نو هم د وېرې نه منډه وهي. حقيقت هم دا دے چې ګيدړ ډېر وېرېدونکے او په زړۀ کمزورے ځناور دے. د دې وېرې له کبله د ورځې ګيدړان ډېر کم کوز ليدے او کټے شي. يعنې د ورځې چرته په غارونو او فصلونو کښې پټ پراتۀ وي او د شپې په تيارۀ کښې راووځي او په مردارويا چرګانو پسې ګرځي. او ايله که د سپي غپ اوري يا بنيادم ويني نو بيا ملکونه پناه کوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګيدړ نر او باتور نۀ دے. بلکې وېرېدونکے او په زړۀ کمزورے ځناور دے.

اکثر په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې ډېر په زړۀ کمزورے وي. هسې بې هېڅه يا ايله په کش کړپ وېرېږي ، يا يې په زړۀ کښې د وېرې څۀ وسوسې او اندېښنې راولاړېږي. نو په داسې وخت او داسې بنده ته خلق وايي چې ستا مثال خو د ګيدړ دے! "د خپل سېوري نه هم وېرېږي" يا "لکه د ګيدړ د خپل سېوري نه وېرېږي".

ګيله د خپلو نه کيږي

دا د مشرانو قول دے چې د متل په توګه هم استعمالېږي. دا تورے (لفظ) "خپل" د خپلوانو (رشته دارو) دپاره هم استعمالېږي. او د ډېر نزدې خوږ ملګري او يار دوست دپاره هم. او دا خبره هم څرګنده ده. چې څومره خلق د يو بل سره نزدې او خواږۀ وي نو دومره يې مينه محبت زيات وي. خو د يو بل نه طمع او امېدونه هم زيات لري او چې کوم ځائے مينه محبت او طمع زياته وي نو هلته ګيلې شکوې هم زياتې راځي ، يا زياتې پېدا کيږي. د پردو خلقو تر مېنځ يعنې چې د يو بل سره د چا غم ښادي ، عزيزولي ، ناسته پاسته او ياري دوستي نۀ وي. نود هغوي تر مېنځه ګيلې وي او نۀ شکوې. د خپلولۍ او د خپلوانو دا حالات او ګيلې مانې مشرانو په دې متل کښې ستائېلې دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې د چا تر مېنځه چې تعلقات وي نو ګيلې مانې پکښې راځي او خلق کوي. د پردو خلقو سره نۀ تعلق وي او نۀ ترېنه څوک ګيله کوي. او هم د دې مطلب دپاره يې خلق استعمالوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک د چا نه څۀ کیله مانه وکړي. او هغه بنده په کیله باندې بد وکړي ، یا خفه او ناراضه شي نو هغه کیلې کولو والا ورته داسې وایي چې یار خفه کېږه مه. ما خو تۀ خپل کملې نو کیله مې در نه وکړه ، څکه چې: "کیله د خپلو نه کیږي".

Pukhto.Net
پښتو

"ل"

لاس د بري کار دے

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې د چا هم وس بر شي يا د چا هم لاس رسي نو هغه خپل مطلب سر ته کوي يا خپل غرض پوره کوي. او غلا غ ، لطي هغه کس نۀ کوي يا بېهي هغه څوک نۀ اخلي چې د چا لاس نۀ رسي. او يا يې وس نۀ رسي. او چې د چا هم لاس رسي يا يې وس بر شي نو هغه بيا خپل وس کوي. دا عمل او داسې خلق ن سبا ډېر زيات دي. او چې د چا لاس نۀ رسي. نو هغوي د ناکامه شېخان دي. کښې "پيشو ده تر هغه شېخه چې په غوښه نۀ ده پېښه". الله زده چې دا متل کله نه جوړ شوے دے. خو مطلب يې د نن سبا حالاتو او مخلوقاتو سره ډېر زيات تړون خوري.د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې په هر کار او هره خبره کشي چې دچا هم لاس بر شي او موقع بيا مومي نو هغه بيا د خپل بس نه زيات وس کوي او هم ددې مطلب دپاره يې مشران نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالوي چرته چې يو افسر ، پوليس يا زورور ، جابر او ظالم بنده د چا غريب او مسکين په حق خېټه وراچوي. څوک ترېنه د تپوس کولو والا نۀ وي ، يا نن سبا چې د غلا غ ، لطۍ کوم بازار گرم دے خاص د سرکار په کور او ادارو کښې چې کوم مکر ، فرېب (فراغ) غ ، لطۍ ، خيانت او رشوت په زور او جوبن کشي دے. نو زما غوندې بې وسه که نور هېڅ نۀ شي کولے نو صرف دا خو وئيلے شي چې:

هـــــــــــــر ځـــــــــــــائے لاس د بـــــــــــــري کـــــــــــــار دے
هاغـــــــه مـــــــو ســـــــرکار دے چـــــــې د چـــــــا پـــــــه لاس کښـــــــې کـــــــار دے

يا

هـــــــر ځـــــــائے لاس د بـــــــري کـــــــار دے د کوتـــــــک والا ده مېښـــــــه
کـــــــه دې ږيـــــــره چـــــــا لـــــــه ورکـــــــړه بيـــــــا وباســـــــي يـــــــې د وېخـــــــه

(فرهاد روغ لېونے)

لاس دې ازاد او تـ ، ورہ دې تېرہ

دا د هوښيارانو يو قول دے چې د متل په توگه هم استعمالېږي. د لاس ازاد نه مطلب دا دے چې گڼې تا ته اجازت دے ، تۀ ازاد يې چې څۀ دې خوښه وي يا څۀ کول غواړې نو هغه وکړه تېرې تـ ، ورې نه مطلب دے چې گڼې مړنے شه ، يا مړانه به دې گورم چې تـ ، ورہ تېرہ اوچلوې ، يا ښۀ مړانه وکړې. يعنې دا چا ته (چېلنج) خبردارے ورکول دي. او طنز يا پېغور هم ورکول دي. د دې نه د متل مطلب دا شو چې تا ته د تېرې تـ ، ورې چلولو اجازت دے او مړانه به دې گورم يا گورو به مړنے شه. او چې څۀ دې زړۀ غواړې هغه وکړه. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. نن سبا په داسې موقع استعمالېږي چرته چې د دوؤ غړو تر مېنځه څۀ لاندے باندے وي. او په بحث يا تکرار کښې که يو غړے په بل باندې دپکې دهراکې کوي يا دهمکۍ ورکوي. نو هغه بل ورته په ځواب کښې دا متل وړاندې کوي او وايي چې څه مړه گورو به لاس دې ازاد او تـ ، ورہ دې تېرہ".

لاس لاس پېژني

دا د هوښيارانو قول دے. چې د متل په توگه هم استعمالېږي. مطلب يې دادے چې گڼې د کوم لاس نه څۀ واخستے شي نو هم هغه لاس ته واپس کول پکار دي. يعنې چې د چا نه څۀ قرض پور يا د استعمال څۀ څيز واخستلے شي نو بيا واپس هم هغه بنده ته رسول پکار دي ، يا که څوک د چا سره څۀ شے امانت کېږدي نو هغه امانت خپل مالک ته واپس کول پکار دي. يعنې که د مالک نه علاوه

څوک بل بنده د هغه امانت ، پور او يا د هغه څيز تقاضه کوي يا د اخستلو تکل او هڅه کوي نو هغۀ ته ورکول يا سپارل نۀدي پکار. بلکې د مالک لاسو ته رسول پکار دي. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او څرګنده کړے دے.

نن سبا په داسې موقع استعمالېږي چرته چې څوک د چا نه د پردي شي تقاضه کوي يا ترېنه اخلي يا د اخستلو تکل کوي. او هغه سړے هغه امانت يا پور ورکول نۀ غواړي. او په خپل لاس يې مالک ته ورکول يا رسول غواړي. نو دا متل ورته وړاندې کوي. او داسې وايي چې يار! "لاس لاس پېژني" يعنې چې ما له چا راکړے دے هغۀ له به يې واپس کووم ، يا د امانت او قرض مالک وايي چې دا امانت ، دا څيز او يا دا رقم به بل چا له نۀ ورکوې. بلکې ما له به يې په خپل لاس راکوې. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او وايي چې: "لاس لاس پېژني".

لږ خوره تل خوره ډېر خوره ګنډېر خوره

د يو حديث شريف مفهوم دے. فرمائي چې کله ډوډۍ خوړل مزه درکړي نو لاس ونيسه. يعنې خوراک بس کړه. مطلب دا چې لږ خوراک کوه. او داسې د ډېرو حکيمانو هم دا وېنا ده. چې ډوډۍ په نيمه خېټه خوړل پکار دي. يعنې نيمه خېټه يا نيمه معده خالي پرېښودل پکار ده. چې خوراکه ورکښې په اسانه او ښۀ هضم شي. هغه څوک چې په خېټه ميړي ارغړوي. اکثر د معدې په مرضونو کښې اموخته وي. کله چې بنيادم ځان ښۀ پونکے کړي. يعنې تر مړۍ مړۍ شي نو معده يې خرابه شي. يعنې اولتۍ ، دستونه کوي ، طبيعت يې خته خته او زړۀ تنګ وي. بيا يې هم معده سوزي او هم زړۀ. نو دا داسې شوه چې هغه خوراک ورته ګنډېر شو. هم داسې حالات مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړي دي او مطلب يې دا دے چې څوک لږ يعنې په حساب سره خوراک کوي نو خېټه او معده به يې روغه وي. او مدام به خوراک کولے او هضمولے شي. او چې څوک د حسابه زياته خوراکه وکړي نو اکثر يې معده خرابه وي. او هغه خپل خوراک ورته زهر يعنې ګنډېر جوړ شي.

دوېم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے چې کټ په څۀ کار يا په څۀ شي کښې زياتے نۀ دے پکار. يعنې هغه کار پکار دے چې بنيادم يې ټول عمر کولے او زغملے شي. د خپل ځادره سره پښې غزول پکار دي. او د خپل مقام او حېثيت نه زيات دانکل نۀ دي پکار. کټ يوه ورځ به ورته هغه زياتے ګنډېر جوړ شي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې يې درېغه خوراک کوي يا څوک په څۀ کار کولو کښې په ځان زياتے کوي. يعنې د خپل وس طاقت نه زيات کار کوي ، يا وزن اوچتوي او وړي. نو په داسې وخت داسې خلقو ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه کژاره کوه ځان مۀ خرابوه! "لږ خوره نو تل خوره او ډېر خوره نو ګنډېر خوره".

لعل په ايرو کښې نۀ پټيږي

لعل يا ملغلرې هغه قيمتي کاڼي دي چې خلق يې ډېر خوښوي. لعلونه په ښائست او ښکلا کښې يو د بل دپاسه وي. کله چې دا کاڼي په کارخانه کښې صفا سـتهره وتراشلے شي نو داسې لش پش او برېښنا کوي چې زړونه ورته پسخيږي. دې لش پش او پرقيمته کاڼي ته څوک هيره وايي ، څوک لعل او څوک ملغلره. دا ملغلرې څوک د زينت او سنګار دپاره په کالو پټرو کښې پيږي. او څوک يې د حېثيت او مقام اوچتولو او د ښودلو دپاره ساتي او استعمالوي. د لعل يا د لعلونو دا ښکلا او برېښنا مشرانو په دې متل کښې ستائيلې ده. او مطلب يې دا دے چې کټې که لعل په ايرو کښې پټ کړے شي. نو د هغې هغه ښکلا او برېښنا پخپله ځان څرګندوي يا ښکاره کوي. يعنې لعل په خپله ځان ښکاره کوي. او دا مطلب مشرانو د بنيادم سره په مثال ورکړے دے. او مطلب ترېنه هغه بنيادم دے چې هغه لکه د لعل په خپل قابليت او خصوصيت پخپله ځان ښکاره کوي.

نن سبا هم د داسې چا په حقله استعمالیږي چرته چې څوک د خپل علم ، هنر ، حکمت ، خوئي ، خصلت ، اخلاق او عمل ، عقل او هوښیارتیا له کبله مشهور شي. بلکې د ژوند هر اړخ چې د هغهٔ د قابلیت له کبله لکه د لعل ځلیږي. نو که داسې بنده د زمانې او د حالاتو په ګردش کښې ډېر هم د غریبۍ او د ناانصافۍ په خاورو یا ایرو خړ پړ شي خو بیا هم هغه ځان پخپله داسې څرګندوي لکه چې لعل په ایرو کښې ځلیږي. نو د داسې بنده په حقله وئیلے شي چې دا خو لعل دے لعل او: "لعل په ایرو کښې نهٔ پټیږي".

لکه د موټو غلا کښې چې ګېر شي

دا یو عام متل دے. موټ یو قسمه ګیا ده چې زمیدار یې کري. موټ لکه د دالو شان دانې هم کوي او لکه د مېو غوندې یې خلق د پخکړي (سالن) په توګه پخوي هم. او اکثر د مېو سره ګډ وډ پخولے شي. نو ځکه دواړه په یو ځائے یادولے شي. یعنې چې کله هم ذکر کیږي نو داسې وئیلے شي چې "مې موټ" یعنې دواړه په یو شي یا یوه معنی ګڼلے او منلے شي. خو زیات تر یې زمیدار د ګیا دپاره کري او استعمالوي. د جېټ په میاشت کښې کرلے شي او د هاړ او پشکال میاشتو له رارسي. دا ورځې په زمیدارو ډېرې سختې وي. یو خوا د غنمو سنمبالښت وي او بل خوا د تماکو خصمانه او تیارے وي. بله غټه مسئله دا وي چې په دې ورځو کښې بله څهٔ شنه ګیا نهٔ وي. بلکې صرف مې موټ وي. چې د زمیدارو ګزاره پرې روانه وي. ځکه په دې ورځو کښې زمیدار ته دا ګیا ډېره قیمتي او ناویاته وي. او لازمي ده چې د چا څهٔ قیمتي شے پټیږي نو هغهٔ ته پرې زیات تکلیف رسي. په دې ورځو کښې چې د موټو غلا وشي نو زمیدار پرې ډېر سخت خفه او غصه وي. د بده مرغه که غل چرې په غلا کښې ګېر شو نو بیا یې ترېنه د بوسو سخے جوړ کړے وي. او په وهلو یې د حلوه د خوراک کړے وي. موټ ، غلا ، د زمیدارو خفګان او غصه او د غل هغه حالت او کېفیت مشرانو په دې متل کښې ستائیلے او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې څوک ډېر زیات وهل او ټکول یا ورته ډېر زیات کنځل وېنا او زورنه ورکول.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک غریب سړے د چا ظالم د مټ د لاندې ګېر شي . په وهلو یې ښهٔ ټکوسترے کړي او لا زړهٔ یې پرې یخ نهٔ وي. یعنې د پرېښودو او معاف کولو اراده یې نهٔ وي نو د خلاصي والا خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې ظالمه بس کړه. تا خو ورسره داسې عمل وکړو! "لکه د موټو غلا کښې چې ګېر وي".

لکه د بغ په تیاره جاله کښېنې

دا یو ساده او عام متل دے. لکه څنګه چې معلومه ده چې هوښیارانو په هر څیز پسې متلونه مشهور کړي دي. دا متل هم د مرغانو د کورنۍ د یو مارغهٔ بغ په خوي خصلت او عادت پسې جوړ شوے دے. بغ یو مارغهٔ دے چې د رنګ نه سپین او په ملا یا شا باندې لږ شان خړ ، او یا تور وي. پښې او څټ یې دنګ لوړ وي. نو ځکه ورته په ځنو علاقو کښې ډینګ هم وئیلے شي. مښوکه یې هم اوږده او لږه شان کږه وي. د سیندونو ، خوړونو او ډنډونو په غاړو کښې وسي. د اوږدې مښوکې له امله په اوبو کښې د مهیانو او چیندخانو ښکار کوي. د هوښیارانو خبریالو خبره ده چې بغ پخپله جاله نهٔ جوړوي. بلکې د بل مارغهٔ په تیاره جاله قبضه وکړي. او په هغې کښې اګۍ بچي کوي. د بغ هم دا عادت مشرانو په متل کښې مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې خپله ځان نهٔ کړوې ، یا خپله محنت خواري نهٔ کوې. بلکې په تیاره کښې ځانله ګټه او سود وباسې.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي. چرته چې څوک داسې د چا په تیار کور او یا په کاروبار قبضه وکړي یا د چا په روان روزګارکښې ځان شاملوي ، فائده او ګټه تر لاسو کوي. نو هغهٔ ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې خپله ځان نهٔ کړوې بس! "لکه د بغ په تیاره جاله کښېنې".

لکه د چرګ ښې له هم ټغه ټغه او بدې له هم

دا یو عام متل دے. د چرګ نیول څهٔ ګران کار نهٔ دے. بس لږه منډه او خواري غواړي. مطلب دا دے چې کله هم چرګ نیولے شي نو هغه منډې او چغې وهي. که یې د ښې دپاره نیسې او که بدې له. خو د چرګ عادت دے چې چغې سورې وهي. یعنې ټخه ټخه کوي. د چرګ دا ټخه ټخه عادت مشرانو په دې متل کښې ستائیلے او مشهور کړے دے. او مطلب یې دا دے چې ګنې په خپله ګټه تاوان

او سود زيان نۀ يې ، يا نۀ پوهيږي. په دواړو دې يو شان عمل وي ، يا دواړه يو شان کمي. يعني که څوک درته د خپر ښېګړې خبره کوي يا درسره څۀ مدد مرسته او احسان کوي نو هم تۀ خفه. او که څۀ بد يا د بدې خبرې کوي نو هم تۀ ناراضه او غصه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. جرتە چې څوک د چا په ښۀ کار يعني احسان کښې هم خبرې کوي ، خفه او غصه شي. او بد خو بيا وي بد ، يا کله چې مېندې ماشومان لښوي يا ورله سر ځنې کوي نو ماشومان ورته اکثر ژاړي. نو په داسې موقع ورته مېندې دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ستا مثال خو د چرګ دے! "لکه د چرګ ښې له هم تخه تخه او بدې له هم".

لکه د خارو خ ، ور ځائے وهي

خارو يوه ښکلې مرغۍ ده. دا خلق په کورونو کښې ساتي هم. خو په مېرو ، ورشو او ځنګلو کښې ډېرې لېدے کېږي شي. زمونږ په سيمه کښې د خارو په نسب يا نسل کښې دوه قسمونه ډېر يوې سره مښوکه وي چې ورته س ، ور مښوکي خارونې وئيلے شي او دا په ځنګلو او شارو مېرو کښې وسيږي. اکثر جرتە په کمرو او ډېرو کښې سوړې /سوري کوي او اکې ، بچي پکښې کوي. دوېم قسم دے چې د هغې مښوکه زېره وي. او دې ته دوګر خارونې وئيلے شي. دا خارونې د کلو په خواوشا په ونو بوټو کښې او اکثر د کورونو په بلو کښې جالې جوړوي. دا نسل د بنيادم سره عادت ښکاري. اکثر يې خلق په کورنو کښې ساتي. او ساتلې خارو لکه د طوطي غوندې خبرې هم زده کوي. ځکه ورته ځنې خلق اصيله خارونې هم وايي.

س ، ور مښوکي خارونې چې اکثر په شارو او مېرو کښې کرځي او چې کوم ځائے ځاروي ځري نو دا خارونې ورته ډېرې راجمع کېږي. او چې جرتە داسې څوا مېښې ځۀ شا ټوټې کړېدلې وي نو دا خارونې په هغه ځائے کښېني او هم په هغه خ ، وګ ځائے ټونګې وهي. او هغه لږ شان کړېدلے ځائے په ټونګو وهلو ښۀ او زيات ژوبل (زخمي) کړي. او د دوي د لاسه هغه ځاروے ناقلاره ، بې ارامه او بې کوره شي. په خ ، ور ځائے د خارو ټونګې وهل او هغه ځاروي ته تر ښه درد تکليف رسېدل ، مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او مطلب تر ښه دا دے چې کنې په هغه ځائے کوذار کوي يا وهي چې کوم زيات درد کوي ، يا په کوم ځائے چې د ټونګو وهلو نه تکليف زيات رسي.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي جرتە چې څوک بنده د چا خ ، وګ ځائے لټوي. يعني هغه کار يا هغه خبره کوي چې بل ته تر ښه تکليف او خفګان رسي ، يا د چا داسې د پردې او د راز خېرېيانوي چې هغه وړاندې شرمېږي ، خفه کېږي او غ ، صه کېږي يعني په ټوټو ټقالو ، يا قصدا ، په خبرو اترو کښې داسې ټک يا ټکونه ورکوي چې په خ ، ور ځائے ټونګې وهي. نو په داسې وخت او داسې بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې خانلګه د خارو خ ، ور ځائے وهي".

لکه د م ، لا بهادر په اودس کښې کرځو

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره دوايي چې پخوا په زمانه کښې يو م ، لا وؤ چې ډېر علم او حکمت يې حاصل کړے وؤ. دۀ به د پېريانو دم درود او تعويذونه هم کول. او د پېريانو سره به يې جرګې ، مرکې او مقابلې هم کولې. دې له کبله دے په په م ، لا بهادر مشهور شوے وؤ. وايي چې يوه ورځ يې د پېريانو سره څۀ مقابله وه. چې په هغې کښې يې پېريانو له ماتې ورکړې وه. پېريانو ورته سوګند کړے وؤ چې دا م ، لا به ارو مرو وژنو. لا بهادر سره خپله هم احساس او وېره وه. نو هغه به هر وخت په اودس کښې کرځېدو. چې د پېريانو د شر نه په امان وي. او داسې وايي چې د اودس له برکته پرې پېريانو حمله نۀ شوه کولے. ځنې خلق وايي چې يوه ورځ پېريانو کېږ کړو. او وني پورې يې اپوټه زورند کړے وؤ. م ، لا بهادر خو چې هر څۀ انجام وؤ خو د هغۀ په اودس يعني (په پال پرهېز) کښې کرځېدل مشرانو په دې متل کښې مشهور کړل. او مطلب تر ښه دا دے چې کنې دېر په خيال ، پام او په پال پرهېز کښې کرځېدل او وسېدل.

نن سبا په داسې موقعو کښې استعمالېږي جرتە چې څوک د چا د وېرې له کبله څۀ خبره نۀ شي کولے ، يا د چا تنک نظره او تنک زړۀ والا بنده سره روز ګار شي. چې هغه په لږه خبره غصه او خفه کېږي. او د هغوي د خوشحاله او رضا ساتلو دپاره چې هغه مجبوره سړے دېر په پام ، خيال او پال کښې ژوند کوي. نو هغه ځپل حالات او ژوند په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې يار مونږ خو! لګه د م ، لا بهادر په اودس کښې اوسو يا کرځو".

لکه فقير ته چې ميلو اوبخښې

په پښتو کښې فقيران هغه خلقو ته وئيلے شي چې غريب ، مسکين خلق چې په لارو کوشو کښې خبر غواړي. لکه داسې فقيران په يو مشهوره ټپه کښې هم ستائيلے شوي دي. وايي چې:

فقيـــــــــــــــره دوه کټـــــــــــــــي دي وکـــــــــــــــړي
يـــــــــو دي خبـــــــــر يـــــــــورو بـــــــــل دي وکـــــــــړۀ ديدنونـــــــــه

خنې فقيران داسې هم وي چې مداريان ورته وئيلے شي. دي خلقو ميلو ، بيزه او شادو ساتلې وي. او په لارو کوشو کښې يې کډوي يا ور باندې د ټوقو ټقالو کړتبونه ، چالونه او تماشې کوي. او په دې تماشو کښې ورله خلق پيسې ټکي ورکوي. يعنې هغه شادو يا ميلو د پيسو کټلو يا راټولولو يوه ذريعه وي ، يا د هغۀ د کنې وتې يو کاروبار او روزګار وي. داسې يو خوا هغه فقيران وي چې ټوله ورځ در په در خاورې په سر وي او په لارو کوشو کښې د خلقو منت زاري کوي. او خبرات زکواة غواړي. او بل خوا هغه مداريان دي چې ميلو کډوي ، يا د شادو او ميلو تماشه کوي. او په دې روزګار کښې د نورو فقيرانو نه زياتې پيسې ټکي کنې او جمع کوي. د فقيرانو هم دا حالات مشرانو په دې متل کښې څرګنده او مشهور کړے دے. او مطلب ترينه دا دے چې کنې که څوک داسې سر والے بر والے فقير ته ميلو وروبخښي يا ورکړي نو هغه فقير به ځومره خوشحاله شي. يعنې ډېر زيات به خوشحاله شي. ځکه چې هغۀ له د پيسو کټلو او جمع کولو يو روزګار او ذريعه په لاسو ورغله. په دې متل کښې هم د فقير هغه در په در او سروالے بروالے ژوند او بيا د ميلو په ميلاوښدو د خوشحالښدو هغه حالت او کيفيت ستائيلے شوے دے. او مطلب ترينه دا دے چې د ځۀ شي په ميلاوښدو ډېر زيات خوشحالښدل. اکثر په داسې موقعو کښې استعمالېږي جرته چې داسې جا ته د ځۀ کار روزګار له کبله يا د ځۀ شي په ميلاوښدو يا د جا بنيادم له کبله يا د حا له ارخه ډېره زياته خوشحالي ميلاؤ شي نو په داسې وخت دا متل استعمالېږي او هغه بنده د ډېرې خوشحالی نه داسې وايي چې لکه زۀ خو دې دومره خوشحاله کړم ، يا دا خو داسې شوه! "لکه فقير ته چې ميلو وبخښي".

لکه کډو کښې چې خر وي

دا يو عام او ساده متل دے. نن سبا هم خلق کډې ساتي. خو پخوا زمانه کښې به کډ بنو ډېرې ساتلې. د هغوي د ژوند ژواک ګزران به هم د کډو په ساتنه کښې وؤ. يعنې دکډو په امدن به يې ژوند کولو. د کډو سره کډبانه يو خر يا خره ساتي چې د کډو په کنډک کښې کرځي او خري. په دې خر يا خره باندې کډبنو خپل لوښې لرګي تړلې وي. د ساګ خشاک او کيا وړلو راوړلو کار ترينه هم اخلي. که جرته په ورشو او مېرو کښې ورته کډه ناروغه شي ، مړه شي او يا لنګه شي نو هغه هم په خر باندې راوړي. کډې اکثر د رنګه سپينې وي. د وني نه يعنې قد باندې هم ورکوتې وي. بل خوا خر اکثر تور او يا خړ وي او د کډو په نېز په قد کاټ کښې خر دنګ وي. ځکه د خپل قد او رنګ له کبله د ورايه ليدے او پېژندے شي. چې دا په کډو کښې خر دے. او په کډو کښې د خر دا خړښدل يا ورکډښدل ځۀ عجيبه غوندې ښکاري. په کډو کښې د خر دا عجيبه ښکارښدل او د ورايه پېژندل مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړي دي. او مطلب يې دا دے چې کنې خر په کډو کښې له ورايه ليدے او پېژندے شي. او په کډو کښې ښۀ هم نۀ ښکاري. دا متل د هر ځۀ شي او بنيادم په حقله استعمالېږي جرته چې ځۀ شے يا بنيادم د خپل نسل او نسب نه جدا د بل په ډله وي ، يا څوک د خپل عمر نه کم د ماشومانو په ډله وي. نو مشران ورته وايي چې کټې تۀ په دې ډله کښې ښۀ نۀ ښکاري ، يا ستا جوګه نۀ دي ، يا تا سره نۀ ښايي چې د دوي ملګرتيا وکړي. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې داسې ښکاري! "لکه کډو کښې چې خر وي".

لمدو لمدو اور درغے د اوچو له کبله

دا يو ساده او عام متل دے. او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي . ی او مطلب يې جدا جدا دي. لوند خشاک او لمدۀ لرګي په اسانه سره اور نۀ اخلي. يعنې که لوند لرګي ته څوک اور ورته کوي نو هغه نۀ بلېږي. او د لمدو په نېز اوچ لرګي ډېر زر اور واخلي او بلېږي. او که د اوچو سره لمدۀ لرګي يوځائے کړے شي نو د اوچو لرګو په سوزېدو سره هغه لمدۀ لرګي هم اور واخلي او سوزېدل

شروع کړي. مطلب دا چې داسې اوچو لرګو ته يا اوچ خشاک ته که اور ورته کړے شي نو د هغې له کبله بيا لمدۀ لرګي او ساګ خشاک هر څۀ سوزي. د اوچو سره د لمدو دا سوزېدل ، يا اور اخستل مشرانو په دې متل کښې ستائيلې او مشهور کړي دي. او مطلب ترينه دا دے چې ګڼې د يو په ګناه او غلطۍ کښې څوک بل څوک هم ګېرېدل ، سزا کېدل ، خوارېدل او کړېدل. يعنې څۀ ګناه او غلطي د يو بنده وي او ورسره څوک بل بنده هم په مصيبت ، غم ، کراؤ او لړزان کښ شي. نو دا داسې شوه چې د اوچو له کبله لمدۀ هم سوزي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د بل چا په تېلو کښې سوزي. يعنې د بل په وجه په غم مصيبت کښې کېر شي ، يا څۀ زيان او تاوان ورته ورسي ، يا د چا په ملګرتيا کښې ورته څۀ بدي او دښمني ورپېښه شي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او وايي چې: "لمدو لمدو اور درغلو د اوچو له کبله".

د لمـــــــــــدو خپلـــــــــــه قصـــــــــــور نـــــــــــۀ وي
لمـــــــــدۀ د اوچـــــــــو پـــــــــه کتـــــــــاه ســـــــــېزلے شـــــــــينه

لنډے حلال نه او خانک په سر نيولے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې قصاب او قصابي ډېره کمه کوزه وه. خلقو به جرته په اختر شوقدر کښې غوښه خوړله. او يا به جرته د چا څاروے مر شو نو هغه به يې په چم کاوند کښې خېرات کړو. او داسې به د چم کاوند اختر جوړ شو. وايي چې د يو زميدار سړي يو غوائے ناروغه شو. د چم کاوند خلق يې پوښتنې له ورغلل. چې په غم کښې شريک شي. په دغه چم کښې يوه کونډه بوډۍ هم وسېدله. هغه چې کله خبره شوه نو هغې هم خانک په سر کړو او زميدار کره روانه شوه. په لاره ترينه چا تپوس وکړو چې اېې جرته ، اېې ورله ځواب ورکړو. چې خانه اوربدلي مې دي چې د خاني غوائے ناڅوره دے. ورځمه که نور څۀ نۀ وي نو لرے کولمې خو به راکړي. هغه سړي ورته وئېل چې زوروري لنډے حلال نه او تا خانک په سر نيولے. يعنې غوائې خو لا حلال شوے هم نۀ دے. او تا خانک په لرو کولمو پسې روان کړے دے. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه. مطلب ترينه دا دے چې ګڼې څۀ کار يا څۀ خبره شوې نۀ ده او ټۀ ورله تيارے ، تاييا يا بهانه د مخکښې نه لټوي ، جوړوي او يا ګوري.

نن سبا په داسې موقعو او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د څۀ کار نه مخکښې تيار وي يا تيارے شروع کوي ، يا د څۀ کار د کېدو څۀ پته نۀ وي او بنيادم هسې د مخکښې نه ځان له زړۀ خوري. يعنې سوچونه او فکرونه کوي. نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "لنډے حلال نه او خانک په سر نيولے". داسې يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره ترون خوري او هغه دا چې: "خور لا لرې دے او بهې د اوس نه راکاږي".

لنډے د چکرو عادت دے

قيصه:

پخوا په زمانه کښې به زميدارو خلقو په ځناورو هم نومونه کېښودل. او دا نومونه به اکثر د هغې ځناورو د وجود د څۀ کمې زياتې يا په بدن د څۀ نخښې نښانې له کبله کېښودے شول. لکه د کوم څاروي چې به ښکرې لاندې غاړې ته کاړۀ وو نو هغه څاروي ته به يې چيے وئېلو. او د کوم څاروي چې به په تندي سپين چاپ وؤ نو هغۀ ته به يې چرکے وئېلو. او چې د کوم څاروي به لکۍ لنډه وه نو هغه به په لنډي ياد وؤ. او برګ بروګ ته برکے او داسې نور ډېر نومونه وو. وايي چې داسې پخوا يو زميدار يو لنډے غوايے ساتلے وؤ. لنډے په وجود ښۀ تکړه او پهلوان وؤ. ځکه به مالک هر کار ته ورلاندې باسلو. يعنې د زميدارۍ ټول دارومدار په لنډي روان وؤ. يوه ورځ باران شوے وؤ او ټولې لاړې کوڅې د بوختو او چکرو نه ډکې وې. زميدار چې کله د پټې نه راتلو نو ښۀ دروند بار يې په لنډي وراچولے وؤ. په لاره کښې يو بل ملګرے زميدار په مخه ورغے. هغۀ چې د لنډي بار ته کتل او هغه ختو او چکرو ته يې کتل نو هغۀ د لنډي مالک ته يې وئېل چې اے ظالمه! تۀ دې بوختو او چکرو ته هم نۀ ګورې. په لنډي دې دومره بار وراچولے دے. هغه مالک ورته وئېل چې غم مۀ کوه يار! لنډے د چکرو عادت دے. او هم دا خبره وروستو هوښيارانو د متل په توګه مشهوره کړه. او مطلب يې دا دے چې ګڼې د سخت کارونو او د داسې حالاتو عادت دے.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي. چرته چې څوک داسې د سخت کارونو ، مصيبتونو ، غمونو ، تکليفونو ، بېکارونو ، کړامو او شخړو عادت وي ، يا ورته د مجبورۍ نه غاړه ږدي. نو په داسې موقع هغه بنده خپل حالات ، مجبوري يا رضامندي په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "لنډے د چکړو عادت دے".

لوبه په غ ، لطۍ تودېږي

لوبه يا لوبې د ماشومانو هغه معصومې مشغولاګانې وي چې هغوي ورکښې خپل ځان مشغولوي. او ژوند خوندي کوي. نن سبا خو دنيا ډېر پرمختګ کړے دے او د ماشومانو زړې لوبې هم لکه د ژوند د نورو اړخونو رنګې بدلې شوې او نوې جوړې شوي دي. خو د پخوا زمانې لوبې به ماشومانو په لارو کوڅو او پولو پټو کښې خوندي کولې. دا لوبې به دوه په دوه هم وې او د دوؤ ډلو تر مېنځه هم. د هرې لوبې به ځانله خپل ترتيب ، ا ، صول او قانون وو. لوبه کښې چې به کوم ماشوم د ا ، صولو حدونه مات کړل ، يا به يې پکښې څۀ چل ول وکړو نو دې ته به يې غ ، لطي اوښلله لطي کولو والا ته غ ، لطي کړل. چې به يو ماشوم غ ، لطي وکړه او بلې ډلې به په غ ، لطۍ ګېر کړو نو بيا به په يو بل الزامونه او تورونه لګېدل. تکرار به شروع شو او دواړه ډلې ماشومان به يو بل ته سرۀ او تودۀ شول. په دې تود بحث او تکرار کښې به کله لوبه ورانه شوه او کله به بيا سر دوباره په ت ، ندۍ او نوي جوش او جذبې سره شروع شوه. د لوبو دا ګرموالے ، يا تودوخه مشرانو په دې متل کښې ستائېلې او څرګنده کړې او مطلب ترېنه دا دے چې په لوبه کښې غ ، لطي نۀ وي نو لوبه سړه وي. او په لوبغاړو کښې هغه جوش او جذبه نۀ وي. په کومه چې لوبه تودېږي مطلب دا چې د غ ، لطۍ نه د لوبغاړو جوش جذبه راتازه کېږي او د جوش سره لوبه سره کېږي او تودېږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې يو بنده په څۀ کار يا خبره کښې د بل چا څۀ غ ، لطي او چالاکي ونيسي او د چالاکۍ يا غلا غ ، لطۍ حساب کتاب او تپوس پوښتنه ترېنه کوي. هغه چالاکه او غ ، لطي مار سړے د خبرې ختمولو ، يا خبره په ټوقو اړولو دپاره دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرېږده يا لوبه په غ ، لطۍ تودېږي".

لور په ل ، وټه نۀ تېرېږي

په لوټه لور تېرول د پښتو محاوره ده چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي يعنې ، ی يې د الفاظو نه څرګنده ده. لکه څنګه چې دا خبره ښۀ معلومه او منلے شوې ده چې په لوټه باندې لور نۀ تېرېږي. بلکې د لوټې او خاورې سره لور پسېږي او لا نو رخرابېږي. نو داسې که څوک په لوټه باندې هر څومره لور مږي يا راکاږي نو هغه به تېرۀ نۀ شي بلکې نور به پڅ او خراب شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې هم داسې که يو بنيادم څه په داسې طريقې او ترتيب سره لګيا وي کار کوي يا د کولو هڅه کوي چې هغه طريقه او ترتيب د هغه کار د کولو نۀ وي. بلکې په هغه طريقې سره د هغه کار د ورانېدو او خرابېدو خطره وي او د هغه غړي خواري او محنت هم ضائع شي. يعنې خواري او محنت يې بېکاره او عبث لاړ شي نو دا داسې شوه لکه چې په لوټه لور تېرۀ کوي او هسې عبث خپل وخت او محنت ضائع کوي. په داسې وخت او داسې بنده ته مشران دا متل وړاندې کوي. او داسې وايي چې لور په لوټه نۀ تېرېږي يا په لوټه لور مۀ تېروه. د نورالامين احساس شعر په دې متل راوړم:

هـــــر يـــــو کـــــار لـــــه خپـــــل اوزار وي
لـــــور پـــــه لوټـــــه نـــــۀ تېرېـــــږي

چـــــا تـــــه چـــــې قـــــدر د وخـــــت نـــــۀ وي
مـــــدام پـــــه لوټـــــه تېـــــرول د لـــــور کوينـــــه

ل ، ورې تاته وايم اينګورې تۀ يې واوره

د سرو (نارينۀ) خو هسې نوم بدنام دے. کټې ښځو ته خو زيان ، تکليف ، غم او خفګان مدام د خپل ذات يعني د ښځو د لاسه رسېدلے وي. ښځې که ورندار او اينډرور وي ، که خوابې اينکورا و يا که يورياني او يا بنې وي. خو د يوې بلې دښمنانې وي. او بيا په ټپره ټپره د خوابې او د اينکور خو لکه د پيشو او د منرک وي. که خوابې دېره هم ښۀ شي خو اينکور ته نۀ ښۀ کيږي. او داسې که اينکور د خوابې دېر هم خدمتګاره او تابعداره وي خو بيا هم ورته کله نه کله خوابې بېې رابښکلې او کوتک په لاس وي. د خوابې او د اينکور دا فطرتي او ازلي دښمني مشرانو په دې متل کښې ستائيلې او مشهوره کړې ده. او مطلب يې دا دے چې خوابې کله نېغ په نېغه د اينکور سره خبره کول نۀ غواړي ځيا ، له کېه ول نۀ غواړي ، او نو خبرې ، وېنا او زورنه ورته رسول هم غواړي ، يا يې خفه او زهيره کول غواړي. نو هغه وېنا ، زورنه ، غصه او پېغورونه ورته په داسې انداز اوروي ، رسوي او يا ورکوي چې خپل ځان وربانديې کړم او بدنامه نۀ کړي. او اينکور زهيره او خفه هم کړي.

دا وېناګاني ، ښېرې او پېغورونه کله په هوا کښې د ځان سره لګيا وي. کله د ماشومانو بهانه جوړه شي او چې هيڅ هم مېلاؤ نۀ شي نو جرګ جرګورے خو جرته تلے نۀ دے. پخوانو بوډې کانو مېرمنو به اکثر خپله غصه په جرګانو ويستله. بهانه به يې جرګان وو. خو ښېرې ، کنځلې او وېناګاني به يې اينکور ته اور ولې. او داسې به يې د زړۀ تاؤ ويستلو او يخولو. د دې متل مطلب هم دا دے چې کټې ځنې وخت مور لـ ، ور ته په غصه کښې ځۀ وېنا او زورنه کوي. خو مطلب يې اينکور ته اورونه وېنې بهانه لـ ، ور شي خو زورنه اينکور له ورکوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې يو سړے يا ځوک مېرمن بل جا ته په اشارو او بهانو وېنا ، زورنه او خبره رسوي ، يا ورته غصه او غم خفګان وربښکاره کوي. نو په داسې وخت او د داسې خلقو په حقله مشران وايي چې د دې مطلب دا شو چې: لـ "وري تاته وايم او اينکورې تۀ يې واوره".

" "
م

ما باغ ولیدۀ ما د باغ مالیار ولیدۀ

دا یو عام متل دے۔ د باغ سره د مالیار د لیدلو نه مطلب دا دے چې کنې د باغ د حال نه ما مالیار وپېژنلو. یعنې که د باغ ونې بوټې او ګ ، لمونه تروتازه وي. چمونه یې شنۀ او ونې د مېوې نه ډکې ولاړې وي نو د دې نه دا معلومه شوه چې مالیار ښۀ محنتي او خوارې کښ بنده دے۔ ښۀ په محنت ، مشقت او خواری سره یې باغ سنمبال کړے او ساتلے دے۔ او چې باغ شار ، چار او جاښه وي. نو د داسې باغ نه هم د مالیار پته لګي یا پېژندے شي ، چې مالیار څومره محنت او خواري کړې ده. د باغ او د مالیار دا نسبت ، حالت او کېفیت مشرانو په دې متل کښې ستائیلے او مشهور کړے دے۔ او مطلب یې دا دے چې کنې د څۀ کار نه یا د څۀ ځائے نه د هغۀ د مالک یا کار کوونکي پته لګي. چې هغه څۀ قبیلې نه دے ، یا څومره په اوبو کښې دے۔ یعنې د چا د خوې خصلت ، خوښه ناخوښه او د سرېتوب اته پته د هغۀ د ناستې پاستې د ځائے ځائیکي نه لګېدے او پېژندے شي. او داسې د چا د کار او روزګار نه د هغۀ پته لګي. چې دا څومره محنتي یا څومره استاذ او هنرمند دے۔ او هم د دې مطلب دپاره استعمالیږي چرته چې څوک داسې د چا د څۀ کار نه ، یا د هغۀ د علم او هنر نه خوشحال شي. په سترګو او زړۀ یې خواږۀ ولګي. نو د هغۀ صفتونه او ستائینه په دې متل کښې کوي ، یا څرګندوي او داسې وایي چې: "ما باغ ولیدۀ ما د باغ مالیار ولیدۀ". او هم داسې که د چا د خراب او بد کار نه د چا زړۀ بد شي. او خوښ یې نۀ وي نو هم د هغه کار کوونکي یا هنرمند استاذ بنده په حقله خپله رائے او خیالات داسې څرګندوي او وایي چې: "ما باغ ولیدۀ ما د باغ مالیار ولیدۀ".

ما په اسمان غوښتې او خدائے په زمکه راکړې

دا یو عام متل دے معنۍ ، ی او مطلب یې جدا جدا دي. د اسمان نه مطلب ډېر په مشکله ، تکلیف ، محنت او کراؤ سره موندل دي. او د زمکې نه مراد ډېر په اسانه یعني بغېر د کراؤ او تکلیف نه موندل دي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې څوک د څۀ شي طلب کوي یا ورپسې لټون او تکل کوي. خو موندل یې ډېر ګران وي ، یا محنت او کراؤ غواړي. او چې ناڅاپي ورته هغه شے ډېره په اسانه او بغېر د څۀ کراؤ نه مېلاؤ شي ، نو بنیادم ډېر خوشحاله شي ، یا داسې څۀ ډېر ګران کار چې کله په اسانه او بغېر د څۀ محنته سر ته شي. نو د هغه وخت خوشحالی او جذبې ، یعنې د زړۀ هغه حالت او کېفیت مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړے دے۔ او مطلب ترښه دا دے چې کنې زما خو په زړۀ کښې دا نۀ وو یا زما خو په خیال خاطر کښې نۀ وو ، یا ما دا نۀ کښله خو خدائے پاک ډېر په اسانه وکړل ، یا ما خو ستا لټون او لیدل ډېر ګران کښل خو خدائے پاک په اسانه مېلاؤ کړو.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک د څۀ شي یا د چا سره د ملاقات ډېر سخت طلبګار وي او هغه شے یا د هغه بنده مېلاوېدل ډېر ګران او مشکله وي ، یا ګران ښکاري او ورپسې لټون ، وخت ، محنت او کراؤ غواړي. او د دې له کبله دا بنده سرګرد دانه وي. نو که هغه شے یا هغه بنده ورته ناڅاپي ډېر په اسانه او بغېر د څۀ محنت ، تکلیف او کراؤ نه مېلاؤ شي نو په داسې موقع هغه بنیادم د زړۀ حالت او کېفیت ، یعنې د خوشحالی د احساس او جذبو څېرنه په دې متل کښې کوي او داسې وایي چې یار! "ما په اسمان غوښتې او خدائے په زمکه راکړې".

مات لوښے د اوازه پېژندے شي

لوښي لرګي د کور د استعمال هغه څیزونو ته وئیلے شي کوم چې په امروزه ژوند کښې استعمالیږي. په خصوصي توګه د خوراک څښاک هغه څیزونه چې ورکښې خوراک کولے او څښلے شي. یعني تالے (پلیټ) ، کټورے ، کټوی ، خانک ، چاټورے او منګو ته لوښي لرګي وئیلے شي. پخوا زمانه کښې به دا ټول لوښي د تیکرو (خاورو) نه جوړ وؤ. کله چې به چا دا لوښي اخستل نو ښۀ په غور به یې کتنه او پلټنه کوله. ځکه چې دې کښې به ډېر مات وو نو هغه خو به ښکاره وو خو ځنې به داسې نري چاؤدي او دراړونه وو

چې هغه به په نظر نۀ راتلل. د دې له کبله به چې چا لوښي اخستل نو اول به يې ښۀ ټنګول. يعنې د لوښي نه به يې اواز ويستلو. او د دې اواز نه به دا معلومېدل چې دا لوښے روغ دے او که مات. د روغ لوښي اواز جدا وي او د مات جدا. او هوښياران د دې اواز نه لوښے پېژني چې روغ دے او که مات. د هغه وخت مشرانو دا هوښيارتيا او فلسفه په دې متل کښې څرګنده کړې او مشهوره کړې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې د هر شي اته پته د هغۀ د کړۀ وړۀ ، ګفتار او کردار نه معلومېږي. يعنې چې روغ رنځور معلوموې نو اول يې ښۀ وټنګوه. چې دا روغ دے او که مات. او چې بنيادم وټنګوې نو معلوم به شي چې کره دے که کوټه. نن سبا په داسې وخت استعمالېږي چرته چې داسې څوک بل دهوکه کوي يا ورباندې څۀ کوټه څيز ورتين کوي. او هغه شے د خپل ساخت يا شکل نه وپېژندے شي چې ګڼې دا اصل نۀ دے نقل دے ، يا روغ نۀ دے مات ګ ۀ او خراب دے ، يا څوک بنيادم د خپل ګفتار او کرداره وپېژندے شي چې دا روغ نۀ دے. بلکې رنځور دے. نو په داسې وخت دا مطلب په دې متل کښې څرګندولے شي او داسې وايي چې: "مات لوښے د اوازه پېژندے شي".

مار چا په اوبو څښلو نۀ دے ليدلے

د مار په خوي خصلت او عادتونو باندې ډېر متلونه جوړ شوي او مشهور شوي دي. دا متل هم د مار په يو عادت يا د خصلت په حقله جوړ شوے دے. هسې خو د مار په حقله ډېرې قيصې مشهورې دي. څوک وايي چې پاړوګان مارانو له پۍ ورکوي. څوک وايي چې پخوا زمانه کښې به يوې بوډۍ په ګټوري کښې په بلۍ پۍ کېښودل او د شپې به مار راتلو او هغه پۍ به يې څښل. څوک وايي چې د مېرمن نه د پېو کټوۍ سر توره پاتې شوه او مار ترېنه پۍ اوڅښلو د مشرانو هغه خبره چې څومره خ ۀ لې دومره خبرې. يعنې دا ټولې خبرې د اورېدو قيصې دي خو حقيقت دا دے چې مار چا په اوبو څښلو نۀ دے ليدلے. ما خپله د ډېرو مشرانو او بوډاګانو نه په دې حقله تپوس پوښتنه کړې دخو هيچا هم دا دعوی ، نۀ ده لرلې. چې ګڼې هغوي مار په اوبو څښلو ليدلے دے. د مار دا عادت ، خصلت او يا فطرت چې هغه اوبۀ نۀ څښي. او که څښي هم نو دا داسې عجيبه او د حېرانتيا شان خبره ده چې يقين پرې نۀ شي او يا د نۀ منلو خبره ده. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک څۀ ډېره عجيبه يا د نۀ منلو خبره وکړي. او د بل بنده ورباندې باور او يقين نۀ راځي. نو په ځواب کښې ورته هغه داسې وايي چې هلکه تۀ وائې نو وي به ، خو زما يقين نۀ شي ځکه چې: "مار چا په اوبو څښلو نۀ دے ليدلے".

مار خوړلے د پړي نه هم وېرېږي

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي يعنې ، ی يې دا ده چې که يو بنيادم يو ځل مار خوړلے يا چيچلے وي نو هغه بيا ټول عمر د مار نه ډېر زيات وېرېږي. پړے که هغه د هر څۀ نه جوړ وي خو چې په زمکه پروت وي نو اکثر د مار په شان ښکاري. که بيا شپه ، يا د ماښام خړه وي نو بيا خو په پړې هو بهو د مار ګ ۀ مان راځي. او مار خوړلے خو هسې هم د مار نه وېرېږي. او چې هغه پړے ووينې نو خامخا ترېنه وېرېږي ځکه چې څوک يو ځل په څۀ شي ټکره وخوري. نو بيا د هغه شي نه يې زياته وېره کېږي او ځان ترېنه ساتي. يعنې چې يو ځل د څۀ شي نه زيان ورسي نو بيا د هغه څيز نه وېره هم کېږي او ځان ترېنه هم ساتلے کېږي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د څۀ شي ، يا د چا بنيادم نه څۀ زيان ومومي. او بيا هم ترېنه خطره محسوسوي. نو د هغه شي نه يا د هغه بنده نه په احتياط او پام سره ځان ساتي. او خپل کېفيت او حالت په دې متل کښې خلقو ته داسې وړاندې کوي او وايي چې: "مار خوړلے د پړي نه هم وېرېږي".

عاقـــــــل لـــــــــه يـــــــــو ټکـــــــــره بـــــــــس وي
ځکـــــــه پـــــــه پـــــــړي بيـــــــا د مـــــــار شـــــــي ګ ۀ مانونـــــــه

مار د مار په چغار ښۀ پوهېږي

دا يو ساده او عام متل دے. هوښياران او پوهان وايي چې ماران هم يو خاص قسم اواز کوي. دې اواز ته څوک پرشار وايي او څوک چغار. او څوک يې د بيم د اواز په شان ګڼلو د دې وجه دا بيانوي چې کله پاړو بيم سر کړي نو ځکه ورپسې ماران راوځي يا راجمع شي. يعنې د مار او د بيم اواز يو شان وي. د پوهانو وېنا ده. وايي چې کله په يو خاص موسم کښې (اتفاق پشکال په موسم دے) ماره (ماده) چغار شروع کړي. نو ماران په دغه چغار ښهٔ پوهيږي. چې د دې چغارو څهٔ مطلب دے. د مار دا چغاراو بيا په هغې پوهېدل. دا حالات او کېفيت مشرانو په دې متل کښې مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې داسې د يوې لارې ملګري. يعنې د يوې ادارې ، تنظيم ، يا په يو ځائے کار روزګار کولو والا خلق د يو بل په اشارو خبرو ، چالونو ، داوؤنو ، ټوقو مسخرو ، طنزونو او ټکونو ، يعنې په يو بل ښهٔ پوهيږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې د يو روزګار ، يو شان ګزران والا او يو شان کسب والا خلق يو ځائے شي. او په خپلو کښې په يو بل څهٔ چالونه او داوؤنه چلوي ، يا يو بل ته په اشارو او ټکونو کښې ځواب ورکوي. نو بارائي خلق پرې نهٔ پوهيږي. يعنې مثلاً داسې که يو غل يا ټک خپل ملګري ته په خپله مخصوصه ژبه يا اشاره کښې څهٔ خبره کوي نو بارائي بنده پرې نهٔ پوهيږي ، يا داسې په بل څهٔ کسب کښې چې څهٔ مخصوصه ټکي/توري استعماليږي نو په هغې هم هر څوک نهٔ پوهيږي. په داسې وخت د هغه خلقو په حقله وئيلے شي چې هغوي پرې خپلو کښې ښهٔ پوهه شول ، ځکه چې: "مار د مار په چغار ښهٔ پوهيږي".

ما لالا ته سسته کړه او لالا ماته ، بړستن غلو يوړه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په پټي يا ارټ کښې د شپې دوه ورونه په يو کټ کښې اودهٔ وو. د ژمي شپه وه او بړستن يې ښهٔ کلکه راښکلې وه. د شپې ورباندې غلهٔ راغلل. د پټي کوټه او دېره وه. نور خو څهٔ خاص پکښې نهٔ وو خو د غلو په بړستن نظر شو. هغوي غلي غوندې بړستن راښکله او د ځان سره يې يوړله. د دوي چې څهٔ وخت پس يخني او ساړهٔ وشول ، نو راويښ شو. د کټ لاندې باندې بړستن ګوري خو بړستن پښې کړې وې. خېر هغه شپه خو تېره شوه او په سبا ترېنه خلق خبر شول. خلقو ورته لعنت ملامت ورکولو چې هلکو دوه کسه وئ او بيا هم درنه بړستن غلو يوړه. د هغه کشر ورور نه چا پوښتنه وکړه چې هلکه دا څنګه چل وؤ. هغهٔ ورته ځواب ورکړو چې زما خيال وؤ چې ګڼې د لالا ساړهٔ شوے دے نو هغهٔ بړستن ځان ته راکاږي نو ما هغهٔ ته ورسسته کړه. او د لالا خيال وؤ چې ګڼې زهٔ بړستن راکاږم نو هغهٔ ماته راسسته کړه. او مېنځ کښې بړستن غلو يوړه. هم دا خبره وروستو په لنډو ټکو کښې د متل په توګه داسې مشهوره شوه. چې ما لالا ته سسته کړه او لالا ما ته بړستن غلو يوړه. نن سبا په داسې موقع او حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې د دوؤ کسو تر مېنځه ، يا د چا ګڼو خلقو د غفلت او ناراستۍ له کبله يا يو بل ته د سپا اخستنې له کبله چې څهٔ کار يا څهٔ شے وران واړلو خراب شي يا تباه برباد او مات ګډ شي نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ما لالا ته سسته کړه ، او لالا ماته بړستن غلو يوړه".

ماما چې ترخ ګرئ ، نو د خوريي طمع پېدا شي

ماما او خورېے يو بل ته ډېر خواږهٔ وي. يعنې دا رشته ډېره نزدې او خوږه رشته ده. پخوا زمانه کښې چې به يو جينۍ چرته بل کلي کښې وادهٔ شوه نو د هغې اولاد به د نيکهٔ د کلي ټول خلق ماماګان ګڼل. او هر بنده به يې په ماما بللو. او داسې به د کلي خلقو هم هغه ماشومان خوريي ګڼل او منل. د ډېر نياز او ډېرې مينې نه ماما په خوريو او خورزو ډېر ګران او خوږ وي. او ډېره مينه محبت ورسره کوي. داسې ماما هم د هغوي سره مينه محبت کوي. او خپله مينه او پېرزوګانې د تحفو هديو په توګه څرګندوي او شريکوي. يعنې ماما خوريي له څهٔ نه څهٔ تحفه ورکوي. او خورېے هم اکثر د ماما نه د څهٔ نه څهٔ طمع لري. د ماما او خوريي دا خوږوالے ، نياز و انداز او مينه محبت مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او څرګنده کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې د خوريي ماما ته سترګې وي او د څهٔ نه څهٔ طمع ترېنه لري ، يا د څهٔ نه څهٔ بدې کولو خواهش لري. که ماما هسې هم ترخ ګرئي نو د خوريي طمع پېدا شي چې ګڼې ماما د جېب نه څهٔ راوباسي او ما له يې راکوي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې څوک د چا نه څهٔ طمع لري او هغه طمع پوره نه شي ، يا د طمع لرونکي هغه ګمان غلط وي ، يا د چا د څهٔ کار ، خبرې او حرکت نه څوک خپل غرض پوره کول غواړي. خو هغه مطلب بدل اوخېژي ، يا

ځوک هسې د غرض او بودې لپاره بل ته ځان خورے کوي. نو په داسې وخت هغه طمع لرونکي بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې ستا نه خو هم نن سبا خورے جوړ شوے دے! "ماما چې ترخ اوکړئ نو د خوريي طمع پيدا شي".

ماموته بيا دې موته

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو سړے محمود نومېدو. لکه څنګه چې زمونږ د خلقو دا يو عادت دے چې د يو بل نومونه لنډوي او وراني. نو داسې محمود هم په ماموت مشهور شوے وؤ. وايي چې دے دېر غلاګر او کنې کپ وؤ. په خپل فن کښې دومره چالاکه ،ماهره او هوښيار وؤ. چې په ژوند کښې جرته کېږ شوے نۀ وؤ. وايي چې يوه ورځ دے د کلي نه بهر صحرا ته روان وؤ. چې يو ساده کولال په مخه ورغلےساده ګ ، ل په يو خر سور وؤ او نور خرۀ يې مخکښې کړي ورشو ته روان وو. ماموت چې ورسره سترې مشې کول نو دا سړے ورته ځۀ فکرمند او غمژن شاني ښکاره شو. ماموت تر ېنه تپوس وکړو چې کاکا ځۀ جل دے ولې خفه يې. هغه سړي ورته وئېل چې دکوره مې لس خرۀ راروان کړي وو. او اوس نهۀ دي. پته نشته چې يو رانه کوم ځائے ورک شو. ماموت چې خرونه شمېر کړۀ نو هغه پوره لس وؤ. ماموت هم حېران شو چې ځۀ غلطي ده. هغه سړي ته يې وئېل چې کاکا تۀ يې بيا وشمېره. هغه کاکا چې خرونه شمار کړۀ نو هغه خر يې اونۀ شمېرلو په کوم چې خپله سور وؤ. ماموت په زړۀ کښې دېر زيات خوشحاله شو او د ځان سره يې وئېل چې ماموته بيا دې اومونده. هغه سړي ته يې وئېل چې کاکا خر خو ما د کلي سره خوا ته ليدلے وؤ. خو ماته پته نۀ وه ګنې ما به د ځان سره راشړلے وؤ. هغه سړي ورته وئېل چې خانه تۀ دې خرونو ته کوره او زۀ ځم چې هغه راولم هسې نه چې ورک شي. خرونه ماموت ته په حواله شو او سړے واپس کلي ته لاړو. ماموت په دې خرونو کښې يو خر لري په کندو کښې وترلو. ځۀ شېبه پس هغه سړے واپس راغے او ماموت ته يې وئېل چې خر خو پيدا نۀ شو. ماموت ورته وئېل چې کېدے شي کور ته واپس تلے وي. هغه سړي د ماموت دېره شکريه اداکړه. ماموت تر ېنه اجازت واخستو او په بله لاره يې هغه پټ کړے خر بوتلو او خرڅ يې کړو. بيا چې به ماموت ته د غلا موقع مېلاؤ شوه نو د دېرې خوشحالی نه به يې داسې وئېل چې ماموته بيا دې موته. او وايي چې داسې د ماموت دا کلام يا خبره مشرانو د متل په توګه مشهور کړو. او مطلب تر ېنه دا دے چې ګنې د خوښې ځۀ شے ، يا ځۀ سود او ګټه دېر په اسانه موندل ، يا وېريا موندل.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې جا ته د هغۀ د خوښې ځۀ شے ناڅاپي ، په اسانه يعني بغېر د ځۀ محنت ، مشقت ، تکليف او کړاؤ نه مېلاؤ شي ، يا ورته وېريا مېلاؤ شي نو په داسې وخت هغه د خوشحالی برخېرنه په دې متل کښې کوي او داسې وايي چې: "ماموته بيا دې موته".

ما مۀ شمېره در ګڼه يمه

دا د مشرانو د خ ، لې يو طنزيه قول دے. چې د متل په توګه هم مشهور شوے او استعمال شوے دے. مطلب يې دا دے چې ګنې بغېر تپوس پوښتنې د جا په خبرو کښې ځان ورګډول. د بل په کار کښې کار لرل. يا بې تپوسه مېدان او محفل ته وردانګل. يعني داسې چې ځوک بې تپوسه د جا په خبرو ، د جا په کار کښې او يا په محفل کښې ځان شاملوي ، يا شريکوي. او هغه د محفل خلق د دۀ شرکت نۀ خوښوي. او نۀ په هغه کار يا هغه محفل کښې دۀ ته ځۀ ضرورت او حاجت وي. او نۀ د محفل خلق په دۀ ځۀ تپوس پوښتنه کول غواړي. يعني مطلب دا چې د محفل وکړي يې په ځۀ کښې شمېري نه او دے ورکښې ځان خامخا ورګډوي. نو مشران وايي چې دا داسې شوه چې ما مۀ شمېره درګډ يمه.

نن سبا په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي جرته چې ځوک داسې بغېر تپوس پوښتنې خامخا د جا مېنځ ته وردانګي. د بل په کال کښې کار لري ، يا بغېر ضرورت او حاجته بل له رائے او مشوري ورکوي نو داسې مشروټ بنده ته خلق د طنز په توګه داسې وايي چې هن! "ما مۀ شمېره درګډ يم". داسې يو بل قول هم دے چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري. هغه هم د طنز په توګه داسې وئېلے شي چې: "تۀ ځوک يې! خامخا".

مرګ حق دے خو کفن کښې شک دے

په قرا ـ ن شريف کښې الله تعالا ، ى فرمائېلي دي چې هر يو ساه لرونکے شے (نفس) له مرګ څخه دے. يعنې ټول به مړه کيږي. دا زمونږ ايمان او پخه عقيده ده چې ساه والا نفس به په مرګ پناه کيږي. حق هغه کار او هغه خبره کېږي او منلے شي چې په څۀ کښې شک شبه نۀ وي او په دې خبره کښې هېڅ شک نشته چې مرګ حق دے. د هر چا د نېټې يو وخت او ځائے مقرر دے چې کله وخت پوره شي او په کوم ځائے مرګ ليکلے وي نو هغه مقرره وخت له هغه ساه لرونکے نفس پخپله هغه ځائے ته ورسي. يعنې مطلب دا شو چې د مرګ هر چا ته پته شته چې دا به راځي خو د وخت او د حالاتو بنيادم ته پته نشته. يعنې کله ، په کوم ځائے او په څۀ حال کښې به مرګ وي. دا چا ته پته نۀ لګي. او د متل نه مطلب دا دے چې ګټې کور کفن به يې نصيب شي او کنه. يعنې څوک په درياب او سمندر کښې ډوب شي څوک جرته په اور کښې داسې وسوزي چې نخښه نښانه يې ورکه شي ، يا څوک په حادثو کښې په غرونو او ځنګلو کښې ورک شي. يعنې بنيادم ته د انجام پته نشته. چې اخري وخت او انجام به يې څنګه وي. نو ځکه مشران وايي چې کفن کښې شک دے. مشرانو په مرګ دا پوخ يقين ، عقيده او په کور کفن کښې شک شبه ، يعنې ناخبري او بې يقيني په دې متل کښې ستائېلې او مشوره کړې ده. او مطلب دا دے چې ګټې مرګ خو شته خو دا معلومه نۀ ده چې نصيب کښې يې کفن شته او کنه. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک څۀ کار يا خبره کول ضروري او لازمي ګڼي. خو د انجام نه يې ناخبره وي يا د څۀ کار په حقله خپله رائے يا مشوره ورکوي. خو په انجام يې شکمن وي. نو خپل شک شبه په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "مرګ حق دے خو کفن کښې شک دے".

مړي په ژړا نۀ ژوندي کيږي / نۀ درنيږي

لکه څنګه چې مرګ حق دے نو داسې دا خبره هم حقه ده چې مړي دوباره په دې دنيا نۀ ژوندي کيږي. بلکې د قيامت په ورځ به د الله پاک په امر ټول مخلوقات دوباره ژوندي شي. يعنې مطلب دا شو چې که څوک مړي پسې ډېر وژاړي بلکې په ژړا ور پسې ځان مړ کړي خو هغه مړے به ژوندے نۀ شي. او هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او غم زپلو خلقو ته يې د نصيحت او دم دلاسې او حوصلې دپاره وړاندې کوي. يعنې جرته چې څوک د چا خپل خورمن په مرګ ډېر خفه او غمژن وي نو د غمرازۍ په وخت خلق هغه بنده له دلاسه ورکوي. د ژړا نه يې منع کوي. د غم او زغم زغملو حوصله ورکوي او د صبر تلقين کوي او په دې دم دلاسه کښې ورته دا متل هم وړاندې کوي او داسې وايي چې خانه صبر کوه! "مړي په ژړا نۀ ژوندي کيږي".

ځنې خلق دا متل داسې وايي چې "مړي په ژړا نۀ درنيږي". يعنې مطلب دا دے چې د کوم مړي غم او جنازه درنه نۀ وي. يعنې په مرګ يې خلق خفه نۀ وي. په قبر جنازه يې د خلقو مجمع زياته نۀ وي يا د هغۀ کورنۍ سره د خلقو غم ښادي زيات نۀ وي نو که د کور غړي ، يا خپل خپلوان ورپسې ډېر وير ، ژړا او انکولا کوي خو په هغه ژړا او غوغا نۀ مړے درنيږي او نۀ د مړي غم. يعنې مطلب دا شو چې په کومه جنازه او غم کښې خلق په کڼ شمېر ، يا ډېر زيات شرکت وکړي نو داسې وئېلے شي چې ډېره درنه جنازه وه يا ډېر دروند غم وؤ او چې په کوم غم کښې خلق په جنازه او قبر کښې په کڼ شمېر کډون اونۀ کړي يا د غم زپلو سره په لاس نيوۀ او غمرازۍ کښې په کڼ شمېر شريک نۀ شي نو هغه غم او مړے دروند نۀ وي. هم دا مطلب مشران په داسې موقع څرګندوي او وايي چې: "مړي په ژړا نۀ درنيږي".

م ـ لا بل ته مسئلې کوي په خپله پرې حملې کوي

په متل کښې خو م ـ لا ستائېلے شوے دے. خو مطلب ترېنه ټول عام خلق دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګټې خلق خو بل ته مسئلې کوي خوپه خپله پرې عمل نۀ کوي. يعنې د نصيحت په توګه نورو ته ډېر ښۀ تقرير او وعظ کوي خو پخپله پرې عمل نۀ کوي. مشرانو په متل کښې هم داسې خلقو ته اشاره کړې ده او بهانه يې م ـ لا غريب دے. او نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې داسې څوک بل چا ته نصيحت کوي او خپله په هغه خبرو عمل نۀ کوي. يعنې چې بل څوک د بدو کارونو او غلطو لارو چارو نه منع کوي خو خپله ورکښې هغه ټولې غلطې او بدې موجودې وي. نو په داسې موقع هغه بنيادم ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "م ـ لا بل ته مسئلې کوي په خپله پرې حملې کوي".

م ـ لا د جوماته نۀ راوځي او بلا جومات ته نۀ ځي

قيصه:

م ، لا او جومات د يو بل سره تړلے شوے او د يو بل له کبله مشهور او پېژندے شي. يعنې چرته چې د جومات ذکر وي نو ورسره به د م ، لا نوم هم يادېږي. اوهمې که چرته څوک د چا م ، لا په حقله څۀ ذکر کوي نو ورسره د هغۀ د جومات نوم هم اخستے شي. يعنې ځنې جوماتونه د م ، لا نه مشهور شي او ځنې م ، ليان د جومات له کبله مشهور شي. د بلا نه مطلب غم ، خفګان ، مصيبت او څۀ حادثه هم کېدے شي. او دوېم مطلب ترېنه هر هغه شے دے چې د څۀ نه بنيادم ته زيان ، مصيبت ، تکليف او غم خفګان رسيږي ، يا سبب جوړېږي. يو بل مطلب يې په عامو خلقو کښې دا هم مشهور دے چې څۀ داسې ناليدلے خوفناک شے چې په ليدو يې بنيادم وېرېږي. يعنې داسې څۀ شے چې بنيادم خوري او ماتوي ، يا ورته څۀ زيان ، غم خفګان او مصيبت وررسوي. اکثر مېندې چې خپل ماشومان د څۀ کار او خبرې نه منع کول غواړي نو په داسې ناليدلې بلا يې وېروي. او داسې وايي چې هغه ده بلا ، يا باؤ راغے. او د بلا د وېرې له کبله هغه ماشوم د هغه کار او خبرې نه منع شي.

په متل کښې مشرانو م ، لا ، جومات او بلا رايوځائے کړي دي او مطلبې دا دے چې ګڼې م ، لا يو بنيادم دے. غلطي ترېنه کېدے شي او د هغې له کبله په څۀ بلا اوړېدے شي. او بل خوا جومات دے چې د زمکې په مخ يو پاک او د قدر عزت لوړ مقام دے. او د دې پاک مقام نه هره بلا ډډه کوي. يعنې ليدلې او ناليدلې ټولې بلاګانې د جومات تقدس نۀ ماتوي يعنې مطلب دا شو چې م ، لا په جومات دننه د هرې بلا نه په امان وي.

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې په يو کلي يوه بلا (ازمرے ، ميلو يا لېوۀ) اموخته شوے وؤ. هره شپه به يې کله ګډه او کله بيزه ماتوله. څوا وارې يې دکلي خلق هم په مخه کړي وو. خود مرګ ژوبلې نه بچ شوي وو. په کلي کښې خوف ، دهشت او وېره خوره شوې وه. د کلي خلقو يې د وژلو تکل او هڅه کړې وه. خو هغه بلا وه چې په لاسو نۀ راتله. اخر د کلي خلقو صلاح وکړه چې م ، لا صېب څۀ دم درود او تعويذ وکړي چې د دې بلا نه خلاص شو خلق م ، لا صېب له ورغلل او خپله مدعا يې ورته بيان کړه. ، لا ورته وئېل چې ورونو! عادته بلا په بسم الله نۀ ځي. يعنې دا بلا ورکول يا تختول د دم درود او د تعويذونو کار نۀ دے. په دې ځواب د خلقو زړونه لا خفه ، او وېره يې نوره سېوا شوه. په دې موقع يو کس وئېل چې زمونږه څۀ حال دے او م ، لا صېب ته ګوره چې څنګه بې غمه او بې خطره په جومات کښې پروت دے. په زړۀ يې هېڅ فکر او وېره نشته. د ګڼې نه ورله يو بل مشر ځواب ورکړو چې م ، لا به بې غمه نۀ وي م ، لا د جوماته نۀ راوځي او بلا جومات ته نۀ ځي. او داسې وئېلے شي چې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا په داسې موقع استعماليږي چرته چې داسې يو شوم بنده د زيان او خرچې د ځائے او موقعې نه ځان په ډډه ساتي. يعنې چرته چې د خرچ کولو څۀ موقع راشي يا خبره جوړه شي نو هغه په څۀ بهانه د هغې محفل او موقعې نه پټ شي او په هغه موقع ګډون اونۀ کړي. يعنې د خرچې د ځائے او موقعې نه ځان لرې ساتي. نو په داسې حالاتو او موقع کښې د هغه شوم بنده په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "م ، لا د جومات نه نۀ رااوځي او بلا جومات ته نۀ ځي".

م ، لا مړ مال يې تالا

قيصه:

د م ، ليانو په حقله د اکثرو خلقو دا خيال دے چې دوي په راکړه پوهيږي او خوشحاليږي. خو ورکړه نۀ پېژني. د دوي کتاب کښې د ورکړو ذکر نشته صرف راکړه ده. او هر وخت په دې تکل کښې وي چې "ميم زر ما ټوله زما" والا حساب وي. د دې متل په حقله داسې قيصۍ مشهوره ده. وايي چې خوا په زمانه کښې يو کلي ته يو م ، لا چرته د بل وطن نه راغلے وؤ. م ، لا صېب د کلي په يو جومات کښې امام شو. په دغه جومات کښې دوه درې طالبان هم دېره وو. کلي خلقو به م ، لا له اړۀ او خېرات زکواة ورکولو. کله کله به چا نېک بنده هغې طالبانو له هم څۀ خېرات ورکړوې م ، لا به د طالبانو ګوتې اومروړلې. او د هغوي هغه برخه به يې هم قبضه کړوايي چې داسې هغه م ، لا څۀ مال دولت جمع کړے وؤ او وطن ته د تلو په تکل او انتظار کښې وؤ چې نېټه يې پوره شوه او يوه شپه م ، لا غريب په حق ورسېدو. سحر چې څو خلق خبرېدل نو د م ، لا مال طالبانو خپلو کښې وېشلے وګله چې د کلي خلق د م ، لا په مرګ راجمع شول. په دوي کښې يو مشر

چې د مـ ـلا د مال حال نه خبر وؤ ، هغهٔ چې دا حالت وليدو چې د مـ ـلا مال طالبانو ګز ګـ ـمبت کړے دے نو د خـ ـلې يې دا خبره وخته چې مـ ـلا مړ مال يې تالا يعنې ملا مړ شو او مال يې طالبانو تالا والا کړو. او داسې د هغه وخت دا خبره مشرانو د متل په توګه مشهوره کړه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د چا په مال خېټه وراچوي ، يا د چا مال بې درېغه او فضول خرچه کول غواړي. نو هغه مالک ورته داسې وايي چې هلکه دا تا د مړو مال ليدلے دے ، يا دا دې د مړو مال موندلے دے ، يا دا درته د مړو مال ښکاري چې تالان دې پرې ګډ کړے دے ، يا دا د مړو مال خو نهٔ دے چې بس "مـ ـلا مړ مال يې تالا".

ملک کارغانو وران کړو بدنامه خراړې شوې / ملک خراړو وران کړو بدنام کارغان شول

کارغان او خراړې دواړه د مرغو د ذات او نسل سره تعلق لري. يعنې دواړه مرغے دي. خراړه يو وړه شان مرغۍ ده. د رنګه خړه اوپه وزن او جوسه کښې د چرچڼې نه لږه شان غټه وي. اکثر په شاړو او ورشو کښې اوسيږي. د ګرمۍ په موسم کښې چرته په دربو او بوچړو کښې جاله جوړوي. او اګۍ بچي پکښې کوي. دا ډېره بې ضرره ، معصومه او کمزورې مرغۍ ده. بل اړخ ته کارغهٔ دے چې ډېر هوښياره او کاړس مارغهٔ دے. خو چې څومره هوښياره دے نو دومره په ارواه سپے هم دے. يعنې ارواه يې خواره او وږې ده. اکثر په کورونو کښې په جوټه او ګنده لوښو کښې لوغړيږي ، يا چرته په ډېران ګند او مردارې لټوي او ځنې خو داسې تېز او زړهٔ ور وي چې اکثر د ماشومانو او مېرمنو د لاسونو نه هم د خوراک څيزونه تختوي. او ځنې پکښې د چرګو نه واړهٔ واړهٔ بچي هم پورته کړي. او چې څومره په ارواه خوار دے نو دومره مکاره او کوکارے هم دے. ايله په بهانه يې کوکارې او چغې جوړې کړې وي. په خپلو کښې يې اتفاق او اتحاد هم ډېر زيات وي. د يو کارغهٔ په يوه چغه ټول ټبر راجمع شي او په کوکارو ټول مـ ـلک شړشم کړي. کله خو داسې چغې او شور شرابه جوړه کړي چې ماشومان ترېنه وېرېږي. د کارغانو دا مکر فرېب ، شور شرابه ، چغې کوکارې ، چرګ چرګوړے تختول ، د خوراک څيزونه تختول او ګنده کول ، په کوټو ، دېوالونو او په ډېرانونو لوغړېدل او بڼېدل مشرانو په مثال د ملک ورانېدو ټاکلي دي. يعنې مطلب دا شو چې دا ټول کارونه (ملک ورانول) خو کارغان کوي. او خراړه غريبه چې په ورشو او شاړو کښې اوسيږي. نهٔ داسې کارونه کوي او نهٔ داسې چلونه ورځي او نهٔ د دې کارونو نه خبر وي. خو معصومه او کمزورې ده. نو ځکه بدنامه شوه.

دا متل په ځنې علاقو کښې خلق اپوټه بيانوي. يعنې دا متل داسې وائي چې: "ملک خراړو وران کړو او بدنامه کارغان شول". مطلب دا چې ګنې خراړه يوه وړه او مسکينه مرغۍ ده خو ډېره غلنۍ وران کارې ده. په فصلونو کښې ډېر زيات ورانے کوي. په خصوصي توګه د غنمو د فصل کله چې لونه غوېلې اوشي او غنم په درمندونو کښې پراتهٔ وي نو خراړې د هغې نه خوري هم او خرابوي هم ډېر. او په دې متل کښې د خراړو دا غلې غلې خو ډېر ورانے مشرانو په دې متل کښې ستائيلے دے. يعنې خراړه ډېره غلنۍ ده. څوک يې په شور زوږ نهٔ خبرېږي خو په پټو او درمندو کښې ورانے ډېر زيات کوي. او کارغان چې شور زوږ يې ډېر وي او په هر ځائے کښې لوغړېږي هم ډېر. نو که ورانے يې نهٔ وي کړے نو هم پرې پړه او تور لګي. چې ګنې دا وراني ټول کارغان کوي. او هم د دې مطلب لپاره مشرانو دا متل جوړ کړے او مشهور کړے دے. او داسې وائي چې: "ملک خراړو وران کړو بدنام کارغان شول".

د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګنې ورانے او خراب کار څوک فرېبي ، مکرژن ، زورور او يا څوک اثر رسوخ والا سړے وکړي او بدنامه پرې بل څوک غريب مسکين او کمزورے بنده شي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې لکه د کارغهٔ ډېر هوښياره او مکاره وي. او هغه د وراني کارونه کوي يا چا ته زيان او ضرر رسوي. ياد جنګ جګړې او فساد کارونه کوي ، يا تدبيرونه جوړوي. او په خپل مکر فرېب او هوښيارتيا دا کارونه د بل په سر تپي. او بل پرې بدناموي. يعنې غوړه په بل وراړوي. نو مشران داسې غړي ته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "ملک کارغانو وران کړو او بدنامه خراړې شوې.

ملکانان چې ګڼ شي نو کلي ورانيږي

پخوا په زمانه کښې تخمينا ۔ د نن نه څۀ دوه درې سوه کاله اګاهو کله چې په هندوستان د انګرېزانو قبضه او حکومت وؤ. نو هغوي د خپل حکومت او رياست چلولو لپاره يو نظام جوړ کړے وؤ. د دې نظام له امله هغوي تر لرې لرې په کلي والو علاقو باندې هم قبضه او خپله عملداري قائمه کړې وه. په دې نظام کښې تحصيلدار ، پټواري او ملک مهمه او د کار کولو يا ويستلو والا خلق وو. تحصيلدار به د پوره علاقې بې تاجه باچا وؤ. د هغۀ په حکم او اشاره به تړل او پرانستل کېدل. پټواري يې د محصول ، ټېکس ، ماليې د راجمع کولو او د زمکو د حساب کتاب ساتلو نمائنده وؤ. او ملک به د کلي په سطح باچا وؤ. په کلي کښې به د ملک حکم چلېدو. د کلي ماليه به يې هم راغونډوله او د کلي د ښې بدې هم ذمه وار وؤ. د فېرنګي حکم خورول ، قوي ساتل ، د ښې بدې خبر اخستل او د کلي خبرونه فرنګي سرکار ته رسول د ملک په فرائضو کښې شامل وو. لنډه دا چې ملک د کلي باچا او د تورو سپينو مالک وؤ. په هغه علاقو کومې چې سل په سل د فرنګي په حکومت ، دولت او رياست کښې شاملې وې. نو دې علاقو کښې هغوي د کلي په سطح ملکانان جوړ کړے او مقرر کړي وو. د قبائېلو علاقه چې په عامه ژبه کښې ورته علاقه غېر وئېلے شي. په دې علاقو کښې هم دوي د ملک په سر خپله علمداري او اثر رسوخ قائم کړي وو. دلته فرنګي دا چال چلولے وؤ چې د قبيلې مشر او سردار يې ملک جوړ کړے وؤ. دې ملک سره هم دومره واک اختيار وؤ چې د خپلې علاقې باچا وؤ. د ملک حکم د فرنګي حکم وؤ. او چې ملک به شپې ته ورځ اووې نو د چا مجال نۀ وؤ چې بيا به يې ورته شپه وئېلې وې. د ملکانانو دا واک اختيار او باچائي مشرانو په دې متل کښې ستائېلې او مشهور کړي دي. او مطلب يې دا دے چې لکه څنګه چې په يو تيکي کښې دوه ت ۔ ورې نۀ ځائېږي. په يو ملک کښې دوه باچايان نۀ شي کېدے يا نۀ شي جوړېدے. نو داسې په يو کلي کښې دوه ملکانان هم نۀ شي جوړېدے ، يا وسېدے. او که چرې په يو کلي کښې ملکانان ګڼ شي نو لازمي ده چې هغه کلے په ورانيږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې په څه فېصله يا خبره کښې مشران ګڼ شي. او د يو مشر خبره او فېصله اونۀ منلے شي. نو اکثر هغه کار يا خبره ورانه شي او په داسې وخت او موقع دا متل وړاندې کيږي او داسې وئېلے شي چې: "ملکانان چې ګڼ شي نو کلي ورانيږي".

منډه د سپي ده ، او سويه د ښکاري

دا يو عام متل د معنـ ۔ ی يې دا ده چې ګڼې سوې پسې منډې ترړې او کړاؤ سپي وهي او کوي. او چې کله سويه راګېره يا راټينګه کړي. نو هغه ترېنه ښکاري خلاصه کړي يا واخلي. او د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې زړۀ چاؤدون ، تکليف او کړاؤنه د سپي وي او سويه د ښکاري په نصيب شي. دا متل مشرانو د داسې حالاتو دپاره مشهور کړے دے. چرته چې څوک د څۀ شي يا د څۀ کار روزګار دپاره ځان ستړې کړي. محنت تکليفونه او کړاؤنه په ځان تېر کړي. او د هغۀ کار فائده او ګټه بل چا ته ورسي يا مېلاؤ شي ، يا ترېنه څوک په زوره قبضه کړي. نو په داسې وخت مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "منډه د سپي او سويه د ښکاري".

مور پلار چې زاړۀ شي ، نو د شکرې نه خواږۀ شي

مور پلار خو هسې هم خواږۀ وي خو د مشرانو دا قول د متل حېثيت لري او د متل په توګه يې استعمالوي. مطلب يې دا دے چې مور پلار ته اولاد خوږ وي ، او اولاد ته مور او پلار. خو کله چې مور پلار بوډاګان يعنې په عمر زاړۀ شي نو بيا ډېر زيات خواږۀ شي. او شکره يعنې ګ ۔ ړه يې د دې زيات خوږ والي يو اندازه او پېمانه ورکړې ده. او د خوږ نه مطلب د هغوي قدر عزت او مينه محبت دے. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې مور پلار چې بوډاګان (زاړۀ) شي نو د ګ ۔ ړې نه هم زيات خواږۀ شي. يعنې د هغوي قدر عزت او ورسره مينه محبت نور هم زيات شي. خوش بخته او نېک بخته هغه خلق وي چې په دې عمر کښې د مور پلار خدمت کوي او دعاګانې ترېنه اخلي. ځنې بدبخته داسې وي چې د هغوي په قسمت کښې دعاګانې نۀ وي. نو په داسې عمر کښې هم د مور پلار څۀ پرواه نۀ ساتي. او نۀ ورله خدمت او عزت کوي. هم د داسې بدبختو د سبق دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او خلقو ته يې د نصيحت په توګه وړاندې کوي. داسې لمسه او سبق ورکوي چې په دې عمر کښې بوډاګانو ته د اولاد زيات ضرورت او حاجت وي. په داسې عمر کښې خو خپل مور پلار څۀ چې د پردو مشرانو او بوډاګانو هم ډېر قدر عزت او خدمت کول پکار وي. خيال خاطر ، قدر عزت او ورسره مينه او محبت پکار وي. او دعاګانې ترېنه اخستل پکار وي. هم دا مطلب مشران په دې متل کښې خلقو ته د نصيحت په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې: "مور پلار چې زاړۀ شي نو د شکرې نه خواږۀ شي".

وي بدبختـــــــه چـــــــې پـــــــه ســـــــپک نظـــــــر ورګـــــــوري
مشـــــــران خـــــــو چـــــــې زاړۀ شـــــــي لا خـــــــواږۀ شـــــــي

مور د مېرې مۀ کوه

مور د مېرې کول يوه محاوره ده چې د متل په توګه هم استعمالېږي معنـ ی يې داسې جوړېږي چې ګڼې مېره مور اکثر جابره او ظالمه مشهوره وي. د يوې نيمې چرته په زړۀ کښې ترس او رحم وي. نو هغه د مېرنو بچو هم لکه د خپلو بچو ساتنه او پالنه کوي. ګڼې زياتې ظالمې او ناترسه وي. ځنې ماشومان خو د مېرنۍ مور د لاسه خپل کور کلے پرېږدي. او در په در خاورې په سر شي. د مېرنو مېندو دا ظلمونه او ناکړدې مشرانو په دې متل کښې څرګنده او مشهورې کړې دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې د مېرې مور غوندې ظلمونه او ناکړدې راباندې مۀ کوه ، يا د مېرې مور په شان تعلق ، سلوک او عمل راسره مۀ ساته.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د بل چا نه (اکثر د خپلو خپلوانو نه او دوستانو او ملګرو نه) په څۀ کار يا خبره کښې څۀ کمے ووينې يا محسوس کړي ، يا داسې په سود ، پېرزوګانو او مينه کښې څۀ کمے محسوسه کړي ، يا ورته څۀ فرق او تفريق محسوسه شي نو په خـ ـ له يې ګيلې او شکوې راشي. او هغه خپله ګيله په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې يار ما سره! "مور د مېرې مۀ کوه".

مور يې رنګ ګوري او خور يې څنګ

دا يو عام متل دے خو په امروزه ژوند کښې زيات نۀ استعمالېږي.څنګ او څنګت نه معنـ ی ياري دوستي ، ملګرتيا ، د ناستې پاستې او راشه درشه تعلق لرل او عمل کول دي.متل معنـ ی دا جوړېږي چې مور کله زوي له وادۀ کوي. يعنې چې د اينګور لټون شروع شي نو د جينۍ رنګ ګوري. يعنې ښکلې او ښائسته جينۍ لټوي. او د هلک د خور دا غرض او مدعا وي چې څوک خپله همزولې او ملګرې ورله ناوې جوړه کړي. او که داسې اونۀ شي نو بيا د جينۍ طبيعت يعنې ناستې پاستې ته ګوري. چې د هغې به ورسره څنګت جوړ شي او که نه. يعنې مطلب دا شو چې د هلک مور د جينۍ ښکلا او ښائست لټوي او خور يې طبيعت او کړو وړو ته پام کوي او ګوري. چې ورسره به دوستي جوړه شي او کنه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک په څۀ کار او خبره کښې د خپل مطلب او غرض دپاره بل چا له خپله رائے ، صلاح او مشوره ورکوي يا شاملوي ، يا د چا په سود او ګټه کښې خپله فائده او ګټه لټوي ، يا تر لاسو کول غواړي. نو په داسې وخت خلق هغه بنده ته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "مور يې رنګ ګوري او خور يې څنګ".

موړ د اوږي په حال څۀ خبر دے

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. د موړ نه مطلب دے چې په خېټه موړ وي. او په خېټه موړ هغه بنده وي چې چا خېټه ډکه کړې وي. يعنې خوراک يې کړے وي او خوراک هغه سړے کولے شي چې چا سره خوراکه ، يعنې د خوراک څښاک سامان وي. او د خوراک څښاک سامان هغه غړے اخستے شي چې د چا جېب ډک وي. او ډک جېب د مالدارو خلقو وي. د دې معنو تر لاندې د موړ نه مطلب مالداره خلق شو. او اوږے د موړ په ضد يعنې غريب او مسکين خلق وي. مطلب دا چې يو موړ بنده د لوږې او تندې د عذابه ناخبره وي. يعنې چې لوږه او تنده څۀ وي او دا لوږه سړے څومره مجبوره ، بې وسه او بې بسه کړي. هم دا حالات مشرانو په دې متل کښې ستائېلې او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې ماړۀ (مالداره) خلق د اوږو (غريبو) خلقو د حال نه څۀ خبر دي. چې په هغوي څۀ تېرېږي ، يعنې څنګه ګزران او ګزاره کوي. دا لوږه او تنده بده بلا ده. غريب خلق چې په کومو تکليفونو ، مصيبتونو ، غمونو او کړاؤنو کښې ژوند کوي د دې نه مالداره خلق نۀ خبرېږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک غريب بنده په لوږه تنده کښې ژوند کوي. او څوک مالداره دوست او ملګرے دهغۀ د حاله ناخبره وي ، يا يې تپوس پوښتنه نۀ کوي ، يا په چا څۀ حادثه او واقعه تېره شي او هغه دوست يا ملګرے ورته

معذرت کوي چې کټې زۀ ستا د داسې حالاتو نه خبر نۀ ووم ، يا ماته چا وئېلي نۀ وۀ. نو هغه غريب بنده ورته خپله کيله او شکوه په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي چې اهو يار! تاسو مارۀ خلق ئې او مونږه اوږي او! "مور د اوږي په حال څۀ خبر دے" يا "مارۀ کله د اوږو په حال خبر دي".

مونږ د خپل سړۍ سۀ ،وتۀ پېژنو

غوا ، مېښه ، غوائے او سنډا په جدا جدا رنګونو ، قسمونو او نسلونو کښې لېدے او کټ شي. بلکې ټول ځناور په جدا جدا رنګونو او قسمونو کښې وي. داسې به ډېر کم کوز وي چې په قد کاټ او رنګ جوسه کښې يو شان وي. خو سوټې د ټولو څاروو يو شان وي. غټه او وړه خو به وي. خو سوټه بس سوټه وي. په رنګ او بوي کښې يو وي. د غټې او وړې نه دا اندازه لګېدلے شي. چې کټې دا د غټ څاروي ده او دا د وړوکي څاروي ، يا دا د غوا ده او يا د مېښې ده. خو دا معلومول چې د کوم څاروي يعني د چا د مېښې يا د چا د غوائې ده. نو دا ډېره ګرانه خبره ده. يعني د سوټې نه يو خاص څاروے پېژندل. او يا د يو څاروي سوټه پېژندل ډېره ګرانه خبره ده. په متل کښې د سنډا او د سوټې ذکر په دې انداز شوے دے. چې کټې خپل سنډا پېژني. خو مطلب ترېنه هر ځيز او په خصوصي توګه بنيادم ته اشاره ده. او د سوټې نه مراد د هغۀ عادتونه ، کارونه ، کارنامې او مراثي مطلب دي. دا د طنز او د پېغور ورکولو يو انداز دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کټې زۀ تا هم پېژنم او ستا مراثه هم ، يا ماته ټۀ هم معلوم يې او ستا کارنامې هم ، يا ستا ايمان ماته معلوم دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې داسې ځوک بوس بادو او دوزمار بنده د بل چا په کارنامو باندې خپل نوم ړدي يا تړي. او خپله مشهورتيا کوي ، يا ځوک بنده څۀ غلط کار ، يا خبره وکړي او بيا ترېنه منکر وي او هوښيار خلق د هغه کار ، يا هغه خبرې نه غل معلوم کړي يا وېړني. چې کټې دا د چا کار يا کارنامه ده. نو داسې بنده ته مشران وايي چې مونږ تا هم پېژنو او ستا کارونه هم. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي چې يار دا هم ستا کارونه دي!"مونږ د خپل سنډا سۀ ،وتۀ پېژنو".

مونږ يې پورې کولو له اريان يۀ ،و او تۀ پکښې ماتوي

دا يو عام متل دے چې معنۀ ،ې او مطلب يې جدا جدا دي. د شوروا يا شوروا سره په دوۀ طريقو سره دوډۍ خوړلے شي. ځوک د شوروا په تالي کښې نورې پورې کوي او ځنې خلق په تالي کښې دوډۍ ورماته کړي او چې ښۀ پسته شي نو بيا يې خوري. د نورې پورې کولو سره (سالن) شوروا لږه او کمه خوړلے شي. يعني لکښت يې کم وي. او چې په تالي کښې دوډۍ ماته شي نو بيا دوه دونه بلکې د دې نه هم زياته شوروا لګي. يعني لکښت يې زيات وي. يعني مطلب دا شو چې په پورې کولو سره د شوروا لکښت (خرچه) کمه وي. او پکښې ماتولو سره لکښت زيات وي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې مونږ په شوروا کښې پورې کول (لږه خرچه) نۀ شو برداشت کولے او تۀ پکښې ماتول ، يعني زياته خرچه کول غواړي. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او په داسې موقعو او حالاتو کښې يې استعمالوي چرته چې ځوک د چا نه د څۀ کار دپاره غټه او زياته خرچه غواړي ، يا ورته د زياتې خرچې کولو لمسه ورکوي ، يا د کور خلق فضول خرچي کوي. نو په داسې موقع مشران دا متل استعمالوي او وايي چې يار! "مونږ يې پورې کولو له اريان يۀ ،و او تۀ پکښې ماتوي".

مۀ دومره خورېږه چې ځوک دې تېر کړي ،
او مۀ دومره ترخېږه چې دې تۀ ،و کړي

دا يو عام متل دے. او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. خواړۀ او تراخۀ دواړه د يو بل په ضد دي. چې يو شے خوږ وي نود هر چا خوښ وي. او تريخ شے د هر چا بدېږي شے خو اول ځوک خوري نه او که په خطا سره چرته خۀ ،لې ته شي نو زر يې تۀ ،و کړي. دا خواړۀ تراخۀ خود خوراک ځښاک د ځيزونو صفتونه او خوندونه دي. خو په متل کښې مشرانو دا صفتونه د بنيادم سره تړلي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې کوم بنهاچه خۀ ،له پوست وي ، اخلاقو او سلوک روغ ، په زړۀ سپين او مينه ناکه وي ، ښې او خوږې خبرې

کوي نو هغه سړے خوږ وي. او داسې خوږ بنده هر څوک لکه د خوږو خوښوي. او هر څوک ورسره مينه محبت کوي. بل خوا داسې بنده چې دېر بې شرمه بې حيا ، بد اخلاقه ، بدتميزه ، بد کرداره او لکه د کيکر د ازغې کوږ او تېز وي ، په تندي يې هر وخت دولس بجې وي. د چا خيال خاطر نۀ ساتي او نۀ کوي. نو داسې بنده په تريخ بلې او منلے شي. او د داسې تريخ بوټي نه هر سړے ډډه کوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کنې دېر زيات ښۀ سړيتوب (خوږېدل) نۀ دے پکار چې بل تربنه غلطه فائده اوخته کړي ، يا خپل ښۀ سړيتوب ورته بلا شي. او دومره بدتميزه او بداخلاقه (تريخ) جوړېدل هم نۀ دي پکار ، چې خلق تربنه نفرت او ډډه کوي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وړاندې کوي. او داسې وايي چې: "مۀ دومره خوږ پره چې څوک دې تېر کړي او مۀ دومره ترخېره چې دې تـ ـو کړي".

مۀ کړه هغه کار ، چې نۀ دې مور کړے وي ، نۀ پلار

دا د هوښيارانو قول دے. او لکه د شعر په ټول ښۀ برابر دے. د متل په توګه هم استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې کنې هغه کارونه مۀ کوه چې پکښې ستا ، ستا د کور ، د مور پلار ، د تېر او قام بدنامي وي. د يو بنيادم دپاره د هغۀ مور او پلار په ټولو مخلوقاتو کښې هغۀ ته نزدې ، خوارۀ درانۀ او د قدر وړ وي. يعنې مور پلار د اولاد دپاره پيران ، يعنې رهبران او ليډران وي. او چا چې د مور پلار نه لاس نيوۀ وکړه ، يعنې رهنمائي واخسته. د هغوي په قدم يې قدم کېښودو. د هغوي په نصيحت او وصيت يې عمل وکړو. نو هغوي په ژوند کښې هم کامياب او کامران وي او په اخرت به ورته هم ښۀ بدله ، اجر او ثواب مېلاويږي. خو دا خبره هم د ياد ساتلو ده چې په متل کښې ايماندار ، ديندار او پرهېزګاره مور پلار مطلب دي ، نه چې بد کردار ، بد اخلاقه او بدتميزه. او کوم مور پلار چې نۀ بد او فضول کارونه کوي او نۀ د بدو مل وي. نو اولاد له پکار دي چې هغوي هم د داسې بدو کارونو نه ځان په ډډه وساتي ، چې خاندان او مور پلار يې بدنامه او بې عزته نۀ شي. هم د دې مطلب دپاره يې مشران د نصيحت په توګه خلقوته په خصوصي توګه کشرانو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "مۀ کړه هغه کار چې نۀ دې مور کړے وي نۀ پلار".

مۀ کوه په چا اوبه شي په تا

دا يو دېر مشهور متل دے. مطلب يې دا دے چې کنې چا سره فريب ، دهوکه دهراکه مۀ کوه. په بل باندې زور ظلم مۀ کوه. بل چا سره بد مۀ کوه. بل ته کنده مۀ کنه. کنې هم داسې به تا سره وشي. د دې مطلب دپاره نور هم دېر متلونه په جدا جدا رنګ او طرز کښې وئېلې او مشهور شوي دي. لکه وايي: "چې څۀ کړې هغه په ربې" "خپل عمل د لارې مل" "دومره بد کوه چې خومره خپله اوړے شې" "څوک چې بل ته کنده کني نو خپله پکښې لويږي" يا "چې څنګه نيت هسې مراد" او داسې نور دېر متلونه دي چې مطلب او مراد يې د دې متل سره تړون خوري. او د موقعې او حالاتو په مناسبت سره د يو بل دپاره استعمالېږي. لنډه دا چې بل چا سره بد مۀ کوه. چا ته غم خفګان او تکليف مۀ رسوه ، نو خپله به بد نۀ مومې. او که دې چا سره بد وکړل يا دې چا ته زيان ورسوؤ نو هم هغه شان تکليف ، غم خفګان او زيان به تاته هم مېلاؤ شي او هم د دې مطلب دپاره يې مشران د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "مۀ کوه په چا اوبه شي په تا".

کـــــوهے مـــــۀ کـــــه د بـــــل ســـــړي پـــــه لار کښـــــې
چـــــړي ســـــتا بـــــه د کـــــوهي پـــــه غـــــاړه لار شـــــي

(عبدالرحمان بابا)

چـــــې پـــــه چـــــا نـــــۀ کـــــړي پـــــه هغـــــه نـــــۀ شـــــي
خپلـــــه پرېـــــوځي چـــــې څـــــوک لار کـــــده کوينـــــه

(فرهاد روغ لېونے)

مياشت د اوله پېژندے شي

مياشت د اول نه پېژندل د هوښيارتيا ، عقل فکر ، شعور او د پوهې يوه اندازه او پېمانه ده. پخوانو مشرانو په خصوصي توګه کلي والو زميندارو به د مياشتې يا د مياشتو (موسم) په حقله د خپلو تجربو او پوهې تر لاندې خپله رائے قائموله او وړاندې کوله. يعني د مياشتې په (اول) ورځمبو ورځو کښې چې به هغوي څۀ نخښې نښانې ولېدې يا محسوسه کړي. يعني د هوا رفتار او سمت ، د وريځو تک راتک ، رنګ ، کوربدل او خوربدل ، د مارغانو په اوازونو او تک راتک او يا د څۀ مخصوصه نښانو سره به هغوي خبردارے (پېشنګوئی) کولې او ورکولې. يعني د مياشتې او د موسم په حقله به هغو د اول نه خپله رائے يا خيال وړاندې کولو. چې دا مياشت او موسم به څنګه وي يا څنګه تېريږي. د هغه وخت د مشرانو هغه عقل فکر او پوهه هوښيارانو په دې متل کښې ستائيلې او مشهوره کړې ده. او مطلب تر ېنه دا دے چې کټې څنګه چې مياشت د اول نه پېژندے شي. داسې يو بنيادم هم په اولنۍ عمل او خبرې نه وپېژندے شي. يعني يو غړے چې جا سره مېلاؤ شي نو هغه په خپل عمل يعني کرو وړو ، خبرو اترو او يا د څۀ عادت له امله خپل اثر او پېژندګلو وکړي يا پرېږدي. او د داسې نښانو يا اشارو له کبله هوښياران وايي چې پته ولګېده چې دا بنده کومې قبيلې له دے. يعني دا څۀ رنګې بنيادم دے ، يا يو بنده د بل چا نه څۀ طمع لري يا ورته څه په حواله کړي او هغه کار ، يا هغه طمع پوره نۀ شي او هغه بنده ورته څۀ انه بهانه کوي ، يا په بهانو خپله غاړه صفا کوي. نو هغه ګيله مند سړے ورته داسې وايي چې پرېږده يار! زۀ تا د اوله پېژنم ، يا ماته د اول نه پته وه چې دا کار به اونۀ شي ، يا دا کار به تۀ اونۀ کړے شي. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې! "مياشت د اوله پېژندے شي".

ميروس په وس پر دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو ظالم زميندار وؤ چې کن دهقانان يې ساتلي وو. په دغه دهقانانو کښې يو دهقان ميروس نومېدو. ميروس ډېر ساده او سپېڅلے بنده وؤ. هر کار به يې ښۀ په شوق او ايمانداری سره کولو. خو د نورو دهقانانو په شرارت او لمسه به هغه زميندار مدام ميروس ته غصه او په قهر وؤ. وخت بې وخته به يې ميروس ته بهانې لټولې ، سپورې ستغې ، او وښاکانې به يې ورته کولې. وايي چې يوه ورځ ميروس ته په وېنا او زورنه شروع وکړه. چې تۀ د سحر نه لګيا يې او تر اوسه پورې دې دا کار نۀ دے خلاص کړے. ميروس غريب چې ډېر صبرژن وؤ. خو په دغه وخت يې اوبۀ د سره واوړېدې. او زميندار ته يې ځواب ورکړو چې خان! ميروس په وس پر دے. او ما خو د وس نه هم زيات کار کړے دے. نور زۀ څۀ اوکړم. او داسې وايي چې د ميروس دا خبره د هغه وخت نه د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب تر ېنه هر بنيادم په خپل وس پر دے. يعني هر بنيادم په خپل وس پر دے. چې څومره دجا وس وي هغه هومره بار به وړي ، يا چې څومره بې وس دے نو دومره بې ذمه واري ده.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک داسې په څۀ کار روزګار کښې پاتې راشي يا په څۀ خبره کښې پر راشي. يعني چې هغه کار يا هغه خبره د هغۀ د وس نه ېر وي ، په واک اختيار کښې نۀ وي يا په بس او طاقت کښې يې نۀ وي. نو هغه بنده چې کله خپله غاړه صفا کوي يا خلاصوي نو خپلې مجبورۍ ، کمزورۍ ، بې بسي او بې وسي په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې خانه! "ميروس په وس پر دے".

ميړي ته چې خدائے په قهر شي نو وزړي ورکړي

ميړي هم د الله پاک يو مخلوق دے او الله خبر چې د مېرو څومره قسمونه دي. خو مونږ يې په دوۀ ډلو کښې پېژنو. يو قسم ته غټ ميړي وئيلے شي او بل وارۀ او نري ميړي وي. ميړي که د هر قسم وي خو په زمکه کښې يا د دېوالونو په سوړو کښې کورونه ابادوي. او ورکښې اوسي او په زمکه په تولند تولند کرځي. دا هم د الله پاک يو حکمت او قدرت دے چې غټو مېرو له د پشکال په موسم کښې وزړي ورکړي. يعني هغه مخلوق چې په زمکه په پښو کرځي نو د هغوي وزړي وشي. کله چې د پشکال بارانونه شروع شي نو په زرګونو ميړي د خپلو سوړو نه راوځي او په هوا شي. داسې په يو وخت چې په زرګونو رابېر شي نو بيا په يو وخت مري هم په زرګونو. څوک په هوا کښې د مرغو خوراک شي ، څۀ د جرګ جرګورو او څۀ د بنيادم د پښو د لاندې مړۀ شي. يعني د مېرو وزړي کېدل ، په يو ځائے د کوره راوتل

او په يو ځائے بېشمېره مړۀ کېدل ، مشرانو د مېرو دپاره يو عذاب کېلے او کرځولے دے. او وايي چې کنې دوي ته خدائے په قهر شو. نو ځکه يې وزري ورکړي او د مرګ دپاره يې د کوره راايهر کړل. د مېرو دا عذاب يا حالت مشرانو په دې متل کښې وراندې کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې د چا بنيادم نه داسې څۀ کار وشي. چې ورکښې زيان او تاوان وموميږ. يعني په څۀ کار ، څۀ خبره کښې يا چرته په تګ او سفر کښې چې چا ته زيان ورسي يا په څۀ حادثه کښې مر شي نو په داسې موقع ځنې خلق داسې وايي چې دا ورته خدائے په قهر شوے وۀ. نو دې کار ته يې مخه شوه يا خدائے وهلے وۀ چې دغه ځائے له تلو. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي چې: "ميري ته چې خدائے په قهر شي نو وزري ورکړي".

مېلمه د کوربه غواړے وي

لکه څنګه چې دا خبره منلے شوې ده چې په متلونو کښې زياته برخه زمونږ د کلي والو زميدارو خلقو ده. يعني په هر متل کښې د کلي وال ژوند څۀ نه څۀ خوند او رنګ څرګندوي. دا متل هم د زميدارو خلقو د امروزه ژوند هغه اړخ څرګندوي کوم چې د هغوي په ژوند کښې ډېر زيات اثر لرلو. زميدار او غواړے د يو بل سره ترلې او د ژوند ژواک لازمي جزونه يا ځيزونه وۀ. يعني غواړے د زميدارو لازمي او اولے حاجت او ضرورت وۀ. او دا ضرورت ، غواړے به زميدارو داسې په خبرو او اشارو عادت کړے وۀ. چې زميدار به څۀ غوښتل غواړي به هغه کول. يعني غواړے به د مالک په رحم کرم وۀ. او د مالک په مرضي او منشاء به يې کارونه کول. د دې معنو نه دا معلومه شوه چې د غواړي خپل واک اختيار نۀ وي بلکې د مالک په مرضي ، خوښه او اشارو جلبيږي. د غواړي دا مثال مشرانو د مېلمه سره ترلے او مشهور کړے دے. او مطلب يې دا دے چې چرته يو بنده د چا مېلمه شي نو د هغۀ خپله مرضي ختمه شي. هغه بيا د کوربه په واک اختيار کښې وي. يعني د هغۀ خوراک څښاک او د تک راتک فېصلې کور به کوي. که کوربه غواړي نو ورځو شپو ته يې هم ايساروي. او که په داسې وخت هغه مېلمه خپله څۀ رائے يا فېصله وراندې کوي يا ترېنه د واپسۍ اجازت غواړي. او که کوربه د مېلمه په صلاح او مشوره راضي نۀ وي نو ورته داسې وايي چې په قلاره کښېنه. هغه به کيږي چې څۀ زۀ غواړم. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي چې خانه! "مېلمه د کوربه غواړے وي".

مېنځه ګړي چې ګن شي نو جنګ تودېږي

مېنځه ګړي بښۀ هم وي او بد هم. خو نېک پامه او نېک نامه کم وي او بد کرداره او بدنامه زيات وي. مېنځه ګړي اکثر د دوۀ کسو يا دلو تر مېنځه روغه صفاله کوي. جنګ ختمولو او خبره فېصله کوي. خو داسې مېنځه ګړي چرته چې د جنګ مېدان ته ورګډ شي. خلاصے او روغه صفاله کوي نو جنګيالي يو بل ته لاسرۀ شي. يعني داسې چې د جنګ په موقع او مېدان کښې خلق ګن راجمع شي او خلاصے کوي نو جنګ کولو والا يو بل پسې زورونه شروع کړي. او چې څومره مېنځه ګړي ګن شي او جنګيالي د يو بل نه جدا کوي نو دومره دوي يو بل پسې بښۀ زورونه کوي او په يو بل دوسې وهي او حملې کوي. د خلاصي په دې شور غوغا ، کنځلو وېناګانو ، په دوسو وهلو ، زورونو کولو او حملو کولو جنګ بښۀ تود شي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې د چا درېم ګړي يا مېنځه ګړي له امله د چا تر مېنځه څۀ بدي يا دښمني جوړه شي يا چرته د خلاصي په وخت چې جنګيالي يو بل ته سرۀ او تودۀ شي نو مشران هغه خلاصي کولو والا مېنځه ګړو ته داسې وايي چې هلکو لرې شئ ، پرېږدئ چې دوي يو بل سره څۀ کوي. او رښتيا هم دا ده چې په ځنې موقعو کښې ځنګه چې مېنځه ګړي د مېنځه لر شي يا اوځي او جنګيالي خپلې مرضي ته پرېږدي نو جنګ بيا په خپله سور او ختم شي. ځکه خو هوښياران وايي چې: "مېنځه ګړي چې ګن شي نو جنګ تودېږي".

" "
ن

نادیده چې په دیده شي ، رنا ورځ پرې توره شپه شي

دید د فارسی ژبې تورے (لفظ) د ـچې معنه ، ی یې لیدنه ده. یعنې د سترګو په نظر لیدل او کتل. په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب دپاره استعمالیږي. او پښتو ژبې هم د دې مطلب دپاره خپل کړے دے. دیدن د دید نه جوړ شوے دے چې معنه ، ی یې ده هغه خوږ او د خوښې شے یا زړۀ ته نزدې ، زړۀ پورې او زړۀ راښکونکے شے لیدل او کتل. یعنې هغه شے چې د زړۀ سود ، مینه پرې وشي. او د زړۀ تنده پرې ماته شي. هم داسې د دید نه دیده جوړ شوے دے او د دیده معنه ، ی ده. چې کټې په سترګو ځۀ لیدل ، مطلب دا چې د چا نظر روغ وي. او هغه پرې دنیا کوري او وینې. نو هغې بنده ته دیده وئیلے شي. او چې د چا نظر کار نۀ کوي یعنې خراب وي. په سترګو ځۀ لیدل کتل نۀ شي کولے. یعنې ړوند وي نو هغۀ ته نادیده وئیلے شي. یعنې دې ړوند دے ، ځۀ لیدل کتل نۀ شي کولے.

دوېم مطلب او معنه ، ی د دیده نه دا اخستے شي. چې کټې ځۀ شے یې لیدلے کتلے دے یا د حالاتو او واقعاتو نه خبر دے ، یا د کار روزګار په حقله معلومات لري. یعنې د دنیا په حالاتو ، معاملاتو او واقعاتو یې نظر وي. او معلومات لري. لکه د مثال په توګه د بښار یو تعلیم یافته بنده چې په دنیا یې نظر وي ، هر ځۀ وینې کوري او ښۀ یې پېژني. یعنې د نوۀ ځیزونو او حالاتو ورته علم وي. نو داسې غرے په دیده بللے او منلے شي او بل خوا یو ساده باده کلي والا غرے چې د حالاتو ناخبره وي چې دنیا څو ډانګه ده. په خصوصي توګه د نوۀ ځیزونو د جوړېدو او استعمال نه ناخبره وي نو هغه غرے په نادیده بللے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې زمونږ په جاپېرجل (معاشره) کښې دوه ټپې یا دوه ډلې دي. یو هغه ډله چې ورته د ژوند هر سهولت یعنې مال دولت ، روزګار ، ارام سکون او د ژوند کولو هر ارائش یعنې نوي نوي ځیزونه حاصل وي. هغوي د علم تعلیم او د هنر نه ښۀ خبر وي. یعنې په دې ښۀ پوهیږي. چې دنیا څو ډانګه ده. او بله هغه ټپه یا ډله ده. چې هغوي د خپلې لاجارۍ او غریبۍ له کبله نه د ژوند ښې ورځې لیدلې وي. او نۀ ورته هغه رنګ په رنګ او نوي نوي ځیزونه حاصل وي. او نۀ د ژوند کولو په نوي طرز او نوي طریقو خبر وي. او نۀ یې لیدلې وي. یعنې هغه خلق چې هغوي ته دوه او دوه څلور دودۍ ښکاري او هم هغه په پلار نیکۀ زور امام او زړې تراویح. کله چې داسې نادیده خلق ځۀ نوے او نااشنا شے ووینې نو حق حیرانه ورته کېږي ، له وي. او بیا کله چې داسې چا نادیده بنده ته ځۀ مال دولت مېلاؤ شي ، یا ورته ځۀ وس طاقت او یا ځۀ واک اختیار مېلاؤ شي او یا د ژوند د نوې طور طریقو نه خبر شي. نو بیا د هغۀ د ژوند هر ارخ یعنې عادتونه کارونه ، ناسته پاسته او د ژوند کولو طور طریقې داسې بدلې شي ، یا داسې جوړېږي چې هوښیاران ورته حق حیران کوته په خ ، له وي او په خ ، له یې اخر دا وینا راشي چې: "نادیده چې په دیده شي نو رنا ورځ پرې توره شپه شي".

نمر په کوته نۀ پتیږي

نمر په کوته پتول د پښتو ژبې محاوره ده ، چې د متل په توګه هم استعمالیږي یعنه ، ی یې دا ده چې کټې نمر دومره غټ ، روښانه ،ځلنده ، ښکاره او ځرکنده دے چې په کوته کښېنودلو یا نیولو نۀ پتیږي. یعنې که ځوک د نمر مخې ته کوته یا لاس اونیسي. چې کټې نمر به تر ښه پناه او پټ شي. نو دا د نۀ منلو خبره ده. بلکې بې وقوفتیا او کم عقلتیا ده. د نمر اوکوتې دا فرق او نسبت مشرانو په دې متل کښې ستائېلې او مشهور کړے دے. او مطلب تر ښه دا دے چې که داسې یو غټ شے ، غټ کار او یا غټه خبره چې لکه د نمر ښکاره او ځلنده وي. او ځوک یې پتول غواړي. نو هغه شے ، هغه خبره او هغه کار پټ نۀ شي پاتې کېدے ، یا پټېدے نۀ شي. بلکې لکه د نمر به خپله ښکاره او خوره شي ، یا هغه خبره او کارنامې خپله خلقو ته ځرکنده شي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د چا صفت کوي او يا غيبت کوي. يعني که د چا ښۀ کارونه بيانوي. اويا بد او غلط کارونه ، يا که څوک داسې څۀ غټ کار يا غټه خبره پټول غواړي. نو خلق ورته داسې وايي چې يار دا خو هر چا ته معلومه خبره ده ، يا دا خو هر چا ته لکه د نمر ښکاره دي. او که هر څو يې څوک پټول غواړي خو دا نۀ پټېږي. ځکه چې: "نمر په ګوته نۀ پټېږي".

نن دے که سبا دے دا مال د زرغون شاه دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په يو کلي کښې دوه وروڼو وسېدل. په يو کور کښې يې په اتفاق سره ژوند کولو. د دوي داسې خوږه او مثالي وروروالي وه. چې په علاقه کښې به خلقو د دوي مثالونه ورکول. د مشر ورور څۀ اولاد نۀ وؤ. او د کشر هم ي يو زوئے وؤ. چې زرغون شاه نومېدو. مشران وايي چې کوم ځائے دوه لوښې يو ځائے وي نو ټنک تري خېژي. داسې په دې کور کښې به هم کله کله د يوريانو تر مېنځه لوبه کرمه شوه. د ښځو جنګ څۀ وي بس يوې بلې ته ښېرې او پېغورونه. او اکثر په داسې جنګ کښې کټوره او وړه هغه مېرمن وي. چې د چا دېرې ښېرې او پېغورونه زده وي. په دې کور کښې به هم د زرغون مور اکثر هغې پور ته دا پېغور ورکولو چې ورکه شې ميراثي ، ستا خو د ميراث هم څوک نشته. او دا هر څۀ به زما زوي ته پاتې وي. وايي چې داسې يوه ورځ چې جنګ ګرم شو. نو د زرغون مور دا پېغور څۀ په دې انداز او طرز کښې ورکړو. چې څه خوارې ميراثه شوي. نن دے که سبا دے دا مال د زرغون شاه دے. او کله چې دا جمله يا فقره د مشرانو تر غوږو شوه نو د هغوي دومره خوښه شوه. چې د متل په توګه يې مشهوره کړه او مطلب ترېنه دا دے چې کنې دېر زر به دا مال حال ، دولت او جائېداد زرغون شاه ته پاتې شي. نن سبا يې هم خلق د چا ميرات غړي په حقله استعمالوي ، يا چرته چې داسې د چا څۀ طمع او امېد وي. چې څۀ شے يا څۀ مال دولت به ورته مېلاؤ شي. نو هغه خپل امېد او د خوشحالي جذبات په دې متل کښې څرکندوي او وايي چې: "نن دے که سبا دے دا مال د زرغون شاه دے".

د زرغون هسې نوم بدنام شو خوښه د خدائے ده چې مال چا له ورکوينه

نۀ پوهه نو نۀ ګرم ، ښۀ پوهه نو ښۀ ګرم

د ګرم معنه ، ې او مطلب دے پر (مجرم)ي چرته چې څوک داسې په څۀ غلاء ، لطي يا په څۀ بدو کښې کېر شي ، يا په څۀ داسې خبرو کښې راکېر شي چې هغه اخلاقي او قانوني جرم وي. نو هغه کرم (مجرم) کېلے او مېلے شي. او داسې بنده ته کرم وئيلے او بللے شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې چرته داسې يو کم عقله ، کم علمه ، ناپوهه او ساده باده بنده څۀ په داسې جرم کښې کېر شي. چې هغۀ ته دا علم نۀ وي چې کنې دا کار کول جرم دے ، يا د صحيح علم او هنر نۀ لرلو له کبله په څۀ کار کولو کښې ترېنه څۀ شے وران اوخراب شي ، يا ترېنه هغه کار خراب شي. نو هوښياران وايي چې هغه کرم نۀ دے. او بل خوا چې څوک پوهه او هوښياره بنده سره د عقله څۀ غلط کار وکړي ، يا سره د پوهې څۀ جرم وکړي نو هوښياران وايي چې داسې بنده ښۀ کرم يعني د سختې سزا لائق دے. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې د چا ناپوهه او کم عقل بنده د لاسه په خطائی او ناپوهی کښې څۀ غلطي وشي ، يا چرته هوښياره او عقل مند بنده سره د عقله څۀ غلطي او جرم وکړي نو هوښياران ورته دا متل وړ اندې کوي او داسې وايي چې: "نۀ پوهه نو نۀ کرم ، ښۀ پوهه نو ښۀ کرم".

نۀ د دين شوې او نۀ د سادين

د دين معنه ، ې او مطلب خو څرکنده دي. يعني زمونږه مذهب او شريعت (دين اسلام) مطلب دے. يعني د الله پاک له غارې چې کوم قانون او ا ، صول د انسانانو دژوند کولو لپاره غوره ګڼے شوي او رالېږلې شوي دي هغه ا ، صول او قانون د دين په نامه مېلے او پېژندلے شوې. سادين خاص د زميدارو تورے دے او معنه ، ې يې اړولې شوې زمکه ده. يعني زميدار چې د کروندې نه مخکښې پټے په يوې واړوي نو هغې اوربدلې زمکې ته سادين وئيلے شي. خو په متل کښې د سادين نه مطلب دنياوي سود زيان ، مال حال او لېن دېن دے.

يعني د دنيا کتنه وټه يې د سادين په نامه ياده کړې ده. د دې معنو تر لاندې د متل مطلب دا شو چې کنې نۀ دې دين وکتلو او نۀ دې دنيا وکتله.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک داسې د دوارو جهانو وخي. يعني نۀ دين زده کړي او نۀ يې پرې عمل وي او نۀ ورسره د دنيا څۀ علم ، هنر او مال دولت وي. يعني په دنيا هم خوار وي او اخرت يې هم خوار وي. نو داسې د دوارو جهانو خوارو خلقو ته مشران دا متل وراندې کوي او داسې وايي چې: "نۀ د دين شوې او نۀ د سادين".

نۀ دې په راتلو پوهه شوم او نۀ دې په تلو

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه فرضي قيصې مشهوره ده. وايي چې يو ورځ د هاتي غوږ ته يو ماشے ورنښتو. دېره شېبه يې ورله په غوږ کښې بنګه بنګه وکړل. خو د هاتهې پرې څۀ غوږ اونۀ کړېدو. يعني د ماشي په بنکار هاتهې هډو پوهه نۀ شو. ماشے چې ښۀ سترے شو نو په غوږ کښې يې هاتهې ته وټل چې ښۀ ده ماما تۀ خپل کار کوه. او زۀ درنه لاړم. هاتهې ورته وټل چې ځي نو خه. خو نۀ دې په راتلو پوهه شوم او نۀ دې په تلو. يعني مطلب يې دا وۀ چې که تۀ راغلې نو هم دربانديې زما څۀ نۀ او که ځي نو هم دربانديې زما څۀ پاتې او نېمګړے نه. نۀ دې په راتلو راته څۀ فائده وه او نۀ دې په تلو راته څۀ زيان او تاوان مېلاويږي. يعني نۀ مې درته حاجت شته او نۀ ضرورت. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې سنائيلے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې په څۀ کار کښې د چا د لاسه بل چا ته څۀ فائده رسي او نۀ زيان. او بيا هم هغه بنده خپل قدر قيمت او عزت په بل زياتوي يا خان درنوي.دا کۀ ، مان لري چې کنې که زۀ نۀ وے نو دا هر څۀ به نيمګړي پاتې وي. اوکه هغه کار والا د داسې بنده نه څۀ کتنه او تاوان نۀ وينې او نۀ مني نو په داسې موقع هغه خپل مطلب په دې متل کښې وراندې کوي او داسې وايي چې خانه! "نۀ دې په راتلو پوهه شوم او نۀ دې په تلو".

نۀ سبق وايم او نۀ په سړک ځم

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصې مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو زميدار يک يو زوئے وۀ. او هر څوک ښۀ خبر دي. چې يو وي نو هغه دېر نازولے او نيازبين وي. داسې دا ماشوم هم په کور والو دېر کران او نيازبين وۀ. کله چې دا ماشوم لږ په ښۀ بده پوهه شو نو پلار د مولوي صېب سره سبق ته کښېنولو. ماشوم خو څو ورځې جومات ته تلو راتلو. خو بيا د داسې ماشومانو سره ملکړے شو چې د سبق سره يې دزې کړې وي. د دلې سره به ټوله ورځ ابرار کرځېدو. زميدار غريب به سحر وختي پټو ته تلو او په توره شپه به راتلو. هغه د زوي د حاله هيڅ خبر نۀ وۀ. کله چې مولوي صېب هغه زميدار د ماشوم په حال خبر کړو نو پلار په زوره يو خل بيا مولوي ته په حواله کړو. او داسې څو څو خله وشول. مولوي به په زبردستي څو ورځې ايسار کړو او هلک به بيا د مولوي صېب ملاقات وشو. مولوي ترپنه تپوس وکړو چې وايه کنه ، کۀ ، ل خان څنګه دے. څۀ کار روزګار درسره کوي او که نه. زميدار ورته په حيرانتيا سره وټل چې مولوي صېب! ما خو له تا نه تپوس کولو چې کۀ ، ل خان په سبق کښې کوم ځائے ته ورسېدو. مولوي ورله ځواب ورکړو چې د الله بنده! هغه خو مياشت دوه وشو چې جومات ته نۀ راځي. ما خو دا کمله چې کنې تا د ځان سره په کار کښې جوت کړے دے. خبر کله چې زميدار کورته راغے نو د بده مرغه کۀ ، ل خان په کور کښې کبر شو. اول خو پلار په وهلو ښۀ شوبله کړو او چې زۀ يې پرې يخ کړو نو د غوږ نه يې ونيوو او په کوخه کښې يې ورته وټل چې دا سړک ونيسه او نبغ سبق له ځان رسوه ، زۀ درپسې درځلم. هلک چې کله د پلار د لاسه خلاص شو نو دېر په غصه يې ورته وټل چې نۀ سبق وايم او نۀ په سړک ځم. او په مخه وتښتېدو. او داسې د هغه وخت نه دا فقره د متل په توګه مشهوره شوه. مطلب يې دا دے چې د څۀ خبرې نه سکوت انکار کول. يعني چا ته صفا ځواب ورکول او د څۀ خبرې ، يا کار نه بېخي انکاري کېدل.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالیږي چرته چې څوک داسې د څۀ کار یا د څۀ خبرې نه تر پوزې راشي. هغه کار پرېږدي یا بند کړي او که مالک یا بل څوک ترېنه د هغه کار کولو تقاضه کوي او هغه بنده بالکل سکوت انکاري وي ، یا د انکار کولو اعلان او بیان کول غواړي نو خپل مطلب په دې متل کښې څرګندوي ، یا وړاندې کوي او داسې وایي چې بس یار نور! "نۀ سبق وایم او نۀ په سړک څم".

نۀ سل علاجه او نۀ یو پرهېز

دا د هوښیارانو حکیمانو یو قول دے. چې د متل په توګه هم مشهور دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کښې پرهېز د علاجه هم زیات ضروري او د کار شے دے یعنې علاج په خپل ځائے ، خو چې پرهېز ورسره نۀ وي نو دارو د ۰ رمل هېڅ فائده نۀ رسوي. یعنې که سل علاجه وکړي. او یو پرهېز اونۀ کړے شي نو هغه علاج بې فائدې او بې کاره شي. او داسې چې څوک روغ رمټ بنده د هر هغه شي یا هغه کار نه پرهېز کوي او ځان په ډډه ساتي. کوم چې د مرضونو سبب جوړېږي. نو هغه بنده د نورو عامو خلقو په ټېز روغ رمټ او روغ صورت وي. او چې څوک داسې بد پرهېزي کوي نو هغو ته مرضونه تیار ولاړ وي. او څوک مریض چې پرهېز نۀ کوي نو هغۀ سره د ډېرو علاجونو هم نۀ رغېږي. بلکې مرض یې لا وړدېږي. او مریض نور زیات کړېږي. هم دا مطلب حکیمانو په دې متل کښې څرګنده کړے او مشهور کړے دے. او په لنډو ټکو کښې یې مطلب دا دے چې یو پرهېز د سلو علاجونو نه بهتره دے ، یا پرهېز د علاج نه زیات ضرورت او حاجت دے.

نن سبا یې هم خلق د ټېوس پوښتنې په وخت مریض ته د دم دلاسې په توګه او حکیمان او ډاکټران یې مریضانو او عامو خلقو ته د نصیحت په توګه وړاندې کوي او داسې وایي چې خانه! د پال پرهېز ډېر خیال ساته او کوه ، ځکه چې: "نۀ سل علاجه او نۀ یو پرهېز".

نیکي به دې باجا کړي ، او بدي به دې رسوا

د نېکۍ او بدۍ دا جنګ د ازل نه راروان دے. او تر قیامته به جاري وي. د متل مطلب دا دے چې کښې ښۀ د (نېکۍ) کارونه کوئ. نو بدله او انجام به یې ښۀ وي. او چې څوک داسې ښۀ کارونه کوي نو خلق ورله هم ښۀ قدر عزت ورکوي. او لکه د باجا ورته ښۀ په خوږه او درنه سترګه کوري. یعنې لکه د باجایانو غوندې په قدر عزت دروند خوږ وي. او چې بد کوي ، بد اخلاقه ، بد کرداره او بد خویه وي. او په معاشره کښې بدي خوروي نو هغۀ ته خلق په سپک نظر کوري. هم په خپل کور او جم کاوند یعنې معاشره کښې سپک ، بدنامه او رسوا شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کښې د نېکۍ کارونه سړي له قدر عزت زیاتوي او مرتبه یې وجتوي. او بد کارونه سړے بدنامه او رسوا کوي. او هم د دې مطلب دپاره یې مشران د یادګیرنې ، نصیحت او د سبق په توګه وړاندې کوي او داسې وایي چې: "نېکي به دې باجا کړي او بدي به دې رسوا".

نیم م ۰لا سړے ک ۰ فر ته رسوي

د نیم م ۰لا نه مراد او مطلب هغه پنده دے کوم چې عالم نۀ وي. یعنې باقاعده علم یې حاصل کړے نۀ وي. او بیا هم خلقو له خپله رائے ، مشهوره ، فېصله او یا فتوی ، په څۀ دیني مسئله کښې ورکوي. د شرعي مسئلو او فېصلو دپاره یو خصوصي علم وي او چې هغه علم پاس کړي نو هله بنیادم مولوي او مفتي جوړ شي او هېڅۀ مسئلې په حقله خپله فېصله او فتوی ، ورکولے شي. او چې څوک داسې بې علمه یا کم علمه یعنې نیم م ۰لا وي او که هغه چرې د کم علمې له کبله جا له داسې څۀ فتوی ، ورکړي. چې د اسلام او شریعت نه خلاف وي. نو په هغې عمل کولو به هغه بنده ک ۰ فر ته ورسي. هم داسې حالات او واقعات مشرانو په متل کښې ستائیلې او مشهور کړي دي. او خلقو ته یې نصیحت په توګه وړاندې کوي چې کټې د داسې بې علمه او کم علمه بنده ، یعنې نیم م ۰لا نه ځان ساتئ. هسې نه چې د هغۀ په څۀ فتوی ، یا فېصله عمل وکړئ او خدائے مۀ کړه چې ایمان مو ختم شي ، او کفر ته ورسئ. په دې حقله په اردو ژبه کښې هم یو متل دے. چې مطلب یې هم دا دے خو د م ۰لا سره یې نیم حکیم ، او د ایمان سره یې د ژوند خطره هم تړلې او یاده کړي ده. هغه متل داسې وئیلے شي چې "نیم م ۰لا خطره ایمان اور نیم حکیم خطره جان".

د نـــــيم مـ ـــــــــلا نـــــــــه امـــــــــان غـــــــــواړه
د نـــــيم حکـــــيم نـــــه چـــــې اونـــــۀ کـــــړې علاجونـــــه

Pukhto.Net
پښتو

"و"

واړۀ ژاړي او نايي ورله سر خروي

دا يو عام متل د معنـ ی او مطلب يې د الفاظو نه څرګنده دي. ماشومان اکثر د نااشنا خلقو نه وېرېږي او ډډه ترېنه کوي. او بيا د نايي سره چې چړې او قينچۍ ووينې نو وېره يې لا زياته شي. ډېر کم کوز ماشومان داسې وي چې نايي ته پخپله کښېني. ګڼې اکثر ورته په زوره کښېنولے او نيولے شي. او تر څو چې نايي وېښتۀ خرئ نو تر هغې ماشومانو چغې سورې جوړې کړې وي. د ماشوم په دې ژړا انګولا او چغو سورو نايي خپل کار نۀ پرېږدي. بلکې ماشوم ژاړي او نايي خپل کار کوي. هم دا حالات يعنې يو خوا د وړو ژړا انګولا او بل خوا د نائي خپل کار جاري ساتل يا خپل کار کول ، مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړے او مشهور کړے دے. مطلب ترېنه دا دے چې څۀ کار جائز وي او کول يې هم ضرورت او حاجت وي يا لازمي وي نو د چا په ژړا فرياد ، په دپکو دهړاکو اواحتجاج سره پرېښودل ، بندول او يا ترېنه وروستو کېدل نۀ دي پکار. يعنې که څوک د هغې کار مخالفت کوي نو پرواه يې مۀ ساته. بس خپل کار ويستل او ختمول پکار دي. نن سبا هم په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې څۀ کار کوي چې د هغې کول ضروري او لازمي وي. او که څوک د هغه کار مخالفه وي او هغوي ژړا فرياد ، شور شرابه يا اعتراض کوي نو مشران هغه کار کونکي ته وايي چې دوي به خپل کار کوي. او تۀ خپل کار جاري ساته. نو دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او وايي چې: "ماشوم ژاړي او نايي ورله سر خرئ".

کـــــــــــــــــه د وړوکـــــــــــــــــي پـــــــــــــــــه ژړا وه
نايـــــــــانو پرېښـــــــــي بـــــــــه پخـــــــــوا وو خپـــــــــل کارونـــــــــه

وازدې د هر چا خوښې وي ، خو د پيشو ورپسې کسي لوېږي

دا يو عام متل دے او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې غوښې او وازدې د هر چا خوښې وي. خو د پيشوګانو بيا ډېرې زياتې خوښې وي. د کسي لوېدو نه مطلبدا دے چې د لوږې نه نوم يا پ ـختورګي پرېوځي ، يا داسې د يو شي طلب ، تمنا ، ارمان او حرص کوي چې ورپسې ناروغه (مريض) جوړ شي ، يا لکه دماشوم ورپسې جبۍ شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې دپيشو وازدې دومره خوښې وي چې ورپسې ناجوړه کېږي ، يا ورپسې يې جبۍ کېږي. د پيشو او د وازدو دا خوښه يعنې نسبت او جوړښت مشرانو په دې متل کښې وړاندې کړے دے او مطلب يې دا دے چې ګڼې د څۀ شي دومره طمع ، طلب او حرص نۀ دے پکار چې ورپسې يې جبۍ شي ، يا دومره خواره او سپۍ ارواه نۀ ده پکار چې لکه د پيشو ورپسې بيا کسي لوېږي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې خواره ارواه او لکه د سپي خوي لري. او د سپيتوب کارونه کوي يا د کولوتکل کوي ، يا د کولو خيال څرګندوي. نو په داسې موقع د هغه غړي په حقله خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "وازدې د هر چا خوښې وي خو د پيشو ورپسې کسي لوېږي".

ورک تۀ شې او ورکه دې ډبلۍ شه

قيصه:

د دې متل په شا داسې يوه قيصۍ بيانېږي. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو کلي والا سړے ښار ته تلے وؤ. په بازار کښې راروان وؤ او په دوکانونو کښې يې په قسم قسم څيزونه او سامانونه ليدل او کتل. په وړومبي ځل ښار ته راغلے وؤ. نو ځکه حېرانه اوتر اوتر ګرځېدو. کله به يو دوکان او کله بل ته په ننداره او تماشه وؤ.په دې هنداره او ننداره کښې يې د چمپار په يو دوکان نظر اونخښتو. څۀ ګوري چې يو سړي ډبلۍ په لاس په څرمنې راباندې کړې وې. دې کلي وال ورته څۀ شېبه د بهر نه ننداره کوله او اخر د تلوسې له کبله دوکان ته په قدم پورته کولو مجبوره شو. د ستړي مۀ شي نه پس يې د هغه دوکاندار نه پوښتنه وکړه چې اشنا دا څۀ کوې. هغۀ ورله ځواب ورکړو چې خانه دا څرمن په دې ډبلۍ ټکووم او پلنه ووم چې پخه شي نو بيا به ترېنه پېزار جوړووم. هغه کلي وال سړي ډبلۍ په لاسو کښې

واخسته او ښهٔ په غور يې وکتله. دوکاندار ته يې وئېل چې د دې نه ښهٔ ډبلۍ به درله زهٔ جوړه کړم. هغهٔ ورته وئېل چې ښهٔ ده وروره که دې راوړه نو ستا ډېره منځه ساده ګ ل چې کله کلي ته راغے نو د ترکاڼ سره يې د ډبلۍ خبره وکړه. ترکاڼ ته يې وئېل چې نېکه داسې ډبلۍ جوړه کړه چې په ټول ښار کښې يې صفتونه کيږي. هغه ترکاڼ هم ورله ډېره مضبوطه ، ښهٔ ښکلې او د سود ډبلۍ جوړه کړه. څهٔ ورځې پس دې سړي چمیار له ډبلۍ يوړه. چمیار چې وليده نو ډېر خوشحاله شو او د ډبلۍ يې ډېر صفتونه او تعريفونه کول. او دې سړي له يې ښهٔ خدمت او اوبهٔ چيلم وکړل. بيا چې به کله دا سړے ښار ته لاړو نو د چمیار سلام له به هم ورتلو. او د سلام سره به يې دا پوښتنه وه چې وايه کنه اشنا څنګه ډبلۍ مې درله راوړلې وه. او د هغې ورځې اوبهٔ چيلم به په چمیار وؤ. داسې څو څو وارې وشول چې دا سړے به د چمیار دوکان ته ورتلو. او سم د ټکه په يې وئېل چې وايه کنه اشنا څنګه ډبلۍ مې درله راوړلې ده. اخر چې چمیار د دې سړي نه ډېر تنګ راغے. يوه ورځ هم په دې سوچ کښې ډوب وؤ ورباندې هم هغه ساده ګ ل راغے. د دهٔ په ليدو سره د چمیار پاره سر ته وخته او څنګه چې ساده ګ ل وئېل چې وايه کنه اشنا او د اشنا سره ورته چمیار ډبلۍ مخې ته ګوذار کړه او ډېر په غصه يې ورته وئېل چې ورک تهٔ شه او ورکه دې ډبلۍ شه. تا خو په ډبلۍ زهٔ پوزې له راوستم. واخله دا ډبلۍ او څه خپله لار نيسه. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي. چرته چې څوک د چا سره څهٔ مرسته او احسان وکړي او هغه احسان ورباندې بيا بيا زبادي. او وخت بې وخته يې ورته وريادوي. اخر چې په دې زبادلو هغه غړے تېښتې له راشي نو بيا خپل جذبات ، حالت او کېفيت په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې څه مړه! "ورک تهٔ شې او ورکه دې ډبلۍ شه".

وړه خ ، له او غټې خبرې

دا د پښتو ژبې يوه محاوره ده. چې د متل په توګه هم استعماليږي وړې خ ، لې نه مراد دلته بنيادم دے. يعنې داسې څوک کمزورے غريب او کم حېثيت والا بنده. چې په مالي توګه وړوکے يعنې کمزورے وي ، يا د عهدې او مرتبې په نېز وړوکے وي. او که چرته داسې بنده څهٔ غټې خبرې کوي يعنې ډوزې او لاپې وولي نو دا داسې شوه چې په وړه خ ، له غټې خبرې کوي. هم داسې حالات او واقعات مشرانو په دې متل کښې څرګنده کړي او مشهور کړي دي. او په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې غټې خبرې کوي ، لاپې او ډوزې وولي يا خپلې قيصې او کارنامې بيانوي. نو د محفل خلق ورته داسې وايي چې تا ته ګوره او ستا دې خبرو ته ګوره او په طنز کښې ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې وړه "خ ، له او غټې خبرې" ، يا څوک کمزورے ، غريب او کم حېثيت والا بنده که چا اوچتې مرتبې يا د ځانه غټ بنده ته خپله څهٔ رائے ، مشوره او يا څهٔ خبردارے ورکوي نو د يقين پيدا کولو او د باور ورکولو دپاره ورته داسې وايي چې خان وړه "خ ، له او غټه خبره". خو دا کار داسې شوے دے يا داسې کول پکار دي.

وږې خېټه به مړه شي خو وږې سترګې نهٔ مړيږي

کله چې خېټه خالي وي نو بنده ته د خوراک حاجت او ضرورت وي. دې حاجت ضرورت او خواهش ته لوږه وئېلے شي او لوږے اخستې يا لوږې لرلو والا بنده ته وږے وئېلے شي. او دا لوږه په دوه قسمه ده. يو هغه لوږه ده چې خېټه خالي وي او بنيادم ته د خوراک ضرورت او حاجت وي ، يا د خالي او تشې خېټې له کبله بنده د خوراک خواهش لري. او چې خوراک وکړے شي نو خېټه ډکه شي او بنده موړ شي. او دوېمه هغه لوږه ده چې حرص ، لالچ ، طمع او د ډېر مال دولت جمع کولو له کبله بنده ته لګي. يعنې څنې بنيادم داسې وي چې د هغهٔ حرص زيات وي هر وخت د هر چا نه د څهٔ نه څهٔ ب ، دې کولو طمع لري وئے او اوږدهٔ ا ، مېدونه لري او جوړوي. د مال دولت وږے وي. نو داسې لوږې ته د سترګو لوږه وئېلے شي. يعنې د هغهٔ خېټه خو مړه وي يا مړه شي خو سترګې يې وږې وي. يعنې د لالچ حرص او غرض له کبله د هغهٔ سترګې نهٔ مړيږي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې د خېټې وږے بنده خو موړ شي خو د سترګو وږے بنده نهٔ مړيږي. او هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائېلے او مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې داسې وږ سترګے بنده څهٔ حرکت يا عمل وکړي چې د هغهٔ د سترګو لوږه ، يعنې حرص ، لالچ حسد او طمع ترېنه څرګنده شي. نو مشران ورته د نصيحت او د طنز په توګه وايي چې که دا هر څهٔ په خېټه ومنډې خو ستا سترګې نهٔ مړيږي ، ځکه چې: "وږې خېټه به مړه شي خو وږې سترګې نهٔ مړيږي".

دا وړې خېټـــــــــــــه بـــــــــــــه مـــــــــــــره شـــــــــــــي
حيـــــــا نـــــــه خـــــــلاص ســـــــړے پـــــــه وړو ســـــــترګو شـــــــينه

وهم دې کوم ځائے او ډبار دې کوم ځائے

دا د مشرانو قول د معنـ ، ی يې دا ده چې ګڼې ګزار يا ډب کوم ځائے له ورځي او اواز يعنې دربه يا ډبار د کوم ځائے نه خېژي. مطلب يې دا دے چې ګڼې يو سړے يوه خبره کوي او بل بنده ورله بل څۀ ځواب ورکوي. يعنې معامله او مسئله يوه وي او ځواب څۀ د بلې معاملې مسئلې په حقله وي ، يا څوک داسې په محفل کښې د بحث او مسئلې نه خبر نۀ وي او د ځانه ورکښې څۀ رائے او مشوره ورکوي چې د روان بحث او خبرو اترو سره څۀ تعلق نۀ لري يا سمون او تړون نۀ خوري. نو مشران وايي چې دا داسې شوه چې وهلے يو ځائے شي او ډبار د بل ځائے نه خېژي. او په داسې موقع دا متل د طنز په توګه داسې وئيلے شي چې: "وهم دې کوم ځائے او ډبار دې کوم ځائے". په دې حقله نور ډېر متلونه چې مطلب يې د دې متل سره تړون خوري ، په جدا جدا علاقو کښې په جدا جدا الفاظو سره مشهور دي.لکه وايي چې: "زۀ څۀ وايم او رباب مې څۀ وائي" يا "زۀ څۀ وايم او باجه مې څۀ وائي" يا "زۀ څۀ وايم او ډولکے مې څۀ وائي". او په اردو ژبه کښې هم د دې مطلب لپاره داسې يو متل مشهور دے. وئيلے شي چې "اروں گوڈا پهوٹی ا ـ نکھ".

Pukhto.Net
پښتو

" "
هـ

هر چا ته خپل وطن کشمير وي

قيصه:

کشمير د دنکو غرونو ، لوړو غارونو او د خوږو يخو اوبو د چينو ، د شنو شنو چمنونو او د رنګ رنګ ګ ، لونو او باغونو علاقه ده. جرته جنت اوجرته دا دنيا ، خو بيا هم خلق وايي چې کشمير په دې زمکه د جنت يوه نمونه ده. يعني دېر ښکلے او ښائسته وطن دے. د بنيادم دا فطرتي عادت او خوي دے. چې ښکلي او ښائسته ځيزونه خوښوي. او ورسره مينه او محبت کوي. کشمير هم د فطرت د ښکلا يو نمونه او هنداره ده نو ځکه يې بنيادم خوښوي. په دې متل کښې هم مشرانو د بنيادم دا فطرتي عمل يا عادت او د کشمير ښکلا او ښائست ستائيلے او مشهور کړے دے. مطلب ترېنه دا دے چې کنې هر چا ته خپل وطن کور او کلے دومره ښکلے او ښائسته ښکاري لکه چې څومره کشمير ښکلے دے ، يا هر چا ته خپل وطن دومره خوږ درونډ او د قدر وړ وي لکه څنګه چې کشميريانو ته کشمير ، يا که کشمير ښکلے او ښائسته دے نو منم چې وي به خو داسې هر چا ته د هغهٔ خپل وطن هم لکه د کشمير ښکلے او ښائسته وي. د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې د اکبر باچا په څوک کښې دوه دوستان وو. يو پښتون وؤ او بل کشميرے. يعني يو د پښتونخوا د سيمې او بل د کشمير د علاقې وسيدونکے وؤ. دوي چې به کله کپ شپ کښې مشغول وو نو هغه کشميري به ورته د خپل وطن ډېر صفتونه او تعريفونه کول. په هره خبره او بحث کښې به هغهٔ خامخا د کشمير د ښکلا ذکر کولو. دا پښتون زلمے د هغهٔ د دې خبرو نه ډېر تنګ راغلے وؤ. يوه ورځ دوي په يو محفل کښې ناست وؤ چې د نورو علاقو خلق ورسره هم ملګري وو. هغه کشميري دلته هم د خپل وطن خبرې او صفونه شروع کړل. دا پښتون چې د مخکښې نه پوزې له راغلے وؤ نو په دغه موقع يې ورته وئېل چې دوسته! زما د علاقې خر پر غرونه دي ، د ختو لوټو کورونه دي ، اوچې ډاکې ، شاړې او مېړې دي خو ستا کشمير ورته لوکے شه. ځکه چې هر چا ته خپل وطن کشمير دے. که کشمير ښکلے دے نو تا ته به وي. ما ته زما وطن ستا د کشمير نه زيات ښکلے او ښائسته دے. او وايي چې داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

نن سبا هم په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د خپل کور کلي يا وطن ښکلا او ښائست بيانوي ، يا خپله مينه محبت د وطن سره څرګندوي يا د خپل وطن ذکر د فخر په توګه کوي نو دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې: "هر چا ته خپل وطن کشمير دے".

هـــــر چـــــا تـــــه خپـــــل وطـــــن کشـــــمير دے
ماتـــــه جنـــــت د پښـــــتونخوا دي خـــــر پـــــر غرونـــــه

هر چا ته د خپل چاټوري شوملې خوږې وي

د پخوا زمانې څهٔ ساده او سپين سپېځلي خلق وو. ساده ژوند او ساده يې خوراکونه وو. شوملې هم د هغه زمانې د زميدارو خلقو يو زړهٔ پورې خوراکه وه. اکثرو زميدارو به د پيازاو شوملو سره دوډی خوړله. ځنکه چې خپله ساده وو. نو داسې يې خبرې اترې ، مثالونه او متلونه هم ساده او اسان وو. دا متل هم د هغه زمانې د ساده کانو خلقو د ساده سوچ او فکر څرګندونه کوي. او مطلب ترېنه دا دے چې کنې هر چا ته خپل ځيزونه خواږهٔ او درانهٔ وي. يعني که يو شے چا بل چا ته ناپکاره ، بې فائدې يا کنده او بدرنګه ښکاري. خو مالک ته هغه ښهٔ ښکلے ښائسته او د کار شے وي. يعني که ډېر هم بې کاره وي خو مالک ته د بل چا د قيمتي او ناوياته ځيز نه خوږ او زيات خوښ وي. يعني مطلب دا چې هر چا ته خپل ځيزونه خواږهٔ ، قيمتي او ناوياته وي. هم دا مطلب مشرانو په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. جرته چې څوک د خپل ځهٔ بې کاره او ناپکاره ځيز داسې صفتونه او تعريفونه کوي ، چې اسمان ته يې اوخېژوي. نو خلق ورته په طنز او ټوقو کښې داسې وايي چې اهو! تور شاخپل ته هم خپل زوئے د ټولې دنيا نه ښکلے او ښائسته ښکاري. ځکه چې: "هر چاته د خپل چاټوري شوملې خوږې وي". په دې لړ کښې يو بل متل هم مشهور دے چې مطلب يې د دې متل سره ټرون خوري ، وايي چې: "هر چا ته خپل سوک کاږے ښکاري".

هر څۀ بدلېږي خو عادت نۀ بدلېږي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يوه فقيره ښځه وه. چې په کوڅو کښې به يې خپر زکواة غوښتلوايي چې په حـ ـسن او ښائست کښې شهزادکې وه. خو د غريبۍ د لاسه خپر ته ناسته وه. يوه ورځ د وخت باچا سره د نوکرانو په لاره روان وؤ. چې دا فقيره يې په نظر شوه. او په يو نظر فقيره د ملک ملکه جوړه شوه. يعنې باچا وادۀ کړه او د محل مالکه يې جوړه کړه. په محل کښې ورته هر څۀ ښيسيار وو. غلامان او ويښې يې حکم ته لاس په نامه ولاړې وي. باچا ورله د محل د خزانو ټول واک اختيار ورکړو. څۀ ورځې شپې خو ښۀ په مزو کښې تېرې شوې. اخر يوه ورځ دې ښځې په انو يهانو د باچا نه د ماښام دوډۍ جدا کړه. خپله برخه دوډۍ به يې په کور کښې کله يو خائے کښودله او خپل عادت پوره کولو له به يې اواز وکړو. چې خپر راوړئ خدائے مو وبخښه. او داسې به يې هغه دوډۍ د يو خائے نه بل ته او بيا د بل نه بل ته کړځوله. او چې خپل عادت به يې ښۀ پوره شو نو بيا به يې هغه خورله. باچا چې کله د ښځې د دې عادت نه خبر شو نو ډېره يې پوهه کړه. خو هغه د خپل عادت نه مجبوره وه. د ټول عمر پوخ عادت يې بدل نۀ شو. اخر چې خپل وزير ته يې خبره ښکاره کړه. وزير وئېل چې باچا صېب هر څۀ نوربرې خو عادت نۀ نوربرې. اخر چې باچا هم مجبوره شو او ښځې له يې رخصت ورکړو. داسې د وزير هغه هوښياره خبره مشرانو په متل مشهوره کړه او مطلب يې هم دا دے چې کنې هر څۀ بدل شي خو داسې د جا پوخ عادت نۀ بدلېږي.

نن سبا هم دا متل خلق د نصيحت په توګه په داسې موقع استعمالوي چرته چې شوک بنده د خپل عادت نه مجبوره وي. نۀ په نصيحت وي او نۀ په منت زاري. اوږي. بلکې د خپل عادت نه مجبوره بنده هم په هغه زور عادت يا عمل سر وي. نو مشران د داسې خلقو په حقله دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هر څۀ بدلېږي خو عادت نۀ بدلېږي". او په ځنې علاقو کښې داسې وئېلے شي چې! "هر څۀ نوربرې خو عادت نۀ نوربرې".

هر څۀ چې زيات شي نو په زيان شي

دا د مشرانو قول دے. چې کله کله د متل په توګه هم استعمالېږي زيات تـ ـوري نه دوه مطلبه اخذ شوي دي. يو خو دا چې کنې څۀ شے د خپل مقدار نه زيات شي. نو هغه زياته برخه اکثر خرابه او ضائع شي. يعنې په زيان شي. دوهم مطلب يې دا دے چې کنې په استعمال کښې زيات شي. نو هغه بنيادم ته زيان رسوي. يعنې څۀ شے چې د ضرورت او حاجت نه زيات استعمال کړے شي نو يو خو هغه زياتي برخه خرابه او ضائع شي او بل خوا تر ښه استعمال کوونکي ته هم تاوان او زيان رسي. يعنې د هغه زيات والي کښه کمه او زيان زيات مېلاؤ شي. د دې مطلب په اړه مشرانو نور هم ډېر متلونه مشهور کړي دي. لکه وايي چې: "هر څۀ چې ډېر شي نو کنډېر شي" يا "ډېر خوره نو کنډېر خوره" او يا "هر شے چې په مښۀ و مانه وي نو په مزه وي". د دې ټولو متلونو مطلب د يو بل سره ترون او سمون خوري. او د ټولو نه مطلب دا دے چې په څۀ کار روزګار کښې ، په خوراک کښې يا د څۀ ځيز په استعمال کښې زياتے نۀ دے پکار. بلکې د مښۀ و مانه لاره غوره او بهتره ده. نن سبا يې هم مشران د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هر څۀ چې زيات شي نو په زيان شي".

هـــــر څـــــۀ چـــــې زيـــــات شـــــي نـــــو پـــــه زيـــــان شـــــي
لکـــــه اوړو کښـــــې د چـــــا مالکـــــه زياتـــــه شـــــينه

هر څۀ دې سل په سل دي

دا يو عامه فقره ده. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. خو زياته نه بلکې کله کله. د سل په سل نه مطلب دے چې ګنې په سلو کښې پوره سل. يعنې هر څۀ دې پوره په پوره دي. هر څۀ دې برابر دي. هر څۀ دې ښۀ ښکلي دي او يا هر څۀ دې ښۀ په ځائے دي. د دې معنو تر لاندې که چرې دا متل د څۀ شي په حقله استعمالېږي نو مطلب يې دا جوړېږي چې ګنې هر څۀ پوره په پوره دي ، يا هر څۀ برابر دي. او که د چا بنيادم په حقله استعمال شي نو بيا د متل نه مطلب دا جوړېږي چې ګنې هر څۀ دې ښۀ ښکلي او ښائسته دي. يعنې رنګ جوسه ، زينت سنګار ، جامه پېزار او ډول ډال هر څۀ دې ښۀ ښکلي دي. هم د دې مطلب دپاره يې خلق استعمالوي او داسې وايي چې خانه! "هر څۀ دې سل په سل دي".

هر سړور ږيرے شاه ګل نۀ وي

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې يو شاه ګل نومې سړے په يو کلي کښې وسېدو. شاه ګل د عمر دومره پسرلي تېر کړي وو چې د سر نه يې سپينه اګۍ او د ږيرې نه يې سپينه پاغونده جوړه شوې وه. د ږيرې سپين وېښتۀ به شاه ګل په نکريزو سرۀ کول. او د دې امله به د کلي خلقو (وړو لويو) دلرې نه پېژندلو چې هغه شاه ګل راروان دے. وايي چې يوه ورځ يو زميدار په پټي کښې ګيا رېبلې وه او پنډ يې ترلے وؤ. د پنډ وچتولو دپاره يې د چا په تلاش کښې ګېرچاپېره کتل. د پټي نه بېرته يو بنده يې په نظر شو. دې زميدار چې په غور وکتل نو سره ږيره يې په نظر شوه. دې زميدار وئېل ګنې شاه ګل راروان دے. او پنډ به راوچت کړي. کله چې هغه سړے لږ رانزدې شو. نو دې زميدار اواز ورکړو چې شاه ګله! راشه دا پنډ راوچت کړه. هغه لاروي مېلمه خو اواز واورېدو خو هغۀ دا ګڼل چې چا شاه ګل ته اواز کوي. هغه هم په خپله مخه روان وؤ خپله لار يې لنډوله. هغه زميدار چې په نعرو ستړے شو نو د ټکه يې ورته يو غټ ناروا کنځل وکړۀ. وئېل زۀ درته چغې سورې وهمه او تۀ نعرې نۀ اورې. د کنځلو په اورېدو هغه مېلمه پښه نيولے شو. او هغه زميدار ته يې پام کړو. زميدار هم دۀ ته اشارې کولې. هغه مېلمه ورستون شو او د زميدار نه يې پوښتنه کوله چې خانه خېر خو دے ولې او چا ته داسې په غصه يې او بدې ردې وايې. هغه زميدار چې ورته وکتل نو ډېر ملامته شو. د مېلمه نه يې معافي او بخښنه غوښتله. وئېل پوهه نۀ شوم ما درباندې د شاه ګل ګمان کولو. ځکه چې د شاه ګل هم سره ږيره ده. نو ما ګڼل چې ګنې شاه ګل روان دے او قصدا ء زما په نعرو غوږ نۀ کړوي. هغه مېلمه ورته وئېل چې خانه! خيال کوه هر سړور ږيرے شاه ګل نۀ وي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره په متل مشهوره شوه. او مطلب يې دا دے چې ګنې د څۀ وېنا او کار کولو نه وړاندې خيال او پام فکر پکار دے. هسې نه چې د يو په تېلو کښې بل اوسېزلے شي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک د يو شي ګمان په بل شي کوي ، يا د يو بنيادم ګمان په بل چا کوي. نو په داسې وخت او موقع هغه بنده ته خلق دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه پام کوه! "هر سړور ږيرے شاه ګل نۀ وي".

د چـــــا پـــــه ږيـــــرو دهوکـــــه مـــــۀ شـــــې
شـــــپېتۀ کلنـــــو دي ورکـــــړي تـــــور رنګونـــــه

هر سړے پوزه توره کړي وايي لوهار يم

دا يو عام متل دے او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي. په کسب ګرو کښې لوهار يو هنرمند بنده ګڼلے او منلے شي. لوهار د اوسپنې نه څيزونه جوړوي. اوسپنه اول په بټۍ کښې ښۀ سره کړے شي. نو بيا ترېنه د ضرورت او حاجت مناسب څيزونه جوړولے شي. د اوسپنې او د اور دا جوړښت د لوهار په لاس وي. نو ځکه د لوهار لاس ، پښې او جامې په سکرو او لوګو تورې وي. او د تورو لاسونو له کبله د لوهار مخ او پوزه هم اکثر توره وي. مشرانو د لوهار داکسب هنر او توره پوزه په متل کښې ستائېلي دي. مطلب ترېنه دا دے چې

تش په پوزه تورولو ، لاسونو تورولو يا په جامو تورولو اوګنده کولو څوک هنرمند نۀ شي جوړېدے. بلکې د هنرمند او استاذ جوړېدو لپاره زده کړه غواړي. د پوهې او زده کړې نه پس سړے هنرمند (لوهار) جوړ شي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک بنده د څۀ کار استاذ او ماهره نۀ وي يعنې په هغه کار نۀ پوهېږي. او بيا هم په هغه کار کښې ځان هنرمند ګڼي او حسابوي ، يا نورو خلقو ته دا يقين او باور ورکوي يا ځان هنرمند څرګندوي. او د هنرمند په توګه وړاندې کوي. نو داسې کس ته مشران دا متل د طنز په توګه وړاندې کوي او داسې وايي چې هن! "هر سړے پوزه توره کړي وايي لوهار يم".

پـــــــه تـــــــوره پـــــــوزه دهوکـــــــه مـــــــۀ شـــــــې
د اســـــــتاذۍ لاســـــــونه خـــــــال خـــــــال پـــــــاتې دينـــــــه

هر سړے تر خپل مطلبه پورې يار دے

دا متل دومره زوړ او پخوانے دے. څومره چې حضرت انسان خپله زوړ دے. او دومره مشهور دے څومره چې زمونږه صوفي شاعر عبدالرحمـ ن بابا. ځکه چې دې متل له زياته مشهورتيا هم هغۀ په خپل يو شعر کښې ورکړې ده. او هغه داسې وايي چې:

هـــــــر ســـــــړے تـــــــر خپـــــــل مطلبـــــــه پـــــــورې يـــــــار دے
مـــــــا د خـــــــدائے دپـــــــاره يـــــــار ليـــــــدلے نـــــــۀ دے

بنيادم د ازله او فطرتي غرضي او مطلبي دے. ځنې خلق په خودغرضۍ کښې تر مرۍ مرۍ ډوب او بوخت وي. او ځنې خلق د بل دپاره ايثار او قرباني ورکوي ، په ځان سخته تېروي او بل ته راحت او ارام رسوي. خو داسې سپين سپېځلي خلق په هره زمانه کښې دومره وي لکه اوړو کښې مالګه. په نېز د يو ټولنې يا نسب او نسل بنيادم (هر بنده) مطلبي او غرضي دے. دا غرض او مطلب د ضرورت او حاجت له کبله او د وخت د بدلون سره بدلېږي ، کمېږي او زياتېږي. مشرانو د بنيادم دا ازلي او فطرتي عادت او خصلت په دې متل کښې ستائېلے او مشهور کړے دے او مطلب ترېنه دا دے چې هر سړے د خپل ضرورت ، حاجت او غرض يا مطلب دپاره بل چا سره تعلق لري ، ساتي او جوړوي. يعنې دوستي تر خپل مطلبه پورې وي ، او بې غرضه ياران ، يعنې پاک صاف او د خـ ـلوص ياران خو به وي خو په اوړو کښې لکه مالګه.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک داسې د چا يار دوست د لاسه دهوکه شي ، يا دهوکه وخوري ، يا د چا خوږ ملګري د لاسه څۀ تکليف ، غم خفګان او زيان ومومي. نو بيا نورو خلقو ته د نصيحت په توګه دا متل وړاندې کوي او وايي چې نن سبا خو! "هر سړے تر خپل مطلبه پورې يار دے".

داســـــــــــــــې خودغرضـــــــــــــــه زمانـــــــــــــــه شـــــــــــــــوه
يـــــــار پـــــــه يـــــــارۍ کښـــــــې لټـــــــوي خپـــــــل مطلبونـــــــه

هر شے چې په مېنځ و مانه وي نو په مزه وي

د يو حديث شريف مفهوم څۀ داسې دے. وايي چې په هر کار کښې د مېنځ لاره غوره ده. يعنې په خپل عمل او خبرو کښې په مېنځ و مانه (اعتدال) يعنې ميانه روۍ کښې وسي. که هر عمل وي خو مۀ پکښې شدت يعنې زور زبردستي کوئ او مۀ پکښې زياته نرمي ، يعنې نۀ زيات سخاوت ، نۀ زياته شومتيا ، مۀ زياته بېړۀ ـ ندي او ټنډه او مۀ زياته سستي کوئ. نۀ دومره خوراک پکار دے چې ځان ډېډه او پونکے کړي. او نۀ ځان د لوږې نه وژل پکار دي. نۀ په مال دولت پسې هر وخت سر وهلے بر وهلے منډې پکار دي او نۀ بالکل ملنګي پکار ده. نۀ دومره غصه او قهرېدل پکار دي چې سړے پکښې د ځانه بې ځانه شي. او نۀ داسې بې وسي ، بې کسي ، او نۀ داسې ښۀ

سړيتوب لکه پرته زمکه چې هر څوک يې د پښو د لاندې کړي. لنډه دا چې غوره لاره د مېنځ لاره ده. او د ژوند کاډے چې د مېنځ و مانه په لار وي نو ښه په مزه وي. د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. مشران يې اکثر د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هر شے چې په مېنځ و مانه وي نو په مزه وي".

هر شے چې غبرګوې/برغوې نو لنډيږي ، او خبره چې برغوې نو اوږديږي

د څنو غړو دا عادت وي چې په هر محفل او هره موقع کښې هر وخت خبرې کوي او بې ډېرې کوي. يوه خبره بيا بيا سر دوباره کوي. او خلقو له پرې مازغۀ خوري. څنې خلق داسې باتو (باتوني) وي چې څان ډېر خبريال ګڼي او جوړوي. د خپلو خبرو دوزو او شوتو له کبله په بل قدر زياتوي ، يا رعب داب اچوي. او هم داسې خلق يوه خبره بيا بيا کوي ، يا يې برغوي. هوښيارانو د داسې خلقو دا عادت او خوي بوي په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے او مطلب يې دا دے چې ګڼې خبره چې سر دوباره شي يا برغه شي نو هغه اوږده شي. ځکه هوښياران خلقو ته وايي چې خبره لنډه او د مطلب کول پکار وي. بې مطلبه او بې فائدې غږېدل ، او اوږدې خبرې کول نۀ وي پکار. هم دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او يا کله چې په محفل کښې څوک بنده د چا د خبرو نه تنګ راشي نو په داسې موقع هغه ته داسې وايي چې هلکه په سر دې راله درد کړو. نور دې هم څۀ زده دي او که نه بس دا يوه خبره دې نيولې ده. او په طنز کښې ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هر شے چې برغوې نو لنډيږي او خبره چې برغوې نو اوږديږي".

هسې په شپيلي کښې دې واړوله

شپيلي وهل د څنې بنيادم عادت وي. او داسې خلق د عادت نه مجبوره وي. کله کله يې د خ ، لې نه بې اختياره او بغېر د څۀ وجې شپيلي خېژي يا وخي. څنې خلق داسې وي چې هغوي په څۀ خاص موقع يا حالاتو له کبله په سوچونو او فکرونو کښې شپيلي وهي. څنې خلق د خوشحالۍ په موقع ښۀ په س ،ر کښې شپيلي وهي. او څنې خلق چې بې غمه او بې فکره وي يا لاپرواه وي ، په زړۀ يې څۀ غم او بوجھ نۀ وي ، او بعضې وخت هغه د خپل چاپېرچل نه بې فکره ، بې غمه او ناغرضه شي. يعنې د څۀ وخته پورې داسې ناخبره شي او په خپل خول يا خپله دنيا کښې داسې مشغوله وي چې بې اختياره يې په شوندو شپيلي راشي. او د مزې او خوند خوندي کولو له يې په جدا جدا س ،رونو کښې اړوي راړوي. په متل کښې هم داسې بنده مطلب او مراد دے چې هغه بې فکره ، بې غمه او لاپرواه وي ، يا په څۀ کار او خبره قصدا ً څان ناخبره ، ناغرضه او لاپرواه کړي. يعنې د متل نه مطلب دا شو چې زما خبره دې په توقو واړوله. او يا زما په خبره دې څان ناغرضه او ناخبره کړو.

نن سبا په داسې وخت او موقع استعمالېږي چرته چې يو بنده د چا په خبره يا د چا په وينا قصدا ً څان ناغرضه او ناخبره کړي. يعنې د چا ضروري او مطلبي خبرې ته غوږ نۀ ږدي ، يا يې په غور نۀ اوري ، يا واوري خو څان پرې قصدا ً ناغرضه او ناخبره کړي. نو داسې بنيادم ته مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې هلکه تا خو زما خبره! "هسې په شپيلي کښې واړوله".

هسې د باد په تڼو سور يې

دا يو عام متل دے. په حقيقت کښې د بادو تڼو خو نۀ وي خو بيا هم بنيادم کله کله پرې سورلي کوي. يعنې په خيالي تڼو سور وي ، يا په خيالونو کښې زانګي. يعنې کله چې بنيادم چرته په خيال کښې بلې دنيا ته ورسي نو بيا کله په تالونو زانګي او کله په تڼو سورلي کوي. يعنې په سوچونو فکرونو او خيالي دنيا کښې ګرځېدلو ته هوښياران د باد په تڼو سورلي کول وايي او ګڼي. بل مطلب ترښه دا اخذ شوے دے. هوښياران وايي چې څوک په څۀ کار روزګار کښې يا د ژوند په هره لاره چې بنيادم ډېر په ت ، ندی او تېزی سره زغل کوي. يعنې د وخت نه وړاندې څۀ کار او خبره کول غواړي ، يا د قسمته مخکښې زغلي نو داسې بنده ته هم مشران وايي چې دومره حرص اخستے دے يا حرص داسې په مخه کړے دے چې هسې د باد په تڼو سور دے. او اکثر په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې داسې څوک خپله خيالي دنيا ابادوي. يعنې په هوا کښې محلونه جوړوي يا داسې چې څوک د امروزه ژوند لاره او تولند پرېږدي. او په

بېره ، ټنډه او لنډه لار منزل او مرام ته رسېدل غواړي. نو په داسې وخت او داسې خلقو ته هوښياران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې لږ ساړۀ خوره ، يا لږ په قلاره درومه ، تۀ خو! "هسې د باد په ټټو سور يې".

هسې د بونېر هندو يې

هندوان په حېثيت د يو قام ډېر شومان (کنجوس) يادېږي. يعنې چې هندو وي نو ارو مرو به شوم وي. د هندو قام دا شومتيا په ټوله دنيا ياده او مشهوره ده. د دوي د شومتيا په حقله په اردو ژبه کښې هم يو متل مشهرو دے وايي چې: "بنڑيا کا بچه کچھ ديکھ کر گرتا ہے" مطلب دا چې د هندو بچے هسې نۀ غورځېږي. په زمکه به يې څه ليدلي وي نو په هغې به يې ځان ورغورځولے وي. پخوا په زمانه کښې چې کوم هندوان مسلمانان شوي وو. نو هغوي په شېخانو ياد او مشهور شوي وو. د پنجاب په علاقه نن هم هغه قبيله د شېخانو په نامه يادېږي. او د شېخانو دا قبيله نن هم په شومانو مشهوره ده. مطلب دا چې هندوان د ازل نه شومان وو. شومان دي او په ټوله دنيا کښې مشهور دي. کله چې پاکستان او هندوستان جدا شوے وؤ نو په پښتونخوا کښې هم هندوان مېشتۀ وؤ. او د بونېر په علاقه کښې په ګڼ شمېر اباد وو. يو خوا هندو قام په شوم مشهور وؤ. بل خوا د بونېر علاقه په هندوانو مشهوره وه. نو ځکه مشرانو دا دواړه صفتونه په دې متل کښې رايوځائے کړي او مشهور کړي دي او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې په بونېر کښې هندوان زيات وؤ. نو چرته چې به د هندو ذکر راتلو نو د بونېر نوم به ورسره تړلے وؤ. يعنې چرته چې به څوک بنده زيات شوم وؤ. نو ځکه به يې هغۀ ته داسې وئېل چې لکه د بونېر د هندوانو شوم يې. هم دا مطلب مشرانو په دې لنډو ټکو کښې مشهور کړو. چې تۀ هم د بونېر هندو يې ، يا هسې د بونېر هندو يې. يعنې مطلب دا چې لکه د هندوانو په شان شومپرک او کنجوس يې. او نن سبا په داسې موقع استعمالېږي چرته چې څوک په څۀ موقع يا څه کار کښې ډېره زياته شومتيا کوي نو خلق ورته داسې وايي چې: "هسې د بونېر هندو يې". او ځنې خلق ورته ډېر په لنډه راتاؤ شي او داسې وايي چې هلکه! "تۀ هم جوړ د بونېر يې".

هسې د سيند کاڼي دي

زمونږ په دې دنيا يعنې زمکه باندې ځنګلې ، غرونه او سيندونه د الله پاک يو ډېر لوئے غنيمت او رحمت دے. دې غرونو او سيندونو زمونږ دې کائناتو له ښکلا او ځلا ورکړې ده. څنګه چې د سيند اوبۀ ښکلې ، صفا بهېږي او سترګې پرې خوږېږي. نو داسې د سين کاڼي دي چې د خپلو رنګونو او ښکلا له کبله ډېر زړۀ راښکونکي وي. څۀ غونډ مونډ ، څۀ چپلي ، څۀ درې ګوټه او څۀ څلور ګوټه وي. په جدا جدا رنګونو او شکلونو کښې داسې ښکلې او مئين مئين وي چې بنيادم ورته په کنو حېرانيږي او پسخيږي. هر يو کاڼے داسې ښکلے وي چې بنده ورته حېران پاتې شي چې کوم خوښ کړي او کوم پرېږدي. يعنې مطلب دا چې د سيند کاڼي ټول په ټوله يو د بل دپاسه داسې ښائسته او ښکلے وي چې ټول په زړۀ کښې داسې ځائے ونيسي چې بنده ورته په خوښه او ناخوښه کښې حېرانه پاتې شي. بدرنګه او د ناخوښۍ پکښې يو هم نۀ وي. بلکې ټول ښکلي ښائسته او د خوښې وي. دا متل مشرانو هم د دې مطلب دپاره مشهور کړے دے. او مثال يې د هر هغه څيز يا شي سره ورکړے دے کوم چې لکه د سيند د کاڼو ټول داسې ښائسته زړۀ پورې او زړۀ راښکونکي وي چې بنيادم ورکښې خوښه او ناخوښه نۀ شي کولے. بلکې ټول په زړۀ کښې د ځايولو وي. نو په داسې وخت د هغه څيزونو په حقله ليونے وايي چې: "هسې د سيند کاڼي دي".

هسې د کيکر ازغے يې

ازغي که د هر څۀ وي خو يو ناخوښه او ناپکاره شے دے. ځکه چې ازغے د تکليف ، دړد او ضرر رسولو سبب جوړېږي. ازغي خو ټول ازغي وي خو د کيکر ازغے زيات مشهور په دې وي چې دا غټ ، اوږد او ډېر تېرۀ وي. او کوم شے چې غټ او زيات تېرۀ وي نو هغه به دړد او تکليف هم زيات رسوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې لکه د کيکر د ازغي په شان زيات دړد تکليف ، ضرر او زيان رسوې ، يا سبب جوړېږي. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې څوک پنده ډېر تريخ وي. يعنې زيات بد

اخلاقه ، بې ادبه او داسې بد تميزه وي چې هر وخت هر څوک داړي. د شر ، فساد او شرارت نه يې هر څوک پوزې له راغلے وي. نو مشران د داسې غړي په حقله دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هسې د کيکر ازغے دے".

هسې د مرچو په سټه ناست يې

قيصه:

مرچ چې په پښتو کښې ورته مرچکے وئېلے شي. د دې زمکې په مخ هغه څيز دے چې ډېر تريخ او خاصيت يې ډېر ګرم او تېز دے. يعنې په خوراک يې بنيادم کښې ګرم والے ، جوش ، تېزي او چستي راځي. هسې خو مرچکي په څو څو قسمه دي. خو په دې کښې يو قسم دے چې وړې تورې دانې وي او هغې ته تور مرچ وئېلے شي. دا تور مرچ هم ډېر ګرم وي. ځکه يې خلق په ګرمه مصالحه کښې استعمالوي. د نورو مرچو يعنې د شنو او سرومرچو په نېز دا تور مرچ په قيمت ډېر قيمتي او ګران وي. او په متل کښې هم د دې تورو مرچو ذکر دے. بل تورے (لفظ) په متل کښې سټه دے. سټه د زميدارو خلقو د تول او وزن کولو يوه اندازه او پېمانه سټه په وزن تخمينا درې منه وي. يعنې جواغنم ، ګ ، ړه يا هر شے چې په تول درې منه وتلے شي نو د زميدارو په ژبه کښې ورته يو سټه وئېلے شي. د دې متل په حقله داسې قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو زميدار پوره يوه سټه مرچ شوي وو. په دې وجه هغه زميدار ډېر خوشحاله وؤ. هغه سټه مرچ يې په غوايي راچولې وه او ورسره خپله هم د سټې دپاسه سور کور ته راروان وؤ. د سټې مرچو مالک د خوشحالۍ سره څۀ لږ ډېر په غرور او نشه کښې هم وؤ. چې څوک به مخې له ورغلل نو بيا به يې غاړۍ لږه نوره هم دنګه او کږه کړه. اخر څۀ کسانو ترېنه پوښتنه وکړه چې هلکه خېر خو دے نن ډېر خوشحاله او په نشه کښې راروان يې. هغه زميدار ورله ځواب ورکړو چې ګورې نه د مرچو په سټه ناست يم. خوشحاله به نۀ يم پوره سټه مرچ مې شوي دي. د زميدار پوره سټه مرچ کېدل ، د سټې دپاسه ناسته او بيا د هغه غرور ، تکبر او نشه دا خبرې چې کله هوښيارانو ته ورسېدې نو هغوي ترېنه په دې رنګ کښې متل مشهور کړو او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې دومره غرور او نشته کوې يا ساتې. لکه چې پوره سټه مرچ يې شوې وي ، يا لکه د سټې مرچو دپاسه ناست يې. دوېم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے. لکه څنګه چې مرچ ګرم دي او په خوړلو يې طبيعت کښې ګرمي او تېزي پېدا کيږي. که لږ شانې مرچ څوک وخوري نو بيا په ويش ويش او تالان ګډ وي. او که داسې څوک سټې مرچو ته کښېناستو نو هغۀ خو به بيا هغه تالان او غوبل جوړ کړے وي چې د غصې نه به يا خپل سر ماتوي او يا به په بل. د مرچو دا ګرمي او تېزي مشرانو د داسې چا سره تړلې ده. څوک چې ډېر زيات غصه ناک او قهرژن وي. هر وخت په غرور ، تکبر ، نشه او غصه کښې وي. په هر وخت هر چا سره جنګ فساد ته تيار وي. نو د داسې بنده په حقله هم مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې دومره غصه دے چې: "هسې د مرچو په سټه ناست دے".

نـــــن خـــــو يـــــې بيـــــا داســـــې نشـــــه ده
لکـــــه چـــــې مـــــرچ يـــــې پـــــوره ســـــټه راوړي وينـــــه

هسې شاخېلي چاړۀ يې

پخوا په زمانه کښې چې د پښتونخوا په سيمه کښې د کسب ګرو او هنرمندو کومې قبيلې مېشتۀ وې نو په دوي کښې شاخېل يا شاخېلان هم يوه قبيله وه. په هر کلي کښې به دوه درې کورنۍ ابادې وې. دوي به اکثر شکري ، شکرونه او چجونه جوړول. او د هغې په امدن به يې ګزران وؤ. د دوي ځنې مېرمنو به د غوبلو په موسم په درمندونو کښې دانې هم پاکولې او صفا کولې. او چا به په کورونو کښې د غنمو د تيلو (دروزې) او د رنګينو کاغذونو نه رنګ په رنګ څيزونه (طوطيان ، مکرامې) جوړولې او خرڅولې. دا څيزونه به مېرمنو د کور د زينت او ښائست دپاره په کورونو کښې اوېزاندول او لګول.

په ځنې علاقو کښې شاخېلانو د تېلو ويستلو ګاڼے هم جوړې کړې وې. او په دې کښې به زميدارو د شړشمو ، جمامې او د پوندانې نه تېل ويستل او کل جوړول. او ځنې علاقو کښې به دوي د قصابۍ کسب هم کولو. د دې امله په دغه علاقو کښې دوي په تېليانو مشهور شول. خو اصل نسل او نسب يې شاخېل وؤ.

وئېلے شي چې شاخېل ډېر نر قام دے. د نرتوب او زړۀ ورتيا له کبله په دوي کښې ځنې ډاکوان ، بدمعاشان او شوکمار جوړ شول. او څوک د خانانو او نوابانو سره ټوپکمار او نوکران شول. کوم کسان چې په دغه بدو لارو سر شول نو بيا په بدو او ګناه کښې سم تر

غړۍ غړۍ بوخت شول. او زيات ورکښې اجرتي قاتلان جوړ شول. هغه زمانه کښې ټوپکې او تمانچې دومره عامې نۀ وتې. وره نېزه ، بله او چړې چاکوان به خلقو د خپل حفاظت دپاره جوړول او ساتل نېزو او ت ، ورو نه پس د چړو دوران راغے. بيا به خلقو په قسم قسم چړې جوړولې او ساتلې. يو قسم چاړۀ چې د نورو چړو په نېز به ډېره ښکلې او زياته تېره وه. او په خصوصي توګه به اجرتي قاتلانو خوښوله. نو د دې له کبله د شاخېل په نامه مشهوره شوه. يعنې په "شاخېلي چاړۀ" ياده او مشهوره شوه. دا به د نورو چړو په نېز اوږده او زياته تېره وه. نو زخم به يې ژور او زيان به يې زيات وؤ. داسې هم وئېلے شي چې دې چاړې له به يې د زهرو اوبۀ ورکړې وې. او چې يو وار به پرې بنيادم پرهري شو نو بيا به د رغېدو نۀ وؤ. هم د دې کبله دا چاړۀ زياته مشهوره شوه. مشرانو په دې متل کښې د چړې دا صفت او خصوصيت بيان کړے دے. او مطلب يې دا دے چې ګنې لکه د شاخېلي چاړۀ دومره تېز او زهريله يې چې څوک درنه بچ کېدے نۀ شي ، يا لکه د شاخېلي چاړۀ ډېر ژور او د زهرو ډک ټکونه ورکوې ، يا پرهرونه او زخمونه جوړوې. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک بنده ډېر په بدو لارو سر وي. بدمعاشي کوي هر چا ته ورلاندې ووځي. هر چا ته زيان او ضرر رسوي او هر څوک داړي ، يا هر چا ته داسې ټکونه او پېغورونه ورکوي چې ورته د عمر ژور زخمونه او پرهرونه جوړ شي. نو داسې بنده ته مشران وايي چې مثال دې د شاخېلي چاړۀ دے. داسې د زهرو ډک يې چې څوک درنه بچ پاتې نۀ شو. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هسې شاخېلي چاړۀ يې".

هسې شنه ګټه يې

دا د هوښيارانو يو عام قول دے. چې د متل په توګه هم استعماليږي. هسې خو ګټې ټولې مضبوطې او کلکې وي خو شنه ګټه بيا ډېره سخته ، مضبوطه او کلکه وي. د شنې ګټې دا سخت والے او کلک والے مشرانو په مثال د بنيادم سره ورکړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې دومره سخت يې لکه شنه ګټه. يعنې داسې څوک بنده چې په هغۀ باندې د چا نصيحت ، وېنا او منت ز اري څۀ اثر نۀ کوي. يعنې نۀ په نصيحت د څۀ بدو کارونو نه اوړي. نۀ د چا په وېنا يې غوږ ګرېږي. او نۀ د چا منت زاري ځائے نيسي. نو د داسې بنده په حقله وئېلے شي. چې دومره کلک او سخت دے لکه شنه ګټه. او مخامخ ورته خلق وايي چې: "هسې شنه ګټه يې".

هغه به لا څۀ وي ، چې له تا نه پېدا وي

دا د مشرانو يو طنزيه قول دے چې کله کله د متل په توګه هم استعماليږي. مطلب يې دا دے چې ګنې تۀ داسې نۀ سړے ، يا بدمعاش ، لوفر لفنګ ، بې ادبه ، بدتميزه يې. نو چې ستا نه پېدا وي نو هغه به څومره بد اخلاقه او بد تميزه وي. او يا چې تۀ دومره کمزورے ، وېرېدونکے او نامړده يې ، نو چې ستا نه پېدا وي نو هغه به بيا څومره کمزورے او وېرېدونکي وي ، يا هغه خو به ستا نه هم دوه ګوتې اوچت وي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او په داسې موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې په څۀ موقع د کمزورۍ او نامړدۍ يا د ناسړيتوب څۀ کار وکړي يا کوي ، يا څوک ډېر زيات بد اخلاقه او بد تميزه وي. نو داسې خلقو ته مشران د طنز او پېغور په توګه دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هغه به لا څۀ وي چې له تا نه پېدا وي".

دا ستا ايمان ماته معلوم دے
هغه به څۀ وي چې له تا نه پېدا شينه

هغه مچۍ د سوات وي ، چې غ ، ل يې شات وي

دا يو ساده متل دے. د سوات او د شات قافيه يې ډېره ښکلې سمون خوري. هسې خو د شاتو مچۍ په هره علاقه کښې ليدے او کټے شي خود سوات په علاقه بيا ډېرې زياتې وي. ځکه چې دا ډېره ښکلې او غرئيزه علاقه دوړې ځنګلې او د ګ ، لونو نه ډک

باغونه او جمنونه ورکښې ډېر زيات دي. او کال و سر پکښې شنۀ وني بوټې او کلونه ولاړ وي. د شاتو د مچو زړۀ پورې او د خوښې خوراکه رنګ رنګ کلونه وي. او چې کوم ځائے کلونه زيات وي نو هلته دا مچی کور يعنې کښين جوړوي. د سوات په علاقه کښې په هر موسم کلونه هم ډېر وي. او مچی هم ډېرې وي. يو خوا د سوات ښکلا زياته مشهوره ده او بل خوا ورکښې د شاتو (کښين) پېداوار هم زيات وي. نو ځکه د سوات مچی مشهورې شوې. دا مچی مشرانو بنيادم ته اشاره ورکړې ده ، او مطلب ترينه دا دے چې ګڼې هغه بنده (مچی) بل څوک وي. چې داسې کارونه کوي ، يا کولے شي ، يا ځۀ ورکولے شي ، يا چا ته ځۀ سود او فائده رسولے شي. يعنې هغه خلق نور وي چې چا ته فائده او ګټه رسوي ، يا چا سره مدد او مرسته کوي. نن سبا يې هم خلق په داسې وخت او حالاتو کښې استعمالوي جرته چې څوک داسې د ځۀ کار کولو کوښش او تکل کوي. خو ناکامه شي يا ترينه هغه کار نيمګړے پاتې شي ، يا په ځۀ کار روزګار ، وعده او خبره کښې پاتې او پر راشي. نو خلق ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې پرپرده يارلغه مچی د سوات دي چې غ . ل يې شات دي".

د شـــــــــاتو تـــــــــولې مچـــــــــی يـــــــــو دي
خـــــــو دا ســـــواتی مچـــــی يـــــا ډبـــــرې يـــــادې شـــــينه

هله به خبر شې چې تارو جبې له ورشې

قيصه:

د پېښور په علاقه د اکبر پورې سره خوا کښې يو کلے دے چې نوم يې تارو جبه ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې دا شاړه او مېره وه. يعنې په دې علاقه کښې ابادي نۀ وه. نو هلته به ګڼۀ او ډاکوان مېشته وۀ. چې په دغه علاقه به يې ډاکې ګلاکانې او شوکې کولې. وايي چې يوه ورځ د علاقې ځۀ کسان ښار ته روان وو. کله چې دوي جبې له ورسېدل نو ګڼۀ پرې راغلل او ټول مال يې ترينه لوټ کړو. کله چې دوي د ډاکوانو نه خلاص شول. نو د غم خفګان او غصې نه يې بد حال وۀ. او په سهرو يې سېپره سيلی الوتې وه. ځۀ مزل يې کړے وۀ چې نور ځۀ کسان ورله په مخه ورغلل. هغوي چې د دوي بد حال ولېدو نو پوښتنه يې ترينه وکړه چې څوانانو ځۀ چل دے ، خبر خو دے ولې مو داسې ساګ سيلی وړے دے. د دې ډلې نه ورله يو کس ځواب ورکړو چې خانه! هله به خبر شې چې تارو جبې له ورشې. مطلب يې دا وۀ چې ګڼې تارو جبې له ورسې نو پخپله به به خبر شې چې ځۀ چل دے ، يا په مونږه ځۀ تېر شول ، يا ځۀ تېر شوي دي. او داسې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه.

د څنو هوښيارانو او پوهانو د دې متل په حقله دا وېنا ده. چې دا متل په اصل کښې داسې وئيلے شي چې: "هله به خبر شې چې تالو ژبې له ور شې". يعنې مطلب ترينه دا دے چې کله د بنيادم اخري وخت ځنګدن شي نو ژبه يې تالو پورې اونښلي. او په داسې وخت وئيلے شي چې ژبان يې بند شو. د هغې نه پس بيا بنيادم خبرې اترې يا ځۀ وېنا نۀ شي کولے. او پوهان وايي چې په متل کښې هم دې وخت ته اشاره ده. چې ګڼې هله به په سود زبان پوهه شي چې ځنګدن شي ، اخري وخت شي او ژبان دې بند شي. نو هله به درته پته ولګي. چې ښۀ عمل ځۀ وي او بد عمل ځۀ وي. کېدے شي چې دا دواړه متلونه هم د دې دواړو مطلبونو دپاره جوړ شوې وي. خو نن سبا د تارو جبې والا متل زيات مشهور دے. او په داسې موقع او حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې څوک د چا نه د ځۀ کار يا د ځۀ خبرې پوښتنه کوي. او هغه کار والا بنده دا ګڼي چې ګڼې دې چې د داسې حالاتو نه تېر شي يا وربانديې داسې وخت راشي نو په خپله به خبر شي ، يا پته به ورته ولګي. چې دنيا څو ډانګه ده.نو هغه په څواب کښې هم دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "هله به خبر شې چې تارو جبې له ورشې".

هله به زاړېږم چې د کاره وزګاړېږم

دا يو ساده متل دے. او په امروزه ژوند کښې زيات استعمالېږي.زاړېدو معنې ده ځان قربانول ، ډېره زياته مينه کول. يعنې چا له مينه محبت او پېرزوکاني ورکول يا ورسره شريکول. يعنې د چا په تعظيم ، قدر عزت او مينه محبت کښې ځان قربانولو ته زاړېدل وئيلے شي. خو په متل کښې مشرانو د زاړېدو سره دا شرط ترلے دے. چې ګڼې اوس وزګار نۀ يم او چې د دې کار يا د دې خبرې نه وزګار شم نو بيا به درنه ګول او زار شم. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې اوس تا ته غوږ نۀ شم کښېښودے ، سنا خبره نۀ شم اوربدے ، سنا خوا له نۀ شم درتلے ، يا سنا کار نۀ شم کولے. يعنې اوس تا ته اوزګار نۀ يم او چې کله اوزګار شم نو بيا سنا هر ځۀ په سر سترګو ، يا په دواړو سترګو. نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي جرته چې داسې څوک چا ته د ځۀ کار کولو وېنا وکړي يا ترينه د ځۀ کار کولو طمع لري يا د چا توجه او پام ځان ته راړوي ، يا

راګرځول غواړي. او که هغه بنده په هغه وخت اوزګار نهٔ وي ، په بل کار کښې مصروف وي يا يې څهٔ بله مجبوري وي او دې بنده ته توجه نهٔ شي ورکولے يا يې مطلب نهٔ شي پوره کولے. نو ورته خپل حالت يا خپله مجبوري په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې خانه! "هله به زارېږم چې د کاره وزګارېږم".

مـــــــــا تـــــــــــه د خپلـــــــــــه ځانـــــــــــه خـــــــــــوږ دے
ربـــــــه اوزګـــــــار مـــــــې کـــــــړې چـــــــې ګـــــــول او زار تـــــــرې شـــــــمه

هم بوره هم بدنامه

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يوې مېرمنې يو ماشوم وشو. ماشوم ډېر ښکلے او ښائسته وؤ. د کور خلق څهٔ چې د چم ګاونډ خلق ورباندې هم ډېر خوشحاله وؤ. او دوه درې ورځې په کور او چم ګاونډ کښې امرسې ، پتاسې او حلواګانې وېشلې او خوشحالۍ نمانځلے شوې. د خوشحالو نمانځلو په دې غل غوبل کښې د کور ټول خلق لوئے واړهٔ ښهٔ ستړي او ستومانه شوي وو. او د کور مېرمنه بيا ډېره زيانه ستړې او بې ارامه وه. په درېمه شپه دا غريبه داسې بې حاله ښخه ډوبه اوده شوه چې د ځانه بې ځانه وه. په اړخ کښې ورسره درې ورځنے ماشوم هم اودهٔ پروت وؤ. د بده مرغه دا مور د شپې د ماشوم په اړخ راوړېدلې ده او ماشوم ترېنه د لاندې ګېر شوے دے. سحر چې د کور خلقو د ډډې لاندې ماشوم مړ وليدو نو ټول کور په وير او لړزان ګډ شو. يو خوا مېرمن خپله ځان په وير او ژړا مړ کړو. نو بل خوا د خلقو لعنتونو ، زورنو او پېغورونو هم په ژوندانهٔ مړه کړه خلقو د لعنتونو او پېغورونو له کبله په وير ژړا کښې به د مېرمنې د خ ، لې نه دا نعره ختله چې خدايه! هم بوره هم بدنامه. او داسې وايي چې د هغه وخت نه دا چغه د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې هم راتهزيان او تاوان مېلاؤ شو او هم مې بدنامي په سر شوه. يعنې تاواني هم زهٔ شومه ، پړه او بدنامه هم.او نن سبا په داسې حالاتو کښې استعماليږي چرته چې څوک داسې د خپله لاسه په څهٔ کار يا څهٔ خبره کښې زيان او تاوان ومومي. او په هغه کار کښې بدنام هم شي. نو هغه خپل حالت او کېفيت هم په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې خدايه! "هم بوره هم بدنامه".

خدايـــــــــــه هـــــــــــم بـــــــــــوره هـــــــــــم بدنامـــــــــــه
د رســـــــــــوايۍ عمـــــــــــر بـــــــــــه څنګـــــــــــه تېروومـــــــــــه

هم لـ ، ور د کوره هم زوم د کوره

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې دوه دوڼه زيان موندل يا رسېدل. يعنې کله کله داسې حالات جوړ شي چې يو بنده بل ته څهٔ فائده رسوي يا ورله د څهٔ ښهٔ کار مشوره ورکوي ، يا د يو احسان له کبله دوباره احسان کولو ته مجبوره شي ، يا دوېم احسان کول ورله ضروري او لازمي شي. لکه د مثال په توګه چرته چې يو بنده خپل دوست له څهٔ شے مفت يعنې تحفه ورکړي او هغه دوست ورته بيا وايي چې يار! ما سره خو د وړلو يعنې د ګاډي کرايه هم نشته. اوس ګاډے راوله چې دا پکښې يوسم. نو په داسې موقع هغه بنده ته دوه دوڼه تاوان او زيان ورسېدو. يو خو ترېنه قيمتي شے مفت لاړو او بل خوا ترېنه پيسې ټکې هم. يعنې د يو په ځائے ورته دوه دوڼه تاوان ورسېدو. نو په داسې وخت هغه تاواني بنده خپل حالت په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې عالمهم! "لـ ، ور د کور ه هم زوم د کوره".

هندو د يار د پاره غټه غوښه خوړلې ده

قيصه:

د هندوانو په مذهب کښې غوا ته هم د بګوان مقام حاصل دے. استغفرالله. يعنې غوا هم هغوي يو خدائے ګڼي او مني. او د دې کبله هغوي په ځان غټه غوښه حرامه کړې ده. نن سبا خو زمانې ډېره ترقي کړې ده. خو بيا هم د هندوانو اکثريت غوښې نهٔ خوري. او په مذهبي نېز يې حرامه ګڼي. د دې متل په شا داسې يوه قيصۍ مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د يو هندو او د مسلمان دوستانه وه. په علاقه کښې د دوي دوستي ډېره کلکه او پخه ياده او منلې شوې وه. يوه ورځ د دې مسلمان نه چا تپوس وکړو. چې هلکه ستا په دې دوست څومره باور دے. هغهٔ ورته وئېل چې که سر ترېنه وغواړم نو منع به يې نهٔ کړي. هغه سړي ورته وئېل چې سر ترېنه مهٔ غواړه. او

که ازمېښت پرې کوې نو د غوا غوښه ورته کېږده چې به يې وخوري او که نه. دې مسلمان هم په زړۀ کښې وئېل چې راشه دا هندو خو لږ ازماؤ کړه. يوه ورځ يې هغه اشنا مېلمه کړو او د غوا غوښه يې پخه کړه. د ډوډۍ په وخت ورته مسلمان خبره ښکاره کړه. چې دوسته دا ګورې د غوا غوښه ده. هغۀ ورته وئېل چې اشنا تا ته خو پته ده. چې مونږ غوښې نۀ خورو. هغه مسلمان ورته وئېل چې دوسته نن خو به يې خورې ، يا به دا غوښه خورې او يا به دوستي پرېږدې. وايي چې هندو پکښې څۀ شېبه نيمه سوچ وکړو او بيا يې د دوست سره په ډوډۍ لاس پورې کړل. او وايي چې بيا دا خبره په ټول کلي کښې مشهوره شوه. چې هندو د يا ردپاره غوښه وخوړله. او داسې د هغه وخت مشرانو دا متل مشهور کړو او مطلب يې دا دے چې په ورورولۍ ، ټبرداری ، خپلولۍ ، عزيزولۍ او يارۍ دوستۍ کښې غټه قرباني ورکول غواړي يا ورکولے شي. نن سبا هم په داسې موقعو او حالاتو کښې استعماليږي ، چرته چې څوک د چا دپاره داسې څۀ قرباني ورکړي يا قربانۍ ورکولو ته تيار وي يا د ايثار او قربانۍ جذبې يې څرګنده شي نو په داسې وخت د داسې بنده په حقله دا متل وړاندې کيږي او داسې وئېلے شي چې: "هندو د يار دپاره غوښه خوړلې ده".

هغـــــــه يـــــــاران بـــــــه پېـــــــدا نـــــــۀ شـــــــي
څـــــوک چـــــې د يـــــار پـــــه خوښـــــه غوښـــــې خوښـــــه وينـــــه

هندو ستړے خدائے ناراضه

دا يو عام متل دے چې په امروزه ژوند کښې زيات استعماليږي. هندوان يو مشرکه قام دے. د يو خدائے په ځائے يې څو څو خدايان د خپله لاسه جوړ کړي دي او عبادت يې کوي په جدا جدا موقعوکښې د جدا جدا ب ٠ تانو په جدا جدا طريقو سره عبادت کوي. خو دا ټوله هسې عبث خواري ده. هندو که هر څومره په رام رام ځان ستړے کړي خو په يو خدائے (الله رب العالمين) يې ايمان او يقين نۀ وي. د ب ٠ تانو عبادت کوي ، نو دا عبادت ، کړاؤ خواري او محنت الله پاک ته منظور نۀ دي. ځکه چې د الله پاک سره شرک کوي او د شرک له امله ترېنه الله پاک سخت ناراضه وي. د هندوانو دا عبث محنت ، خواري ، کړاؤ او د الله پاک نارضتيا مشرانو په دې متل کښې ستائېلې ، څرګنده کړې او مشهور کړې ده. او مطلب ترېنه دا دے چې که هندو ټول عمر هم په عبادت کښې تېر کړي. خو الله پاک به راضي نۀ شي. ځکه چې هغه د خدائے عبادت نه بلکې د ب ٠ تانو عبادت (شرک) کوي. او شرک په ټولو ګناهونو کښې غټه او د نۀ معاف کېدو ګناه ده. يعنې الله پاک ورباندې ډېر زيات او سخت ناراضه وي.

نن سبا په داسې وخت او موقع استعماليږي چرته چې څوک داسې د چا ښۀ خدمت وکړي ، ښۀ خيال خاطر يې کوي او ساتي. او بيا هم هغه بنده رضا او خوشحاله نۀ وي. نۀ احسان مني او نۀ مننه.بلکې اپوټه خفه او نار اضه وي. نو هغه خدمتي بنده په داسې وخت خپل حالت داسې بيانوي. چې ګنې ما يې خو ښۀ قدر عزت ، خيال خاطر ، خدمت او پالنه وکړه. ځان مې په خوارۍ او خدمتونو انډې انډې کړو ، خو په دې کښې هم هغه ناراضه او خفه دے. نو دا مطلب په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې يار: "هندو ستړے او خدائے ناراضه".

هنر زده کړه د کندو په سر يې کېږده

دا د مشرانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعماليږي. مطلب يې دا دے چې ګنې هر څۀ چې وي خو په ژوند کښې څۀ نه څۀ هنر زده کړه. او که ضرورت او حاجت ورته نۀ وي نوهم يې زده کړه چرته نه چرته به دې په سخته کښې پکار راشي. يعنې يو خو هغه خلق څۀ هنر زده کوي چې څۀ کسب او روزګار پرې ځانله روان کړي او د ژوند ضرورت او حاجت پوره کولو له څۀ ذريعه او وسيله جوړه کړي او د ډېرو خلقو څۀ نه څۀ کار کسب وي ، يا نوکري وي چې د هغوي ګزران پرې ښۀ روان وي. يعنې په ظاهره داسې خلقو ته د څۀ هنر زده کولو حاجت او ضرورت نۀ وي. خو بيا هم هوښياران داسې خلقو ته د نصيحت په توګه مشوره ورکوي چې هنر ښۀ شے دے ، څۀ هنر زده کړه او که ضرورت دې نۀ وي نو خېر دے يو غاړې ته ، يو ګوټ ته ، او يا د کندو په سر يې کېږده. او کله چې ضرورت يا حاجت راشي.

يعني سخت وخت راشي نو دا هنر به دي پکار شي. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او د نصيحت په توګه يې خلقو ته وراندې کوي او داسې وايي چې: "هنر زده کړه د کندو په سر يې کېږده".

Pukhto.Net
پښتو

"ی"

یاد به دې زۀ کړم موړ به دې خدائے کړي

دا یو عام متل دے او معنی یې د الفاظو نه څرګنده ده. مطلب یې دا دے چې یادول او مړول دوه جدا جدا کارونه دي. د یادولو نه مراد دعوت ورکول دي. یعنې داسې چې څوک په خېرات کښې ، د خوراک په وخت او یا د ښادۍ په موقع چا له بلنه ورکړي. نو په داسې موقع دې بلنې ته یادول هم وئېلے شي. لکه په داسې دعوت کښې چې څوک د بلنې نه پاتې شي نو هغه د ګیلې په توګه داسې وایي چې هلکه! مونږ دې پکښې هډو یاد نۀ کړو. د دې نه دا معلومه شوه چې په متل کښې د یادولو نه مراد بلنه او دعوت ورکول دي. بل خوا مړېدل شو. نو دا د بنیادم د وس او بس خبره نۀ ده. چې چا له رزق ورکړي. که یادول شو ، نو یو بنیادم بل له بلنه ورکړي. او په دعوت کښې یې شریک کړي. خو مړول او مړېدل د الله پاک په قدرت او اختیار کښې دي. او رزق په قسمت دے. چې الله پاک چا له څومره وغواړي نو هومره رزق ورکړي. څوک ماړۀ کړي او څوک وږي پاتې شي. چې د چا په قسمت کښې څۀ لیک وي نو هغه ورورسي. او یو بل مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے چې ګنې مړېدل د نیت او ارواه دي. څوک خو په خېټه موړ وي. خو د هغۀ سترګې او ارواه وږے وي. نو داسې بنده په هېڅ نۀ مړېږي. یعنې که ډېر هم په خېټه موړ شي خو چې ارواه یې وږې او خواره وي نو هغه خدائے مړولے شي بنیادم نه. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې یاد به دې زۀ کړم ، یعنې دعوت او بلنه به درکړو. خو مړول د الله پاک په قدرت او اختیار دي.

نن سبا په داسې حالاتو او د داسې خلقو په حقله استعمالیږي چرته چې څوک د چا په دعوت کښې خفه او مرور شي او څۀ ګیله مانه کوي یا څوک د خپل خوار قسمت ژړا ژاړي. او په خپله برخه صابره نۀ وي. نو مشران ورته دا متل وړاندې کوي او داسې وایي چې: "یاد به دې زۀ کړم او موړ به دې خدائے کړي".

یا خوار نۀ وے او یا هوښیار نۀ وے

دا د هوښیارانو یو قول دے چې د متل په توګه هم استعمالیږي. مطلب یې دا دے چې ګنې غریب نۀ وے. چې مالداره او دولتمند وے. نو څۀ نه څۀ کار یا کارنامه به مې کړې وي. او یا هوښیار نۀ وے. یعنې بې عقله او بې فکره وے. چې نۀ مې سوچ کولو او نۀ په خپله غریبۍ کړېدم او سوزېدمه. مطلب دا چې داسې څوک هوښیار بنده وي چې په خپل صلاحیت ، هنر او عقل څۀ شے جوړول غواړي یا په خپل علم او هنر دنیا ته څۀ وړاندې کول ، څۀ فائده رسول غواړي. خو لاس یې تنګ وي. د خپلې غریبۍ له کبله هېڅ کولے نۀ شي ، یا چرته یو بنده څۀ روزګار روان کړے وي او د هغه کار په حقله ښۀ علم او هنر لري. یعنې ښۀ هوښیار ، ماهره او پوهاند منلې او ګڼلے شي. خو د تنګ لاسي له کبله هغه کار روزګار کښې پرمختګ نۀ شي کولے. نو په داسې وخت هغه بنده د خپلې ناچارۍ ، لاچارۍ او غریبۍ له کبله کله غصه کله په قهر ، کله خفه او مرور وي. نو په داسې موقع او حالاتو کښې هغه د خپلو حالاتو یعنې بې وسۍ ،غریبۍ او لاچارۍ ګیله شکوه په دې متل کښې وړاندې کوي او د زړۀ بوجهه او غم پرې کموي ، یا د زړۀ براس پرې وباسي او داسې وایي چې خدایه! "یا خوار نۀ وے او یا هوښیار نۀ وے".

یا چې هوښیار وے هم مالدار وے
یا لېونے وے چې مې نۀ کول غمونه

یا مور راوړے یا ترور راوړے

ترور د مور خور ته وئېلے شي. او څنګه چې یوه مور په خپل اولاد مئینه وي. نو داسې ترور هم د خور اولاد سره ډېره مینه او محبت کوي. دا حقیقت دے چې د مور شان مینه محبت او رحم بل بنیادم اولاد ته نۀ ورکولے شي او نۀ پوره کولے. خو ترور بیا هم د دنیا

په مخ د مور بدل کړ خولے شي. ځنګه چې يو ترور په خوريو او خورزو مهربانه وي. مينه او محبت ورسره کوي ، ځان او زړۀ ته يې رانزدې کوي. نو داسې هغه ماشومان هم د مور مينه په ترور ماتوي. او دا يو قدرتي او فطرتي عمل هم دے. چې هر بنيادم ته د ماما کورنۍ يعنې ماماکان او تروريانې نزدې او خوارۀ وي.

مشرانو دا قدرتي او فطرتي عمل او عادت په دې متل کښې ستائيلے او مشهور کړے دے. او مطلب ترېنه دا دے چې کښې د تروريانو اولاد يو بل ته داسې خوارۀ وي لکه ورونه خوښدې ، يا تروريانې داسې مينه ناکې او مهربانه وي لکه خپله مور. هم دا مينه ناکې جذبې ، احساسات او پيرزوکانې په دې متل کښې ځرکندوي. او داسې وايي چې: "يا مور راوړې يا ترور راوړې". په ځنې علاقو کښې داسې هم وئيلے شي چې: "ځۀ د مور پېدا او ځۀ د ترور پېدا". په دې حقله يو بل متل هم دے چې مطلب يې د دې متل سره ترون خوري او هغه داسې وايي چې: "ترور نيمه مور".

يتيم د ژړا عادت وي

د پلار لاس او سېورے چې د چا په سر وي نو هغه ماشوم ډېر بې فکره او بې غمه ژوند تېروي. او يتيم هغه ماشوم ته وئيلے شي. چې د جا پلار مر وي. مالداري او غربيې خو خپله يو حقيقت او حېثيت لري. خو چې ځوک يتيم شي نو که ډېر هم مالداره وي خو بيا هم ورته د پلار د سېوري ، مرستې مدد ، رهنمايي او د مينې محبت ډېر سخت ضرورت او حاجت وي. او په هره موقع ورته د پلار کمي محسوسيږي او يادونه يې راتازه کيږي. اکثر ماشومان چې د ژوند په لاره يواځې پاتې شي نو د هغوي ژوند د ډېرو کرامو ، مصيبتونو ، تکليفونو او غمونو سره مخ شي. اکثر د مېرې مور او د پردو خپلو د زور ظلم او جبر لاندې ژوند کوي. او دا د جبر شپې ورځې هغه په ژړا کښې تېروي. د يتيم دا عمر له ژړا او حالات مشرانو په دې متل کښې ستائيلې او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې کټ يتيم مدام د جبر او زور ظلم د لاندې په ژړا وخت تېروي. نو هغه په داسې حالاتو ، يعنې ژړا کښې پوخ او عادت شي. او بيا که ورسره ځۀ نوے ظلم وشي نو د هغۀ وربانديې ځۀ زياته پرواه نۀ وي. ځکه چې هغه د داسې حالاتو عادت وي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې ځوک داسې په خوارو ، سختو ، کرامو ، مصيبتونو او شخړو کښې ژوند کوي. او که هغۀ ته ځۀ نوے غم يا مصيبت ورمخ شي نو هغه ورله ښۀ په تسلي ، دادۀ زړۀ او حوصلې سره غاړه په غاړه ورځي. او خپل حالت او کېفيت په دې متل کښې ځرکندوي. او داسې وايي چې: پرواه نشته يار! "يتيم د ژړا عادت وي".

يو خوا ډانګ دے او بل خوا پرانګ دے

قيصه:

د دې متل په حقله داسې يوه قيصه مشهوره ده. وايي چې پخوا په زمانه کښې د غر په لمنه کښې يو کلے اباد وۀ. د کلي خلقو به خپل ځاروي غړۀ ته وشرل او مابنام به ځاروي خپله کورونو ته واپس راتلل. د دې کلي يو غريب سړے وۀ چې د غر نه به يې لرګي راوړل. يوه ورځ يې چې په غر کښې ټيزې په ځر ولېدې نو په زړۀ کښې ورله شېطان دا خيال پېدا کړو چې زماني وشوې او غوښه مو جرته په سترګو هم نۀ ده ليدلې. ولې نه يوه ټيزه حلاله کړے شي. چې د غوښې خوند او مزه واخلي. دا سوچونه او فکرونه يې زړۀ له تلل راتلل. وايي چې کله کله سړے د شېطان هم اوري. داسې دا سړے هم د شېطان په جال کښې راګېر شو او اخر چې سړي يوه ټيزه راونيوله او حلاله يې کړه. ځرمن يې ورله توتې توتې کړه او يو ځائے يې اوغورځوله. غوښه يې پټه په پند کښې کور ته ورسوله. په سبا له د ټيزې مالک شور جوړ کړے وۀ چې ټيزه ورکه ده. دې سړي ورته وئيل چې ما په غړۀ کښې لېوۀ او پرانګ ليدلے وۀ. کېدے شي چې هغوي ماته کړې وي. خلق چې کله غړۀ ته لاړل نو د ټيزې ځرمن او ويني يې وليدې. او يقين يې وشو چې کټ ټيزه لېوانو يا پرانګانو ماته کړې ده. داسې د دې سړي عادت جوړ شو چې ځۀ ورځې پس به يې ټيزه حلالوله او سنبالوله. يوه ورځ د کلي ماشومانو د غړۀ لمنه کښې لوبې کولې. چې يو ماشوم دا سړے وليدو چې ټيزه يې په مخه کړې ده. او غر ته يې پاس خېژوله. ماشومانو شور جوړ کړو او د کلي خلقو ته يې چغې او نعرې وهلې. د کلي خلق کوتکي په لاس راجمع شول. ماشومانو ورته قيصه تېره کړه. چې يو سړي ټيزه په اوږه کړه او غړۀ غاړې ته يې په مخه کړه. هغه خلق هم غر ته په مخه شول. د خلقو په شور زوږ دا سړے پوهه شو چې اوس کار وران شو. نو ټيزه يې پرېښوده او د پټېدو د رو کودر دپاره مخ په پورته روان وۀ. ځۀ شېبه پس خلقو ټيزه اومونده او صلاح يې وکړه چې غل ته لاړې ونيسي. بل خوا نشي تلے هم په دې لار به

راکوځيږي. دا سړے چې تر څۀ مېدانه پاس وختو نو د خلقو اوازونه او شور راتلل بند شول. دۀ ګڼل چې ګڼې خلق واپس لاړل نو هلته په يوه ګڼه کښېناستو او چې لاندې يې وکتل نو خلقو ورته ډانګونه په لاس لارې نيولې دي.دۀ په زړۀ کښې وئېل چې لږ نور بره ختل پکار دي. چې د خلقو په نظر رانۀ شي. او د ختو په تکل کښې يې چې څنګه بره وکتل نو د پړانګانو يو جوړه يې په نظر شوه. چې د يو بل سره يې مستۍ کولې او مخ په لاندې راروان وؤ. په دغه وخت دې بنده ډېر په افسوس سره وئېل چې هائې! زما خواره قسمته کوم ځائے ګېر شوې. يو خوا ډانګ دے او بل خوا پړانګ دے. او وايي چې د هغه وخت نه دا خبره د متل په توګه مشهوره شوه. او مطلب ترېنه دا دے چې ګڼې دواړه غاړې ، يا دواړه طرفونه راته بند شول. يعنې که مخکښې ځم نو هم تاوان دے او که په وروستو ځم نو هم زيان ، يعني دواړو غاړو ته تکليف ، مصيبت ، کړاؤ او غم دے. يا مرګ راته تيار ولاړ دے.

نن سبا په داسې موقعو کښې استعماليږي چرته چې څوک بنده په داسې حالانو کښې ګېر شي. که مخکښې ګام اخلي نو هم ورته زيان او تاوان رسي. او که وروستو کيږي نو هم په بلا اوړي. نو په داسېوخت خپل حالت ، کېفيت او احساسات په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې:"يو خوا ډانګ دے او بل خوا پړانګ دے".

يو خوا ته ډانګ بل خوا ته پړانګ شي
په انسان راشي کله کله دا وختونه

يو د لوږې مري او بل يې سر ته پراټې ګوري

دا يو عام او ساده متل دے. چې په امروزه ژوند کښې ډېر زيات استعماليږي. لوږه هم بده بلا ده. په متل کښې د لوږې نه د مړۀ کېدلو معنی ده چې ګڼې يو بنده ډېر زيات غريب ، فقير ، مسکين او عاجز شي. که څوک د داسې بنده په حقله څۀ خبره کوي نو اکثر داسې وايي چې غريب د خدائے فقير دے ، د لوږې مري. يعنې مطلب يې دا دے چې ګڼې ډېر زيات فقير او عاجز دے. او د پراټو کتلو نه مطلب دا دے چې ګڼې څوک داسې غريب فقير نه د څۀ طمع لري ، يا ترېنه د څۀ بعده کوي او يا ترېنه د څۀ شي غوښتنه کوي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ګڼې يو بنده دومره فقير دے چې خپله د لوږې مري او بل ترېنه د څۀ طمع او لالچ لري. چې ګڼې د دۀ نه به څۀ بعد شي. نو دا سخته کم عقلتيا او بې وقوفتيا ده. هم د دې مطلب دپاره مشرانو دا متل مشهور کړے دے.

نن سبا په داسې حالانو کښې استعماليږي. چرته چې څوک د چا غريب مسکين نه د څۀ طمع لري ، يا ترېنه څۀ قرض پور غواړي. نو هغه غريب فقير ورته خپل حال داسې څرګندوي چې يار! مونږه خپله د پولۍ پرق ته ناست يو د لوږې مرو. او هوښياران د هغوي حالات په دې متل کښې څرګندوي او داسې وايي چې:"يو د لوږې مري او بل يې سر ته پراټې ګوري".

د يو د لوږې ځنګدن وي
بل يې په کټ کښې پراټې ګوري مئينه

يو کار د بل کار دمه وي

هوښياران وايي چې کله يو بنيادم څۀ کار ، محنت او مشقت کوي نو اخر ستړے شي. بيا د ستړې ستومانۍ له کبله يې دمې او ارام کولو ته خوا کيږي. او کله کله داسې حالات جوړ شي چې په يو کار کولو سړے ستړے شي او زړۀ يې تنګ شي. يعنې پرله پسې په يو مخ څۀ کار کول هم ګران کار دے. او چې کله داسې وخت راشي چې څوک په يو مخيزي کار کولو ستړے شي نو مشران وايي چې هغه کار پرېږده او په بل کار لاس پورته کړه. نو د زړۀ هغه تنګسيا او ستړے والے به يې ختم شي. او وخت به هم قيمتي شي. يعنې فضول به تېر نۀ شي. بلکې څۀ فائده اوګټه به ترېنه تر لاسو شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې په يو کار څوک ستړے شي نو هغه کار دې پرېږدي او بل کار دې شروع کړي. داسې به يې پام بدل شي. نو دمه به هم شي او وخت به هم فضول او بې فائدې تېر نۀ شي. بلکې قيمتي او ګټور به شي.

نن سبا يې اکثر مشران د نصيحت په توګه خلقو ته وړاندې کوي. يعنې چرته چې څوک په څۀ کار کښې ستړے والے ، تنګسيا او ستوماني محسوسوي او څرګندوي نو مشران ورته وايي چې هلکه دا کار پرېږده. او دغه بل شروع کړه. نو دمه به هم شي او کارونه به هم رالنډ شي. او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې:"يو کار د بل کار دمه وي".

يو کال خو خلق د مور مېړۀ سره هم تېروي

د مور د مېړۀ نه معذ ، ی خو پلار دے. خو په متل کښې ترېنه مطلب مېرنے پلار دے. يعني سکه نه بلکې (پلندر). او څنګه چې دا خبره څرګنده او مشهوره ده چې مېره مور ډېره ظالمه او جابره وي ، نو داسې پلندر مېرنے پلار هم ظالم او جابر وي. زمونږ په معاشره کښې اکثر داسې ليدے کېږي شي چې د هاغه ماشومانو ډېره بده ورځ وي د چا چې خپله مور نۀ وي او يا يې پلار مړ شي او مور يې بل وادۀ وکړي او پلار يې مېره (پلندر) شي. په دې متل کښې مشرانو يو خوا د مېړۀ پلار ظلم زور څرګنده کړے دے نو ورسره يې د هغه ماشومانو يا زلمو برداشت ، حوصله او صبر هم ستائيلے او مشهور کړے دے. ځوک چې د مېړۀ پلار (د مور مېړۀ) سره هم په صبر حوصلې او استقامت سره وخت تېروي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې کټې که ځوک بنده لکه د پلندر ډېر هم جابر او ظالم جوړ شي او په چا ډېر زيات زور ظلم کوي نو هم د حوصلې او برداشت نه کار اخستل پکار دي. او په صبر وخت تېرول پکار دي. اخر دا وخت به هم تېر شي.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي چرته چې ځوک داسې د حالاتو کردش ، او يا د چا په زور ظلم کښې کېږ شي. په تکليف ، مصيبت غم او خفګان کښې وخت تېروي. نو هغه بنده ته مشران د برداشت ، حوصلې او صبر کولو تلقين او نصيحت ورکوي او دا مطلب ورته په دې متل کښې وړاندې کوي او داسې وايي چې: "يو کال خلق د مور مېړۀ سره هم تېروي".

يو لاس دې خدائے د بل محتاجه نۀ کړي

دا د مشرانو قول دے. چې د متل په توګه هم استعمالېږي. مطلب يې دا دے چې کټې محتاجي بده بلاده. او خدائے دې هېڅوک چا ته محتاجه نۀ کړي. په متل کښې لاس نه دوه معني اخذ کېږي.خو دا چې کټې يو لاس که مات ک ، يا ناروغه شي نو هغه بل لاس ته محتاجه شي. يعني د هغه لاس کار يا په بل لاس کولے شي. يعني دوارۀ خپل لاسونه وي. خو چې يو د بل محتاجه شي نو يا دا محتاجي هم ژوند په کرامو او کراؤنو سر کړي. دوېم مطلب د لاس نه بنيادم دے. يعني مطلب دا چې کټې خدائے دې يو بنيادم د بل محتاجه نۀ کړي. چرته چې يو بنده د څۀ ضرورت او حاجت له کبله بل ته محتاجه شي. نو د محتاجې له کبله د هغۀ ژوند ډېر کران او په تکليفونو سر شي. اکثر لاندينۍ لاس د پورتني لاس ډېر داسې شرطونه او خبرې ومني چې په عامو حالاتو کښې هغه د نۀ منلو او نۀ کولو وي. خو هغه محتاجه بنده يې د ناکامۍ او مجبورۍ نه مني او عمل پرې کوي. او څني وخت محتاجي او متازي اکثر خلق داسې څۀ کار يا خبرې ته مجبوره کړي چې هغه د شريعت ، حيا عزت ، ننګ غيرت او د ضمير نه مخالفه او په ضد وي. يعني ضمير يې نۀ مني. خو هغه بنده يې په کولو مجبوره شي. د دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې محتاجي بده بلاده. او خدائے دې ځوک چا ته محتاجه نۀ کړي. ځکه چې محتاجه او متازه بنيادم دومره مجبوره وي چې اکثر فېصلې د خپل ضمير خلاف او د بل په حکمونو او اشارو باندې کوي. هوښيارانو په دې متل کښې د غريبو او مجبورو خلقو دا مجبورۍ او کمزورۍ په کوته کړي دي. او داسې غريب خلق چې کله د خپلو مجبورو او حالاتو برخېرنه کوي. نو داسې وايي چې: "يو لاس دې خدائے د بل محتاجه نۀ کړي". په دې حقله يوه پخوانۍ ټپه هم مشهوره ده چې د متل په توګه يې مشران استعمالوي او داسې وايي چې:

حاجت بنده بلاده که خبر شوي
هلته به ورشي چې د تلونۀ وي خاوند
محتاجي نوم بنده بلاده
بنده بلاسرے په بدو واړوينه

(روغ لېونے)

يو لرګے به اور اونۀ کړي ،

او دوه ښځې به کور اونۀ کړي

څنګه چې پخواني خلق ساده باده وو. نو داسې د هغوي خبرې او مثالونه هم ساده ، اسان او زړۀ پورې وو. دومره ګټور چې هر چا ترېنه سبق او نصيحت موندلو. دا متل هم هغوي د ساده ژوند يوه ا ـ ئينه دچې يو عام بنده يې هم ډېر زر په معنـ ـ ی او مطلب پوهېږي. او مطلب يې دا دے چې ګنې که څوک يو لرګي ته اور لګوي يا ورته کوي نو دا ډېر ګران کار دے. يو لرګے په اسانه اور نۀ اخلي. اکثر د لرګي سره څۀ خلپل ، خاشي پاشي ، يا نري چخچي ملګري کړ ے شي. يعني يو ځائے کړے شي نو بيا د هغې له کبله هغه لرګے هم اور واخلي ، يا ورباندې اور ولګي. او مشرانو دا مثال د دوؤ ښځو سره ورکړے دے. يعني چې څنګه د يو لرګي اور اخستل ګران دي. نو داسې په يو کور کښې د دوؤ ښځو وسېدل او ژوند کول ډېر ګران کار دے. د کور کولو نه مطلب دا دے چې ګنې په يو ځائے ژوند کول يا تېرول. ښځې که په خوي خصلت ډېرې هم فرښتې شي خو بيا هم په يو کور کښې د دوؤ ښځو ژوند کول ډېر ګران دے. يعني په يو کور کښې دوه بنې ګزاره نۀ کوي. بلکې په هغه کور کښې اکثر جنګ جګړې او غل غوبل جوړ وي. چې د کور ټول خلق ترېنه په اور کښې ولاړ وي. دوېم مطلب ترېنه دا هم اخذ شوے دے چې ګنې دوه په ذات ښځې ، يعني په نامه ښځه ذات. که هغه خواښې اينګور ، ورندار او ايندرور او يا دوه يورياني وي نو هم په يوځائے يې ګزاره ګرانه وي. او دا حقيقت دے چې ښځې ذات ته د ښځې د لاسه مدام غم خفګان او تکليف رسېدلے دے. يعني اکثر د يوې د لاسه په بلې ښځې کور ورانېږي. که خپلو کښې يې هر څۀ رشته او خپلولي وي خو يوه ښځه د بلې دښمنه وي. دې معنو تر لاندې د متل نه مطلب دا شو چې ښځه ذات دومره کم عقله ، تنګ نظره او د حسد بـ ـغض نه ډکه وي. چې په يو ځائے د دوؤ ښځو کور کول يعني ژوند کول ډېره ګرانه خبره وي. او دا حقيقت ، يعني د ښځو دا خوي خصلت مشرانو په دې متل کښې ستائېلے او مشهور کړ ے دے.

نن سبا هم په داسې حالاتو او موقعو کښې استعمالېږي چرته چې داسې د ښځو د لاسه په يو کور کښې اړي ګړي جوړ شي او کور د پاني پت مېدان جنګ جوړ وي. نو په داسې وخت مشران دا متل وړاندې کوي او داسې وايي چې: "يو لرګے به اور اونۀ کړي او دوه ښځې به کور اونۀ کړي".

د يـــــــو لرګـــــــي بلېـــــــدل ګـــــــران دي
داســـــې دوه ښـــــځې پـــــه يـــــو ځـــــائے نـــــۀ کـــــړي کورونـــــه

يوه ها وه هغه هم سخا وه

ها (اګۍ) که د چرګې وي او که د بلې مرغۍ وي. خو چې (خرابه) سخا شي نو بې کاره او بې قيمته شي. هسې خو ها يو معمولي او ډېر لږ قيمت والا شے ښکاري. خو که پام وکړے شي نو ډېره قيمتي بلکې بېش قيمته شے دے. ځکه چې ها او چرګه د يو بل سره داسې تړلي دي چې لازم او ملزوم دي. يعني د چرګې نسل د ها نه دے او د ها د چرګې نه. په متل کښې مشرانو د ها (اګۍ) مثال د هر هغه شي سره تړلے دے چې هغه يو وي. مطلب دا دے چې ها ډېر قيمتي شے دے. خو چې سخا شي نو قيمت يې ورک او ختم شي. او ها بې کاره شي. او داسې چې چا سره يوه ها وي او هغه هم سخا اوخېژي. نو بيا خو غم ، خفګان ، افسوس او ارمان له زيات شي. مشرانو په دې متل کښې هم د داسې بنده هغه غم خفګان ، افسوس او د ارمان هغه جذبات څرګنده کړي او مشهور کړي دي. او مطلب ترېنه دا دے چې ګنې ما سره يک يوه ها وه يا هم دغه يک يو شے ، يا يو څيز وؤ او هغه هم خراب وختو يا خراب وؤ يا خراب شو.

نن سبا په داسې حالاتو کښې استعمالېږي. چرته چې داسې يو غړي ته د څۀ په وېش کښې برخه مېلاؤ شي او هغه شے خراب وخېژي يا په خصوصي توګه داسې د چا يک يو اولاد وي. يعني يو ماشوم يا ماشومه وي او هغه هم ناروغه او معزوره وي. نو په داسې موقع هغه غمژن بنده خپل غم خفګان ، افسوس ارمان او خپل جذبات يا احساسات په دې متل کښې څرګندوي. او د قسمته ګيله مند خپل خوار قسمت داسې ژاړي چې هايې! زما خواره قسمته زمونږ خو! "يوه ها وه هغه هم سخا وه".

چـــــې يـــــوه هـــــا ، هغـــــه هـــــم ســـــخا وي
پـــــه داســـــې ژونـــــد بـــــه ربـــــه څـــــوک خوشـــــحاله وينـــــه

Pukhto.Net
پښتو

د متلونو اصلاح — زاړۀ متلونه

۱. لاندې مزکه پاس اسمان ، تر مېنځه سلېمان
نوے: لاندې مزکه پاس اسمان ، زمونږه يو ايمان
۲. لا يار شه لا بېزار شه
نوے: يا دلدار شه ، يا توبه ګار شه.
۳. لښکر که ډېر وي. بې سره هېر وي.
نوے: لښکر که ډېر وي ، بې اميره زېر وي.
٤. لکه چرګ په ناوه زوړ شو.
نوے: لکه چرګ په ډېران زوړ شوې.
٥. لکه د خان د سپي کټ ته وختې.
نوے: لکه د خان د سپي په کټ کښې تشېږې.
٦. لکه ګيدړ په لکۍ سړے خطا باسې.
نوے: لکه لومبړ په لکۍ سپے تېر باسې.
۷. لکه هندو خپلې ګ ، ړې ته شمکور شوې.
نوے: لکه هندو هسې ګ ، ړې ته خوشحالېږې.
۸. لکه هندو ته چې ناوې ووايې.
نوے: لکه هندو ته چې ګ ، رو ووايې.
۹. لنډه لار او لويه بېعه.
نوے: لنډه لار ، خطره د شوکمار/لنډه لار ، خطره د ښامار.
۱۰. لوبه په غ ، لطۍ تودېږي.
نوے: لوبه په غ ، لطۍ تودېږي ، او ګپ په نېنو.
۱۱. لېوۀ ته يې نصيحت وکړو ، په هغه ورځ يې شل اوداړل.
نوے: لېوۀ ته يې نصيحت کړو ، ځان ته يې مصيبت کړو.
۱۲. ما پرې اعتبار وکۀ هغه اشنا غماز وختو.
نوے: ما پرې اعتبار کړو ، ځان مې خوار کړو.
۱۳. ما چې لالا بللې ، د ځان د ښې لپاره.
نوے: ما په لالا بللې ، او تا مې پښې وهلې.
۱٤. مار ته چې بدبختي راشي نو د غاره رابهر شي.
نوے: پوره چې د مار شي ، روان په لار شي.
۱٥. ما ماما بللې ، تۀ رانه ياري غواړې.
نوے: ما په ماما بللې ، او تا مې پښې تړلې.
۱٦. مال مې د سر نه ځار ، سر مې د غر نه ځار.
نوے: مال مې د سره ځار ، سر د وطنه.
۱۷. منږکه! چې کور په ژرنده کښې دے نو غم دې څۀ دے.
نوے: منږکه مۀ کړه غم ، شته لا ژرنده کښې غنم.
۱۸. نۀ تا کړې نۀ ما کړې ، په څۀ باندې پخلا کړې.

نوے: نۀ تا کړې نۀ ما کړې ، نو ځله بيا غوغا کړې.

۱۹. نۀ خورلي نۀ څښلي ، پختورکي درد نيولے.

نوے: نۀ څۀ څښلي نۀ خورلي ، بدنامه شوم په کلي.

۲۰. نۀ زما پلار ستا مزدور دے ، نۀ زما پلار ستا تربور دے.

نوے: نۀ زما پلار ستا مزدور دے ، نۀ ستا د پلار تربور دے.

۲۱. نۀ خورو نۀ نغاړو.

نوے: نۀ خورو نۀ نغاړو ، بيا ځله ژاړو.

۲۲. نن په ما سبا په تا.

نوے: نن په ما سبا په تا ، دا چال د دنيا.

۲۳. نن دلې سبا په ولې.

نوے: نن دلې سبا په ولې ، د خدائے په حيلې.

۲٤. ۀ يې تر خ ۀ لې شوه ، نۀ تر نسه.

نوے: نۀ يې تر خ ۀ لې شوه ، نۀ يې تر کومې تېره.

۲۵. نيستي پېغور نه ده.

نوے: نيستي پېغور نه ده ، دوستي په زور نه ده.

Pukhto.Net
پښتو

نوي متلونه

1. په ښو به قدرمن شي ، په بدو به پېمن
2. چې پر شي ، نو مړ شي
3. چې مسافر شي ، نو مات يې ښکر شي
4. چې موټے نيسي تش ، دا خر ته وي سازش
5. څوک چې په ننګ وي ، پوزې به يې لنګ وي
6. څوک چې مستي که ، مدام به نيستي که
7. خټک چې وژني ، په خټه يې مور کړه او سړنا ورته سړ کړه
8. خ ، له بنده ښۀ ده ، کړه نا
9. دمشر وټپل وي ، د کشر عمل وي
10. دکوره لري ، په سلکو سترے
11. سړ ور منګے وي ، اوبۀ د چينې وي
12. شاخبل چې مستي کړه ، خود به نيستي کړه
13. ښۀ خو هغه وي چې د بدو په بدل شي
14. ښځه چې د څښتن سره کړه شي ، د اولاده هم مړه شي
15. غل چې د کوره وي ، معلوم به نۀ شي
16. فقير که غصه که ، خوراک به څۀ که
17. لاس ترلې ښۀ دي ، مات نه
18. لاس چې دې ورکړو ، ځان دې ورکړو
19. لږ وايه ، ډېر اوره
20. لکه څنګه يې توری ده ، داسې يې خ ، له سوری ده
21. لالا پور غواړي ، خور يې لا نور غواړي
22. ما پور غوښتو ، هغۀ لا نور غوښتو
23. مال د مسافر ، واک يې د سخر
24. مرګ په نښته دے ، مرض يې بهانه دے
25. مړ او پر په معن ، ی يو دي
26. مسافرو وکټله ، مېرمنو وځټله
27. ملا که غصه که ، د جا به څۀ که
28. م ، لخ به څۀ وي ، وزر به يې څۀ وي
29. موټ مۍ چې وشي ، کره به دې شودۀ شي
30. مور چې کړه شي ل ، ور يې بدرکه شي
31. مېرني په مرانه پېژندے شي
32. مېلمه رحمت شي ، خو په زمي زحمت شي
33. نۀ پردے کور ، نۀ خپل شکور

اولسي ادب کښې ټپه او متل

اولسي ادب ته په انګريزي کښې فولکلور وئيلے شي ، او په اردو ژبه کښې په لوک ادب يا لوک ورثه يادېږي. د ادب استاذان او پوهان وائي چې اولسي ادب د قام د ثقافت او تهذيب هاغه برخه ده چې ورکښې د اولس دود دستور ، عقائد ، اقدار ، روايات او فنون لطيفه (رټ) شامل وي. هم دا اولسي ادب د هر قام د تولنيز او تېرېز (معاشرتي) ژوند ترجماني او عکاسي کوي.

هسې خو د اولسي ادب په حقله د نړۍ ډېرو پوهانو او د ادب استاذانو ډېر څۀ ليکلي او وئيلي دي خو زۀ د خپل ډېر کران مشر شاغلي پروفېسر داور خان داؤد صېب وېنا جامع کنم. د اولسي ادب په حقله کران پروفېسر صېب ليکي چې: "فولکلور د انګريزي ژبې د دوؤ تورو مجموعه ده. يعني فوک او لور ، د (فوک) معنۍ ، ی ده اولس ، قام ، خلق يا د خلقو ټولنه. او د (لور) ، ی ده علم ، تعليم او د هـ ، نر زده کړه. پاسې د دې معنو تر لاندې د فولکلور معنۍ ، ی شوه د خلقو يعني د قام زده کړه.

اوس سوال دا دے چې دا زده کړه خلق د څۀ لپاره کوي ، نو ځواب به دا وي چې د پوهې لپاره. نو مونږ وئيلے شو چې د فولکلور مطلب شو د اولس پوهاوې بنيادم دا پوهه ، يعني عقل فکر ، علم هـ ، نر او د ژوند کولو هر فن. نظام يعني ترکيب و ترتيب په ادب هم مثلے ، يادولے او بللے شي. هم د دې کبله پوهانو د اولس پوهې له د اولسي ادب په نامه پېژندګلو ورکړه. او دا يې هم په ګوته کړل چې د ثقافت او تهذيب و تمدن زياته برخه به اولسي ادب کښې شامله وي. يعني د قام دود دستور ، عقائد ، اقدار و روايات ، فنون لطيفه (رټ کلچر) او ځنې هنرونه (دستکاري) هم د اولسي ادب برخه وي.

هم دا اولسي ادب دے چې مونږ ته تېرو وختونو د قامونو د تاريخ ، کلتور يعني د ثقافت او تهذيب و تمدن درک (اټه پټه) او پوهه راکوي. يعني د تېرو قامونو د ژوند ژواک ، دود دستور ، ثقافت او د تېرو وختونو د تاريخ ځېرنې او پرتنې په اولسي ادب کولے شي.

د ادب استاذان او پوهې دي خبره هم يوه خ ، له دي چې اولسي ادب هم دوه برخې لري ، يو ته "مادي اولسي ادب" وئيلے شي او بله برخه په "غېر مادي" يا "لفظي اولسي ادب" يادولے او منلے شي.

په "مادي اولسي ادب" کښې هغه مواد (ځيزونه) شامل وي چې هغه مادي وجود لري. لکه جامه ، پېزار ، کالي پټري ، سيکې (پيسې ټکې) د کار کسب اوزار او په خصوصي توګه د لاسو جوړ انځورونه او دستکاري وغېره.

په "غېر مادي" يا "لفظي اولسي ادب" کښې د ليک لوست او وېنا ټول اصناف شامل وي. لکه قيصه ، ډرامه ، افسانه او شاعري. ځنې د ادب استاذانو د "لفظي اولسي ادب" دا برخه هم بيا په دوؤ حصو کښې تقسيم کړې ده. يوه برخه "نثري اولسي ادب" او بله "شاعري اولسي ادب". په نثر کښې په خصوصي توګه قيصه ، متل ، سوکړه ، اړونه او ټکونه شامل دي. او په سندريز (شاعري) ارخ کښې بدله ، نيمکۍ ، چاربېته ، اولسي سندرې او ټپې شاملې دي. هسې خو په خپل ځائے هر يو صنف د اولسي ادب لپاره اهم دے ، خو ټپه بيا په اولسي ادب کښې ډېر اهم او بنيادي کردار لوبوي. بلکې زۀ به دا ووايم که چرې ټپه نۀ وے نو زمونږ اولسي ادب به نۀ صرف بې خونده او بې مزې وؤ بلکې نيمګړے به هم وؤ. ځکه چې ټپې زمونږ د کلتور د هر ارخ او ډګر ډېر ښۀ او په اسانه ترجماني او عکاسي کړې ده. راځئ چې لږ د ټپې په حقله ځان خبر کړو چې ټپه څۀ شے دے.

ټپه:

ټپه د پښتون قام يو شريکه ورثه او د اولسي ادب بې بها خزانه ده. لکه ځنګه چې په نثري ادب کښې د متل مقام او اهميت دے هم داسې په سندريز ادب کښې د ټپې يو ډېر اهم او ځانګړے مقام دے. د متل په رنګ د ټپې تاريخ هم دومره زوړ دے ځومره چې پښتون قام خپله. د متل په شان ټپه هم نۀ ځوک تخليق کار او نۀ دعويدار لري ، د موقعې او حالاتو په مناسبت چې د چا د خ ، لې نه هم ټپه ختلې ده او په اولس کښې مشهوره شوې ده نو هغه بيا د اولس په شريکه ورثه او اثاثه

کرخېدلې ده. د ټپې په حقله کران مشر پروفېسر داور خان داؤد صېب وائي چې: "متل د ذهانت يعنې عقل سره سره د تجربو په ادانه ولاړ وي. او ټپه د تجربو سره سره د جذباتو په ادانه جوت او محکمه وي.

د ټپو نه دا خبره خپله څرګنده ده چې ټپه يو ډېر زوړ صنف دے. ځکه چې په ټپه کښې مونږ ته د ټبر وخت د تاريخونو ډېرې اشارې او معلومات تر لاسو شوي دي. يعنې ځنې ټپې تاريخ بيانوي او ځنې د مختلفو ادوارو حادثات ، ثقافت ، تهذيب و تمدن او د جنګونو برخېرنه کوي. يعنې د پښتون قام د تاريخ څۀ نه څۀ برخه مونږ ته د ټپو په شکل کښې رارسېدلې ده. چې د تاريخ او لساني استاذان پرې د هغه وخت د قامونو او ژبو څېړنې کوي ، او خپلې نظريې قائموي.

په اولسي شاعرۍ کښې ټپه يو داسې خانګړے خصوصيت لري چې د قام د ژوند هر اړخ يې په ځان کښې رانغاړلے وي. يعنې ټپه د قام د تاريخ ، ثقافت او تهذيب سره سره د امروزه ژوند عکاسي هم په ښۀ شان او ډول سره کوي. يو خوا که ټپه د زړۀ درد‌ونو له ، د غم خفګان احساس له او د مينې محبت لطيفو جذبو له ژبه ورکوي نو بل خوا د پښتنو د مرانې ، او د ننګ غېرت چغه هم د ټپې په غږ کښې په قام او اولس باندې ډېر زر او ژور اثر کوي. يو خوا که ټپه د مسافرۍ او جدايۍ سختې ، د بېلتون او د هجران اوښکې او لمبې ژاړې نو بل خوا په سنګر کښې د لښکر مرانې ، جوش جذبې او د توريالو ت ۀ وري هم ستائيلې دي.

ټپه هلکه د متل شان په الفاظو ډېره مختصره وي ، خو په معن ۀ ی او مطلب ښۀ پوره او کوټلې وي. ټپه دوه بنده وي ، وړومبے بند يې ورکوټے وي ، يعنې الفاظ يې کم وي. او دوهم بند يې د وړومبي نه لږ زيات وي. استاذان وائي چې وړومبے بند د نهۀ چپو او دوهم د ديارلسو چپو وي. ټن سبا خو ځنې شاعران استاذان د ټپئيز په نامه د درې ځلورو بندونو د ټپو نوے شکل جوړوي خو زۀ د دې غندنه کوم ځکه چې مونږ سره خپله اصلي او سوچه ټپه چې ورکښې جامعيت ، فصاحت ، موزونيت ، مقصديت ، موسيقي او خوند مزه شته. بلکې زۀ په دا ووايم چې "وړه ده خو په تول پوره ده". نو بيا د ټپې شکل ورانولو ته هېڅ ضرورت نشته. هسې نه چې دا اصلي او سوچه ټپه د پښتو نه چرته ورکه نۀ شي.

هم دا وړه خو په تول پوره ټپه د متل په رنګ د ژوند په هر اړخ رنا اچوي ، يعنې زمونږ د اولسي ژوند عکاسي په ښۀ ډول کوي. په خپلو مختصرو او جامع الفاظو کښې د معنې او مطلب سره سره صداقت ، حقيقت ، نصيحت او جذبه هم لري. نو ځکه کله ټپه متل جوړ شي او کله متل ټپه. او هوښياران ، اديبان او واعظان يې بيا د موقعې په مناسبت سره په خپلو خبرو ، بيانونو ، ليک لوست او وعظ کښې د خوند رنګ ، درناوي او نصيحت په توګه استعمالوي. د هغه بې بها خزانې د ملغلرو نه څۀ ملغلرې د نمونې په توګه وړاندې کووم.

اسره مې تۀ شې لويه خدايه
څوک چې بنده اسره کوي تکړي خورينه

اول به ماته خلق ناست وو
اوس بياج کړ شوم جولی بل ته غوړوومه

اول مې فکر درته نۀ وو
اوس مې د زړۀ ستنې کړې درپسې ځينه

پرېږده چې خپر سهلاب مې يوسي
په لامبوزن اشنا به دېر نازېدمه

زما پـــــه مـــــخ لاړې رانوکـــــه
کـــه مـــې د مـــخ کـــولې پـــه شـــا خـــورلې وينـــه

پـــه هندوســـتان دې ځـــلے جـــور شـــه
د بـــې ننکـــۍ اواز دې رامـــۀ شـــه مئينـــه

پـــه يارانـــه کښـــې زړۀ ســـندان کـــه
پکښـــې پيښـــيرې د پلکونـــو ګزارونـــه

تاتـــه بـــه مينـــه تـــوقې شـــکاري
زمـــا پـــه تـــول وجـــود يـــې اور ولګوونـــه

جانانـــه خپـــل وطـــن تـــه راشـــه
کـــه خلـــق دې پـــرې ودان دي خپـــل کورونـــه

چـــې د ديـــدن نصـــيب يـــې نـــۀ وي
پـــه يـــو کوڅـــه کښـــې ســـره ورانـــدې وروســـتو شـــينه

ځـــوک چـــې د چـــا د بـــاغچې ګـــل شـــي
مناســـب نـــۀ دي چـــې ســـوکړې پـــرې تېروينـــه

ځـــوک پـــه رضـــا د ملکـــه نـــۀ ځـــي
يـــا دې غريـــب شـــي يـــا د يـــار د تســـه ځينـــه

ځـــوک چـــې د يـــار کلـــي تـــه لاړ شـــي
چـــې بـــې ديدنـــه تـــرې راځـــي نـــو مـــړ دې شـــينه

د بخـــت ډيـــوه چـــې د چـــا مـــره شـــي
کـــه بـــل مشـــال پـــه لاس کښـــې وړې تکـــرې خورينـــه

د جرمنـــو ويشـــتلے جـــور شـــي
ســـترکو ويشـــتلے بـــه رنځيـــرې مـــړ بـــه شـــينه

د خـــــدائے پـــــه لـــــوئے کـــــرم بـــــه کيـــــږي
پـــــه عقـــــل ګرانـــــه ده زمـــــا د جانـــــان مينـــــه

د رب کارونـــــــــــــه ټـــــــــــــول د خېـــــــــــــر وي
بنـــــد لـــــه ښـــــائي چـــــې پـــــرې شـــــکر وباســـــينه

د مينـــــــې يـــــــار مـــــــې پېـــــــدا نـــــــه کـــــــه
دنيـــــا مـــــې چـــــاڼ کـــــړه لـــــے پـــــه لـــــے وګرځېدمـــــه

د يـــــــــــــاراني ثـــــــــــــاني دې نـــــــــــــهٔ يـــــــــــــم
د غلامـــــــــــــۍ دعـــــــــــــوی ، کـــــــــــــوه غـــــــــــــلام دې يمـــــــــــــه

ديـــــــــــــدن مـــــــــــــې کـــــــــــــور تـــــــــــــه ورلـــــــــــــه يـــــــــــــوړو
پـــــه قـــــدردان جانـــــان مـــــې ځـــــان بـــــې قـــــدره کړونـــــه

د يـــــــــــــو زړګـــــــــــــي نـــــــــــــه بـــــــــــــل تـــــــــــــه لار وي
چـــــې زمـــــا خـــــوښ يـــــې ســـــتا بـــــه ولـــــې بـــــدي شـــــمه

زمـــــا پـــــه دې کلـــــي کښـــــې څـــــهٔ دي
ســـــتا د ديـــــدن لپـــــاره شـــــپې ســـــبا کوومـــــه

ســـــتا د ښائســـــت ګلونـــــه ډېـــــر دي
جـــــولۍ مـــــې تنګـــــه زهٔ بـــــه کـــــوم کـــــوم ټولوومـــــه

ســـــترګې دې وې وتلـــــې نـــــهٔ وې
چـــــې پـــــه ګاونـــــډ دې لوئېـــــدم نـــــهٔ دې ليدمـــــه

عالمـــــه يـــــو د بـــــل زاريـــــږي
عمـــــر د ژمـــــي مـــــازيګر دے تېـــــر بـــــه شـــــينه

عالمـــــه يـــــو د بـــــل زاريـــــږي
دنيـــــا فـــــاني ده نيمـــــه خـــــوا بـــــه پـــــاتې شـــــينه

عمر د باد په شان تېرېږي
زړۀ مې نړېږي خزان نن سبا راځينه

کاغذ لیکلے ترېنه واخله
د اوسنۍ زمانې یار دے تک به وینه

که جانان بد کړي زړۀ به سۀ کړم
چې د بل یار شي زما سۀ به یادوینه

ما درته وئېل پوره به یې نۀ کړې
د یارانې خبرې دېرې کرانې دینه

مازیکرے دے سېرې مۀ کړه
تۀ به د ناز سېرې کوې رسېتیا به شینه

ملنګه دوه کتې دې وکړې
یو دې خبر یوړو بل دې اوکړۀ دیدنونه

مینه د زور خبره نۀ ده
چې زړۀ دې نۀ یو بیا دې نۀ مجبوروومه

نصیب تقدیر ته کنګاه نشته
بخت چې کوته شي بادشاهان ټکرې خورینه

وطن د مور او پلاره خورِ دے
جانانه دري واړه پرېږدم درسره ځمه

یو دې غریب پېدا کړم خدایه
بل دې مئین په زوروړو خلقو کړمه

یو زخم نۀ دے چې به روغ شي
هزار زخمونه مې په زړۀ دي مهر به شمه

مثل د دنیا د هرې ژبې ښائست ګڼلے شي. دا یوه داسې جمله وي چې نه صرف د معنی او مفهوم د ابلاغ او ترسیل بولې عوښتنې پوره کوي بلکې په لفظي لحاظ هم خپل ښائست لري. مثل منثور هم وي او منظوم هم چې د یو قام د اجتماعي ژوند ډېره رڼه هنداره وي. د متلونو په حواله پښتو هم ډېره غني ژبه ده او د زرګونو متلونو قیمتي پنګه لري. پښتو کښې به متلونو په زړه پورې کار شوے دے. د متلونو مجموعې هم ترتیب شوي او چاپ شوي دي او د تشریح او توضیح کار پرې هم شوے دے. ادبي او فني محاسن ئې هم بیان شوي دي. مثل د فولکلور یو اهم توکے دے او د شاعرۍ سره ئې هم جوخنې اړیکې دي. ډېر متلونه شعر کړي شوي دي او ډېرو شعرونو د متلونو درجه نرلاسه کړې ده. د ملګري فرهاد یوسفزي دا مجموعه "د متلونو په لار" د مثل تشریح، توضیح او د متلونو د پس منظر معلومولو په لړ کښې ډېر د قدر ور کار دے او ښاغلے فرهاد هغه کوهکن دے چې د شیرینې پښتو د باغ شیرازولو د پاره ئې د خپل زړه د وینو نه د پیو رودونه جوړ کړي دي. که پښتون قام کښې د خپلې ژبې سره مینه پیدا شوه او د دې د بقا او ودې احساس پکښې پیدا شه نو د ښاغلي فرهاد یوسفزي دا کار او زیار به ډېر وقدر وي او وتازوي.

مینه او مینه

فیض الوهاب فیض

۳م اپریل ۲۰۱۴ء



خوروڼکي: داما راتو پښتو ادبي ټولنه مرکز دوبئ